# موږ د ډوډۍ

## دوی د څوکۍ لیوني



د خوشحال آصفي

د مقالو ټولګه

چاپ کال : ۱۳۹۶

# د کتاب ځانګړنې:

===========================

د کتاب نوم : موږ د ډوډۍ دوی د څوکۍ لپوني

موضوع : د علمي او څېړنيزو مقالو ټولګه

ليکوال : خوشحال آصفي

کمپوټر چارې : احسان الله مومند

د چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ کال : ۱۳۹۶ لمريز کال

چاپ ځای : مومند چاپخونه

بسم الله الرحمن الرحیم

# لړ لیک


| شمېر | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| .1 | د لیکوال خبرې | آ |
| .2 | د خوشحال آصفي په کتاب یو څو خبرې ــــ ــــ ــــ ــــ ــ | ب - ج |
| .3 | ۸۱ سلنه نه؛ بلکې ۱۰۰ سلنه ناخوښه ولس ــــــــــــ | 1 |
| .4 | پر ټاکنیزو اصلاحاتو د مشرانو نانددرۍ او د راټلونکو ټاکنو برخلیک | 3 |
| .5 | د پاکستان سرزوري او زمونږ بې خولې ملایان ــــــــــ | 5 |
| .6 | د کابل ښار اوسنی وضعیت؛ د ګډ حکومت د کار انځورونکی | 7 |
| .7 | روان کال، امنیتي ننګونې او د حکومت مسولیتونه ــــــــ | 9 |
| .8 | سوله د کورنیو ښامارانو په خوله کې ــــــــــــ | 11 |
| .9 | که شرم پېژنې؛ نور وشرمېږه ..! ــــــــــــ | 13 |
| .10 | افغاني رسنۍ، د دښمن ترېیون او د پردي فرهنګ پالونکې | 15 |
| .11 | پاکستان؛ افغانستان ته د ترهګرو د لېږد په لټه کې ــــــــ | 17 |
| .12 | پاکستان د طالبانو استازولي کوي ــــــــــــ | 19 |
| .13 | د اعدام حکم او څو مهم ټکي ــــــــــــ | 21 |
| .14 | د افغان حکومت ناپایداره سیاست ــــــــــــ | 23 |
| .15 | د بخښنې له نړیوال سازمانه څو پوښتنې ــــــــــــ | 25 |
| .16 | د پاکستان د ملي امنیت د مشاور په ځواب کې .! ــــــــ | 28 |
| .17 | د تورخم دروازه؛ د افغانستان تېپې کوته ــــــــــــ | 30 |
| .18 | د سرپرستۍ دوام؛ متفکر پرله پسې ژمنې ماتوي ــــــــ | 32 |
| .19 | د سمر عینکې یوازې حکمتیار ویني ــــــــــــ | 34 |
| .20 | د شخصیتونو سپکاوی؛ ګډ حکومت ته بل چلېنج ــــــــ | 36 |
| .21 | د غوندې نه؛ بلکې د شکایت وخت دی ــــــــــــ | 38 |
| .22 | د لاریون د احتمالي ناوړه پېښو قیمت به څوک پرې کوي؟ | 40 |
| .23 | د متفکر تکراري، پوچه او کمپایني وینا ــــــــــــ | 42 |
| .24 | د ولسمشر اونیزه ژمنه دوه کلنه شوه خو عملي نه شوه | 44 |
| .25 | ډریوران که د مرګ سوداګران؟! ــــــــــــ | 46 |
| .26 | جنګ که سوله؟د طالبانو او پاکستان ګډه خوله باید په سوک سمه شي | 48 |

27. شهید ډاکټر نجیب الله؛ د افغاني تاریخ ویاړلې څېره ________ 50
28. کابل ته د حکمتیار راتګ ________ 52
29. کابل؛ بې پوښتنې ښار ________ 54
30. مدني حرکت که پلان شوی سپکاوی؟ ________ 56
31. مدني حرکت که سیاسي زور ازمایې؟ ________ 59
32. ملي پروژې او سیاسي درز غوبل ________ 61
33. افغان مېړنیو ځواکونو پاکستاني ملېشو ته ښه سبق ورکړ ________ 63
34. پاکستان به د طالبانو نوی مشر ټاکي؛ خو څوک؟ ________ 66
35. پاکستان مار خوړلی؛ اوس له پړي هم ډارېږي ________ 68
36. پاکستاني ملایان؛ د جګړې د تودولو په هڅه کې ________ 70
37. په افغانستان کې د پردۍ جګړې تازه اړخونه ________ 72
38. د پاکستان پر ضد د سیمه یېز ایتلاف د جوړېدو اړتیا ________ 74
39. د پاکستان د وروستیو تحرکاتو اصلي موخې ________ 76
40. د تورخم پېښې؛ اوبه له شیدو بېلې کړې څرګنده شوه چې ... 78
41. د سلما بند او د حکومت مسولیت ________ 80
42. د قوم او سیمې ټیکه داران آخر څه غواړي؟ ________ 82
43. د منصور وژل کېدل، د طالبانو د زوال پیل ________ 84
44. د هلمند اوبه؛ د موسی شفیق تړون سره کړښنه ________ 86
45. غني افغانستان او فقیره رهبري ________ 88
46. کډوالو وجدان مو ویښ کړئ! ________ 90
47. کورنۍ کړۍ چې؛ حکمتیار ننګوي ________ 92
48. افغانستان د منځنۍ اسیا ارتباطي پل د شانګهای سازمان ... 94
49. پاکستان د خپل عمل په سزا ورسوئ ________ 96
50. پاکستان ولې سرې سترګې دی؟ ________ 98
51. چې د منصور په لاره ځې ؛ منصور ته به ورځې! 100
52. خونړي بریدونه او جالبه غبرګونونه ________ 102
53. د افغانستان په اړه د هیسم نیمګړی راپور ________ 104
54. د شهیدو پولیسو روح عدالت غواړي؛ په دندې ځنډولو بسنه ونه کړئ! 106
55. د طالب په خوله کې د سرتاج عزیز ژبه ________ 108
56. د غني؛ غني کړنې ________ 110

57. د ناټو پنځه ميليارد ډالره څنګه مصرف کړو؟ 112
58. داعش په ننګرهار کې نن او پرون 115
59. کور خود بيناى مردم موږ ولې ځان ته ړانده، نورو ته بينا يو؟ 117
60. نور صبر د څه لپاره ؟ 119
61. وارسا؛ تمې او ننګونې 121
62. پاکستان خپل ډول ته په خپله ونځوئ 123
63. پام چې پاکستان مو بيا ځلي دوکه نه کړي! 125
64. په تورخم کې د شهيد سرتېري وينې ته سپکاوی د تورخم دروازه په ... 127
65. تلويزيوني ترهګر 129
66. حکومتي تکيه کلامونه 131
67. د دوه مخې سياست نوې بېلګه؛ چين د افغانستان دوست که دښمن 133
68. د روښنايې غورځنګ دې اوس روښانه ځواب ورکړي 135
69. د ولس احساسات؛ د زورواکو امتيازات 137
70. د ولس پر ارادې ملنډې وهل؛ سياسي هوکړه له اساسي قانون غوره 139
71. د روشنايې غورځنګ؛ د روشنايې دښمن هغه ډله چې د ... 141
72. کابل؛ پلازمېنه که غير علاقه؟! 143
73. کډوالو ! د خدای په خاطر کډې مو رابار کړئ 145
74. موږ د ډوډۍ؛ دوی د څوکۍ ليوني 147
75. ننګرهار يوازې پرېنږدئ؛ له داعشه نېول شوې سيمې مديريت غواړي 149
76. اتلانو زمونږ وياړ ياست 151
77. باجوه صاحب څه وايې؟ 153
78. په پاکستان باور کول؛ ځانته دوکه ورکول دي 155
79. توره کرښه چې بايد سپينه شي..! 157
80. ټوپک سالاري يا ښايسته سالاري 159
81. جاسوسان شته خو څوک دي؟ 161
82. ځوانان مو مسافرۍ او هېواد مشران مو سيالۍ وخوړل 163
83. د اصلاحاتو د کمېسيون نا اصلاح طرحه 165
84. د حکومت مشرانو اختلاف؛ د پاکستان زړورتيا 167
85. د ژونديو هديره 169
86. د کډ حکومت ناکامه بهرنۍ پاليسي 171

| | | |
|---|---|---|
| 87. | د مشاوریت ساري ناروغي | 173 |
| 88. | د هېواد ویده مشران او د بېکارۍ بحران | 175 |
| 89. | له ریکا مو څه ترلاسه کړل؟ | 177 |
| 90. | له ملګرو ملتو نه مو هم هیلې پرې شوې | 179 |
| 91. | هویت وژنه او بې دیني | 181 |
| 92. | یار له کوڅې تېر کړه؛ رنګ یې هېر کړه | 183 |
| 93. | آیا استیضاح د حل لار ده؟ | 185 |
| 94. | بحراني امنیتي حالت او د امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو اړتیا | 187 |
| 95. | پاکستان د کابل ـ ډهلي د اړیکو ستر خنډ | 189 |
| 96. | پاکستانه..! مونږ ستا څوکیداري نه غواړو خو ترهګر غله دې وتړه | 191 |
| 97. | خیالي حکومت؛ حقیقي درغلۍ | 194 |
| 98. | د چوهدري نثار اوتې بوتې | 196 |
| 99. | د ښوونکي یا که د مېلې ورځ..؟ | 198 |
| 100. | د ګډ حکومت ګډوډ والیان | 200 |
| 101. | د ګډ حکومت کلیزه | 202 |
| 102. | ګډ حکومت او د قانون نقض | 204 |
| 03. | ګډ حکومت نه ښه رهبر لري او نه ښه مدیر | 208 |
| 104. | مذهبي ایډیالوژي د پاکستان ستره آله | 210 |
| 105. | مونږ پخپله ګرم یو | 212 |
| 106. | ناروغه ډیپلوماسي او ګوډ مات ډیپلوماتان | 214 |
| 107. | ولسمشر څه وایې؟ | 216 |
| 108. | افغان امنیتي ځواکونه څوک سیاسي کوي؟ | 220 |
| 109. | افغان دولت هند ته څومره اړتیا لري؟ د کابل ـ ډهلي او ... | 222 |
| 110. | پاکستان ترهګر له منځه نه وړي بلکې امتیاز پرې اخلي | 224 |
| 111. | حکومت او خصوصي سکتور ولس هېر کړی | 226 |
| 12. | د افغانستان سیاسي جغرافیه څوک وېشي؟ | 228 |
| 113. | د پولیسو ډبول؛ د چارواکو او زورواکو فرهنګ | 230 |
| 114. | د ټاکنو په کمیسیون کې د بهرنیانو د لاسوهنو اندېښنې | 232 |
| 115. | د سولې کیلې ولې ورکه ده؟ | 234 |
| 116. | د غني بله کارنامه | 236 |

117. د کډ حکومت بل شرم ـــــ ـــــ ـــــ ـــ 238
118. د کډ حکومت تش شعارونه ـــــ ـــــ ـــــ 240
119. د کابل ـ ډیلي پر اړیکو د پاکستان ژوره اندېښنه پر کابل؛ د ... 242
120. د ملېشه سازۍ د ترخې تجربې تکرار ـــــ ـــ 244
121. د یوې غوا دوه بچیان؛ دواړه منصوران د یوې سوړې ماران د... 246
122. له څنډ وروسته د کابل ـ ډیلي اړیکو نوی رنګ ـــــ ـــــ 248
123. متفکر ولې تېروتنې کوې ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــ 250
124. مفت خواره سلاکاران 252
125. پر اساسي قانون د تطبیق د څار کمېسیون؛ څه کړي او څه به وکړي؟ 254
126. په بورسونو کې فساد؛ د چاړواکو غواګانې بیا لنګې شوې ـــــ 257
127. حکومت د کډوالو په زخمونو مالګې اچوي ـــــ ـــــــــ 259
128. خرڅ شوي مدني کوډاګیان او د بشر حقونو بنسټونه ـــــ ـــ 261
129. د آسیا زړه کنفرانس کې کډون؛ پاکستان ته امتیاز ورکول 263
130. د څوکیو میراث خواره ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ 265
131. د فساد شعاري مبارز؛ د فساد په لومو کې ـــــ ـــــــ 267
132. د کډ حکومت بې بندوباره خپلسرۍ ـــــ ـــــ ـــــ 269
133. د کابلبانک قضیه د سیاسي کېدو پر لور ـــــ ـــــ ـــ 271
134. د ملا منصور تر وژل کېدو وروسته.! ـــــ ـــــ ـــ 273
135. سوله په هیله نه ؛ په جدیت او قاطعیت کېږي ـــــ ـــ 275
136. سیمه ایز هېوادونه به څنګه له ترهګرۍ سره مبارزه وکړي؟ 277
137. کډ حکومت او د ځوانانو د اشتغال د میکانېزم نه شتون 279
138. ګروه خاکستري؛ د نظام د سقوط په هڅه کې ـــــ ـــ 281
139. متفکر یو ځل بیا تېر ووت..! ـــــ ـــــ ـــــ ـــ 283
140. ننګرهار وژغورئ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ 285
141. افغان دولت په ۲۰۱۵ کال کې ولس ته څه ورکړل؟ 288
142. پاکستان د نوک په ځای کې سوک ځایوي ـــــ ـــ 390
143. په پرله پسې ډول د اتو فرمانونو ردېدل څه معنا؟ 392
144. جنرال شریف څه ته راغلی و؟ ـــــ ـــــ ـــــ 394
145. ځینې کړۍ چې د ډیورنډ فرضي کرښې ته ... 297
146. خبردار..! پاکستان بیا هم دام اېښی ـــــ ـــــ ـ 299

147. د ښووڼځي سوځول، نه بخښونکې جنایت ـــــ ـــ 301
148. د غوراوي کمېټه به څه وکړي؟ ـــــ ـــــ ـــ 303
149. د کابل، اسلام اباد او ډهلي د اړیکو مثلث ... 305
150. د کورنیو جبهو له لوري د سولې پروسې د سبوتاژ هڅې 307
151. د ملا صبور ډالري فتوا ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ 309
152. زړې څېرې؛ نوی سیاست د یوې میاشتې په موده کې ... 311
153. سوله که د وخت ضایع کول ؟.! ـــــ ـــــ ـــــ 313
154. قانون نمانځل نه؛ بلکې پلي کول غواړي ـــــ ـــــ 315
155. هر څه خیالي ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ 317
156. هغه څه چې سیاسیونو را نکړل؛ ورزشکارانو په کم وخت کې راکړل 319
157. پر شوروي له بري وروسته؛ بریا که بربادي؟ ـــــ 321
158. پلازمېنه او امنیت یې 323
159. چارواکي که پخواني زورواکي..؟! د چاروکو په څېرو کې د ... 325
160. د سولې شورا سره باید حساب وشي ـــــ ـــــ 227
161. د ګډ حکومت د یو نیم کال کارنامه؛ په اداري فساد کې یو ... 329
162. د اساسي قانون لویه جرګه نه ، باید دودیزه لویه جرګه جوړه شي 313
163. ژمنې باید په عمل کې ثابتې شي..! ـــــ ـــــ ـــ 333
164. مور د وړي له حاله څه خبر دی؟ ـــــ ـــــ ـــ 335
165. پر ځای اعتراف؛ خو د څه لپاره؟ ـــــ ـــــ ـــ 337
166. ترکوابښ لاندې کلې او د حکومت مرکوني سکوت د ... 339
167. تودې غونډې؛ سړې پایلې ـــــ ـــــ ـــ 341
168. څوک؛ څوک دی او څوک نه دی؟ ـــــ ـــــ ـــ 343
169. د غني ستراتېژیکه حوصله او د منصور چمتووالی عزیز له دویم متفکر ... 345
170. د نړۍ دویم متفکر؛ نه ښه سیاستمدار او نه ښه مدیر دی 347
171. نوې شورا؛ خو زړې ازمویل شوې څېرې ـــــ ـــــ ـــ 349
172. نوی کال، زوړ ناورین په یوه کال کې د اووه سري حکومت ... 351
173. پاکستان تیاره مری؛ خو څنګه باید وخوړل شي؟ ـــــ ـــ 353
174. په پاکستان کې سیاسي زلزله اسلام آباد د کابل له غمه مړ دی که ... 356
175. په کور کېنول ښه کار خو د ځای ډکول ستونزه ـــــ ـــــ ـــ 358
176. ټرمپ که کلنټن؟ ـــــ ـــــ ـــ 360

177. ټرمپ؛ پاکستان ته د خطر زنګ ـــــ ـــــ ـــ 362
178. حکومته ..! کور وساته همسایه غل مه نیسه ـــــ ـــــ ـــ 364
179. د اسلام آباد نوی جال؛ پکواش په پاکستان کې 366
180. د زهرو کچه ولې لوړېږي؟ ـــــ ـــــ ـــ 368
181. د سولې نوې کړکۍ؛ طالبانو ته د طیب آغا پر ځای مشوره 370
182. د سیکس وږي او په سادیزم روږدي افغانان ـــــ ـــــ ـــ 372
183. د طالبانو هوايي خبرې د هوا کزول ـــــ ـــــ ـــ 374
184. د معافیت فرهنګ، د جنايي پېښو د زیاتېدو عامل ـــــ 376
185. دولته ..! ننګرهار دې ولې هېر دی؟ ـــــ ـــــ ـــ 378
186. لفظي بریدونه او خطرناک تورونه ـــــ ـــــ ـــ 380
187. له تور لېسته د نومونو ویستل او ننویستل ملا هیبت په ... 382
188. ولس د کوم جرم سزا ویني؟ ـــــ ـــــ ـــ 384
189. افغان حکومت په دوه جالو کې کېر دی، یا به کډوال مني یا به ... 386
190. پاکستان اوبو اخیستي؛ څک ته هم لاس اچوي 388
191. څو پوښتنې چې سیما سمر یې باید ځواب کړي 390
192. څوک مشروعیت نه لري، ارګ که اجرایه ریاست؟ 392
193. د پاکستان بې سترګېتوب؛ په اپټا یې سترګې پټې کړې 394
194. د پاکستان د انزوا پر لور یو بل ګام ـــــ ـــــ ـــ 396
195. د غني او مودي هڅو رنګ راوړ ـــــ ـــــ ـــ 398
196. د کرزي سپکاوی؛ د نورو عبرت ـــــ ـــــ ـــ 400
197. د کندز په بیا سقوط کې څوک مرسته کوي؟ 402
198. ډالرې راروانې دي؛ خو له غلو یې څنګه ساتلی شو؟ 404
199. فرمان صادر شو؛ خو څوک به یې عملي کړي؟ 406
200. کروړ پټي غریبان ـــــ ـــــ ـــ 408
201. لټانو ته د خطر زنګ؛ غني بیا اصلاحات شروع کړل 410
202. له څنډه وروسته نوې هیلې؛ د سولې خبرې بیا پیل شوې 412
203. ولې سیمې سقوط او سرتېرې تسلیمېږي؟ 414
204. افغان حکومت د بروکسل ناستې ته کومې لاسته راوړنې لري؟ 416
205. پارلماني نظام؛ یعنې افغانستان په منځ دوه نیمه کول 418
206. حکومت دوه کلن شو، لاسته راوړنې ډېرې لري که ننګونې؟ 420

207. څوک له حکمتیار سره د سولې پر وړاندې خنډونه جوړوي؟ 422
208. د افغانستان اقتصادي خپلواکي او د پاکستان ناهيلي 242
209. د پاکستان په نس کې درد دی ــــــ ــــــ ـــ 426
210. د پاکستان لپاره د خطر زنګ ــــــ ــــــ ـــ 428
211. د پاکستان نوې لوبه ــــــ ــــــ ـــ 430
212. د سولې څرک؛ حکمتیار کابل کې دی 432
213. د کابل ـ ډهلي اړیکو ولې د پاکستان په نس کې درد کړی دی؟ 434
214. د کمېسیونونو حکومت ــــــ ــــــ ـــ 437
215. د نظامي سکول او د امریکایي پوهنتون برید وروسته غبرګونونه 439
216. د نواز شریف مکارتوب ــــــ ــــــ ـــ 441
217. د وروستیو بریدونو په ترسره کولو پاکستان څه غواړي؟ 443
218. سوله په طرحه نه بلکې د طرحې په عملي کولو راځي 445
219. له حزب اسلامي سره سوله، په نورو ډلو یې اغېز او ... 447

# د ليکوال خبرې

**د لايزال رب په نوم**

**انسان يو خپلواک مخلوق دی او رب ج ورته دوه غوږونه او يوه خوله د همدې لپاره ورکړي چې دوه خبرې واوري او يوه وکړي. انسان فطرتاً خپلواک پيدا شوی او د هغه څه په اړه چې يې ويني او اوري؛ د نظر څرګندولو حق لري. انسان حق لري چې خپل باور، رايه او نظر په خپلواک ډول څرګند او د ايډيال هدف ترلاسه کولو لپاره مبارزه وکړي. د قلم لارې دغې مبارزې ته د وينا آزادي وايي.**

**د وينا آزادي خپلې سرې کرښې لري چې د اسلام مبارک دين تر څنګ دنيوي قوانينو يې هم په نظر کې نيولو باندې امر کړی دی. په اسلام کې سرې کرښې د دينې مقدساتو، الهي احکامو، نبوي احاديثو، د مسلمان شخصي حريم او د اسلامي شعايرو اصليت او حيثيت ساتل دي. همدارنګه د دنيوي قوانينو له مخې هم ملي ګټې، ملي غرور، ملي هويت، خاوره، ولس او شخصي حريم ته درناوی سرې کرښې بلل کيږي. هر څوک کولی شي چې د پورته سرو کرښو په نظر کې نيولو سره د خپل ايډيال هدف ترلاسه کولو لپاره خپل نظر څرګند کړي.**

**دا کتاب چې ستاسې په لاس کې دی نه داستان دی، نه حکايتونه دي، نه رومان دی او نه هم له چا سره د شخصي عقدې له مخې په چا لګول شوي تورونه دي، بلکې په افغانستان کې د ملي يووالي حکومت د لومړۍ دوه کلنې دورې ښېګڼې او نيمګړتياوې، لاسته راوړنې او ننګونې او کورنۍ او بهرنۍ سياست ته ځغلنده کتنه ده چې د حالاتو د ليدونکي او شاهد په توګه ورته ما اشاره کړې ده. د دې کتاب اصلي موخه د ملي يووالي حکومت په لومړۍ دوه کلنه دوره کې له ترسره شويو سياسي مثبتو او منفي بدلونونو څخه د ولس خبراوی دی.**

**انسان نيمګړی او ناتوان دی او تل له اشتباهاتو سره مخ دی، نو ځکه خو وايم چې ممکن په دې کتاب کې به هم ډيری نيمګړتياوې او اشتباهات موجود وي. خو دا چې سالمه نيوکه تل اصلاح راوستونکې وي نو په خپل لويوالي سره مو د نيمګړتياو بخښنه وکړئ او په راتلونکې کې د اصلاحاتو لپاره مو راڅخه نظرونه مه سپموئ.**

**درنښت**

**خوشحال آصفي**

# د خوشحال آصفي په کتاب يو څو خبرې

د کال 2017 د نومبر مياشتې پيل و چې د آريانا راډيو – تلويزيون ځوان او نوي مشر، ښاغلي خوشحال آصفي، زيرې راباندې وکړ چې د خپلو سياسي او ټولنيزو مقالو مجموعه يې خپرېدو ته چمتو کړې او له ما څخه يې په ډېره مينه وغوښتل چې د ده په دې کتاب يو څه وليکم.
زه د دې کرښو ليکوال، ښاغلي خوشحال آصفي، له هغه وخته پېژنم چې څو کاله مخکې د آريانا راډيو – تلويزيون مشر وم. آريانا په هغه وخت کې خوشحال آصفي ته چې يو تاند زلمی و، دا موقع برابره کړه چې هم خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او هم د آريانا د نشراتي تکلارې په چوکاټ کې، د خلکو خدمت ته ننوځي او د هغه ارمانونو د پوره کېدو جنډه رپانده وساتي چې په افغانستان کې د نوی بدلانه په هغه لومړنيو کلونو کې، زموږ ټولو په زړونو کې توکېدلې او د يو خپلواکه، ښاد، آباد، ولسواک، مدنی، سوکاله، پرمختللې او بسيا هيواد له پاره هر راز قرباني ته چمتو وو!
په هغه وخت کې چې ځوان خوشحال آصفي له آريانا سره يو ځای شو، آريانا ستر نوم درلود. په کور د ننه، سيمه، اروپا او شمالي امريکا کې يې په لسکونو زره ليدونکي درلودل، ستندردونه يې ډېر لوړ وو، دريځ يې ملي و، د رسنيو په مينځ کې سوداګريزه سيالی زوروره وه او ټول کارکوونکي اړ وو چې د ښو او معياري راډيويي او تلويزيوني پروګرامونو د جوړولو له پاره ډېر چمتو وي، کتابونه ولولي، کورسونو ته لاړ شي او زيار وباسي چې د ښه او مسلکی کار له لارې، خپله وړتيا ثابته کړي او په مخ لاړ شي.
هو! خوشحال آصفي په داسې وخت کې له آريانا سره يو ځای شو چې په دې معتبره رسنۍ کې، د هر چا له پاره ځای نه و او آريانا په تکړه ځوانانو پسې ډېوې ګرځولې!
په هغه وخت کې زموږ ګران افغانستان هم د اور، وينو او لوګيو له ډېرو خونړيو کلونو څخه راوتلی و او تمه يې درلوده چې په ټپونو يې مرهم کېښودل شي.
د نويو ځوانانو په مخکې ډېره لويه تجربه پرته وه، د نژدې پنځه ويشتو کلونو لانجو، کړاوونو، دردونو، ستونزو، مهاجرتونو، يرغلونو او جګړو (ښې) او (بدې) تجربې چې د نويو ځوانانو په جوړولو کې يې ستره ونډه اخستلای شوای!
خوشحال آصفي يو له هغه کسانو څخه و چې له دې تجاربو څخه يې ډېر څه زده کړل. ده باور درلود چې د افغانستان ستونزو ته د هېواد پالنې، ملي يووالي، لوی فکر، مدنيت، علومو، فنونو او هنرونو په مرسته د پای ټکی ايښودل کېدای شي؛ ځکه يې په سختو شرايطو کې خپل درس ته دوام ورکړ، ليسانس يې واخست، ماستري يې بشپړه کړه، د پوهنتون استاد شو، ليکوال شو او دا دی د آريانا راډيو – تلويزيون رييس دی، اوس خپل لومړنی کتاب خپروي او لا به ډېر په مخ لاړ شي له خيره!

په ټېرو څو کلونو کې د افغانستان ډېر زده کړي ځوانان هڅه کوي چې اروپا او امریکا ته لاړ شي او په (لویدیځو جنتونو) کې نیکمرغي ومومي؛ خو ما هیڅکله له خوشحال آصفي څخه نه دي اورېدلي چې دې په دې نیکمرغۍ پسې مجنون شوی او د سفر کاولې اغوندي! نه. خوشحال آصفي همدلته په خپل کور کې، په خپل ګران افغانستان مین دی او غواړي چې همدا ځای په (جنت) واړوي او ډېره نیکمرغي په نورو ووېشي!

د خوشحال آصفي په دې کتاب کې هر څه د افغانستان په هکله دي. هغه ګران وطن چې نژدې څلوېښت کاله په اور کې سوځي او خلک د سر او مال قرباني ورکوي.

د خوشحال آصفي د کتاب هره مقاله د افغانستان د روانو پېښو او حالاتو یوه هېنداره ده. معیارونه یې ملي دي، قضاوت یې ملي دی، نظر یې ملی دي، د افغانستان د خلکو نیکمرغي غواړي او له چارواکو سره مرسته کوي چې د ستونزو په سرچینو پوه شي او د حل مناسبې لارې ورته ومومي.

خوشحال آصفي دا مقالې په داسې شرایطو کې لیکلي چې هم یې درس درلود، هم یې دروند ورځنې کار کاوه، هم ورزش ته تلو او په دې وروستیو کې خو د پوهنتون استاد هم شوی او په ډېرو محافلو او مجالسو کې ویناوې او بحثونه هم کوي!

خوشحال آصفي له دې ټولو بوختیاوو سره – سره ښې مقالې لیکلي، د ډېرو خلکو په مخکې یې د وړاندې ټک ډبوې بلې کړې، نیمګړتیاوو ته یې ګوته نیولې، حللارې یې ښودلي او په چارواکو یې غږ کړی چې د تاریخ له درانه مسوولیت څخه ووېرېږي، له کمکیو – کمکیو تنظیمي، قومي، ژبنیو، سمتي او سلیقوي کټو څخه تېر شي، د ګران افغانستان ملي کټې خپلې کټې وبولي او د تحقق له پاره یې شپه او ورځ زیار باسي.

زه بشپړ ډاډه یم چې د خوشحال آصفي راتلونکې لیکنې به د منځپانګې او ژبني جوړښت په حساب، ډېرې درنې او پخې وي؛ خو دا اوسنی کار یې هم د ډېرې ستاینې وړ دی. خدای دې آصفي ته نور وس هم ورکړي چې په هره ممکنه وسیله خپلو انساني هڅو ته دوام ورکړي او د بریالیتوب سترو پوړیو ته ورسي.

زه د ښاغلي خوشحال آصفي مور، پلار او کورنۍ ته مبارکي وایم چې په افغانستان یې داسې یو زړه سواندی او فعال بچی لورولی او آریانا راډیو – تلویزیون ته مبارکي وایم چې په خپله ارته غېږ کې یې، د خوشحال آصفي په شان تکړه او زیار ایستونکي ځوانان روزلي چې نن ټول وطن پرې ویاړي!

په ډېره مینه

احسان الله آرینزی

# ۸۱ سلنه نه؛ بلکې ۱۰۰ سلنه ناخوښنه ولس

که څه هم د ملي يووالي حکومت د افغانستان د اساسي قانون خلاف د يو درېمګړي له خوا جوړ شوی، نه د خلکو د رايو پر بنسټ، په همدې سبب دی چې ورځ تر بلې خلک له حکومته واټن اخلي. د حکومت څخه د خلکو د ناخوښۍ خبرونه پخپله د حکومت له منځه هم ډېر ورکړل شوي دي. څو ورځې وړاندې پخپله د ملي يووالي د حکومت مشر اشرف غني په تېر يو کال کې په خپل مشروطيت او ناکامۍ اقرار وکړ. غني د ۱۳۹۵ ښوونيز کال د پرانيستې په مراسمو ومنل چې د ښوونکو د وضعيت ښه کولو په برخه کې مشروط شوی، خو هيله لري چې په روان کال کې به د کاميابي نومره واخلي.

همداشان څه موده وړاندې د ملي يووالي حکومت اجرايه رييس عبدالله عبدالله ويلي و ، پوهېږي چې له حکومته يې خلک ناخوښ او ورباندې بې باوره شوي دي خو دوي به بياهم هڅه وکړي چې تر څو خلکو ته په ښه خدمت کولو د هغوی باور تر لاسه کړي. نوموړي دغه خبرې د وزيرانو شورا په غونډه کې کړي او زياته کړې يې وه؛ د دوي د کارونو په مخ کې تر ټولو لوی خنډ نا امنيو جوړ کړی دي. همداشان د ښې حکومتولۍ په برخه کې د ولسمشر ځانګړي استازي ضيأ مسعود او د اجرايه رياست مرستيال محمد محقق هم په ځلونو د حکومت له کړنو ناخوښي څرګنده کړې ده.

اوس تازه ترسره شوې سروې ښيې چې په افغانستان کې ۸۱ سلنه خلک د ملي يووالي له حکومته ناخوښ دي. د امريکا د متحده ايالاتو د نشراتي بورډ BBG د مديره هيت او د ګلوپ شرکت په يوې سروی کې څرګنده شوې چې کډون کوونکي نژدې په سلو کې ۸۱ په نسبي او يا بشپړه توګه د ملي وحدت د حکومت له اجرااتو څخه ناراضه دي. ددې سروی په بنسټ يوازې په سلو کې ۱۷ کسانو ددې حکومت له اجرااتو څخه تر يوه حده او يا بشپړ ملاتړ کړی دی. د يادې سروې بل په زړه پورې ټکی دا دی چې د ملي يووالي حکومت د دواړو شريکانو څخه د ولس د ناخوښۍ کچه يې؛ بېله بېله په ډاګه کړې ده. د سروې له مخې د ملي وحدت د حکومت د دوو مشرانو په پرتله کولو کې د ملي وحدت د حکومت له اجرائيه رئيس عبدالله عبدالله څخه د نارضايتۍ کچه د ولسمشر اشرف غني په پرتله زياته ده. ددې سروی د ګډون کوونکو شاوخوا ۷۶ فيصده کسان د ولسمشر غني له اجرااتو او ۸۶ فيصده کسان د اجرائيه رئيس عبدالله عبدالله له اجرااتو نارضه دي.

که څه هم ياده سروې د ملي يووالي حکومت څخه د ولس د ناخوښۍ کچه ۸۱ سلنه په ډاګه کوي؛ خو که په حقيقت سترګې پټې نه کړو نو په ډاګه کېږي چې پوره سل فيصده خلک له حکومت ناخوښنه دي. په تازه

ترسره شوې سروې کې چې د حکومت له کړنو راضي ۱۷ سلنه خلک یاد شوي دي؛ دوی هغه خلک دي چې په یو نه یو ډول به حتماً په حکومت کې سهیم وي. یا به پخپله، یا به یې ورور، یا کاکا، یا ماما او د کورنۍ کوم بل غړی به یې حتماً په حکومتي څوکۍ کړارل شوی وي. اصلاً که په دقیقه توګه د بې طرفه او بیوزله افغانانو وپوښتل شي؛ نو په ډاګه به شي چې پوره سل فیصده خلک د ملي یووالي له حکومته ناخوښه دي. تاسې په خپله قضاوت وکړئ، د ګډ حکومت په تېر یو نیم کال کې د ډېری افغانانو ژوند د پخوا په پرتله څومره خراب شوی او راتلونکې لپاره یې بې باوري کومې کچې ته رسیدلې ده؟ ولس د تېر حکومت له موجوده ستونزو تر پوزې راغلی و او په ډېره علاقمندۍ سره د رایو صندوقونو تر شا ودرېدل، د سر او مال خطر یې پر ځان ومانه خو د اوسني ګډ حکومت مشرانو ته یې رایه ورکړله. دوی هیله درلوده چې په ژوند کې به یې مثبت بدلون راشي او د یو هوسا ژوند خاوندان به شي. خو له بده مرغه د ملي یووالي حکومت مشرانو د ولس په رایه او سرنوشت معامله وکړه او د ولس د ارادې د تمثیل پر ځای یې درېمګړی خوشحاله او پر خوښه یې ګډ دوه سره حکومت جوړ کړ. دوی له پیله تر ډېره د مقرریو پر سر په بې پایه مبارزه کې ګیر شول او خلک یې تر شاه پرېښودل.

ولسونه خو په دې هیله د رایو تر صندوقونو ولاړل چې نوی حکومت به یې امنیت ونیسي او خلکو ته به د کار زمینه مساعده کړي، څو د خلکو بېوزلي او اقتصادي کمزوري ورکه شي. خو اوس د یو نیم کال په تېرېدلو لیدل کېږي چې د خلکو هیلې په ناهیلۍ بدلې شوې، اشرف غني او عبدالله نه یواځې چې خپلې ژمنې عملي نه کړې، بلکې د دواړو تر منځ اختلافاتو هېواد د ناورین په لور روان کړی. دوی د سوګند کولو له ورځې قانون ماتونې ته ملا وتړله، یو مشر یې د قانون ملا ورماتوي او بل هغه یې پوښتي. یو هغه یې سرپرست وزیر ته قانونیت ورکوي او تر شاه یې درېږي او بل هغه یې بیا د یو ولایت لپاره دوه ښاروالان ټاکي، یو یې د کابل بانک زنداني میلیوني پوروړي ته قرارداد ورکوي او بل یې په چک چکو بدرګه کوي. او همداسې په لسګونو نورې قانون ماتوونې.

په ټوله کې د دې حکومت له جوړېدو تر ننه پورې اشرف غني او عبدالله په اختلافاتو سر دي او ملت ته یې د کار لپاره هېڅ زمینه نه ده مساعده کړې. نو تاسې په خپله قضاوت وکړئ چې څوک به څنګه د دې اووه سره حکومت له کړنو خوښ او راضي و اوسي؟؟

وری یا حمل/ 1396

# پر ټاکنیزو اصلاحاتو د مشرانو نانډرۍ او د راتلونکو ټاکنو برخلیک

په داسې حال کې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په دې وروستیو کې د راتلونکي کال د تلې میاشتې په ۲٤مه د ولسي جرګې او ولسوالیو شوراګانو د ټاکنو د تر سره کولو نېټه اعلان کړې، خو د حکومت اجرایي ریاست ویلي، چې له هر ډول ټاکنو تر سره کولو وړاندې، ټاکنیز اصلاحات یوه اړتیا او اصل دی او لومړی باید ټاکنیز نظام په بنسټیزه توګه اصلاح شي او له هغه وروسته به نوی کمیسیون او کمېشنران د ټاکنو نېټه اعلان کړي.

دا یو حقیقت دی چې د تېرو ټاکنو نه را ولاړ شویو جنجالونو ته په کتو عامه افکار هم د اصلاحاتو په طرف ولاړ دي خو پوښتنه دا ده چې اصلاحات باید څه ډول وي؟ په ټاکنیزو کمیسیونونو کې د اصلاحاتو راوستلو څخه د ارګ او سپیدار هدف څه دی او خلک څه ډول اصلاحات غواړي؟ آیا په یاد کمیسیون کې د افرادو بدلون به سمون راولي او خلک به په راتلونکو ټاکنو باوري شي؟

اوس په تازه کې د راپورونو له مخې اجرایه ریاست وایي چې که ټاکنیز اصلاحات پلي نه شي دوی به پخپلو پلویانو غږ وکړي. د اجراییه ریاست ویاند مجیب الرحمن رحیمي وایي چې دوی د یو ښه حکومت لپاره قرباني ورکړې او که یې غوښتنې ونه منل شي، پخپلو پلویانو به غږ وکړي. رحیمي له اصلاحات ویېپانې سره مرکه کې ویلي، چې د ټاکنیزو کمیسیونونو اصلاح د دوی هدف دی او له خپل پنځوس سلنه ورکړل شوي واک نه به کته واخلي د اصلاحاتو د کمیسیون طرحه پلي کړي. په دې کې خو شک نشته چې ولس رنې او داسې ټاکنې غواړي چې د دوی اراده تمثیل کړلی شي خو د ملي یووالي د حکومت د شریکانو سیاسي ارادو ته په کتو، داسې هیڅ څرک نه لیدل کېږي چې په رښتینې معنا دې اصلاحات رامنځته شي. ځکه د غو ښاغلو (اشرف غني او عبدالله) تل د اصلاحاتو لړۍ ځنډولې او تر اوسه پورې یې چې هر کام پورته کړی، یواځې تشریفاتي او سمبولیکه بڼه یې درلوده او د ټاکنیزو اصلاحاتو په ډګر کې یې کوم کار نه دی تر سره کړی.

که څه هم څه موده وړاندې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۱۳۹۵ کال د تلې ۲۴مه د راتلونکو پارلماني او ولسوالیو شوراګانو د ټاکنو ورځ اعلان کړه؛ خو داسې ښکاري چې پر ټاکنیزو اصلاحاتو د حکومت د مشرانو تر منځ نانډریو او د ټاکنو کمیسیون د تمویلوونکو بنسټونو نه همغږۍ او نه ملاتړ له امله د راتلونکو پارلماني ټاکنو نېټه هم وځنډېږي. ځکه د ملي یووالي په نوم د حکومت د مشرانو تر منځ د سیاسي هوکړې یو اساسي شرط؛ د ټاکنیزو کمیسیونونو اصلاح کول و خو لکه څرنګه چې ښکاري د ټاکنیزو اصلاحاتو بهیر تر اوسه نه دی بشپړ شوی او د ټاکنو د روڼتیا لپاره اړین اصلاحات نه دي رامنځته شوي. یوازې دومره شوي چې د اجرایه ریاست

د پرله پسې فشارونو په پایله کې د یو لړ امتیازاتو په ترلاسه کولو سره د ټاکنو خپلواک کمیسیون رییس احمد یوسف نورستاني استعفا وکړه.

زموږ په باور که چېرې د ټاکنیزو اصلاحاتو اړوند د حکومت د شریکانو په نظر کې یووالی رامنځته نه شي او دواړه په یوه خوله نه شي نو د اختلاف له امله به یې د ولسي جرګې او ولسوالیو شوراګانو د ټاکنو د تر سره کېدو لړۍ له ځنډ سره مخامخ شي او د مشروعیت د نه شتون لړۍ به په نظام پورې وتړل شي او بیا به ډېره ستونزمنه وي، چې حکومت ځان له سیاسي ننګونو راووېستلی شي. که چېرې د ملي یووالي حکومت شریکان (اشرف غني او عبدالله) په رښتیا په ټاکنو کې د ولس د ارادې د تمثیل غوښتونکي وي او په رښتوني معنا د ټاکنیز سیستم د اصلاح غوښتنه کوي نو په کار ده چې له خپل منځي ناندریو تېر شي او د ټاکنیز سیستم د اصلاح لپاره لاندې ګامونه پورته کړي.

1. اصلاحات باید د ټاکنیز سیستم د اصلاح په معنا وي؛ نه دا چې یوازې د کمیسیون کارکوونکي بدل شي او پر ځای یې د ارګ، سپېدار، سیاسیونو او بیلابیلو ټپلو خلک ځای پر ځای شي.
2. ټاکنیز اصلاحات باید هغه زمینې چې کړکېچ ته لار اواروی له منځه یوسي او هغه ډول اصلاحات باید رامنځته شي چې ولس یې غواړي؛ نه هغه ډول اصلاحات چې د ملي یووالي حکومت شریکان یې غواړي.
3. د راتلونکو ټاکنو د قومي او سمتي کېدو څخه باید مخنیوی وشي او د قدرت هغه جزیرې باید له منځه ولاړې شي چې تېرې ټاکنې یې کړکېچنې کړې.

په ټوله کې داسې ټاکنې باید ترسره شي چې په ټوله معنا ولس او نړیوالو ته د منلو وړ وي او په رښتینې معنا د ولس اراده تمثیل کړي.

وری یا حمل/ 1396

# د پاکستان سرزوري او زمونږ بې خولې ملایان

افغان حکومت له پاکستاني دیني عالمانو غواړي، چې په افغانستان کې د جګړې د دوام د فتواګانو په ځای دې د سولې راوستلو لپاره هڅې وکړي. په ولسمشرۍ مانۍ کې چارواکي وايي، چې د افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو خلک د ترهګرۍ ښکار دي؛ نو ښکار ده، چې پاکستاني عالمان د طالبانو له ملاتړ لاس واخلي. افغان حکومت د پاکستان له دیني عالمانو غواړي، چې په افغانستان کې د جګړې اور ته له پوکي کولو ډډه وکړي. دا په داسې حال کې ده، چې تېره ورځ د پاکستان د مشهور عالم مولانا سمیع الحق په مشرۍ د جمعیت علماء اسلام ګوند یو لوړپوړي غړي او د خیبر پښتونخوا د څانګې مشر مولانا یوسف شا د دغه ولایت په کرک سیمه کې د یوې غونډې پر مهال ویلي، چې د افغان طالبانو پر ملاتړ ویاړي او له دې وروسته به هم له دې ډلې سره خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

دا لومړی ځل نه دی چې د آی ایس آی په پیسو مست پاکستان ملایان په افغانستان کې جګړه روا او په پاکستان کې ناروا بولي بلکې له دې وړاندې د پاکستان بېلابېلو دیني عالمانو په افغانستان کې د جهاد فتواوې ورکړې دي. د پاکستان د جمعیت العلمای اسلام ډلې مشر مولانافضل الرحمن، د جماعت اسلامي ایالتي حزب رییس پروفیسور ابراهیم، مولانا سمیع الحق او نورو شیطاني ملایانو په وار وار په افغانستان کې جګړه روا او په پاکستان کې ناروا او حرامه بللې ده.

که د اسلام له نظره د جهاد فرضیت ته وګورو نو په څلورو حالتونو کې فرض دی:

۱ـ کله چې دین په خطر کې وي او اسلامي احکام او شریعت نه پلې کیږي: که د جهاد د فرضیت دغې شرط ته وکتل شي نو له افغانستانه یې په پاکستان کې په فرضیت ښه اطلاق کیدای شي. ځکه د پاکستان اساسي قانون انګریز جوړ کړی او اوس هم په پاکستاني محاکمو کې په انګریزي قانون پریکړې کیږي.

۲ـ کله چې په یوه سیمه کې ښکاره او ډله ییز فساد ترسره کیږي: که د جهاد د فرضیت داغه شرط ته وکتل شي نو له افغانستانه یې په پاکستان کې دفرضیت ښه اطلاق کیدای شي ځکه چې د لاهور هیرا منډوي او د پاکستان زیاتره هوټلونه، میلمستونونه او د پوهنتون لیلیې د اخلاقي فساد بالاخانې دي چې حکومت یې پر سر ټیکس هم ټولوي.

۳ـ کله چې یو څوک په بل چا برناحقه تجاوز کوي: که د جهاد د فرضیت داغه شرط ته وکتل شي نو له افغانستانه یې په پاکستان کې دفرضیت ښه اطلاق کیدای شي ځکه چې پاکستان په ښکاره پر افغانستان، هندوستان او د سیمې د نورو هېوادونو په خلکو ښکاره تجاوز کوي او په کورنیو چارو کې یې لاسوهنې کوي.

۴ـ کله چې یو ظالم په خلکو ظلم کوي: که د جهاد د فرضیت دغه شرط ته وکتل شي؛ نو له افغانستانه یې په پاکستان کې د فرضیت ښه اطلاق کېدای شي؛ ځکه چې له پښتنو او بلوچو سره د پنجابیانو د بې انصافۍ او ظلم ساری په بل ځای کې نشته.

پورته تحلیل ته په کتو په ډاګه کېږي چې په افغانستان کې پاکستاني طالبان د الله ج د رضا په خاطر د اسلام لپاره نه؛ بلکې د ډالرو په خاطر د آی ایس آی لپاره وینه تویوي او افغانان وژني. دلته مهمه دا نه ده چې پاکستاني عالمان ولې په افغانستان کې جګړه روا او په پاکستان کې ناروا بولي؛ ځکه پاکستان عالمان د خدای د رضا لپاره په افغانستان کې د جهاد فتوا نه ورکوي؛ بلکې د خپل هېواد د مشرانو امر پر ځای کوي، د آی ایس په دستور فتواوې ورکوي، د خپل هېواد د ملي ګټو د خوندیتوب په خاطر فتواوې ورکوي او ځانونه خپلو ملي ارزښتونو ته ژمن بولي. دلته مهمه پوښتنه دا ده افغان عالمان ولې په پاکستان کې د جهاد فتوا نه ورکوي او ولې په افغانستان کې افغان وژنه حرامه نه بولي؟ زموږ د علماو شورا د څه لپاره ده او ولې په زرهاو ډالره معاش اخلي؟ آیا د خپل هېواد او د مسلمانو په خیر فتوی نه شي ورکولای؟

زموږ په باور د افغانستان او د پاکستان د ملایانو تر منځ توپیر دا دی پاکستاني ملایان په ملي روحیه سنبال دي، هغوی خپلې ملي ګټې، ملي څېرې او لومړیتوبونه پېژني، په خپل ملت، هېواد، پوځ، ملي بیرغ او دولت ویاړي، خو له بده مرغه چې زموږ مولایان بیا په کوچنیو مسایلو کې سره په خپل منځي اختلافاتو اخته دي. دوی پرېږده چې د نوروز د حراموالي فتوا ورکړي، دوی پرېږده چې د دیموکراسۍ په خلاف فتوا ورکړي او دوی پرېږده چې په کوچنیو مسایلو کې په خپل منځونو کې ونښلي او ملي مسایل ترې هېر شي.

د داسې یوې ورځې په هیله چې زموږ هر ملا، عالم، طالب، هر بل مذهبي مشر او هر افغان له کوچنیو مسایلو راپهر او د هېواد ملي ګټې، ملي ارزښتونه او ملي روحیه خپل لومړیتوب وګڼي.

وری یا حمل/ 1396

# د کابل ښار اوسنی وضعیت؛ د ګډ حکومت د کار انځوروونکی

په کابل ښار کې ورستيو بارانونو که څه هم هوا نسبتاً صافه کړې خو په مقابل کې يې په واټونو او سرکونو کې د اوبو ډنډيدو خلکو ته ډيرې ستونزې پيدا کړې. ښاريان وايي د چاپريال ککړتيا ورځ تر بلې زياتيږي خو حکومت يې پر وړاندې هيڅ اقدام نه کوي. مدني فعالان پر حکومت غږ کوي چې د کابل ښار روان وضعيت ته د رسيدګۍ په موخه ژر تر ژره دغه ښار ته ښاروال معرفي کړي.

په رښتيا هم چې د اشرف غني او عبدالله تر منځ د ملي يووالي په نوم ګډ حکومت ډېر عجيب او غريب دی. د حکومت په رأس اووه د واک چلوونکي خو پايله يې د کار او مديريت ضعف، د اشرف غني له لوري د ملي يووالي د حکومت د کار په لومړۍ ورځ د قانون خلاف د اجرايه رياست څوکۍ رامنځته کولو پر اساس د اساسي قانون د پښتې ماتول، د حکومت د وزارتونو ، رياستونو، معينيتونو او نورو دولتي ادارو پنځوس ــ پنځوس ويش او همدارنګه په دولتي لوړو او ټيټو څوکيو باندې د اشخاصو د ګمارلو پر سر د ولسمشر او اجرايه رياست تر منځ نه همغږي او ناقانونه سيالي؛ د اشرف غني او عبدالله تر منځ د شريک حکومت عجيب او غريب جوړښت او ثمره په ډاګه کوي.

اوس محال افغان ولس د ټليفون په کريډيټ کارتونو کې په سلو کې ۱۰ سلنه ماليه حکومت ته ورکوي، په دولتي روغتونونو کې له ناروغ پيسې اخېستل کيږي، د بانکي خدماتو فيس؛ د دولتي کارکوونکو له تنخواګانو کرځول کيږي او همداشان په راتلونکې کې به د برېښنا په قيمت کې لوړوالی راشي خو پوښتنه دا ده چې افغان حکومت د ولس لپاره د دغو مالياتو په مقابل کې څه کړي دي او دغه د مالياتو پيسې چيرې مصرفيږي؟

دا سمه ده چې په نورو ډيموکراتيکو هېوادونو کې هم حکومت په ولس ماليه وضع کوي خو په مقابل کې يې ولس ته د هغوی د غوښتنې برابر د ژوند کولو اسانتياوې هم برابروي. نور هېوادونه داسې نه کوي چې له ولسه شوکه وکړي او د ماليې په نوم پيسې د خپلو سفرونو او په نورو هېوادونو کې د عېش و عېشرت خرڅ کړي. خو له بده مرغه په افغانستان کې د اشرف غني او عبدالله ګډ حکومت له خلکو د مالياتو په نوم جزيه اخلي. د دوی ګډ حکومت په مختلفونو نومونو له افغانانو څخه ماليه اخلي، خلک په دولتي روغتونونو کې د فيس په مقابل کې معاينه کيږي او همداشان داسې ويل کيږي چې ټاکل شوې د برېښنا شرکت به په راتلونکې کې د بيل په قيمت کې لوړ والی راولي. دا ټول هغه څه دي چې حکومت يې پر اساس د ولس وينې زيبښي خو په مقابل کې يې ورته هيڅ ډول خدمات نه وړاندې کوي.

د کډ حکومت د بې غوریو او بې کفایتیو له جملې څخه یوازې د کابل ښار د اوسني وضعیت یادونه کوو. د اشرف غني او عبدالله تر منځ شریک حکومت د مشرانو ترمنځ د قدرت د وېش پر سر د اختلافاتو له امله له کابو دوه کلونو راهیسې د کابل ښاروالي د سرپرست لخوا اداره کیږي، اوربښتونو د کابل ښار له سړکونو دریابونه او خوړونه جوړ کړي، په هر ځای کې د سړکونو پر مخ د اوبو شتون له امله لارې بندیږي چې هېوادوال یې له کنې شمیر ستونزو سره لاس او کریوان کړي دي، د ښار په منځ او بیلابیلو برخو کې د کثافاتو انبارونو د ښار ښه ډیران ته ورته کړې ده او همداراز د خامو سړکونو د پخولو په چاره کې ناغیړي او سستیا؛ د لاره بندۍ بل اساسي لامل بلل کیږي چې ښاریان یې له ستونزو سره لاس او کریوان کړي دي. په ټوله کې ویلای شو چې کابل ښار د پلازمېنې په توګه د نړۍ په سطحه په تر ټولو چټل ترینو ښارونو کې لومړی ځای لري چې د دوو کالونو په موده کې هم د ښاروال په لرلو نه توانیږي.

د یادو ټولو ستونزه سرچینه؛ د اووه سره حکومت د اووه سره واکمنانو له خپل منځي اختلافاتو او په هره وړه او لویه خبره د دوی تر منځ له ناندریو څخه اخیستل کیږي. مونږ حکومت ته وړاندیز کوو، که چیرې د ولس په مقابل کې مو خپل له منځه تلونکی ملاتړ بیرته ترلاسه کول غواړئ، که چیرې د ولسمشر، اجرایه ریيس او په ټوله کې د افغان د رهبرانو په توګه خپله پنځه کلنه دوره بشپړه کول غواړئ او که چیرې د تاریخ په پاڼو کې د خپلو نومونو په تور خط له لیکلو ځان ژغورل غواړئ نو د ولس په مقابل کې ځانونه ځواب ویونکې احساس کړئ. راځئ نور د واک پر سر له خپل منځي اختلافاتو تیر شئ او راځئ نور مو په خپله پاتې درې کلنه دوره کې تیرو کړو ژمنو ته د عمل جامه واغوندئ. کنې د حساب او کتاب ورځ له پامه مه غورځوئ، ډېر ژر دی چې ولسې سونامې به په څپو راشي.

وری یا حمل/ 1396

# روان کال، امنیتي ننګونې او د حکومت مسولیتونه

د وروستیو راپورونو له مخې د ناټو موندنې ښيي چې تېر کال پنځه نیم زره افغان ځواکونه وژل شوي او څوارلس زره نور ټپیان دي. ناټو طالبان د افغانستان له پاره جدي ګواښ بولي او د دوی اصلي هدف د افغان دولت سقوط بولي. خو افغان ځواکونه وايي، طالبان به خپل دغه هدف ته ونه رسېږي. په ورته مهال بیا د افغانستان د دفاع وزارت چارواکي وايي چې طالبانو له پسرلي سره سم خپلو بریدونو ته زور ورکړی. د ملي دفاع وزارت ویاند دولت وزیري ویلي"سږ کال هم دغه ډله د هېواد د ځینو برخو د سقوط له پاره هڅې کوي، خو دا د دوی خیال دی، طالبان د بهرنیانو له مرستې پرته د افغانستان له پاره لوی ګواښ نه شي کېدای."

که څه هم زموږ افغان امنیتي ځواکونو په تېر کال کې هم په نشت امکاناتو د خپلې خاورې څخه په مېړانې ساتنه کړې او قرباني يې ورکړي دي او باوري یو چې روان کال به هم په نشت امکاناتو او د خپلو سرونو په بدل کې د دښمن مقابله کوي خو په تېر کې د وسله والو مخالفینو او افغان ځواکونو تر منځ نښتو ته په کتو داسې اټکل کېږي چې روان کال هم د افغانستان له پاره خونړی وي. ځکه وسله وال طالبان به یو ځل بیا د حکومت په امنیتي او دفاعي سیستم کې د مدیریت له ضعف، د سرپرستانو لخوا د کلیدي وزارتونو له اداره کولو او نورو نیمګړتیاوو په استفادې د سیمو د لاندې کولو له پاره پوره هڅې وکړي.

همدا اوس هم د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې حالات ترینګلي دي. وروستي راپورونه وايي په بغلان کې یو ځل بیا په هغه سیمه کې چې څه موده وړاندې په کې طالبانو؛ کابل ته د رسیدونکې برېښنا پایې ویجاړې کړې وې؛ د دولتي ځواکونو او طالبانو تر منځ جګړه شوې. د زابل په شاه جوی ولسوالۍ کې طالبانو شاو خوا شل ښوونځي تړلي. د ځايي اوسیدونکو په وینا وسله وال طالبان غواړي چې ددې ولسوالۍ د ښوونځیو مسئولین او استادان باید د طالبانو کسان وټاکل شي. هلمند ولایت هم د وسله والو مخالفینو او افغان امنیتي ځواکونو تر منځ د جګړې له امله سور تنور ګرځېدلی. هره ورځ د شاجوی، سنګین، نوزاد، نادعلي او موسی کلا څخه د وژنې خبرونه ورکول کېږي. همدا راز د روزګان ولایتي شورا وايي چې د دغه ولایت څلور ولسوالۍ د سقوط له جدي ګواښ سره مخې دي. د یاد ولایت د ولایتي شورا رییس عبدالکریم خادمزی وايي چې د تېرو څو اونیو راهیسې د مرکز ترینکوټ ښار ته د د هراوود، خاص روزګان، چهارچینو او ګیزاب ولسوالیو لارې تړل شوي دي. نوموړی وايي که حکومت د دغه ولایت نا امنیو ته پاملرنه ونه کړي نو دغه ولسوالۍ به د طالبانو لاسونو ته پرېوځي. همداشان د هېواد په پلازمینه کابل ښار کې د ملي شورا پر ودانۍ وروستي بریدونه هم دا څرګندوي چې امنیتي حالات د تېر په څېر سخت دي. بل لور ته د داعش ډله هم په راتلونکي کال

کې د افغانستان د امنیت لپاره ستر کواښ دی چې په وروستیو کې یې په غزني، زابل او کونړ کې هم د فعالیت خبرونه ورکړل شوي دي.
ولس هیله مند و چې د ملي یووالي حکومت به امنیتي ننګونو ته د یوه پلان له مخې ځواب وواېي، خو له بده مرغه نه یوازې دا چې امنیت ښه والی ونکړ بلکې لا هم د ترینګلتیا پر لوري روان شو. د کندز ولایت تر څنګ د ځینو نورو ولایتونو ځینو ولسوالیو د سقوط ترخه وځکل. په لویو لارو کې مسافر برمته او سرونه ترې پرې شول، د پلازمینې کابل په شمول؛ د امنیت له پلو په نسبتاً ارامو ولایتونو په ښارونو کې خونړي ځانمرګي بریدونه ترسره شول او آن دا په تیر کې د شاشهید خونړي برید په ډاګه کړه چې آن په خپلو کورونو کې هم خلک خوندي نه دي. که په حقیقت سترګې پټې نه کړو نو په پورته ټولو حالاتو کې د پړې ګوته د ملي یووالي په حکومت ته؛ په ځانګړي توګه په امنیتي سکتور کې د چارواکو تر منځ د همغږۍ نه شتون له امله د دوی رهبریت ته نیول کیږي.
څه باید وشي؟
۱ـ دا یو حقیقت دی چې موږ له لسیزو راپدیخوا له ګاونډیو او د سیمې د ځینو هیوادونو سره په یوه نا اعلان شوې جګړه کې ښکېل یو، نو په کار ده چې په دولتي کچه د هرې چارې په پلان کې باید موجوده امنیتي شرایط له پامه ونه غورځول شي او پر وړاندې یې باید لازم تدابیر ونیول شي.
۲ـ تر هر څه لومړی باید امنیتي بنسټونه له سیاسته جلا شي.
۳ـ دا چې زموږ کلیدي امنیتي څوکۍ د جوړجاړي له مخې ویشل شویدي؛ نو هر ښاغلی (اشرف غني او عبدالله) باید د مسلک، وړتیا او کاري تجربې له مخې خپلو اړوندو پوستونو ته نوي کسان وټاکي.
۴ـ دا چې امنیتي حالات تر بل هر تېر وخت ډېر پیچلي دي، اړینه ده چې حکومت د پوځي تجربو لرونکی اشخاص په ولایتونو کې د والیانو په توګه په دندو وګماري.
۵ـ حکومت باید د سولې په پلمه د پاکستان په دوه مخي سیاست نور ونه غولیږي او په څلور اړخیزو غونډو د خپل وخت د ضایع کولو پر ځای دې د امنیتي ځواکونو په تجهیزولو فکر وکړي.
۶ـ د ملیشه سازۍ مخنیوی باید وشي.
۷ـ د القاعده سره د مبارزې په پلمه باید هیواد ته د داعش له لوري پیښېدونکی خطر له پامه ونه غورځول شي او پر وړاندې یې په سیمه ایزه کچه د مبارزې زمینه برابره شي.
۸ـ د افغانستان اړوند په راتلونکو نړیوالو کنفرانسونو کې باید نړیوالو ته د افغانستان د امنیتي حالاتو ریښتینی انځور وړاندې او په اړوند یې لازمې مرستې جذب شي.

# سوله د کورنیو ښامارانو په خوله کې

خبرو ته د حزب اسلامي حاضریدل او د ځینو کړیو مخالفتونه

په داسې حال کې چې افغان حکومت او حزب اسلامي د سولې په اړه توافق ته نږدې شوي؛ د بلخ ولایت سرپرست عطامحمد نور د افغان سولې اړوند اندېښمن دی او په یاده پروسه کې د پردې تر شاه د پټې معاملې په اړه ولس ته د وضاحت غوښتونکی دی. د بلخ سرپرست والي ویلي، چې ملت ته دې د سولې په سر د پردې تر شا معاملو په اړه معلومات ورکړل شي او زیاته یې کړه، چې د افغانستان خلک پټو معاملو ته د نه ویلو حق لري. که څه هم ښاغلي نور په ډاګه نه کړه چې څوک له چا سره او څه ډول معامله کوي خو داسې معلومیږي چې اشاره یې په غیر مستقیم ډول له حزب اسلامي سره د حکومت له لوري د سولې خبرې کول دي.

نوموړي همدارنګه وویل، کوم معلومات چې دی یې لري، زیات شمېر وسله وال مخالفین د هېواد شمالي ولایتونو ته ورغلي او نور لا هم دغو ولایتونو ته پر لاره دي. د هغه په وینا، لازمه ده، چې هېوادوال له دغسې وضعیت سره د مقابلې لپاره چمتو واوسي. که څه هم په یادو مراسمو کې اجرایه ریيس ډاکټر عبدالله د نور څرګندونو ته په ځواب کې وویل، چې د سولې په اړه به د پردې شاته هیڅ ډول معامله ونه شي؛ خو دلته غواړو د د یو شمیر هغو کړیو په اړه چې په جنګ کې خپل سیاسي ژوند ویني؛ رڼا واچوو.

سوله د افغانانو اړتیا او لوی ارمان دی. سوله د الله جل جلاله د ټولو مخلوقاتو له پاره اړینه او طبعي غوښتنه ده، سوله یواځې دانسانانو له پاره نه بلکه د هوا د مرغانو ، د ځنګل د حیواناتو، د سمندري ژویو او د ځمکې پر مخ د نباتاتو د ژوند، هوساینې او بقا لپاره یوه اړتیا ده. خو دلته په لوړه کچه کورنۍ کړۍ شته چې په افغانستان کې د جنګ غوښتونکې دي. دغه کړۍ خپل سیاسي ژوند او بقا په جنګ کې ویني او نه غواړي چې له طالب سره سوله وشي. دلته ځینې کړۍ دي چې نه غواړي د طالبانو سره سوله وشي ځکه د دوی ګټو او اهدافو ته طالبان ډیر لوی خطر دی او دوی هیڅکله دې خطر منلو ته تیارې ندي. دغه کړۍ په دې فکر کې دي که سوله وشي نو طالبان به هم د افغانستان د حکومت په چوکاټ کې راداخل شي. که چیري طالبان او حزب اسلامي په حکومت کې شریکیږي نو ښکاره ده چې هغه امتیازات او هغه ونډه چې دوی (د سولې مخالفې کړۍ) اوس په حکومت کې لري؛ پرې به قطع او د حکومت مخالف لوري ته به ورکړل شي.

دلته مهمه دا نه ده چې څوک د چا سره د سولې مخالف دي؟ بلکه په وروستیو کې چې د سولې وروستۍ هڅې هیلې ښونکې دي، په ځانګړي توګه د حزب اسلامي لخوا د افغان حکومت سره د سولې خبرو ته

چمتووالي ولس ډیر هیله مند کړی دی نو پر وړاندې یې د ځینو کړیو له لوري خندونه جوړیږي او په غیر مستقیم ډول له حزب اسلامي سره سولې ته د حکومت او د مخالف لوري تر منځ د معالمې نوم ورکوي. مهمه دا ده چې په داسې یو حساس وخت کې ولې د سولې د مخالفانو په خېټو کې دردونه پیل شول؟

خبره څرګنده ده چې په نظام کې د ننه شته د جنګونو په پیسو پړسېدلې کړۍ او ډلګۍ به د دې هیلو د ناکامولو لپاره خپلې هڅې کوي او خدای مه کړه دا نوي راټوکېدلې د هیلو غوټۍ د دوی په کرکجنو دسایسو بېرته مړاوې شي. له افغان حکومت سره د خبرو لپاره د حزب اسلامي حاضرېدل او پر وړاندې یې مخالفتونه پورته کېدل؛ هماغه پخواني نکل ته ورته کیسه ده چې وایي:

یوه ګیدړه او لېوه یو باغ ته چې لوړ، لوړ دېوالونه یې لرل او دروازه یې هم بنده وه د غلا لپاره تللي وو. خو مخکې له دې چې باغ ته ولاړ شي، ګیدړې د خپلو ګیدړي چلونو له مخې لېوه دې ته اړ کړی و چې د باغ دیوال ته د نیږدې ولاړې ونې له لارې ځان باغ ته وغورځوي او دا (ګیدړه) د دیوال پر سر ورته څوکیداري وکړي. ګېدړې لېوه ته ویلي و چې باغ ته د تګ لار یې ورته وښودله او د بېرته وتلو لار به هم ورته وښيي.

لېوه په باغ کې له یو څه وخت تېرولو وروسته ګیدړې ته ویلي و چې په باغ کې یې سخت زړه تنګ شوی او نور دې د وتلو چل ورته وښيي. ګیدړې په داسې حال کې چې د باغ خاوند له سوټي سره د باغ خوا ته را روان و او دې لیده، لیوه ته وویل :" تر اوسه خو لا ښه یې، زړه خو به دې هلته ډېر تنګ شي چې د باغ څښتن له سوټي سره باغ ته راورسي"

دلته د حزب اسلامي مخالفې ډلې به هم هغه وخت زړه خوړینې شې چې کله د افغان حکومت او حزب اسلامي تر منځ خبرې په بریا پای ته ورسیږي او حزب اسلامي په حکومت کې شریک شي.

لکه څرنګه چې حزب اسلامي د افغانستان د قضیې له ځینو ښکېلو ډلو سره پخوانۍ دښمنۍ لري. او همداشان وخت ناوخت دغه ګوند د شمال ټلوالې او ځینې نورو مشخصو قومونو په تړاو توندې اعلامیې نشر کړې. او اوسمهال د اشرف غني او عبدالله تر منځ په ګډ حکومت کې هم همدغه دوه ډلې کسان پراخ حضور لري او په لوړیو کلیدي پوستونو ځای پر ځای دي نو که د حزب اسلامي او افغان حکومت خبرې د بریا تر پولې رسي نو پرته له شکه به د یادو ډلګیو او کړیو حضور کمیږي، په دوی به امتیازات بندیږي او په همداشان په حکومت کې به یې ونډه کمیږي نو فلهذا ځکه خو د حزب اسلامي پر وړاندې غبرګونونه او مخالفتونه توند دي.

وری یا حمل/ 1396

# که شرم پېژني؛ نور وشرمېږه ..!

که څه هم د تاریخ په اوږدو کې پاکستان د افغان دولت د سیاست په سر کې ځای درلودلی او ورته بېلابېل یو طرفه امتیازات ورکړ شوي دي خو پاکستان د دوست او ګاونډي په څېره کې هغه دښمن ثابت شوی چې تر ننه یې افغان دولت او ولس له شره په امان کې نه دی. تل یې افغانستان په ورانۍ، بربادۍ، جنګ، ورور وژنې، بې تفاقۍ، بې تعلیمۍ او دلته د جګړې د اور په تود ساتلو کې خپل کټې ترلاسه کړي دي. دغه هېواد تل د افغانستان په بربادۍ کې خپله بریا لټولې ده. همدا سبب دی چې د هر افغان؛ چې په هېواد، خاوره او افغانیت مین وي؛ د پاکستان له نومه کرکه کوي او پر ورانديز یې سخت دریځ لري. همدا دلیل دی چې په ټوله کې په افغانستان کې د پاکستان ضد مفکوره ورځ تر بلې پیاوړې کېږي او پاکستان د عامه ډیپلوماسۍ په ډګر کې ماتې خوري.

د نړۍ پرمختللي هېوادونه تل هڅه کوي چې د خپل ګاونډي هېواد سره ښې ډیپلوماتیکې او راشه درشه ولري، په ځانګړي توګه تل هڅه کوي چې په ګاونډي هېواد کې د عامه ډیپلوماسۍ ډګر وګټي او د ولس زړونه خپل کړي. ښه بېلګه یې د هندوستان هېواد یادولی شو. په داسې حال کې چې هند د افغانستان سره هیڅ سرحد نه لري او د افغانستان لېرې دوست هېواد دی خو بیا یې هم له افغانستان سره د یو ښه ګاونډي په شان تاریخي اړیکې درلودلې دي.

اوس تازه ترسره شوې سروې ښیي چې پاکستان په افغانستان کې د داعش تروریستي ډلې په نسبت هم کم او هندوستان تر ټولو زیات محبوبیت لري. د امریکا د خپرنیز مدیره بورډ (BBG ) او(ګلوپ) څېړنیز بنسټ نظر پوښتنه څرګندوي چې د افغانستان اتیا سلنه خلک هند د پاکستان په پرتله د افغانستان لپاره غوره بولي. په نظر پوښتنه کې راغلي چې هند د ٦٢ ګډونوالو په لرلو سره د ډېرو مطلوبو هېوادونو په اړه مثبت نظر ورکولو سره په لومړي ردیف او پاکستان په تر ټولو ښکته درجه کې راغلی دی. د پاکستان ۳,۷ سلنه پوښتل شوو پاکستان د افغانستان لپاره یو مطلوب هېواد بللی دی. په یاده څېړنه کې د پاکستان لپاره تر ټولو بد او د شرم ټکی دا دی چې افغانانو له پاکستانه وروسته د داعش او طالبانو ډلې په ترتیب سره د افغانستان لپاره تر ټولو بد سازمانونه بللي، داعش ډلې ته شاوخوا ۵,۸ سلنه مثبت نظرونه ورکړل شوي چې له دې اړخه داعش له پاکستان غوره بلل شوی دی.

که د کابل ـ اسلام آباد او د کابل ـ ډهلي د اړیکو تاریخ ته وکتل شي؛ پاکستان تل د یو نیږدې دوست په څېره کې بدترینه دښمن او هندوستان لیرې دوست ثابت شوی دی. پاکستان د افغانستان اړوند په عامه ډیپلوماسۍ کې تر اوسه په دې نه دی توانیدلی چې افغان ولس خپل کړي او زړونه یې ترلاسه کړي. یوازې د حکومت په دننه کې څو ګوډاګیان لاسپوڅي لري چې د پاکستان په دالو پرسیدلي او آی ایس آی ته وفاداره دي، چې په ولس کې د پام وړ سیاسي نفوذ او محبوبیت نه لري او ډېر ژر دی چې رسوا به شي.

خو هند بیا د پاکستان پر خلاف د هر افغان په زړه کې ځانګړی ځای پیدا کړی او د عامه ډیپلوماسۍ ډګر یې ګټلی دی.
دا سمه ده چې هیڅ هېواد له بل هر هېواد سره د خدای لپاره اړیکې نه پالي بلکې تر شاه یې حتماً هدف لري خو د پاکستان په نسبت د افغانستان لپاره د هندوستان اړیکې ګټورې، مرستې یې اغېزمنې او سیاست یې ثابت ساتلی دی. هندوستان مو سوري زړونه راجوړ کړي دي خو په مقابل کې یې پاکستان د افغانانو وینې توییی کړې دي، هندوستان مو د پوځ د پیاوړي کولو لپاره پوځي تجهیزات راکړي خو پاکستان چور کړي دي، هندوستان مو سړکونه، ښوونځي او پلچکونه جوړ کړي دي خو پاکستان مو د باروتو او بمونو په وسیله جوړ شوي تاسیسات نړولي او ویجاړ کړي دي، هندوستان مو د پارلمان ودانۍ جوړه کړې ده خو پاکستان مو په پارلمان کې د ناستو استازو د وژلو لپاره ځانمرګي رالیږلي دي او په ټوله کې ویلای شو چې هند د افغانستان په اقتصادي پیاوړتیا کې خپلې او د افغان ولس ګټې پاللې خو پاکستان بیا د افغانستان په ورانۍ، بربادۍ، جنګ، ورور وژنې، بې تفاقۍ، بې تعلیمۍ او دلته د جګړې د اور په تود ساتلو کې خپل ګټې ترلاسه کړي دي. نو تاسې په خپله قضاوت وکړئ، پاکستان به څنګه د افغانانو په منځ کې محبوبیت پیدا او د عامه ډیپلوماسۍ ډګر وګټي؟
یو ځل بیا په پاکستاني چارواکو غږ کوو که چیرې د شرم په نوم کوم څه پیژنئ او شرم لرئ نو په کړیوان کې سرونه ښکته کړئ او په افغانستان کې له لاسوهنو او دوه مخیزه سیاست څخه لاس په سر شئ. ګنې په افغانستان کې د پاکستان ضد مفکورې د لا پیاوړتیا په صورت کې د نړۍ له نقشې څخه د پاکستان په نوم د هېواد ورکولو ته تیار اوسئ.

**وری یا حمل/ 1396**

# افغاني رسنۍ، د دښمن تربیون او د پردي فرهنګ پالونکې

هر کال په ټوله نړۍ کې د مې ۳ نېټه د مطبوعاتو ازادۍ د نړیوالې ورځې په نوم نمانځل کیږي. پر دغه ورځ د نړۍ په بیلابیلو هېوادونو کې د بیان ازادۍ، د رسنیو فعالیت او د خبریالانو د کړنو او خدمتونو د ستایلو او ارزولو اړوند غونډې کیږي. سیاسیون، مدني ټولنې، د آزادو رسنیو د ملاتړ بنسټونه او خلک ټولې هغه کړنې غندي چې د بیان ازادۍ، د رسنیو خپلواکۍ او د رسنیو رسالت ته زیان رسوي. په همدې موخه په افغانستان کې هم دا ورځ په داسې محال نمانځل کیږي چې په ټول هېواد کې په لسګونو انځوریزې او په سلګونو غږیزې او چاپي رسنۍ فعالیت لري. له نیکمرغه افغانستان د سیمې په کچه هغه مخکښ هېواد دی چې، په تیرو ۱۵ کالونو کې په کې رسنیو پراخه وده کړې او د تیرو کلونو پوازینۍ لاسته راوړنه هم د بیان او د رسنیو آزادي ده.

دلته په افغانستان کې اساسي قانون د بیان آزادي؛ د افغانستان د وګړو د یو اساسی حق په توګه په رسمیت پیژندلی او د بیان آزادي یې له هر رنګه تیري څخه خوندي ساتلې ده. خو له بده مرغه ډیری رسنۍ لرو چې د بیان د آزادۍ په نوم داسې نشراتي پوښښ لري چې آن د دښمن په تربیون بدلې شوې دي. دلته د افغانستان حکومتي نظام د دښمن له اړخه دومره نه زیانېږي لکه له دغو ترهګرو رسنیو له خوا چې ضربه وینې. دا سمه ده چې د بیان آزادي د انسان ټولنیز حق دی او هیڅوک نه شي چې کولای چې د چا دغه حق سلب کړي، خو دا په دې معنا نه ده چې یو څوک دې راپاسي او د هېواد د تاریخ، کلتور، عنعناتو، اساسي قانون، اسلامیت او افغانیت له سرو کرښو دې پښنه واړوي او هر څه چې یې په خوله راځي؛ تويي کړي. له بده مرغه دلته په لسګونو داسې رسنۍ لرو چې خپل رسالت نه پیژني او د پیسو په مقابل کې د اساسي قانون په شمول د انسانیت هر سرحد ماتوي.

لکه څرنګه چې د یو نظام په پرځولو کې رواني جګړه، د خلکو د ذهنونو مغشوشول، وېره خپرول او د نظام پر ضد خپرونې مهم رول لري نو په افغانستان کې دغه رول د آزادو رسنیو تر نامه لاندې همدغه مزدورې رسنۍ ترسره کوي. همدا رسنۍ دي چې ولس یې پر نظام بې باوره کړی او نظام یې له ولسه لېرې کړی. د افغانستان ډیری رسنۍ د اسلامي ارزښتونو خلاف نشرات کوي، د حکومتي نظام پر ضد تبلیغات کوي، پردی فرهنګ رواجوي، د ځوان نسل ذهنونه مینځي او لویدیځه مفکوره وریبچکاري کوي، د هېواد ملي کمې، اساسي قانون او ځمکنۍ بشپړتیا ته پام نه کوي او هر څه چې یې په مخه ورشي نشروي یې، دغه رسنۍ چې د نورو هېوادنو په پیسو چلیږي؛ په هېواد کې قومي، سمتي، مذهبي او ژبني تعصب ته لمن وهي او هغه پروګرامونه عملي کوي چې د بهرني هېواد لخوا ورته سپارښتنه کیږي. دوی داسې سریالونه نشروي چې د اسلامي او افغاني ارښتونو سره په ښکاره په ټکر کې وي. ډیری رسنۍ یا د عقدې یا هم د ګوندي او شخصي ګټو پر اساس فعالیت کوي چې د نظام او ولس تر منځ د واټن د پیدا کیدو سبب شوي دي.

په افغانستان کې جالبه دا ده چې رسنۍ د حکومت امکانات کاروي، خاوره افغاني کاروي، د فعالیت جواز ورته د افغانستان حکومت ورکوي خو وفاداري بیا بل هېواد ته کوي. دلته ستونزه دا ده چې د افغانستان په مطبوعاتو کې مسلکي کسان د کوتو په شمېر دي؛ په رسنیو کې ډېری بېسواده کسان را ټول شوي دي. د نورو هېوادونو رسنۍ د هغوی د ملي ګټو، ملي امنیت، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي موخو پر اساس نشرات کوي چې ښه بېلګه یې د ګاونډي هېواد پاکستان رسنۍ یادولی شو. خو له بده مرغه زموږ رسنیو او خبریالانو ته ملي امنیت، ملي ګټې، ملي موخې، اساسي قانون، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي هویت او اسلامي او افغاني ارزښتونه هیڅ ارزښت نه لري او یوازې خپلو شخصي ګټو ته لومړیتوب ورکوي.
رسنۍ د خپل رسالت له مخې او د ملي ګټو د خوندیتوب په پار باید د خپل حکومتي نظام ملاتړ وکړي او همداشان ټولې رسنۍ باید ملي دریځ ولري خو له بده مرغه په افغانستان ځنې رسنۍ د جنګسالارانو ملاتړ کوي، ځینې د خلقیانو او پرچمیانو ملاتړ کوي، ځینې د تکنوکراتانو تر نامه لاندې نشرات کوي او ځینې رسنۍ قومي او مذهبي شخړو ته لمن وهي. یوازې د کوتو په شمېر څو رسنۍ دي چې نسبي بې پرې دي چې هغه هم تجارتي رسنۍ دي. زموږ رسنیو کې ډېری خبریالان د افغانستان په رسمي ژبو (پښتو او دري) لیکل او لوستل نه شي کولی، ډېری خبریالان مو د هېواد له تاریخه، له اساسي قانونه، د مطبوعاتو له قانونه، د کار او له نورو قوانینو هیڅ خبرداری نه لري او سر یې پرې نه خلاصیږي. تر ټولو بده یې لا دا ده چې ځینې داسې رسنۍ هم لرو چې د خلکو خصوصي حریم ته ننوځي او په مستقیما توګه شخصیت کواښ لاندې راولي، په داسې حال کې چې نه موږ ته اسلام، نه زموږ اخلاق او نه د افغانستان اساسي اجازه ورکوي چې د چا شخصي حریم تر کواښ لاندې راولو.
زموږ رسنۍ که غواړي خپل رسالت سر ته ورسوي؛ باید د افغانستان ټولو خلکو ته په یوه سترګه وګوري، ملي هویت ته درناوی وکړي ، ملي امنیت ته درناوی وکړي ، اساسي قانون ومني او پرځان یې پلی کړي ، اخلاقي معیارونو ته پام وکړي ، ټولنه راوېښه کړي ، د خلکو د غبږ منعکس کوونکې واوسي او د ولس هینداره باید ووسي.
په رسنیو کې زموږ خبریالان باید مسلکي واوسي، د نیکو اخلاقو نمونه واوسي، بې پرې واوسي، متعصب او ناروغه ونه اوسي، د افغانستان له تاریخ او قوانینو خبر و اوسي، د افغانستان په رسمي او غیر رسمي ژبو بلد و اوسي، ملي امنیت، ملي ګټې، ملي موخې، ملي هویت، ملي غرور، اساسي قانون، ځمکنۍ بشپړتیا، سیاسي خپلواکۍ، اسلامي او افغاني ارزښتونو ته درناوی ولري. زموږ خبریالان باید د رېښتینو خلکو ملاتړ وکړي؛ نه د جاسوسانو، نه جنګسالارانو او نه د جنایتکارانو ملاتړ. یو رښتینی خبریال باید خپل ځان او وجدان باید په پیسو ونه پلوري.

**غویی یا ثور/ 1396**

# پاکستان؛ افغانستان ته د ترهګرو د لیږد په لټه کې

راپورونه وايي پاکستان پر ډيورند کرښه د ځواکونو شمېر زياتوي. د پاکستان د دفاع وزير، خواجه اصف، ويلي، پاکستان به په قبايلي سيمو او بلوچستان ايالت کې له افغانستان سره پر پوله د سرحدي ځواک يا ملېشه ځواکونو شمېر زيات کړي او د پولې څارنه به نوره ښه کړي، تر څو دده په خبره پر پوله د ترهګرو تګ راتګ کم شي. خواجه آصف ويلي د ترهګرو د ځپلو لپاره پلان لري چې د ډيورند کرښې په څېرمه سيمو کې پراخ پوځي عمليات وکړي.

دا چې د پاکستان پوځ يو ځل بيا پر دې خبرې ټينګار کړی، چې د ډيورند کرغېړنې کرښې ته څېرمه سيمو کې به د وسله والو پرضد پوځي عمليات وکړي؛ راځئ پر يادې سيمې د پاکستاني پوځ تېرو عملياتو ته رڼا واچوو: پاکستاني پوځيانو له دې وړاندې هم څو ځلي د ډيورند کرښې څېرمه سيمو شمالي وزيرستان کې پوځي عمليات ترسره کړي دي او لوړ پوړو چارواکو يې د عملياتو د پيلولو پر مهال ويلي وو، چې د وزيرستان په پوځي عملياتو کې د وسله والو طالبانو او نورو ترمنځ توپير نه کوي. د ښه او بد ترهګر توپير به نه کوي او افغان او پاکستاني طالبان دواړه به ځپي؛ خو ډېر ژر په ډاګه شوه چې د شمالي وزيرستان پوځي عمليات يوازي د پاکستاني طالبانو د ځپلو او افغانستان ته د شړلو په موخه ترسره شول چې هدف يې دلته په افغانستان کې د افغان حکومت پر ضد د وسله والو مخالفينو د ليکو پياوړي کول و. په هاغه مهال په پاکستان کې د  حقاني شبکې، لشکر طيبه او هغه وسله والو چې په افغانستان کې په جګړه اخته و؛ پناه ځايونه، روزنځايونه او استوګنځايونه ټول خوندي پاتې شول او په عملياتو کې يوازې هاغه وسله وال په نښه شول چې خطر يې پاکستان ته متوجه و. هاغه مهال په سيمه کې مېشت د حقاني شبکې وسله والو ته د پاکستان پوځ او آی ايس آی د پوځي عملياتو تر پيلېدا مخکې له وزيرستانه د وتلو لار ورکړې وه او په اسلام اباد، کراچۍ، لاهور او نورو خوندي ځايونو ته يې انتقال کړي و.

که د ځانمرګو بريدګرو د چمتو کولو لړۍ وڅېړل شي نو په ډاګه کيږي چې له عقيدتي جګړې څخه سرچينه اخلي او وسله والو ته د عقيدتي جګړې روحيه د پاکستان د تش په نوم اسلامي مدرسو کې ورکول کيږي او دغه افراطي مدرسې د اسلام اباد په شمول د پاکستان په بېلابېلو ښارونو کې شتون لري. دلته اوس پوښتنه دا ده ، په داسې حال کې چې ترهګر له اسلام اباده ملاتړ ولري نو دا بيا کوم منطق مني چې په شمالي وزيرستان کې په دغو اوسنيو عملياتو کې دې افغان ضد ترهګر وځپل شي؟

په کوم ثبوت ویلی شو چې د پاکستاني پوځ په نظر او ستراتیژۍ کې دې ۱۸۰ درجې تغیر راغلی وي او ګویا دا ځل به په ربښتونې توګه ترهګر؛ افغانستان ته د لیږدولو پر ځای وځپي؟

خبره روښانه ده چې پاکستان غواړي یو ځل بیا د ډیورنډ کرښې څېرمه سیمو کې د ترهګرو پر ضد د عملیاتو په نامه؛ وسله وال طالبان له کرښې دې غاړې افغانستان ته د پسرلنۍ جګړې لپاره راواستوي او دلته د وسله والو مخالفانو لیکې پیاوړې کړي. پاکستان په دغو عملیاتو سره غواړي چې دلته په افغانستان کې د افغان حکومت په مقابل کې د دښمن پسرلنۍ جګړه توده او یو ځل بیا د بې ګناه افغانانو وینه تویه کړي. ځکه که وګورو له یو طرفه افغان دولت د سولې په نوم د وخت ضایع کوونکې مذاکراتو کې بوخت دی او بل لور ته وسله والو مخالفانو هم د «عمري» په نوم د پسرلنیو عملیاتو اعلان کړی دی چې د ډیورنډ کرښې څېرمه سیمو کې د پاکستاني پوځ له لوري عملیات هم د همدې هدف لپاره ترسره کیږي چې دلته د وسله والو «عمري» عملیاتو ته قوت وبخښي.

پاکستان تل د افغانستان په بربادۍ او جنګ کې خپلې ګټې لټولې او اوس هم د پاکستان په نیت شک شتون لري چې یو ځل بیا به د ډیورنډ کرښې ته څېرمه سیمو کې د پوځي عملیاتو په پلمه؛ ترهګر له پاکستانه افغانستان ته ولیږدوي او روان کال به د تیر هغې په نسبت ډیر خونړی کړي. په ټوله کې ویلای شو چې د ډیورنډ کرښې ته څېرمه سیمو کې د پاکستاني پوځیانو هر رنګه پوځي تحرکات د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف او د عملیاتو موخه یې د په افغانستان کې د جګړې ډګر تود ساتل دي او بس.

غویی یا ثور/ 1396

# پاکستان د طالبانو استازولي کوي

وروسته له هغې چې په اسلام آباد کې د افغان سولې پنځمه څلور اړخیزه غونډه هم بې پایلې پایته ورسیده او پاکستان وویل چې په زور او جګړه څوک طالبانو ته ماتې نه شي ورکولی؛ د دغه هیواد د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویلي، د افغانستان حکومت باید لومړی د جګړې په میدان کې پر طالبانو برلاسی شي او بیا دې دلې ته امتیازونه ورکړي څو د سولې خبرو ته حاضره شي. چودري عزیز احمد رویټرز خبري اژانس سره په مرکه کې ویلي، د افغانستان له حکومت سره د مخامخ خبرو لپاره د طالبانو هڅول به هغه مهال نتیجه ورکړي چې د افغانستان امنیتي ځواکونه د جګړې په میدان کې د طالبانو د پرمختګونو مخه ډب کړي. دا په داسې حال کې ده چې وړاندې تر دې پاکستان ویلي و چې که طالبان یې د سولې خبرو ته حاضر نه کړای شول، د دې ډلې پر ضد به په خپله خاوره کې اقدام وکړي خو اوس وایي چې د طالبانو پر ضد اقدام کول ګټه نه لري.

اوس پوښتنه پیدا کیږي چې د پاکستان له وروستیو څرګندونو څخه هدف څه دی؟ افغان حکومت ته څه پیغام ورکوي او څه باعث شو چې د طالبانو د ځپلو اړوند د پاکستان په نظر کې ۱۸۰ درجې بدلون راغی؟ داسې ښکاري چې چوهدري عزیز احمد غوښتل په غیر مستقیمه توګه وښیي چې طالبان په جګړه کې برلاسي دي نو ولې سوله ومني. بله لویه مهمه خبره دا چې چودري نثار په ورته څرګندنو سره داسې ښکاري چې په لوی لاس د طالبانو استازولي کوي. دلته چودري عزیز د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال وزیر کم او د طالبانو استازی زیات ښکاري. خو په ټوله کې پاکستان له یادو څرګندونو څخه دوه موخې لري :

لومړی : اصلاً د پاکستاني چارواکي چوهدري عزیز احمد څرګندونې دا مفهوم لري چې غواړي دلته په افغانستان کې د جګړې ډګر ګرم وساتي. په دې معنا چې غواړي وښايي د افغان حکومت او وسله والو طالبانو تر منځ په جګړه کې وسله وال طالبان لاس بري دي او افغان ځواکونه یې د مقابلې وړتیا نه لري نو ولې وسله وال طالبان وسله پر ځمکه کیږدي؟ په دې طریقې سره غواړي وسله والو طالبانو ته د جګړې کولو روحیه ورکړي او ویې هڅوي چې روان کال هم د جګړې میدان ګرم وساتي.

دویم هدف : لکه څرنګه چې معلومیږي چې د پاکستان او د هغ د ستر مالي ملاتړي هېواد امریکا سره اړیکې ترخې شوي دي. غواړي په افغانستان کې د امریکا سیاست او حیثیت په نړیواله کچه تر پوښتنې لاندې راولي. د راپورونو له مخې څه موده وړاندې د پاکستان بهرنیو چارو سلاکار سرتاج عزیز د پاکستان مشرانو جرګې ته د امریکا او پاکستان د اړیکو په اړه وویل، چې د امریکا له لوري د ایف ۱۶ الوتکو په پیرلو کې د

مالي مرستو د بنديز له امله له تېرو درې مياشتو راهيسې د پاکستان او امريکا اړيکې ترينګلې دي. همداشان په وروستيو کې پاکستان د جاسوسۍ په تور د نيول شوي ډاکټر شکيل افريدي په اړه د امريکايي حکومت او کانګريس غوښتنې رد کړي چې دې کار هم د امريکا او پاکستان تر منځ په اړيکو کې درځ پيدا کړې دی. بل پلو امريکايي کارپوهان او رسنۍ هم په وروستيو کې له هر ډول دليل پرته پر پاکستان د طالبانو د ملاتړ تورونه لګوي. دا ټول هغه څه دي په نړۍ کې د پاکستان اصلي څېرې برېنډېدلو ته زمينه برابره وي او پاکستان غواړي چې له امريکا څخه د خپل غچ اخيستلو په خاطر په افغانستان کې د امريکا په سياست، ستراتيژۍ او حيثيت باندې سياسي ګوزار وکړي.

بله لويه او اساسي پوښتنه دا ده چې پاکستان ولې د وسله والو استازولي کوي او له افغان حکومته د طالبانو لپاره د امتياز غوښتنه کوي؟ که چېري له افغان سولې پروسې سره د يو ځای کېدو لپاره د امتياز غوښتل د وسله والو طالبانو شرط وي نو بيا ولې په خپل طالبانو دغه شرط افغان حکومت ته نه وړاندې کوي؟ وسله وال طالبان د پاکستان چارواکو ته څه اړتيا لري چې ګويا پاکستاني چارواکي دې د طالبانو له ترييونه غږ اوچت کړي؟

د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت مرستيال وزير له يادو څرګندونو يو ځل بيا په ډاګه شوه چې طالبان خپلواک نه دي او د دوی هر کار، هر جنايت او هر نظامي بريد لپاره د پاکستان لخوا ورته دستور ورکول کيږي او بيا يې دوی لکه د غلامانو د هغوی امرونه مني. دوی د خپل بادار په امر او اشاره خپله خاوره، خپل هېواد او خپل وګړي په وينو کې غوپه کوي او د پيسو په مقابل کې خپل ضمير پلوري.

غويې يا ثور/ 1396

# د اعدام حکم او څو مهم ټکي

وروسته له هغه چې په کابل کې د (د وري ۳۱مه) د وسله والو طالبانو له لوري خونړی برید ترسره شو او په کې په سلګونو بې ګناه افغانان ټپیان او په لسګونو ووژل شول؛ افغان ولسمشر محمد اشرف غني د تیرې دوشنبې په ورځ پارلمان ته په وینا کې وویل چې ډیر ژر به په اعدام محکومو بندیانو د اعدام سزا پلي شي. که څه هم تر دې دمه معلومه نه ده چې افغان حکومت د څومره وسله والو طالبانو د اعدامولو پرېکړه کړې ده او نه هم په اعدام د محکومو کسانو نوملړ رسنیو ته په لاس کې ورکول شوی دی. خو وسله والو طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې که بندیان اعدام شول، دوی به یې په ځواب کې هغه څه ترسره کړي چې په توان یې پوره وي او عدلي ارګانونه به د دې لوړه بیه پرې کړي.

دوی همدا راز هغه ډلې او پېژندل شوي اشخاص هم کواښلي چې د محکوم شوو طالبانو د اعدامولو غوښتنه کوي او په وینا یې د دوی په اړه هېڅ بې تفاوته نشي پاتې کېدلای. طالبانو ویلي چې دوی به دغه کسان په «کلي او جزئي توګه د نظامي اهدافو په قطار کې داخل کړي.«

که څه هم د افغانستان د جګړې په تیر تاریخ کې وسله والو طالبانو هر رنګه اسلامي، بشري او افغاني اصول تر پښنو لاندې کړي او په ډیرې بې رحمۍ یې صحرایې محکمې پلې کړي دي خو د وسله والو طالبانو له لوري په وروستۍ خپره شوې اعلامیه تر ټولو جالبه دا ده چې دوی د بشري حقونو د دفاع پر نړیوالو ادارو، خپلواکو رسنیو، سور صلیب او نورو سازمانونو هم غږ کړی چې له خپل اثر رسوخ څخه استفاده وکړي او د ولسمشر د وروستي دریځ اړوند چې ویلي دي؛ ډېر ژر دی چې په زندانونو کې پر اعدام د محکومو بندیانو د اعدام پر دوسیو به لاسلیک وکړي؛ په دې اړه بې تفاوته پاتې نشي.

که د اسلام له مخې له ظالم څخه د مظلوم د حق اخیستلو اصل ته وګورو نو د ټولنې د اصلاح لپاره د وسله والو مخالفانو اړوند د ولسمشر وروستی دریځ پر ځای دی چې ویلي دي : ډېر ژر به په اعدام محکومو بندیانو د اعدام سزا پلي شي. ځکه د مجرم د خپل جرم په سزا د رسولو سره د ناحقه وینو تویولو مخنیوی کیږي ، د خپل منځې جګړې او دوښمنۍ مخنیوی کیږي او بلاخره په ټول عالم کې امن قایمیږي. ځکه که مجازات وي نو قاتل د بل په قتل کې د ځان قتل بولي او په دې سره د ټولو ژوند خوندي کیږي.

الله ج په خپل مبارک کتاب قرآنکریم کې د (البقرة سورة په ۱۷۹ آیت) کې فرمایلي دي :[ولكم في القصاص حياة يا أولي الألباب]

ژباړه : او تاسې لره دی په قصاص کې ژوندون ای خاوندانو د عقلونو ( لپاره ددې چې تاسې ځان وساتئ له نا حقه وینو توېولو څخه ).

یادونه باید وشي چې اعدام او قصاص توپیر لري. ځکه قصاص یو شرعي حد دی چې په قرآنکریم کې ترې یادونه شوې ده او اعدام بیا د جزا په قانون کې په ځانګړو حالاتو کې ترتیب کیږي چې قاضي د یادو اړوندو حالاتو په نظر کې نیولو سره د تورن شخص لپاره د اعدام حکم صادروي. خو په ټوله کې مجازات د عبرت درس ورکوي، که هغه قصاص وي او یا اعدام. خلک د هغه څخه عبرت اخلي ، له ځان سره حساب کوي د خیر د جلب او د ګناهونو په وقایه کولو کې کوښښ کوي ځکه د حد جاري کېدل ده ته عملي درس ورکول دي. لکه څرنګه چې اسلام د جزا قانون په هره برخه کې له ډېر احتیاط څخه کار اخلې او هر جرم ته خپل شرطونه لري کله چې شرطونه پوره شي بیا مجرم ته خپله جزا ورکوي. نو لازمه ده چې په زندانونو کې د ټولو بندیانو په ځانګړي توګه د هغو بندیانو دوسیې باید په پوره غور او دقت سره وڅېړل شي چې د افغانستان د قضایې او عدلي ارګانونو له لوري پرې د اعدام حکم صادر شوی دی. افغان ولسمشر ته په کار دي چې پر اعدام د محکومو بندیانو له اعدام څخه وړاندې لاندې ټکي په نظر کې ونیسي.

- د محکمو د قاضیانو او څارنوالانو په شمول د ټولو قضایې او عدلي ارګانو د کارکوونکو ځاني او مالي خوندیتوب ته باید لومړیتوب ورکړل شي ځکه دوی په هغه چا د اعدام حکم صادروي چې هغه د افغانانو داسې دښمن دی چې هیڅ پوله، سرحد او اصول نه پېژني او د خپل هدف لپاره تر اسلامیت او انسانیت تیر دی.
- په دغه ډول احساسات پارونکو قضیو کې د اړوندو قاضیانو او څارنوالانو هویت باید پټ وساتل شي څو د مقابل لوري له خطر څخه وساتل شي.
- په زندانونو کې پر اعدام د محکومو بندیانو دوسیې باید په پوره غور او بېطرفه توګه وڅېړل شي.
- پر اعدام د محکومو بندیانو اړوند باید عدالت په نظر کې ونیول شي او هغه خلک باید اعدام شي چې جرم یې لوی وي لکه انس حقاني او نور ملګري یې؛ نه داچې  د وچو له کبله لامده وسوځیږي او بېوسه، بې واسطې او بې ګناه خلک د ولسمشر د حکم قرباني شي.

غویی یا ثور/ 1396

# د افغان حکومت ناپایداره سیاست

په داسې حال کې چې افغان حکومت تاکید کاوه، تر هغې، چې پاکستان د افغان سولې په تړاو خپلې کړې ژمنې نه وي عملي کړې، په څلور اړخیزو غونډو کې ګډون نه کوي؛ تېره ورځ د پاکستان پلازمېنه اسلام اباد کې د افغانستان سولې اړوند، د پاکستان، چین او امریکا په منځګړیتوب پنځمه څلور اړخیزه غونډه ترسره شوه. په دغه غونډه کې د افغانستان په استازیتوب په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر حضرت عمر زاخېلوال، د پاکستان په استازیتوب د دغه هېواد د بهرنیو چارو مرستیال وزیر عزیز احمد چودري، د امریکا په استازیتوب د افغانستان او پاکستان لپاره د متحدو ایالتونو خاص استازی ریچارد اولسن او د چین په استازیتوب د افغانستان او پاکستان لپاره د دغه هېواد خاص استازي دینګ ژینګ ګډون کړی و. وړاندې تر دې افغان چارواکو ویل چې په کابل کې ترسره شوې څلورمه څلور اړخیزه غونډه کې پاکستان ژمنه کړې وه چې که طالبان د سولې خبرو ته حاضر نه شول پر ضد به یې په ګډه اقدام کوي. خو د افغان ولس د هیله مندۍ خلاف په څلور اړخیزه غونډه کې ټولو په دې موافقه وکړه چې سولې ته باید چانس ورکړای شي او سوله یېزې خبرې د افغانستان د مسلې د حل یوازینۍ لار ده.

کابو یوه میاشت وړاندې افغان ولسمشر اشرف غني ملي شورا ته په وینا کې ویلي و چې نور له پاکستانه د افغان سولې اړوند د خیر تمه نه لري او یوازې د تیرو څلور اړخیزو غونډو ژمنې دې عملي کړي. د افغان حکومت یاد اقدام په کور دننه د سیاست والو او هېوادوالو لخوا له ټود هرکلي سره مخامخ شو. خو څو ورځې وړاندې د افغان حکومت په نظر کې ۱۸۰ درجې بدلون راغی او تېره ورځ یې په اسلام اباد کې په پنځمه څلور اړخیزه غونډه کې د سفیر په کچه ګډون وکړ. دلته د افغان دولت ۱۸۰ درجې نظر بدلیدل هم د پوښتنې وړ مسله ده. داسې انګېرل کیږي چې ګویا افغان حکومت د بهرنیانو په ځانګړي توګه د څلور اړخیزو غونډو د منځګړو هېوادونو (چین او امریکا) د فشار په پایله کې په پنځمه غونډه کې ګډون کړی وي .

دلته دا مهمه نه ده چې افغان دولت د فشار په پایله کې او که په خپله خوښه په پنځمه څلور اړخیزه غونډه کې ګډون کړی ؛ بلکې مهمه دا ده چې افغان حکومت یو ځل بیا په ثبوت ورسوله چې یو پایداره بهرنی سیاست نه لري او په لویو ملي پریکړو کې هیڅ خپلواک نه دی. افغان حکومت په داګه کړه چې په کابل کې د پل محمود خان په سیمه کې د خونړي برید وروسته چې اشرف غني د پاکستان په خلاف کوم دریځ غوره کړی و؛ هغه یوازې د ولس د احساساتو د ارامولو په خاطر کړی و. په دې سره افغان حکومت په کور دننه او په نړیواله کچه خپل باور له لاسه ورکړ. که څه هم د ملي یووالي حکومت د کار له پیله تر ننه خپله یوه ژمنه هم نه ده پوره کړې خو په وروستیو کې کله چې یې له پاکستانه د هیلو دروازې وتړلې او څلور اړخیزې غونډې یې تحریم کړې؛ دغه

کار یې د ولس له تود هرکلي سره مخامخ شو او د ولس او حکومت تر منځ د باور په فضا کې ښه والی راغی.
خو اوس چې افغان دولت یو ځل بیا په پاکستان روند باور وکړ او ترې یې د خیر تمه وکړه نو ولس ته یې وښوودله چې نه یوازې په کوږ دننه مسالو کې ثابت سیاست نه لري؛ بلکې په بهرني سیاست کې هم پایداره نه دی. دا په پوره ډاډ سره وایم چې نور به افغان ولس د حکومت په هیڅ دریځ باور ونکړي.
د څلور اړخیزو غونډو اروند لکه څنګه مو چې وړاندوینه کوله چې پنځمه غونډه به هم تش د وخت ضایع کول وي او هیڅ ګټه به ونلري؛ همداسې وشول او په کې هیڅ هغې ژمنې ته اشاره ونه شوه چې د کابل په څلورمه څلور اړخیزه غونډه کې برخوالو هېوادونو کړې وه. په تېره غونډه کې د څلور اړخیزې غونډې برخوالو هېوادونو ژمنه کړې وه چې له خپل نفوذه په استفادې به د سولې د هدفونو لپاره فعال رول لوبوي خو دا ځل بیا هم پرېکړه وشوه چې سوله او جوړجاړی یوازینې حللار ده او جګړه د هیڅ لوري په ګټه نه ده. د غونډو برخه والو هېوادونو هیڅ کومه نوې خبره نه درلوده او یوازې خپل وخت یې تېر کړ. دوی فقط په کابل کې وروستی خونړی برید وغانده او د تروریستي بریدونو عاملانو ته یې خبرداری ورکړ چې د خپلو اعمالو ځواب ته دې تیار واوسي.
په پنځمه څلور اړخیزه غونډه کې نه یوازې دا چې افغان لوري ته پاکستان خپلې تېرې تکراري ژمنې زمزمه کړې؛ بلکې د افغان ولس د هیلو خلاف د افغان لوري پر ځای؛ پاکستان له افغانستانه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د پاکستان ضد څرګندونو مخنیوی وکړي. په دغه غونډه کې پاکستان له افغان حکومت څخه غوښتنه وکړه چې د هغه هېواد خلاف څرګندونو څخه ډډه وکړي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې هېواد یې په افغان سولې پروسه کې رښتینې هڅې کوي او افغان حکومت باید د پاکستان ضد څرګندونو څخه ډډه وکړي.
که څه هم افغان حکومت د ولس د هیلو خلاف په پنځمه څلور اړخیزه غونډه کې برخه واخیسته او دغه لړۍ یې یو ځل بیا پیل کړ خو د کابل ـ اسلام آباد تیرو اړیکو او د پاکستان دوه مخی ته په کتو؛ ځینې کارونه شته چې افغان حکومت یې باید ترسره کړي .
تر هر څه وړاندې اړینه دا ده چې افغان حکومت بین الافغاني مذاکراتو ته لومړیتوب ورکړي او بیا هم راتلونکې څلور اړخیزې اغونډې تحریم کړي خو په دې برخه کې پرې د نورو فشار وي نو بیا اړینه ده چې په راتلونکو غونډو کې له ګډون وړاندې د پاکستان د صداقت اړوند نړیوال ضمانت واخلي. همداشان افغان دولت باید له چین، امریکا او په ټوله کې له نړیوالې مرستندویه ټولنې وغواړي چې په پاکستان فشار راوړي څو په پاکستان د حقاني شبکې په شمول د ټولو ترهګریزو ګروپونو پر ضد په رښتونې توګه عملیات ترسره کړي. او همداشان افغان حکومت باید له نړیوالو هغه هېوادونو چې پاکستان سره مالي مرستې کوي؛ وغواړي چې خپلې مرستې په پاکستان کې میشتې حقاني شبکې د ځپلو پوري مشروطې کړي. غويي یا ثور/ 1396

# د بخښنې له نړیوال سازمانه څو پوښتنې

په داسې حال کې چې افغان قضايي اورګانونو پر ادعدام د محکوم شویو کسانو لیست تېره اوونۍ ولسمشر غني ته وسپاره؛ اوس د بخښنې نړیوال سازمان د افغانستان له ولسمشره غوښتي چې پر اعدام د محکوم شویو کسانو حکم لاسلیک نه کړي. ولسمشر غني وروسته له هغې چې وسله والو طالبانو په کابل کې خونړی برید وکړ او په لړ کې يې تر ۶۰ زيات کسان مړه او تر ۳۰۰ ډېر نور ژوبل شول، پر اعدام د محکوم شویو طالبانو د دوسیې د بیا څېړلو او د اعدام د حکم د تطبیق کېدو مسله مطرح کړه. ویل کېږي چې تر ۵۰۰ زيات طالبان په اعدام محکوم شوي دي.

دا لا نه ده څرګنده چې ياد طالبان به کله او چېرته اعدام شي خو اوس د اسیا لپاره د بخښنې سازمان د رسنیو د برخې مسوول عمر ورڅ ویلي د اعدام د حکم د عملي کيدو پر صورت کې د داسې تېروتنې خطر شته چې بیا به نه جبیره کېږي.د بخښنې نړيوالې ټولنې ويلي «د اعدام سزا د تروریزم د مخنیوي لار نه ده، د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني باید د اعدام حکم لاسلیک (توشیح) نه کړي.»

دا په داسې حال کې ده چېپه وروستیو کې د ماشومانو د برمته کولو پېښې ډېرې شوې دي او که د برمته شویو ماشومانو کورنۍ د سړي تښتوونکو غوښتنې ونه مني، نو د دوی ماشومان د مرګ له ګواښ سره مخ کېږي.همدا تېره ورځ هم په کابل کې د بغلان لسکونه تنه اوسېدونکي د لاریون په توګه راغونډ شوي و او د صدام حسین د قاتلینو لپاره د اعدام غوښتنه یې کوله.صدام حسین هغه افغان ماشوم دی چې په وروستیو کې د څو تنو سړي تښتوونکو له لوري له بغلان ولایت څخه تر برمته کېدو وروسته په دار وځړول شو. د صدام حسین لپاره د عدالت غوښتونکي لاریون والو د دې پېښې په غندلو سره د قاتلینو لپاره د درنې سزا غوښتنه کوله. دوی خبرداری ورکړ که غوښتنې یې ونه منل شي، خپلو لاریونونو ته به دوام ورکړي.دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې د اباسین په نوم یو بل افغان ماشوم هم د سړي تښتوونکو له لوري وژل شوی وو.

پر اعدام د محکومو کسانو پر دوسیو د ولسمشر غني له لوری د لاسلیک اړوند د بخښنې نړیوال سازمان په داسې حال کې غبرګون ښیې چې د راپوروټو له مخې په په ټوله نړۍ کې د اعدامونو کچه ۵۰ سلنه لوړه شوې ده. د بخښنې سازمان د معلوماتو پر بنسټ؛ تېر کال په ټوله نړۍ کې ۱۶۳۴ تنه چې د اعدام په سزا محکوم شوي ول په دار ځوړول شوي دي. د راپوروټو له مخې له چین او ایران وروسته پاکستان د اعدامونو له

امله په نړیواله کچه درېیم ځای لري. همداراز سعودي عربستان هم هغه هېواد دی چې هر کال په سلګونو خلک په کې په دار ځړول کېږي.
همدا څو ورځې وړاندې پاکستان لوی درسیتز د ۱۱ طالبانو د اعدام حکم لاسلیک کړی. دغه طالبان، چې په ترهګریزو بریدونو تورن دي، د پوځي محکمې لخوا تر تړلو دروازو شا ته محاکمه شوي او د پاکستان د قانون پر بنسټ د پوځ لخوا یې د اعدام حکم هم صادرېږي. دا طالبان پر هغه ښوونځي باندې پر برید باندې تورن دي، چې تېر کال په کې شاو خوا ۱۵۰ تنه ووژل شول.
نو کله چې په ټوله نړۍ هر کال په زرګونو کسان اعدام کېږي؛ هلته بیا د بخښنې نړیوال سازمان چیرته ورک دی چې په افغانستان کې پر اعدام محکومو د بشریت ضد مجرمانو (وسله والو طالبانو) له اعدام سره غبرګون ښیې او چین، سعودي عربستان، ایران او او پاکستان ته چوپه خوله دی؟
کله چې هره ورځ په سلګونو فلسطینیان د اسرایلو په بریدونو کې وژل او ټپي کېږي؛ نو د بخښنې نړیوال سازمان ولې غبرګون نه ښیې؟
کله چې په افغانستان کې د وسله والو طالبانو له لوري هر کال په لسګونو صحرایې محکمې ترسره کېږي؛ د ببښنې نړیوال سازمان ولې غبرګون نه ښیې؟
کله چې په افغانستان کې د اباسین ځاځي او بغلاني ماشوم صدام حسین وحشي قاتلان دغه تنکي ماشومان له تیغه تېروي؛ ولې د بخښنې نړیوال سازمان غبرګون نه ښیې؟
کله چې په ننګرهار کې د داعش وحشي غړي نوی زېږېدلی ماشوم په منځ دوه پړکه بېلوي؛ ولې د بخښنې نړیوال سازمان غبرګون نه ښیې؟
کله چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې وسله وال طالبان د افغان امنیتي ځواکونو له تنکیو سربازانو سرونه غوڅوي؛ د بخښنې نړیوال سازمان ولې غبرګون نه ښیې؟
کله چې طالب وسله وال په شاشهید په سلګونو بې ګناه کورنۍ د غم په ټغر کینوي، کله چې په پل محمود خان کې په سلګونو بې ګناه خلک شهید او ټپیان کوي، کله چې په یحی خیلو کې د لوبو په میدان کې د سپورټ اتلان په وینو لړي، کله چې د روژې په مبارکه میاشت کې په ارکون ولسوالۍ کې په سلګونو کورنیو روژه ماتې په وینو ماتوي او کله چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې هر هېوادوال مو بې ګناه له ژوندې بې برخه کېږي؛ د بخښنې نړیوال سازمان ولې خپل غبرګون نه ښیې؟
دا څنګه د بشر حقونو څخه د دفاع او بخښنې سازمانونه دي چې زموږ د بې ګناه وینې تویدنې اړوند چوپه خوله دي؟ آیا په صحرایې محکمو کې زموږ قرباني هېوادوال بشر نه دی؟

آیا د سرو تبنـتونکو بنکار شوي تنکي کلان ماشومان اباسین ځاځی او صدام حسین بشر نه دی؟
آیا د وسله والو طالبانو له لوري له تیغ تیر شوي زمونږ د امنیتي ځواکونو سربازان بشر نه دي؟
او آیا د هیواد په کوټ کوټ کې د وسله والو طالبانو په ځانمرګو او بې چاودنو کې شهیدان او ټپیان شوي هیوادوال بشر نه دي چې اړوند یې د بشر حقونو مدافعین غږ نه پورته کوي؟
که څه هم د یادو طالب بندیانو په اعدامولو سره به د دوی په ترسره شویو بریدونو کې شهید او ټپي هیوادوال ونه رغوي خو کم تر کمه به د هغې مور، پلار، ناوې او شاه د زړه تسل به وشي چې د طالبانو په ځانمرګو بریدونو کې یې خپل اولادونه او د کورنۍ غړي له لاسه ورکړي دي. که چیرې د افغانستان ولسمشر اشرف غني د بخښـنې نړیوال سازمان په غوښتنه له خپل دریځه په شا شو نو دا به یې د وسله والو طالبانو په بې رحمه بریدونو کې د وژل شوي او ټپي شویو افغانانو په حق کې ظلم کړی وي او لیرې نه ده چې له ولسي غبرګون سره به مخ شي.
په پای کې د بخښـنې له نړیوال سازمان او د بشر حقونو له مدافعینو بنسټونو هیله کوو چې په دې ډول یو طرفه قضاوتونو سره زمونږ په هیواد کې ګډوډۍ ته لمن ونه وهي او د بشر په توګه زمونږ د مظلوم ولس حقونه تر پښو لاندې نه کړي.

**غویی یا ثور/ 1396**

# د پاکستان د ملي امنیت د مشاور په ځواب کې .!

راپورونه وايي تېره ورځ په اسلام آباد کې د افغان سولې اړوند د پنځمې څلور اړخیزې ناستې یوه ورځ وړاندې د پاکستان د ملي امنیت مشاور ناصر جنجوعه ویلي چې؛ دهغوي زړونه دافغانستان لپاره درزېږي، او افغان ورونو سره خواخوږي لري. جنجوعه ویلي ځینې خلک کني چې مونږ دوه مخه لوبه کوو خو د نومورړي په وینا داسې نه ده بلکې پاکستان سوله خوښي دی او افغانستان کې دامنیت ټینګښت ته لېواله دی. نومورړي همداراز ویلي هغوي د افغانانو سره خپل کور او دسترخوان وېشلی او د افغان کډوالو له امله یې اقتصاد ته د اربونو روپو زیان رسیدلی.

غواړم دلته د پاکستان د ملي امنیت مشاور ناصر جنجوعه ته یې د وروستیو څرګندونو ځواب ووایم.

جنجوعه ویلي چې دهغوي زړونه دافغانستان لپاره درزېږي، او افغان ورونو سره خواخوږي لري. په دې کې خو شک نشته چې د جنجوعه په شمول د ټولو پاکستاني چارواکو زړونه د افغانستان لپاره درزېږی خو دا درزیدل داسې نه دي چې ګویا د افغانستان لپاره د پاکستاني چارواکو د ښه نیت استازولي وکړي؛ بلکې د هغوی زړونه د افغانستان د بربادۍ، د افغانانو د وژنې او د افغان حکومت د تخریب لپاره درزېږي. د دوی زړونه د دې لپاره درزېږي چې افغانستان باید پرېنږدي چې په ځان بسیا شي، دوی باید افغان پرېنږدي چې آرامه ساه واخلي او د دوی زړونه  د دې لپاره درزېږي چې څنګه وکولای شي افغانستان لا هم د بدبختیو کندې ته ټېله کړي. د افغانستان او پاکستان تېرې اړیکې که مطالعه کړئ نو زما د دې ادعا ثبوت به حتماً ووینئ.

جنجوعه همداراز ویلي چې ځینې خلک کني چې مونږ دوه مخه لوبه کوو خو د نومورړي په وینا داسې نه ده بلکې پاکستان سوله خوښي دی او افغانستان کې دامنیت ټینګښت ته لېواله دی. نه پوهیږم ښاغلي جنجوعه ته د حکومت په شمول ټول افغانان او د تاریخ پاڼې رڼدې ښکاري او که په خپله ړوند دی؟

ناصر جنجوعه ته به په یاد نه وي چې د پخوانیو افغان حکومتونو تر څنګ د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال پر پاکستان څومره باور وشو، جنجوعه به پاکستان ته د حامد کرزي له شلو زیات سفرونه له یاده باسلي وي چې افغان حکومت پرې باور کولو او پاکستان به ورته ژمنې ورکولې خو پایله به یې یوازې د وخت ضایع وه. جنجوعه ته به نه وي معلوم چې اوسني افغان ولسمش اشرف غني پاکستان ته څومره امتیازات ورکړل آن تر دې چې د استخباراتي معلوماتو پټ سند یې هم ورسره لاسلیک کړ خو په مقابل کې یې پاکستان تشې وعدې کولې او بس. او آیا جنجوعه به د چین، امریکا، افغانستان او پاکستان تر منځ د افغان سولې په څلور اړخیز ناستو کې د پاکستانیو چارواکو ژمنې هیرې کړي وي چې د مذاکرې میز ته د

وسله والو طالبانو د راوستلو لپاره يې کړې وې او اوس ترې په شا شوی دی؟ دا ټول د پاکستان په رضالت او دوه مخي توب دلالت نه کوي؟

او همداشان د پاکستان د ملي امنيت مشاور ناصر جنجوعه دا هم ويلي چې هغوي د افغانانو سره خپل کور او دسترخوان ويشلی او د افغان کډوالو له امله يې اقتصاد ته د اربونو روپو زيان رسيدلی. دلته هم بايد د ناصر جنجوعه په شمول د پاکستان هر يو چارواکی افغانانو ته دا پيغور ورنکړي چې ګويا پاکستان افغانانو ته پناه ورکړې او د افغان کډوالو پر سر پاکستان زيان ليدلی دی. اصلاً پاکستان خو په افغان کډوالو خپلې دښتې آبادې کړې، پاکستان خو د افغان کډوالو ته د پناه ورکولو په نوم له نړيوالو په اربونو ډالر مرستې ترلاسه کړې، دوی خو زمونږ له کډوالو منفي ګټه واخيستله، په پاکستان کې له ميشتو افغان کډوالو يې د افغانستان د خوکۍ کوتې په توګه ګټه واخيستله، پاکستان خو تل له افغان کډوالو په افغان دولت د فشار د آلې په توګه ګټه پورته کړې ده، زمونږ له همدغو کډوالو يې د خپلو استخباراتي ګټو په ترلاسه کولو کې استفاده وکړله. نو بيا په کومو سترګو ښاغلی جنجوعه وايې چې افغان کډوالو د پاکستان اقتصاد ته په اربونو روپو زيان اړولی دی؟

که جنجوعه په حقيقت سترګې پټې نه کړي او په خپل ګريوان کې سر ښکته کړي نو ور په ياد به شي چې همدغه افغانان و چې پاکستان يې اوسني حد ته راورسولو او همدغه افغان کډوال دي چې تاسې يې پر سر اوس هم له نړيوالې ټولنې د کډوالو ته د پناه ورکولو په نامه په ميلونو ډالر ترلاسه کوئ.

**غويی يا ثور/ 1396**

# د تورخم دروازه؛ د افغانستان تپي کوته

په داسې حال کې چې څو ورځې وړاندې افغان امنيتي ځواکونو د پاکستان پخواني لومړي وزير يوسف رضا ګيلاني ځوی د تښتوونکو له منګلو د سر په بدل کې وژغوره؛ د پاکستان حکومت له تېرو څو ورځو راهيسې د مسافرينو پرمخ د تورخم دروازه تړلې ده چې، کړن شمير خلک يې له ستونزو سره مخ کړي دي .افغان چارواکي وايي، پاکستاني ځواکونو دغه دروازه وروسته له هغه تړلې، چې افغان سرحدي ځواکونو د هغو تاسيساتو مخه نيولې، چې د تورخم په شمال ختيځ کې د پاکستاني پوځيانو له لورې جوړېدل. د معلوماتو له مخې، تېره ورځ پاکستاني ملېشو د تورخم په شمال ختيځ کې غوښتل خپلې يوې پوستې ته نوي تاسيسات جوړ کړي، خو افغان سرتېرو يې مخنيوی وکړ.

ويل کېږي پاکستاني ځواکونو غوښتل، چې په شمشاد غره کې د خپلې پوستې شاوخوا جال وغځوي، او هڅه يې کوله چې په تورخم کې تاسيسات جوړ کړي، خو افغان ځواکونو يې مخه ونيوله نو پاکستاني مليشو د يادو تاسيساتو د مخنيوي په غبرګون کې د تورخم دروازه وتړله. دا څوومه ورځ ده چې لاره بنده ده او په زرګونو افغانان د کرښې دېخوا او هاخوا ته په دې تمه دي چې کله به لاره خلاصيږي او دوی به له کرښې تېريږي. په دوی کې داسې کسان هم شته چې په امبولانسونو کې ناروغان او مړي ورسره دي، په دوی کې سپين ږيري، ماشومان او کوچنيان هم شته. دوی هلته د خوراک او څښاک لپاره خواړه او د شپې اوسيدو لپاره هيڅ سرپناه نه لري. کوم هوټلونه چې د کرښې ديخوا او هاخوا شته؛ هغه نه يوازې چې ډک دي بلکې د خوړو قيمتونه او د اوسيدو کرايې يې هم لوړې کړي دي.

پاکستان په دې ښه پوهيږي چې د تورخم دروازې د بندولو زيان د افغانستان په نسبت پاکستان ته ډير زيات دی خو د دې لپاره چې پاکستان ته د تلونکو افغان ناروغانو په وسيله په افغان حکومت فشار راوړي چې د ډيورنډ کرښې په مربوطاتو کې پاکستاني تاسيساتو جوړولو ته اجازه ورکړي؛ افغان دولت يې له خوږې کوتې نيولی او د ناروغانو پر مخ يې دروازه وتړله. د يادې دروازې په بندولو سره د افغانستان په نسبت پاکستان ځکه ډير تاوانويني چې، د پاکستان يوازينی اقتصادي بازار افغانستان دی. د تورخم دروازې له لارې افغانستان ته د پاکستان د اقتصادي توکو لکه خوراکي توکو، د لوښو توکو، زراعتي توکو، د کوچنيانو د لوبو توکو، پاپړو، پوکانيو، پلاستيکي توفنکچو، نانځکو او ... نورو توکو په سلګونو لارۍ افغانستان ته راځي او که دغه لاره بنديږي نو پاکستان هره ورځ په ميلونو کلدارو زيان ويني.

په ټولنیزه میډیا فیسبوک کې یو چا لیکلي و چې، پاکستان فکر کوي چې د تورخم دروازې په بندولو سره به افغانان له لوږې مړه شي څکه دلته ټول خوراکي توکي ډیری له پاکستانه راوړل کیږي خو په اصل کې پاکستان دا هېره کړې ده چې د تورخم لارې په بندولو سره به یې په تورخم کې میشتې هغه ملېشې له لوږې مړې شي چې خپلې د چایو او خوراک پیسې؛ پاکستان ته د تلونکو افغانانو له جیبه اوباسي. اوس که زمونږ افغان حکومت لږهم په سینه کې تریخی لري نو له پاکستانه په واردونکو توکو دې بندیز ولګوي.که د تورخم لاره فقط لس ورځې هم همداسې بنده وي نو باور وکړئ چې چیغې به یې تر اسمانه ولاړې شي.

دا لومړی ځل دی چې پاکستان په ډیرې سپین سترګۍ د ټولو نړیوالو اصولو خلاف د افغانانو پر مخ یاده لاره تړي بلکې له دې وړاندې هم په څو ـ څو ځلي پاکستان ورته عمل کړی دی. دغه هېواد تل هڅه کړې چې په بېلابېلو وسیلو افغان حکومت تر فشار لاندې راولي. پاکستان کله هلته له میشتو افغان کډوالو څخه په افغان حکومت د فشار د الې په توګه کار اخلي،که د واګه بندر د افغان سوداګرو پر مخ تړي او په افغان دولت یې د فشار د الې په توګه کاروي او کله هم پاکستان ته تلونکي افغان چارواکي اختطاف کوي او بیا یې له افغان دولت سره د معاملې لپاره کاروي. اوس په وروستیو کې چې یو ځل بیا د کابل ـ اسلام آباد اړیکې ترینګلې شوي نو اوس غواړي یوه بله معضله پیدا کړي څو د افغان چارواکو، سیاسیونو او دمطبوعاتو پام بل طرف ته واړوي.

باور مو دی چې پاکستان د افغانانو پر مخ د تورخم لارې د بندولو تر شاه؛ د ډیورنډ په مربوطاتو کې د پوځي تاسیساتو جوړولو تر څنګ نور لوی اهداف او غوښتنې هم لري چې غواړي له دې لارې یې له افغان دولته مطرح کړي خو په افغان دولت غږ کوو چې لومړی دې پاکستان سره یاده موضوع د خبرو اترو او ډیپلوماتیکو اصولو حل کړي او که نه حل کیږي نو د پاکستان هیڅ ډول شرط ته دې غاړه نه ږدي او په ولس دې غږ وکړي. ولس چمتو دی چې د سر په بدل کې له خپلې خاورې ساتنه وکړي.

زمونږ چارواکي او سیاستوال دلته د ټوټاپ په نامه په ملي پروژې سره نښتي دي، اوس که دوی په رښتیا د ملت له غمه مړه وای او د ملت ارامي یې غوښتلای نو کم تر کمه د یادې ستونزې د حل په موخه خو به یې خپل غږ اوچت کړی و کړه.

**غویی یا ثور/ 1396**

# د سرپرستۍ دوام؛ متفکر پرله پسې ژمنې ماتوي

په داسې حال کې چې دمکرۍ د هېواد په لوړه او ټیټه کچه ډېرى دولتي ادارې او ولایتونه د سرپرستانو له لوري اداره کېږي، د شریک حکومت مشر غني د دفاع وزارت او د ملي امنیت د ریاست لپاره نوي سرپرستان معرفي کړل. غني د دفاع وزارت د ستر درستیز د ارکان رئیس عبدالله خان د دفاع وزارت د سرپرست په توګه او معصوم ستانکزی د ملي امنیت د عمومي ریاست د سرپرست په توګه ټاکل شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني نږدې دوه اونۍ وړاندې ملي شورا ته د خبرو پرمهال ژمنه وکړه، چې د ملي امنیت او ملي دفاع وزارت لپاره به نوي نوماندان معرفي کېږي او د سرپرستۍ دود به پای ته رسوي.
ولسمشر غني ملي شورا او ولس ته خپل کړې ژمنه یو ځل بیا هېره کړه او یوځل بیا یې ملي امنیت او ملي دفاع وزارت لپاره نوي سرپرستان معرفي شول. په داسې حال کې چې د هېواد امنیتي وضعیت ترینګلی دی؛ دوې مهمې امنیتي ادارې (دفاع وزارت او ملي امنیت ریاست) د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته تر اوسه پورې د سرپرستانو له خوا اداره کېږي. د افغانستان د اساسي قانون له مخې؛ هیڅ مسوول سرپرست له پنځه ځلوېښت ورځو زیات خپل کار ته دوام نه شي ورکولای خو د ملي یووالي حکومت؛ په حکومتي اداراتو کې سرپرستي په یو فرهنګ بدله کړې ده او دا دی د حکومت له تقریباً دوه کلنې دورې وروسته اوس هم د هېواد په کچه دوه مهمو امنیتي بنسټونو ته سرپرستان معرفي شول. دغې چارې نه یوازې په ډېرو دولتي ادارو کې کاري انګېزه له منځه وړې، بلکې حکومتي چارې یې له خنډ اوځنډ سره مخ کړې دي.
اصلاً که په حقوقي بنه وڅېړل شي، سرپرستان د ادارو په رهبرۍ کې خلاص لاس نه لري او که د ملي یووالي حکومت په اداراتو کې د سرپرستۍ فرهنګ ته د پای ټکی نه ږدي؛ دا بیا د حکومت د مشرانو له لوري د واک د انحصار په معنا دی چې نه غواړي څوکۍ خوشې کړي او بل وړ کس پر دنده وګمارل شي. همداشان د پوځي کارپوهانو په باور په امنیتي سکټور کې د سرپرستۍ دوام د جګړې په میدان کې د افغان ځواکونو پر مورا بده او معکوسه اغېزه کوي. په دولتي اداراتو کې د سرپرستانو د کار دوام تر ډېره باعث شوی چې پر حکومت باندې د ولس باور راکم شي.
د ملي یووالي په نوم د شریک حکومت مشران څه فکر کوي چې آیا په هېواد کې قحط الرجال راغلی او هیڅ داسې څوک نه پیدا کېږي چې په یادو پوستونو وګمارل شي؟ دوی ښاغلو خو د حکومت د کار په پیل کې ویلې چې په پنځه څلوېښت ورځو کې به پوره مسلکي او د کار اهله کابینه جوړوي. اوس لکه چې په ټول

هېواد کې د ولسمشر لپاره په کار پوه، ور او مسلکي څوک نه پیدا کیږي چې د سرپرستۍ سریال ته همداسې دوام ورکوي او د سرپرستانو پر ځای نور نوي سرپرستان معرفي کوي؟

د ولسمشر له لوري د ملي دفاع وزارت او د ملي امنیت ریاست ته نوي نومول شوي سرپرستان؛ نوې څېرې نه دي بلکې دواړو ښاغلو افغان ولس ته خپله ازموینه ورکړې ده. ښاغلی عبدالله خان خو تر دې وړاندې د ستر درستیز د رییس ارکان په توګه دنده ترسره کړې ده؛ که اغېزمن وای نو په خپله تېره دنده کې به یې وړتیا ښودلې وه. همداشان ښاغلي معصوم ستانکزي هم د سولې د عالي شورا د دارالانشاء مشر او په وروستیو کې د ملي دفاع د سرپرست وزیر په توګه دنده ترسره کوله. که ښاغلي ستانکزي په سولې عالي شورا کې یا هم په ملي دفاع وزارت کې خپله وړتیا ښودلای وای نو اوس د ملي امنیت د ریاست لپاره یې ټاکل توجیه کیدل.

ولسمشر باید دولتي اداري او خلک نور له سرپرستانو څخه خلاص کړي، سرپرستان په مسوولیت کار نه کوي او نا امني هم له حده دېره شوې ده، حکومت باید د امنیت د ټینګښت لپاره جدي هڅې وکړي. هر څومره چې د سرپرستانو موضوع اوږده شي په هماغه کچه په هېواد کې د ناامنیو او بې بندو باریو کچه لوړیږي. ځکه په امنیتي اداراتو کې د سرپرستانو شتون د امنیتي پرسونل په روحیه او مورال منفي اغېز کوي.

د هېواد ورځ تر بلې ترینګلې امنیتي حالت ته په کتو ولسمشر باید د خلکو اندېښنتو ته د پای ټکی کیږدي او لکه څنګه چې یې دوه اونۍ وړاندې ملي شورا ته ژمنه ورکړه چې نور به د سرپرستۍ فرهنګ ته د پای ټکی ږدي؛ باید عملاً لاس په کار شي او ژر تر ژره یادو ټولو امنیتي ادارو ته په کار پوه، وړ او مسلکي نوي کسان وګماري. لکه څرنګه چې په دې وروستیو کې په هېواد کې د ناامنیو کچه لوړه شوې ده نو حکومت باید د امنیت د ټینګښت لپاره لازم تدابیر ونیسي.

غویی یا ثور/ 1396

# د سمر عینکې یوازې حکمتیار ویني

له کابو څلوېښت کلونو جګړې وروسته افغان حکومت اوس په دې توانېږي چې له یو جنګي قوماندان سره روغه جوړه وکړي او سولې ته یې رامات کړي. پوره څلور لسیزې پخوانیو افغان حکومتونو تل دا هڅه کړې ده چې په افغانستان کې د جګړې په اور اوبه وشیندي او نوره د ناحقه وینې تویدنې مخه ونیسي. د اوسني حکومت په شمول ټولو پخوانیو حکومتونو هڅه کړې چې په افغانستان کې په جګړه کې ښکیلو غاړو ته قناعت ورکړي چې په جنګي مبارزه هیڅ نشي ترلاسه کولی او د ټوپک په ځای دې قلم راواخلي او سیاسي مبارزه دې وکړي. په اوس وخت کې که څه وهم ویل کیږي چې په افغانستان کې جنګي ماشین د وسله والو طالبانو په لاس کې دی؛ خو د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ اسلامي حزب هم هغه ډله ده چې له تیرو څلوېښتو کلونو راهیسي له افغان حکومتونو سره په جګړه بوخته وه. له نېکه مرغه چې اوسنی افغان حکومت په دې توانېږي چې په افغانستان کې د جګړې د ختمولو لپاره لومړي ګامونه واخلي.

کابو دوه میاشتې کیږي چې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د سولې خبرې پیل شوې وې چې کله به ګرمې او کله به هم سړې شوې؛ خو پایله ئې بالاخره مثبته راووته او دواړه لوري پرې توافق ته ورسېدل. څو ورځې وړاندې د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې خبرې پای ته ورسېدې او پر نهايي توافق باندې هم دعا وشوه. په توله کې د سولې تړون نهايي شوې طرحه هم د حزب اسلامي پلاوي ته سپارل شوې چې د اسلامي حزب مشر انجنیر حکمتیار یې وارزوي. خو له حکمتیار سره د سولې خبرو تر نهایې کېدو وروسته یو شمیر کړیو غبرګونونه هم ښودلي دي.

تېره اونۍ د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون له حزب اسلامي سره د سولې خبرو پر وړاندې غبرګون وښود او زیاته کړې یې ده چې؛ جنګي جنایتکاران باید ونه بښل شي او له دوی سره د سولې په خبرو کې باید هغه کورنۍ وپوښتل شي چې په کورنۍ جګړه کې زیانمنې شوې دي. د یاد کمېسیون مشره سیما سمر وایې چې د بشر د حقونو ناقضان باید لومړی محاکمه او بیا د قانون له پلې کېدو وروسته ورسره سوله وشي. دا په داسې حال کې ده چې د بشري حقونو کمیسیون په حکومت کې د شریکو مشهورو جنایتکارانو د بخښنې یا هم محاکمې او پوښتنې په اړه څه نه دي ویلي.

په هېواد کې د کورنۍ جګړې مهال جنګي جنایتکاران او د ۷۰ یمې لسیزې د جګړو اصلي لوبغاړي ټول ولس ته لکه د لمر په څیر روښانه دي. د هېواد هیڅ بچي زمونږ د مظلومو افغانانو په غوړونو او سرونو کې د میخونو ټک وهونکي نه دي هیر کړي، هیڅ افغان د خپلې افغاني خور او مور د سینو پرې کوونکی نه دی بخښلی،

هیڅ پلار د خپل زلمي زوی د مړي نڅا (رقص مرده) طرحه کوونکی نه دی هیر کړی، هیڅ هېوادوال د لیلیې په دښته کې د مظلومو افغانانو د ډله ایزې وژنې عامل له یاده نه دی ویستی او هیڅ هېوادوال د خپلو تاریخي او ملي اثارو، پوځي امکاناتو او د تیرو حکومتونو د خزانې شوکماران له یاده نه دي باسلي. خو یوازې د افغانستان د تش په نوم د بشر حقونو کمېسیون دی چې پر یادو ټولو هغو یې سترګې پټې کړي دي.

دا سمه ده چې د کورنیو جګړو یو اړخ د اسلامي حزب هم و خو آیا دا به انصاف او عدالت وي چې د یادو جګړو نور ښکیل اړخونه دې له لسیزو راهیسې د حکومت غوښینه برخه جوړه کړي، دوی دې له حکومتي امکاناتو څخه میلیاردران شي، دوی دې د حکومت له منځه د حکومت مخالف وکړي او اسلامي حزب دې لومړی محاکمه او بیا ورسر هـ د سولې خبرې وشي؟

د بشر حقونو کمیسیون ولې د هغو جنګي او بشري جنایتکارانو اړوند ترلې خوله پاتې دی چې رقص مرده یې ایجاد کړ، د ژوندیو انسانانو په سرونو او غوږونو کې یې میخونه تک وهل، د پیغلو انجونو او میرمنو څخه یې سینې پرې کړې، ډله ایزې وژنې یې وکړې، د افغانستان تاریخي او ملي آثار یې په خپل بادار پاکستان باندې وپلورل او .......؟

جنایتکار، جنایتکار دی؛ ولو که د هر قوم، سیمې او سمت څخه وي. که چیري د بشر حقونو د کمېسیون لپاره معیار خیانت وي نو لازمه ده چې ټول خاینان جنایتکاران وبولي او د ټولو لپاره د محاکمې غوښتنه وکړي. نه دا چې په خپله د جنایتکارانو په څېر یو طرفه او له تعصبه ډک قضاوت وکړي.

غویی یا ثور/ 1396

# د شخصیتونو سپکاوی؛ ګډ حکومت ته بل چلینج

د نړۍ د هر مذهب په اصولو او قواعدو کې انسانیت او شخصیت ته ځانګړی احترام شوی دی. د نړۍ ټول دینونه او مذهبونه انسانیت او شخصیت ته په درناوي قایل دي. د نړۍ هیڅ قانون چا ته دا حق نه دی ورکړی چې په ناحقه د یو چا سپکاوی دې وکړي. په ځانګړي توګه د اسلام سپېڅلي دین انسانیت او شخصیت په پوره معنا څېړلی او هیڅ چا ته یې د شخصیتونو د سپکاوي اجازه نه ده ورکړې. یوچا ته داسي خطاب کول چې بد پرې ولګیږي ښکنځل بلل کیږي؛ هغه که د نقص ښکارندوي وي، که سپکي سپوری وي او که بهتان وي. یو عام انسان ته ښکنځل کول او د هغه سپکاوی په اسلام کي منع دي. ابو داود رض روایت کړی چې یو کس وایي رسول الله ص په کلکه راته وویل چې هیچا ته ښکنځل ونه کړې، له هغه وروسته مي نه ازاد انسان او نه غلام ته ښکنځل کړي دي، نه مي اوښ نه مي پسه ته ښکنځل کړي دي.

همدا راز د افغانستان اساسي او نور قوانین هم یو د نړۍ د هغو غوره قوانینو له جملې څخه دي چې د انسان کرامت او شخصیت ته په پوره درناوي قایل دي. د افغانستان د اساسي قانون څلرویشتمه ماده وایې : آزادي د انسان طبیعي حق دی، دا حق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحو پرته، چې د قانون له لیارې تنظیمیږي، حدود نه لري. د انسان آزادي او کرامت له تېري خوندي دي. دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په درناوي اوساتنه مکلف دی.

خو له بده مرغه زموږ ځینو چارواکو اوس د انساني ارزښتونو پولې نړولي او د انسانیت قدر یکې اصلا ختم شویدی، د متقابل احترام ځای متقابلې کینې او بې احترامۍ نیولی دی.همداشان زمونږ د ځینو چارواکو په زړونو کې د مینې، خواخوږۍ او مهربانۍ ځای کرکې او نفرتونو نیولی. دلته د چارواکو او زورواکو لخوا د قانون ماتونه په یو فرهنګ او قانون بدله شویده. په ډېری ځایونو کې خو دوی په خلاص مټ خپل مافیایي کارونه ترسره کوي او هیڅوک دا جرأت نلري چې مخ ته یې ودریږي؛ خو که څوک یې د مافیایي کاروبار پر وړاندې خنډ شي او مخنیوی یې وکړي نو بیا د داسې حالت ته یې ډبوي چې له مرګه یې حالت بدتروي. داسې بېلګې ډېری دلته شتون لري. په تیر کې ډیرو چارواکو په بېلابېلو وختونو کې ډېری پولیس وهلي او ډبولي دي.

بله ستونزه چې په وروستیو کې لسو ورځو کې یې دوه ځلي صورت نیولی؛ هغه د کورنیو چارو وزیر له لوري د مشرانو او شخصیتونو سپکاوی دی. د سرنوشت ورځپاڼې د راپور له مخې څو ورځې وړاندې د مشرانو جرګې په عمومي غونډه کې د بادغیس یوه سناتور ولي شاه نایب وویل، تېره پنجشنبه د کورنیو چارو وزیر ورته سپکې سپورې ویلې او آن هغه ته یې د بې شرفه لفظ کارولی دی. د جرګې مشر فضل الهادي مسلمیار د هغه تر څرګندونو وروسته پرېکړه وکړه، چې تاج محمد جاهد به د همدې موضوع د سپیناوي لپاره د مشرانو جرګې عمومي غونډې ته را غوښتل کیږي. مسلمیار زیاته کړه، چې په دې اړه یې ولسمشر ته د

ټلیفون له لارې شکایت رسولی او د پارلماني چارو وزارت له لارې به هم د سناتور د سپکاوي شکایت په لیکلې بڼه ولسمشرۍ مانۍ او ولسمشر ته ورسوي.
د دې تر څنګ ټېره ورځ د افغانستان د سویل ختیځ زون قومي مشرانو شکایت وکړ چې د کورنیو چارو وزیر د دوی سپکاوی کړی او باید جبران یې کړي. تاج محمد جاهد ټېره ورځ پکتیا ته په یو رسمي سفر تللی و. نوموړي د سویل ختیځ زون قومي مشران له ده سره د لیدلو په موخه ۳۰۳ سپن غر قول اردو ته غوښتي و خو جاهد قومي مشران پرته له لیدو ځای پر ځای له څلور ساعته انتظار وروسته پرېښودل او د مشران احساسات یې راپارول. مشران وایي د کورنیو چارو وزیر او د ولایتي اداري له چلنده خوښ نه دي او له مرکزي حکومته د دوی د سپکاوي د جبران غوښتنه کوي. دوی وایي په اداراتو کې داسې وزیران او والیان نه غواړي چې ورځ تر بلې یې بې کفایتي زیاتېږي.
د کورنیو چارو وزیر دا لومړی ځل نه دی چې د مشرانو او شخصیتونو سپکاوی کوي بلکې خلک شکایت کوي چې نوموړی مسلکي کس نه دی او د مشرانو په درناوي نه پوهېږي. قومي مشرانو ته د سپکاوي په کولو سره د کورنیو چارو وزیر نه یوازې د لویې پکتیا خلکو ته سپکاوی وکړ بلکې نوموړي، خپل ځان، خپل حیثیت، ټول بشر، انسانیت، اسلامیت، افغاني فرهنګ او د افغانستان اساسي قانون ته سپکاوی وکړ. ځکه د اساسي قانون څلرویشتمې مادې کې راځي چې : د انسان آزادي او کرامت له تېري خوندي دي. دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په درناوي اوساتنه مکلف دی. خو برعکس د کورنیو چارو وزیر د مشرانو جرګې سناتور ولي شاه نایب زاده او د سویل ختیځ زون قومي مشرانو ته سپکاوی وکړ.
د افغانستان د جزا قانون د انسان توهینوونکي ته خپله سزا ټاکلې ده. د افغانستان د جزا قانون څلور سوه درې څلوېښتمه ماده وایي : که ښکنځلې په ښکاره وسایلو نه وي ترسره شوې بلکې د ټلیفون، لیک استولو او یا د بل شخص په وسیله بل چا ته ویل شوې وي؛ ښکنځل کوونکی په داسې بند محکومیږي چې له دریو میاشتو زیات او له شپږو میاشتو کم نه وي او یا هم نغدي جریمه کیږي، داسې چې له درې زرو افغانیو کم او له شپږو زرو افغانیو زیات نه وي.
هر هغه څوک چې د مشرانو سپکاوی کوي باید د افغانستان د اساسي قانون او جزا د قانون په رڼا کې باید خپله سزا ووینې. د افغانستان د کورنیو چارو وزیر له لوري د مشرانو جرګې سناتور او د هېواد د سویل ختیځ زون قومي مشرانو ته سپکاوی د اشرف غني او عبدالله تر منځ د شریک حکومت لپاره یو بل چلېنج شو. اوس وبه ګورو چې ارګ او سپیدار مانۍ به د ولي شاه نایب زاده او سویل ختیځ زون د قومي مشرانو د حیثیت د اعادې لپاره څه کوي؟

# د غونډې نه؛ بلکې د شکایت وخت دی

له کله نه چې د افغانستان، چین، امریکا او پاکستان په ګډون د سولې څلور اړخیز بهیر د روان میلادي کال په جنوری میاشت کې په اسلام اباد کې پیل شو؛ تر دې دمه یې څلور، څلور اړخیزې ناستې ترسره شوي چې هیڅ کومه مثبته پایله یې نه ده ورکړې. که څه هم دغه پروسه له پیله ناکامه وه او د خلکو له نیوکو سره سره حکومت ورته دوام ورکړ؛ خو د کابل په پل محمود خان سیمه کې له خونړي برید وروسته چې په سلګونو هېوادوالو ته په کې مرګ ژوبله واوښته او افغان حکومت د دغې برید مسولیت د حقاني شبکې پر غاړه واچولو؛ له پاکستان سره د افغانستان اړیکې ترینګلې شوي او افغان حکومت د سولې څلور اړخیزې ناستې تحریم کړلې. خو اوس د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت تازه ویلي چې د څلور اړخیز بهیر د پنځمې ناستې لپاره چمتووالی روان دی. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند وایي، هڅې روانې دي چې د روانې مې میاشتې په وروستیو کې د څلور اړخیزې کمېټې پنځمه ناسته ترسره شي. سرچینې زیاته کړې، که څه هم د دې غونډې نېټه نه ده ټاکل شوې، خو په همدې میاشت کې په پام کې ده او په ورته وخت کې به له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو لپاره د طالبانو د حاضرولو هڅې هم جاري وي. د افغانستان حکومت ویلي چې په دې غونډه کې د ګډون په اړه غور کوي.
د دوه عمده دلایلو پر اساس باید افغان حکومت د سولې راتلونکې څلور اړخیزه غونډه تحریم او په خپله لاس په کار شي:

**لومړی دلیل :** د چین ، امریکا او پاکستان په ګډون د افغانستان سولې بهیر اړوند په څلور اړخیزو غونډو کې ژمنه شوې وه چې منځګړي هېوادونه به په پاکستان فشار راوړي څو افغان طالبان له افغان حکومت سره د سولې د مذاکرو میز ته کېنوي. دغه راز ژمنه شوې وه چې، د سولې له خبرو انکار کوونکې ډلې باید د غړو هېوادونو تر پوځي فشار لاندې راشي. خو دا دی تقریباً د پنځو میاشتو په تېرېدو سره؛ نه یوازې دا چې پاکستان خپلې ژمنې عملي نه کړې بلکې د پلازمینې کابل په ګډون د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې امنیت لا پسې ترینګلی شو. وروستی خونړی بیګله یې د کابل په پل محمدود خان سیمه کې مرکوني برید یادولی شو چې په سلګونو هېوادوال یې مړه او ټپیان کړل. د څلور اړخیزو بهیر د ژمنو له مخې، پاکستان دوه میاشتې مخکې باید وسله وال طالبان د افغانستان له حکومت سره د سولې خبرو ته کېنولي وای، خو پاکستان تر اوسه دا کار نه دی کړی.

دا لومړی حل نه دی چې پاکستان افغان حکومت په خپلو تکراري ژمنو دوکه کوي بلکې له دې وړاندې د ملي یووالي حکومت د کار د پیل او آن د پخواني ولسمشر حامد کرزي په وخت کې هم دغه هېواد له افغان حکومت سره خپله هیڅ یوه ژمنه هم نه ده عملي کړې. نو اوس د دې پر ځای چې افغان حکومت یو ځل بیا په پاکستان ړوند باور وکړي او څلور اړخیزو غونډو لړۍ کې برخه واخلي؛ افغان حکومت باید د سولې عالي شورا، قومي نفوذ لرونکو څېرو او له اسلامي حزب څخه په کټې اخیستنې؛ د وسله والو طالبانو سره د خبرو اترو لپاره یوه بین الافغاني شورا جوړه کړي. افغان حکومت باید له اسلامي حزب سره د سولې موافقې تر لاسلیک وروسته؛ په وسله والو طالبانو کې د اسلامي حزب د نفوذ څخه ګټه پورته کړي او وسله وال طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته رامات کړي.

**دویم دلیل** : همدا اوس د دې وخت رارسیدلی چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته له پاکستانه شکایت وشي. ځکه په سیاسي انزوا کې د پاکستان د راګیرلو لپاره؛ تر بل هر وخت همدا اوس ښه فرصت دی. اوس له پاکستان سره نه یوازې د افغانستان اړیکې ترینګلې شوي دي؛ بلکې له امریکا سره چې د پاکستان ستر مالي ملاتړې ګڼل کیږي؛ هم یې اړیکې ترخې شوي دي. همدا څو ورځې وړاندې د پاکستان بهرنیو چارو سلاکار سرتاج عزیز د پاکستان مشرانو جرګې ته د امریکا او پاکستان د اړیکو په اړه وویل، چې د امریکا له لوري د ایف ۱۶ الوتکو په پېرلو کې د مالي مرستو د بندیز له امله له تېرو درې میاشتو راهیسې د پاکستان او امریکا اړیکې ترینګلې دي. همداشان په وروستیو کې پاکستان د جاسوسۍ په تور د نیول شوي ډاکټر شکیل افریدي په اړه د امریکایي حکومت او کانګریس غوښتنې رد کړي چې دې کار هم د امریکا او پاکستان تر منځ په اړیکو کې درځ پیدا کړی دی. بل پلو امریکایي کارپوهان او رسنۍ هم په وروستیو کې له هر ډول دلیل پرته پر پاکستان د طالبانو د ملاتړ تورونه لګوي. دا ټول هغه دلایل دي چې د پاکستان په سیاسي انزوا کې د راګیرېدو امکان ډېروي. پس لازمه ده چې د پاکستان سره د امریکا او چین په منځګړیتوب د افغانستان د سولې اړوند؛ افغان حکومت په خپل پخواني دریځ ټینګ ودرېږي او راتلونکې پنځمه څلور اړخیزه غونډه تحریم کړي. د دې تر څنګ افغان حکومت باید د وخت څخه په اعظمي ګټې اخیستنې؛ د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې له پاکستانه د شکایت کولو لپاره پوره لابیګري وکړي. افغان حکومت باید په امریکا، لندن او نورو هېوادونو کې د خپلو ډیپلوماتانو په وسیله؛ له پاکستانه د شکایت مسله ډیره مطرح کړي څو په ملګرو ملتونو امنیت شورا کې د رسمي شکایت څخه وړاندې ورته پوره لابیګري شوي وي او بیا ملګرو ملتونو ته د دې فرصت برابر نه شي چې له پاکستانه د افغان حکومت شکایت مسترد کړي.

غویی یا ثور/ 1396

# د لاریون د احتمالي ناوړه پېښو قیمت به څوک پرې کوي؟

وروسته له هغې چې دتېرې پنجشنبې په ورځ لندن کې د «سلطنتي متحدو خدماتو انستیتوت» ته د ولسمشر غني د ویناپه بهیر د څو تنو افغان الاصله بریتانویانو او د ولسمشرغني د ساتونکو د لاس کړیوان کېدو له کبله کډ وډ شو او ولسمشر غنی بیا هم په یاد کنفرانس کې د سالنګ له لارې له تاجکستانه د برېښنا د لین په تېرېدلو ټینګار وکړ؛ په افغانستان کې د بامیانو له لارې د برښنا لین د تېرولو غوښتونکیو؛ په کابل کې د لوی لاریون د ترسره کولو تابیا ونیوله. ټاکل شوې ده چې نن دوشنبه په کابل کې د یو شمېر هزاره هېوادوالو له لوري اعتراضي لاریون ترسره شي.

خو په ورته مهال یوشمېر مخکښنو جهادي مشرانو خبرداری ورکړی، چې په کابل کې د برېښنا د توتاپ پروژې د مسیر په اړه پلان شوی لاریون ښايي پر تاوتریخوالي واوړي. دوی دغه اندېښنه پرون په کابل کې د جهادي تنظیمونو د شورا د ناستې پر مهال څرګنده کړېده. جهادي مشرانو د دغه لاریون له سازمانوونکو غوښتي، چې لاریون دې نه راباسي. دا لومړنی لاریون نه دی چې د سالنګ پر ځای د بامیانو له لارې د برښنا د لین د تېرولو په تړاو ترسره کېږي بلکې له دې وړاندې هم ترسره شوي دي. نه یوازې د میانو له لارې د لین د تېرولو په موخه؛ بلکه بل المقابل د سالنګ له لوري د برښنا لین د غځولو په موخه هم د خوست، لوګر، پکتیا او په توله کې د لویې پکتیا ولسونو ترسره کړي دي. همدا تېره ورځ هم خوست ولایت د یوه سترلاریون شاهد وچې پکې د لویې پکتیا ولایتونو اوسیدونکو له حکومت څخه جدي غوښتنه وکړه چې یاده پروژه له خپل اصلي مسیر یعنې سالنګ څخه تېره کړي.

د افغانستان د اساسي قانون له مخې د افغانستان هر فرد د خپل حق د غوښتلو او یا هم د اعتراض په توګه سوله ایز لاریون ترسره کولی شي خو تر ډېره لاریونوال د لویو کړیو د سیاسي موخو قرباني کېږي.په کور دننه او بهر په نړیواله کچه ډیری لاریونونه په تاوتریخوالي اوښتي دي چې د سلګونو بې ګناه وګړو په مرګ ژوبلې پایته رسیدلي دي. تازه بېلګه یې په افغانستان کې د تېر میلادي کال د نومبر د لسمې نېټې لاریون دی چې په زابل کې د داعشیانو له لوري د اووه زاره افغانانو د سرونو غوڅېدو وروسته په کابل کې یو پراخ لاریون شوی و چې وروسته بیا په تاوتریخوالي واوښت او لسګونو هېوادوالو ته په کې مرګ ژوبله واوښته.

پوښتنه دا پیدا کېږي که د دوشنبې د ورځې او یا هم راتلونکې احتمالي لاریونونه په تاوتریخوالي واوړي قیمت به یې څوک پرې کوي؟ افغان حکومت، کریم خلیلي، سرور دانش، محمد محقق او که بې ګناه ولسي وګړي؟ که خدای مکړه اوس بیا هم لاریون په تاوتریخوالي واوړي او په کې مرګ ژوبله واوړي؛ آیا کریم خلیلي، محمد

محقق، سرور دانش، او یا بل څوک دېته ته چمتو دی چې په لاریون کې د زیانمنونکي هېوادوال د سر او مال بدله ور کړي؟ نه هیڅلکله نه.

په افغانستان کې امتیاز په زور ازمویلو ترلاسه کیږي. له بده مرغه دلته چې هر چا سرزوري کړې ده او غالمغال یې کړی دی؛ هغوی ډېر څه ترلاسه کړي دي. همدا دلیل دی چې اوس هیڅوک هم په اسانه قانون ته غاړه نه ږدي او خپل تر آخري توانه زور غښوي.

بل لور ته ویل کیږي چې ولسمشر غني له ترکمنستان نه د۵۰۰ ولته برېښنا د انتقال د پروژې د لانجې د هواري لپاره یو کمیسیون وټاکه چې په لسو ورځو کې خپله نتیجه اعلان کړي. د ولسمشر د فرمان له مخې د پروژې کار به هغه وخت پیل شي چې کمېسیون نتیجې ته ورسیږي.

خو په ورته مهال داسې ویل کیږي چې د ولسمشر له لوري د توتاپ پروژې د ستونزې د حل لپاره ټاکل شوی کمېسیون غیر عادلانه دی او ډیری هغه خلک په کې ټاکل شوي دي چې د بامیانو له لوري د برېښنا لین د غځولو غوښتونکي دي. په دوی کې احمد بهزاد هغه څوک هم شامل دی چې په لندن کې یې د ولسمشر خلاف د لاریون په جوړولو کې ونډه درلوده. همداراز په دوی کې استاد محمد اکبري هغه څوک هم شامل دی چې تېره ورځ په ولسي جرګه کې یې له هزاره استازو غوښتنه وکړه چې په اعتراضي توګه جرګه پرېږدي او له تالار څخه ووځي چې په اصل کې د ولسي جرګې استازو ته دا لازمه نه وه چې ملي پروژې ته له قومي اړخه وکوري. همداراز د ولسمشر له لوري د توتاپ پروژې د ستونزې د حل لپاره په ټاکل شوي کمېسیون کې قیوم سجادي، اسدالله سعادتي، برنا کریمي هم شته او د پروژې له لورې حسیب الله کلیمزی، الماس زاهد او محمد ناصر احمدي د کمیسیون غړي ټاکل شویدي چې ویل کیږي ډیری یې د سالنګ له لارې د دې پروژې پر تطبیق سخت انتقاد کوي.

د راپورونو له مخې په دې کمیسیون کې په پاکستان کې د افغانستان سفیر ډاکټرعمرزاخېلوال، د اقتصاد وزیر عبدالستار مراد، د کلیو پراختیا وزیر سید سعادت منصور نادري او د ملي امنیت د شورا مرستیال فیض الله ذکي هم شامل دي.

په دې کې هیڅ شک نشته چې برېښنا د هر افغان حق دی هغه که د افغانستان د هر ولایت، سیمې او سمت اوسیدونکی وي خو دلته باید هرې ملي پروژې ته د قومیت او سمتي رنګ ورنکړل شي.دلته باید ولسونه د خپلو شخصي، سمتي او کوندي ګټو د ترلاسه کولو لپاره سپر ونه نیول شي. سیاسیون او له کاره وتي رهبران باید ولسونه د خپلو ناولو اهدافو قرباني نه کړي. او ولسونه هم باید پوه شي چې سیاسیون او رهبران یې د سپر په توګه کاروي او باید ترې ځانونه څنګ ته کړي.

# د متفکر تکراري، پوچه او کمپایني وینا

یوه اونۍ وروسته تر دې چې په کابل کې خونړي برید ۶۴ تنه ووژل او ۳۴۰ نور یې ټپیان کړل؛ پرون ولسمشر غني د ملي شورا له غړو سره د هېواد د امنیت، د طالبانو د ملا اختر محمد منصور له ډلې سره د سولې پر ځنډېدلو خبرو او له طالبانو سره د جګړې پر ستراتیژۍ خبرې وکړې.

که څه هم تمه وه چې ولسمشر به روښانه کړي چې له طالبانو سره به څرنګه چلند کوي؛ د پاکستان په مقابل کې به په خپله ستراتیژۍ کې کوم بدلون راولي او ولې یې د پاکستان، امریکا او چین په منځګړیتوب د سولې څلور اړخیزې ناستې ناکامې شوې ؛ خو متفکر د خلکو د هیلو خلاف یو ځل بیا هم خپلې تکراري خبرې ترسره او له مسولیته ټېښته وکړه. غني له پیله تر پایه ټولې پخوانۍ خبرې وکړې، حتی تر دې چې د سرپرستانو موضوع یې هم یاده کړه چې په خبره یې غواړي په نیږدې راتلونکې د ملي دفاع وزارت او د ملي امنیت لوی ریاست ته نوماندان ولسي جرګې ته معرفي کړي. دا خبرې له ننه پخوا هم په ځلونو تکرار شوې دي خو ولسمشر هیڅلکه نه دي ویلي چې کله او په کومه نېټه به نوماندان ولسي جرګې ته پېژني؟

د ښاغلي متفکر تکراري، کلیشه یې، کمپایني او عاجزانه خبرو یو ځل بیا خلک مایوسه کړل، ولس نن له ولسمشره د جدي او عملي اقداماتو هیله درلوده، ولس نن هیله درلوده چې متفکر به د ښمن په مقابل کې یوه واضحه او معقوله لاره غوره کړي خو متفکر د ولس د هیلو خلاف تکراري وینا وکړه او لاړ.

ځینې هغه موارد چې متفکر نن باید ترې یادونه کړې وای

- په کابل کې د حقاني شبکې مشهور بندي غړي انس حقاني او د نورو په اعدام د محکومو مجرمانو د اعدام نېټې څرګندونه: له بده مرغه چې ښاغلي متفکر څرګنده نه کړه چې دا جنایتکاران به کله او چېرته اعدام کیږي.
- دا چې ولسمشر د ملي شورا سره په ګډه غونډه کې یادونه وکړه چې که پاکستان په خپلو کړو ژمنو عمل ونکړي د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته به شکایت وکړي؛ دا خبره یې هم تکراري او بې خونده وه. ځکه افغان حکومت خو د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د پاکستان د کړنو خلاف په بار بار شکایت کړی دی نو د هغو شکایتونو پایله دې څه شوه؟ له مخکینیو شکایتونو دې څه ترلاسه کړل؟ کومه دی چې ستاسې تیرو شکایتونو د پاکستان په دوه مخي سیاست او یا د ترهګرو د ملاتړ په سیاست کې بدلون راوست او یا هم کومه دی چې نړیوالې ټولنې په پاکستان فشار راوړ چې د ترهګرو له ملاتړ او روزنې لاس په سر شي؟
- ولسمشر پاکستان ته په خطاب کې وویل چې ترهګر ښه او بد نه لري او په مقابل کې یې باید سمه مبارزه وشي، خو کله چې خبره د افغانانو د دښمن د تعریف مطرح شوه نو بیا د دې پر ځای چې ټول طالبان،

ټول ترهګر او ټول د افغانانو قاتلان د افغانانو په دښمنانو کې وشمېري؛ د ځینو طالبانو یادونه وکړه. دلته هم پوښتنه پیدا کیږي چې ولې له پاکستانه د ټولو ترهګرو د یو شان ځپلو غوښتنه کوي او په خپله د ځینو طالبانو د ځپلو یادونه کوې؟ آیا طالبان هم ښه او بد لري؟

- تر ټولو لویه او مهمه هیله د ولس دا وه چې ولسمشر به په دغې غونډه کې د افغانانو د دښمنانو وسله والو مخالفانو سره د (جګړې او سولې) په دوو ټاکنو کې یو ټاکي، خو له بده مرغه چې دا خبره اصلاً مطرح نه شوه او ولسمشر د ولس په سترګو کې شکې واچولې او بیا یې هم په خپل ناکام سیاست (په یوه وخت هم جنګ او هم سوله) باندې ټینګار وکړ.
- د ملي شورا سره د کډې غونډې په موخه په کابل کې له نیمایې زیاتې دولتي او غیر دولتي ادارې رخصت وې؛ پوښتنه دلته دا چې ښاغلي ولسمشر د کوم قانون، اصولو او سبب پر اساس ادارت رخصت کړي او ولې یې په ساعتونو ـ ساعتونو پر ښاریانو لارې او کوڅې بندې کړې وې؟ ولسمشر ته چا او کوم قانون دا حق ورکړی و؟

ښاغلیه ولسمشره ..! نن یویشتمه پیړۍ ده او خلک ستا په پوچو شعارونو او بې ځایه چیغو نه دوکه کیږي بلکې ولس کار غواړي او عمل غواړي. ولس نن لسیزې مخکینی ولس نه دی چې د رهبرانو کمپاینې شعارونو دوکه شي بلکې ولس غواړي چې د عمل په ډګر کې وښایې چې ته په رښتیا هم د نړۍ دویم متفکر یې او د افغانانو ولسمشر یې.

کم تر کمه تاسې ښاغلي ولسمشر باید د پاکستان سره د ستراتیژۍ د بدلون لپاره لاندې درې ټکي ترسره کړی وای

۱ـ له پاکستانه په افغانستان د پاکستان د لاسوهنو او له ترهګرو د ښکاره ملاتړ په پایله کې افغان حکومت، افغان ولس او افغانستان ته د اوښتي زیان بدله غوښتل یا جبران خساره.

۲ـ د دې لپاره چې پر پاکستان یې فشار راوړی وای؛ د څه مودې لپاره له دغه هېواد سره دیپلوماتیکې اړیکې پرې کول

۳ـ د دې لپاره چې پر پاکستان یې فشار راوړی وای؛ د پاکستان په منځګړیتوب د سولې د څلور اړخیزو ناستو د لړۍ تحریمول

# د ولسمشر اونیزه ژمنه دوه کلنه شوه خو عملي نه شوه

کابو دوه کاله وړاندې د ۱۳۹۳ کال د تلې په ۱۷ مه نېټه افغان ولسمشر اشرف غني د شپې لخوا په عدلي او قضايي سیستم کې د اصلاحاتو په موخه د څرخي پله له زندانه لیدنه وکړه. په دغه لیدنه کې بندیانو له غني سره په مخامخ ډول خبرې وکړې او د خپلو ستونزو په اړه وغږېدل. په هماغه محال ولسمشر څارنوالانو ته خبرداری ورکړ چې په یوه اوونۍ کې دې د بې برخلیکه بندیانو وضعیت څرګند کړي او په دې اړه دې کره او د شواهدو پر بنسټ راپور ده ته وړاندې کړي ګنې نو د دغو بندیانو پر ځای به دوی خپله په زندان کې کښېني.اوس د ولسمشر له دغې د یوې اونۍ له ژمنې نېږدې دوه کاله تېرېږي خو لا هم ۲۲۰۰ بندیان د څرخي پله په زندان کې بې برخلیکه د ژوند سختې شپې سبا کوي. په دې معنا چې د ولسمشر اونیزه ژمنه دوه کلنه شوه خو عملي نه شوه.

اوس د مشرانو جرګې د شکایتونو د اورېدو کمېسیون په وینا؛ په داسې حال کې چې سترې محکمې شپېږ میاشتې وړاندې ژمنه کړې وه چې د ۲۲۰۰ بې برخلیکه بندیانو په اړه به اقدام کوي، خو تر اوسه یې په دې اړه هېڅ اقدام نه دی کړی. د مشرانو جرګې د شکایتونو اورېدو کمېسیون غړي زلمي زابلي ویلي ((شپېږ میاشتې کېږي چې ستره محکمه ژمنه کوي چې د هغو بندیانو د دوسیو په اړه اقدام کوي چې یوه محاکمه یې تېره شوې او په تېرو څو کلونو کې یې بله محکمه نه ده شوې، خو تر اوسه یې هېڅ اقدام نه دی کړی.))
هغه زیاته کړه: ((د جزا قانون پر بنسټ باید په ۱۰ میاشتو او درېشو ورځو کې یوه قضیه خپل درې واړه پړاوونه ووهي، خو د څرخي پله په بندیانو کې داسې کسان شته چې اووه کاله مخکې یې لومړنۍ محکمه تر سره شوې، خو تر اوسه یې د استیناف او تمیز محکمې حکم نه دی صادر شوی.))

اوس د څرخي پله په زندان کې ګڼ زندانیان د زندان د مودې له پوره کېدو وروسته لا هم په زندان کې پراته دي. د راپورونو پر اساس دوی ته د دولت له خوا ورکړل شوې موده پوره ده، خو بیا یې هم د خوشي کولو په اړه هیڅ اقدام نه کېږي. په تېر کې د څرخي پله ګڼو زندانیانو پر همدې خاطر د نه خوړو اعتصابونه هم کړي او خپلې شونډې یې ګنډلې دي. دا په داسې حال کې ده چې په تېرو کلونو کې افغان حکومت څو ځلې د زندانیانو د ستونزو د هوارولو لپاره بېلابېل کمېسیونونه جوړ کړي، خو کاري کومه پایله نه ده ورکړې ، او په زندانونو کې د زندانیانو ستونزې هم پرخپل ځای پاتې دي.

د څرخي پله زندان یو داسې زندان دی چې د پخواني ولسمشر په خبره د طالب جوړونې فابریکه ترې جوړه شوې ده. په دغه زندان کې داسې بندیان هم اوسیږي چې د بند موده یې کلونه وړاندې پوره شوې ده خو

لا هم يې د دولت له لوري يې د سرنوشت پانه نه اړول کيږي. ياد زندان کې داسې زندانيان هم شته چې جرم يې معلوم نه دی او يا هم يوازې تورن دي او جرم يې ثابت شوی نه دی خو کلونه کيږي چې د تورو تمبو شاته د ژوند سختې شيبې تيروي. او داسې زندانيان هم لري چې له خپل کور او دفتر نه دلته ډيره آسوده او راحت اوسيږي آن دا چې که د ميلونونو ډالرو د غلا تور پرې پورې وي او برحال په بند کې وي خو د دولت له لوري ورسره لکه د يو آزاد شخص په توګه د ښارګوټو ودانيز قراردادونه لاسليکيږي. ښه بيلګه يې د کابل بانک ميلوني پوروړي خليل الله فيروزي سره؛ په داسې حال کې چې په لس کاله بند محکوم و؛ له زندانه وايستل کيږي او ورسره د سمارټ سيټي ودانيز قرارداد لاسليک کيږي.

که څه هم زندان د مجرمانو د اصلاح ځای بلل کيږي خو دلته بيا خبره سرچپه ده او په زندانونو کې له خلکو عقده يې او د غچ لمبو اخيستي اشخاص روزل کيږي. د کابل په څرخي پله زندان کې داسې بنديان ډير شتون لري چې د هغوی له خوا شوې کړنې د دې وړ نه وې چې دوی ته دې دومره سخته سزا ورکړل شي ، خو بيا هم په دغه زندان کې هر واکمن او ځواکمن تر خپله وسه هڅه کړې چې خپل مخالفين دغه زندان ته واستوي او سزاوې ورکړي. د راپورونو له مخې په دې زندان کې ډير کسان شته، چې د بند موده يې تېره شوې، خو له بده مرغه دولت د هغوی په خوشي کولو کې کام نه دی پورته کړی چې له حقوقي پلوه دا ناقانونه بند دی، چې دوي يې تېروي، خو دوی بيا هم بنديان دي. د دې ترڅنګ داسې کسان هم شته، چې څوک نلري، چې د دوی دوسيه له قانوني پلوه بشپړو پړاونو ته ورسوي او دولت هم پاملرنه ورته نه کوي، نو ځکه يې دوسيې پخپل ځای پاتې دي.

دلته اصلي ستونزه په مشرانو او لوړپوړو چارواکو کې ده، په ځينو قضايي او عدلي ارګانونو کې ده. دلته که قاضي او څارنوال ته ووايې چې قاضي صاحب او څارنوال صاحب ..! په فلانی اداره کې فساد دی او يا فلانی شخص فاسد او غل دی؛ دوسيه يې وڅېره. نو پرته له ځنده درته وايې چې څو روپۍ راکوې چې د فلاني فاسد دوسيه وڅېړم. هلته مو چې دعوه له قاضي سره شي نو عدالت به له چا وغواړو؟

دلته اوبه له پاسه خړې دي او تر هغو چې له پاسه پاکې نه شي له ښکته څخه يې پاکول ناشوني دي.

غويی يا ثور/ 1396

# ډریوران که د مرګ سوداګران ؟!

په داسې حال کې چې په افغانستان کې دترافیکي پېښود وژنې شمېر په جنګ کې د ملکي وګړو د وژنې د کچې درېیمه برخه جوړوي او د ټپیانو شمېر بیا په جنګ کې د ټپیانو نیمایي برخې سره برابر دی؛ تېره ورځ د کابل – کندهار پر لویه لار دغزني د مقریه ولسوالۍ کې په یوه خونړۍ ترافیکي پېښه کې شاوخوا ۱۵۰ کسانو ته مرګ ژوبله واوښته. د چارواکو په وینا د پېښې په ټپیانو کې تر ۳۰ د زیاتو کسانو روغتیایي حالت نازک ښودل شویدی. ویل کیږي تر ټکر وروسته دوو ۳۰۳ موټرو او یوه ټانکر موټر اور اخیستی چې وژل شوي مسافر پکښې سوځېدلي او هویت یې هم ندی معلوم. دا لومړی ځل نه دی چې موټر چلوونکی د لسګونو هېوادوالو ژوند اخلي بلکې له دې وړاندې هم په سلګونو داسې پېښې شوي چې له امله یې ډیری کورنۍ د غم په ټغر ناستې دي.

له افغانستانه د کربلا دښته جوړه شوې ده. دلته له هرې خوا د مرګ مخه د افغانانو په کورونو برابره ده. چېرته مو په طبیعي پېښو کې په سلګونو هېوادوال ژوند له لاسه ورکوي، چېرته مو وسله وال غله په لویو لارو له موټرو راښکته او له مرۍ مو تیغ تېروي، چېرته مو د طالب بم ټوټې کوي او چېرته مو بیا د موټرو چلوونکي پر ژوند لوبې کوي.

همدا اوس هم د هېواد په کچه په ټولو ولایتونو کې هره ورځ په سلګونو کسان د ترافیکي پېښوپه پایلې کې روغتونونو ته وړل کیږي چې ۶۰ سلنه زیانمن کسان ځوانان وي.

که څه هم په افغانستان کې په غیر معیاري ډول د سړکونو اوځلور لارو جوړېدل، په ډیرو څلورلارو کې د ترافیکي څراغونو اونښانو نه شتون، له ترافیکي قوانینو د موټر چلوونکو سرغړونه، تر کچې ډیره چټکتیا، له ښاري کلتور سره د خلکو نه بلدتیا، په لارو کې د پولیسو د څار نه شتون، د سړکونو خرابوالي، په بار وړونکو موټرو کې تر ټاکلې اندازې ډېر وزن لېږدول، د لویو لارو پراختیا ته نه پاملرنه او د سرغړوونکو نه جریمه کول؛ هغه لاملونه په ګوته شوي چې په ترافیکي پېښو کې د خلکو د مړینې لامل ګرځي؛ خو تر ټولو ستر لامل یې د نشې پر محال د موټر چلول او د ترافیکو ریاست لخوا کم عمره ماشومانو ته د موټر چلولو د جواز ورکول. موټر چلوونکي په ځانګړي توګه د لویو موټرو لکه د ۳۰۳ او ۳۰۴ ډول بسونو چلوونکي ډیری په چرسو روږدي دي چې پر سړکونو تر ټاکلې اندازه ډېر ګړندی ټک کوي. دغه دوه هغه ستر لاملونه دي چې د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې د ترافیکي پېښو د رامنځته کېدو لامل ګرځي. د دې تر څنګ بله لویه ستونزه بیا دا ده چې ډیری هېوادوال مو په تیر کې د جګړو او ګډوډیو له بې قانونه بلد شوي او د ترافیکي قانون د

نه مراعت کولو سره روږدي شوي دي چې اوس هم له ترافیک پولیسو سره د زور فرهنګ چلوي او د هغوی د دغه عادت له منځه وړل یو ګران کار دی.

یوه بله ستونزه چې تر ډېره خلک او ترافیکي چارواکي ورته اهمیت نه ورکوي؛ هغه په افغانستان کې د ښي لاس سټرینګ درلودونکي موټرې دي. په تقریبي توګه ویلی شم چې په افغانستان کې دمګړۍ په زرګونو د ښې لاس سټرینګ درلودونکي موټرې شته چې له هغو هېوادونو څخه راوړل شوي چې په کې پر ښي لاس موټر چلول کیږي. پر سړکونو د همدغو موټرو شته والی نه یوازې دا چې غیر قانوني کار دی، بلکې ډېر خطرناک هم دی.

د دې تر څنګ بله ستونزه دا ده چې د هېواد پر لیرې پرتو سیمو سربېره؛ په ښارونو کې هم پر سړکونو کې شمېر موټرې له نمبر پلیټ، څراغونو، د شاه د لوري د کتلو د هندارو او آن له دروازو او د مخ د لویو ښیښو پرته چلول کیږي.

په ترافیکي پېښو کې تر ډېره په خپله د موټر چلوونکی پړ کڼل کیږي خو که وکتل شي نو د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د ترافیکو ریاست هم پړه ګڼل کیږي. ځکه دوی دي چې کم عمره خلکو ته د موټر چلولو جواز ورکوي، دوی دي چې په ښتون کې یې بې نمبر پلیټ، بې څراغونو او له عقب هېندارو پرته موټر چلول کیږي، دوی دي چې د موټر چلوونکو رواني او روغتیايي وضعیت ته پام نه کوي او د څو روپیو په مقابل کې ورته د موټر چلولو جواز ورکوي او همدوی دي چې خصوصي ترانسپورتي شرکتونه یې خپلسرۍ ته پرېښي دي. لومړۍ درجه مسوولیت همدوی لري چې د ترافیکي پېښو د کوابښونو د راکمولو په برخه کې کوټلي کامونه پورته کړي.

غويی یا ثور/ 1396

# جنګ که سوله؟
# د طالبانو او پاکستان کړه خوله باید په سوک سمه شي

په داسې حال کې چې د اساسي قانون له مخې، ولسمشر د هېواد د جدي مسایلو په اړه د ملي شورا ګډه غونډه رابللی شي؛ ټاکل شوې چې ولسمشر غني په راتلونکیو څو ورځو کې د ملي شورا د دواړو جرګو ګډه غونډه راوبولي، څو د هېواد د روانو حالاتو په اړه ورسره خبرې وکړي. اټکل کېږي چې ولسمشر به له دواړو جرګو سره د هېواد د روانو حالاتو او د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې د ستراتیژۍ په اړه سلا مشوره وکړي. ولسمشر غني دا پرېکړه د کابل د سې شنبې د ورځې(د وري ۳۱) له خونړي برید او د طالبانو له لوري د سولې د خبرو له ردیدو وروسته په داسې حال کې کوي چې د ملي وحدت په حکومت کې اوس د دې نظر ملاتړ زیات شوی، چې طالبان سوله نه غواړي او باید د پوځي قوت په زور د دوی د بریدونو ته کلک ځواب وویل شي.

موږ دلته په دې لیکنه کې په دې خبرې نه کوو چې آیا په رښتیا هم د وسله والو مخالفانو او پاکستان په مقابل کې د افغان حکومت په دریځ کې بدلون راغلی او که غواړي په کابل کې له وروستي خونړي بریدو وروسته د خلکو راپورته شویو احساساتو ته ځواب ووایي. موږ دلته په دې غږېږو چې روانو حالاتو ته په کتو افغان حکومت باید له وسله والو مخالفانو سره د ( جنګ او سولې ) دوه ټاکنو په منځ کې یو وټاکي څو ولس له روانو بدبختیو خلاصون پیدا کړي.
د هوسا او آرام ژوند لپاره سوله یوه اړتیا ده او هر افغان ورته هیله مند دی او افغان حکومتونو هم تر ډېره هڅه کړې چې د افغانانو دا هیله ورپوره کړي خو له بده مرغه چې پاتې راغلي دي. په وروستیو پنځلسو کلونو کې؛ په افغانستان کې جنګېدونکې ډلې (طالبانو) ته د دې لپاره چې سولې ته غاړه کېږدي؛ د دښمن پر ځای نور بیلابیل سیاسي نومونه وکارول شول لکه ناراضه ورونه، سیاسي مخالفین او د هېواد بچیان، همداشان له حکومت سره د سولې خبرو لپاره ورته د ټکواش غونډو زمینه برابره شوه، په پاکستان کې له افغان حکومت سره د مخامخ مذاکراتو زمینه برابره شوه، له دوی (طالبانو) سره د جوړجاړې په نوم کله پاکستان، کله امریکا، کله چین، او کله قطر ته د افغانانو سرنوشت په لاس ورکړل شو، په پرله پسې توګه حکومت، سیاسیونو، دیني عالمانو او په ټوله کې ټولو افغانانو ترې د ټوپکي مبارزې پر ځای د سیاسي او قلمي مبارزې غوښتنه وکړه خو دوی؛ دوی ته د خپل بادار لخوا په ورکړل شوي قسم کلک ولاړ دي او هر کله یې چې فرصت ترلاسه کړی؛ د بې ګناه افغانانو وینه تویه کړې او خپل تور مخی بادار یې خوشحاله کړی دی. نو د پورته حقیقت په درک کولو سره اوس نو

افغان حکومت ته په کار ده چې د وسله والو مخالفانو په مقابل کې د سولې او جنګ تر منځ په دوه ټاکلو کې یوه ټاکنه غوره کړي چې هغه جنګ کول دي. خو پوښتنه دا ده چې جنګ باید څه ډول او له چا سره وشي؟

په افغانستان کې د اشرف غني او عبدالله تر منځ ګډ حکومت په لومړیو کې له پاکستان سره د تیرو افغان حکومتونو د اړیکو تجربه هېره او یو ځل بیا یې په دغه هېواد ړوند باور وکړ. له پاکستان سره د دواړو ښاغلو (غني او عبدالله) یارانه ښه ګرمه شوه، د پاکستاني چارواکو پر مخ د کابل تړل شوې دروازې راخلاصې شوې، پاکستان ته تاوده تاوده سفرونه وشول او آن دا راشه درشه دومره خوږه شوه چې له پاکستاني استخباراتي ادارې سره د پټو معلوماتو د شریکولو پټه معامله هم وشوه. په ټوله کې ویلای شو چې ګډ حکومت پاکستان ته سراسر په یوه طرفه امتیاز قایل شو خو له بده مرغه چې پاکستان بیا هم خپله دوه مخې ستراتیژي بدله نه کړه او افغان حکومت یې یوازې په تکراري ژمنو تیر باسه. د کابل او اسلام د اړیکو دا تار هغه وخت وشلیدو کله چې د کابل په شاه شهید سیمه کې خونړی موټربم برید ترسره شو او حکومت یې تور پر پاکستان پورې کړ. له یاد برید وروسته د پاکستان په مقابل کې د اشرف غني او عبدالله په نظر کې ۱۸۰ درجې بدلون راغی او له پاکستانه یې هیلې وشلولې.

کله چې د شاه شهید برید وروسته په افغانستان کې د پاکستان ضد روحیه پیاوړې شوه نو پاکستان بیا زمونږ دواړه ډاکټران وغولول او د پښتونخوا د مشرانو په وسیله یې له کابل سره د یارانې تار وتړو. له هماغه ورځې تر ننه افغان حکومت له پاکستان د سولې تمه پیدا کړه خو کله چې څو ورځې وړاندې د کابل په پل محمود خان سیمه کې خونړی موټربم او ډله ایز برید تر سره شو نو دا تار یو ځل بیا شلیدلی ښکاري او داسې معلومیږي چې دا ځل به حکومت د پاکستان په شمول له وسله والو مخالفانو سره هم د سولې پر ځای د جنګ پر ټاکنې غور کوي. زمونږ په باور د وسله والو مخالفانو او پاکستان په مقابل کې د افغان حکومت وروستی دریځ ډیر پر ځای دریځ دی خو ددې لپاره چې له دوی سره مو جنګ لا هم اغیزمن واقع شي؛ افغان حکومت باید لاندې سپارښتنې عملي کړي.

1. د سولې څلور اړخیزې ناستې تحریمول
2. له خپلو ستراتیژیکو دوستانو څخه د افغان امنیتي ځواکونو د تجهیز او چټکې مسلکي زده کړې روزنې غوښتنه
3. په کور دننه هم په افغان امنیتي ځواکونو پانګونه کول څو د دښمن پر وړاندې قاطع دریځ غوره کړي
4. له امریکا غوښتنه چې له دوی سره د شوې امنیتي تړون له مخې په افغان خاورې د دښمن د تیري په مقابل کې ودریږي
5. له پاکستان او نورو استخباراتي کړیو ته د وفادارو څېرو څخه د افغان امنیتي ادارو تصفیه کول
6. د وسله والو مخالفانو د تبلیغي جګړې مخنیوی او په مقابل کې یې د طالب او پاکستان ضد روحیې پیاوړي کول

غویی یا ثور/ 1396

# شهید ډاکټر نجیب الله؛ د افغاني تاریخ ویاړلې څېره

د افغاني ویاړلي تاریخ پاڼې ګواه دي چې پاکستان تل په ښکاره او مرموز ډول په زرګونو افغانان په مستقیم او غیرمستقیم ډول په شهادت ورسول، هر افغان چې په افغانستان کې د پاکستان د ګټو په خلاف اوچت شوی، د نا معلومو عواملو او اشخاصو له خوا وژل شوی. د همدغو ویاړلو اشخاصو سرلارشهید ډاکټر نجیب الله دی چې په مړینه او شهادت یې ځمکې، اسمان، ملت او خاورو اوښکې تویولې، د ډاکټر صاحب نور ټول ښه صفات که پر ځای پرېږدو نو یوازې د افغانانو د سرسخته دښمن (پاکستان) په مقابل کې یې دریځ او پالیسي د افغاني ویاړلي تاریخ زرین ټکي دي. ډاکټر نجیب الله د خپلې واکمنۍ پر مهال د پاکستان سره پر جګړې سرېېره، د پاکستان یو سر سخته مخالف افغان وو. د تاریخ په پاڼو کې راځي چې پاکستان په افغانستان کې د ډاکټر نجیب الله له مخالفو اشخاصو سره داسې معاهده درلوده چې ډاکټر نجیب الله به په بې عزتۍ سره په شهادت رسوي او که ژوندی ونیول شو، نو پاکستان ته به سپارل کېږي بیا همداسې وهم شول او د پاکستان تالي څټو د افغانانو د سلو سر (ډاکټر نجیب الله) په خورا بې رحمۍ په شهادت ورسوو.

زمونږ د افغانانو ستره بدبختي دا ده چې دښمن مو پښنې راته زمونږ په خپلو لاسونو او تبرونو پرې کوي. که د تاریخ پاڼې مطالعه شې؛ دلته په افغانستان کې د هر هېواد پال او ولس ته ژمن نظام په مقابل کې؛ ولس دښمنه او هېواد دښمنه نظامونو او ګړیو بغاوت کړی دی چې بیا زمونږ د سرخوړۍ او اخر د تباهۍ لامل شوې دي. پاکستان تل له دغو ډلو څخه د خپل ځان په ګټه او زمونږ د تباهۍ په موخه ګټه پورته کړې ده او لا یې هم پورته کوي. ځکه د دغو هېواد پلورونکو، ناموس پلورونکو او وجدان پلورونکو ډلو مشران یوازې خپلو شخصي ګټو ته ژمن، خودغرضه او د پیسو مینه وال و او د پیسو په مقابل کې یې د خپل بادار (پاکستان) هر امر پر ځای کړی دی.

په دغو تالي څټو ډلو کې تر ټولو رغنده رول جنګسالارانو لوباوه، دوی ته هېوادپالنه مهمه نه وه، د نظام تخریب او د پردیو په اشاره یې د افغانستان تباهي غوښتله. د پاکستان پوځ او استخباراتو لکه څنګه چې اوس طالبانو ته امکانات او دستور ورکوي، هغه وخت دوی ته وسلې ورکولې او د ډاکټر نجیب د نظام پر ضد یې بغاوت جوړاوه، دوی که دلته په هر نوم جنګېدل، خو د پاکستان هدف زمونږ د نظام ختمول او دلته د افغانانو تر منځ خپلمنځي جګړې ته زمینه برابرول و.

په توله کې ویلای شو چې شهید ډاکټر نجیب الله یو هېواد پال، ولس ته ژمن، ملي ګټو ته ژمن، په ولس دردیدونکی، د هېواد د پرمختګ غوښتونکی او د جنګسالارانو او د پاکستان ضد شخصیت و چې د پاکستاني تالي څټو په وسیله د پاکستان د مکار سیاست ښکار شو. نوموړي په هغه وخت کې هم دغه د پاکستان تالي څټي پیژندلي و؛ ځکه خو یې دغو تالي څټو په هغه وخت کې هم په مقابل کې بغاوت وکړ او اوس هم وخت ناوخت خپلې بوینې خولې راخلاصوي. ډاکټر نجیب الله په هغه وخت کې دغو تالي څټو ته خپل افغاني میړانه ښودلې وه او هماغه اغیز دی چې اوس یې له عکسونو هم ډارېږي.

دوی خو د ډاکټر نجیب الله له شهادت وروسته ولس د سپیڅلي جهاد په نوم دوکه کړ او د جهاد پر ځای یې ملي شتمنۍ چور کړې، تاریخي اثار یې په پاکستان وپلورل او همداشان د وخت پوځي تجهیزات یې د کباړ په نوم له تورخمه ورتېر کړل؛ اوس چې یې ولس ته اصلي څېره په ډاګه شوه او د شهید ډاکټر نجیب الله د دریځ پلوي شول نو دغو پاکستاني تالي څټو اوس خپل سیاسي موقف په خطر کې ولید او خپل ځان ورته په سیاسي انزوا کې ګیر رابښکاره شو نو له ډاره یې په اپلتو ویلو پیل وکړ. دوی اوس داسې اپلتې وایې چې حتی په موټرو کې د ډاکټر نجیب الله د انځورونو د ځړولو سره مخالفت وکړ. دوی ډارېږي چې که ولس ته یې اصلي څېره لا هم څرګنده شي نو خپل سیاسي ژوند به له لاسه ورکړي؛ هماغه دی چې په وروستیو کې یو ځل بیا هم خپل تېره څېره خلکو ته ښیې او په زوره په خلکو خپل ځانونه تحمیلوي.

شهید ډاکټر نجیب الله د هېواد اتل، ویاړلی او نومیالی بچی دی او تل به یې تاریخ په پوره درناوي او زرینو ټکو نوم یادوي. روح یې ښاد او یاد یې تاند.

غویی یا ثور/ 1396

# کابل ته د حکمتیار راتګ

په داسې حال کې چې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د حزب اسلامي پلاوی شاوخوا میاشت مخکې کابل ته راغلی او تر اوسه یې په څو پړاوونو کې د سولې له عالي شورا سره خبرې کړي چې دا خبرې اوس هم روانې دي؛ په دې وروستیو کې کابل ته د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار د راتلو اوازې سختې ګرمې دي. راپورونه وايي چې ممکن په لنډ وخت کې د اسلامي حزب مشر ګلبدین حکمتیار کابل ته راشي او د افغانستان له حکومت سره د سولې موافقه لاسلیک کړي. د سولې د عالي شورا سرچینې هم تاییدوي چې له اسلامي حزب سره موافقه نهايي شوې او هیله لري چې حکمتیار به په خپله د وروستۍ موافقې د لاسلیک لپاره کابل ته ورشي.

بل لور ته د ګلبدین حکمتیار زوی په یوې تازه ویډیويي پیغام کې هغو ټکو ته اشاره کړې چې د افغان حکومت او حزب اسلامي پر خبرو یې سیوری غوړلی. حبیب الرحمان حکمتیار د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالویش، د کېوالو ستنېدل، د کوند د زندانیانو خوشې کول، په واک کې حزب ته ونډه ورکول، له تور لېسته یې د مشرتابه وېستل او د ټاکنو کمېسیون داسې جوړښت چې حزب اسلامي ته د منلو وړ وي د هغو ټکو په توګه یاد کړل چې تر اوسه پرې هوکړه نه ده شوې.

په نړۍ کې ټول جنګونه په سولې پای ته رسیدلي ځکه وینه په وینو نه مینځل کیږي او جنګ کول د حل لار نه ده. په نړۍ کې که جنګونه په جنګونو ختمیدلای نو اوس به د فلسطین او اسرایلو تر جګړه ختمه وه. همداشان اوس افغان ولس هم هیلمن دی چې افغان حکومت به له حزب اسلامي سره سولې ته ورسیږي. خو اوس پوښتنه داده که د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د حزب اسلامي ډله او حکومت د یو بل ټولې غوښتنې ومني او په سولې موافقه وکړه، دا کار به د افغانستان روان تاوتریخوالي په ختمېدو او امنیت په ټېنګېدو کې څومره اغیزناک او ګټور وي؟

د نړۍ په هر هېواد کې که د یو حکومت وسله وال مخالف له جنګه لاس اخلي او په ډیموکراتیکې لارې سیاسي مبارزه پیلوي او سولې ته غاړه ږدي نو حکومت یې هرکلی کوي او د سولې دروازې یې پر مخ پرانیزي. د لته په افغانستان کې د ۷۰ یمې لسیزې د کورنۍ جګړې طراحان او عاملان ټول ولس ته معلوم دي. حزب اسلامي، جمعیت اسلامي، طالبانو او نورو؛ یو او بل نه شول زغملی او په خپلو منځونو کې یې د واک پر سر شخړو زور اخیستی و چې په نیجه کې یې په میلونونو افغانانان شهیدان او میلونونو کونډې او یتیمان شول. په تیر کې د ګلبدین حکمتیار ستونزې پر خپل ځای، خو په اوسنیو حساسو حالاتو کې چې

افغانستان په سیاسي، اقتصادي او امنیتي لحاظ په پاڼ ولاړ دی؛ په اوس وخت کې له حزب اسلامي سره سوله د افغان حکومت لپاره لویه لاسته راوړنه ده.
همداشان په وروستیو کې چې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ اسلامي حزب په څو ګروپونو ویشل شوی نو د ښاغلي حکتیار لپاره هم دا زرین چانس دی چې ترې ګټه واخلي او خپل ویشلی ګوند په یو نوم او د یو چتر لاندې راټول کړي. د اسلامي حزب د ویشلو بیلګې په افغانستان کې د تیرو ولسمشریزو ټاکنو پر مهال ښه څرګندې شوې چې د حزب یوې ډلې له اشرف غني، بلې له عبدالله، بلې له زلمي رسول ملاتړ وکړ او ځینې یې له قطب الدین هلال سره پاتې شول چې بیا وروسته هلال هم د اشرف غني ملاتړ وکړ. نو اوس د حکمتیار لپاره هم ښه چانس برابر شوی دی چې له یوې خوا به خپل ویشلی ګوند یو موټی کړي او له بلې خوا به پر ده او د ګوند پر نورو غړو؛ د نړیوالو لخوا لګیدلي بندیزونه لیرې شي.
همداشان له حزب اسلامي سره سوله به د اسلامي حزب هغه مرور ورونه چې د کورنۍ جګړې پر مهال له وسله طالبانو سره یو ځای شوي و ؛ او همداشان د وسله طالبانو په لیکو هغه طالبان چې د مذهبي ایډیالوژۍ له مخې جنګیږي؛ سولې ته وهڅوي او د جګړې پر ځای به روغه جوړه وکړي او سیاسي مبارزه به پیل کړي.
د حکمتیار سره د افغان حکومت سوله به ددې سبب شي چې د هیواد په شمال کې د واک تعادل رامنځته شي.
د هیواد په شمال کې به د هغو کړیو زور راکم شي چې د حکومت یوه برخه ده او په جنګ کې خپلې ګټې لټوي.
د افغان حکومت او حزب اسلامي تر منځ سولې سره به په زرګونو هغه حزبیان، چې په پاکستان کې د کډوالۍ سختې شپې تیروي، موقع ترلاسه کړي چې په خپل هیواد کې ژوند وکړي او څه نا څه له هغو امتیازونو برخمن شي چې په تېرو ۱۵ کلونو کې یوازې څو ګوندونو ترلاسه کړي دي.
په ټوله کې ولس هیلمن دی چې حکمتیار له افغان حکومت سره د روغې په ټغر کېني او له مخالفت یې لاس واخلي.

غويی يا ثور/ 1396

# کابل؛ بې پوښتنې ښار

خلک له نورو ولایاتو په دې موخه کابل ته کډه کیږي چې دا د هېواد پلازمینه ده او ګویا د نورو ولایتونو په پرتله به یې دلته د آرام ژوند ساه واخلي. خو په وروستیو کې په پلازمېنې کې د ناامنیو زیاتوالي کابل ښاریان اندېښمن کړي دي. زور زیاتی، د مبایلونو تښتول او نورې غلاوې په دغه ښار کې معمولې پېښې دي، وسله والې شوکې او مرموزې وژنې، هغه موارد دي، چې ډېر خلک یې شاهدان او قربانیان دي.

په دغو ورځو کې د ناپېژاندو وسله والو فعالیتونو او مرموزو وژنو په پلازمېنه کې ډېری کورنۍ د ویر په ټغر کېنولي دي، په وروستۍ پېښه کې ناپېژاندو وسله والو د اباسین ځائي په نوم تنکی دیارلس کلن کوچنی له ژونده بې برخې کړ او کورنۍ یې ورته د ویر په ټغر کینوله. له دې څه موده وړاندې د افغانستان د قاضی القضات پلار هم نا معلومو وسله والو تښتولی و چې وروسته افغان امنیتي ځواکونو د عملیاتو په ترڅ کې راخوشې کړ.

ویل کیږي چې کابل ښار کې ۱۷ امنیتي حوزې او نور امنیتي قطعات د ښار د امنیت د ټینګښت په موخه ځای پر ځای شوي دي او په څوارلسکونو ولسوالیو کې هره ولسوالۍ د جلا امنیه قوماندانۍ درلودنکی ده چې په ټولیزه توګه دغه د کابل د امنیه قوماندانۍ تر اغېز لاندې دي چې د امنیت د ټینګښت او د قانون د تنفذ د پاره په محلاتو کې په دنده بوخت دی؛ نو پوښتنه دا پیدا کیږي چې ولې د هېواد په پلازمینه کې سره د دې چې اووه لس امنیتي حوزې هم او ځای پر ځای امنیتي کمربندونه شتون لري ولې د دې زمینه برابره شي چې یو څوک دې اختطاف شي، یو څوک دې په مرموز ډول ووژل شي او په رڼا ورځ دې د یو چا کور او دوکان ووهل شي؟

آیا امنیتي ځواکونه مو د دغو غلو او اختطافچیانو د مخنیوي توان نه لري او که دوی هم ورسره لاس لري؟ بله ستونزه دا ده چې لومړی خو غل، ډاکو، قاتل او اختطافچي نه نیول کیږي خو که ونیول شي نو بیا پرته له قانوني مجازات کیدلو، ډېر ژر خلاصیږي او بیرته خپل کار ته دوام ورکوي. له بده مرغه چې د دغه ډول قضیو تر شاه د پټو لویو لاسونو ملاتړ شتون لري او په دغو پټو لاسونو کې د سیمې زورواکي شامل دي چې له خپل قدرته ناوړه ګټه پورته کوي او د غلو او اختطافچیانو ملاتړ کوي.

دغه غله، داړه ماران او اختطافچیان خو څه پیریان نه دي چې څوک یې ونه ویني او د ښار منځ کې دې وسله والې غلاوې او انسان تښتونې ترسره کړي؛ دوی له تورو ښیښو لرونکو موټرو څخه ، له بې نمبر پلیټه

موټرو څخه او د کورنۍ د غړي له دولتي اسلحې څخه په استفادې د ښار په منځ کې په رڼا ورځ جنايات ترسره کوي.

د خلاصون لارې

- په ټولو امنيتي څوکيو بايد وړ مسلکي کسان وګمارل شي او د ښار د امنيت د لا ټينګښت په موخه بايد زاړه بې کفايته چارواکي کوښه او څارنوالۍ ته ورو پېژندل شي
- د مجرمانو لپاره بايد سخته سزا لکه عمر بند او د علني اعدام سزا وټاکل شي او د جزا حکم پرې بايد ژر تر ژره تطبيق او عملي شي څو د نورو لپاره د عبرت درس وګرځي.
- په کابل ښار کې له لنډغرو او غير مسوله وسله والو بايد وسلې راټولې شي.
- امنيتي ارګانونه بايد د هغه چا په اړه څېړنې ترسره او دقيق معلومات ترلاسه کړي چې ورته د وسلې د کارولو جواز ورکول کيږي. امنيتي ارګانونه بايد داډ ترلاسه کړي چې هغه چا ته چې د وسلې د کارولو جواز ورکوي؛ له خپلې وسلې ناقانونه ګټه نه اخلي او له غلو او اختطافچيانو سره لاس نه لري.
- امنيتي ځواکونه بايد له موټرو څخه غير قانوني نمبر پليټونه راټول او همداراز د موټرونو تورې ښيښې سپينې کړي او که د ښيښو سپينول ورته ګران کار ښکاري نو د تلاشۍ پر مهال دې د تورو ښيښو لرونکو موټرې هم تلاشي کړي.
- هره امنيتي حوزه بايد په اونۍ کې او يا په مياشت کې يو ځل د خپلې ساحې د امنيت د ټينګښت او د ستونزو دحل په خاطر د سيمې د لويانو او مشرانوسره غونډې جوړې کړي.
- همدارنګه د جرمونو په کموالي کې د خلکو ونډه هم ډيره اړينه ده، خلک کولی شي، چې د پوليسو ۱۰۰ شميرې او يا هم ۱۱۹ شميرې ته زنګ ووهي، له پوليسو سره خبرې وکړي، چې پوليس په چټکۍ سره د هغوی ستونزو ته ځان ورسوي.

غويی يا ثور/ 1396

# مدني حرکت که پلان شوی سپکاوی؟

افغان ولسمشر د تېرې پنجشنبې په ورځ لندن کې د «سلطنتي متحدو خدماتو انستېتیوت» ته د وینا له پاره بلل شوی وو. ولسمشر غني وینا وکړه خو په پیل کې یې فزیکي لانجه رامنځ ته شوه. دولسمشر غني د وینا بهیر د اعتراض کوونکو په نامه د څو تنو افغان الاصله برېتانوي افرادو د کوستاخیو او له یوه سره د امنیتي مسوولینو د لاس کړیوان کېدو له کبله کډه وډه شوه. دغو څو تنو د مدني حرکت کوونکو په نوم اشخاصو په انګلستان کې د ولمشر غني د سپکولو لپاره له وړاندې پلان نیولی و. ولسمشر غني غوښتل چې په افغانستان کې د اداري فساد پر ضد خپل ترسره شویو کارونو او نویو پلانونو په اړه خبرې وکړي خو دغو اشخاصو د ټولو اسلامي، انساني او افغاني اصولو خلاف د ولسمشر سپکاوی وکړ. د دې تر څنګ یو شمېر نورو بیا د لاریون په ترڅ کې په انځورونو کې د ولسمشر غني په تندي د هټلر ټاپه وهلې او له هغه سره یې پرتله کړی. مونږ دا نه وایو چې څوک دې د اعتراض په ډول خپل شکایت نه وړاندې کوي خو اعتراض، لاریون او مدني حرکت هم خپل حدود او اصول لري. ما پخپله هم په ولسمشر ډیری نیوکې کړي دي او لا هم چې د نیوکې ځای پیدا کیږي، نو نیوکه کوم. خو دا په دې معنا نه شوه چې زه له هر انساني، افغاني او اسلامي اصولو پښنه واړوم او د ولسمشر سپکاوی وکړم. له تاجکستانه د ټوټاپ په نوم د برېښنا د لین په اړه اعتراض یا بل هر مدني اعتراض که د افغانیت له ادرسه مطرح شي نو دا د هر افغان حق دی. خو د ولسمشر د سپکاوي حق څوک نه لري. د ولسمشر سپکاوی د یو هېواد سپکاوی دی، د ولسونو سپکاوی دی، د ملي هویت سپکاوی دی، د افغانیت سپکاوی دی، د انسانیت سپکاوی دی، د مسلمانیت سپکاوی دی، د رهبریت سپکاوی دی، د بشریت سپکاوی دی، د قانونیت سپکاوی دی، د مدنیت سپکاوی دی او د خاورې او مشرتوب سپکاوی دی.

هیڅوک حق نه لري چې یو هېواد، ولسمشر او ملي هویت ته سپکاوی وکړي، په ځانګړي هغه خلک چې خپل افغانیت او خپله خاوره یې پلورلي وي او د بل هېواد تابعیت یې منلی وي؛ دوی په هیڅ اصولو د ولسمشر او د مشرانو د سپکاوي حق نه لري. د ولسمشر د سپکاوي په موخه که د مدني حرکت او لاریون تر نامه هر عمل ترسره کیږي؛ هیڅ ګټه نه لري، پرته له دې چې قومي نفاق ته زمینه برابره کړي او باالمقابل غبرګون ولري.

ولسمشر غني خو نه غاصب دی، نه قاتل دی، نه جنګسالار دی، نه بیسواد دی، نه غل او چپاولګر دی، نه لنډغر دی، نه د کودتا په زور ارګ ته ننوتلی او نه یې په چا تیری کړی دی، نو بیا ولې د نړیوالو په مخ کې پرې د خاین تور ولګول شي؟

دوی که د بامیانو پر ځای د سالنګ د لارې د ټوټاپ په نامه له تاجکستانه د برښنا لین د غځولو په غبرګون کې په ولسمشر د خاین ټاپه لګوي نو ولې په خپلو هغو رهبرانو چې د هغوی د واکمنۍ پر مهال د سالنګ له لارې د برښنا لین د تېرولو پرېکړه شوې وه؛ دا تور نه لګوي؟ ولې په هغوی د خاین ټاپه نه لګوي چې هغه مهال یې پخواني ولسمشر د امتیاز په مقابل کې خوله ورتړلې وه او اوس یې خلک د ځان سپر کرځولي دي؟ دوی ولې په ښاغلي کریم خلیلي او ښاغلي محمد محقق د خاین تور نه پورې کوي چې په تیر حکومت کې سالنګ له لارې د بریښنا لین د سروې پر مهال او له هغه وړاندې په واک کې و؟ اوس خو دولت، حکومت او واک ټول پنځوس ـ پنځوس ویشل شوی دی؛ دوی ولې د سرور دانش په ګډون د حکومت په نورو شریکانو د خاین تور نه پورې کوي؟

دوی اعتراض کوونکي که په رښتیا په ولس دریدلی او د ولس د غم خوړلو په خاطر یې لاریون کولو نو دوی بیا ولې د هزاره له ادرسه اعتراض وکړ، ولې یې د افغانستان د یو فرد او تبعه په توګه په ولسمشر نیوکه نه کوله؟ له همدې نه معلومیږي چې دا ټول یو پلان شوی کار و چې هدف یې د ولسمشر سپکاوی او په افغانستان کې قومي تعصب ته لمن وهل و.

د خپلې دغې ادعا لپاره چې، وایم دا یو پلان شوی کار او غوښتل یې ولسمشر سپک کړي او په افغانستان کې قومي تعصب ته لمن ووهي؛ په لندن کې د اعتراض کوونکو له جملې څخه د «احد بهادري» په نوم د یو معترض د فیسبوک هغه پوسټونه تاسې ته وړاندې کوم چې له یادې پیښې څو ساعته او یوه ورځ وړاندې یې په فیسبوک خپاره کړي و.

۱ـ «اشرف غنی تا ساعات دیگر و در شهر لندن تاوان تحقیر و توهین کردن های خود را خواهد پرداخت. مبارزات عدالت جویانه ی مردم ما در افغانستان بیشتر در بی صدایی و تنهایی شروع شده و در بی کسی و سکوت سرکوب شده است. فردا اما، شهر لندن حنجره و صدای جنبش روشنای عدالت (شورای عالی مردمی) خواهد شد و با تمام وجود عدالت را فریاد خواهد زد و این شهر بزرگ شاهد تظاهرات بی سابقه ی افغانستانی های عدالت خواه می شود.

تمام قد و استوار رو در روی رئیس جمهور فاسد افغانستان خواهیم ایستاد و تلاش خواهیم کرد تا نگذاریم با دروغ هایش جهانیان را فریب دهد.»

دا په لندن کې د «سلطنتي متحدو خدماتو انستیتوت» ته د ولسمشر غني له وینا او پر مهال یې د راپورته شوي جنجال څخه څو ساعته وړاندې د «احد بهادري» لیکل شوې خبرې دي چې په فیسبوک یې خپرې کړي دي او په کې یې د افغان ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني ته د سپکاوي وړاندوینه کړي ده.

۲ـ «سخنرانی و درخواست احمد بهزاد از مردم عدالت طلب برای شرکت در تظاهرات لندن.

هموطنان عدالت خواه افغانستانی مقیم بریتانیا آماده ی شرکت در بزرگترین تظاهرات ضد تبعیض و فساد حکومت غنی و عبدالله باشند.

این تظاهرات در برابر محل کنفرانسی برگزار خواهد شد که اشرف غنی در آن سخنرانی خواهد کرد.

احد بهادری »

دا هم په لندن کې د «سلطنتي متحدو خدماتو انستیتوت» ته د ولسمشر غني له وینا او پر مهال یې د راپورته شوي جنجال څخه یوه ورځ وړاندې؛ پر فیسبوک خپرې شوې د «احد بهادري» خبرې دي چې په یوټیوب یې د «احمد بهزاد» هغه وینا خپره کړې چې په لندن کې یاد لاریون او جوړ شوي پلان ته خلک رابولي.

له پورته دلیلونو څخه په ډاګه څرګندیږي چې په لندن کې د ولسمشر سپکاوی یو تصادفي کار نه و، او نه هم د هزاره ورونو د حق غوښتلو په خاطر احد بهادري او ملګرو یې د ولسمشر سپکاوی وکړ، بلکې دا له وړاندې یو پلان شوی کار و چې موخه یې په افغانستان کې قومي تعصب ته لمن وهل دي او بس. ولسمشر ته په کار دي چې په لندن کې د افغانستان د سفارت او انټرپول پولیسو په واسطه یاده قضیه وڅیړي او معلوم کړي چې د یاد جوړ شوي پلان تر شاه په کور دننه او بهر د چا لاسونو شتون درلود؟

غویی یا ثور/ 1396

# مدني حرکت که سیاسي زور ازمایي؟

په داسې حال کې چې ولسمشر غني له ترکمنستانه افغانستان ته د ۵۰۰ کیلو ولټه د لېږد د جنجالي پروژې په اړه یو کمیسیون ټاکلی چې په لسو ورځو کې خپل نتیجه اعلان کړي؛ پرون ورځ بیا هم سیاسي سر زورو د مدني حرکت په نوم خپل زور ازمایښ وکړله. پرون ورځ یو شمېر هزاره هېوادوالو په لاریون کې شعارونه ورکول چې د برېښنا مزی دې د بامیان له لارې کابل ته وغځول شي. دغې لاریون د کابل مرکزي او ډیپلوماتیکه برخه په بشپړه توګه فلج کړې وه چې له امله یې ځمکنی او هوایې ترانسپورت له سقوط سره مخ و، بازارونه، ښوونځي او پوهنتونونه تړل شوي و او هټۍ والو، شرکتونو، عامو خلکو او سوداګرو ته په میلونونو افغانۍ زیان اوښتی دی.

بل لور ته د دوی لاریون او مدني حرکت د شعارونو په خلاف د امنیتي ځواکونو او لاریون کوونکو ترمنځ په اخ او ډب او د خبریالانو په وهلو ډبلو او د وسایلو په ماتولو تمام شو. لاریون کوونکو د ځینو رسنیو خبریالان او تصویر اخیستونکي ووهل او وسایل یې ورته مات کړل. دغه لاریون په بشپړه توګه د یو مدني حرکت او د لاریون له اصولو او د حکومتي چارواکو اړوند د ولسمشر د وروستۍ پرېکړې خلاف و. په لاریون کې د پولیسانو د وهلو هڅه وشوه، خبریالان په کې وډبول شول، د رسنیو کامرې او رسنیز توکي مات کړلی شول، په ټولنیزه میډیا کې په خپرو شویو انځورونو کې ښکاري چې ځینو لاریونوالو وسلې هم ګرځولې، د حکومت پرضد داسې شعارونه هم ورکړل شول چې قومي او مذهبي رنګ یې درلوده. د ډبرو او تیږو ګوزارونه په کې وشول او په لاریون کې د دولتي چارواکو اړوند د ولسمشر د وروستي پرېکړې خلاف په کې دولتي چارواکو او د ملي شورا غړو هم ګډون کړی و.

څه موده وړاندې ولسمشر پرېکړه کړې وه چې که هر دولتي چارواکي د حکومت پر ضد لاریون کې برخه واخیسته نو قانوني چلند به ورسره کیږي؛ خو پرون ورځ ولیدل شول چې د سولې عالي شورا مرستیال کریم خلیلي په ګډون په لاریون کې د ملي شورا ګڼو غړو او دولتي کارکوونکو برخه درلوده. دوی له یوه اړخه له دولته تغذیه کیږي خو له بل اړخه د دولت ریښنې په تبر وهي. اصلاً د دولت ضد په لاریون کې د لوړپوړو برحاله دولتي چارواکو ګډون او بیا د دوی له خوا د ورته مظاهرو رهبري کول له حکومت سره د مخالفت په مانا دي چې باید په دې تړاو ځواب ورکړي.

د کریم خلیلي، سرور دانش او محمد محقق په مشرۍ هزاره هېوادوال په داسې حال کې د ټوټاپ د اصلي او قانوني مسیر پر ځای د بامیانو له لارې د دغه لین د تیرولو غوښتنه کوي چې د سالنګ مسیر څخه د ۵۰۰ کیلو ولټه برښنا د انتقال پرېکړه درې کاله وړاندې د افغانستان کابینې کړې وه. د محمد اسماعیل خان د وړاندیز او مرحوم مارشال د

لاسلیک په اساس موظف شویو پلاویو د سالنگ مسیر ټاکلی دی. دغه پریکړه په ۲۰۱۳ م کال د کرزي په کابینه کې شوې وه چې کریم خیلي د ولسمشر مرستیال و. نو پوښتنه پیدا کیږي چې که ښاغلی خلیلي په رښتیا هم د ولس له غمه مړ وای نو په تیر حکومت کې چې دی یې مرستیال ولسمشر و؛ ولې غبرگون نه ښوده؟
ځواب روښانه دی چې د خلیلي په شمول ټول هاغه څېرې چې په خلکو کې یې خپل سیاسي نفوذ له لاسه ورکړی او یا په خطر کې ویني نو اوس د ټوټاپ پروژه وسیله کوي او حکومت ته ښیې چې اوس هم په خلکو کې ملاتړ لري. د دغو لاریونو هدف د خلکو خدمت نه بلکه سیاسي زور ازمایې ده چې حکومت ته یې ښایي. د مدني حرکت د ځانګړنې له مخې په مدني حرکت کې خلک یوازې د یوې سیمې او یو نژاد لپاره نه بلکې د ټولې ټولنې د ښه چاپیریال، غوره خدمتونو، پرمختللي ژوند او نورو اسانتیاوو لپاره سره یوځای کیږي او خپل غږ پورته کوي. خو دوی په یوه غږ د هزاره د حق غوښتلو خبره زمزمه کوله. که د موضوع ژورو ته ښکته شو په ډاګه کیږي؛ یاد لاریونونه که څه هم په ښکاره د عدالت خواهی لپاره دي خو تر شاه یې د ایران په څېر د خودغرضه هیوادونو لاسونه دي چې نه غواړي افغانان د برېښنا او ښې ورځې خاوندان شي. ایران د دوه هدفونو لپاره د ټوټاپ پروژه نڼکوي.
لومړي هدف: لکه څرنګه چې اوسنی حکومت د هیواد اقتصادي پرمختګ ته لومړیتوب ورکوي او په لویو ملي پروژو چې په تیر حکومت کې لاسلیک شوې او یا هم نیمګړې پاتې وې؛ غواړي کار وکړي. او دا ایران دا نه شي زغملی چې افغانستان دې په ځان بسیا شي نو ځکه د ټوټاپ په څېر ملي پروژې نڼکوي. همداشان ایران پلان لري چې دغه پروژه د افغانستان پر ځای د ایران له لوري تیره شي نو ځکه یې د نڼکولو لپاره ځینو خلکو ته پیسې ورکړي چې لاریونونه وکړي او د حکومت په مقابل کې راپاسیږي.
دویم هدف: لکه څرنګه چې د ملي یووالي حکومت بنسټ هم د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ایښی دی او همداشان د افغانستان لوی ملاتړ کوونکی هیواد هم امریکا ده؛ نو د پرمختګ او شاتګ مسولیت یې په نړیواله کچه په امریکا پورې تړل کیږي. اوس دلته ایران غواړي چې په افغانستان کې امریکا ونڼکوي. ایران غواړي افغانستان پرمختګ ونه کړي او په دې ترتیب په نړیواله کچه امریکا ته سیاسي کوازار ورکړي. نو د همدې لپاره ایران کوښښ کوي چې افغان حکومت ته ستونزې زیاتې کړي او له بېلابېلو لارو یې تر فشار لاندې راولي.
په داسې حال کې چې ولسمشر محمد اشرف غني فرمان صادر کړی و چې که هر چارواکي په لاریون کې برخه واخیستله نو قانوني چلند به ورسره کیږي او له دندې به کوښه کیږي؛ بیا هم په لویه کچه د پروني لاریوه رهبري د کریم خلیلي په شمول دولتي چارواکو او د ملي شورا ځینو غړو کوله نو اوس به په ډاګه شي چې آیا ولسمشر غني به خپل صادر شوی فرمان څومره عملي کوي؟ غوبې یا ثور/ 1396

# ملي پروژې او سیاسي درز غوبل

درې کاله وړاندې په ۱۳۹۲ کال د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت پر مهال د ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان هېوادونو د برېښنا کډه پروژه (TUTAP) د یادو هېوادونو د چارواکو له لوري لاسلیک شوه. اوس د دغې پروژې هغې برخې پر سر چې د بغلان، سالنګ او پروان له لارې به د کابل په شمول څو ولایتونو ته ولېږدول شي، لانجې راپورته شوي او یو شمېر کسان د دغې لیکې د بدلون غوښتنه کوي. اصلاً د دغې پروژې سروې؛ فیشنر جرمنی کمپنی ترسره کړې چې په ۲۰۰۶ز کال کې د بامیان لاره په سروې کې نیولې وه خو په ۲۰۱۳ کې د دغې پروژې تمویلونکو د سالنګ لاره غوره وبلله.
اوس افغان حکومت پرېکړه کړې چې دا برېښنا د موجودو مزو په وسیله له بغلان څخه پروان او بیا کابل ته ورسول شي خو د ولسمشر د دوهم مرستیال سرور دانش او پخواني مرستیال ولسمشر کریم خلیلي، د اجرایه ریاست دویم مرستیال محمد محقق په شمول د بامیانو او غزني ولایتونو یو شمېر استازي وايي چې له بغلان څخه دې بامیان او بیا د میدان وردک د بهسودو له لارې مزي تېر کړل شي. دوی له حکومته غوښتنه وکړه چې له ترکمنستان څخه وارداتي برېښنا دې د بامیان له لارې پلازمېنې ته ورسول شي او کنې په براخو لاریونونو به لاس پورې کړي. دوی وايي چې د بامیان له لارې د برېښنا لېږد په شل کلن ماستر پلان کې شامل دی او باید همدغه عملي شي. خو دوی دېته پام نه کوي چې د بامیان په نسبت د سالنګ له لوري پلازمینې کابل ته د دغې پروژې مصرف کم راځي او په کم وخت کې یې کار بشپړېږي.
د دغې پروژې د کارپوهانو په باور د بامیان له لارې د برېښنا لېږد به نه یواځې لاره له ۲۰۰ کیلومتره څخه ۳۲۵ کیلومتره ته زیاته کړي، بلکې مصارف به یې هم له له ۱۰۰ تر ۱۵۰ میلیونه ډالرو پورې پورته شي. دوی وايي چې بامیان په اعظمي ډول د لسو تر پنځلس میګا واټه پورې برېښنا ته اړتیا لري او دا څنګه امکان لري چې زر مېګاواټه برېښنا لاین دې له دغه ځایه ولېږدول شي.
که څه هم د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت او د برېښنا شرکت د افغانستان پرېمانه اوبو څخه د کمې اخیستنې او په کور دننه د برېښنا د تولید لپاره کومه بنسټیز کار نه دی ترسره کړی خو د افغانستان د برېښنا په تاریخ کې (TUTAP) تر ټولو لویه ملي پروژه ده چې افغان ولس ورته ډېر هیله من دی چې د ترکمستان څخه د زرو میګاواټه په ظرفیت د برېښنا مزی تر کابل او بیا په درې برخو کې یعنې لومړۍ برخه کې د میدان وردک، غزنی، زابل له لاری کندهار، دویمه برخه کې جنوب لور ته د لوګر او ګردیز له لارې خوست او دریمه برخه کې د کابل دشت برچي او ارغندی سیمو ته وغځول شی. خو اوس چې یو شمېر سیاسیون او چارواکي یې

د سالنګ له لارې کابل ته د انتقال مخالفت کوي نو په راتلونکې کې له دغې پروژې څخه د افغانانو د محرومیدو په معنا ده.
د سالنګ له لارې انتقال سره د دغې پروژې مخالفین دېته نه ګوري چې دا یوه ملي پروژه ده او باید د سیاسي مخالفتونو قرباني نه شي؛ بلکې دوی په دې کې هم خپلې سیاسي، سمتي او قومي ګټې په نظر کې نیسي. دوی د خپل سیاسي قدرت او په خپلو خلکو کې د خپل نفوذ د ساتلو په خاطر دغه ملي پروژه ننګوي.
د سالنګ له لارې د ترکمنستان د ۵۰۰ کیلو واټه بریښنا د انتقال پرېکړه خو د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت په دوره کې په ۱۳۹۲ لمریز کال شوې وه؛ په هغه وخت کې دوی چېرته و؟ ولې یې هماغه مهال غبرګون نه ښوده؟ حتماً د کاسې لاندې نیم کاسه شته چې دوی په ناڅاپي ډول د سالنګ له لارې د بریښنا له انتقال سره غبرګون ښیې.
که خدای مه کړه دغه ستره ملي پروژه د سیاسي مخالفتونو ښکار شي نو لاندې زیانونه به ولس ته ولاړ کړي:
۱ـ افغانستان کې به قومي، سمتي او ژبني تعصب ته زمینه برابره شي او افغان ولس به د نفاق په لمبو کې وسوځي.
۲ـ په دغو ملي پروژو د سیاسیونو د اختلاف له امله به حکومت بوخت وساتل شي او لوی ملي مسایل به ترې شاته پاتې شي.
۳ـ د افغان ولس او افغانستان دښمن ته به لاهم ښه زمینه برابره شي څو موږ په خپل منځونو کې له یو او بل سره په جګړو کولو بوخت وساتي او خپل اهداف به ترلاسه کړي.
۴ـ په دغه ملي پروژه کې د مشرانو د اختلاف له امله به د یادې پروژې نړیوال مرستندویه بنسټونه خپلې مرستې وځنډوي او په دې ترتیب به یوه لویه ملي پروژه له لاسه ورکړو.
۵ـ دا چې افغانستان په تېرو څلوېښت کلنو کې د لومړي ځل لپاره دا چانس لاس ته راوړی چې نړیوال په لویو پروژو پانګونه وکړي؛ نو که د سیاسي معاملو او اختلافونو ښکار شي؛ نړیوال به بیا په راتلونکې کې هیڅکله هم په افغانستان کې په لویو پروژو پانګونه ونه کړي.

غویی یا ثور/ 1396

# افغان میړنیو ځواکونو پاکستاني ملېشو ته ښه سبق ورکړ

وروسته له هغې چې روان کال د مې په ۲۱ مه د امریکا بې پیلوټه الوتکو د پاکستان په نوشکي کې د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور وویشت، پاکستان په خپله خاوره کې د افغانانو ننوتې او ځورونې زیاتې کړي او د ډیورند په کرښه کې یې هم ترینګلتیا ته لمن وهلې ده. له یادې پېښې وروسته په تورخم کې وضعیت ترینګلی شوی. آن دا چې څه موده وړاندې افغان او پاکستاني پوځیانو ټانکونه او زغروال ګاډي په سیمه کې ځای پر ځای کړي وو. خو وروسته له دې چې په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر حضرت عمر زاخېلوال د پاکستان له لوی درستیز جنرال راحیل شریف او نورو جګپوړو چارواکو سره وکتل، پاکستان خپل ټانکونه له تورخمه شا ته یوووړل او په تورخم کې یې د کتارې له نصبولو لاس واخیست.

اوس تېره شپه په تورخم کې یو ځل بیا د افغانستان او پاکستان پوځیانو پر یو بل ډزې کړي او وضعیت ترینګلی شوی دی. راپورونه وایې د افغان او پاکستاني امنیتي ځواکونو تر منځ جګړه هغه مهال ونښته کله چې پاکستاني ځواکونو غوښتل په تورخم کې دروازه کېږدي. افغان امنیتي ځواکونه وایي چې پاکستاني پوځیانو پاروونکي حرکتونه وکړل او دوی یې اړ ایستل چې ځوابي اقدام وکړي. که څه هم پاکستاني ځواکونه په درنو وسلو سمبال و خو ویل شوي چې افغان ځواکونو شاهکار وکړ؛ په پوره میړانه یې د خپلې خاورې دفاع وکړه او پاکستاني پوځیانو ته یې ښه سبق ورکړ. راپوروونه وایې تر دیرشو ډیرو پاکستاني ملېشو ته مرګ ژوبله اوښتې او مړي یې پر ډیورنډ کرښه پراته دي. همداشان افغان ځواکونو د دافع هوا او ښو پوستو په کډون د پاکستان څو مورچې هم نیولې او پاکستانیانو کرښې ته څېرمه خپلو تولو روغتونو کې بیړنی حالت اعلان کړی دی. مونږ په خپل میړني، اتل افغان امنیتي ځواک ویاړو.

که څه هم د ډیورنډ فرضي کرښې په شاو خوا کې د پاکستان تحرکات او د تورخم په دروازې د افغان او پاکستاني امنیتي ځواکونو تر منځ نښتې نوې خبره نه ده خو په ورستیو کې پر دغه کرښه د دواړو لورو تر منځ نښتې وروسته له دې ډیرې شوې کله چې پاکستان اعلان وکړ چې د جون له لومړۍ نېټې وروسته به له پاسپورټ پرته د تګ راتګ لپاره چا ته اجازه نه ورکوي. له یادې نېټې وروسته د تورخم دروازه د څو ورځو لپاره د ویزه نه لرونکو افغانانو پرمخ وتړل شوه او کڼ شمیر ناروغان او نور مسافرین چې پېښور او د پاکستان نورو ښارونو ته د درملنې او یاهم د خپلو کورنیو لیدو ته تلل راتلل؛ د تورخم په دروازه کې ایسار پاتې شول.

## پاکستان له دغو تحرکاتو کومه موخه لري؟

۱ـ ځینې خلک په دې باور دي چې پاکستان د دغه ډول تحرکاتو په ترسره کولو سره د ډیورند کرښې د په رسمیت پېژندلو هڅه کوي. تر یوې کچې دا نظر هم د تایید وړ دی ځکه پاکستان په تیر کې دغې کړغېړنې کرښې ته د رسمیت ورکولو په موخه په افغانستان کې د نیابتي جګړې له فورموله کار اخیستي دی او تل یې په افغانستان کې د نا امنۍ په جوړولو داسې زمینه سازي کړې ده چې ګویا ترهګر له دغې کرښې دواړو غاړو ته اوړي او را اوړي؛ او د دوی په باور باید یاده کرښه په رسمیت د سرحد په توګه وپېژندل شي څو دواړه لوري یې امنیت ټینګ کړي. خو په اصل کې په افغانستان او پاکستان کې امنیت په دې نه شي راتلای چې خدای مه کړه دغه کرښه دې رسمي سرحد شي. ځکه ترهګر خو د پاکستان په کراچۍ، حیات آباد، اسلام آباد، لاهور او پنجاب کې خوندي پناه ځایونه لري او په ربړا ورځ یې د پاکستان پوځ او استخبارات پر دغه کرښه افغانستان ته را اړوي.

پر دغه کرښه پوځي تحرکات او یا د تورخم دروازې بندول د امنیت د ښه کېدو باعث نه شي کېدی. د ډیورنډ فرضې کرښه خو د تاریخي اسنادو په حواله د انګریزانو لخوا د کرښې د دواړو غاړو د لوی پښتون ولس د وېشلو او په توله کې د افغانستان او پاکستان تر منځ د خپل منځي نښتو د رامنځته کېدو په موخه راکښل شوې ده. دغه کرښه د انګریزانو لخوا په ۱۸۹۳ زېږدیز کال کې د سیمې د میشتو ولسونو د بېلوالي په موخه جوړه شوې ده. خو له نیکه مرغه د سیمې مېشتو ولسونو او هیڅ افغان حکومت هغه هیڅکله هم د نړیوالې پولې په توګه نه ده پېژندلې.

۲ـ په پاکستان کې پرله پسې توګه د ترهګرو د مشرانو وژل کېدو؛ نړۍ ته د پاکستان اصلي څېره ښکاره کړه په ځانګړي توګه په وروستیو کې د بلوچستان په نوشکې کې د طالب مشر ملا منصور وژل کېدو؛ د پاکستان ترهګرپزه څېره ټولې نړۍ ته ښه بربنډه کړه. اوس هغه هېوادونه چې پاکستان ته یې د ترهګرو ځپلو په نوم مرستې ورکولې؛ په خپلو مرستو پښېمانه ښکاري او ویل کېږي چې په راتلونکې کې یې پرې خپلې مرستې کمې کړې او په پاکستان کې مېشتې ترهګرې ډلې حقاني شبکې د ځپلو پورې یې مشروطې کړې دي. دا چې په نړۍ کې د پاکستان ترهګره څېره برسیره شوه نو اوس پاکستان غواړي چې د افغان حکومت او نړیوالو فکر بل لور ته واړوي نو ځکه ځینې وختونه د خپل بام وارورې په افغانستان ګوزاروي او دلته د پاکستاني طالبانو د پټنځایونو د شتون دعوه کوي، او کله بیا د تورخم دروازې مسله راپورته کوي. دوی په دې

توکه غواړي په پاکستان کې د ترهګرو د شتون له مسلې د نړیوالو فکر؛ د افغانستان او پاکستان تر منځ جنجالي مسلې ډیورنډ کرغیړنې کرښې ته واړوي.

۳ـ له افغانستان سره د پاکستان اساسي ستونزه دا ده چې یاد هېواد د افغانستان پرمختګ نه شي زغملی او په هر وخت کې یې د هرې وسیلې څخه کار اخیستی څو افغانان وځپي. اوس په وروستیو کې چې افغان حکومت د خپل دوست هېواد هندوستان په مرسته د خپلو اوبو د مهارولو او د چابهار بندر او سلما بند په څیر لویې پروژې افتتاح کړې نو د پاکستان په زړه یې غوبل جوړ کړی دی. پاکستان له یوې خوا د افغانستان او هندوستان تر منځ د اړیکو له خوړوالي او نږدیوالي زړه خوري او له بلې خوا د افغانستان پرمختګ او پر پاکستان د اوبو احتالي بندوالي په نس کې درد پیدا کړی دی. پر همدې اساس په  وروستیو کې د هغه متل په مصداق چې « اوبه ورې څک ته هم لاس اچوي » هره بې شرمانه کړنه ترسره کوي.

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# پاکستان به د طالبانو نوی مشر ټاکې؛ خو څوک؟

په داسې حال کې چې افغان حکومت او امریکا وایې چې د طالبانو مشر، ملا اختر محمد منصور، د شنبې په ورځ د پاکستان په خاورې کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو؛ خو پاکستان او وسله وال طالبان د ملا منصور وژل کېدل نه تایدوي.

طالبان خو ځکه د ملا منصور وژل کېدل نه تایدوي چې پر لیکو او وسله والو یې منفي اغیز ونه ښندي خو دا چې ولې پاکستان د ملا منصور وژنه نه تایدوي ښایې ددې لپاره وي چې پر نړیواله کچه یې بیا نوم د ترهګرو ساتونکی ثابت نه شي او همداشان استخباراتي اداره (آی ایس آی) یې یوه ناخبره او د استخباراتي معلوماتو له مخې کمزورې ثابت نه شي. ځکه دا لومړی ځل نه دی چې طالب لوړپوړي مشران په پاکستان کې په نښه کېږي بلکې له دې وړاندې په ایبټ آباد کې د القاعده مشر اسامه بن لادن ، په کراچۍ ښار کې د ملا عمر مړینه او اوس په بلوچستان کې د ملا منصور وژل کېدل دا په ډاګه کوي چې پاکستان د ترهګرو ملاتړی، پناه ورکوونکی او روزونکی هېواد دی.

دا چې د ملا منصور د وژنې سره به د وسله والو طالبانو په پالیسي، نظریاتو او جنګي تاکتیک کې بدلون راشي او که نه؛ دا به وروسته څرګنده شي خو پوښتنه دا ده چې له دې وروسته به یې مشري څوک په غاړه اخلي؟ د ملا منصور د مرستیالانو له جملې څخه شیخ مولوی هیبت الله آخوندزاده او که سراج الدین حقاني؟ نوی مشر به یې لکه د تېر په څېر بیا هم پاکستان ټاکي او که بیا به یې هم پر ټاکلو د طالبانو تر منځ ناندرۍ روانې وي؟

د راپورونو پر اساس حقاني شبکه، چې له القاعده شبکې او طالبانو سره نږدې اړیکې لري، د افغان طالبانو یو له تر ټولو زیاتې فعاله ډلې ګڼل کېږي، چې افغان دولت او نړۍ یې اوس هم د پاکستان څارګرې ادارې پر ملاتړ تورنوي، خو پاکستان بیا دا نه مني. دلته ځینې نور څو لاملونه هم شتون لري چې دا احتمال زیاتوي چې ګویا د ملا منصور تر وژل کېدا وروسته به د دغې ډلې مشري به د ملا منصور مرستیال سراج الدین حقاني پر غاړه واخلي.

لومړی : دا چې د حقاني شبکې پخوانی مشر جلال الدین حقاني د پخواني شوروي یرغل پر وړاندې د جهاد پر مهال د افغان مجاهدینو له ټولو مشرانو څخه نو ویلای شو چې دغه ډله په طالبانو کې له پخوا راهیسې

پراخ نفوذ لري او طالبان او پاکستان هم همدا غواړي چې داسې څوک د طالبانو مشري په غاړه واخلي چې ټول پرې راټول شي.

دویم : په افغنستان کې تر ډېره د ترسره شویو ځانمرګو او موټر بم چاودونو پړه په حقاني شبکه اچول کیږي او د معلوماتو له مخې دغه ډله د افغانستان او پاکستان په سرحدي سیمو کې زیات فعالیت لري. هر کله چې په افغانستان کې خونړي ځانمرګي او موټربم چاوندې شوې دي؛ تر ډېره ویل کیږي چې د له ډیورنډه هاخوا په پاکستان کې طرحه شوي دي نو ویلای شو چې د افغانستان په بربادۍ کې لوی لاس د پاکستان دی او پاکستان دغه بربادي د حقاني شبکې پر مټ کوي. ځکه حقاني شبکه د اسلام آباد لپاره یوه «ستراتیژیکي وسیله ده» چې له هغې څخه په استفادې سره غواړي د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې امنیت وکواښي. دغه شبکه د پاکستان د بشپړ کنټرول او حاکمیت لاندې ده نو په پوره ډاډ سره ویلای شو چې پاکستان به د طالبانو نوی مشر سراج الدین حقاني وټاکي.

دریم : حقاني شبکه د افغانستان او پاکستان په سرحدي سیمو کې یوه جګړه ماره پوځي ډله ده چې د ناټو، امریکا او افغان دولت پر وړاندې عملیات پلانوي چې په افغانستان کې د طالبانو لوی اهداف هم همدا دي. بل لور ته ویل کیږي حقاني شبکه له طالبانو سره ډېرې نږدې اړیکې لري نو همدا د دې لامل کیږي چې نوي مشري یې هم سراج الدین حقاني پر غاړه واخلي.

دا مهمه نه ده چې د ملا منصور تر وژل کېدو وروسته د طالبانو مشري څوک کوي؛ مهمه دا ده چې افغان دولت له دغې فرصته څنګه ګټه اخیستلای شي.

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# پاکستان مار خوړلی؛ اوس له پړي هم ډارېږي

په تورخم کې د افغان او پاکستاني امنیتي ځواکونو تر منځ د درېیو ورځو وقفه یې جګړې وروسته اوس د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وایې چې «افغانانو ته هغو کسانو، چې نه غواړي په افغانستان کې سوله وي، غلطه لاربښوونه کړې ده.» د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د ویندوی نفیس زکریا اشاره دې ته وه چې کواکې د افغانستان حکومت د هند له لوري د پاکستان پر ضد پارول شوی دی. کنو پاکستاني سیاستوالو او مذهبي مشرانو په زغرده ویلي چې د تورخم په وروستیو شخړو کې د هند لاس دی او هندوستان، چې پاکستان یې خپل تاریخي دښمن ګڼي، د افغانستان حکومت لمسوي چې په ډیورند کرښه له پاکستان سره شخړه وکړي.
په همدې حال کې د پاکستان د بهرنیو اړیکو سلاکار سرتاج عزیز نن وویل چې پاکستان په تورخم کې د دروازې د جوړولو کلکه اراده کړې ده. ده چې د پاکستان ملي جرګې ته خبرې کولې، دغه راز وویل، دا دروازه د تروریستانو او د مخدرو موادو د قاچاقبرو د مخنیوي لپاره ضروري ده او د دواړو هیوادونو په ګټه ده.
همداراز د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویندوی هم ویلي چې د دروازې جوړول د تروریستانو د اوښتو د مخنیوي لپاره ضروري دي.
پوښتنه دا ده چې آیا هندوستان په ریښتیا هم غواړي چې د تورخم دروازې پر سر دې د افغانستان او پاکستان اړیکې خرابې شي او برعکس پاکستان نه غواړي چې د افغانستان او هندوستان اړیکې دې لا هم دوستانه او نیږدې شي؟
بله د پاکستانیو چارواکو په خبرو کې معمه دا ده چې آیا په تورخم کې د دروازې په درولو سره په ریښتیا هم دواړو هېوادونو ته به د ترهګرو له اوښتو څخه مخنیوی وشي؟
تاریخ ګواه دی چې هندوستان له افغانستان سره په پوره صداقت او ورورولۍ خپلې اړیکې پاللې دي او پاکستان لکه د لستوڼي مار هر کله چې یې فرصت لیدلی؛ په افغانستان یې خوله لګولې ده. هندوستان د افغانستان لپاره ښه نیت لري او په تېر کې یې له افغانستان سره په بیلابیلو برخو کې مرستې کړې دي. دغه هېواد دلته ځینې لویې زیربنایي پروژې تمویل او عملي کړي دي. د افغانستان د پارلمان ودانۍ، د زرنج – دلارام سړک، د برېښنا یو شمیر سب سټیشنونه، د میوجاتو او سزیجاتو سړې خونې او یو شمیر نورې پروژې د هند د مرستو مثالونه دي. همداشان هند افغان محصلینو ته د بورسونو په ورکولو او د تحصیل د زمینې په برابرولو کې مرسته کړې ده. او اوس د سلما بند هم د هندوستان په مالي او تخنیکي مرسته بشپړ شو چې په دې سره د افغانستان او هندوستان اړیکې لا هم پیاوړې او دوستانه کیږي او پاکستان هیڅکله دا نه شي زغملای چې کابل دې ډهلي ته نیږدې شي.
پاکستان په تېر کې هم د افغانستان او هندوستان د نیږدیوالي مخنیوی کړی دی او اوس هم نه غواړي چې کابل دې ډهلي سره نیږدې اړیکې ولري. وروستي تحرکات یې هم له همدې عقدې سرچینه اخلي.

د پاکستانیو چارواکو دویمه خبره چې د خندا وړ ده هغه دا ده چې په تورخم کې د دروازې لګولو لپاره دلیل ویلی چې ګویا په تورخم ترهګر تګ راتګ کوي نو د همدې لپاره غواړي دلته دروازه ولګوي څو د ترهګر له تګ راتګه مخنیوی وکړي.

- لومړی خو د پاکستان دغې بې منطقه دلیل ته په خپله په کابل کې د پاکستان پخوانی سفیر رستم شاه مومند په یوه لیکنه کې، چې څو ورځې وړاندې په پاک ټریبیون ورځپانه کې خپره شوه، ښه ځواب ویلی دی. مومند ویلي چې افغانستان او پاکستان په خپل منځ کې ۲۲۵۰ کیلومتره پوله او د تګ راتګ ۲۳۵ لارې لري، که څوک تروریست وي او غواړي چې پاکستان ته د تروریستي حملو لپاره راشي، دا به خورا احمقانه وي چې د تورخم یا سپین بولدک په رسمي پولو، چې په لسګونو پولیس او ساتونکي پکې ځای پر ځای دي، پاکستان ته ننوځي او ځان له خطر سره مخامخ کړي.
- بله دا چې ترهګر خو د پاکستان په کراچۍ، لاهور او اسلام آباد کې ښکاره پناه ځایونه او د ژوند اسانیاوې لري. ترهګر خو د پاکستاني پوځ او آی ایس ای لخوا په رڼا ورځ په تورو ښیښنو موټرو کې له ډیورنډه دېخوا رالېږل کیږي. ولې پاکستان په کراچۍ، لاهور او اسلام آباد کې د ترهګرو پناه ځایونه له منځه نه وړي؟

آیا د القاعده سرلار اسامه بن لادن د پاکستان په ایبټ آباد کې ونه وژل شو؟

آیا د طالب لومړنی سرلار ملا عمر د کراچۍ په روغتون کې ساه ورنکړه؟

آیا د طالب دویم سرلار ملا منصور د پاکستان په بلوچستان کې په نښه نه شو؟

آیا د طالب دریم سرلار ملا هبت الله سره د نورو اوریکو د ملاتړ او بیعت غونډې په پاکستان کې جوړې نه شوې؟

آیا همدا اوس هم د حقانیه په ګډون نورې ترهګر روزونکې مدرسې د پاکستان په لویو ښارونو کې نه دې فعالې؟

که پاکستان په رښتیا هم غوښتلی د ترهګرو مخنیوی وکړي نو لومړی به یې په پاکستان کې د ترهګر ریښې وچې کړې وې. پاکستان به هلته د طالب مشرانو د کاروبار، تجارت او پناه ځایونو د له منځه وړلو لپاره اقدام کړی وای. خو اصلاً د پاکستان پالیسي دا نه ده چې ترهګر دې وځپل شي بلکې پاکستان غواړي له ترهګرو هم د جګړې په میدان کې ګټه واخلي او هم له نړیوالو د ترهګرو سره د مبارزې په نامه پیسې وشکوي.

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# پاکستاني ملایان؛ د جګړې د تودولو په هڅه کې

په پاکستان کې د طالب زېږې مدرسې حقانیه دارلعلوم موسس، د وسله والو طالبانو معنوي پلار او د جمعیت علمای اسلام افراطي ګوند مشر مولانا سمیع الحق وایي چې د ملا هبت الله تر مشرۍ لاندې به د طالبانو له لوري په افغانستان کې جګړه لا تېزه او خونړۍ شي. سمیع الحق ډان ورځپاڼې ته په مرکه کې ویلي«څوک چې فکر کوي چې هبت الله اخوند زاده صرف یو ملا دی او یوازې دیني افکار لري، ژر به پوی شي چې دی د طالبانو د جګړې په قومانده کې څومره مهارت لري.»

پاکستان د مولانا سمیع الحق او مولانا فضل الرحمن په څېر نور په سلګونو ملایان لري چې د اسلام له ممبره د پاکستان آی ایس آی او پوځ ته کار کوي. د دوی تغذیه او د ژوند ټول امکانات د آی ایس آی په پیسو برابرېږي. دغه ډول ټول ملایان د پاکستان د استخباراتي شبکې او پوځ په انحصار کې دي او هر هغه څه چې ورته د پاکستان لخوا ورته دستور ورکول کیږي؛ هماغه ترسره کوي خو نوم او ارتباط بیا اسلام، مذهب او مسلمانیت ته ورکوي. وسله وال طالبان د پاکستان د آی ایس آی زېږنده ده او دغه ملایان یې بیا پیران دي. څه چې د پیر لخوا ورته امر کیږي نو دوی هم ورته پرته له فکر او تعقل څخه لبیک وایي او په دستور یې هره ناروا او اسلام ضد کړنې په افغانستان کې ترسره کوي.

د پاکستان ټش په نوم دیني مدرسې هم د ترهګر زېږونې کارخانې دي چې یوه یې د حقانیه دارالعلوم دی چې موسس یې هم د طالبانو معنوي پلار مولانا سمیع الحق دی. په دې مدرسو کې ابتدایې زده کوونکي په دې نه پوهیږي چې څوک له مونږ څخه څه ډول کار اخلي، څوک مونږ لوبوي او څوک دي چې دغه د اسلام نه تمېدونکي جنګیالي د اسلام په خلاف کاروي؟

د آی ایس آی پاکستاني ملایان تل د افغانستان اړوند بد نیت لري او تل یې دلته په افغانستان کې وینه توینه روا او جهاد بللی او په پاکستان کې حرام او ناروا بللی دی. دوی په تیر کې په څو، څو ځلي د افغان وژنې فتواوې ورکړې دي. دغو افراطي ملایانو لکه د پاکستان د جمعیت العلماي اسلام ډلې مشر مولانافضل الرحمن، د جماعت اسلامي ایالتي حزب رییس پروفیسور ابراهیم، مولانا سمیع الحق او نورو شیطاني ملایانو په وار وار په افغانستان کې جګړه روا او په پاکستان کې ناروا او حرامه بللې ده.

اوس په وروستیو کې ویل کیږي د طالبانو نوی مشر ملا هبت الله نرم خویه او سوله خوښی دی نو د پاکستان دغې افراطي ملا سمیع الحق په افغانستان کې جګړې ته د طالبانو هڅونې او د دوی د مورال د

لوړولو په خاطر وړاندوینه کړې چې د ملا هبت الله تر مشرۍ لاندې به د طالبانو له لوري په افغانستان کې جګړه لا تېزه او خونړۍ شي. سمیع الحق زیاته کړې «څوک چې فکر کوي چې هبت الله اخوند زاده صرف یو ملا دی او یوازې دیني افکار لري، ژر به پوی شي چې دی د طالبانو د جګړې په قومانده کې څومره مهارت لري.»

د مولانا له څرګندونو په ډاګه کیږي چې خوله یې خپله خو په خوله کې یې ژبه د آی ایس آی ده. سمیع الحق یادې څرګندونې په خپل سر نه بلکې حتماً یې د آی ایس آی په دستور کړي دي ځکه د طالبانو د نوي مشر ملا هبت الله اړوند ویل کیږي چې نر مزاجه، عالم او د سوله خوښی شخصیت دی او د دې په تاکل کېدو ښایي طالبان یو ځل بیا د سولې مخامخ خبرو ته چمووالی وښیيي خو آی ایس آی د دې لپاره چې په افغانستان کې جګړه زور واخلي او د طالبانو مورال لوړ کړي؛ د مولانا سمیع الحق په خوله طالبانو ته ډاډ ورکوي او نوی مشر یې هڅوي څو د سولې پر ځای د جګړې لار تعقیب کړي.

نوموړي همدا راز په غیر مستقیم ډول د افغانستان، امریکا، چین او پاکستان په منځګړیتوب د افغان سولې څلور اړخیزو خبرو ته هم اشاره کړې ده او طالبانو ته یې ویلي چې د سولې خبرې بې ګټې دي او د جګړې لار دې غوره کړي. نوموړي ویلي «حقیقت دا دی چې د ملا اختر محمد منصور وژنه یو قتل و او په نهایت کې به د طالبانو له یو لاس کېدو سره مرسته وکړي او طالبان به په دې پوی کړي چې له امریکا سره سوله او خبرې بې ګټې دي.»  دلته مولانا سمیع الحق غواړي چې د څلور اړخیزو غونډو او د سولې له راتلونکو احتمالي کېدونکو خبرو څخه ولس او طالبانو ناهیلې کړي. نوموړی یو ځل بیا غواړي چې په افغانستان کې د جګړې په اور پطرول وشیندي او ډګر یې لا پراخ کړي.

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# په افغانستان کې د پردی جګړې تازه اړخونه

د طالبانو له ډلې څخه جلا شوې ډله وايې چې روسيې او ايران ملا منصور ته د داعش پر ضد د جګړې لپاره ميليونونه ډالر ورکړي دي. د ملا محمد رسول ډله وايې چې ملا منصور او ملا هيبت الله په هلمند او زابل کې د ازبکانو خلاف عمليات د روسيې او ايران په غوښتنه وکړل او له دې لارې يې په ميليونونه ډالر ترلاسه کړل. دا خبر په داسې حال کې ورکول کيږي چې وړاندې هم رسنيو په افغانستان کې له وسله والو طالبانو سره د روسيې او ايران د اړيکو راپورونه خپاره کړي دي.

په داسې حال کې چې وسله وال طالبان او ايران د مذهبي ايډيالوژۍ له مخې دوه مخالف لوري دي خو په وروستيو کې تر منځ د اړيکو د ټينګولو راپورونه ورکول کيږي. پوښتنه دلته پيدا کيږي چې ايران ولې له طالبانو سره مرستې کوې؟ آيا غواړي له خپل سيال هېواد امريکا سره په افغانستان کې خپل زور و ازمويې او که موخه ايران ته د داعش له لوري د احتمالي خطر مخه ډب کول دي؟

په دې کې خو هيڅ شک نشته چې ايران او پاکستان د افغانستان لپاره ښه نيت نه لري او تل يې هڅه کړې چې دلته د جګړې په اور پطرول وپاشي. خو په وروستيو کې د توقع خلاف د ايران او وسله والو طالبانو تر منځ د پټو تماسونو څخه داسې څرګنديږي چې ايران په افغانستان کې د خپل مذهبي مخالفې ډلې (داعش) له پراخېدونکې حضور څخه اندېښمن دی. ايران د داعش ډلې له وروستيو حرکاتو انګيري چې دا د دوی، روسيې او چين د مقابلې يا زوال پروژه ده. داسې ويل کيږي چې طالبان، د يوې پټې معاملې پر اساس، چې له ايران سره يې کړې ده، د افغانستان له شيعه مېشتو سيمو او د هغو له اوسېدونکو سره کار نه لري او حتي د دغو سيمو لپاره ټاکلي تشريفاتي واليان او نور مسوولان يې هم په نورو سيمو کې اوسي. ځکه ايران په سيمه کې د داعش ډلې له وروستيو حرکاتو اندېښمن شوی. ايران له دې وړاندې هم له ۱۹۹۶ نه د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر تر ۱۱ مې وروسته د طالب ضد شمالي ټلوالې پوځي او مالي ملاتړ يې کاوه.

بل لور ته د افغانستان لپاره د روسيې د ولسمشر ځانګړی استازی وايي چې د ملا اختر محمد منصور له وژل کېدو او د هغه پر ځای د هبت الله اخوندزاده له ټاکل کېدو وروسته له طالبانو سره تماسونو ته دوام ورکوي. ضمير کابلوف د روسيې رسنيو سره په مرکه کې په غير مستقيم ډول د امريکا له لوري د منصور پر وژل کېدو نيوکه کړې او ويلي يې دي، اخوندزاده پوځي قوماندان نه دی او غالباً سراج الدين حقاني او ملا قيوم به د جګړې برخليک ټاکي.

دا لومړی ځل نه دی چې له طالبانو سره د روسیې د اړیکو خبر ورکول کیږي بلکې له دې وړاندې په پاکستان کې د روسیې سفیر الکسي دیدوف هم ویلي و، چې د مسکو او افغان طالبانو تر منځ اړیکې او روابط شته. له هغه وړاندې په افغانستان کې د روسیې پخواني سفیر او د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف له انترفاکس خبري آژانس سره په مرکه کې هم ویلي و، چې د داعش پرضد مبارزه کې له طالبانو سره په اړیکه کې دي. همداشان داسې راپورونه هم خپاره شوي، چې د روسیې ولسمشر د طالبانو له رهبر ملا اختر محمد منصور سره د تیر کال په سپتمبر میاشت کې په تاجکستان کې کتلي دي.

اوس پوښتنه دا ده چې روسیه ولې له طالبانو سره د اړیکو د ټینګولو په هڅه کې ده؟ آیا غواړي د وسله والو طالبانو په وسیله دلته په افغانستان کې د امریکا ګټې وکوابنې او که په افغانستان او سوریه کې د داعش ترهګرې ډلې د پراخیدونکي حضور څخه د روسیې د امنیت لپاره اندېښمنه ده؟

روسي چارواکي له دوه اړخونو د روسیې د امنیت لپاره اندېښمن دي. یو د افغانستان په شمالي ولایتونو کې له نا امنۍ او په ټول افغانستان کې د داعش له حضور څخه. او دویم په سوریه کې د نا امنیو او د داعش له حضور څخه. روسیه په دې پوهیږي چې داعش د منځنۍ اسیا د هېوادونو او چین تر څنګ د روسیې د زوال لپاره جوړه شوې پروژه ده نو له همدې امله که په سوریه کې د داعش ضد پوځي عملیات کوي او که په افغانستان کې د داعش د ځپلو لپاره له وسله والو طالبانو سره اړیکې نیسي. د دې خبرې کره والی دلیل دا دی چې له څه باندې یو کال راهیسې د روسیې لوړپوړو چارواکو په افغانستان کې د داعش ډلې د شتون په اړه خبرداری ورکړی او په بېلابېلو وختونو کې یې په دې اړه څرګندونې هم کړې دي. داسې ښکاري چې افغانستان یو ځل بیا په سیمه او نړۍ کې د لویو قدرتونو تر منځ د سیالیو او د نیابتي جګړې په ډګر بدلیدونکی دی.

# د پاکستان پر ضد د سیمه ییز ایتلاف د جوړېدو اړتیا

هر افغان، په افغانستان کې هر شنونکي او چارواکي او ټولې نړۍ ته څرګنده ده چې پاکستان له ډېرو څو لسیزو راهیسې د افغانانو د وژنې، د افغانستان د بربادۍ او په افغانستان کې د عامه تاسیساتو د ویجاړولو له پاره ترهګر روزي. دغه هېواد له کلونو راهیسې ترهګري او ترهګریز فکر روزي او پالي او د همدغه ناولي فکر له لارې ځان خپلو شومو موخو ته رسوي. په پاکستان کې شته ډېری تش په نامه دیني مدرسې د بم جوړولو، تروریست روزلو او انسان وژلو فابریکې دي. د غه هېواد په قبایلي سیمو کې دیني مدرسې د افراطیت او ترهګرۍ اصلي مرکزونه دي چې په کې د کوچنیانو او تنکي ځوانانو له سرونو ماغزه ویستل کیږي او په کې وحشت او افراطیت پیچکاري کیږي. له دغو ترهګرو څخه بیا په افغانستان، هندوستان او ایران کې د پاکستان په ګټه په جګړه کې کار اخیستل کیږي.

په داسې حال کې چې افغان حکومت په ځلونو ویلي چې د ترهګرو ځالې په پاکستان کې دي، هلته روزل کیږي او خوندي پناه ځایونه لري او له هماغه ځایه په افغانستان کې ورانکارۍ کړنې ترسره کوي؛ پخپله د پاکستان ممو لویو چارواکو هم اعتراف کړی چې د وسله والو طالبانو مشران په پاکستان کې اوسي، دوی پرې نفوذ لري او آن دا چې د پاکستان کودتايي ولسمشر پرویز مشرف خو د طالبانو په ایجادولو هم اعتراف کړی دی. همدا دوې میاشتې وړاندې د پاکستان د بهرنیو اړیکو سلاکار سرتاج عزیز د امریکا د سفر په لړ کې اعتراف کړی و چې د طالبانو مشران په پاکستان کې اوسي.

د ۲۰۱۱ کال د می په دویمه د پاکستان پلازمېنې اسلام اباد ته نږدې، په یوه پوځي سیمه ایبټ اباد کې د اسامه بن لادن وژل کېدل، د ۲۰۱۳ کال په اپریل میاشت کې د پاکستان په کراچۍ کې په یو روغتون کې د ملا درملنه او مړینه، څه موده وړاندې د کراچۍ په یو روغتون کې د کوټې شورا یا د طالبانو د رهبرۍ شورا غړي ملا حسن رحماني مړینه او اوس تېره شنبې ورځ د می په ۲۱ مه نېټه د پاکستان په بلوچستان کې د وسله والو طالبانو مشر ملا منصور وژل کېدل؛ هغه څه دي چې ټولې ته د پاکستان اصلي ترهګرېزه او ترهګر پالونکې څېره ښه تعریفوي.

د غه فتنه هېواد پر ضد باید سیمه ایزه او نړیواله مبارزه وشي، د پاکستان پر ضد باید د افغانستان او هندوستان په شمول د سیمې او نړۍ د تروریزم قرباني شوي او یا قرباني کیدونکي هېوادونه د جګړې اعلان وکړي. ځکه دغه هغه فتنه هېواد دی چې لویو ترهګرو ته د پناه ورکولو او ملاتړ په وسیله د سیمې د ټولو هېوادونو لپاره

په راتلونکې کې لوی سرخوږی جوړیدای شي. پاکستان د ترهګرو سره توپیري چلند کوي، په انسانیت وژونکو او بشریت وژونکو کې هم توپیر کوي، دوی وسله وال ترهګر په دوه ګروپونو ویشي، یو هغه ترهګر دي چې همدوی روزلي، پناه یې ورکړې او د دوی زیږنده ده خو بیرته د همدوی په مقابل کې جنګیږي، پاکستان دغو طالبانو ته بیا ترهګر وایي او پر ضد یې اقدام کوي. او دویم ګروپ هغه ترهګر دي چې همدوی روزلي، په خپله خاوره کې یې ورته خوندي پناه ځایونه او روزنځایونه ورکړي خو د دوی د ګټو د خوندیتوب لپاره په افغانستان، هندوستان او ایران کې جنګیږي. پاکستان بیا دغو طالبانو ته ترهګر نه وایي او نه یې هم پر ضد اقدام کوي؛ بلکې له نړیوالو د ترهګرۍ سره د مبارزې په نوم پیسې هم شکوي.

نو لازمه ده چې د دغه ترهګر هېواد په مقابل کې د افغانستان، هندوستان، ایران، چین، امریکا او د سیمې او نړۍ د نورو هېوادونو ګډ ایتلاف جوړ شي او له دغه هېواد سره اقتصادي، سیاسي او پوځي مبارزه وکړي. افغانستان باید په دغه هېواد خپلې ټولې اوبه بندې کړي، د دغه هېواد څخه واردیدونکي توکي ټول تحریم کړي او د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د ګره اسنادو په وړاندې کولو سره شکایت وکړي. ایران او هندوستان هم باید ورسره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې او اقتصادي راکړه ورکړه بنده کړي. چین او امریکا ته په کار ده چې له دغه هېواد سره خپلې ټولې مرستې بندې کړي، امریکا باید هغه پیسې چې هر کال یې د ترهګرو سره د مبارزې په موخه پاکستان ته ورکوي؛ نورې بندې او په تېر کې د ورکړل شویو هغو حساب ترې وغواړي. ځکه دغه مکار هېواد تل له نړیوالو په ځانګړي تو ګه له امریکا څخه د ترهګرۍ سره د مبارزې په نوم په میلیاردونو ډالرو پیسې شکولي دي خو له ترهګرو سره د مبارزې پر ځای یې د ترهګرو د تقویت او پراختیا لپاره کارولې دي.

له دې وروسته په کار ده چې افغانستان، هندوستان، ایران او د سیمې نور هېوادونه یو وبل ته لاس ورکړي او په ګډه د ترهګرو د دغه روزنکي او ساتونکي هېواد (پاکستان) په مقابل کې قوي ایتلاف جوړ کړي. همداشان د نړۍ نور هېوادونه په ځانګړي توګه امریکا چې د پاکستان اصلي مالي ملاتړی هېواد بلل کیږي؛ باید چې نور په پاکستان مرستې بندې کړي څو دغه هېواد اړ شي چې د ترهګرۍ او افراطیت له ترویج او پراختیا څخه لاس واخلي.

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# د پاکستان د وروستیو تحرکاتو اصلي موخې

د تېرې چهارشنبې په ورځ (د غبرګولي ۱۲) پاکستان د هغو افغانانو پر مخ د تورخم دروازه وتړله چې پاکستان ته د ننوتلو لپاره ویزه او پاسپورټ نه لري. د تورخم دروازې دواړو غاړو ته هغه په زرګونو افغانان بند پاتې شوي دي چې د سفرکاغذونه پاسپورټ او ویزه نه لري. د دغې دروازې له تړلو څخه وړاندې په تورخم کې پاکستاني عسکرو دلا وډ سپیکرو له لارې اعلانونه کړي و چې هیچاته د دروازې پورې غاړې څخه له ویزې پرته پاکستان ته داوړیدو اجازه نه وي. پاکستان وایې یاد اقدام یې د امنیت د ټینګښت په موخه کړی چې په وینا یې غواړي د ترهګرو د تګ راتګ مخه ونېسي. د افغانستان حکومت وایي چې د تورخم ستونزې د هواري لپاره یې جدي اقدامات پیل کړي دي.

دا یوازېنۍ د تورخم مساله نه ده چې پاکستان یې په وروستیو کې ترسره کوي؛ بلکې له کله نه چې د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور د پاکستان په خاوره کې وژل شوی دی، پاکستان په دغه هیواد کې پر مېشتو افغانانو هم فشار ډېر کړی، په لسګونو تنه یې د جاسوسۍ یا د اسنادو د نه لرلو په نوم نیولي او ځورولي دي. په وروستیو ورځو کې یې په پېښور کې د افغانستان د کونسل د موټر مخه ونیوله او د هغه مزاحمت یې وکړ. څو ځلي یې د ډیورنډ فرضي کرښې او له افغانستان سره په سرحدي سیمو کې د پوځي تاسیساتو د جوړولو هڅه کړې. په پاکستان کې د طالب مشر ملا منصور تر وژل کېدو وروسته د دغې ډلې لپاره نوي مشر ټاکل او بیا د پاکستان د رسمي کوندونو لخوا د ملا منصور د وژنې اړوند په امریکا نیوکه کول او بیا یې فاتحه اخیستل، او همدا راز د طالب اورپکو د نوي مشر د ټاکلو لپاره په دغې هېواد کې د طالبانو پټې غونډې او همداشان د نوي مشر ملا هیبت الله سره د طالبانو د بیعت غونډې جوړول هغه څه دي چې پاکستان کې ترسره شوي دي.

په تېوله کې ویلای شو چې پاکستان په تیر یو نیم کال کې له افغانستان سره په پټه دښمني پاللې او پر افغان دولت د بیلابیلو فشارونو راوړلو تر څنګ یې د ډیورنډ کرښې په شاوخوا کې پوځي تحرکات ترسره کړي دي. خو پوښتنه دا پیدا کیږي چې په تیر یو نیم کال کې چې پاکستان کوم تحرکات د ډیورنډ په شاو خوا کې پیل کړي دي په کومه معنا دي؟ د پاکستان د دومره سپین سترګۍ لامل څه دی، آیا د پاکستان په مقابل کې د افغان حکومت سیاست ضعیف دی او که د حکومت رایه ورسره ده؟

دلته درې بېلابېل نظرونه شتون لري چې په ډاګه کوي پاکستان ولې په ډیورنډ کرښه تحرکات ډیر کړي دي.

۱ـ لومړی نظر دا دی چې پاکستان دغه هڅې او تحرکات د ډيورنډ کرښې د رسمي کولو لپاره ترسره کوي. داسې ويل کيږي چې پاکستان په تيرو کلونو کې په افغانستان کې د نيابتي جګړې له مخې هڅه کوله او پر افغان حکومتونو يې فشار راوړلو چې دغه کرښه ورسره په رسميت وپيژني خو اوس چې پوه شو چې نيابتي جګړې کار ورنکړ نو په خپله پاليسي کې يې بدلون راوست او اوس په ياد هېواد کې د افغانانو د زورولو، له تورخم دروازې د ويزې پرته د اوښتلو اجازت نه ورکول او د ډيورنډ کرښې په شاوخوا کې د پوځي تاسيساتو د جوړولو پر اساس غواړي دغې کرښې ته رسميت ورکړي.

۲ـ دويم نظر دا دی چې د ملي يووالي حکومت پاکستان زړور کړی چې ياد تحرکات ترسره کړي. افغانستان د پاکستان، ايران او نورو سيالو هېوادونو په مقابل کې ځانګړې پاليسي نه لري. د پاکستان دا تحرکات د يو اتکل له مخې شوي دي. يعنې افغان حکومت له پاکستان سره پټه ډيپلوماسي پر مخ وړي. کله چې افغان حکومت له پاکستان سره د استخباراتي معلوماتو پېټ تړون لاسليک کړ نو دا د افغانستان لپاره يوه خوړه کوته شوه او اوس هر څه چې پاکستان کوي د همدې پېټ تړون د درلودو له امله يې کوي. دغه پېټ تړون د افغانانو لپاره يو بل کندمک او د ډيورنډ تړون دی چې د ملي يووالي حکومت مشرانو لاسليک کړی دی. د دې تر څنګ افغان حکومت له پاکستان سره د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې د ګډو پوځي عملياتو ترسره کولو موافقه هم لري چې دا هم د پاکستان لپاره پر افغانستان د فشار يوه آله کېدلای شي.

۳ـ دريم نظر دا دی چې پاکستان په ورستيو کې د افغانستان او هندوستان له نيږدې کېدونکو دوستانو اړيکو انديښمن کړی دی. هندوستان په وروستيو کې له افغانستان سره بيلابيلې مرستې کړي دي چې وروستۍ هغه يې د سلما بند اقتصادي پروژه ده چې د هندوستان په مالي او تخنيکي مرستو بشپړه شوه. دا پروژه د افغانستان د اقتصاد او کرنې لپاره خورا د اهميت وړ ده. دغه پروژه چې د هندوستان په مالي او تخنيکي ملاتړ سر ته رسيږي نو د کابل ـ ډيلي په اړيکو پراخ مثبت اغيز لري او پاکستان دا نشي زغملی چې ډيلي دې کابل ته ډېر نيږدې شي. د پاکستان وروستي تحرکات د سلما بند ته يو ډول غبرګون دی چې دغې بند د پاکستان ملا ماته کړې ده. اوس پاکستان ويني چې په دغې ورځو کې دا پروژه په جشن لمانځل کيږي چې په هرات کې به زراعت او د اقتصاد پرمختګ سبب وګرځي او دا په حقيقت کې د افغانستان او هندوستان تاريخي دوستی اړيکو ته لا هم نيږديوالی ورکوي او پاکستان دا نشی تحمل کولی.

بل لور ته چې د چابهار بندر په پروژه کې هم يو اړخ هند دی نو په همدې اساس ويل کيږي چې د پاکستان لخوا وروستي تحرکات هم د همدې پروژو په غبرګون کې دي.

# د تورخم پېښې؛ اوبه له شيدو بېلې کړې

# څرګنده شوه چې سياستوال څوک دي او قوم پرستان څوک دي؟

له تېرو څو ورځو راهيسې د تورخم پر دروازه د پاکستان له اړخه د نويو تاسيساتو جوړولو پر سر د افغانستان او پاکستان د امنيتي ځواکونو تر منځ خونړۍ شخړه را منځته شوې چې له امله يې دواړو لوريو د درندو وسلو څخه کار اخيستی او تر دا مهاله په کې پاکستان ته درانه ځاني او مالي تلفات اوښتي او همدا راز افغان لوري ته هم د سپکې مرګ ژوبلې خبرونه ورکړل شوي دي.

د تورخم په برېد کې افغان امنيتي ځواکونو په پوره مېړانه د دښمن مقابله وکړه او خپله خاوره يې له پاکستاني يرغله وژغورله. د افغان امنيتي ځواکونو دغه مېړانه په هېواد کې ملي شورا، ملي امنيت شورا، افغان حکومت، د هېواد ځوان قشر او په ټولنيزه ميډيا کې په پراخه کچه وستايل شوه او ملاتړ يې وشو. خو يوه مهمه موضوع چې بايد پاملرنه ورته وشي هغه د تورخم پېښې ته د هېواد د ځينو چارواکو، مشرانو او سياسيونو غبرګون دی چې تر اوسه غلي پاتې دي. هغه مشران او سياسيون چې په کوچنيو قومي او سمتي مسايلو به يې لاريونونه کول او لارې به يې تړلې؛ ولې د تورخم پېښې ته څه غبرګون نه ښيې؟

- هغوی چې د هېواد په شمال کې د پاکستاني په نوم يو مشخص قوم ځپې؛ ولې په تورخم کې د پاکستاني پوځ دغه ښکاره تېری نه وينې؟
- هغوی چې د شين، سور او نارنجي روندونو په نامه په کوچنيو قومي او سمتي مسايلو لاريونونه کوي؛ ولې د تورخم پېښې ته غبرګونه نه ښيې؟
- هغوی چې په ټاکنو کې يې د مشخصې کړۍ د ملاتړ په موخه د شنو او نارنجي حرکتونو کواښونه کول؛ ولې د تورخم مسلې باندې د پاکستان خلاف شين او نارنجي حرکت نه کوي؟
- هغوی چې د برېښنا د پروژې د مسير د بدلون لپاره يې په نړيواله کچه د ولسمشر سپکاوی کاوه؛ ولې د پاکستان په اړه چوپه خوله دي؟
- هغوی چې يوې مشخصې سيمې ته د برېښنا د لين د غځولو په غوښتنه د کابل ښار ولسونه او سوداګر د لاريون په وسيله په ميلونونو افغانيو تاواني کړل؛ ولې د پاکستان د تيري په مقابل کې لاريون نه کوي؟
- هغوی چې د مجاهدينو د ډلګۍ د حق غوښتنې په نامه چيغې وهلې او حکومت ته يې ګواښ کاوه چې که وغواړي د ملي يووالي حکومت په يو پوف چپه کولای شي؛ ولې دا پوف د پاکستان په مقابل کې نه کوي؟
- هغه شهرت طلبه او ځان ښودونکي افراد چې غواړي په هېواد کې د خلکو تر منځ د نفاق اچولو پر اساس او کوچنيو مسالو د لوی ښودنې په وسيله ځان شهرت ته ورسوي؛ ولې د تورخم په ملي مساله کې د غبرګون ښودولو په وسيله شهرت نه ترلاسه کوي؟

- هغوی چې په رسنیو، غونډو او جوماتو کې د حکومت خلاف فتواوې ورکوي او پر ضد یې دریځ نیسي؛ ولې د پاکستان پر ضد دریځ نه نیسي؟

خبره روښانه ده چې دوی ټول هغه څوک دي چې یا د پاکستان د استخباراتي اداري په پیسو پرسیدلي دي، چې ډارېږي که اوس د پاکستان خلاف دریځ ونیسي نو پاکستان به یې راز افشا کړي.
یا هغه څوک دي چې د قومي او سمتي مسایلو د راپورته کولو پر اساس غوارې ولس سپر کړي او ځان شهرت ته ورسوي.
یا هغه څوک دي چې په ولس کې یې ځای او مقام له لاسه ورکړی او اوس د قومي مسایلو په راپورته کولو خپل قوم ته وښیي چې د هغوی د حق غوښتونکی دی او باید چې ولس یې په ځان ومني.
یا د تېر حکومت ناکاره پرزې دي چې اوسني حکومت کې ورته ځای نه دی ورکړل شوی او وخت ناوخت لکه د غلو په شان په حکومت غلچکي بریدونه کوي خو ملي مسایلو ته بیا چوپ پاتې وي.
او یا هغه څوک دي چې قومي او سمتي مفکوره لري او د ملي مسایلو په نامه څه نه پېژني. هغه څوک دي قومي مسایل راپورته کول ورته د حق غوښتلو معیار ښکاري.
پر تورخم دروازه د افغانستان او پاکستان وروستي راپورته شوي جنجال که له یوې خوا د کرښې دواړو غاړو ولسونو او حکومتونو ته مالي او د سر زیان اړولی دی خو له بلې خوا دغې پېښې د ولس سترګې روښانه کړې او دلته په کور دننه یې ملي سیاستوال، دوه مخي او پردي پال سیاستوال او قوم پرستان راوښوول.
هغه سیاستوال اوس ښه څرګند شول چې پاکستان، انتحار او انفجار یې یوازې یو قوم پورې تړلو. اوس د تورخم پیښې په ډاګه کړه هغوی چې د سیاستوالو او د خلکو د اواز پورته کوونکو په نامه به یې بغارې وهلې او یو ځانګړی قوم یې د دې په خاطر په اصطلاح د پاکستان غلام بللو چې ژبه یې ورسره یو شان ده؛ اوس په ډاګه شوه چې پخپله همدوی د پاکستان بچیان او غلامان دي. اوس دوی ولس ته ډېر ښه څرګند شول چې ښکاره د پاکستان خلاف ناري وهي خو په حقیقت کې د پاکستان لخوا پرسیږي او په افغانانو غورېږي. دوی هغه طبقه ده چې پخوا د کورنیو جګړو پر مهال د پاکستان تالي څټي پاتې شوي دي. دوی ته پاکستان په ښکاره له روسانو سره د جهاد او مقاومت په نامه وسلې او مرستې ورکولې خو د پردې تر شاه یې د افغان حکومت، افغان ملي شتمنیو، افغان تاریخي آثارو او د افغاني تاسیساتو د ویجاړی او هلاکت پلان ورکولو. د دوی او د پاکستان د یارنې تار له هماغه وخته تړل شوی دی. خو اوس د تورخم پیښې یو ځل بیا په ډاګه کړه چې دوی د پاکستاني استخباراتو پورې تړلي خلک دي. هر څه چې ورته د آی ایس آی لخوا پلان ورکول کیږي؛ هماغه پلي کوي. دوی د فرصت موندولو په صورت کې د ملي ګټو تر نامه د پاکستان او آی ایس آی ګټې تعقیبوي.

# د سلما بند او د حکومت مسولیت

پرون ورځ افغان ولسمشر اشرف غني او د هند لومړي وزیر نریندرا مودي؛ د افغانستان د ملي شورا د ځینو استازو، قومي مشرانو او د افغان حکومت د لوړ پوړو مشرانو په حضور کې پرانیست. په کې ولسمشر محمد اشرف غني او د هند لومړي وزیر نریندرا د دغه بند په اقتصادي او سیاسي ارزښت خبرې وکړې. د سلما بند چې ۳۰ کیلومتره اوږدوالی او ۳,۷ کیلومتره پلنوالی لري، د هرات د چشت په ولسوالۍ کې موقعیت لري. دغه بند د ۶۴۰ میلیون متر مکعب اوبو د ذخیره کولو کنجایش لري او د ۴۲ میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري. تمه ده چې د سلما بند به د هرات د ولایت په اقتصادي ودې کې مثبت رول ولوبوي. بند به د کرهنې لپاره اوبه ذخیره کړي او برښنا به هم تولید کړي. هند په دغه بند ۲۹۰ میلیون ډالره لګولي دي او د بند د اداري لپاره یې افغانان روزلي دي.

دغه د سلما بند پروژه په تېرو ۱۵ کلونو کې لومړنۍ بیخ بنایي او تولیدي پروژه ده چې پرانیستل کیږي او د خلکو لخوا له تود هرکلي سره مخامخ کیږي. اصلاً د دغه بند بنسټ د مرحوم سردار محمد داود خان په وخت کې ایښودل شوی و چې د ۱۳۵۷ کال له جګړو وروسته یې چارې په ټپه ودرېدې. بیا د پخواني ولسمشر حامد کرزي په وخت کې یو ځل بیا کار پیل شو او تمه کېده چې دغه په ۲۰۱۰ کال کې بشپړه شوې وای خو د لوژستیکي او امنیتي مشکلاتو له امله یې کار وځنډید او شپږ کاله وروسته بشپړ شو.

د دغې پروژې ارزښت ډېر لوړ دی ځکه دا یوه اقتصادي او تولیدي پروژه ده چې د ۶۴۰ میلیون متر مکعب اوبو د ذخیره کولو کنجایش لري او د ۴۲ میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري. همداراز دا پروژه به د زراعت په برخې کې ډېره مرسته وکړي چې ورسره به په دغه ولایت کې د خلکو اقتصادي وضعیت هم ښه شي. ویل کیږي د سلما بند په جوړېدو سره به د هرات ولایت ۸۰ زره هکتاره ځمکه خړوبه شي. اوسمهال په هرات کې ۴۰ زره هکتاره ځمکه کرل کیږي او د بند د اوبو نه د استفادې سره به د دې امکان برابر شي چې دوه برابره ځمکه وکرل شي.

خو د دې ټولو ښېګڼو تر څنګ ځینې نور عوامل شته چې په راتلونکې کې د غې بند لپاره جدي کواښ پېښولی شي. لوی کواښ د افغانستان لپاره د ګاونډیو هېوادونو په ځانګړي توګه د ایران او پاکستان بد نیت لرل دي چې په تیر کې یې د افغانانو اړوند لرلی دی. اوس د دغې پروې لپاره ایران او پاکستان په اندېښنه کې دي چې ولې افغانستان د داسې یوې لویې اقتصادي تولیدي پروژې څښتن کیږي. دوی ممکن په راتلونکې کې د سلما بند د پروژې پر مخ پراخې ننګونې جوړې کړي.

دلته عمدتاً دوه دلیلونه شته چې پر اساس یې وړاندوینه کیږي چې پاکستان او ایران به د دغې پروژې د تخریب لپاره لاس په کار شي:

لومړی : دا بند د هرات ولایت په چشت ولسوالۍ کې د افغانستان د هریرود په سیند جوړیږي. او د هریرود سیند هغه دی چې همدا اوس یې په اوبو کې ایران د حقابې غوښتونکی دی. د دغه بند په جوړیدو سره به تر ډیره د هریرود سیند اوبه مهار شي او ایران به دا هیڅکله هم ونه شي زغملای چې پرې د هریرود سیند اوبه بندې او یا هم کمې شي. نو پر همدې اساس اټکل کیږي چې نوموړی هېواد به د سلما بند د پروژې د تخریب پوره ، پوره هڅې کوي.

دویم : دا چې افغانستان د پاکستان لپاره ښه اقتصادي مارکیټ دی او څو ورځې وړاندې د هندوستان، افغانستان او ایران تر منځ کډ د چابهار بندر تړون هم لاسلیک شو. د چابهار بند اړوند ویل کیږي چې دا به په پاکستان د افغانستان اتکا راکمه کړي. همدا راز اوس د غه د سلما بند د هندوستان په مالي او تخنیکي ملاتړ بشپړ او پرانیستل شو. هندوستان د افغانستان دوست او ملاتړی هېواد دی. هند په افغانستان کې ځینې لویې زیربنایي پروژې تمویل او عملي کړې دي. د افغانستان د پارلمان ودانۍ، د زرنج – دلارام سړک، د برښنا یو شمېر سب سټیشنونه، د میوجاتو او سزیجاتو سردخانې او یو شمیر نورې پروژې د هند د مرستو مثالونه دي. همداشان هند افغان محصلینو ته د بورسونو په ورکولو او د تحصیل د زمینې په برابرولو کې مرسته کړې ده. او اوس د سلما بند هم د هندوستان په مالي او تخنیکي مرسته بشپړ شو چې په دې سره د افغانستان او هندوستان اړیکې لا هم پیاوړې او دوستانه کیږي او پاکستان هیڅکله دا نه شي زغملای چې کابل دې ډهلي ته نیږدې شي. په همدې اساس ویل کیږي چې پاکستان به د دغې پروژې د تخریب لپاره لاس په کار شي.

اوس د اافغان ولس او افغان دولت مسولیت دا دی چې د یاد بند د امنیت د ټینګښت لپاره په کډه لازم تدابیر ونیسي. افغان دولت باید د هند، پاکستان او ایران په کډونو نورو ټولو هېوادونو په مقابل کې خپل روښانه بهرنۍ تګلاره ولري. دا تګلاره باید داسې وي چې پر اساس یې هیڅ هېواد ونه توانیږي چې پاکستان یا ایران د افغانستان د اقتصاد انحصار هڅه وکړي. همدا راز افغان دولت کولی شي چې د هندو په مرسته د یاد بند د امنیت د ټینګولو او تضمین لپاره لاس په کار شي ځکه هند هغه هېواد دی چې له ایران سره هم ډیپلوماټیکې لرې او همداراز د چابهار په بندر کې شریک هېواد دی. د همدې فکتور په اساس افغان دولت او هند کولی شي په کډه د دغې پروژې د امنیت د ټینګښت لپاره لاس په کار شي.

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# د قوم او سیمې ټیکه داران آخر څه غواړي؟

په داسې حال کې چې د سالنګ په لاره د ترکمنستان څخه د افغانستان مرکزي سیمو ته د برښنا د ۵۰۰ کیلو ولټ مزي د غځولو د لارې د ارزولو لپاره د ولسمشر غني له خوا د کمارل شوي کمیسیون پریکړه د حکومت اجرایه ریاست د دویم مرستیال محمد محقق او د افغانستان د سیاسي ګوندونو شورا چې په کې د محقق د ګوند سرپېره، د سید علي کاظمي په مشرۍ د ملي اقتدار ګوند او څلور نور کوچني ګوندونه هم شامل دي لخوا منل شوې ده؛ تېره ورځ یو ځل بیا یو شمېر هزاره ګانو د سالنګ له لارې د بریښنا د مزي له غزولو سره مخالفت وښود او د کمیسیون پریکړه یې ونه منله. د لاریون په راس کې د پخواني حکومت له کاره لویدلې پرزو او په اوسني دولت کې شریک د دولت ضد اشخاصو شتون درلود. په یاد لاریون کې د افغانستان د پخواني ولسمشر دویم مرستیال کریم خلیلي او د پخواني حکومت د اداري چارو د رئیس صادق مدبر د ګډون سرېېره د افغانستان په ملي شورا کې د مرکزي ولایتونو وکیلانو او د مدني ټولنې استازو برخه اخیستې وه.
د رڼا غورځنګ دغه غړي په داسې حال کې د حکومت او د کمیسیون د پرېکړې مخالفت کوي چې د همدغه غورځنګ نور غړي یې ملاتړ کوي او مخالف کوونکي یې سیاسي معامله کر بولي. د اجرایه ریاست دویم مرستیال محمد محقق د ولسمشر له پریکړې سره د رڼا غورځنګ (جنبش روشنایې) معترض غړي سیاسي معامله کر او د خلکو د حقونو لوټوونکي بولي. محقق وایلي هغه کسان چې د مرکزي سیمو د حقونو غړ یې پورته کړی او غواړي ما او سرور دانش ونټکوي؛ دوی په حقیقت کې په خپله دوره کې حتی ونشو کړای چې د مرکزي سیمو لپاره لمړیزه برښنا هم چمتو کړي.
دلته اوس ټول ولس ته دا پوښتنه پیدا کیږي چې کریم خلیلي، صادق مدبر، احمد بهزاد او نور د حکومت او د یادې ستونزې د حل د کمیسیون د پریکړې معترضان؛ بامیانو ته برښنا غواړي او که د برښنا پایې؟
که برښنا غواړي نو حکومت خو هغه دی خپله پریکړه اعلان کړه چې پر اساس یې بامیانو ته به د ۲۲۰ کیلو ولټه ( ډبل سرکټ) لین د ۳۰۰ میګا واټه پر ظرفیت له دوشي څخه وغځول شي. همدا راز په بامیانو کې به د برق یو سټیشن هم جوړ شي، پر دې سربېره یې ۲۰ زره کورنیو ته برښنایي اسانتیاوې برابرې شي، چې د ۱۳۹۸ لمریز کال تر منې به یې چارې بشپړې شي. او که د برښنا پایې غواړي نو د برښنا پایې بیا دومره د ولس په انحصارولو، په لاریونونو کې په میلونو پیسو په مصرولو، د لاریون په ترڅ کې ولس او تجاراتو ته په میلونونو پیسې زیان رسولو او د لارو په بندولو باندې نه ارزي.

اصلاً دوی له دغې مخالفته دوې موخې لري:

**لومړۍ موخه**: لکه څرنګه چې اوس په افغانستان کې سیاسي زور ازمایې د امتیاز اخیستلو ښه وسیله پېژندل شوې ده او هر هغه څوک ډېر څه ترلاسه کوي چې ډېرې چیغې ووهي او ډېر د حکومت ضد شعارونه ورکړي؛ نو خلیلي، بهزاد، مدبر او د دې ډلې نور همغږي؛ اوس په دې وسیله په حکومت فشار راوړي څو دوی ته په امتیاز ورکول قایل شی. لکه څرنګه چې محمد محقق هم ورته اشاره کړې ده؛ دوی اوس غواړي د حکومت په دننه کې د محمد محقق او سرور دانش پر خلاف خلک ولمسوي. لکه څرنګه چې اوسمهال افغان دولت د ولس هغسې ملاتړ نه لري چې باید یو دیموکرات دولت یې ولري او د خپلو ژمنو په پوره کولو کې ولس ته پاتې راغلی دی نو دوی اوس د دولت له همدغې تشې ګټه اخلي او هزاره ګان یې په مخالفت کې راپورته کوي. دوی له دې پروژې څخه د نظام د نسکورولو لپاره د یوې وسیلې په ډول کار اخلي. دوی که څه هم ځینې یې په حکومتي لوړو پوستونو مقرر دي خو ډېری یې په اوسني حکومت کې څنډې ته شوي دي نو غواړي په حکومت فشار راوړي څو یا مالي او یا هم د څوکۍ په امتیاز یې ونازوي.

**دویمه موخه**: د قوم او سیمې د خلکو د حق غوښتلو په نوم د بهرنیانو په ځانګړي توګه د ایران او پاکستان موخې تعقیبول دي. ویل کیږي وړاندې له دې چې د سالنګ له لارې د توتاپ برېښنا پروژې اړوند خلیلي، بهزاد، مدبر او نور خپل اعتراض وړاندې کړي؛ دوی ښاغلو له ایران او پاکستان سره اړیکې نیولې وې. ایران او پاکستان نه غواړي چې افغانستان دې د برېښنا څښتن شي. ایران غواړي چې د توتاپ پروژې پر سر په افغانستان کې جنجالونه پراخ شي چې اسیاسي مرکزي بانک او د یادې پروژې نور ډونران پرې خپلې مرستې بندې او پروژه په افغانستان کې سقوط شي څو د ایران له لارې د دغې پروژې تطبیق ته زمینه برابره شي. په همدې موخه ایران په افغانستان کې ځینو کړیو او اشخاصو په میلونونو ډالر ورکوي چې افغان حکومت او دغه پروژه وننګوي.

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# د منصور وژل کېدل، د طالبانو د زوال پیل

وروستي راپورونه وايي چې د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور د امریکا په برید کې وژل شوی دی. د امریکا دفاع وزارت اعلان کړی چې د وسله والو طالبانو پر مشر ملا اختر محمد منصور یې هوايي برید کړی دی. په همدې حال کې یو امریکايي چارواکی وایې چې په برید کې منصور او یو بل تن چې له ده سره په موټر کې سپور و، احتمالاً وژل شوي دي. دا لومړی ځل نه دی چې رسنۍ د طالب اوسني مشر ملا اختر منصور د وژل کېدو خبرونه وراندې کوي؛ بلکې له دې وړاندې هم د افغان، پاکستاني او امریکایې چارواکو او په خپله د وسله والو طالبانو مخالفې (ملا رسول) ډلې څو ځلې د نوموړي د وژل کېدو ادعاوې کړې دي چې وسله والو طالبانو د خپل اوسني مشر ملا اختر منصور د وژل کېدو خبرونه بیا رد کړي دی.

خو دا ځل د طالب اوسني مشر د وژل کېدلو خبر کره والی ځکه زیات ښکاري چې پر نوموړي ترسره شوی برید د پاکستان په داسې ځای کې شوی دی چې هلته بې پیلوټه الوتکو تر اوسه کوم برید نه دی کړی او تر ډېره دغه ډله په دې ځای کې پناه ځایونه لري. په پاکستان کې د بې پیلوټه الوتکو بریدونه تل په قبایلي سیمو کې کېږي چې د همدغو بریدونو له وېرې ډېری افغان طالبان په بلوچستان صوبه کې فعالیتونه کوي. خو دا لومړی ځل دی چې په بلوچستان صوبه کې د بې پیلوټه الوتکې برید شوی دی. نو پر همدې اساس ګمان کېږي چې دا ځل دې د ملا منصور د وژلو خبر کره وي.

لکه څرنګه چې ملا اختر محمد منصور د پخواني طالب مشر ملا محمد عمر د مړینې د اعلان نه وروسته د وسله والو طالبانو مشر وټاکل شو او د هغه په ټاکلو آن له لومړۍ ورځې ځینو طالب مشرانو اختلاف درلود؛ خو په وروستیو کې د طالبانو پر وړاندې د افغان حکومت له وروستي تند دریځ د افغان حکومت او اسلامي حزب تر منځ د سولې له موافقې وروسته په دغې ډلې کې اختلافات لا هم زیات شوي دي. په ټوله کې د څو دلایلو پر اساس ویلای شو چې په اوسنیو شرایطو کې د ملا اختر محمد منصور وژل کېدل د وسله والو طالبانو د زوال په معنا دی.

**لومړی** دا چې د طالبانو په لیکو کې له اسلامي حزب څخه جلا شوي مرورو وسله والو هم شتون درلود چې د افغان حکومت او اسلامي حزب تر منځ د سولې تر موافقې وروسته؛ غواړي بیرته له خپل امیر او خپلو ملګرو سره یو ځای شي.

**دویم** دا چې وسله وال طالبان د جنګي مبارزې له مخې په دوه ډلو وېشل شوي دي. یوه ډله هغه طالبان دي چې د لویو استخباراتي کړیو او د پاکستان د ای ایس ای لخوا ورته دستور ورکول کېږي او د هغوی په

اشاره جنګیږي چې دوی په بشپړه توګه خپلواک نه دي. دوی تر هغې جګړې ته دوام ورکوي؛ تر کومه چې ورته د استخباراتي کړیو له لوري د جګړې دستور ورکول کیږي. دویمه ډله یې بیا هغه دي چې د مذهبي ایډیالوژۍ له مخې جنګیږي. دوی چې تر ډیره له جګړې ستړي شوي دي او په وروستیو کې د اسلامي حزب او افغان حکومت تر منځ د سولې بریالۍ هڅې ولیدلې نو د دوی لپاره په افغانستان کې د جګړې ختم شو. دغه ډله په همدې اساس له وسله والو طالبانو جلا کیږي، وسله پر ځمکه ږدي او له افغان سولې پروسې سره یو ځای کیږي.

**دریم**: دا چې د وسله والو طالبانو په لیکو کې د ملا اختر محمد منصور ډلې مخالفې ډلې (د ملا رسول ډلې) د ملا منصور خلاف د پرله پسې څرګندونو هم د وسله والو طالبانو پر لیکو، ځواک او اتحاد هم منفي اغیز کړی دی. د ملا رسول ډلې څو، څو ځلې ویلي پاکستان غواړي د طالبانو تر منځ درز پیدا او جګړه د خپلو موخو لپاره وغځوي. دغې ډلې تل پر نورو طالبانو غږ کړی چې د پاکستان د دسیسو پر وړاندې دې هوښیار وي او د ملا رسول له ډلې سره دې یو ځای شي.

**څلورم**: دا چې په افغانستان کې د نشه یې توکو د کښت او قاچاق، د لویو لارو کنټرول، له سوداګرو پیسې اخیستل، د حکومت او د بهرنیو ځواکونو توکي او اکمالات نیول او له خلکو په زوره د مالیاتو د اخیستو تر څنګ د وسله والو طالبانو ستر مالي همکار او ملاتړی د پاکستان هېواد دی او په وروستیو کې پاکستان له اقتصادي رکود سره مخامخ دی. همداشان په وروستیو کې د پاکستان د ستر مالي ملاتړي هېواد امریکا تر منځ اړیکې هم ترینګلې شوي. د امریکا د کانګریس غړي وایي چې پاکستان د حقاني شبکې په شمول د ترهګرو ډلو ملاتړ کوي او باید امریکا له دغه هېواد سره مرستې محدودې کړي. بل پلو د پاکستان مرکزي بانک راپور ورکړی چې په روان مالي کال کې په دغه هېواد کې بهرنۍ پانګونه په سلو کې ۷۷ لږه شوې ده. د همدغو دلایلو پر اساس ویلی شو چې پاکستان نور د وسله والو طالبانو د تمویل توان نه لري.

د یادو شویو ټولو دلایلو پر اساس ویلی شو چې په اوسنیو شرایطو کې د طالب مشر ملا منصور وژل کېدل د دوی د زوال په معنا دي او پرته له دې چې ټوپک په ځمکه کیږدي او د افغان سولې پروسې سره یو ځای شي؛ بله د تېښتې لار نه لري.

# د هلمند اوبه؛ د موسی شفیق تړون سره کرښنه

که څه هم افغانستان اوسمهال د سالم د سالم سیاست، اقتصادي پرمختګ او سالم رهبریت او مدیریت د قلت سره مخامخ دی خو پر افغان ولس د رب ج مهرباني دا ده چې په افغانستان یې طبیعي زېرمې لوولې دي. افغانستان د قیمتي ډبرو، تیلو، ګازو، اوسپنې او نورو طبیعي کانونو او زیرمو تر څنګ د ډیرو اوبو درلودونکی هېواد دی. په اوس وخت کې د یو شمېر نورو ستراتېژیکو مسایلو تر څنګ د افغانستان اوبه هم یوه ډېره مهمه موضوع ده، چې له کبله یې ایران او پاکستان په افغانستان کې له ثبات او پیاوړي حکومت څخه اندېښنه لري.

څو روځې وړاندې افغان ولسمشر ایران ته د افغانستان، ایران او هندوستان تر منځ د یو شریک اقتصادي بندر (چاه بهار) د تړون د لاسلیک لپاره تللی و. په دغه سفر کې ولسمشر د ایران مذهبي مشر آیت الله خامنه یي سره هم لیدلي دي. په دغه لیدنه کې خامنه یي له غني غوښتي چې د هلمند سیند د اوبو مسله حل کړي. ولسمشر په ځواب کې وویل چې په راتلونکو څو اوونیو کې به د متخصصانو په کچه غونډو کې د افغانستان او ایران په پولو کې د اوبو د تقسیم په اړه خبرې وشي. تر دې وړاندې په تهران کې د افغانستان سفیر نصیر احمد نور هم ویلي و، کابل حاضر دی چې د هلمند سیند د اوبو پر وېش له ایران سره موافقه وکړي.

په دې لیکنه کې د هلمند پر سیند او پر دغه سیند د ایران او افغانستان په جنجال او په حل لار خبرې کوو. د هلمند سیند د پغمان له اوونۍ درې نه سرچینه اخلي او له ۱۱۵۰ کیلومترو تګ نه وروسته ایران ته اوړي. د هلمند سیند د افغانستان له دوو لویو اوبیزو سرچینو یو دی، خو د اضافي اوبو د زېرمه کولو لپاره یې آسانتیاوې نه دي جوړې شوي چې له امله یې تیر کلونه ډیرې اوبه ضایع شوي دي او اوس هم ډیره برخه یې د ایران په خاوره کې تویږي. د اوبو او برېښنا وزارت د پخوانیو معلوماتو له مخې د هلمند په سیند کې څلور ملیونه او پنځه سوه ۹۰ زره متر مکعبه اوبه دي چې تر ټولو زیاته ګټه ایران ترې پورته کوي.

که د تاریخ پاڼې وکتل شي په ډاګه کوي چې له افغانستان سره د ایران دښمني د ۱۹ پېړۍ له لومړۍ نیمایي څخه سرچینه اخلي چې هغه مهال یې غوښتل د پوځي یرغل له لارې د افغانستان لویدځ ولایت هرات له ځان سره وتړي. له دې وروسته بیا د هلمند اوبو د خپلولو لپاره هم بېلابېل بریدونه کړي دي. اوس یو ځل بیا یې د هلمند د ابو د جنجال خبره مطرح کوي چې په حقیقت کې دا ستونزه آن د مرحوم سردار محمد داود خان په وخت کې حل شوې ده. ایران نه یوازې د هلمند د سیند پر اوبو له افغانستان سره جنجال کوي،

بلکې پر دې سربېره په فراه او نيمروز کې د بخش اباد او کمال خان بندونو د جوړېدو مخه هم نيسي. همداراز په هرات ولايت کې د سلما بند د جوړيد مخنيوی يې په ځلونو کړی او لا هم په همدې هڅه کې دی چې د بشپړېدو او فعاليدو مخنيوی يې وکړي.

افغانستان او ايران د هلمند سيند د اوبو د ستونزې د حل په موخه په ۱۳۵۱ لمريز کال کې د اوبو د ويش تړون لاسليک کړ. دا تړون يوه ۱۲ مادې لري چې دوه ماده يې په ډاګه کوي چې ايران د يوه کال په اوږدو کې د کال د فصلونو په نظر کې نيولو سره کولای شي په هره ثانيه کې ۲۶ مترمکعبه اوبه وکاروي. خو له بده مرغه ايران نه يوازې خپل حق ( يعنې په ثانيه کې ۲۶ مترمکعبه اوبه) په بشپړ ډول اخلي، بلکې د شوي تړون خلاف چې په کې درې سيمې د اوبو د اخستلو لپاره ټاکل شوي، له ۳۰ تر ۴۰ سيمو څخه اوبه اخلي. د ياد تړون د پنځمې مادې له مخې ايران، د هلمند د سيند پر اوبو له هغې کچې پورته چې په تړون کې تثبيت شوې ده، د هېڅ ډول ادعا حق نه لري. د ياد تړون په هيڅ ماده کې افغان حکومت له ايران سره داسې تعهد نه لري چې ګويا ايران دې د سيستان او بلوچستان او د زاهدان ښار د څښکو خړوبولو لپاره د اړتيا وړ اوبه د هلمند له سيند نه واخلي. خو له بده مرغه چې د راپورونو له مخې همدا اوس هم د تړون خلاف زاهدان ته ۳۷ مليون مترمکعبه اوبه د هلمند له سيند ورکول کيږي.

په اوس وخت کې د هلمند د سيند په هکله راپورونه نوي معلومات په ډاګه کوي چې په تيرو کلونو کې د پر له پسې وچکاليو له کبله د هلمند سيند اوبه کمې شوي خو ايران لا هم د هومره اوبو غوښتونکی دی چې دوو هيوادونو په ۱۳۵۱ لمريز کال پرې سلا کړې وه. افغان ولسمشر اوس ايران ته په وروستي سفر کې له ايران د هلمند د اوبو د جنجال د حل زمنه کړې ده. اصلاً دا موضوع حل ده خو که بيا هم ايران يې له سره مطرح کوي نو افغان دولت خو لومړی بايد چې له ايران سره د دغو اوبو د حل په پخوانۍ تړون کې د ايران په سهميې له سره غور وکړي او پخوانۍ سهميه يې هم راکمه کړي. ځکه چې پخوا د هلمند دسيند اوبه دومره زياتې وې چې هر کال به يې په شاوخوا سيمو کې يې د خلکو څښکې تخريب کولې. او اوس د دغې سيند اوبه د پخوا په نسبت ډيرې کمې شوي دي. دلته مهمه خبره دا ده که ايران بيا هم دوه پښې په يوه موزه کې اچوي او د نوي تړون غوښتنه کوي نو افغان دولت بايد له ايران سره د محمد موسی شفيق شوی تړون خپله سره کرښه وبولي او ترې تېر نه شي.

# غني افغانستان او فقیره رهبري

د افغان حکومت په وروستي اقدام کې د کجکي برېښنا کوټ ترون له یوه ترکي شرکت سره وشو، چې په راتلونکو درې کلونو کې به ددغه برېښناکوټ ظرفیت۵،۱۵۱ ته لوړ کړي. دغه ترون ورمه ورځ د یو ترکي شرکت او د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري لاسلیک شو. د کجکي د برېښنا د بند د دوهم توربین د نصبولو کار په ۲۰۰۹ کال کې د امریکا پرمختیایي ادارې یوایس ایډ په مالي مرسته پیل شوی، خو په هلمند کې پرله پسې جګړو ددغه بند د دوهم توربین د نصبولو کارچې ۱۸،۵ مېګاواټه برېښنا تولیدوي تراوسه نه دی بشپړ شوی. د کجکي د بند د بنسټ ډبره په ۱۳۳۲ هجري شمسي کال کې د افغانستان د پخواني پادشاه محمد ظاهرشاه د سلطنت پرمهال کېښودل شوې وه.

دا په داسې حال کې دي، چې افغانستان د خپلې برېښنا د تولیدولو لپاره په ډېرو سیمو کې د برېښنا د بندونو جوړولو ورتیا او له خپلې اړتیا څخه د زیاتې برېښنا د تولید ظرفیت لري؛ خو دا مهال یې زیاتره اوبه ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي او د برېښنا ترڅنګ د کرنې او زراعت لپاره هم کار نه شي ترې اخېستل کېدای. افغانستان هر کال د ۲۰۰ میلیونو څخه زیات ډالر ایران، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان ته د برېښنا په بدل کې ورکوي.

د زړو برېښنا بندونو بیا ترمیم او یا یې تولیدي ظرفیت لوړول د افغان حکومت پر ځای اقدام دی خو د افغانستان د برېښنا ستونزې اساسي حل لپاره کفایت نه کوي. رب ج افغانستان ته دوه لوی نعمتونه ورکړي دي چې یو یې بشري ځواک او بل یې طبیعي زېرمې دي. خو له بده مرغه چې د دغو دواړو ځواکونو څخه د سالمې ګټې اخیستنې لپاره څوک نه لرو. د اوبو، انرژۍ او برېښنا وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال افغانستان د ۳۱۰ زره میګا واټه د برېښنا د تولید توان لري؛ خو ۷۵ سلنه برېښنا له نورو هېوادونو څخه واردېږي. همداراز د دغه وزارت په وینا افغانستان په کال کې ۳۰۰ لمرینې ورځې لري چې درې زره ساعته کېږي او په ټولیز ډول د ۲۰۰ زره میګاواټه لمرینې برېښنا د تولید ظرفیت لري.

په ټوله کې ویلای شو چې افغانستان د انرژۍ پرېمانه سرچینې لري، له لمرینې سرچینو نیولې تر اوبو، تېلو، ګازو، ډبرو سکرو او هوا پورې. افغانستان په لمرینې برېښنا برخه کې د ۲۲۳ زره، له اوبو څخه د ۲۳ زره، له ګازو څخه د ۶۰۰ او له هوا څخه د ۶۸ زره مېګاواټه برېښنا تولیدولو ورتیا لري. خو له بده مرغه چې په یادو ټولو برخو کې هیڅ داسې کار نه دی شوی چې په اساسي توګه ترې ګټه واخیستل شي. ستونزه دلته ده چې افغان دولت د اوبو د مهار لپاره سالم مدیریت نه لري، له نورو هېوادونو سره د اوبو پر سر جنجالونه

لري، په سیندونو نوي بندونه نه دي جوړ شي او زاړه هغه هم د تخریب په حال کې دي او افغان حکومت تر ډیره د کورنۍ برښنا د تولید پر ځای په وارداتي برښنا تکیه کړې ده.

له ستونزو د خلاصون لپاره

۱ـ **د اوبو سالم مدیریت:** افغانستان د طبیعي منابعو په ځانګړي توګه د اوبو د زیرمو له کبله غني هېواد دی ، خو له بده مرغه چې په تیرو څلو لسیزو کې ترې هغه ډول استفاده نه ده شوې په اساسي توګه د ولس ستونزې حل کړي. افغانستان د دغو نعمتونو څخه هغه وخت سالمه ګټه اخیستلی شي چې د اوبو د مهارولو لپاره بندونه جوړ شي، او ترې برښنا ترلاسه شي. خو دغو اهدافو ته هغه وخت رسیدلی شو چې مو د اوبو او برښنا په مدیریت کې ژوربدلون رامنځته کړو. که چیرې افغان دولت د وارداتي برښنا پرځای په خپلو اوبو برښنا کوټونه جوړ کړي، نو هم به کرنه پرمختګ وکړي او هم به له خپلو منابعو څخه برښنا تر لاسه کړو.

۲ـ **د نورو هېوادونو سره د اوبو منظم وېش:** دا چې افغانستان له ایران پرته له خپلو نورو ګاونډیانو سره د اوبو د وېش پر سر تړونونه نه لري، ښايي په راتلونکې کې به افغانستان له ډېرو ستونزو او کوانښونو سره مخ کړي؛ ځکه هر کله چې افغانستان پر دغو سیندونو د بندونو جوړولو تابیا کوي، د ګاونډیو هېوادونو له تاوده غبرګون سره به مخ کېږي. خو که چیرې افغانستان له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د وېش تړونونه لاسلیک کړي، نو اوبه به د دغو هېوادونو ترمنځ د کړکېچ لامل نه، بلکې د همکارۍ لامل شي.

۳ـ **بهرني مرستندویان او خصوصي سکتور هڅونه:** افغان حکومت باید په کور دننه داسې شرایط برابر کړي چې نړیوال مرستندویه بنسټونه او خصوصي سکتور وهڅیږي چې په کور دننه د برښنا بندونو په جوړولو پانګونه وکړي.

۴ـ **د نویو برښنا بندونو جوړول او د زړو بیا ترمیم او ساتنه:** افغانستان د ۳۱۰ زره میګاواټه د برښنا د تولید وړتیا لري. د دغې برښنا څخه د ګټې اخیستنې لپاره باید افغان دولت د اوبو د مدیریت او مهار لپاره داسې ستراتیژي جوړه کړي چې هم د نورو هیوادونو سره مو د اوبو پر سر جنجالونه پایته ورسیږي او هم په کور دننه اوبه د برښنا د تولید او د کرنې د پرمختګ لپاره وکارول شي. د کابل، هلمند، هریرود، کنړ، آمو او نورو لویو سیندونو پر سر باید نوي بندونه جوړ شي او د زړو هغو د بیا ترمیم او د تولیدي ظرفیت د لوړولو لپاره کار وشي. همدا اراز هغه برښنا بندونه چې له هغې سره ګاونډي هېوادونه پاکستان او ایران حساسیت لري لکه سلما، کجکي، مچلغو او مناکي برښنا بندونو ساتنه باید افغان دولت په خپل لومړیتوب کې شامله کړي./ غبرګولی یا جوزا/ 1396

# کډوالو وجدان مو ویښ کړئ!

پاکستان وایي، نور افغان کډوال په خپل هېواد کې نه شي زغملی. تېره ورځ په اسلام آباد کې د پاکستان د لومړي وزیر ځانګړي استازي طارق فاطمي ویلي«مور نور په خپل هېواد کې د افغان کډوالو موجودیت نشو زغملی، زمور هېواد غواړي، چې افغان کډوال په خپله خوښه خپل هېواد ته ستانه شي.». د فاطمي په وینا پاکستان له تېرو څو لسیزو راهیسې نېږدې ۳ میلیونه افغانانو ته په خپله خاوره کې ځای ورکړی و، خو نور دا کار نه شي زغملای.

بل لور ته په پاکستان کې مېشت افغان کډوال وایي چې د تورخم له شخړې وروسته د پاکستان لخوا فشار پرې زیات شوی، پر له پسې ځورول کېږي. ویل کېږي پاکستاني پولیسو په تېره یوه اوونۍ کې تقریباً هره ورځ په لسګونو افغانان نیولي او هغوی یې په بېلابېلو جرمونو تورن کړي دي. ټاکل شوې د تورخم د ستونزې د هواري په موخه د افغانستان د بهرنیو چارو سیاسي مرستیال حکمت خلیل کرزی اسلام اباد ته سفر وکړي.

دا لومړی ځل نه دی چې پاکستاني چارواکي له هغه هېوادونه د افغانانو د شړلو خبره کوي؛ بلکې له دې وړاندې هم داسې راپورونه خپاره شوي، چې پاکستان په زوره ټول افغان کډوال له خپلې خاورې باسي. له هغه وړاندې په تېرو کلونو کې داسې هم شوي چې د پاکستان بهرنیو چارو وزارت خپلو امنیتي ځواکونو ته یې امر کړی، څو افغانان په پاکستان کې د اوسېدلو لویو سیمو ته له تګ څخه راوګرځوي او د اوسېدو په لویو ځایونو کې کرایي کورونه ور نه کړي. په ټوله کې پاکستان تل افغان کډوال د فشار د آلې په توګه کارولي دي. خو پوښتنه دلته مطرح کېږي چې په داسې حساسو شرایطو کې چې ټاکل شوې یو افغان پلاوی د تورخم شخړې د ډیپلوماټیک حل په موخه پاکستان ته سفر وکړي؛ د پاکستان لخوا د کډوالو موضوع راپورته کول په څه معنا دي؟

ځواب روښانه دی. د افغانستان او افغانو په مقابل کې د پاکستان په سیاست کې هیڅ بدلون نه دی راغلی، اوس بیا هم غواړي لکه د تېرو کلونو یو ځل بیا په پاکستان کې له مېشتو افغان کډوالو؛ پر افغان حکومت د فشار د آلې په توګه کار واخلي. څکه ترې یو ځل بیا د فشار د آلې په توګه کار اخلي چې په وروستیو کې د تورخم دروازې پر سر د افغان او پاکستاني ځواکونو تر منځ شخړه وشوه او په کې پاکستاني لوري ته د مالي زیان سربېره د سر زیان هم واوښته. اوس غواړي د هغه هدف د ترلاسه کولو لپاره چې په تورخم کې ورته افغان مېړنیو ځواکونو غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ؛ غواړي پاکستان ته په تلونکي افغان پلاوي د خپل دغه هدف د ترلاسه کولو په موخه؛ فشار واچوي څو د پاکستان نامشروع غوښتنې ومني. پاکستان غواړي اوس هلته د

تورخم مسالې د حل په موخه د تلونکي افغان پلاوي په مخ کې افغان کډوال د فشار د آلې په توګه وکاروي. دوی به افغان پلاوي ته وایې چې د دوی هر رنګه غوښتونې ومني کنې په پاکستان کې نور افغان کډوالو ته د اوسیدو اجازه نه ورکوي. دلته بیا افغان پلاوی اړ کیږي څو د پاکستان غوښتنو ته مثبت ځواب ووایې چې هلته مېشت افغان کډوال نور ونه ربړول شي.

## د پاکستان له فشاره څنګه خلاصیدای شو؟

د دغې دوه مخي لوبغاړي (پاکستان) له فشاره هغه وخت خلاصیدای شو چې هلته د افغان په نوم هیڅوک استوګنه ونه لري او ټول کډوال خپل هېواد افغانستان ته راستانه شي. تر هغې چې افغان کډوال راستانه نه شي؛ تل به د افغانستان لاس د پاکستان لپاره له تیږې لاندې ایسار وي او تل به پاکستان په افغان حکومت خپلې نامشروع غوښتنې مني. په پاکستان کې میشتو افغانانو ته په کار ده چې د خپل ملي او هېوادني احساس له مخې پاکستان پریږدي او که وچه وي او که لمده؛ یوه مړۍ حلاله روزي په خپل هېواد کې پیدا کړي.

تر ډیره اوس په نورو هېوادونو په ځانګړي توګه په پاکستان کې میشتو افغان کډوالو لپاره خپل هېواد ته د بیرته نه راتګ لپاره کومه ستره پلمه هم نه ده پاتې. امنیتي حالات د پخوانیو جنګونو په پرتله ډیر ښه شوي دي. افغانستان اوس د اقتصادي ودې پر مخ روان دی. په لویو ملي پروژو کار پیلیدونکی دی. په پاکستان کې میشت کډوال هېواد ته د نه راستنیدو لپاره ستره پلمه نه لري. یوازینۍ پلمه چې اوس ورته پاتې ده هغه په هېواد کې د کاري زمینې نه شتون دی. دا مساله په خپله د کډوالو په راستنیدو حل کیدلای شي. ځکه په کډوالو کې داسې کسان هم شته چې په پاکستان کې یې په میلونونو ډالرو پانګونه کړې ده. لویې ـ لویې سوداګرۍ لري. که چیرې دغه سوداګر هم هېواد ته ستانه شي او دلته پانګونه وکړي نو له شکه پرته به نه یوازې دا چې دلته میشتو افغانانو ته د کار زمینه برابره شي بلکې هغوی چې له پاکستانه راځي؛ هم به ورته د کار زمینه برابره وي. نوره لازمه ده چې په پاکستان او ایران کې میشت افغانان خپل ویده ضمیر راویښ کړي او یوه مړۍ له عزته او وقاره ډکه ډوډۍ په خپل هېواد کې وخوري.

پــروت پــه وینــو کــې لــت پــت ښــه یم پــه پــت کــې
نـــــه د سرو زرو پـــــه تخــــت بانــــدې بــــې پتـــــه

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# کورنۍ کړۍ چې؛ حکمتیار ننګوي

په داسې حال کې چې تېره میاشت د حکمتیار اسلامي ګوند د افغانستان له حکومت سره د سولې په برخه کې هوکړې ته ورسېد؛ اوس په کور دننه د اسلامي حزب سره د افغان دولت د سولې مخالفان ورځ تر بلې را څرګندیږي. ویل کیږي د نظار شورا او اسلامي جعیت په شمول یو شمیر نور ګوندونه چې په ۷۰ یمه لسیزه کې له اسلامي حزب سره جنګي سابقه لري؛ په یو نه یو ډول د افغان حکومت او د حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب تر منځ د سولې د خبرو پر ضد منفي تبلیغات ترسره کوي.

تېره ورځ د پخوانۍ شمال ټلوالې یوغړي فهیم داشتي ویلي هغوی به پرې نه ږدي چې د پنجشېر امن هلته د حکمتیار په ورتګ سره ګډوډ شي. فهیم دشتي په خپله فیسبوک پاڼه یو بیانیه هم خپره کړې چې په وروستۍ برخه کې یې حکمتیار له شیطان او پنجشېر د پرښتو له کور سره تشبیه کړی دی او ویلي دي چې اجازه به ورنه کړي چې شیطان د پرښتو په کور کې ځای ونیسي.

همداشان ځینې رسنې هم وایې چې د جمعیت په خپلمنځي ناستو کې د حکمتیار ضد تبلیغاتو پرېکړه شوې ده. تېره ورځ جمعیت ته نیږدې سرچینو د نوم نه ښودلو په شرط سپوږمۍ راډیو ته ویلي، چې په کابل کې د جمعیت مشرانو په خپل منځي وروستیو ناستو کې پریکړه شوې چې د حکمتیار ضد تبلیغاتو ته زور ورکړي ، په دغه ناسته کې پرېکړه شوې چې له خپلو ټولو امکاناتو او لارو چارو به کار اخلي څو د حکمتیار او حکومت تر منځ د سولې وروستۍ تړون سبوتاژ او د حکمتیار د راتګ مخنیوی او پر وړاندې یې عامه ذهنیت بدل کړي. همداراز له دې وړاندې د بشر حقونو کمیسیون مشرې سیما سمر هم هڅه کړې وه چې په یو نه یو ډول حکمتیار سره د افغان دولت د سولې مخنیوی وکړي.

اوس په تازه کې تیره ورځ په کابل کې د مدني فعالانو په نامه څو مشخصو کړیو ته وفاداره افرادو د "جګړې د قربانیانو لپاره د عدالت غوښتنې" په نامه یوه بنسټ د هغو کسانو د محاکمې غوښتنه کړې چې دوی وایي جنګي جرمونه یې کړي دي. دغو کسانو د افغان دولت او د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار تر منځ د سولې پر هوکړې نیوکه کړې او له ملګرو ملتونو یې غوښتي چې د نوموړي نوم له تور لېسته ونه باسي.

دغه لاریون که څه هم په ښکاره د جګړې د قربانیانو لپاره د عدالت غوښتنې په نامه جوړ شوی و خو تر شاه یې د هغو کړیو لاسونه ښکاري چې نه غواړي افغان حکومت له اسلامي ګوند سوله وکړي. دوی که په رښتیا د جنګي مجرمینو د محاکمې غوښتنه کوي؛ ولې یې یوازې د حکمتیار نوم یادولو؟ آیا د ۷۰ یمې لسیزې په جنګونو کې یوازې حکمتیار ښکیل و؟ آیا هغوی چې د خلکو په سرونو او غوږونو کې یې میخونه ټک

وهل او له میرمنو یې سینې غوڅولې؛ جنګي جنایتکاران نه دي؟ هغوی چې د هېواد هر څه شتمنۍ، تاریخي آثار او د حکومتونو پوځي تجهیزات یې په ایران او پاکستان وپلورل؛ جنایتکاران نه دي؟ جنایتکار ـ جنایتکار وي، که هغه د هرې ډلې، قوم او سمت څخه وي باید مجازات شي. خو دا به مناسبه نه وي چې هر څوک اتل او جنایتکار د خپلو شخّصي اهدافو له مخې تعریف کړي.

بل لور ته تېره ورځ د ملي یووالي حکومت د بهرنیو چارو وزیر او د اسلامي جمعیت ګوند مشر صلاح الدین رباني هم ویلي؛ هغوی چې سوله کوي وسلې به تسلیموي. صلاح الدین رباني په غیر مستقیمه توګه اشاره کړې، هغوی چې سوله کوي باید تسلیم شي او وسلې به هم تسلیموي. که څه هم ښاغلي رباني په ښکاره د وسله والو طالبانو او یا هم د حکمتیار نوم نه دی اخیستی خو داسې برېښي چې اشاره یې حکمتیار ته وي. ځکه تر اوسه له افغان حکومت سره له حکمتیار پرته بل هیچا د سولې خبرې نه دي کړي. په دې کې هیڅ شک نشته چې د حکومت مخالف لوري د سولې بهیر سره یوځای کېدل، دولت ته د وسلو تسلیمول او د پوځي مبارزې پر ځای سیاسي مبارزې پیلول؛ په هیواد کې سیاسي ثبات پیاوړتیا سره مرسته کوي خو د وسلو ټولو لپاره حکومت ځانګړی میکانېزم او ځانګړی ارکان لري چې امنیتي ارکانونه یې په رأس کې قرار لري. د لته د هېواد د بهرنیو چارو وزیر په توګه د رباني مسولیت دا نه دی چې د حکومت د مخالف لوري د خلع سلا کولو غوښتنه وکړي.

په افغانستان کې ستونزه دا ده چې هیڅوک خپل مسولیت نه پیژني خو د بیان د آزادۍ تر نامه لاندې هر چا ته چې هر څه په خوله ورځي، اسره پرې نه کوي او د خپل ځان د مطرح کولو لپاره یې په ستېجونو او دریځونو کې کوي. دلته زمونږ چارواکی په دې نه پوهیږي چې زه څوک یم، د چا استازولي کوم او د چا لپاره پر دې څوکۍ کمارل شوی یم. دلته د دولتي چارواکي، د ګوند د رهبر او د عادي وګړي تر منځ توپیر نه کیږي. دلته دولتي چارواکي چې د ګوند رهبري په غاړه لري؛ د ولس، خاورې او هېواد په نسبت خپل ګوند، سمت او قوم ته ډیر وفاداره دي.

غبرګولی یا جوزا/ 1396

# افغانستان د منځنۍ اسیا ارتباطي پل

# د شانګهای سازمان همکارو هېوادونو مرسته

شانګهای د همکاریو سازمان یو بین الدوله (د دولتونو تر منځ) سازمان دی چې د څو اړخیزو امنیتي، اقتصادي او فرهنګي همکاریو لپاره جوړ شوی دی. دا سازمان په ۲۰۰۱ کال کې د چین، روسیه، قزاقستان، قرغیزستان، تاجکستان او ازبکستان د رهبرانو لخوا رامنځته شو چې چین او روسیه په کې کلیدي رول لري. په ۲۰۰۴ کال کې مغلوستان، په ۲۰۰۵ کال کې ایران، پاکستان او هندوستان او په ۲۰۱۲ کال کې افغانستان؛ له دغې سازمان سره د څارونکو غړو په توګه یو ځای شول. که څه هم افغانستان له انتقالي دولت وروسته خپلې هغې پیل کړې چې د سیمې او په نړیواله کچه د همکارو او مرستندویه سازمانو غړیتوب ترلاسه کړي خو د کورنیو ستونزو له امله افغانستان په ۲۰۱۲ کال کې په دې وتوانید چې د شانګهای د همکاریو سازمان سره د څارونکي هېواد په توګه یو ځای شي.

تېره ورځ د ازبکستان پلازمېنه تاشکند کې د شانګهای غړو هېوادونو شپاړسمه غونډه ترسره چې چې په کې د افغان ولسمشر اشرف غني هم ګډون درلود. که څه هم د دغه سازمان د جوړېدو له د هدف له مخې باید په کې په اقتصادي، فرهنګي او امنیتي موضوعاتو بحث وشي خو په دغه سازمان کې ترسره کېدونکې بحث تر ډېره د افغانستان په امنیتي وضعیت راڅرخي. دا ځل بیا هم د تېر په څېر په اوسنۍ غونډه کې یې بحث تر ډېره په سیمه ایز امنیتي وضعیت په ځانګړي توګه د افغانستان په جګړې ورتول و. په افغانستان کې په وروستیو کې لویو اقتصادي پروژو؛ د دغه سازمان د غړو هېوادونو علاقه افغانستان ته لا هم ډېره کړې ده. ځکه د سازمان ډیری غړي هېوادونه په دغو پروژو کې دخیل دي.

لکه څنګه چې ویل کیږي چې چین او روسیه د شانګهای د همکاریو سازمان کلیدي غړي دي او په نړیواله کچه چین د نظامي پر ځای اقتصادي ځواک درلودلو ته لومړیتوب ورکوي نو لازمه ده چې افغانستان د خپل اقتصاد د پیاوړتیا په موخه د دغه سازمان له غړو هېوادونو په ځانګړي توګه له چین او هند اعظمي ګټه پورته کړي.

د تاپي د ګازو د نللیکې پروژه چې له مخې یې د ترکمنستان ګاز په یوه نل لیکه کې د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته انتقالیږي؛ سلما بند د افغانستان تر ټولو ستره بنسټیزه پروژه او د چابهار بندر سوداګریزه او ترانزیټي پروژه؛ هغه څه دي چې په سیمه ایزه او نړیواله کچه یې د شانګهای د همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو توجه افغانستان ته جلب کړې ده. دغه پروژې نه یوازې کولی چې چې د افغانستان په اړه د نړیوالو فکر او ستراتیژي بدله کړي بلکې په نړیواله کچه د سیالو هېوادونو تر منځ د اقتصادي سیالۍ ډګر تود وساتي. یا په بل عبارت، د افغانستان د جیواکنامیک او جیوستراتیژیک موقعیت له مخې د افغانستان اقتصادي پروژې په ځانګړي توګه د چابهار بندر سوداګریزه او ترانزیټي پروژه کولی شي چې د سیمې او نړۍ د سیالو هېوادونو تر منځ د سرې جګړې زمینه برابره کړي. داسې سړه جګړه چې وژونکې وسلې به په کې نه کارول کیږي او یوازینۍ وسیله چې د اسلحې په توګه ترې استفاده کیږي؛ هغه اقتصادي پالیسي ده.

افغانستان د خپل جیواکنامیک او جیوستراتیژیک موقعیت له مخې کولی شي چې خپلې اقتصادي لویې پروژې د نورو هېوادونو لپاره د وسیلې په توګه وکاروي. افغان حکومت باید د خپل هېواد د پرمختګ په لپاره په خپله تګلاره کې د سیمې د هېوادونو په رښتونې همکارۍ تاکید وکړي. د سیمې هېوادونو ته هم په کار ده چې د جګړې کولو او جنګي مبارزې پر ځای اقتصادي مبارزه پیل کړي. هغه هېوادونه چې غواړي په سیمه کې ځان د لوی قدرت په شکل سر راپورته کړي لکه هند، چین او روسیه؛ نو ورته په کار ده چې له افغانستانه د منځنۍ آسیا د هېوادونو تر منځ د پل په توګه وکاروي او دا پل باید له اقتصادي پلوه په کار واچول شي. نه دا چې د سیمې او نړۍ سیال هېوادونه افغانستان د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره د جګړې د میدان او یا بې سرپوښنه دېک په رول کې ولوبوي. له افغانستانه د منځنۍ اسیا د هېوادونو د نښلوونکي پل په توګه هغه وخت استفاده کیدلای شي چې افغان دولت په خپله بهرنۍ تګلاره کې د سیمې او نړۍ د هېوادونو تر منځ تعادل په نظر کې ونیسي.

جنګابښ یا سرطان/ 1396

# پاکستان د خپل عمل په سزا ورسوئ

که څه هم په وروستیو کې افغان ولسمشر اشرف غني د پاکستان په خلاف دریځ غوره کړی دی او وخت ناوخت په کور دننه او بهر په غونډو او کنفرانسونو کې پرې نیوکې کوي؛ خو په لومړیو کې یې د ملي یووالي حکومت له جوړیدو سره سم له پاکستان سره اړیکې د پخوا په پرتله خوږې کړې او ډېر ورته نیږدې شو. د خپل ښه نیت له امله چې غوښتل یې پاکستان سره په ښو اړیکو درلودو سره به نوموړی هېواد قانع کړې څو په افغان سوله کې مرسته وکړي او طالبان به د مذاکرو میز ته کینوي؛ پاکستان ته په یو طرفه امتیاز قایل شو. پاکستان یې هم په مقابل کې نمایشي اقدامات وکړل او د ربښتونې همکارۍ تږ یې وواهه خو کله چې ددې هیواد په دوه مخې پوه شو، نو بیا یې په مقابل کې ودرید او د رسنیو له لارې په لویو غونډو کې د پاکستان منافقانه دریځ ته گوته ونیوه. وروستۍ بیلگه یې په وارسا کې په څرگندو ټکو د پاکستان دوه مخي سیاست ته گوته نیول دي چې ویلي یې دي، د پاکستان په وسیله د سولې لپاره د افغانستان هڅې ناکامې شوې ځکه چې پاکستان د ښو او بدو ترهگرو ترمنځ توپیر کوي.

سربېره پر دې چې پاکستان له جوړېدو سره سم د افغانستان بربادۍ ته ملا تړلې ده او هر وخت چې یې فرصت تر لاسه کړی دی؛ په هر حکومت کې یې په افغان وژنه او افغان بربادونه سرپه نه ده کړې؛ اوس د ملي یووالي حکومت له جوړیدو سره سم یې په افغانستان کې حساسیت پاروونکې تحرکات پیل کړي دي. کله په سرحدي سیمو کې پوځي تاسیسات جوړوي، که افغان خاورې ته داخلیږي، کله د ډیورنډ فرضي کرښې ته د رسمیت ورکولو لپاره په تورخم کې دروازه جوړوي، کله په پاکستان کې افغان کډوال په بیلابیلو پلمو ځوروي، کله د پاکستان په بندرونو کې د افغان سوداګرو تجارتي مالونو موټرې بندوي، کله د خپلو ډالر خورو او د آی ایس آی روزونکو ملایانو او مفتیانو په وسیله افغان وژنې ته جواز ورکوي او ...

سره له دې چې دغه هېواد له کلونو راهیسې د افغانستان په بربادۍ کې لاس لري؛ کلونه کیږي چې په پاکستان کې ترهګر خوندي پناه ځایونه لري، د پاکستان مدرسې د ترهګرو ځالې دي، په کراچۍ او اسلام آباد کې د طالبانو هر نوي مشر لپاره د بیعت غونډې جوړیږي، کلونه کیږي چې دغه هېواد د ترهګرو سره د مبارزې په نوم له نړیوالو په میلونونو پیسې ډالر اخلي خو په همدغو پیسو بیرته ترهګر روزي او تمویلوي؛ خو متاسفانه تر اوسه کوم افغان حکومت د دغې منافق هېواد څخه له کره اسنادو سره په رسمي او مکتوبي شکل

د ملګرو ملتونو امنیت شورا او نړیوالې ټولنې ته شکایت نه دی کړی. دلته ولس ته پوښتنې پیدا کیږي چې افغان حکومتونو تر اوسه ولې په رسمي مکتوبي شکل له پاکستانه شکایت نه دی کړی؟ آیا ستونزه په ضعیف مدیریت کې ده او که افغان حکومتونه د پاکستان په خلاف کره شواهد نه لري؟

پاکستان نه یوازې په افغانستان کې ورانکارۍ کړنې ترسره کوي بلکې ټولې سیمې او نړۍ ته ترهګر روزي او استوي یې. همدا څو ورځې وړاندې هم په مکه معظمه کې خونړۍ برید پاکستاني تبعه ترسره کړ، د سعودي حکومت بیا د دې بریدونو په تړاو ۱۲ تنه نور شکمن پاکستانیان هم ونیول، همداشان څو ورځې وړاندې یو پاکستانی وګړی په جرمني کې ایران ته د جاسوسۍ په تور ونیول شو. بله خوا د هسپانیا پولیسو هم خبر ورکړی دی چې د هېواد په شمالي ښار لیدا کې یې درې تنه پاکستاني وګړي له داعش او نورو سخت دریځو سره د تړاو په تور نیولي دي چې په یوه کور کې اوسېدل او د انټرنېټ له لارې یې د داعش په پلوۍ تبلیغات کول. یعنې په ټوله کې ویلای شو چې پاکستان هغه هېواد دی چې ټولې نړۍ ته یې د ترهګرۍ اور ورته کړی دی او د ټولې نړۍ لپاره په یو سرخوږي بدل شوی دی.

فلهذا د افغان حکومت په شمول د نړۍ ټولو هغو هېوادونو ته چې د پاکستاني ترهګرو قرباني شوي دي او یا قرباني کېدونکي دي؛ په کار ده چې ټول په یوه خوله او یو غږ د پاکستان خلاف غږ اوچت کړي او د خپلو کړو اعمالو په سزا یې ورسوي. ترهګرۍ قرباني دغه ټول هېوادونه باید د پاکستان خلاف اسناد او شواهد راټول کړي، ملګرو ملتونو او امنیت شورا ته قناعت ورکړي، په لوېدیځ کې عامه ذهینت قانع کړي او د نړۍ هېوادونه هم قانع کړي چې پاکستان په افغانستان کې لاسوهنه کوي او باید د دې په بدل کې سزا ورکړل شي. همداراز هغه هېوادونه چې په کلني ډول دغې هېواد ته د ترهګر د ځپلو په نوم او یا د ترهګرو د قرباني هېواد په نوم پیسې او مرستې ورکوي؛ باید په خپلو مرستو له سره غور وکړي او په دې باید پوه شي چې د ترهګرو ملاتړ کوونکي سره مرسته کول؛ ترهګرۍ ته وده ورکول دي. اوس وخت د دې را رسیدلی دی چې د پاکستان په خلاف نړیواله مبارزه وشي څو دغه هېواد د ترهګرو له روزني او ملاتړه لاس واخلي او که لاس نه اخلي نو باید منزوي شي.

جنګابښ یا سرطان/ 1396

# پاکستان ولې سرې سترګې دی؟

په داسې حال کې چې تېره ورځ د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال حکمت خلیل کرزي په مشرۍ افغان پلاوي په تورخم او د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د پاکستاني پوځیانو د سرغړونو په باب له پاکستاني چارواکو سره خبرې وکړې او هغوی ته یې وویل چې افغانستان د پاکستان له لورې په صفري نقطو کې د پاکستان له لورې د دروازو جوړول نه شي منلی؛ پرون پاکستان اعلان وکړ چې د بلوچستان او د افغانستان د کندهار ولایت ترمنځ یې پر ډیورنډ کرښه د کندې کیندل بشپړ کړل. پاکستاني رسنۍ وایې، د پاکستان سرحدي ځواک له افغانستان سره د بلوچستان ایالت د پولو په اوږدو کې ۱۱۰۰ کیلومتره کنده، چې په ۲۰۱۳ م کال کې یې پیل کړې وه، د ۱۴ ملیارد روپیو په لګښت بشپړه کړه. د پاکستاني چارواکو په وینا د دې پروژې په بل پړاو کې به د ډیورنډ په ټوله ۲۲۵۰ کیلومتره کرښه کې کنده وکیندل شي.

دا لومړی ځل نه دی چې پاکستان د افغانستان په خاوره تېری کوی بلکې له دې وړاندې هم د افغانستان سره په سرحدي ولایتونو کې څو کیلومتر افغان خاورې ته ننوتلی دی او تاسیسات یې جوړ کړي دي. د پکتیکا په برمل ولسوالۍ انګور اډه سیمه کې دروازه ایښودل، پوستې جوړول او شل کیلو متر افغان خاورې ته مخکې راتلل، د کندهار په معروف او سپین بولدک ولسوالیو کې افغان خاورې ته ننوتل او پوستې جوړول، د ننګرهار په ګوشتې ولسوالۍ کې تاسیسات جوړول او همداشان د ډیورنډ کرښې په شاوخوا کې پوځي تاسیسات جوړول، اغزن تار غزول او د خندق کیندل، همدا شان کلونه ـ کلونه په کونړ، ننګرهار او خوست توغندي وارول؛ دا ټول پر افغان خاوره د پاکستان د تیري ښکاره بیلګې دي.

اوس بل لور ته د پاکستان د بهرنیو اړیکو سلاکار سرتاج عزیز ویلي پاکستان د افغانستان لپاره په خپله خاوره کې له طالبانو سره جنګ نه شي کولی. نوموړي د پاکستان له دولتي تلویزیون (پي ټي وي) سره په مرکه کې ویلي د امریکا متحد ایالتونه له پاکستانه غواړي چې د افغان طالبانو پر ضد اقدام وکړي خو پاکستان په خپله خاوره کې د افغانستان لپاره جګړه نه شي کولی. نوموړي ویلي پاکستان ولي د افغانستان لپاره په خپله خاوره کې د چا خلاف جنګ وکړي؟ له دې وړاندې همدې ښاغلي ویلي و چې په هر صورت به پاکستان په تورخم کې تاسیسات رغوي، که څوک جګړه کوي جګړه به ورسره کوو.

سرتاج عزیز په داسې حال کې په خپله خاوره کې د طالبانو پر ضد د اقدام د نه کولو خبره کوي چې د افغان چارواکو په وینا د افغان سولې د همېڅي لپاره د څلور اړخیز ګروپ په چوکاټ کې؛ افغانستان او د څلور اړخیز ګروپ دوو نورو غړیو ته ژمنه ورکړه چې افغان طالبان به د سولې خبرو ته حاضر کړي او که طالبان حاضر نه شول د هغوی خلاف به په خپله خاوره کې اقدام کوي.

اوس پوښتنه دلته مطرح کیږي چې پاکستان له افغان چارواکو سره خپلې خبرې ژر بدلوي ولې په سرو سترګو په افغان خاوره تېری کوي ؟

که څه په پاکستان کې مېشت افغان کډوال او د پاکستان د بندرونو له لارې افغانستان ته واردات کول؛ تل پاکستان د افغانستان د خوړې کوټې په توګه کارولي دي خو له ورهاخوا ځینې نور پټې معاملې هم شته چې په وروستیو کې د پاکستان د سرې سترګې کېدو او د افغانستان د خولې د قلف په توګه مطرح کیږي. کله چې په افغانستان کې د اشرف غني او عبدالله تر منځ د ملي یووالي حکومت رامنځته شو نو اشرف پاکستان ته ډېر ځان نیږدې کړ. له پاکستان سره یې له سره یارانه شروع کړه، نوموړي هېواد ته په یو طرفه امتیاز ورکولو قایل شو او بلاخره دا یارانه بیا تر دې حده ورسیده چې له پاکستان سره د استخباراتي معلوماتو د شریکولو او د سټنډرډ عملیاتي کړنلارې (S.O.P) په نامه سندونه لاسلیک شول. هاغه مهال پاکستان په ډېر مهارت په افغان حکومت د بارډر منجمنټ په نامه ډرامه ومنله.

په هاغه وخت کې پاکستانیو چارواکو ویل چې پر ډیورنډ کرښه د ترهګرۍ ضد فعالیتونو د مخنیوي لپاره یې دا سند لاسلیک کړی دی خو اصلي هدف یې بل څه و. اصلي هدف یې دا و چې د افغان حکومت لپاره یوه بله خوړه کوته او پاکستان ته د افغان حکومت د ضعف نقطه پیدا کړي. اوس همدغه سندونه د دې لامل شوي دي چې پاکستان په پوره ډاډ او سرو سترګو د تورخم او له دغه هېواد سره د افغانستان په ځینو سرحدي سیمو کې پوځي تحرکات وکړي. اوس یاد سندونه د پاکستان لپاره د افغانستان د ضعف نقطې جوړې شوي دي چې پاکستان یې په افغانستان سرې سترګې کړی دی. اوس که افغان حکومت غواړي د پاکستان سترګې بیرته خړې کړي نو دغه سندونه دې ورسره لغوه اعلان کړي. که داسې ونه شي نو پاکستان به له دې نور هم په افغان خاوره خپل تېري ته دوام ورکړي او ډېر ژر به په نړیواله کچه د ډیورنډ د رسمي سرحد د پیژندلو لپاره لاس په کار شي.

جنګابښ یا سرطان/ 1396

# چې د منصور په لاره ځې؛ منصور ته به ورځې!

د طالبانو نوي مشر مولوي هبت الله اخوندزاده د کوچني اختر په پیغام کې ویلي د طالبانو د پخوانیو مشرانو مرګ دا ډله نه ده کمزورې کړې بلکې لا هم دوی د پخوا په څېر پراخه منظم تشکیلات لري. مولوي هبت‌الله ، په دغه پیغام کې د خپلو پخوانیو مشرانو په پله د قدم ایښودلو ژمنه کړې او ویلي دي، هغوی چې په چا باور درلود ده ته هم د باور وړ دي. هبت‌الله د طالبانو د یو شمیر مشرانو او قوماندانانو له خوا تېره میاشت په پاکستان کې د طالبانو د نوي مشر په توګه د غوره کېدلو وروسته په خپل دغه لومړني پیغام کې په سوله ایزه توګه د افغانستان د کړکیچ هوارولو ته څرګنده اشاره نه ده کړې. خو په افغانستان کې ټول وژنې ته چې نوموړی یې جهاد بولي فرض ګڼلې او ویلي دي چې دله یې د پوځي لارې د دوام ترڅنګ له سیاسي لارې هم د اشغال پای ته رسېدلو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي. که څه هم له دښمن څخه د خیر تمه کول د حماقت کچې اوج ته د رسیدو په معنا دي خو د طالبانو مشر په دغه پیغام کې د خپلو پخوانیو مشرانو پرخلاف د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره خپلو وسله والو ته کومه سپارښتنه نه ده کړې.

ملا هبت الله په دغه پیغام کې په غیر مستقیمه توګه اشاره کوي چې په افغانستان کې به د خپلو تیرو مشرانو په څیر وینې توینډنې، افغان وژنې او قتل وقتال ته ادامه ورکوي او د هغوی پر پل به پل ږدي. دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان په بلوچستان کې د امریکایې بې پیلوټه الوتکې په برید کې د طالب پخواني مشر ملا منصور له وژل کیدو او د نوي مشر په توګه د هبت الله له ټاکل کېدو وروسته په افغانستان کې د دغې ډلې خونړي بریدونه زیات شوي دي. دغه ډله د افغانستان په ډیری ولایتونو کې له افغان امنیتي ځواکونو سره په جګړه کې ښکېله ده او په وروستی یوه میاشت کې یې د پلازمینې کابل په ګډون په جلال آباد او هلمند ولایتونو کې هم خونړیو بریدونو ته دوام ورکړی دی.

پوښتنه دا راپیدا کیږي؛ هغه ملا هبت الله چې په اړه یې ویل کېدل نرم خویه، سوله خوښی او له دیني احکامو خبرداره شخص دی؛ د طالبانو د واکمنۍ پر مهال تر ډیره په قضایې ارګانونو کې پاتې شوی دی او نظامي پوهه نه لري؛ ولې یې په نظر او مفکوره کې ۱۸۰ درجې بدلون راغی او د سولې لارې پر ځای یې بیا هم افغان وژنې او وینې تویدنې ته دوام ورکړ؟

**دا دوه دلیلونه لري**

لومړی : یو نظر دا دی چې په افغانستان کې د جګړې د ګرمېدلو تر شاه په مستقیمه توګه د پاکستان لاس دی او وسله وال طالبان د پاکستان په اشارې افغان وژنې ته دوام ورکړی دی. پاکستان ځکه په افغانستان کې جګړه تودول غواړي چې د طالبانو د نوي مشر ملا هبت الله په تاکل کېدو سره؛ د طالبانو ځینو ډلو د ملا هبت الله له مشرۍ سره اختلاف وښود او د ده ټاکل کېدل یې هم د ملا منصور په شان د پاکستان په خوښه ټاکل کېدل وبلل. پاکستان د دې لپاره چې د طالبانو نوي مشر ته مشروعیت ورکړي او د هبت الله مخالفان سره په یوه خوله کړي. پاکستان اوس په افغانستان کې د جګړې کولو په وسیله د ملا هبت الله په مخالفانو فشار راوړي څو له دوی سره یو ځای شي.

دویم : بل نظر دا دی چې د طالبانو د نوي مشر په توګه ملا هبت الله تش د یو سمبول په شکل د دې په رهبریت کې دی او واک او اختیار او جنګي قومانده ټوله د حقاني ترهګرې ډلې د سرلارې او د هبت الله د مرستیال سراج الدین حقاني په لاس کې ده. او حقاني هغه ترهګره ډله ده چې د مسلمان او کافر تر منځ توپیر نه کوي او آی ایس آی په دستور هر ډول جنایات ترسره کوي. له پخوا هم ویل کېدل چې ملا هبت الله جنګي پوهه نه لري او د طالبانو په رهبریت کې به تش د سمبول په شکل شتون ولري خو جنګي قومانده به د سراج الدین حقاني په لاس کې وي. اوس چې په وروستیو کې په افغانستان کې د دغې ډلې خونړیو بریدونو زور اخیستی دی یو دلیل یې همدا هم کېدای شي چې د طالبانو مشري د هبت الله پر ځای د سراج الدین حقاني په لاس کې وي.

دا چې اوس نوي طالب مشر ملا هبت الله د خپلو پخوانیو مشرانو پر پل د پل ایښودو پریکړه کړې ده؛ داسې ښکاري عزرایل ع ورته د مرګ زیری راوړی دی. په افغانستان کې د افغان وژنې او د روژې په مبارکه میاشت کې د روژه مسلمانانو په شهادت رسولو او همداراز د خدای په کورونو (مسجدونو) کې د جماعت پر محال د مسلمانانو په شهادت رسولو څخه داسې څرګندیږي چې، ډېر ژر دی چې الله ج به د خپلو بې ګناه انسانانو د غچ اخیستنې په بدل کې د دغې انساني قصاب (ملا هبت الله) زوال پیل کړي او د خپل تېر مشر ملا منصور خوا ته به یې ولیږي.

جنګابښ یا سرطان/ 1396

# خونړي بریدونه او جالبه غبرګونونه

تېره ورځ د کابل ښار په ۲۰ کیلومترۍ کې د پغمان ولسوالي ارغندي چوک ته نېږدې په قلعه حیدر سیمه کې؛ له میدانښاره کابل ته د نویو روزل شویو پولیسو د موټرو پر کاروان خونړس برید وشو. د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې په برید کې ۳۳ کسان شهیدان شوي او ۷۹ نور ټپیان دي. د کورنیو چارو وزیر د یادې پېښې د څرنګوالي او څېړنو په موخه دوو کمېسیونونو ته دنده سپارلې ده چې یوه کمېسیون د پېښې څرنګوالی او بل به په راتلونکي کې د دې ډول پېښو د مخنیوي لپاره کار کوي. وسله والو طالبانو د دې پېښې مسوولیت پر غاړه اخیستی دی. دا په نېږدې درې میاشتو کې دریم خونړی برید دی چې په کابل کې ترسره کیږي. څو ورځې وړاندې په کابل کې د نیپالي وګړو پر یوه موټر هم ځانمرګی برید شوی و، چې ۱۶ کسان پکې وژل شوي ول. همداراز له هغې وړاندې د مې د میاشتې په ۲۵مه په پغمان ولسوالي کې د میدان وردک ولایت د محکمې پر مامورینو برید شوی و چې د ۶ ماشومانو په شمول ۱۱ تنه پکې ووژل شول.

## د چارواکو غبرګون

۱ـ ولسمشر: ولسمشر غنی دغه برید پر انسانیت برید بللی او غندلی یې دی. نوموړي ویلي د روژې په مبارکه میاشت کې مسلمانان عبادت کوي، خو طالبان برعکس د خلکو په وژلو او د وېرې او وحشت په خپرولو سره نه بښونکی عمل ترسره کوي.

۲ـ اجرایه ریيس: اجرایه ریيس ډاکټر عبدالله عبدالله یاده پېښه پر کلکو ټکو غندلې او زیاته کړې یې ده چې د هېواد دښمنانو او د پردیو غلامانو یو ځل بیا خپله ظالمانه کړنه ترسره کړه. پر فیسبوک د عبدالله په رسمي پاڼه کې د یادې پېښې اړوند راغلي چې : «لاسپوڅي دښمن د روژې په مبارکه میاشت کې د دا ډول جنایت په ترسره کولو سره په ثبوت ورسوله چې د هیڅ ډول اسلامي او انساني اصولو پابند نه دی. د خدای ج له درباره د دغې دردونکې پېښې شهیدانو ته د جنت او ټپیانو ته د شفا غوښتونکی یم».

## څو پوښتنې چې باید ځواب شي

اوس پوښته پیدا کیږي چې د هېواد د سیاسي مشر په توګه آیا ښاغلي عبدالله ته اوس څرګنده شوه چې وسله وال طالبان او ټول ترهګر چې هیڅ ډول اسلامي او انساني اصولو ته پابند نه دي؟

آیا دېته ورته بریدونه چې په تېر کې په امنیتي ځواکونو او ملکي افغانانو ترسره شوي دي لکه د د مې د میاشتې په ۲۵مه په پغمان ولسوالي کې د میدان وردک ولایت د محکمې پر مامورینو برید، د ورې په ۳۱ مه د ملي امنیت اړوند د ممو څېرو (رجال برجسته) ساتنې ادارې پر کارکوونکو برید چې په کې ۶۴ کسان ووژل شول او ۳۶۷ نور ټپیان شول او یا نور بریدونه؛ آیا د دغه بریدونو ترسره کوونکې د کوم ډول اسلامي او انساني اصولو پابند و؟

همداشان د وسله وال پوځ د اعلی سرقومندان په توګه اشرف غني ته همدا ښايې چې برید وغندي او عاملان يې پر انسانيت برید کوونکي وبلي؟
آیا ولسمشر اوس خبر شو چې طالبان د خلکو په وژلو او د وېرې او وحشت په خپرولو سره نه بخښونکی عمل ترسره کوي؟
آیا ستاسې مسولیت همدومره دی چې بریده په کلکو ټکو وغندئ او عاملان يې د اسلامي او انساني اصولو خلاف وګڼئ؟
آیا د حکومت مسولیت دا دی چې معلوم کړي جنایت او خونړي برید ترسره کوونکي؛ څومره د اسلامي او انساني اصولو پابند دي؟
آیا د حکومت دنده فاتحه اخیستل او شهیدانو ته د جنت غوښتل دي او که د هغه پېښو مخنیوی چې په کې خلک شهیدان او ټپیان کېږي؟
دا به ومنو چې تاسې ته اوس څرګنده شوه چې برید کوونکي او وسله وال د هیڅ ډول اسلامي او انساني اصولو پابند نه دي؛ له دې وروسته به ستاسې مسولیت څه وي؟

## څه کول په کار دي؟

۱ـ دا چې په نېږدیو دریو میاشتو کې یوازې په کابل کې دا دریم خونړی برید دی چې په کې په لسوکونو ملکي او نظامي هېوادوال مو شهیدان کېږي او د امنیتي چارواکي په ځانګړي توګه د کورنیو چارو وزیر صاحب تش په غندنه بسنه کوي او د نورو احتمالي بریدونو د مخنیوي لپاره نه لاس په کار کېږي نو دا په ډاګه کېږي چې ښاغلی د کورنیو چارو وزیر بې کفایته او غیر مسلکي کس دی. باید وزیر صاحب او د کابل ولایت نور اړوند امنیتي چارواکو د یادو بریدونو په مخنیوي کې د پاتې راتلو له امله له دندو ګوښه او د پوښتنو لپاره قضایي او عدلي ارګانونو ته معرفي شي.
۲ـ حکومت په ځانګړي توګه امنیتي سکتور باید له سیاسي او سهامي بنې راووځي او ملي شي.
۳ـ امنیتي لیکې باید چاڼ شي او د دولت په بدنه کې په بېړني توګه د پنځم ستون د تشخیص کولو لپاره باید لازم تدابیر ونیول شي او حکومت سمدستي لاس په کار شي.
۴ـ په امنیتي سکتور کې په بیړني توګه لازم اصلاحات باید راوستل شي. هغوی چې د کومې څوکۍ وړتیا نه لري باید له دندې ګوښه او پر ځای يې وړ او مسلکي اشخاص وګمارل شي.

جنګابښ یا سرطان/ 1396

# د افغانستان په اړه د هیسم نیمګړی راپور

تېره ورځ د ملګروملتونو د امنیت شورا په نیویارک کې د افغانستان د امنیتي وضعې په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړي استازي په تازه رپوټ باندې د بحث په خاطر فوق العاده غونډه وکړه. دا راپور د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي نیکولاس هیسم چمتو کړی و چې په کې په نړیوالې سولې او ثبات باندې د افغانستان د موجوده خرابې امنیتي وضعې د منفي آغیزې او د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې د مذاکراتو د امکاناتو په اړه یادونه شوې ده. که څه هم پر یاد راپور د بحث پر مهال په ملګرو ملتونو کې د افغانستان سفیر محمود سیقل؛ په افغانستان کې د پاکستان د وروستیو پوځي تحرکاتو په اړه وغږېده خو د نیکولاس هیسم په راپور کې داسې څه نه و چې په افغانستان د پاکستان د تېري یادونه په کې شوې وای. نیکولاس هیسم په راپور کې د افغانستان د سولې د څلور اړخیزو له پایلو فقط ناخوښي ښودلې او د له وسله والو طالبانو د پاکستان د ملاتړ په اړه یادونه هم نه ده شوې.

په داسې حال کې د افغان سولې څلور اړخیز ګروپ د غونډو له پیل وړاندې؛ پاکستان اعتراف کړی و چې د وسله والو طالبانو کورونه په پاکستان کې دي او دوی پر یادې ډلې نفوذ لري؛ خو اوس د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي په خپل راپور کې له وسله والو طالبانو د پاکستان له ملاتړه هیڅ یادونه نه ده شوې. همداراز د څلور اړخیزو غونډو پر مهال پاکستان ژمنه کړې وه چې وسله وال طالبان به د خبرو له لارې د مذاکراتو میزته رابولي او که طالب ونه منله نو پر ضد به یې د څلور اړخیز ګروپ له نورو هېوادونو سره په ګډه د طالبانو پر ضد پوځي اقدام کوي. خو اوس چې وسله والو طالبانو له افغان دولت سره د سولې خبرې رد کړي دي نو پاکستان هم چوپه خوله پاتې دی، نه یې وسله وال طالبان د خبرو میز ته کینول او نه یې پر ضد پوځي اقدام وکړو. د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي نیکولاس هیسم له دغې موضوع سترګې پټې کړې دي.

د ترهګرو ډلو سرلاران لکه د القاعده مشر اسامه بن لادن، د طالبانو مشران ملا عمر او ملا منصور په پاکستان کې ووژل شول. نور مشران یې لکه د طالبانو پخوانی مشر ملا منصور په پاکستان کې د طالبانو مشر ټاکل شوی و، همداراز نوی مشر ملا هبت الله هم په پاکستان کې وټاکل شو، د دوی لپاره د بیعت غونډې د پاکستان په ښارونو کې نیول کیږي، ترهګر پالې مدرسې لکه حقانیه دارالعلوم په پاکستان فعالیت لري او د همدې مدرسې لپاره درې میلونه بودیجه د پاکستان حکومت او سیاسي ګوندونو لخوا تصویبیږي، د امریکا د ډرون الوتکې د برید په ترڅ کې د طالب مشر د وژلو په غبرګون کې لاریونونه په پاکستان کې کیږي، له

وسله والو طالبانو سره د القاعده بیعت په پاکستان کې کیږي او همداراز ویل کیږي د القاعده نوی مشر هم په پاکستان کې میشت دی. دغه ټول ترهګر ګروپونه له پاکستانه په افغانستان کې د ورانکارۍ بریدونه پلانوي خو نیکولاس هیسم دا هر څه له یاده ویستي دي.

پاکستان په افغان خاوره ښکاره تیري ته ملا تړلې ده. د نړیوالو قوانینو خلاف له افغانستان سره له صفري نقطو دېخوا د افغانستان په خاوره کې پوځي تاسیسات جوړوي، د تورخم په دوارزه چې له کلونو ـ کلونو پرې د کړښې دواړه غاړې ولسونه پرته له ویزې تګ او راتګ کړی دی؛ اوس پرې د پاکستان لخوا بندیز لګول کیږي، د پکتیکا په برمل ولسوالۍ انګور اډه سیمه کې یې دروازه او پوستې جوړې کړي، همالته شل کیلو متر افغان خاورې ته مخکې راغلی، د ډیورنډ کرښې په شاوخوا کې یې پوځي تاسیسات جوړ کړل، او همداشان تیره ورځ یې د بلوچستان او د افغانستان د کندهار ولایت ترمنځ پر ډیورند کرښه د کندې کیندل بشپړ کړل. دا ټول پر افغان خاوره د پاکستان د تیري ښکاره بیلګې دي. خو نیکولاس هیسم پر افغان خاوره د پاکستان په تیري خوله بنده کړې ده.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا باید د افغانستان او سیمې د امنیت او ټیکاو په خاطر په دغو ټولو مسایلو بحث کړی وای او دا هغه وخت کیدل چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي نیکولاس هیسم په خپل راپور کې دغو ټولو اړخونو ته اشاره کړې وای. خو له بده مرغه چې هیسم دا هر څه له یاده ویستلي دي او د افغانستان د سیاسي، اقتصادي او امنیتي حالت په اړه یې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته نیمګړی راپور وړاندې کړی دی. اوس افغان دولت په ځانګړي توګه په ملګرو ملتونو کې د افغانستان ځانګړي استازي محمود صیقل ته په کار دي چې وپوښتي؛ ولې د افغانستان د حالاتو بشپړ راپور نه و چمتو شوی؟

افغان دولت باید وپوښتي چې نیکولاس هیسم ولې په افغانستان کې د پاکستان په ورانکاریو پرده اچولې ده؟

افغان دولت په دې ځان پوه کړي چې هیسم د کوم مجبوریت له مخې په افغانستان کې د پاکستان له تېري او سپین سترګې سترګې پټې کړې دي؟

جنګاښ یا سرطان/ 1396

# د شهیدو پولیسو روح عدالت غواړي؛

# په دندې ځنډولو بسنه ونه کړئ!

وروسته له هغې چې څو ورځې وړاندې د میدان وردک پولیسو تعلیمي مرکز د فارغانو د کاروان پر بسونو خونړی برید ترسره او په کې ۳۲ تنه شهیدان او په لسګونو نور ټپیان شول؛ ولسمشر غني د کورنیو چارو وزارت د لسو تنو پولیسو دندې ځنډولې دي. په دغو کسانو کې د کورنیو چارو وزارت د اداري معینیت دفتر رئیس او د جلب او جذب عمومي قوماندانۍ سرپرست مل پاسوال محمد حسن عالمي، د جلب او جذب عمومي قوماندانۍ رئیس ارکان مل پاسوال عبدالمجید صافی، د تعلیم او تربیې عمومي قوماندان پاسوال الهام وردک، د تعلیم او تربیې قوماندانۍ مرستیال مل پاسوال سردار محمد کوهدامني او د میدان وردک پولیسو تربیوي مرکز قوماندان مل پاسوال جلالدین رګبار شامل دي. ولسمشر غني د کورنیو چارو وزارت ته لارښوونه کړې چې له دغو کسان وڅاري او د څېړنو له بشپړېدو وروسته دې په دنده کې د بې غوري له کبله دې لویې څارنوالۍ ته ور وپېژني.

اوس پوښتنه دا ده چې د تورنو کسانو د دندو په ځنډولو به یاده قضیه بشپړه شي؟

که پر دغو کسانو لګلېدلي تورونه ثابت شي، له کومې سزا سره به مخ شي؟

او آیا مجرمان به په سزا ورسیږي او که د شهیدو سربازانو له وینو سره به جفا وشي او یاده قضیه به د معاملې ښکار شي؟

په میدان وردک کې د تازه روزل شویو پولیسو د بسونو پر کاروان له خونړي برید وروسته هیله هم همدا وه چې حکومت د کورنیو چارو وزارت یو شمېر پولیس چارواکي مسوول وبولي. ځکه د یاد برید د ترسره کېدو له بنې داسې ښکارېدل چې برید د حکومت دننه د جاسونو نفوذي کړیو له همکارۍ پرته نه دی ترسره شوی. په دې ایزه توګه په یو ملي بس کې له پنځوسو د زیاتو پولیسو انتقال او بیا ملي بس ته د شخصي کسانو راپورته کول، همداشان د یادې پېښې د ترسره کېدو اړوند امنیتي ارګانونو ته د کشفي ارګانونو لخوا مباشت خبرداری ورکولو سره ، سره بیا هم د پیښې د نه مخنیوی؛ هغه څه دي چې په یاده پیښه کې له مخالفینو سره د حکومتي چارواکو پر لاس لرلو دلالت کوي.

همداشان په یاده پېښه کې د حکومت په دننه کې د مخالفینو د نفوذي کسانو د شتون په اړه شکونه په دې هم ډېر دي چې د دې پېښې له ترسره کېدو څو ورځې وړاندې د میدان وردک د امنیه قوماندان په موټر کې د طالبانو یو جنګي قوماندان په داسې حال کې وموندل شو چې له بغلان څخه په ټپي حالت کې کابل ته په

پته ورل کېده. په هر صورت اوس حکومت ته په کار ده چې یاده پېښه په جدي توګه وڅېړي او مجرمان د خلکو د سترګو پر وړاندې علني محکمه شي څو د نورو خلکو لپاره د عبرت درس وګرځي. حکومت باید یوازې د تورنو پولیسو د دندو په ځنډولو بسنه ونه کړي بلکې له مجرمانو دې څېړنې وکړي او هغه پټځمه ستن پیدا کړي چې د حکومت په څوکۍ ناست او د حکومت مخالف لپاره کار کوي. حکومت باید د دغې پېښې د حقیقت موندونکې پلاوي څېړنې په هر اړخیزه توګه واروزوي څو د حقیقت موندلو پر ځای؛ حقیقت پټونه ونه کړي.

اوس خلک په میدان وردګ کې د تازه روزل شویو پولیسو د بسونو پر کاروان له خونړي برید وروسته؛ د حکومت لخوا د حقیقت موندونکي پلاوي څېړنو ته اندېښمن دي او وایې داسې نه شي چې د نورو پېښو د حقیقت موندونکو پلاوو د څېړنو د پایلو په څېر؛ د دغې خونړۍ پېښې د څېړنې پایلې له خلکو پټې او د شهیدو پولیسو له وینو سره جفا ونه شي. خلک د دغې پېښې د پلټونکې کمېسیون څېړنو ته ځکه اندېښمن دي چې په تېر کې د کندز د سقوط، د کابل ښار د رجال برجسته پر ریاست د برید او دیته ورته د لسګونو نورو پېښو د حقیقت موندونکو پلاوو د څېړنو پایله هغه شان نه وه چې ولس ترې تمه درلوده. خلک وایې حکومت تر ډېره د ترسره شویو پېښو اړوند د ولس د غبرګون د دفع کولو لپاره په لومړیو کې حقیقت موندونکی پلاوی ټاکي خو وروسته بیا د پلاوو د څېړنې پایلې د ولس د هیلو خلاف وي.

همداراز ولسمشر غني باید د حقیقت موندونکي پلاوي د څېړنو له هر اړخیزې ارزونې وروسته تورن کسان عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي کړي او محکمه باید مجرمان په علني توګه د خلکو او رسنیو د سترګو پر وړاندې محکمه کړي. له دې ورهاخوا حکومت ته په کار ده چې لاس تر ځنې کښې نني او هر څه په همدې ځای پایته ونه رسوي. حکومت باید د امنیتي ځواکونو لیکې چاڼ کړي او هغه پټځم ستون په نښه او د قانون منګولو ته وسپاري چې کلونه ــ کلونه یې د ولس په وینو سوداګري کړې ده.

جنګابښ یا سرطان/ 1396

# د طالب په خوله کې د سرتاج عزیز ژبه

وروسته له هغې چې د پاکستان د لومړي وزیز سلاکار سرتاج عزیز وویل چې طالبان په افغانستان کې جنګ ته ادامه ورکوي؛ اوس وسله والو طالبانو هم د اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې د سولې خبرې بې معنا او د وخت ضایع کول دي. د دې ډلې ویاند زبیح الله مجاهد په اعلامیه کې ویلي؛ تر هغو چې بهرني ځواکونه په افغانستان کې میشت وي؛ د سولې خبرې معنا نه لري. طالب ویاند ویلي افغان حکومت خپل وخت ضایع کوي او له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو پرته سوله هیڅ مفهوم نه لري. طالبان دا خبرې په داسې محال کې کوي چې په تازه څرګندونو کې د پاکستان د لومړي وزیر د بهرنیو اړیکو سلاکار سرتاج عزیز ویلي و چې طالبان په افغانستان کې خپلې جګړې ته دوام ورکوي. نوموړي ویلي و که طالبان ونه توانیږي چې د افغانستان پلازمینه کابل ونیسي خو د دې وړتیا لري چې جګړې ته دوام ورکړي.

پوښتنه دلته پیدا کیږي چې د سرتاج عزیز له څرګندونو وروسته ولې طالب هم په ورته موقف ورته څرګندونې کوي؟

دلته پاکستان په یو غشي دوه ښکاره کوي. غشی یې طالب او ښکار یې افغان دولت او امریکا ده. اوس د طالبانو په وسیله هم له افغان حکومت او هم له امریکا باج کیږي کوي. تاسې ته پته ده چې په وروستیو کې پاکستان سره یې د خپل لوی مرسته کوونکي هېواد اړیکې ترینګلې شوې. د راپورونو له مخې د پاکستان او امریکا تر منځ په اوړو کې شکه پیدا شوې ده. څه موده وړاندې د پاکستان بهرنیو چارو سلاکار سرتاج عزیز د پاکستان مشرانو جرګې ته د امریکا او پاکستان د اړیکو په اړه  وویل، چې د امریکا له لوري د ایف ۱۶ الوتکو په پېرلو کې د مالي مرستو د بندیز له امله له تېرو درې میاشتو راهیسې د پاکستان او امریکا اړیکې ترینګلې دي. همداشان په وروستیو کې پاکستان د جاسوسی په تور د نیول شوي ډاکټر شکیل افریدي په اړه د امریکایي حکومت او کانګریس غوښتنې رد کړي چې دې کار هم د امریکا او پاکستان تر منځ په اړیکو کې درځ پیدا کړی دی. بل پلو امریکایي کارپوهان او رسنۍ هم په وروستیو کې له هر ډول دلیل پرته پر پاکستان د طالبانو د ملاتړ تورونه لګوي. دا ټول هغه څه دي چې د پاکستان او امریکا اړیکې یې خشنې کړې دي.

اوس پاکستان غواړي چې د طالب په ورته څرګندونو سره په افغانستان کې د امریکا شتون چلینج کړي. په پرله پسې توګه په پاکستان کې د طالب مشرانو وژل کېدو ټولې نړۍ ته څرګنده کړه چې طالب خپلواک نه

دی بلکې په غاړه کې د پاکستان د آی ایس آی ځنځیر او په خوله کې د پاکستاني پوځ ژبه لري. هغه څه چې ورته د آی ایس آی او پوځ لخوا امر کیږي؛ دغه ډله یې پر ځای کوي. اوس پاکستان د دې لپاره چې امریکا ته په افغانستان کې خپل زور وښایې او دیته اړه کړي چې له پاکستان سره خپله پخوانۍ یارانه بیا شروع کړي؛ دلته په افغانستان کې یې د طالب په ذریعه شتون ننکوي. یعنې د طالب ویاند وروستۍ څرګندوني په مستقیمه توګه د سرتاج عزیز او د پاکستان حکومت له دریځ سره اړخ لګوي.

د پاکستان بل ښکار چې د طالب د غشي په وسیله یې په نښه کوي هغه افغان حکومت دی. په تورخم کې د پاکستان له شرموونکې ماتې وروسته اوس دغه هېواد قصد کړی دی چې خپل غچ په هره طریقه چې وي؛ له افغان حکومته واخلي. د پاکستان پالیسي دا ده چې پر طالب او ترهګرو د نفوذ درلودلو او بیا دغه ډله سولې ته د حاضرولو په نوم هم له افغانستانه امتیاز ترلاسه کوي او هم د افغان سولې سره د مرستې په نوم له نړۍ پیسې شکوي.

همداراز سرتاج عزیز په وروستیو څرګندونو کې دا هم ویلي که طالبان ونه توانېږي چې د افغانستان پلازمینه کابل ونیسي خو د دې وړتیا لري چې جګړې ته دوام ورکړي. دا په خپل د دې معنا لري چې طالب که هر جرم او جنایت کوي د پاکستان په امر یې کوي. که اوس په افغانستان کې طالبانو د سولې خبرې رد کړي او د جنګ خبره یې کړې ده نو دا یې هم د پاکستان په امر او اشاره دا موقف نیولی دی. له همدې څرګندیږي چې طالب خپلواک نه دی او هیڅکله به هم د پاکستان له امر او اجازې پرته سولې ته غاړه کېښږدي. افغان دولت دې د سولې لپاره د طالب شاه نه نیسي بلکې له نړیوالو چینلو دې پر پاکستان فشار راوړي چې د طالب له غاړې د غلامۍ ځنځیر لرې او خپلواک یې کړي. کله چې طالب خپلواک شو نو بیا ورسره سوله ممکنه ده. له دې پرته په رښتیا هم سوله د وخت ضایع کول دي.

جنګاښ یا سرطان/ 1396

# د غني؛ غني کړنې

نیوکه او انتقاد د هر انسان طبیعي حق دی، د بیان آزادي هر انسان لري او هر څوک کولی شي چې د اصلاح لپاره نور خلک د هغوی اشتباهاتو ته متوجه کړي. خو نیوکه او د بیان آزادي خپل اصول لري، خپل حد لري او یو ځانګړی چوکاټ لري. نیوکه باید د اصلاح لپاره وي، پر بل چا د نیوکې لپاره باید نیوکه کوونکی شواهد او اسناد ولري، نیوکه کوونکی باید د نیوکې تر څنګ د یادې ستونزې (هغه چې پرې نیوکه کوي) د حل لپاره لار ولري. او نیوکه باید د نورو د تحقیر او سپکاوي لپاره نه وي. همداسې د بیان آزادي هم دېته ورته قانون لري. خو له بده مرغه په افغانستان کې دا هر څه سرچپه دي. دلته د بیان له آزادۍ څخه د شخصي کنتو پر اساس تعبیر کیږي، دلته نیوکه د بل د تحقیر او کمزوري ښودلو لپاره ترسره کیږي او دلته تر ډېره نیوکه کوونکی د هغې ستونزې چې پرې نیوکه کوي؛ د حل لپاره لاره نه لري.

خبره په افغانستان کې د ملي یووالي د حکومت او د حکومت له ځینو منتقدینو پورې رایاده شوه. دلته چې کله د ملي یووالي د حکومت یو کال پوره شو نو د حکومت ځینې موقع پلټونکي منتقدین راپورته شول او پر حکومت یې د بې کفایتۍ تور پورې کړ. افغان حکومت یې داسې یو کمزوری حکومت خلکو ته وروپېژندو چې ګویا د نفوذ ساحه یې یوازې تر ارګ پورې محدوده ده. پر اشرف غني یې تور پورې کاوه چې خلک یې په خپلو پستو خبرو دوکه کړل، له خلکو یې رایه ترلاسه کړه او اوس نور د خلکو په غم کې نه دی. دا سمه ده هر حکومت چې کله نوی جوړ شي نو ځینې نیمګړتیاوې لري او د ملي یووالي حکومت هم له دغه امره مستثنا نه و. د اشرف غني او عبدالله حکومت هغه څه چې خلکو ته یې ژمنې کړې وې په یو کال کې پوره نه شوې کړای. د حکومت په نیمګړتیاوو هم باید سترګې پټې نه شي. ما هم په همدې حکومت ډیرې نیوکې کړي دي خو نیوکې باید داسې نه وي چې په کال کې د ترسره کیدونکي کار باندې له دې عمله نیوکه وشي چې ولې په میاشت کې ترسره نه شو. او حقیقت دا دی چې د حکومت ډیری منتقدین همدا ډله کسان و چې په میاشت کې د په کال کې د ترسره کیدونکي کار د ترسره کولو غوښتنه کوله.

مثلاً هغه محال خلکو په حکومت نیوکه کوله چې حکومت خپلې ژمنې پوره نه کړلې، حکومت د خلکو له دسترخوانه ډوډۍ واخیسته او حکومت د پرمختګ پر لور یو ګام هم وانخیست. سمه ده چې حکومت په یو شمیر هغو ژمنو کې چې باید په یو کال کې یې پوره کړی وای؛ پاتې راغی خو یو شمیر داسې ژمنې هم وې

چې ترسره کېدل یې په یو کال کې ناشوني و. دا د هېواد د پرمختګ لپاره د بنسټیزو پروژو د کار پیل او یا کښې اخیستې ته سپارل و. د دې ژمنو د پوره کېدو وخت اوس راغی او له نیکه مرغه مونږه او تاسې وینو چې ځینې یې پوره شوې، ځینې د پوره کېدو په حال کې دي او ځینې به په راتلونکو کلونو کې پوره شي. د بېلګې په توګه یې په وروستیو کې ځینو لویو اقتصادي پروژو بشپړېدلو، پر دغو پروژو د کار د شروع کېدلو او یا په نیږې راتلونکې کې کښې اخیستنې ته د سپارلو ته اشاره کوم.

۱ـ د تاپي د کازو د نللیکي پروژې پرانیستل چې له مخې یې د ترکمنستان ګاز په یوه نل لیکه کې د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته انتقالیږي. د دغې پروژې په کښې اخیستنې سره به افغانستان کې هر کال ۱۲ زره خلکو ته د کار زمینه برابره شي. دولت به مو د دې پروژې د عاید له امله خودکفا شي.

۲ـ د سلما بند پرانیستل چې د افغانستان تر ټولو ستره بنسټیزه پروژه ده. دا پروژه د برېښنا د تولید او د کرهنیزو ځمکو د خوړوبولو له امله له خورا اهمیته ډکه ده. افغانستان به په دې سره وکولای شي چې خپلې اوبه کنټرول کړي. همدا ډول د هرات لپاره به دوه څلوېښت میګا واټه برېښنا تولید کړي.

۳ـ د چابهار بندر سوداګریزه او ترانزیټي پروژې د هوکړه لیک لاسلیک کېدل. دا هغه پروژه ده چې د سیمې هېوادونو لپاره یې د افغانستان ارزښت لا هم لوړ کړ. د دغې بندر په پرانیستې سره به افغانستان د سیمې او نړۍ له لویو هېوادونو سره وصل شي او سوداګریزه راکړه ورکړه به پیدا کړي.

۴ـ افغانستان د سټندرد ملي نښان خاوند شو. له دې وروسته به د افغانستان سوداګریز توکي د خپل سټندرد نښان په درلودلو سره نړیوالو بازارونو ته صادریږي. له دې مخکې به د افغانستان سوداګریز توکي نړیوالو بازارونو ته د سټندرد ملي نښان له موجودیت پرته لېږدول کېدل. په تېرو څو کلونو کې افغان سوداګرو د سټندرد ملي نښان د نشتوالي له امله نه شوای کولای، چې له بهرنیو سوداګریزو توکو سره سیالي وکړي.

۵ـ د اسیا د پانګونې بانک د غړیتوب د ترلاسه کولو د افغان دولت هڅې. د افغانستان د مالیې وزارت چارواکي وایي هڅې کوي چې د اسیا د پانګونکې بانک غړیتوب ترلاسه کړي. د آسیا د پانګونې بانک په غړو هېوادونو کې د اقتصادي زیربناو پر غښتلتیا پانګونه کوي او افغان حکومت هم غواړي چې خپلې اقتصادي زیربناوې فعاله او پیاوړې کړي.

۶ـ د فراه ولایت د بخش اباد د اوبو بند د جوړولو هڅې. افغان حکومت پتیلې ده چې دغه بند جوړ او کټې اخیستنې ته وسپاري. د معلوماتو له مخې دغه بند به د هرات د سلما نوي جوړي شوي بند په پرتله د اوبو ذخیره کولو دوه چنده زیات ظرفیت ولري. دغه بند به د ۲۷ میګاواټو بریښنا د تولید ظرفیت ولري. د راپورونو له مخې دغه بند به د ۱۳۶۰ میلیونه مترمکعب اوبو د ذخیره کولو ظرفیت ولري.

۷ـ د آقینې بندر د اوسپنې پټلۍ د پرانیستې هڅې. ارګ وایې ولسمشر غني به په راتلونکې میاشت کې ترکمنستان ته ولاړ شي او هلته به د آقینې بندر د اوسپنې پټلۍ پرانیزي. همدا ډول ټاکل شوې ده چې ولسمشر به ترکمنستان ته په همدې سفر کې له ترکمني چارواکو سره د لاجوردو ترانزیتي هوکړه لیک هم لاسلیک کړي. که دا دواړه کاره ترسره شي نو افغانستان به له نړۍ سره د اړیکو ټینګولو نوی باب پرانیزي.

همدغه ډول د ولسمشر غني د حکومت تقریباً دوه کاله تیر شوي او درې کاله لا نور هم پاتې دي. ولس دې له حکومت د خپلو هیلو مراندې نه پرې کوي. یو ځل بیا هم وایم ځینې داسې کارونه شته چې وخت ته اړتیا لري او ان شاالله که د حکومت ملاتړ وشي او پرې فشار راوړل شي نو که د ملي یووالي حکومت هر څومره بې کفایته هم وي؛ خپلې ژمنې به پوره کوي. د صبر مېوه خوږه وي او ولس باید له پوره حوصلې کار واخلي.

**جنګابن یا سرطان/ 1396**

# د ناټو پنځه میلیارد ډالره څنګه مصرف کړو؟

د پولینډ په پلازمینه وارسا کې د ناټو سرمشریزې دوه ورځنی کنفرانس پایته ورسېد. دغه کنفرانس د افغانستان لپاره په دې خاطر مهم و چې په ترڅ کې یې له افغانستان سره پوځي او اقتصادي مرستو ژمنې کېدلې. د دې تر څنګ له دغه کنفرانسه د افغانستان بله لویه هیله دا وه چې د هوایي ځواکونو د پراختیا او پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ مرسته ورسره وشي. د معمول سره سم د ناټو غړیو هېوادونو له افغانستان سره تر راتلونکو درېو میلادي کلونو لپاره؛ هر کال پنځه میلیارده ډالره نغدي مرستې ژمنه وکړه څو افغان حکومت ترې د پوځي ځواک په ساتلو کې ګټه واخلي.
په دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان د خپلو امنیتي ځواکونو د تجهیز او پیاوړتیا لپاره د ناټو مرستو ته ډېره اړتیا لري او ناټو هم په دغه وارسا کنفرانس کې له افغانستان سره د مرستو ژمنه و کړه خو دا مرستې هغه نه دي چې په اساسي ډول افغان امنیتي ځواک د سیمې په کچه په پیاوړي ځواک بدل کړي. ناټو له افغانستان سره یوازې نغدي مرستې ژمنه وکړه او هغه هیله چې د امنیتي ځواکونو د هوایې ځواک تجهیز او پیاوړتیا په برخه کې ترې افغان ولس او ولسمشر درلوده؛ پوره نه شوه. اړتیا دا وه چې د ناټو غړیو هېوادونو د افغانستان هوایې ځواک تجهیز او پیاوړی کړی وای چې له دښمن سره مقابله یې لا هم اغیزمنه شوې وای. خو په وارسا کې د افغانستان دې غوښتنې ته منفي ځواب وویل شو.
له افغانستان سره د ناټو د نغدي مرستو په هکله ممکن ځینې خلک داسې فکر وکړي چې افغانستان باید د ناټو په دغې نغدي مرستې چې د درېو کلونو لپاره؛ هر کال پنځه میلیارده ډالره ده؛ له دغو پیسو د هوایې ځواک په پیاوړي کولو کې ګټه واخلي او پرې له روسیې، چین، هند او یا شمالي کوریا څخه د هوایې ځواک د پیاوړي کولو لپاره الوتکې او نور تجهیزات راونیسي؛ خو دلته مهمه خبره د سیالو هېوادونو تر منځ نړیوال رقابت دی. له دغو هېوادونو لکه امریکا، روسیه، چین، هند او شمالي کوریا؛ سره اړیکې ساتل د افغانستان یوه اړتیا ده ځکه د دوی په مرستو متکې دي. آیا دغه نړیوال سیال هېوادونه چې هر یو یې ابر ځواک دي او یا د ابر ځواکۍ لپاره په خپل منځي رقابت بوخت دي؛ افغانستان ته به اجازه ورکړي چې د هغوی له رقیب هېواد څخه پوځي مرستې او اسلحه ترلاسه کړي؟
په اوس وخت کې افغانستان د نړۍ د ټولو لویو قدرتونو او سیالو هېوادونو سره اړیکو ساتلو او د هغوی مرستې ته سخته اړتیا لري خو آیا افغانستان به د دوی تر منځ په اړیکو کې تعادل ثابت وساتلی شي؟

اوس چې سیال هېوادونه لکه د سرې جګړې په شان له افغانستانه د خپلو سیالو د ډکر په توګه کټه اخلي؛ آیا افغانستان به  د دغو هېوادونو تر منځ خپله خپلواکې وساتلی شي؟
په تېر کې هم د ناټو او نور هېوادو له خوا له افغانستان سره پوځي مرستې شوې دي آن دا چې ناټو په تېر کې هم د افغان امنیتي ځواکونو تمویل او تجهیز په غاړه درلود خو د دوی مرستې په داسې شکل په مصرف ونه لګېدلې چې په اساسي توګه د امنیتي ځواک په پیاوړتیا کې اغېزمن واقع شوې وي. دغه مرستې څه شخصي جېبونو ته ورغلې، څه له بهره په ناکاره او کباړ پوځي توکو ولګول شوې او څه د کورنیو او بهرنیو سلاکارانو په معاشونو مصرف شوې. اوس مهمه دا ده چې دغه تازه پنځه میلیارد ډالري مرسته څنګه باید ولګول شي څو په سمه توګه ترې د امنیتي ځواک په پیاوړتیا کې کټه واخیستل شي؟
افغان حکومت باید په دغو پیسو په کور دننه په کم لګښت د امنیتي ځواک د تجهیز لپاره؛ له نورو هېوادونو پوځي ټکنالوژي ترلاسه کړي. ځکه تېرې تجربې وښوده چې له بهره پوځي وسله رانیول که هغه یوه عادي تفنګچه هم وي؛ په زرګونو ډالره لګښت لري. که پوځي ټکنالوژي کور ته راوړل شي او دغه توکي په کور دننه برابر شي نو یو به مو د نړۍ د سیالو هېوادونو تر منځ په اړیکو کې برابروالی په نظر کې نیولی وي او بل به مو په مرسته شویو پیسو د امنیتي ځواک د پیاوړتیا لپاره په کم لګښت ډېر تجهیزات جوړ کړي وي.

جنګابښ یا سرطان/ 1396

# داعش په ننګرهار کې نن او پرون

په ننګرهار کې د کوټ د جګړې درېیمه ورځ ده خو لاهم وضعیت خطرناک دی او سلګونو کورنیو خپلې کډې خوندي سیمو ته وړي او لاهم رواني دي. د ننګرهار سیمه ییز چارواکي وايي چې داعش وسله والو د اتو ملکي وګړو د وژنې تر څنګ ۳۰یې ژوندي وړي دي. د چارواکو په وینا د کوټ جګړه د داعش ډلې یو رهبر سعد امارتي په مشرۍ نژدې شپږ سوو وسله والو پیل کړې ده. چارواکي وايي داعش په سیمه کې د خلکو دروېشت کورونه سوځولي او کڼ مالي زیانونه یې اړولي دي. په همدې حال کې افغان حکومت وایې چې امنیتي ځواکونو د داعش ډلې سرچینې، رهبران او د روزنې ډېر مرکزونه له منځه وړي او زرګونه داعشیان وژل شوي او ټپیان شوي دي.

دا لومړی ځل نه دی چې داعش په ننګرهار کې وحشت ترسره کوي؛ بلکې له دې وړاندې هم د تېر کال په لړم او لیندۍ میاشتو کې په ننګرهار کې د داعش وحشت اوج ته رسیدلی و. په هاغه محال یې هم د عامو خلکو کورونو ته اور اچولی و، ماشومان یې په منځ دوه ټوټې کړي وو او سپین ږیري او ځوانان یې ژوندي په بمونو الوزولي و او اوس یې هم د خلکو کورونه سوځولي، میرمنې او ماشومان یې وژلي او ځوانان یې له ځان سره برمته کړي دي.

افغان حکومت په هغه محال هم د داعش پر ضد د مبارزې او ورته د درنې مرګ ژوبلې خبره کوله او نن هم ورته د درانه زیان د اوښتو ادعا لري. تېر کال افغان حکومت په اچین او شینوارو کې داعشیانو ته ماتې ورکړه، سیمې یې ورڅخه ونیولې. ځینې داعشیان له ډیورند بیرته خپلې اصلي سیمې ته واوښتل او ځینې نور بیا په غرونو کې پټ شول. خو دا دی یو ځل بیا د ننګرهار په کوټ کې د دغې افراطي ډلې د ظلم او بربریت خبرونه ورکول کیږي. اوس اساسي پوښتنه دا ده چې په ننګرهار کې له ځپلو وروسته ولې یو ځل بیا دغې ډلې سر راپورته کړ؟

## دا چې یو ځل بیا ولې په ننګرهار د داعش ناتار ګډ شو؛ زیات دلیلونه لري:

۱ـ د حکومت له لوري د هېواد د شمال په نا امنیو تمرکز او ننګرهار له یاده ویستل: هاغه محال د هېواد په شمال کې په افغان امنیتي ځواکونو د طالب هجوم زیات او افغان حکومت له طالب سره په جګړه بوخت و نو ختیځو ولایتونو په ځانګړي توګه ننګرهار ته د داعش خطر یې له یاده ویستی و. په پایله کې داعش ځان منسجم کړ او دا دی وینو چې یو ځل بیا یې فرصت ترلاسه کړ او وحشت یې پیل کړ.

۲ـ د حکومت له لوري د داعش زیان نادیده نیول: هغه مهال چې ننګرهاریانو د داعش د احتمالي خطر اړوند غبږ پورته کړ، حکومت د افغانستان لپاره د داعش خطر کم ګڼلو. دوی فکر کولو چې دا یوه کوچنۍ ډله ده او هر وخت چې وغواړي په اسانۍ یې له منځه وړلی شي.

۳ـ د حکومت له لوري داعش د طالب د تضعیف د فکتور په توګه انګیرل: لکه څرنګه چې طالب او داعش ایډیالوژیک دښمنان دي او په لومړیو کې یې تر منځ د جګړې راپورونه هم ورکړل شول نو حکومت فکر وکړ چې داعش یوازې د طالب دښمن دی او پرېږده چې دښمن په دښمن ووهل شي.

۴ـ د حکومت له لوري له جګړې وروسته له داعشه نیول شویو سیمو ناسم مدیریت: کله چې په ننګرهار کې د داعش وحشت او ج ته ورسېد او خلک یې په بمونو والوزول او کوچنیان یې په منځ دوه ټوټې کړل نو حکومت هم تکان وخوړ او پر ضد یې اقدام وکړ. په پایله کې یې داعش ته درانه زیانونه واړول او سیمې یې ترې پاکې کړې خو له داعشه نیول شویو سیمو مدیریت یې سم ونکړ او بېرته یې پاڅونوالو ته پرېښودې. د پاڅونوالو ملاتړ یې هم ونکړ او پایله یې دا شوه چې داعش له پاڅوانوالو او ځایي خلکو څخه خپل غچ واخیست.

۵ـ د خلافت غږ راډیو فعالیت: هاغه مهال په ننګرهار کې له نامالوم ځای نه د «خلافت غږ» په نوم د داعش ډلې راډیو فعاله وه، چې د مرکز جلال آباد په شمول، د ننګرهار په نورو ولسوالیو کې یې نشرات درلودل. داعش به د دغه راډیو له لارې خلکو ته بلنه ورکوله، چې د دوی ملاتړ وکړي او طالبانو تر څنګ د حکومت پر ضد راپورته شي. هماغه و چې ځوانان یې د تبلیغ تر اغېز لاندې راغلل او ډېری ورسره یو ځای شول چې د داعش لیکې پرې پیاوړې شوې او اوس یې پر خلکو وحشت خپور کړ.

## څه کول په کار دي؟

لومړی خو حکومت باید د ننګرهار د امنیت اړوند د والي او امنیه قوماندان په ګډون له ټولو امنیتي چارواکو د خپلې ناغېړۍ او د داعش د پرمختک اړوند وضاحت وغواړي. بیا دې د والي او امنیه قوماندان تر څنګ په خپله دنده کې ټول غافله چارواکي له دندو ګوښه کړي. حکومت باید د ننګرهار په امنیتي تشکیلاتو کې جدي بدلون راولي. حکومت ته په کار دي چې د امریکایي او افغان ځواکونو په همغږۍ د داعش پر ضد ګډ عملیات وکړي. هغه سیمې چې له داعشه نیول شوې دي او یا هم نیول کیږي؛ بېرته په یوازې ځان پاڅونوالو ته پرېنږدي بلکې په یادو سیمو کې د افغان امنیتي ځواکونو شمېر زیات کړي.

جنګاښ یا سرطان/ 1396

# کور خود بینای مردم

## مونږ ولې ځان ته ړانده، نورو ته بینا یو؟

تېره شپه د ترکیې د پوځ یو شمېر جنرالانو او لوړپوړو افسرانو په داسې حال کې کودتا وکړه، چې ولسمشر طیب اردوغان له هېواده بهر و؛ دغه کودتا وروسته له هغه ناکامه شوه، چې اردوغان د موبایل ویډیو له لارې پر خلکو غږ وکړ، چې د کودتاچیانو پر ضد راپاڅېږي. د ترکیې د کودتا د خبر خپرېدلو سره سم افغانان په ځانکړي توګه د ټولنیزې میډیا کاروونکي هیښ شول، چا د اردوغان په ملاتړ او چا د کودتاچیانو په ملاتړ تبلیغات پیل کړل، چا د اردوغان انځورونه په خپلو پروفایلونو ولګول او چا د ترکیې بیرغ، چا د اردوغان د حکومت په ملاتړ دعاګانې کولې او چا یې د حکومت د پرځولو لپاره دعاګانې. خو په ټوله کې ټول افغانان په یوه بهرنۍ موضوع چې افغانستان ته یې هیڅ خیر نه رسیږي؛ سره وویشل شول.

دا لومړی ځل نه دی چې افغانان خپل مري په تخته پرېږدي او د بل چا جنازې ته ځانونه رسوي بلکې له دې وړاندې هم د پردیو هېوادونو پر اشخاصو او ګوندونو سره پاشل شوي دي. زمونږ افغانانو تل خپل رهبر، خپل اساسي قانون، خپلې ملي کتمې، خپل امنیت، خپل ملي نښان، خپل هویت، خپل بیرغ، خپل ملي ارزښتونه، خپل ملي غرور، خپل نظام او خپله ځمکنۍ بشپړتیا له پامه غورځولې او نورو ته مو ځانونه وفاداره ثابت کړي دي. دا څه معنا لري چې د خپل ځان لپاره ړانده و اوسو او د نورو لپاره مو سترګې غړیدلې وي؟ تاسې پوهیږئ خپل ملي هویت، نظام او قانون هیرول او د نورو بیرغونه پورته کول څه معنا لري؟

په نورو هېوادونو کې که څوک د بل هېواد یا د بل هېواد د مشرانو انځورونه په پروفایل وتومبي؛ دغه کار ته د ملي خیانت په سترګه ګوري. په همدې ترکیه کې؛ ترکان هغه چا ته چې د بل هېواد د ولسمشر انځور پر خپل پروفایل ولګوي؛ خاین، سپک او شرمېدلی یې بولي. اصلاً ترکیه د افغانانو همدردۍ ته اړتیا نه لري بلکې لا به ورته افغانان بې فرهنګه، بې قانونه او خپلو ملي کتو ته خاینو خلکو په توګه څرګند شي. یوازې ترکیه نه ده چې افغانان یې پر سر په دوه ډلو وویشل شول؛ بلکې دلته داسې خلک هم شته چې د نورو هېوادونو د مشرانو لمانځغونډې نیسي. دلته د خمینې لپاره جشنواره جوړیږي، لمانځل کیږي او په ملاتړ یې شعارونه ورکول کیږي. دلته د پاکستان له ځینو خلکو قدرداني کیږي او ورځې یې لمانځل کیږي.

له شک پرته چې د بیان آزادي د هر انسان حق دی، هر څوک کولی شي چې د یو چا، سیمې او پېښې اړوند د خپلې مفکورې مطابق د نظر څرګندونه وکړي، د بشري اصولو له مخې هر څوک له هر بشر سره غم شریکې او ملاتړ کولی شي او همداشان هیڅوک د هیچا د نظریې مخنیوی نه شي کولی. خو ځینې سرې کرښې هم شته چې باید ترې پښې وانه اړول شي. د هر هېواد ولس لپاره د هماغه هېواد ملي هویت، ولسمشر، اساسي قانون، ملي بیرغ، ځمکنۍ بشپړتیا او نظام د سرو کرښو په توګه مطرح وي او ټول ولس ورته درناوی لري. خو له بده مرغه چې دلته په افغانستان کې ځینې شته چې حتی له خپلو ملي ارزښتونو څخه خبر هم نه وي خو په بهرنیو مسالو کې به موضع ګیري کوي، دلته داسې خلک شته چې د کور ګاونډی به یې له لوږې مري خو دا به د فلسطین او سوریې غریبانو سره همدردي کوي، دلته داسې خلک هم شته چې د خپل ولسمشر سپکاوي ته یې متې بډوهلي وي خو د نورو هېوادونو د ولسمشرانو په ملاتړ به دریځونه نیسي او شعارونه ورکوي.

د خدای لپاره له څراغ لاندې تورتم مه جوړوئ، دیته اړتیا نشته چې د نړۍ له بل مسلمان سره همدردي وکړئ او خپل مسلمان ګاونډی ورور په لوږه او سخته کې چې مري له حاله یې خبر نه اوسئ. دیته اړتیا نشته چې د خپل ولسمشر، اساسي قانون، ملي بیرغ، ملي وقار، ملي غرور، ملي هویت، ځمکنۍ بشپړتیا، نظام او فرهنګ سپکاوی وکړو او د نورو هېوادونو د فرهنګ او اشخاصو لپاره نمانځغونډې ونیسو.

جنکابښ یا سرطان/ 1396

# نور صبر د څه لپاره؟

د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل ځیني اسناد او شواهد له یوې لیکنې سره یو ځای د رسنیو په واک کې ورکړي چې له حقاني ډلې او طالبانو سره د پاکستان د پوځ او استخباراتي ادارې اړیکې ثابتوي. ښاغلي نبیل په دې لیکنه کې ویلي، پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د تیري پر مهال دغه هېواد د افغانستان د مجاهدینو د سمبالښت په پلمه د امریکا په مرسته خپل پوځ تجهیز کړ او د وسله والو د جذب، ښوونې او روزنې او د افغانستان جهاد د پیاوړتیا په نوم یې د زرګونو دیني مدرسو بنسټ کېښود. نبیل ویلي چې په پاکستان کې تر ۱۵۰۰۰۰ ډېرې دیني مدرسې چې ډېری یې د افراطي اسلام او تاوتریخوالي په ترویج بوختې دي، فعالې دي، دغه راز ۵۱ ترهګرې ډلې په دغه هېواد کې فعالې دي او له یادو مدرسو وسله وال جذبوي.

د ښاغلي نبیل ادعا په پوره معنا پر ځای ده چې په پاکستان کې له پنځوسو زیاتې ترهګرې ډلې شتون لري چې له مدرسو ترهګر جذبوي. د معلوماتو له مخې په پاکستان کې د حقاني ترهګرې ډلې په شمول؛ ډېری نورې خطرناکې ډلې لکه د لشکر طیبه، جیش الاسلام، جیش المحمد، تحریک طالبان پاکستان یا تي تي پي، د ملا نذیر ډله، حرکت المجاهدین او ځینې نورې ډلې فعالې دي چې په پاکستان کې تمویل، تجهیز او پلان ورکول کیږي څو په افغانستان او د سیمې په نورو هېوادونو کې د پاکستان په ګټه ورانکاري وکړي.

په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنو د ثبوت دغه اسناد هم عادي اسناد نه دي بلکې د پاکستان د استخباراتي ادارو هغه رسمي لیکونه دي چې پخپلو منځو کې یې تبادله کړي او په هغه کې یې د حقاني شبکې د غړو د ساتنې او امنیت په اړه خپلو نورو څانګو ته لارښوونې کړې دي. په دې اسنادو کې داسې اسناد هم شته چې د کابل په هوایي ډګر د برید طراحانو ته پکې د آی ایس آی له لورې تر دوه نیم میلیونو پاکستانیو کلدارو جایزه ورکړل شوې ده.

همداشان له دې وړاندې د افغانستان او په نړیوال سیاست کې څو نورو مشهورو څېرو هم د پاکستان د منزوي کیدو لپاره پوره ونډه اخیستې ده. د امریکا د کانګرس د بهرنیو اړیکو کمېټې ته د ډاکټر زلمي خلیلزاد څرګندونې او په تړله کې د پاکستان خلاف وروستی درېځ یې، د ملګرو ملتونو د جګپوړی کارپوه وحیدالله وحید څرګندونې ویلي و چې لویدیځ هېوادونه، په ځانګړې توګه امریکا تصمیم لري چې پاکستان تجزیه کړي؛ په وارسا کنفرانس کې د پاکستان خلاف د ولسمشر غني وروستی څرګندونې چې نړیوالو ته ښکاره کړه چې د سیمې نور هېوادونه د افغانستان د سولې لپاره همکاری کوي خو پاکستان د افغانستان سولې ته ژمن نه دي ځکه طالب وسلوال په خپله

خاوره کې ساتي، په ښه او بد یې ویشي او د خپلو ګټو لپاره استعمالوي، په وروستیو کې د افغانستان د استخباراتو پخواني مشر رحمت الله نبیل څرګندونې او له ترهګرو د پاکستان د ملاتړ په تړاو یې د اسنادو افشا کول، او په ټوله کې په امریکا کې دننه د پاکستان پر ضد انتقادونوزیاتېدل او د افغان حکومت وروستی دریځ؛ که څه هم ډېر ناوخته دي خو بیا هم ډېر پر ځای او د قدر وړ دي.

خو اوس پوښتنه دا ده چې له دې زرینې موکې باید څه ډول ګټه واخیستل شي؟

1. افغان حکومت په ځانګړي توګه ولسمشر غني باید همداسې د پاکستان په مقابل کې خپلې پالیسۍ ته دوام ورکړي او تر هغې ترې په شاه نه شي څو د نړۍ هر هېواد په دې پوه شي چې پاکستان یو ترهګر پال او ترهګر زېږونکی هېواد دی.

2. افغان حکومت باید له پاکستان سره هر ډول پټ لاسلیک شوی تړون لغوه اعلان کړي، په ځانګړي توګه هغه د استخباراتي معلوماتو د شریکولو، اس او پي او بارډر منجمنټ لاسلیکونه. که داسې ونه شي او په اساسي توګه له پاکستانه زمونږه خوږه کوته راخلاصه نه شي نو تش په خوله د پاکستان خلاف دریځ نیول او پر وړاندې یې څرګندونې کول به بې معنا وي.

3. افغان حکومت باید د پوځي مقابلې پر ځای له پاکستان سره اقتصادي مقابله وکړي او په اساسي توګه ورته باید ماتې ورکړي. په دې معنا چې حکومت باید د هغه افغان پانګوالو لپاره په کور دننه د پانګونې زمینه برابره کړي چې همدا اوس په پاکستان کې په میلونونو پانګونه لري. دلته باید د اوړو، غوړو او نورو هغو توکو فابریکې فعالې شي چې همدا اوس یې افغانستان له پاکستانه واردوي. که د پاکستاني توکو تحریم ترسره شي نو پرته له شکه چې افغان حکومت به په اساسي او بنیادي توګه پاکستان په ګونډو کړی وي.

4. اوس چې په افغانستان، امریکا او په ټوله کې د نړۍ په بیلابیلو هېوادونو کې د پاکستان ضد روحیه مخ پر ودې روانه ده نو افغان دولت باید همدا غوره چانس وګڼي او له موکې په ګټه اخیستلو په افغانستان کې د پاکستان د هر منافقت اسناد او شواهد د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته وړاندې کړي. ځکه همدا یې غوره وخت دی.

5. وروستیو پېښو وښوده چې پاکستان نه یوازې د افغانستان او هندوستان د امنیت لپاره ګواښ دی بلکې د سعودي عربستان، جرمني او نورو هېوادونو په شمول د ټولې نړۍ لپاره ګواښ زېږونکی دی. پس لازمه ده چې د پاکستان په خلاف مبارزه باید یوازې افغانستان او هندوستان ته پاتې نه شي بلکې د نړۍ ټول هېوادونه په یوه خوله د پاکستان خلاف غږ او چت کړي او پاکستان د خپل عمل په سزا ورسوي.

# وارسا؛ تمې او ننګونې

ولسمشر غني او اجرائيه رئيس عبدالله عبدالله د ناټو د مرستو د جلبولو په هيله وارسا ته تللي چې په پولنډ کې د ناټو په سرمشريزه کې ګډون وکړي. ناټو به په دې غونډه کې د ۲۰۲۰ کال پورې د افغانستان د امنيتي او دفاعي ځواکونو سره د پوځي مرستو د دوام او پراخولو په اړه تصميم ونيسي. د وارسا او بروکسل نړيوالې ناستې چې پکې به له افغانستان سره تازه پوځي او اقتصادي مرستې اعلانيږي د افغان حکومت لپاره مهمې بلل کيږي، خو دغه مرستې دا ځل د حکومت پر کړنو پورې مشروطې شوې دي.

## تمې

افغان حکومت تمه لري چې په دغه کنفرانس کې به د ترهګرۍ پر ضد د مبارزې او د افغان ځواکونو د پياوړي کولو په برخه کې د ناټو ملاتړ ترلاسه کړي. د چارواکو په وينا د ملي وحدت د حکومت مشران به د وارسا په غونډه کې پنځه کلنه ستراتيژي وړاندې کړي او د دې سازمان نه به وغواړي چې هر کال پنځه ميليارده ډالر د افغانستان سره مرسته وکړي. افغان حکومت هيله لري چې له افغان پوځيانو سره به د نړيوالې ټولنې د مرستو اندازه تر ۲۰۲۰ ميلادي کاله پورې د پخوا په څېر دوام پيدا کړي. د افغانستان د ملي امنيت شورا سلاکار حنيف اتمر ويلي د وارسا په غونډه کې به د ناټو له مشرانو وغواړي چې "د کړو ژمنو پر بنسټ تر راتلونکو پنځو کلونو د افغان امنيتي ځواکونو ټول معقول او د وړاندوينې وړ لګښتونه پر غاړه واخلي." د دې تر څنګ د افغانستان بله لويه غوښتنه دا ده چې د هوايي ځواکونو د پراختيا او پياوړتيا په برخه کې د پام وړ مرسته ورسره وشي.

## ننګونې

که څه هم په افغانستان کې د ناټو ځواکونو د حضور له مخې د يوې نيمې لسيزې راهيسې؛ افغانستان د دغې کنفرانس د غړو هېوادونو لپاره ځانګړې ارزښت لري؛ خو په وروستيو کې د افغانستان کمزوري اقتصادي حالت، له وسله والو مخالفينو د سولې خبرو نه اغيزمنتيا او د افغانانو د مرګ ژوبلې زياتيدو؛ د ناټو غړي هېوادونه له افغانستان سره د مرستو کولو په برخه کې زړه نازړه کړي دي. سربيره پر دې ځيني نورې ننګونې هم شته چې د افغانستان لپاره په دغه کنفرانس کې د ناټو غړو هېوادونو د مرستو د جلب په مخه کې خنډونه جوړوي.

**۱ـ اداري فساد سره ناکامه مبارزه :** له کلونو راهيسې په افغانستان کې د اداري فساد سره د مبارزې په موخه بيلابيل کورني او بهرني بنسټونه او ادارې کار کوي خو نه يوازې دا چې دغه پديده ورکه نه شوه بلکې ورځ تر بلې اوج ته رسيږي. آن تر دې چې په زندانونو کې له ميلوني پوروړي زنداني سره ودانيز قراردادونه لاسليک کيږي. دغې شومې پديدي په نړيواله کچه د افغانستان حيثيت ته کلکه ضربه ورکړې ده.

او په داسې حال کې چې د افغانستان هیڅ یوه اداره له فساده پاکه نه وي نو نړیوال به له دغه هېواد سره د مرستو په کولو کې ساړه کړي.

۲ـ د سولې ناکه پروسه : د ملي یووالي د حکومت له پیل راهیسې افغان حکومت تل هڅه کړې چې امنیتي حالات کابو کړي او افغانان سولې ته ورسوي خو له بده مرغه چې د افغانانو دښمن له افغان حکومت سره سولې ته نه دی حاضر شوی او په هر ځل یې د افغانانو وینه تویه کړې ده. که څه هم افغان حکومت د سولې په موخه هرې خوا ته لاس واچولو خو هر ځل یې تش د اوبو ځک لاسته راوړی دی او بس. څلور اړخیزې ناستې وشوې، د پګواش غونډې ترسره شوې، د افغان حکومت او طالب چارواکو نا رسمي لیدنې وشوې خو پایله یې بیا هم ناکامي وه. نو ویلی شو چې د سولې پروسې ناکامي بله هغه ننګونه ده چې په وارسا کې له افغانستان سره د نړیوالو د مرستو په جلبولو کې خنډ ګرځېږي.

۳ـ ټاکنیزو اصلاحاتو نه شتون : په داسې حال کې چې ټاکنیز اصلاحات د ملي یووالي حکومت د جوړېدو د هوکړه لیک یوه اساسي برخه ده؛ خو تر اوسه د دغې موخې لپاره د پام وړ ګام نه دی اخیستل شوی. په ټاکنیز نظام کې د اصلاحاتو د نه راتګ لوی لامل د ولسمشر او اجرایه رییس تر منځ اختلافات دي. دوی دواړه هڅه کوي چې د ټاکنو په کمېسیون کې د ټاکنیزو اصلاحاتو په نوم؛ د خپلو کسانو حضور پراخ کړي. دوی ته اصلاحات د افرادو په بدلون نه کې؛ نه د سیستم په بدلون کې. د دوی دواړو تر منځ د نظر اختلاف باعث شو چې د ټاکنیز نظام اصلاح له ستونزو سره مخ شي. اوس تر ډېره باور دا دی چې په دې برخه کې به نړیوال خپلې مرستې د ټاکنیز نظام په اصلاح کولو پورې مشروطې کړي.

په هر صورت اوس ولسمشر غني او اجرایه رییس عبدالله ته په کار ده چې په دې کنفرانس کې د ګډون پر مهال نړیوالو داسې قانع کوونکې دلیلونه وړاندې کړي چې پر اساس یې وکولی شي افغانستان ته د نړیوالو مرستې راجلب کړي. سر بېره پر دې افغان حکومت باید د تروریزم سره د مبارزې په برخه کې د دغه کنفرانس له ګډونوالو وغواړي چې په پاکستان خپلې مرستې بندې کړي او پرې فشار راوړي څو د ترهګرو له ملاتړه لاس واخلي. ولسمشر غني او اجرایه رییس عبدالله باید په دغه کنفرانس کې؛ له ترهګر د پاکستان د ملاتړ ښکاره انځور وړاندې کړي او نړیوال دېته متوجه کړي چې د ترهګرو ځالې په پاکستان کې دي او باید هماغته له منځه یوړل شي. په دغه کنفرانس کې د افغان مشرانو تر ټولو لوی مسولیت دا دی چې د نړیوالو مرستې د دې لپاره جلب کړي چې په افغانستان کې د جګړې د ختمولو او د ترهګرو سره د کلکې مبارزې سبب وګرځي؛ نه دا چې مرستې په افغانستان کې د جګړې د ترسره کولو لپاره ترلاسه کړي. نور باید افغانستان د جګړې ډګر ونه ګرځي او ترهګري باید په اساسي ډول؛ په هغو ځایونو کې چې ځالې یې دي او په ښکاره یې ملاتړ کیږي؛ ختمه شي.

# پاکستان خپل ډول ته په خپله وڅوئ

ویل کیږي د پاکستان د ملي امنیت سلاکار یو ځل بیا د سولې ډول غاړې ته اچولی دی. د راپورونو له مخې سرتاج عزیز د افغانستان د سولې په ټپه ولاړ بهیر د بیا شروع کېدو په هکله خوشبیني ځرګنده کړې. نوموړي د جمعې په ورځ خبریالانو ته وویل چې د افغانستان د سولې خبرې چې د ملا عمر د مړینې او وروسته د ملا منصور د وژل کېدو وروسته وځنډیدې، په راتلونکو څو اونیوو کې بیرته پیلیدای شي. خو په تېر کې د پاکستان د دوه مخي پالیسۍ له کبله اوس داسې نښې نښانې نه ترسترګو کیږي چې کابل دې د سولې د بهیر سره چې پاکستان په کښې دخیل وي، د یوځای کیدو لیوالتیا او چمتووالی ولري. ځکه د کابل او اسلام آباد تر منځ د بې باورۍ فضا اوج ته رسیدلې ده. د دواړو هېوادونو د بې باورۍ لوی لامل هم د پاکستان دوه مخي پالیسي ده چې جګړه ماران یې پر دوو ډلو ویشلي دي او یوازې هغه جګړه ماران په ښه کوي چې د پاکستان ملي ګټو ته تاوان رسوي او هغه جګړه ماران چې په افغانستان کې افغان امنیتي ځواکونه او بهرني عسکر په ښه کوي هغوی ته څه نه وایي.

افغان دولت پاکستان ته د یو طرف امتیازونو تر څنګ ډیر چانسونه هم ورکړل څو خپلې کړې ژمنې عملي او وسله وال طالبان د سولې خبرو میز ته کینوي خو پاکستان لکه څرنګه چې یې په جګړه کې ګټې نغښتې دي؛ د سولې لپاره یې یو قدم هم رښتونی وانخیست. له طالبانو سره د سولې په خاطر د پګواش غونډې وشوې؛ چین هېواد ته سفرونه وشول، په اسلام اباد کې یو ځل مخاخ خبرې وشوې او د افغانستان، چین، امریکا او پاکستان تر منځ څلور اړخیزې غونډې هم ترسره شوې خو پایله یې یوازې د وخت ضایع کول او د پاکستان امتیاز ترلاسه کول و. وروستی ځل څلور اړخیزه غونډه د مې په میاشت کې وشوه او په کې د څلورو هېوادونو استازو ګډون کړی و. ددې خبرو پرمهال پاکستان ژمنه وکړه چې تولې هغه ډلې به په ښه کوي چې په افغانستان کې بریدونه ترسره کوي. خو تر اوسه پاکستان په خپلې زړې پالیسې ولاړ او د افغانستان په بربادۍ او جنګ کې خپلې ګټې لټوي.

پاکستان ولې بیا د سولې ډول ډنګوي؟

وروسته له هغې چې په نړیوال سیاست کې مشهورو څېرو په نړیواله کچه د پاکستان اصلي څېره بربنډه کړه او د ترهګر پالنې په پالیسۍ یې ورته نیوکې وکړې؛ پاکستان په نړیوال سیاست کې خپل ځان ځنډې ته ولید. کله چې د امریکا کانګرس د بهرنیو اړیکو کېټې ته ډاکټر زلمي خلیلزاد د پاکستان په باب له حقیقته پرده پورته کړه او د منزوي کیدو غوښتونکی یې شو؛ کله چې د ملګرو ملتونو جګپوړي کارپوه وحیدالله وحید د امریکا لخوا د پاکستان د تجزیې

خبره راوسپړله ، له هغې وروسته کله چې په وارسا کې افغان ولسمشر غني د پاکستان د پر ضد څرګندونې وکړې او اوس په وروستیو کې د پاکستان په خلاف د هندوستان توندو څرګندونو چې ویلي یې دي د پاکستان لاسوهنې نورې د هند لپاره د زغملو وړ نه دی، که پاکستان له دا ډول لاسوهنو لاس وا نه خلی نو د دې کار پایلو ته باید تیار شي؛ په توله کې له هغې وروسته چې نړیوال د پاکستان په حقیقت پوه شول او ورته د یو ترهګر پال هېواد په توګه څرګند شو نو پاکستان په نړیواله کچه ځان بربنډ ولید او د منزوي کېدو احساس یې وکړ. اوس د پاکستان سیاسیون په دې هڅو کې دي چې له ځانه دا تور داغ لیرې او بیرته خپله اصلي حیواني څېره د انسان په څېره کې پټه کړي. پاکستاني چارواکي اوس هڅه کوي چې په نړۍ کې خپل له منځه تللی حیثیت اعاده کړي. د پاکستاني چارواکو لخوا د افغان سولې د نغارې غږول هم د همدې پالیسۍ یوه برخه ده.

## افغان حکومت باید څه وکړي؟

افغان حکومت که هر څومره هڅه وکړي چې پاکستان له ترهګرۍ سره ربښتونې مبارزې ته حاضر کړي؛ پرته له دې چې وخت ضایع کړي بله هیڅ نتیجه نه ورکوي. ځکه پاکستان له یوې خوا د خپل پوځ بقا د افغانستان په جنګ او روان بهیر کې ویني او بل اړخ ته په دې باور دی چې دوی د ترهګرۍ د ځپلو لپاره ډیر څه کړي دي. دوی ته یوازې هغه طالبان ترهګر ښکاري چې د دوی ګټې ګواښي او پاتې نور هغه طالبان او جنګیالۍ ډلې چې په پاکستان کې فعالې دي، خوندي پناه ځایونه لري او په هند او افغانستان کې جګړې؛ د دوی د ګټو خوندي کولو ځانګړې وسیله ده. پاکستان وایې که چیرې ټولې ترهګرې ډلې ځپې نو بیا دوی (پاکستان) اړ دی چې د افغاني طالبانو پر ضد هم اقدامات وکړي خو د پوځ او استخباراتو پالیسۍ یې دا نه ایجابوي چې د دوی پر وینا د افغانانو په جګړه کې ښکیل شي. بل لوی عامل چې پاکستان یې پر اساس نه غواړي ټول وسله وال وځپي؛ هغه له هندوستانه د پاکستان ویره او ډار دی. پاکستان ډارېږي که چیرې وسله وال وځپي او پاکستان یې له شتونه پاک کړي نو هندوستان به پرې حمله وکړي او اشغال به یې کړي. پاکستان په خپل رسمي پوځ دومره تکیه نه کوي لکه څومره چې په خپلو روزل شویو ترهګرو ډاډه دی. نو لازمه ده چې افغان حکومت د افغان سولې اړوند د پاکستان د هر رنګه ډول اواز ته غوږ ونه نیسي او پریږدي چې ټول پاکستان خپل ډول ته په خپله ونخیږي.

زمری یا اسد/ 1396

# پام چې پاکستان مو بیا ځلي دوکه نه کړي!

په داسې حال کې چې د سرحدي مسایلو او د ډیورنډ کرښې پر سر د نښتو او جنجالونو له کبله د کابل او اسلام آباد اړیکې خړې پړې شوې او پر یو او بل یې د ترهګرو د ملاتړو تورونه پورې کړي دي؛ تېره ورځ د یادې ستونزې د حل په موخه د افغانستان، پاکستان او غوڅ ملاتړ د اپراسیون ریيسانو په کچه درې اړخیزه غونډه ترسره شوه. د افغان حکومت پر وینا په دې غونډه کې پر دې ټینګار وشو، چې د داعش پرضد باید ګډه مبارزه وشي او په دې برخه کې باید همغږي رامنځ ته شي. په یاده درې اړخیزه ناسته کې پر دې خبرې وشوې چې پاکستانی لوری باید جدي اقدامات وکړي او داعش ته اجازه ور نه کړي، چې د دوی له خاورې افغانستان ته راشي.

همدغه راز د افغانستان د دفاع وزارت د ویاند دولت وزیري پر وینا له درې اړخیزې غونډې وروسته د افغان او پاکستاني پلاوي ترمنځ دوه اړخیزه غونډه هم وشوه، چې په کې د ډیورند فرضي کرښې دواړو غاړو ته رامنځ ته کېدونکو ستونزو په اړه بحث وشو. د وزیري پر وینا پاکستاني پلاوي به په دې غونډه کې د بحثونو مالومات خپلو چارواکو ته وړاندې کوي او هغوی به پرې غورکوي.

په همدې حال کې پاکستاني رسنۍ وایې د افغانستان او پاکستان تر منځ د سرحدي ستونزو د حل لپاره خبرې به په راتلونکی اونۍ کې په ایران کې وشي. ولمسشر غني به ایران ته د سفر په ترځ کې، په تهران کې دا مسله، د پاکستان د پوځي چارو د ملي امنیت سلاکار، ناصر خان جنجوعه، سره چې پدې وروستیو کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د سرحدي نښتو سبب شوي، را وسپړي. پاکستان وایې غواړي د افغانستان او پاکستان ترمنځ له ډیورنډ کرښې څخه پرغیر قانوني تلونکو راتلونکو باندی د کلک څار نوی میکانیزم عملی کړي. پاکستانی چارواکي ټینګار کوي چې تندلاري ددې حالت نه ګټه اخلي او د کلک څار د نشتوالي له کبله د پولو څخه په آزاد تګ راتګ په دواړو غاړو کې خپل تررستي فعالیتونه تر سره کوي.

دلته مهمه دا ده ؛ پاکستان په داسې حال کې چې په سیاسي انزوا کې د راګیر کیدو په حال کې دی؛ آیا دا ځل به افغان حکومت سره په کړو ژمنو او د سرحدي ستونزو په حل کې ربښتونې همکاري وکړي؟

د پاکستان اصلي ترهګریزه او ترهګر پاله څېره په وروستیو کې ټولې نړۍ ته ښه بربنډه شوې ده. آن تر دې چې خپل تر ټولو لوی ملاتړ کوونکی هېواد (امریکا متحده ایالتونه) هم پرې بې باوره شوي دي. د امریکا د کانګرس د بهرنیو اړیکو کمېټې ته د ډاکټر زلمي خلیلزاد څرګندونې او په ټوله کې د پاکستان خلاف وروستی دریځ یې، د امریکا د کانګرس د ډیرو غړو ملاتړ ترلاسه کړی دی. اوس د امریکا د کانګرس ډیری غړي په

دې باور دي چې پاکستان له امریکا د ترهګرو د ځپلو په نوم میلونونه ډالر مرستې اخلي خو برعکس په یادو مرستو ترهګر پالي او روزنه ورکوي. په ټوله کې پاکستان د خپلو نیږدو دوستانو ملاتړ له لاسه ورکړی او د سیاسي انزوا پر لور روان دی. اوس د دې لپاره چې بېرته خپل ملاتړي پیدا کړي او امریکا او افغانستان د افغان حکومت سره د مرستې په نوم وغولوي؛ تر ډېره هڅه کوي چې یو ځل بیا په ماهرانه توګه افغان دولت او امریکا په خپلو مکارو اوښکو او نرمو ژمنو دوکه کړي.

له پاکستان سره د درې اړخیزو او څلور اړخیزو ناستو موضوع کومه نوې خبره نه ده، دا هغه نسخه ده چې پخواني افغان ولسمشر حامد کرزي په لسکونو ځله او اوسني ولسمشر اشرف غني د کار له لومړۍ ورځې تر ننه تجربه کړې ده خو پایله یې یوازې د پاکستان مکارتوب، دوه مخې سیاست او لور په لوټه تېرول دي. افغان حکومت دا تېر څوارلس کاله پر همدغو درې اړخیزو غونډو وخت ضایع کړ خو له پاکستانه یې د رښتیوالۍ هیڅ څرک ونه لید. اوس افغان دولت ته په کار ده چې وخت ضایع نه کړي او د پاکستان د ښکاره او بې شرمانه لاسوهنو په اړه اسناد دې نړیوالې ټولنې ته وړاندې کړي.

دا چې په اوسني وخت کې پاکستان د خپل عمل په سزا کې راګیرېدونکي ښکاري او خپل لوی ملاتړي امریکا سره یې هم په اوړو کې شګه پیدا شوې ده نو اوس باید هم افغان دولت او هم د نړۍ نور هغه هېوادونه چې له پاکستاني ترهګرو څخه په اور کې ولاړ دي؛ باید په ګډه له دغه فرصته اعظمي ګټه واخلي او په نړیوال ترېیون د ترهګرو هېوادونو په لیست کې د پاکستان نوم د شاملېدو غوښتنه دې مطرح کړي. افغان دولت دې نور د پاکستان په هیڅ ژمنې او تړون باندې باور نه کوي او امریکا دې هم نوره د پاکستان په مکارتوب نه تېروځي او خپله هر ډول مرسته چې د ترهګرۍ سره د مبارزې په نوم یې له دغه هېواد سره هر کال کوله؛ پرې دې بنده کړي.

زمری یا اسد/ 1396

# په تورخم کې د شهید سرتېري وینې ته سپکاوی د تورخم دروازه په رسمي توګه پرانیستل کیږي

راپورونه وايي پاکستان به د دوی ملیشو لخوا په تورخم کې جوړه شوې دروازه په همدې اونۍ کې په رسمي توګه پرانیزي. د پاکستان دفاع وزیر خواجه آصف ویلي؛ د افغانستان له خاورې پاکستان ته د ترهګرو د داخلېدو د مخنیوي لپاره به راتلونکې اونۍ په تورخم کې جوړه شوې دروازه په رسمي توګه افتتاح کړي. تورخم چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د تګ راتګ لپاره ډېره مصروفه لار ده څه موده وړاندې د پاکستان حکومت وتړله. حکومت وروسته بیا لاره پرانیستله او یوازې هغه چا ته یې د داخلیدو اجازه ورکوله چې د سفر کولو قانوني اسناد یې لرل.

دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې افغان حکومت په وار ـ وار د ډیورنډ په کرغېړنه کرښه د پاکستان لخوا د هر ډول تاسیساتو جوړول؛ پر افغان خاوره د پاکستان تیری بللی او ویلي دي چې د ډول تاسیساتو جوړول باید د د واړو هېوادونو په موافقت ترسره شي. د اهغه دروازه ده چې څه موده وړاندې پرې د افغان سرحدي امنیتي ځواکونو او د پاکستاني ملیشو تر منځ خونړۍ نښتې وشوې چې په ترڅ کې یې د پاکستان د پوځ لوړ پوړي افسر جګړن علي جواد چنګیزي په شمول څو تنه ملېشې ووژل شوې. همدا راز افغان لوري ته هم ځاني تلفات واوښتل. په دغه دروازه افغان امنیتي سربازانو مو خپل سرونه او وینې قرباني کړې. په دغې دروازې افغان اتل سرتېري ضیا الرحمن خپل سر قرباني کړ او د شهادت جام یې نوش کړ. د دغې د لکولو په غبرګون کې افغان میړنیو اتلانو د دښمن مرمیو ته خپلې سینې سپر کړې، اولادونه یې یتیمان شول او کورنۍ یې د ویر په تغر کیناستلې. یوازې د همدې لپاره چې په خاوره یې د دښمن تیری نه شو زغملی.

اوس د راپورونو پر اساس ویل کیږي چې د ډیورنډ په کرغېړنه کرښه د پاکستاني ملیشو لخوا یاده دروازه بشپړه شوې او ټاکل شوې راتلونکې اونۍ به په رسمي توګه افتتاح شي. پوښتنه دا ده چې د افغان حکومت له غبرګون سره ـ سره ولې بیا هم پاکستان په تورخم کې دروازه بشپړه کړه؟ افغان حکومت د دغې دروازې پر سر د خپلو سرتېرو قربانۍ ولې هیروي؟ د ملي یووالي حکومت ولې د اتل سرتېري شهید ضیا الرحمن له وینې سره جفا کوي او د دغې دورازې په جوړولو غبرګون نه ښايي؟ څه شول د حکومت هغه تند غبرګونونه چې ویل به یې په هر قیمت به له خاورې دفاع وکړي؟ څه شولې د حکومت هغه ژمنې چې د ډیپلوماتیکو خبرو له لارې یې د یادې ستونزې د حل لپاره کولې او څه شول په پاکستان کې د افغان سفیر عمر ذاخیلوال هغه کواښونه چې د دغې دروازې د جوړولو په غبرګون کې یې ویلي و چې که پاکستان د دروازې د جوړولو کار بند نه کړي نور دلیل نه پاتې کیږي چې په هغه هېواد کې د افغانستان د سفیر په توګه دندې ته دوام ورکړي؟

## آیا حکومت له پاکستان سره معامله کړې ده؟

په تورخم کې د افغانستان او پاکستان تر منځ تر وروستۍ شخړې وروسته د افغان حکومت یو پلاوی په دې اړه د خبرو لپاره اسلام اباد ته ولاړ. د دغې پلاوي له راتګ وروسته د تورخم مساله خپ و چوپ پاتې شوه او حکومت په تورخم کې د تاسیساتو جوړولو خبره شاته وغورځوله. د پلاوي د تګ او راتګ په پایلې ولس هیڅ پوه نه شو خو داسې معلومیږي چې حکومت په تورخم کې د تاسیساتو په جوړولو له پاکستان سره معامله کړې وي. د پاکستان لخوا د یادې دروازې بشپړول او په رسمي توګه پرانیستل داسې څرګندوي چې ګویا حکومت د هېواد پر ځمکنۍ بشپړتیا سیاسي معامله ترسره کړې وي. هلته پاکستان په قوت سره د ډیورنډ د رسمي کولو لپاره هڅې کوي او دلته په کور دننه وجدان پلورونکي د پارلمان ځینې استازي او خرڅې شوې څېرې د دغې کړنې ته د رسمیت لپاره لابي ګیري کوي خو حکومت پرې سترګې رندې او غوږنه کانه کړي دي.

پاکستان د تورخم ترڅنګ، د هېواد په ډیری سرحدي ولایتونو کې د افغانستان په خاوره کې تاسیسات جوړ کړي، خو حکومت یې پر وړاندې چوپه خوله دی. د حکومت له چوپتیا معلومیږي چې د هېواد په ځمکنۍ بشپړتیا سیاسي معامله شوې ده. که خدای مه کړه د حکومت مرکونې چوپتیا همداسې دوام وکړي او پر افغان خاورې د پاکستان تیری بابیزه وګڼي نو دا به د پر خاوره د شهید شویو سرتېرو په ځانګړي توګه په تورخم کې د شهید شوي سرتېري ضیاالرحمن له قربانۍ سره جفا او وینې ته یې سپکاوی وي. پاکستان په دغه دروازه د خپل وژل شوي جګړن وینې ته د درناوي په خاطر همدا دروازه د علي جواد چنګیزي په نوم نوموي خو افغان لوری دې د شهید ضیا الرحمن وینو ته سپکاوی کوي. ډیر د افسوس ځای دی.

زمری یا اسد/ 1396

# تلويزيوني ترهګر

ترور يوه کلمه ده چې په سياسي فرهنګ کې ويجاړۍ، ورانکارۍ، وژنې او وېره اچونې ته ويل کيږي او تروريست يا ترهګر هغه چا ته ويل کيږي چې د خلکو په منځ کې وېره او ډار خپروي. ترهګر عموماً د حکومتونو له سترګو پناه په پټه ورانکاري عملونه ترسره کوي او وېره خپروي خو دلته په افغانستان کې بيا د دغو پټو ترهګر تر څنګ ځينې ښکاره ترهګر هم شته چې له حکومته هيڅ ډار نه لري او هره ورځ سرې سترګې په خلکو کې وېره خپروي او عامه اذهان مغشوشوي. دا ترهګر هغه څوک نه دي چې د ټوپک او تورې په وسيله په خلکو کې وېره خپره کړي بلکې دوی د خپلې په زهرو ککړو ژبو او له تورې په تېرو څرګندونو په خلکو کې وېره خپروي او عامه اذهان مغشوشوي. دوی تلويزيوني ترهګر دي.

تلويزيوني ترهګر يعنې هغوی چې د سياسي شنونکي، مدني فعال، د حزب مشر، د پوهنتون استاد او د بشر حقونو د مدافع وکيل په نامه په تلويزيوني او راډيويي سياسي بحثونو کې؛ کډون کوي خو دنده يې د مسالې د شنلو پر ځای؛ د خپلو غير مسوله څرګندونو په ذريعه د عامه اذهانو مغشوشول او په عامو خلکو کې وېره خپرول دي. دوی د نظام، حکومت، دولت او هېواد پر ضد رواني جګړه پر مخ بيايي. همدوی دي چې د خلکو ذهنونه مغشوشوي، همدوی دي چې د امنيتي ځواکونو مورال ته ګوزار ورکوي، همدوی دي دي چې د ولس او دولت تر منځ يې ديوال جوړ کړی دی. همدوی دي چې ولس يې پر نظام بې باوره کړی او نظام يې له ولسه لېرې کړی. دوی له هغو ترهګرو په څو چنده خطرناک دي چې په غرونو او رغونو کې پټ وي او وخت ناوخت په حکومت بريدونه کوي.

دلته زمونږ په ټولنه کې ډېری د شنونکو، مدني فعالانو او د خلکو د حقونو مدافعينو په نامه؛ د پرديو لاسپوڅي او د نظام دښمنان د رسنيو په ټريبيونو خپلې خولې خلاصوي او د فرصت په ترلاسه کولو سره د حکومت او د نظام د تضعيف هڅه کوي. د دوی لوی هدف د نورو استخباراتي کړيو برنامو پر مخ وړل او د پرديو ګټې تعقيبول دي خو د ولس نوم يې سپر نيولی او د ولس د حق غوښتلو او سياسي شنونکو په نامه پردۍ اجنډاوې پلې کوي. دوی که په هر سياسي بحث کې ګډون کوي؛ موخه يې يوازې د حکومت او نظام

تضعیف وي. په بحث کې به هغه څه وایې چې نه یې په سترګو لیدلي وي او ترې خبر لري خو یوازې دومره چې د ځان د مطرح کولو لپاره په حکومت تور پوري کوي او یا یې د تضعیف نقطې لټوي.

د دوی له خولو یوازې همدا خبرې راوځي چې هله فلانۍ ولسوالي د مخالفینو لاس ته ولیده، هغه ولایت له سقوط سره مخ دی، دومره شمیر امنیتي ځواکونه له وسله والو سره یو ځای شول، دومره سوه سرتیري شهیدان او تسلیم سول، او په فلاني ولسوالۍ کې په فلانۍ پوسته کې امنیتي ځواکونه هیڅ وسله او خوراکي توکي نلري. دوی په دغه ډول بې مسولیته او له شخصي اغراضو ډکو څرګندونو په وسیله په لوی لاس د دښمن په تبر کې لاستی اچوي او د نظام او ولس پښې پرې غوځوي. د دوی دا چیغې د دې لپاره نه وي چې د یادې سیمې د خلکو غم وخوري بلکې له دغو څرګندونو څخه یې هدف یوازې د حکومت کوچنیو نیمګړتیاوو لوی ښودل او د نوک په ځای کې د سوک ځایول وي چې خپل بادار ته خپل حکومت، نظام او خپل امنیتي ځواکونه کمزوري وښایي او ترې ترلاسه کړې پیسې ځانله حلالې کړي.

حکومت باید د دغه ډول تلویزیوني او رسنیزو ترهګرو مخه ژر تر ژره ونیسي، حکومت باید د دغو رسنیزو ترهګرو خولو ته قفلونه واچوي او حکومت باید هڅه وکړي چې د دغو خطرناکو تروریستانو له بریدونو نظام او ولس دواړه وژغوري. که داسې نه شي خدای مکړه چې د دوی په خود غرضه او نامسوله څرګندونو د امنیتي ځواکونو مورال ته زیان ورسیږي. دا سمه ده چې د بیان آزادي او هر څوک د هر څه ویلو حق لري خو د بیان آزادي هم سرې کرښې لري. د بیان آزادي هم سرحد او پوله لري او د بیان آزادي هم ځان ته اصول لري. چیرته چې د بیان د آزادۍ په سبب د هېواد د دیرش میلونه نفوس سرنوشت له خطر سره مخامخ کیدونکی وي او چیرته چې د بیان د آزادۍ په سبب د هېواد ملي ګټې او موخې تر ګواښ لاندې راځي؛ باید د بیان آزادي قرباني شي څو د ولس او نظام د قربانۍ مخنیوی وشي.

زمری یا اسد/ 1396

# حکومتي تکیه کلامونه

پر کلکو ټکو او شدیدو الفاظو یې غندو، یاد عمل د نړیوالو اصول خلاف عمل دی، په دې وحشتناکه برید سره یې وښودله چې هیڅ ډول دین او مذهب ته پابند نه دي، شهیدانو ته د جنت فردوس غوښتنه او ټپیانو ته د بیړنۍ روغتیا غوښتونکي یو، په دې کار سره یې ټول ډیپلوماتیک اصلو تر پښنو لاندې کړل، موږ مو په غم کې شریک یو، د پیښې د څیړنې لپاره کمیسیون وټاکل شو، اصلاحات راولو، حکومت ټاکنیزو اصلاحاتو ته ژمن دی، دښمن ماتې خوړلې، فلانی دوسیه به ژر تر ژره وڅیړل شي، د څیړنیز کمیسیون پایلې به له خلکو سره شریکې شي، له دښمنه یې غچ اخلم او ...

دا ټول هغه تکراري جملې دي چې د ولسمشر او اجرایه رییس په ګډون ډیری حکومتي مشرانو زمزمه کړي دي او لا یې هم زمزمه کوي. دا ټولې هغه جادويي جملې دي چې په یو ځل ویلو یې حکومتي مشران له هر ډول مسولیته خپلې اوږې سپکولی شي، دا ټول هغه کلامونه دي چې د ملي یووالي حکومت مشرانو د کار له پیله تر اوسه په خپلو ټولو خبرو کې ډیرې ویل شوي دي، او دا ټول هغه تکراري خبرې دي چې ولس یې نور د اوریدلو حوصله نه لري.

دلته په هېواد کې که هره پیښه رامنځته کیږي، یا که په کورني سیاست کې کومه ستونزه مخې ته راځي او یا هم په بهرنۍ پالیسۍ کې له نورو هېوادونو سره اړیکې خرابیږي او هغوی مو په خاور، حریم او آزادۍ تیری کوي نو د حکومت مشران یې په ډیرې آسانۍ جبیره کوي، بس کنفرانس ونیسي او یا اعلامیه خپره کړي چې پر اساس یې یاد عمل غندل شوی او د دښمن کار بلل شوی وي. دلته زموږ حکومتي مشران فکر کوي چې د دوی مسولیت یوازې همدا دی چې تیری، ظلم او زیاتی دې په کلکو ټکو وغندي.

همدا څو ورځې وړاندې داسې راپورونه ورکړل شول چې پاکستان په تورخم کې هغه دروازه بشپړه او پرانیستله چې د مخنیوي لپاره یې زموږ اتلو سرتیرو سرونه قرباني کړل، خپلې کورنۍ یې د ویر په ټغر کېنولې او خپل اولادونه یې یتیمان پرېښودل. حکومت لکه د نورو ګمیزو او پیښو په څیر په افغان خاوره د پاکستان دا ښکاره تیری هم په کلکو ټکو وغندو او دا یې د ټولو نړیوالو اصلو خلاف عمل وباله. اوس پوښتنه دا ده

چې آیا د حکومت دنده غندل او تقبیح کول دي او که له خاورې، ناموس او هویت څخه دفاع او ساتنه هم دوی پورې اړه لري؟

زمونږ حکومتي مشرانو ته اوس د خبر رسولو آسانه لار پیدا شوې ده، هر وخت په هره سیمه کې هره پیښنه که رامنځته شي؛ دوی له دوی سره د اعلامیې تیار جوړ فرمټ راواخلي او د پیښې سیمه او تاریخ یې نوی کړي او د فېسبوک له لارې یې خپره کړي چې په ترڅ کې یې یاده پیښنه غندل شوې او د دښمن کار بلل شوی وي. دوی په دې طریقه خپلې اوږې له مسولیته سپکې کړي او هر څه سم شي. ځینې وختونه که پیښنه ډېره ټکان ورکوونکې وي نو بیا ولسمشر جلا او اجرایه ریيس جلا خبري کنفرانسونه نیسي، خبریالان راغونډوي او پښنه په سختو ټکو وغندي او یو څو تکراري احساساتي خبرې وکړي. په پای کې د پیښې د ژر تر ژره څېړلو تکراري امر وشي او ولس ته دروغجنه هیله مندي ورکړل شي. داسې ډېرې ټکان ورکوونکې پیښې شوي چې حکومت یې د ژر تر ژره څېړولو او له ولس سره د پایلو د شریکولو امر کړی وي خو تر اوسه هیڅ یو کمیسیون په دې نه دی توانیدلی چې پیښنه په بې طرفه توکه وڅېړي او بیا یې پایلې له ولس سره شریکې شي.

حکومت یوازې په تکراري خبرو خلک تېر باسي او په دروغجنې هیله مندۍ د خلکو د احساساتو مخنیوی کوي. حکومتي مشران اوس هم کمپاینې خبرې کوي او داسې انګیري چې ولس په هیڅ هم نه پوهیږي. دوی یوازې د دې هڅه کوي چې څنګه وکولای شي د ولس له غبرګونه ځان وساتي. نور د دې غم کې نه دي چې په راتلونکې کې څنګه د احتمالي پیښنو مخنیوی وکړي. خو ولس نور پوه دی او هیڅکله هم د هیڅا په تکراري، کمپاینې او غولوونکو خبرو نه دوکه کیږي. ولس نور کار غواړي، ولس ویښ شوی دی او نور ویده رهبران نه غواړي. دریغه چې حکومتي مشران مو هم د غفلت له خوبه بیدار شي او د هرې پیښې او تیرې لپاره مناسب غبرګون وښيي.

زمری یا اسد/ 1396

# د دوه مخي سیاست نوې بېلګه؛ چین د افغانستان دوست که دښمن

راپورونه وايي، چې د قطر دفتر پلاوي د روان کال د جولای میاشتې په ۱۸ مه نېټه د ملا شېر عباس ستانکزي په مشرۍ چین ته سفر کړی دی. په همدې اړوند د امریکا غږ انګلیسي برخې داسې راپورونه خپاره کړل، چې وسله والو طالبانو له افغان حکومت سره د سولې په برخه کې د چین همکاري غوښتې ده. خو وسله وال طالبان وايي، د قطر دفتر د پلاوي موخه چین ته له سفره د سولې خبرې نه وې. د قطر دفتر یوه غړي یوې پاکستانۍ رسنۍ ته ویلي، چې د جولای د ۱۸مې د سفر موخه په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو د یرغلونو او وروستیو لاسوهنو په اړه بحث کول وو او له چین نه غوښتل شوي، چې د سیمې د ثبات د ګډ دښمن په تړاو اړینې پرېکړې وکړي. دا چې د چین او طالبانو ګډ دښمن څوک دی په اړه یې څه نه دي ویل شوي، خو طالبانو ویلي وروستی سفر یې د چین په غوښتنه ترسره کړی دی.
بل لور ته ویل کیږي، چین ته د وسله والو طالبانو د سفر د خبر له رسنیز کېدو وروسته د افغانستان د ملي دفاع وزارت لوی درستیز هم دغه هېواد ته سفر کړی دی. چین ته د قطر دفتر پلاوي له سفر وروسته جنرال قدیم شاه شهیم هم د تیرې جمعې په ورځ د چین په لور وخوځید. د ملي دفاع وزارت د مرستیال ویاند محمد رادمنش په وینا؛ چین ته د ښاغلي شهیم د سفر موخه؛ له ملي دفاع وزارت سره د نوموړي هېواد د ځانګړو مرستو او همکاریو پر سر بحث دی.
چین ته وسله والو طالبانو د قطر دفتر پلاوي پټ سفر ګڼې پوښتنې راپیدا کړې دي. چین ته طالبان په خپله خوښه تللي که پاکستان استولي دي؟ چین ته د سفر موخه یې څه ده؟ او دا چې وسله والو طالبانو د دغه سفر موخه د چین او دوی د ګډ دښمن په تړاو اړینې پرېکړې یادې کړي دي؛ پوښتنه دا پیدا کیږي چې د چین او طالبانو ګډ دښمن څوک دی؟
چین له افغانستان سره اوږدې تاریخي اړیکې لري خو له پاکستان سره یې هم د لسیزو یارانه شتون لري. چین د خپلو ګټو د تامین لپاره هم افغانستان او هم له پاکستان سره اړیکې پالي خو پوښتنه دا ده چې بیجینګ کابل ته لومړیتوب ورکوي او که اسلام اباد ته؟ چین د کوم هېواد په وسیله خپلې موخې ښه تعقیبولی شي؟
که څه هم په لومړیو کې ویل کېدل چې چین غواړي په سیمه او نړۍ کې د نظامي ځواک پر ځای د اقتصادي ځواک په توګه ځان څرګند کړي خو په سیمه کې د وروستیو بدلونو په ځاګړي توګه له پاکستان سره د امریکې د اړیکو ترینګلتیا او همداشان د هندوستان او پاکستان د اړیکو خړپړوالي ته په کتو یې په ملي ستراتیژۍ کې بدلون تر سترګو کیږي. ځکه اوس په نظامي ځواک کې امریکا او په اقتصادي ځواک کې هندوستان د چین ستر سیالان دي. چین غواړي چې د افغانستان له موقعیته او په افغانستان کې د پاکستان له نفوذه او ورانکارۍ نه په ګټې اخیستنې؛ هم امریکا او هم هندوستان تر خپل لاس لاندې راولي.

## پاکستان د چین لپاره په څو دلیلونو د افغانستان په نسبت ډیر ارزښت لري

۱ـ لومړی دا چې پاکستان یو ښه ګوډاګی مکار او غلام هېواد دی، د پیسو په مقابل کې هر کار په هر حالت کې ترسره کولی شي. پاکستان ته دین مذهب او د بل هېواد سره دایمي دوستي ارزښت نه لري بلکې د خپل پوځ او استخباراتو ګټې ورته لومړیتوب لري. او پوځ او استخبارات یې خپل ژوند د بل په بربادۍ او د نورو هېوادونو په ورانکارۍ کې ویني. نو چین هم همداسې یو فکتور ته اړتیا لري چې په هر قیمت وي خپل سیاسي رقیبان پرې وځپي.

۲ـ دویم دا چې لویه ترهګره ډله طالبان د پاکستان تر تسلط لاندې ده او په پاکستان کې روزل او تمویل کیږي. طالب د پاکستان غلام دی او په ذریعه یې په سیمه کې هر قدرت ننګولی شي. نو د دې لپاره چې په افغانستان کې پرې امریکا او هندوستان وننګوي؛ پاکستان ته ارزښت ورکوي.

۳ـ چین غواړي د نړۍ لویو قدرتونو ته په ځانګړي توګه امریکې، روسیې او هندوستان ته وښايي چې دی هم د نړۍ یو هژمون قدرت کېدو په درشل کې دی. او دغې هدف ته د رسیدو لپاره یې پاکستان ښه آله ده.

پایله :

که څه هم چین په سیمه کې یو اقتصادي او نظامي قدرت دی او افغان حکومت په بهرني سیاست او افغان سوله کې د چین همکارۍ ته خوشبینه دی خو په حقیقت کې چین دلته خپلې ملي ګټې تعقیبوي. غواړي افغانستان د خپلو سیاسي او اقتصادي سیالانو د ځپلو د ډګر په توګه وکاروي. افغان حکومت باید د چین رول ته ډیر خوشبینه نه شي ځکه چین او دښته ورته نور هیوادونه د افغانستان او افغانانو غم نه خوري.

افغان حکومت باید په خپل بهرني سیاست کې ډیر محتاط واوسي او محتاطانه ګام پورته کړي چې د نورو هېوادو د ګټو لپاره وخت ضایع نه کړي او قرباني نه شي. دا ځکه چې اوس که چیري طالبانو او نورو ترهګرو ډلو چین ته مخه کړې ده، دا د وسله والو طالبانو په خوښه او رضایت نه بلکې د پاکستان په غوښتنه او اشاره یې چین ته مخه کړې ده. ځکه د پاکستان لپاره اوس یواځینی تاکه چې دوی ترې پیسې شکولی شي هغه د چین هېواد دی. په وروستیو کې د پاکستان د ترهګرې ځېرې په ډاګه کېدلو سره؛ له پاکستان سره د نړۍ لویو قدرتونو اړیکې ترینګلې شوي دي او په تش لاس پاتې دی. نو پاکستان هم خپله ګټه په دې کې ویني چې له چین سره اړیکې ټینګې کړي او چین هم د پاکستان په وسیله د خپلو ګټو د تعقیبولو لپاره له پاکستانه ګټه ترلاسه کوي.

طالبان له چین سره کومې کلکې اړیکې لري چې ترې د خیر تمه کوي او په خپل سر سفرونه ورته کوي؟ نه چین مسلمان هېواد دی، نه له طالبانو سره قومي، ژبنۍ او مذهبي اړیکې لري او نه هم یې هویت سره ورته دی. ځکه د طالبانو او نورو ترهګرو ډلو دعوه د خلافت او امارت ده او چین د دواړو خلاف دی. نو طالبان د کوم ګډ فکتور په درلودلو سره له چین سره اړیکې نیسي او افغان حکومت په کومو دلایلو له چین څخه د سولې د راوستو هیله لري ؟

ویلای شو چې چین یوازې دوه مخی سیاست پر مخ بیایې او د افغانانو له غمه مړ ندی. که د افغانانو غم یې خوړلی نو په څلور اړخیزو غونډو کې به یې له خپل نفوذه په استفادې پر پاکستان فشار راوړی و.

زمری یا اسد/ 1396

# د روښنايي غورځنګ دې اوس روښانه ځواب ورکړي

د کابل په دهمزنګ کې د جنبش روښنايي پرونی لاریون د سلګونو هزاره هېوادوالو په تېې کېدو او شهادت پایته ورسید. د ورکړل شویو شمېرو له مخې په برید کې لږ ترلږه ۸۰ تنه وژل شوي او ۲۳۰ تنه نور ټپیان دي. د هزاره قوم هغه مشرانو چې د نظام برخه دي؛ د لاریون له ترسره کېدو وړاندې د لاریون د لغوه کېدلو خبر وکړ خو د روشنايي غورځنګ په نوم څو تنو خودغرضو د اعلامیې په خپرولو سره له هزاره هېوادوالو وغوښتل چې په لاریون کې ګډون وکړي او لاریون به ترسره کیږي.

ځينې راپورونه وايي چې د افغانستان کشفي ارګانونو له دغه بريده خبر درلود او د روشنايي غورځنګ رهبرانو احمد بهزاد، داود ناجي، ذولفقار امید، رحمان رحماني او نورو ته یې د برید د احتمال په اړه خبرداری ورکړی و خو دوی د کشفي ارګانونو خبرداری؛ د دولت له لوري د دوی د لاریون د مخنیوی هڅه وبلله. سهار یې لاریون ترتیب کړ او د غرمې مهال د دهمزنګ څلور لارې ته ورسيدل. ویل کیږي آن د لاریون له پیله څو ځانمرګي له لاریونوالو سره یو ځای شوي و او د فرصت په انظار و چې بلاخره د ماسپښین د دوه بجو په شاوخوا یې د لاریون والو په منځ کې ځانته چاودنه ورکړه او په سلګونو کورنی یې د ویر په ټغر کېنولې. طالبانو په برید کې لاس رل رد کړي او داعش یې مسولیت منلی دی.

برید که د هر چا لخوا او د هر چا په شعوري او لاشعوري غوښتنه ترسره شوی وي؛ ګټه ترې د افغان ولس دښمن ترلاسه کړه. خو پوښتنه دا ده چې د هزاره مشرانو لخوا د لاریون د لغوه کېدو د خبر، او د ځانمرګي د احتمالي برید د ترسره کېدو اړوند د کشفي ارګانونو د خبرداري سره ـ سره ولې بیا هم لاریون په لاره اچول کیږي ؟

آیا د روښنايي غورځنګ مشرانو د افغانستان ترينګلي امنيتي حالات، د وسله والو تهدید او د افغانانو د وژنې لپاره د استخباراتي کړیو کمین نه لیدلو چې په داسې شرایطو کې یې په دومره لویه کچه خلک سړکونو ته راباسل ؟

آیا په لاریون کې د احمد بهزاد، داود ناجي، ذولفقار امید، رحمان رحماني او نورو مشرانو اولادونو او د کورنۍ غړو ګډون کړی و؟ آیا دوی ته په کې زیان واوښتو او که عام هزاره افغانان د ځانمرګي ښکار شول؟

آیا اوس به د روښنایي غورځنګ مشران هغو هزاره افغانانو څه ځواب ورکوي چې د کورنۍ غړي یې په لاریون کې له لاسه ورکړل او یا نیم ژواندي شول؟

آیا د روښنايي غورځنګ مشران په دې پوهیږي چې په پروني لاریون کې د هزاره افغانانو وینه؛ د بامیانو له لارې د بریښنا پایو له نصبولو ډیر ازرښت لري؟

د روښنایي غورځنګ مشران باید دغو ټولو پوښتنو ته روښانه ځواب ورکړي. دا سمه ده چې په افغانستان کې استخباراتي جګړه روانه ده، زموږ دښمنان ډیر دي او د افغانانو د وژلو لپاره بیلابیلې دلې فعالیت کوي، خو په اوسنیو شرایطو کې چې آن په کورونو کې دننه سرونه خوندي نه دي؛ دغه ډول لاریون ترسره کول او بیا د احتمالي برید اړوند د امنیتي او کشفي ارګانونو خبرداری نادیده نیول؛ د دې معنا ورکوي چې د روښنایي غورځنګ مشرانو بېګناه هزاره افغانان د دښمن خولې ته برابر کړل. هزاره افغانان باید نور خپل دوست او دښمن وپیژني، دوی باید پوه شي چې څوک د دوی له سپېڅلو احساساتو توره ګټه اخلي. دوی باید لکه څرنګه چې یې د بامیانو له لارې د بریښنا ستنو د نصبولو لپاره لاریونونه کول؛ د خپل کورني دښمن د علني محاکمې لپاره هم مبارزه وکړي او معلوم کړي چې څوک دوی د خپلو شخصي ګټو لپاره سپر کرځوي.

همدارنګ حکومت ته په کار ده چې دا قضیه د پیښې په غندلو او کنفرانس ورکولو پایته ونه رسوي. حکومت باید ولس ته هغه منحوسې څېرې په ډاګه کړي چې د ولس له احساساتو د خپل بیروني بادار لپاره ګټه پورته کوي. حکومت باید په دغه خونړۍ پیښه کې پټ دخیل تور لاسونه ورښند او خپل عمل په سزا ورسوي.

زمری یا اسد/ 1396

# د ولس احساسات؛ د زورواکو امتیازات

**احساسات څه ته وایې؟**

احساسات د احساس جمع ده او د حسي دستګاو هغه غبرګون ته وايي، چې د انسان ذهني اړیکې د طبیعت او یا بهرني چاپېریال سره نښلوي. احساس د وجود عاجل ځواب یا عکس العمل دی، چې د یوې حادثې او یا واقعې په وړاندې منځته راځي. که چیرې د یوې زړه بوږنوونکې او یا هم زړه خوښوونکې حادثې سره مامخ کیږو او په مقابل کې مو وجود عکس العمل ښایې؛ همدې عکس العمل ته احساس ویل کیږي. ځینې حادثې داسې وي چې په مقابل کې یې زمونږ مثبت احساسات پاریږي او ځینې بیا داسې وي چې زمونږ د منفي احساساتو د پاریدو لامل کیږي. په توله کې ویلای شو چې احساس له شیانو او مسایلو سره د انسان د حواسو د مناسباتو سلسله ده.

**پوښتنه دا ده چې احساسات څنګه پارول کیږي؟**

احساسات ډیرې بیلګې لري لکه مینه، کرکه، غوسه، آرامي، خفګان، غم خوښي او .... کله چې یو څیز وینو چې زمونږ له غوښتنې او هیله مندۍ خلاف وي؛ فوراً مو په مقابل کې احساسات څرګندیږي. د بېلګې په توګه یې د ملي یووالي حکومت مشرانو د ټاکنیزو کمپاینونو پر محال ولس ته ډیرې ژمنې ورکړې خو د کار له پیله تر اوسه یې په درست شکل نه دي پوره کړي، همدا دلیل دی چې د ولس احساسات یې په مقابل کې راوپاریدل او لکه څنګه چې د یو ولسواک حکومت سره د ولس ملاتړ او رضایت وي؛ هغسې یې نه لري.

**بله بېلګه:** له ترکمنستانه کابل ته د سالنګ له لارې د ۵۰۰ کیلو ولټه بریښنا لین د غزولو په غبرګون کې د یو شمیر هزاره افغانانو احساسات وپاریدل او د حکومت هر رنګه دلیل ورته معقول نه ښکاري. د دوی احساسات راپاریدلې نه دي بلکې د حکومت له پریکړې په غلط تعبیر؛ راپارول شوي دي. څو لنډغرو چې د تیر حکومت تاریخ تیرې او د اوسني حکومت خود غرضه پرزې په کې شاملې دي؛ هزاره افغانانو ته یې د حکومت د پریکړې منفي انځور وړاندې کړ او داسې یې ورته وښودل چې ګویا حکومت له ترکمنستان څخه د بامیانو پر ځای د سالنګ له لارې کابل ته د برښنا لین په غزولو سره د هزاره ګانو په حق کې ظلم کړی دی. هزاره ولس هم پرته له دې چې خپل احساسات کابو کړي او خپل تش په نامه رهبران وارزوي چې د دوی د حق غوښتلو لپاره چیغې وهي او که د خپل جېب په خاطر د نورو هېوادونو ګټې خوندي کوي؛ ورسره یې د دوی غږ بدرګه کړ.

اصلاً حکومت د هزاره افغانانو په مقابل کې هیڅ تبعیض او تعصب نه دی کړی. حکومت د ترکمنستان ۵۰۰ کیلو ولټه بریښنا پروژه په هراړخیزه توګه د یو مسلکي ټیم په وسیله و ارزوله او بیا یې اقتصادي ګټورتوب او په کم وخت کې پایته رسیدلو ته په کتو د سالنګ له لارې د لین د غزولو پریکړه وکړه. دا په دې معنا نه ده چې حکومت به بامیانو ته بریښنا نه ورکوي. حکومت خو بامیانو ته ۳۰۰ میګاواټه بریښنا هم په نظر کې لري

خو د هزاره ګانو ځیني خودغرضه مشران د هزاره افغانانو له احساساتو ګټه پورته کوي او د ایران په اشاره د حکومت د تخریب او د دغې پروژې د ځنډولو هڅه کوي.

دغه د روښنایي جنبش په نوم څو تنه پردیپال غواړي د هزاره ولس احساسات ځانته د امتیاز وسیله وګرځوي او حکومت اړ کړي څو دوی ته په څوکۍ ورکولو او یا هم په نغدي امتیاز ورکولو قایل کړي. داسې هم ویل کیږي چې د شنبې ورځې له لاریون وړاندې په کابل کې د همدې جنبش ځینو خلکو د پیسو په مقابل کې خلک هڅول چې په لاریون کې برخه واخلي او د حکومت پر ضد ا و د دوی په ګټه شعارونه ورکړي. دوی که له یوه طرفه د ولس له سپېڅلو احساساتو د امتیاز په توګه ګټه واخیستله؛ له بله اړخه یې د ولس له ناچارۍ، بیکارۍ او غریبۍ هم ناوړه ګټه پورته کوله او بې روزګاره ځوانان یې د پیسو په مقابل کې لاریون ته هڅول. په پای کې هم نتیجه دا شوه چې د روښنایي جنبش لخوا د لاریون د نه مدیریت له امله ځانمرګي بریدګر وکولای شول چې د لاریون په منځ کې په د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ځان ته چاودنه ورکړي او په سلګونو هزاره ګان د ویر په تغر کینوي.

که له لاریون څخه د روښنایي جنبش هدف د بامیانو د ولس د حق غوښتل وي نو ولې یې په بامیانو کې د بریښنا بند د جوړولو لپاره لاریون نه کولو؟ ولې یې د بامیانو په پوهنتون کې د نورو رشتو د اضافه کولو لپاره لاریون نه کولو چې اوس په کې یوازې څلور رشتې فعالې دي؟ ولې یې د بامیانو ولس ته د بنسټیزو پروژو د غوښتنې په خاطر لاریون نه کولو؟

جواب همدا دی چې دوی د ایران د ګټو د خوندي کولو لپاره چې ایران غواړي د ترکمنستان د بریښنا د دغې پروژې په ناکامولو سره ترکمنستان ته اقتصادي ګوزار ورکړي؛ دوی د همدې لپاره ولس سړېر ونیولو او له ایرانه ترلاسه کړي ډالر یې هضم کړل. له هزاره ولس نه غوښتنه کوم چې نور د دغو قومي ټیکه دارانو له انحصار نه ځانونه آزاد کړي او نور دې نه پرېږدي چې د دوی په وینه او احساساتو دغه پردیپال مشران یې سوداګري وکړي. دوی دې اوس د خپلو شهیدانو د وینو بدله له همدغو ټیکه دارنو وغواړي. هزاره افغانان دې پوه شي چې دغه مشران یې د دوی له غمه مړه نه دي بلکې د دوی له سپېڅلو احساساتو څخه د امتیاز اخیستو د وسیلې په توګه کار اخلي. همدا نن که حکومت دغو بهزاد، ناجي، ریحانه آزاد، مدبر، رحماني او نورو ته څوکۍ او یا ډالر ورکړل؛ نه به بیا ولس وي او نه به بیا د بامیانو لپاره بریښنا غوښتل وي. بیا به هر څه سم وي. نو لازمه ده چې هزاره ورونه د دوست په څېره کې خپل دښمنان وپېژني.

زمری یا اسد/ 1396

# د ولس پر ارادې ملنډې وهل؛ سیاسي هوکړه له اساسي قانون غوره

وړمه ورځ د حکومت اجرايوي مشر ډاکټر عبدالله عبدالله د ځوانانو د ورځې په موخه جوړې شوې غونډې د حکومت پر کړنو په ځانګړي ډول پر ولسمشر محمد اشرف غني توندې نیوکې وکړې. نوموړي پر ولسمشر تور پورې کړ، چې ده ته یې په درېیو میاشتو کې د ځینو مسايلو په اړه د مخامخ خبرو کولو فرصت نه دی ورکړی. نوموړي ولسمشر ته په اشارې وویل، چې څوک د بحث او خبرو کولو حوصله نه لري، نو د ولسمشرۍ لیاقت هم نه لري. ده همداراز ویلي لومړی کس چې دغه حکومت ته یې مشروعیت ور وبانېه زه وم، هوکړه لیک مې لاسلیک کړ چې محمد اشرف غني د افغانستان ولسمشر دی او همدا وخت د حکومت مشروعیت پېل شو.

دا چې پر ولسمشر د اجرایه ریاست نیوکو سرچینه څه ده، ولې ښاغلی عبدالله په غصه شوی دی او د توندو نیوکو پیغام یې څه کېدای شي؛ دلته پرې رڼا اچوو.

که څه هم د ملي یووالي د حکومت مشرانو تر ډېره هڅه کوله چې د مشرانو تر منځ اختلافات یې د ولس له سترګو پټ کړي او خلکو ته دا وښايي چې په خپل منځ کې سره په ملي مسايلو کې همغږي دي؛ خو وړمې ورځې پر ولسمشر د اجرایه ریاست نیوکو له دغه رازه پرده پورته کړه چې د ملي یووالي حکومت د مشرانو تر منځ اختلافات تر بل هر وخته اوس اوج ته رسیدلي دي. په ټوله کې ویلای شو چې پر غني د عبدالله نیوکې له درېیو ځایو سرچینه اخلي.

- لومړی ؛ د ارګ او سپېدار ماڼۍ تر منځ د اختلافاتو اوج
- دویم ؛ د جمعیت ګوند د رهبرۍ پر سر د عبدالله، عطا محمد نور او صلاح الدین رباني تر منځ اختلافات
- درېیم ؛ کېدای شي پر ولسمشر د اجرایه ریاست توندو نیوکو سرچینه د بلخ د سرپرست عطا محمد نور له ګوښه کېدنې اخیستې وي.

وروسته له هغې چې اجرایه ریاست ډاکټر عبدالله په سپېدار ماڼۍ کې په ولسمشر توندې نیوکې وکړې؛ ولسمشر غني هم په ارګ ماڼۍ کې د عبدالله خبرو ته توند غبرګون وښود. غني د عبدالله د څرګندونو په غبرګون کې ویلي څوک چې پر ما باور نه لري ؛ زه په هغو باور او اعتقاد نه لرم. زه د خلکو په رایه غوره شوی ولسمشر یم او خپل مسولیت به ترسره کوم.

له دې وړاندې ښاغلي عبدالله پر ولسمشر د نیوکې پر ترڅ کې ویلي و چې ؛ لومړی کس چې دغه حکومت ته یې مشروعیت ور وبانېه زه وم. د اشرف غني همدا څرګندونې چې ویلي دي زه د خلکو په رایه ولسمشر شوی یم؛ عبدالله ته سخت ځواب او دا چې ویلي یې دي خپل مسولیت به ترسره کوم؛ دا هم د بلخ ولایت له سرپرستي څوکۍ څخه د عطا محمد نور د ګوښه کېدو خبر ته کره والی ورکوي چې ممکن عبدالله یې په

کوښښه کېدو په غصه شوی وي او غني یې ځواب ویلي وي چې زه ولسمشر یم او خپل مسولیت چې کوښښه کول او مقررول هم په کې راځي؛ ترسره کوم.
افق نیوز خبري اژانس وایي چې د بلخ سرپرست والي عطا محمد نور د ولسمشر له لوري برطرفه شوی دی. دا اژانس په ارک کې د یوې سرچینې له قوله، چې نوم یې نه دی یاد کړی، وایي چې عطا محمد نور له دوو اوونیو راهیسې په کابل کې د جمعیت گوند د کانګریس لپاره کار کوي خو ارک پرېکړه کړې چې نوموړی له دندې کوښښه کړي. خو د ارک مانۍ د دغې خبر د رد او تایید په اړه تر اوسه څه نه دي ویلي. د افق د راپور پر اساس د پنجشنبې په ورځ د ځوانانو په غونډه کې پر ولسمشر غني د عبدالله عبدالله د توندو نیوکو علت دا و چې ولسمشر د عطا محمد نور د لېرې کېدو پرېکړه کړې ده.
که پر ولسمشر غني د عبدالله عبدالله له سختو نیوکو وروسته د عطا محمد غبرګون ته وکتل شي؛ همدا په ډاګه کوي چې ښاغلي عبدالله په خپل ګروپ کې خپل موقف له لاسه ورکړی او جمعیت ګوند پرې نور د نشت حساب کوي. عطا محمد نور، د پنجشنبې په ورځ د عبدالله عبدالله له څرګندونو وروسته په یوه لنډه خبرپاڼه کې وویل«زه د اجرایي رییس د نن ورځې د دریځ ملاتړ کوم چې په لړ کې یې ده د خلکو د غوښتنو او هیلو په باب زغردې څرګندونې وکړې.» ده همداراز هیله څرګنده کړې چې د عبدالله عبدالله څرګندونې به تش شعار او د خلکو د غوسې د سړولو په هدف نه وي بلکې دریځ به یې غوځ او جدي وي.» د نور له همدې څرګندونو چې ویلي دي؛ هیله مند دی چې د عبدالله عبدالله څرګندونې به تش شعار او د خلکو د غوسې د سړولو په هدف نه وي؛ دا په ډاګه کیږي چې د جمعیت ګوند رهبریت او غړي له عبدالله عبدالله سخت ناراضه شوي دي او تر دې محاله د عبدالله هر کار او څرګندونې ورته تش شعار او د خلکو د غوسې سړولو هڅې ښکاري. نو پر ولسمشر د ښاغلي عبدالله د توندې لهجې او سختو نیوکو یو لامل همدا هم کیدای شي.
دا چې د اجرایه رییس لخوا پر ولسمشر د توندو نیوکو سرچینه هر څه وي خو ولس ته یې څرګند پیغام دا کیدای شي چې اجرایه ریاست څوکۍ؛ له اساسي قانون او د ولس له رایو څخه د حکومت د مشرانو تر منځ سیاسي هوکړه لیک معتبر او ډیر لوړ بولي. د ښاغلي عبدالله وروستی څرګندونې چې ویلي دي لومړی کس چې دغه حکومت ته یې مشروعیت ور وبابښه زه وم، هوکړه لیک مې لاسلیک کړ چې محمد اشرف غني د افغانستان ولسمشر دی او همدا وخت د حکومت مشروعیت پیل شو؛ دا د ولس په رایه او ارادې ملنډې وهل دي. د دې مانا دا ده چې د ملي یووالي حکومت مشران اساسي قانون، د ولس ارادې او رایې ته هیڅ کوم ارزښت نه ورکوي او یوازې سیاسي هوکړه لیک ورته د حکومتولۍ معیار دی او بس.
زمری یا اسد/ 1396

# د روشنايي غورځنګ؛ د روشنايي دښمن

## هغه ډله چې د بل په اشاره خپل کور تياره کوي

که څه هم باميانو ته د توتاپ پروژې تفاهم ليک تقريباً يوه مياشت وړاندې په رسمي توګه په ارګ کې د ولسمشر غني په شتون کې لاسليک شو؛ خو اوس په تازه کې دروشنايي غورځنګ په نوم د يو شمېر سياسي او مدني ټولنې د ډلو ائتلاف وايي، د افغان حکومت او د دغې ائتلاف د استازو ترمنځ د توتاپ پروژې د برېښنا مزي د غځولو په سر د راپورته شوي جنجال د هوارلو لپاره خبرې ناکامې شوي دي. افغان حکومت تېرې دوه ورځې په پرله پسې توګه د يو دوه کسيز پلاوي له لارې چې د ولسمشر غني ستر سلاکار ډاکټر همايون قيومي او د افغانستان د ملي امنيت رئيس محمد معصوم ستانکزی په کې غړيتوب لري د روشنايي غورځنګ د رضايت ترلاسه کولو لپاره دغې غورځنګ سره خبرې وکړې، خو اوس د روشنايي غورځنګ وايي دا خبرې بې پايلې پای ته رسيدلي او دوی به لاريونونو ته دوام ورکړي.

له دې وړاندې د کوچني اختر په درېيمه ورځ د کريم خليلي، صادق مدبر او لطيف پدرام په رهبرۍ د روشنايي غورځنګ په نوم څو تنو د کابل په لوديځه خوا کې د شهيد مزاري جومات کې په يوه غونډه کې افغان حکومت ته تردوو اونيو وخت ورکړ چې له ترکمنستان څخه د سالنګ له لارې د برېښنا د ۵۰۰ کيلو ولټو د مزي د غځولو د پروژې په باب د کابينې پرېکړه دې بدله کړي او دا مزی دې د سالنګ پر ځای د باميانو له لارې دغه ولايت ته وغځوي. اوس د روشنايي غورځنګ لخوا حکومت ته ورکړل شوی ضرب الاجل پوره شوی دی او غورځنګ پتيلې چې يو ځل بيا د کابل واټونه او لارې بندې کړي او خپل قومي زور و ازمويي.

پوښتنه دا ده چې د روشنايي غورځنګ څه موخې لري؟

تر شا يې د چا لاسونه دي؟

دوی برېښنا غواړي که د برېښنا پايې؟

که هدف باميانو ته د برېښنا رسول وي، نو د برېښنا رسولو تفاهم ليک خو مياشت وړاندې لاسليک شو او که هدف د بل ګټې پالل وي نو ولس دې خپل سپر نه کړځوي. دغې غورځنګ څه موده وړاندې هم په کابل کې لاريون ترسره کړ چې سوداګرو او کابل ښاريانو ته يې ميلونونه افغانۍ زيان اړولی و.

اصلاً د دې غورځنګ د رهبريت تشکليل ته که وکتل شي؛ ټول په کې د تېر حکومت له کاره لويدلې پرزې او هغه انحصارګرې څېرې شتون لري چې د ولس په منځ کې يې موقف او ځايګی ورک شوی دی اوس د توتاپ پروژې څخه د سپر په توګه کار اخلي او د ولس د حق غوښتنې په نوم د حکومت لپاره اوبه خړوي

او د نورو هېوادونو لپاره په کې کډان نیسي. دوی نه یوازې دا چې د هزاره ورونو په مقابل کې ظلم کوي او په لوی لاس یې له ربا بې برخې کوي بلکې په افغانستان کې د مېشتو نورو قومونو تر منځ هم د نفاق اور شیندي. په دې معنا چې افغانستان کې بیلابیل قومونه ژوند کوي، دوی ټول افغانان دي، یو ولسمشر، یو قانون او د افغانستان په نامه واحده جغرافیه لري، د دوی ټولې غوښتنې باید ملي وي نه دا چې قومي. اوس چې دوی د توتاپ په شان ملي پروژې ته قومي رنګ ورکوي؛ دا په خپله د دې معنا ورکوي چې دوی په لوی لاس د قومونو تر منځ د نفاق اور ته لمن وهي.

دغه څوک چې اوس یې هزاره قوم سپر نیولی دی؛ همدغه کریم خلیلي د تېر حکومت دویم مرستیال و، همدغه صادق مدبر خو د تېر حکومت د چارو د ادارې رئیسو او همدغه پدرام خو په تېر حکومت کې هم د ولسي جرګې غړی و؛ ولې یې هاغه مهال دا نارې سورې نه وهلې؟ آیا په هغه وخت کې یې خپل ولس نه و په یاد؟

خبره څرګنده ده چې اوس یې ایران په ملا ډبوي او راڅخکې کوي یې چې د افغان حکومت د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې راپورته شي. ایران دلته د دغې پروژې له ځنډولو څخه دوه موخې لري.

لومړی: ایران د افغانستان پرمختګ نه شي زغملی او په ځانګړي توګه دا هیڅکله هم نه شي منلای چې افغانستان دې د برېښنا څښتن شي. په همدې خاطر د توتاپ لپاره له همدغسې کړیو ګټه پورته کوي او د افغان حکومت په مقابل کې یې پورته کوي څو د توتاپ پروژه بنده شي او د ایران په خاوره کې تطبیق شي.

دویم: ایران د امریکا ستراتیژیک مخالف دی او لکه څرنګه چې امریکا په افغانستان کې حضور لري او د افغانستان ستراتیژک همکار او ملاتړی دی نو ایران غواړي په افغانستان کې د امریکا ګټې، حضور او کارونه ونڼکوي. په همدې خاطر چې امریکا ونڼکوي.

ویلای شو چې دغه تاریخ تېرې پرزې چې کوم لاریونونه او تحرکات کوي؛ دا د ولس د حق غوښتنې لپاره نه دي، دا د پردي ګټو د تامین لپاره دي او د دې لاریونونو لپاره ورته په میلونونو ډالر ورکول کیږي.دا سمه ده چې د بیان آزادي ده او هر څوک حق لري چې د خپل حق د غوښتلو لپاره لاریون وکړي، د حکومت په ځینو سیاستونو نیوکه وکړي او هر څوک خپل اعتراض حکومت ته رسولی شي. خو دا باید په دې معنا ونه اوسي چې څو انحصارګر خلک راپاسي، یو قوم سپر کړي او د ملي مسایلو اړوند قومي برخورد وکړي. برېښنا د هر افغان حق دی، د اساسي قانونو له مخې دلته میشت قومونه ټول برابر حقونه لري او حکومت هم تر ډېره د قومونو حقونو ته په مساوي توګه رسېدنه کړې ده، پس لازمه نه ده چې څو د پردیو لاسپوڅې او د ولس په منځ کې ځای نه درلودونکې څېرې راپاسي او ملي مسایلو ته قومي رنګ ورکړي. حکومت یې باید مخه ونیسي او که حکومت یې پر وړاندې چوپ پاتې کیږي او په امتیاز ورکولو ورته قایل کیږي نو د دیرش میلونه ولس غبرګون ته دې چمتو شي.

زمری یا اسد/ 1396

# کابل؛ پلازمېنه که غیر علاقه؟!

کابل د افغانستان یو له کڼ مېشتو ولایتونو څخه شمېرل کېږي چې د افغانستان د بیلابیلو ولایتونو شاوخوا ۷ میلونه خلک په کې اوسیږي. دلته د ښې هوا او نسبتاً ښه امنیتي وضعیت له امله خلک له نورو ولایتونو څخه کوچیږي خو دلته وروستیو سږي تښتونو او جنایې پیښنو خلک اندیښمن کړي دي. دلته د نورو مرموزو وژنو ترڅنګ په دې وروستیو کې د سوداګرو او پانګه والو وژنې او اختطاف هم زیات شوی دی. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې چارواکي وايي چې د سوداګرو او بانکوالو امنیت ورځ تر بلې خرابیږي او یوازې په تېره یوه میاشت کې وسله والو غلو د افغانستان له بیلابیلو سیمو ۳۵ سوداګر تښتولي دي. د سوداګرۍ او صنایعو خونه وايي چې دغې مسالې دوی سخت اندېښمن کړي او له هېواده د پانګو د ویستلو سبب شوې ده. یادې خونې چارواکي د ملي یووالي پر حکومت نیوکه کوي چې د سوداګرو په امنیت خوندي کولو کې پاتې راغلی دی.

دا یوازې د سوداګرو تښتول نه دي چې وخت ناوخت یې خبرونه ورکول کیږي بلکې استادان، سیاسي څېرې او بهرني اتباع هم له ورته کوابښ سره مخامخ دي. څه موده وړاندې د اباسین په نوم ۱٤ کلن ماشوم د کابل ښار له رحمان مېنې وتښتول شو، لومړی یې له کورنۍ څخه د پیسو ترلاسه کولو لپاره ترې کوته پرې کړه او وروسته په ډېرې بې رحمۍ ووژل شو. همداراز څو میاشتې وړاندې څلویښت کلنه هندۍ مېرمن جودت ډې سوزا چې په کابل کې یې د اغا خان بنسټ سره کار کاوه د جون د میاشتې په نهمه نېټه وسله والو کسانو د کابل له قلع فتح الله سیمې تښتولې وه. په وروستی یوه پېښه کې د افغانستان د امریکایې پوهنتون دوه تنه استادان تېره ورځ وتښتول شول. د امریکایې پوهنتون دواړه استادان د کابل په لویدیځ دارلامان سیمه کې له پوهنتون نه د خپل هستوګنځي پر لور روان و چې وسله والو کسانو یې موټر ودروه، ښیښې یې ورماتې کړې او دوی په زوره له ځان سره یوړل. د بهرنیو وګړو د تښتولو دا کومه لومړی پېښه نه ده بلکې له دې وړاندې هم د مرستندویه او ځینې نورو ادارو کارکوونکي د وسله والو کسانو له خوا یرغمل شوي دي.

اوس پوښتنه دا ده چې د انسان تښتونې پیښنو تر شا د چا لاسونه دي؟ انسان تښتونه په هېوادوالو په ځانګړې توګه په پانګوالو کومه اغیزه کوي؟ او څنګه کولای شو چې له یادې پدیدې څخه خلاصون پیدا کړو؟

انسان تښتونه لوی جنایې جرم دی چې یو عام عادي وګړی یې نه شي ترسره کولی. هغه څوک چې په دغو پیښو کې لاس لري؛ هغوی یا به زورواکي وي، یا به د کوم چارواکي د کورنۍ غړي وي او یا به په یو نه یو ډول د چارواکو له ملاتړه برخمن وي.

سمه ده دا به ومنو چې له دوی سره امنیتي ځواکونه (پولیس) هیڅ راز همکاري نه لري خو دا چې د امنیتي ځواکونو په شتون کې د ښار په منځ کې انسان تښتونه ترسره کیږي دا بیا په دې دلالت کوي چې امنیتي ارګانونه د نامسلکي، کمزورو او نالوستو کړیو په ولکه کې دي، دوی یوازې د خپلو جیبونو او یا د هغه چا لپاره کار کوي چې د هغوی له خوا دغو څوکیو ته معرفي شوي دي. دوی د ولس په درد نه شي دوا کیدلی.

دا چې په وروستۍ یوه میاشت کې د سوداګرو تښتونې زور اخیستی دی؛ اغېز یې د هېواد په اقتصاد، سوداګرو او پانګونې برسیره دی. سوداګر بیچاره ګان آن د تښتونو له وېرې خپل اولادونه په سم ډول ښوونځیو ته نه شي استولی. که حکومت د پانګه والو د تښتونې د مخنیوي او د هغوی د پانګې ضمانت ونه کړي، له هېواده به د پانګې فرار ته لاهم لاره برابره شي. د سوداګرو او پانګوالو تښتونې او قتلونه د هېواد پراقتصاد او پانګونې سخت ګوزار دی او حکومت باید دې مسالې ته پاملرنه وکړي.

حکومت باید خپل مسولیت ادا او د خلکو خوندیتوب ته پاملرنه وکړي. همداراز د ملي یووالي د حکومت مشران دې د ټاکنیزو کمپاینونو پر محال له سوداګرو سره کړې ژمنې عملي کړي. ولسمشر ته په کار دي چې د ښارونو په ځانګړي توګه د کابل د امنیت د ساتلو لپاره د پولیسو په لیکو کې تصفیوي عملیات ترسره کړي. حکومت باید د کابل ښار د امنیتي حوزو آمرین له سره وارزوي او هغوی چې د کار وړتیا نه لري باید له دندې ګوښه او تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي. حکومت باید په ښار کې د امنیتي ځواکونو د یونیفورم د خرڅلاو مرکزونه پیدا او تر جدي څیړنو لاندې ونیسي او ترې هغه تور لاسونه پیدا کړي چې د حکومت له دننې له دغو ډلو سره لاس لري او د یارانې تارونه یې غزولي دي.

زمری یا اسد/ 1396

# کډوالو ! د خدای په خاطر کډې مو رابار کړئ

د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، پاکستاني حکومت په دې هېواد افغان سوداګرو ته ګواښ کړی، چې د ۶ میاشتو په اوږدو کې خپل کورونه او مارکېټونه خالي کړي. پاکستاني دولت ۱۲۰۰ هغو افغان سوداګرو ته چې له شاوخوا ۳۰ کلونو راهیسې د دې هېواد په بېلابېلو سیمو کې پانګونې کړې دي، شپږ میاشتې ضرب الاجل ټاکلی دی او ویلي دي، چې ژر تر ژره دې خپله پانګونه، له مارکېټونو او هټیو ټوله کړي او له دې هېواده دې ووځي. یادو سوداګرو ته ویل شوي، چې شناخت کارتونه یې جعلي او ملکیتونه یې د پاکستانیانو په نومونو دي. دا لومړی ځل نه دی، بلکې له دې مخکې هم افغان سوداګر په پاکستان کې په بېلابېلو پلمو ګواښل شوي دي آن تر دې چې څو ـ څو کرته پاکستاني پولیسو په ناقانونه توګه افغان سوداګر ځورولي او پیسې یې ترې اخیستې دي.

له سوداګرو هاخوا افغان ډیپلوماتان او په پاکستان کې نور میشت عام افغانان هم د پاکستاني حکومت لخوا د ټولو نړیوالو ډیپلوماټیکو اصولو خلاف ځورول شوي او لا هم دا لړۍ روانه ده. په پاکستان کې میشت افغان کډوال تل شکایت کوي چې د پاکستان حکومت ورته په یوه او بله پلمه ستونزي جوړوي او د کاروبار او تګ راتګ مخه یې نیسي. معولاً له افغان حکومت سره د پاکستان د سیاسی اړیکو د خرابیدو پر مهال؛ پاکستاني پولیس پدغه هیواد میشتو افغان کډوالو ته ستونزي جوړوي او ددوي پروړاندې له زور زیاتي څخه کار اخلي. که څه هم پاکستان تل هلته میشت کډوال ځورولي دي خو اوس په وروستیو کې د تورخم له شخړې وروسته پر له پسې ځورول کېږي. له دغې شخړې وروسته پاکستاني پولیس هره ورځ په لسګونو افغانان نیسي او د بیلابیلو جرمونو ټاپه پرې لګوي. همدا تیره جمعې ورځ هم د پېښور پولیسو ۷۴ افغانان د غیر قانوني وسلو او مخدره موادو د ساتلو په تور نیولي دي. د پاکستاني رسنیو د خبر له مخې، پاکستاني پولیس وایي، چې یاد کسان په ځانګړو عملیاتو کې نیول شوي دي.

اوس په تازه کې په پیښور کې د افغانستان جنرال قونسل ښاغلی عبدالله پویان وایي چې دوي د افغان مهاجرینو سره د محلی پولیسو د ناروا چلند په اړه د پاکستاني مقاماتو سره پرله پسې ملاقاتونه کړیدي، ژمنې ورسره شویدي، خو بیا هم د پولیسو په سلوک کې بدلون نه دی راغلی. پویان ویلي چې دی د پاکستاني مقاماتو د ژمنو نه مایوسه شویدی او داسې ښکاري چې دوی په رضاکارانه او ابرومندانه توګه د افغانانو د بیرته ستنیدو په قول کې صادق نه دي.

## د حکومت مسولیت څه دی؟

۱ـ کلونه کیږي چې افغان کډوال د پاکستان په شمول د نړۍ په بیلابیلو هېوادونو کې له ستونزو سره لاس او کریوان دي، سپک ورته کتل کیږي آن تر دې چې په بنوونځیو کې یې افغان ماشومان د زده کړو حق نه لري خو د افغانستان د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت یې د ستونزو د حل لپاره هیڅ د پام وړ کار نه دی کړی. آن دا وزرات تش د سمبول په شکل شتون لري او فضول د حکومت بودیجه مصرفوي. لومړی خو باید د کډوالو چارو وزرات کې لازم اصلاحات رامنځته شي او که اصلاحات ناشوني وي نو بیا دې وزارت لغوه اعلان شي او پر ځای دې یې د کډوالو مسولیت اړوندو سفارتونو ته وسپارل شي.

۲ـ حکومت ته په کار ده چې نور د پاکستان له مجبوریته ځان راخلاص کړي او د هغو کډوالو لپاره چې په هلته میشت دي؛ دلته په افغانستان کې ورته د سرپناه ځایونه جوړ کړي.

۳ـ حکومت باید د هغو سوداګرو لپاره په کور دننه د فعالیت او پانګونې ټولې آسانتیاوې برابرې کړي چې په پاکستان او نورو هېوادونو کې یې په میلیاردونو پیسو پانګونه کړې ده.

۴ـ حکومت باید په زیربنایي پروژو کار وکړي څو په کور دننه هم خلک بوخت او شي او په بهر کې میشتو کډوالو ته هم د کار د نه شتون پلمه ورکه شي.

## د کډوالو مسولیت څه دی؟

افغان کډوال باید خپل وجدان راویښ کړي او قاطع پریکړه وکړي چې نور په پاکستان کې د بې عزتۍ شپې نه سبا کوي. دوی باید د خپل شخصي عزت د ساتلو تر څنګ د افغانستان عزت وساتي او هغه بې عزتي چې په ایران او پاکستان کې ورته کیږي؛ دا د دوی شخصي بې عزتي نه بلکې د ټول افغان ولس او د افغانستان بې عزتي ده. دا د افغانیت بې عزتي ده او دوی باید د خپل وجداني مسولیت له مخې افغانستان ته په راتګ د خپل هېواد عزت وساتي. همدا ډول هغه پانګوال چې په پاکستان کې یې پانګونه کړې ده؛ دوی هم باید ځانونه د خپل ولس په مقابل کې مسول وګڼي او هغه پانګونه چې یې هلته کړې ده؛ دلته راوړي او خپل هېواد په ابادۍ کې خپل مسولیت ادا کړي.

زمری یا اسد/ 1396

# مور د ډوډۍ؛ دوی د څوکۍ لیوني

افغانستان اوس مهال له ډېرو سختو امنيتي، اقتصادي او سياسي حالاتو سره لاس او ګرېوان دی. د افغانانو او افغانستان دښمن په کمين کې ناست دی او د فرصت انتظار باسي، اقتصاد ورځ تر بلې رکود کوي، په اداراتو کې فساد اوج ته رسيدلی، کارونه نشته، هره ورځ په لسکونو هېوادوال د بيلابيلو لاملونو له مخې له هېواده تيښته کوي، امنيتي حالات ورځ تر بلې ترينګلې کيږي، هره ورځ د ولسواليو د سقوط خبرونه ورکول کيږي. همدا اوس هم راپورونه وايي طالبانو د بغلان ولايت د دهنه غوري ولسوالي يو ځل بيا نيولې ده. ځايي اوسيدونکي وايي چې ۵ مرمۍ ضد ټانکونه او ۱۲ رينجرونه هم طالبانو نيولي دي.

دغه راز د طالبانو لاس ته د مرکزي بغلان د لوېدو خبرې کېږي خو ګڼه سرچينو تراوسه پورې دا خبره تاييد کړې نه ده. همدا شان تيره ورځ وسله والو طالبانو د نورستان ولايت وانټ وايګل ولسوالۍ د نيولو لپاره پر افغان امنيتي ځواکونو بريدونه وکړل، بل لور ته د هلمند ولايت د خانشين، ګرمسير او موسی کلا ولسواليو د سقوط خبرونه هم ورکول کيږي. همداراز په تير کې د کندز قلعه ذال، د سرپل ولايت د کوهستاناو، د فارياب ولايت د غورماچ او ګرزيوان، د ارزګان ولايت د چارچينو او د نورو ډېری سيمې د سقوط خبرونه ورکړل شويدي.

په ټوله کې ويلای شو که طبيعي پېښې دي، که قصدي وژنه ده او که د دولت او وسله والو مخالفانو تر منځ نښتې دي؛ په دې ټولو کې يوازې افغانان وژل کيږي او کورنۍ يې د غم په ټغر کېنول کيږي. له هرې خوا بلا او آفت په افغان ولس تيريږي. خو له بده مرغه چې چارواکي مو پر ولس خپور وحشت او آفات نه ويني او تل په خپلو ګټو سره لاس او ګرېوان وي. دوی په هلمند، کندز، نورستان، بغلان، سرپل او ننګرهار ولايت کې پر ولس روان وحشت نه ويني خو د دې په خاطر چې په درې مياشتو کې يې شريک ورسره نه دي ليدلي؛ مرکوني اخطارونه ورکول کيږي. ولس ډوډۍ غواړي دوی څوکۍ، ولس د سرپناه لپاره کور غواړي دوی ونډه او زور، ولس کار غواړي دوی په دولت کې زيات اختيار، ولس اصلاحات غواړي او دوی انتخابات، ولس امنيت غواړي او دوی په هر څه کې غنيمت.

د حکومت شریکانو دا هېر کړي چې ولس قرباني ورکړې او د سر په بدله یې دوی ته رایې ورکړې دي. دوی اوس د ولس له رایو د جانکیرې په لاس جوړه شوې د حکومت د دواړو شریکانو تر منځ سیاسي توافقنامه له اساسي قانون او د ولس له رایو معتبره بولي. دوی د حکومت مشروعیت د جانکیري د پرېکړې او د حکومت د مشرانو تر منځ سیاسي هوکړه لیک پورې تړی. همدا څو ورځې وړاندې چې اجرایه رییس عبدالله د تېرې پنج شنبې په ورځ په سپېدار ماڼۍ کې ځوانانو په وینا کې پر ولسمشر توندې نیوکې وکړې او د حکومت مشروعیت یې سیاسي هوکړه لیک او خپل لاسلیک پورې منحصر کړ. عبدالله عبدالله وویل: لومړی کس چې دغه حکومت ته یې مشروعیت ور وبانېه زه وم، هوکړه لیک مې لاسلیک کړ چې محمد اشرف غني د افغانستان ولسمشر دی او همدا وخت د حکومت مشروعیت پیل شو.

ښاغلي عبدالله دا هېر کړي دي چې ټاکنې وشوې، ولس رایه ورکړه، د خلکو ګوتې پرې شوې خو د رایو صندوقونو تر شا ودرېدل او خپل رایه یې استعمال کړه. ښاغلي اجرایوي رییس ته دا په یاد نه دي چې همدا ولس و چې د دې لپاره یې د کابل ښار واټونه په مظاهرو کې بند کړي و او دې یې پر مټ د کرزي حکومت او ټاکنیزو کمیسیونونو ته اخطارونه ورکول. نن یې ولې د ولس تېرې قرباني هېرې کړې دي؟

بله خبره چې د حېرانتیا وړ ده هغه په وروستیو کې یو ځل بیا له خلکو سره د ښاغلي عبدالله لیده کاته دي. د ملي یووالي حکومت له جوړېدو کابو دوه کاله تېرېږي. په دغه موده کې کله هم اجرایوې د ولس د ستونزو کتلو او د هغوی د حوال پوښتنې لپاره هیچرته نه دی تللی خو اوس چې یو ځل بیا یې په اوړو کې شګه پیدا شوې ده نو یو ځل بیا د ټاکنیز محال فورمول څخه کار اخلي او ولس سپر نیسي. خو د خوښۍ خبره دا ده چې د ملي یووالي حکومت په دوه کلنه دوره کې شیدې له اوبو بیلې شوې او ولس ته (رهبر) او (راه بُر) معلوم شول. ولس نور هیڅکله د دوی په وعدو نه غولیږي او هیڅکله به یې ملا ونه تړي.

زمری یا اسد/ 1396

# ننګرهار يوازې پرېنږدئ؛ له داعشه نېول شوې سيمې مديريت غواړي

راپورونه وايي چې په ننګرهار کې داعش ترهګرې ډلې سخته ضربه ليدلې او د حکومت او ايتلافي ځواکونو کډو عملياتو په پايله کې ترې د کوټ، اچين او هغه ځايونو کې چې داعش حضور درلود؛ ډيری سيمې پاکې شوي دي. افغان حکومت وايي چې په وروستيو دوو مياشتو کې يې په ختيځو سيمو کې د داعش پر ضد عملياتو ته شدت ورکړی دی. په وروستيو مياشتو کې امنيتي ځواکونو په ننګرهار کې د داعش د وسله والو پر ضد دوامدارې حملې کړې او د دې ډلې ګن شمېر غړي يې وژلي دي. دغه راز د ننګرهار ولايتي مقام د کوټ د غرني ولسوالۍ چې داعش ډلې په کې خپلې محکمې او د پوځي روزنې مراکز درلودل پراخې سيمې نيول شوي. د داعش د يوه لوی قوماندان سعد امارتي په شمول د دغې ډلې سلګونه کسان وژل شوي دي. په توله کې د حکومتي چارواکو خوشبيني ته په کتو؛ د حکومت او د ايتلافي ځواکونو عمليات برياليي ښکاري چې په پايله کې يې په سلګونو داعشيان وژل شوي او ګڼې سيمې ترې نيول شوي.

دا لومړی ځل نه دی چې د ننګرهار ځينې سيمې له داعشيانو تصفيه کيږي؛ تېر کال هم په ننګرهار کې د داعش پر ضد حکومتي او د ځايي پاڅون کوونکو عمليات ترسره شول، سيمې ترې ونيول شوې او ډيری داعشيان څه ووژل شول او څه له سيمو وتښتيدل. خو له يوې مودې وروسته بېرته په کليو مسلط شول او په خلکو او پاڅون کوونکو يې ناتار ګډ کړ. داعش چې لومړی په ننګرهار ولايت کې فعاليتونه پيل کړل، نو دې لپاره چې خپل زور خلکو ته وښيي، د شينوارو ۱۲ کسان چې پکې سپين ږيري هم شامل وو، پر بمونو والوځول. دغه راز دوی په کوټ، نازيانو او هسکې مينې ولسواليو کې هم يو شمېر کسان په دار وځړول، حلال کړل او په مرميو يې ووژل. دوی د ځينو هغو کسانو چې د امارت اسلامي غړي يې بلل؛ سرونه پرې کړل او په سلګونو نور عام خلک يې له ځانونو سره برمته کړل.

تېر کال د سلواغې په مياشت کې حکومت د داعش پر ضد عمليات پيل کړل، سيمه ايز پاڅون کوونکي هم ورسره شول او ډيری سيمې يې د داعش له منګولو پاکې کړې. خو له څه مودې وروسته داعش بيا پر کليو مخه وکړه او په خلکو او پاڅونوالو يې ناتار ګډ کړ، د خلکو کورونه يې وسوزول، خلک يې د پاڅونوالو په نوم ووژل، د چا يې سرونه پرې کړل او څوک يې له ځانونو سره برمته کړل. دا چې ولې داعش په ننګرهار کې بيا ځلي سر راپورته کړ؛ ډېر دليلونه لري خو دلته يې يوازې دوه عمده دليلونو ته اشاره کوو.

۱ـ تېر کال همدغه مهال وسله والو طالبانو د هېواد په شمالي ولايتونو هجوم راوړی و او حکومت ورسره په جګړه کې ښکیل و، طالبانو په کندز او بدخشان بريدونه کول آن دا چې کندز يې د څو ورځو لپاره تر خپلې ولکې لاندې راوستی و. د حکومت زيات تمرکز د هېواد د شمالي ولايتونو په امنيت راڅرخيده او په ختيځو ولايتونو کې يې د داعش خطر شاته غورځولی و. په پايله کې داعش يو ځل بيا په ځينو سيمو کې ځان منسجم کړ او پر کليو يې بريد وکړ.

۲ـ تېر کال هغه سيمې چې حکومت د عملياتو په پايله کې ي له داعشيانو پاکې کړې وې؛ ورسره بې غوري وکړه او سيمې يې بېرته پاڅونوالو ته پرېښودې. له سيمو يې امنيتي ځواکونه راوايستل او پاڅونوال يې په ميدان يوازې پرېښودل. داعشيانو چې ځان منسجم کړی و او پاڅونوال يې يوازې وليدل نو له فرصته په ګټې اخيستو يې پر کليوالو بريدونه وکړل او له پاڅونوالو يې غچ واخيست.

اوس چې يو ځل بيا خلک د داعش له وحشته تر پوزې راغلل؛ څو ځله ځايي مشران حکومت ته په عريضه راغلل. آن تر دې چې د ننګرهار د بې کفايته سيمه ايزو چارواکو له بې غورۍ او د مرکزي حکومت د ناپامۍ له وجې د شينوارو قومي مشران؛ پخواني ولسمشر حامد کرزي ته ورغلل. بيا حکومت اړ شو چې په ننګرهار کې د داعش پر ضد بيا هم عمليات ترسره کړي. اوس د حکومت او ايتلافي ځواکونو ګډ عمليات د داعش پر ضد روان دي او ويل کيږي چې په پايله کې يې په سلګونو داعشيان وژل شوي او ډېری سيمې ترې پاکې شوي دي. اوس بايد حکومت له تېرې تجربې ګټه واخلي او ننګرهاريان يوازې پرېنږدي. حکومت بايد له داعشه د نيول شويو سيمو سم مديريت وکړي. له هغو سيمو چې داعشيان يې شړلي دي؛ بايد يوازې پاڅونوالو او د سيمې خلکو ته پاتې نه شي. حکومت بايد په دغو سيمو کې د امنيتي ځواکونو لوی کنډک جوړ کړي څو په راتلونکې کې د داعش د احتمالي خطر مخنيوی وکړي. همداراز حکومت بايد د ننګرهار امنيت ته په ګټو؛ غوره، مسلکي او په کار پوه کسان د ننګرهار په امنيتي تشکيل کې وګماري. هغه فاسد او بې غوره چارواکي چې په شتون کې يې داعش پراخ فعاليت شروع کړ او پرمختګ يې وکړ؛ بايد له دندو ګوښه او پر ځای يې وړ او مسلکي کسان وګمارل شي. په ټوله کې حکومت بايد د ننګرهار نا امنه ولسواليو لپاره امنيتي تشکيل کې زياتوالی راولي.

زمری يا اسد/ 1396

# اتلانو زمونږ ویاړ یاست

د تاریخ په اوږدو کې افغانانو په چا تېری ندی کړی خو کله چې بیا څوک د افغانانو په خاوره تېری کوي نو افغان هغه قوم دی چې بیا د خپلې خاورې د دفاع په خاطر یې سربښندونکي قرباني ورکړي دي او تل یې دښمن ته غاښ ماتونکی ځواب ورکړی دی. د افغانستان هر بچی د خپل هېواد او هېوادوالو د خوندیتابه لپاره هر راز قرباني ته چمتو دی. یو له دغو سربښندونکو له جملې څخه زمونږ افغان امنیتي ځواکونه دي.

دوی د هېواد په هر کوټ کې د خپل سر به بیه د خپلې خاورې او ولس دفاع کوي. خپل ځانونه یې د خاورې او ولس څخه د دفاع په خاطر د دښمن کوزار ته سپر کړي دي. کله په نهاره او کله بې وسلې په هر راز شرایطو کې د خپل ولس خدمت کوي. زمونږ امنیتي ځواکونه دپیاوړې ارادې په درلودو سره د خپلې خاورې دفاع کوي او تل چمتو دي څو د هېوادوالو له ژوند څخه پوره ساتنه وکړي. دوی زمونږ دملي یووالی نښه ګڼل کېږی. مونږ په خپل امنیتي ځواکونو ویاړو ، ځکه چې د خپل هېواد او خلکو ساتنه په خپلواکه توګه ترسره کوي. ددې خاورې دښمنان او یا هغه کسان چې دبل په خبره او د بهرنیو هېوادونو داستخباراتو په لمسون سره خپل هېواد او ملي ځواکونوته زیان رسوي؛ د ټولو افغانانو دښمنان دي.

افغان ملي امنیتي ځواکونو خلکو ته د سولې او امنیت راوستلو او د ژوند خوندي کولو لپاره په ډېره زړورتیا سره خپل ټټرونه سپر کړیدي. لکه څرنګه چې د یوې دوامدارې اقتصادي پراختیا پرمختګ لپاره مونږ امنیت او ټیکاو ته اړتیا لرو او لکه څرنګه چې امنیتي ځواکونه مو د امنیت او ټیکاو ضامن دي نو د یو پرمختللي هېواد او غوره ژوندانه درلودو لپاره باید له خپلو امنیتي ځواکونو سره مرسته او همکاري وکړو.

د ارقامو له مخې افغانستان دمګړۍ شاوخوا درې نیم سوه زره امنیتي ځواکونه لري چې له دې ډلې یې یو سلو پنځوس زره ملي پولیس او نږدې دیرش زره نور سیمه ییز پولیس تشکیلوي. اوس مهال افغان امنیتي ځواکونه دخپل هېواد ټول امنیتي مسؤلیت او مشري پرغاړه لري او پرته له بهرنیو ځواکونو چانېز عملیات او له دښمن سره جګړه کوي. وړاندې تردې دعملیاتو پرمهال به په بیلابیلو سیمو او ولایتونو کې دافغان امنیتي ځواکونو سره یوه ځای بهرنیو ځواکونو هم په جګړه او عملیاتو کې برخه اخیسته ، خو د ۲۰۱۵ میلادي کال په لومړي سر کې د نړیوالو ځواکونو څخه افغان لوري ته دامنیتي چارو بشپړه لیږد وشو او واک افغان ځواکونوته وسپارل شو.

ددې تر څنګ یو بل ارکان چې د هېواد اوسنیو شرایطو ته په کتو یې کړنې د ستاینې وړ دي؛ هغه د ملي امنیت اداره ده. دغې ادارې د هېواد روان سیاسي او اقتصادي بحراني حالت ته په کتو د پام وړ کړنې ترسره کړي دي. کې شمیر ترهګر، جنایت کاران او د هېواد دښمنان یې نیولي دي، د کې شمیر ځان وژونکو او موټر بم چاودنو مخنیوی یې کړی دی، د هېواد او ولس د ډیری هغه دښمنانو هغه شوم پلانونه یې شنډ کړي دي

چې غوښتل یې په بیلابیلو مراسمو کې ولس د غم په ټغر کېنوي، د کڼ شمیر وسله والو غلو او انسان تښتوونکو باندونه یې نیولي دي او ددې تر څنګ په لسکونو نور په اخلاقي فساد ککړ اشخاص یې پیژندلي او د قانون منګولو ته سپارلي دي.

په ټوله کې ټول افغان ملي امنیتي ځواکونو تاریخي مسؤولیتونه په غاړه اخیستي. دغه اتلان مو اوس مهال په ډیرو سختو شرایطو کې د ولس ساتنه او د هیواد دفاع کوي. په ډیری مواردو کې ورته اړین خوراکي توکي او روغتیایې درمل نه ورسیږي، معاشونه یې کم او ډیری وختونه پر وخت نه ورکول کیږي، ددښمن سره د فاع په وخت او د اړتیا په صورت کې ورته له مرکزه مرسته نه ورسیږي، سالم تجهیز نلري. او په لسکونو نورې ستونزې هم لري چې باید ورته جدي پاملرنه وشي.

هغه قرباني چې زمونږ ځواکونه یې کوي؛ د قدر وړ ده ولې کافي جګړه ایز تجهیزات نه لري، لکه څنګه چې مونږ د سیمې او نړۍ د هیوادونو په استخباراتي لوی جنګ کې ښکیل یو نو په کار ده چې ځواکونه مو کافي امکانات ولري. ددې تر څنګ باید د مجازاتو او مکافاتو اصل هم په نظر کې ونیول شي او دغه ځواکونه باید ښه امتیاز ولري. په همدې ډول هغه ستونزې چې دوی یې لري باید ختمې شي، د هوایي ځواک ښه ملاتړ او د نړیوالو قدرتونو سالمې او ریښتونې مرستې باید ولرو. څکه دا د استخباراتو او سیمې جنګ دی، زمونږ سیاسیون باید د نړیوالې ټولنې سره خبرې وکړي څکه دښمن اوس ټولو ته معلوم دی، ولس او ټوله نړۍ پوهیږي چې د تروریزم ریښې چیرې دي او څوک هغه پالي، نو په کار ده چې نړیواله ټولنه فشار راوړي او له هغې پرته زه فکر نه کوم چې که مونږ هر څومره تجهیز او ځواکونه مو ډیر شي دا جنګ ختم کړای شو.

په داسې حال کې چې له پخوا جنګ ډیر شوی او د نړیوالو ځواکونو رول هم محدود دی نو سوال دا دی چې افغان ځواکونه څه او څه ته ډیره اړتیا لري؟ د پوځي شنونکو په باور د یو پیاوړي او بریالی امنیتي ځواک د لرلو لپاره اړینه ده چې امنیتي ځواکونه مو په لاندې وسایلو پوره تجهیز کړل شي:

- سپکې او درنې وسلې؛ توپونه ، هوان، زیکو یاک، ده شکه او ...
- جنګي الوتکې لکه ځمکه الوتکه ځغورځن جیټونه
- جګړه ایز او زرهي ټانکونه
- اوږد واټن ویشتونکي توغندي
- ټرانسپورتي وسایط؛ ټرانسپورتي الوتکې او چورلکې
- او تر ټولو اړین د زړو وسلو د ترمیم فابریکې، په قطعاتو کې زېرمه شوي خوراکي توکي، روغنیات او البسه، کافات او مجازات، او د اړتیا پر مهال له مرکزه دفاعي مرستندویه ځواکونو ورسول.

وږی یا سنبله/ 1396

# باجوه صاحب څه وايي؟

متل دی چې وايي : مه کوه په چا چې وبه شي په تا؛ يا هم له آزاره چا بازار کتلی نه دی. دا يو څرګند حقيقت دی که چيرې د بل چا دروازه په سوک ووهې نو ستا دروازه به حتما په لغته وهي. د پاکستان له زيږدو تر ننه دغه هيواد دلته په افغانستان کې خپل سپېره لاسونه راننه يستل او خپل هر راز کرغېړن اعمال يې يا هم په خپله او يا هم دلته د خپلو افغاني لاسپوڅو په ذريعه ترسره کړي دي او لاهم دغه لړۍ دوام لري.

تېرې جمعې ورځ سهار شپږ بجې ۱۴ طالب بريدګرو د پېښور اړوند په بډه بېره سيمه کې د پاکستان د هوايي ځواکونو په يوه نظامي مرکز ډله ييز بريد وکړ چې د امنيتي ځواکونو په شمول په کې ۲۹ نظاميان ووژل شول او ۲۹ نور ټپيان شول. د پېښې له ترسره کېدو څو ساعته وروسته د پاکستان د پوځ وياند عاصم باجوه د تير په څېر يو ځل بيا يوه خندونکې ادعا وکړه چې د پاکستان د هوايي ځواکونو په نظامي مرکز د بريد پلان په افغانستان کې جوړ شوی دی. باجوه ويلي چې بريد د پاکستاني طالبانو يو ګروپ کړې او د بريدګرو تر منځ خپلمنځي خبرو څخه معلومېږي چې دوی له افغانستان راغلي او د بريد پلان هم هلته جوړ شوی دی. يعنې هدف يې دا دی چې د بريدګرو د خبرو لهجه د افغانانو لهجه ده.

دلته که د باجوه خبرې په منطقي ډول وڅېړل شي په ډاګه کيږي چې د باجوه ادعا هم يوه خندونکې ټوکه ده او بس. باجوه ښاغلی د خپلې ادعا د ثبوت لپاره د بريدګرو د خپل منځي خبرو لهجه يادوي چې ګويا د افغانانو لهجې ته ورته ده. که داسې د يوې تروريستې پېښې د اثبات لپاره د لهجې ورته والی دليل ګڼل کيږي نو بيا خو دلته په افغانستان کې د ټولو پاکستاني کارګرو چې له کلونو راهيسې دلته په بېلابېلو ادارو او شرکتونو کې کار کوي او يا هم د شمالي وزيرستان هغه را اوښتي مهاجر چې د پاکستان د ضرب عضب عملياتو له ظلم او بربريته دلته کډوال شوي او لهجې يې په بشپړ ډول افغاني شوي دي؛ که چيرې دوی د خپل غچ اخيستو په خاطر له پاکستاني طالبانو سره يو کيږي او بيا دا ډول بريدونه کوي نو بيا خو دغه ټول وزيرستاني کډوال دې تروريستان دي. د پاکستان پوځ تېر کال د جون په ۱۰مه په شمالي وزيرستان کې د ضرب عضب تر نوم لاندې عمليات پيل کړل. دوی په دغو عملياتو کې د زرګونو تروريستانو د وژلو ادعا کوي خو اصل حقيقت دا دی چې تروريستان د پاکستان د لاس آله ده او تل يې د بل په ضد کاروي، دوی هيڅکله هم خپله آله له

منځه نه وړي. دوی په دغه عملیاتو کې یوازې هغه خلک په نښته کول چې د پاکستان کټې له خطر سره مخامخ کولې ځکه پاکستان یوازې هغو طالبانو ته ترهګر وايي او پر ضد یې جګړه کوي چې د دغه هیواد پر پوځیانو بریدونه کوي. دضرب غضب عملیات یوازې د پاکستان د پوځ پر ضد د پاڅون کوونکو پښتنو پر ضد عملیات و چې له کبله یې لکونه وزیرستاني پښتانه د پوځ له ظلمونو د افغانستان او پاکستان بېلابېلو سیمو ته وکوچېدل.

د پاکستان د پوځ ویاند عاصم باجوه په داسي حال کې دا ادعا کوي چې افغانستان له تېرو ۱۴ کلونو راهیسي وایي چې په دغه هیواد کې تول ترهګریز اعمال او ترسره کیدونکي بریدونه د پاکستان په خاوره کې پلان کېږي او ډیری لوی بریدونه له پاکستان څخه په مستقیم هدایت عملي کېږي. هر کله چې په پاکستان کي کوم غټ برید تر سره شي، نو چارواکي یې مخکې له دې چې پوره تحقیق وکړي؛ سمدستي په افغانستان تور پورې کوي. د دې پر ځای چي دوی پر مورړ تور لکوي هغوی باید د پولي هغه غاړي د تروریستانو پر ضد کامونه پورته کړي. په پوځي مرکزونو کې دې تروریستانو ته روزنه نه ورکوي، په لوړو او ارامه بلدونکونو کې دې ورته پناه نه ورکوي.

د باجوه دغې تور ته په کتو اوس پوښتنه پیدا کیږي چې آیا د پاکستاني مشرانو دا منطق به پر ځای وي چې له افغان لوري دي طالبان ور واوړي او بیا دې په خپلو همسنګرو بریدونه وکړي؟ آیا اسامه بن لادن د پاکستان په زړه ایبټ اباد کې ونه وژل شو؟ آیا له افغان پوځیانو سره د جګړې په ترڅ کې په ځلونو ځلونو پاکستاني طالبان نه دي وژل شوي؟

له ورایه معلومیږي چې د پاکستان له لوري دلته بل شوی اور اوس پخپله دپاکستان لمن ته هم رسیدلی، پاکستان اوس هغه مار چیچي چې د افغانانو د وژلو لپاره یې روزلی و. له نېکه مرغه اوس ټوله نړۍ، غربیان، امریکا او په خپله د پاکستان په دننه کې څېړونکي او تحلیلکران پر دې باور دي چې د ډیورند کرښې په پورې غاړه کې د القاعده شبکې، حقاني او طالبانو پناځایونه موجود دي. اوس هر څه چې کیږي پخپله د پاکستان د کړنو پایله ده.

وږی یا سنبله/ 1396

# په پاکستان باور کول؛ ځانته دوکه ورکول دي

په هېواد کې دننه د افغان په لاس د افغان وژنې پروژه چا روانه کړې ده؟ اصلي لوبغاړي يې څوک دي؟ د کومو موخو لپاره د جګړې اور تازه ساتي؟ افغان دولت يې په مهارولو او خپل دښمن په پېژندلو کې ولې پاتې راغلی دی؟

دا او دې ته ورته په لسګونو پوښتنې شته چې ولس يې ځواب غواړي.

له کله نه چې د برتانوي هند څخه د پاکستان په نوم هېواد جلا شوی دی؛ پاکستان په سیمه کې د سترو قدرتونو د استخباراتي لوبو په مسیر تګ کوي. اصلا دغه هېواد هم د همدې شیطانت او رضالت، دوه په جنګ اچولو او په سیمه کې د لویدیځ د موخو ترلاسه کولو په هدف د انګریز استعمار له لوري رامنځته شوی دي.

له هغه ځایه، چې پاکستان د نړیوالو لویو قدرتونو د ګټو د خوندیتوب له پاره رامنځته شوی، نو په سیاسي ډګر کې پرې باور یوه تېروتنه ده؛ ځکه طبیعي ده، چې دغه هېواد د هغوی د ګټو او موخو په مسیر حرکت کوي. کله چې دا د نړۍ په نقشه کې شامل شوی؛ په افغانستان کې يې په لاس وهنو پیل کړی دی او له بده مرغه او د افغانانو له بدې ورځې چې د تاریخ په اوږدو کې په افغانستان کې د پاکستان ضد د کوټو په شمار څېرې واک ته رسیدلي چې بیا د لویو قدرتونو په مرسته او د پاکستان په مکار سیاست هغه هم ډېر ژر له صحنې لیرې شوی دی.

دا چې په نړیوالو اړیکو کې د هېوادونو ترمنځ د معاملو، ډیپلوماسۍ او جوړ جاړیو میعار هېوادنې ګټې او په بهرني سیاست کې د بلمثل عمل ترسره کول د بهرني سیاست د خپلواکۍ او غښتلتیا په مانا دي؛ له بده مرغه چې د افغانستان په واکمنانو کې دغه اصل ډېر کمزوری و او حتا ډیرو يې لکه داوسني ګډ حکومت په شان له پامه غورځولی و.

پاکستان تل پر افغان دولت د خپل فشار لپاره بېلابېلې لارې په کار اچولي دي او لايې هم اچوي. کله يې په هغه هېواد کې له میشتو افغان کډوالو د آلې په توګه کار اخیستی دی، کله يې زموږ له کمزوري اقتصادي حالته ګټه پورته کړې او دلته له دغه هېواده په واریدیدونکو توکو او زموږ په صادراتويې ټیکس لوړ کړی دی. د دولت په چوکاټ کې دننه پاکستان ته وفاداره جاسوسانو فشار خو لا پر ځای پرېږده، وسله طالبان او ترهګر يې خو د متانو او ملا د تیر حیثیت لري چې د امریکا په مالي مرسته يې د افغان دولت او ولس په مقابل کې کاروي.

ډېر لیرې تاریخ ته نه ځو فقط د حامد کرزي او اوسني حکومتونو کې له افغانستان سره د پاکستان په اړیکو خبرې کوو. د حامد کرزي د واک په لومړیو ورځو کې هم پاکستان ته یو طرفه امتیازات ورکول کیدل خو له څو کلونو وروسته بیا کرزی د پاکستان په شوم نیت پوه شو او له دغه هېواد سره يې ښکاره دښمني شروع کړه.

خو له بده مرغه چې دا دښمني يې داسې محال پیل کړه چې هم يې له امريکا او هم له وسله طالبانو سره اړيکې خرابې وې.
اوس دلته په هېواد کې د غني او عبدالله د کډ حکومت له راتګ سره سم پاکستان غواړي د افغانستان د دښمنۍ ځواک کاواکه کړي. د ولسمشر غني له لوري پاکستان ته ډېر نږدې کېدل او ورته يو طرفه امتياز ورکول ددې سبب شول چې پاکستان لاهم په خپل مکار سیاست کې پیاوړی کړي. خو له نېکه مرغه چې ولس بیا د دغه هېواد په نیت پوه دی او هيڅکله به پرې دوکه نشي. په هېواد کې د وروستيو خونړيو بريدونو وروسته په ټول افغان ولس کې د پاکستان ضد روحيه لا هم پياوړې شوه چې په پايله کې دلته پاکستاني توکي تحريم کړل. ولس د دولت په هغه پالیسۍ هم سخته نيوکه وکړه چې پاکستان ته د يو طرفه امتياز ورکولو ترخه تجربه بیا تکرار کړه. همدغه و چې د کډ حکومت مشر هم په لومړي ځل پاکستان سره په تنده لهجه خبرې وکړې.
له دغې کارنامې وروسته پاکستان يو ځل بيا هڅه کوي چې د افغان دولت باور خپل کړي.
تېره ورځ يې د همدې کار د ترسره کولو لپاره د وزيرستان په سيمه کې په وسله والو ترهګرو د بې پیلوټه الوتکې نمايشي بريد وکړ. همدا شان د ريکا په کنفرانس کې د پاکستان د ملي امنيت سلاکار سرتاج عزيز حضور او د ولسمشر په ګډون د يو شمېر افغان چارواکو سره د هغه له کتنې وروسته پاکستاني چارواکو د پخوا په شان يوځل بيا د افغانستان په چارو کې د نه لاس وهنې، په افغانستان کې د سولې او ثبات په راوستو کې د خپل تعهد او مرستې ادعا وکړه. عزيز د افغانستان له حکومته وغوښتل چې په عامه افکارو کې د پاکستان ضد احساساتو مخنيوې وکړي.
اوس په دې ترتيب غواړي چې افغان دولت، افغان ولس او نړيوالې ټولنې ته وښايې چې ګويا اوس د ترهګرو د ځپلو لپاره کلکه او رښتينې اراده لري خو زه په افغان دولت او ولس غږ کوم چې د پاکستان تېر تاريخ ته په کتو هيڅ کله هم په دغه مکار هېواد باور ونکړي او په لوی لاس د افغانانو له زړونو د پاکستان اړوند کرکه کمه نه کړي.
اوسنی کډ حکومت که بيا هم پر پاکستان باندې په سياسي مسايلو کې باور کوي، په حقيقت کې خپل ځان دوکه کوي چې بيه به يې بيا هم ولس پرې کوي. ځکه په دغه هېواد باور کول هغه تېروتنه ده، چې له شلمې پېړۍ راوروسته تر ننه تکرارېږي. پاکستان دوه مخی سياست لري، تل يې په افغان دولت خپلې غوښتنې په نره منلي خو په مقابل کې يې زمونږ دولت په دروغجنو ژمنو دوکه کړی دی. دا د نن خبره نه ده، پاکستان د تاريخ په بهير کې د افغانستان دوست او خواخوږی نه دی پاتې شوی او د خپل هېڅ ګاونډي سره يې ښه ګاونډيتوب نه دی پاللی، نو پر دې اساس افغانستان ته په کار نه ده، چې د خير هيله ترې ولري.

**وږی يا سنبله/ 1396**

# توره کرښه چې باید سپینه شي..!

له ننه پوره ۱۲۲ کاله وړاندې د وخت ستر ابرځواک بریتانیا له لوري د افغانستان او د افغانانو په سینه توره کرښه راکاږل شوه. دا کرښه د افغانستان د هغه وخت واکمن امیر عبدالرحمن خان او د بریتانوي هند د بهرنیو چارو وزارت مرستیال وزیر هنري مورټيمر ډیورنډ لخوا وکښل شوه. د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان تر منځ هغه نږدې ۲۶۴۰ کیلو متره اوږده پوله ده چې لا تر اوسه پورې نه د افغانستان د حکومت لخوا او نه هم د کرښې په دواړو خواوو کې د مېشتو قومونو له خوا منل شوې.
دغه کرښه د بریتانوي هند د حکومت او د امیر عبدالرحمن خان لخوا په خپلو سیمو کې د محدودیتونو د اغیز د لرې کولو لپاره تر سره شوه. د تاریخ لیکونکو په باور دغه کرښه د انګریزانو له خوا پر افغانستان د پیسو او وسلو په بدل کې و تپل شوه چې د دغې کرښې له پیدایښته د افغانستان او پاکستان تر منځ د کړکېچ غوبل شروع شو. ویل کیږي په هغه مهال کې امیر عبدالرحمن په خپله خوښه دغه کرښه ورسره نه ده منلې بلکه د بریتانیا له لوري اړ شوی و او حالات ورته داسې برابر کړل شوي و چې له مجبوریته یې دغه کرښه ومنله. په هغه وخت کې انګلیس د افغان او قبایلو مشرانو تر منځ د نفاق اور بل کړ او حالات داسې شول چې امیر عبدالرحمن خان د دغو حالاتو د کابو کولو په خاطر د کرښې لاسلیک ته په دې شرط زړه کېښود چې د هندوستان حکومت به هیڅ وخت کوښښ ونه کړي د دې کرښې په دېخوا د افغانستان په سیمه کې د خندونو په موخه مداخله وکړي . همدا رنګه د افغانستان امیر به هیڅکله کوښښ ونه کړي ددې کرښې په هاخوا د هندوستان په سیمه کې د ستونزو په موخه مداخله وکړي.
امیر عبدالرحمن له څو لارو د انګلیس له لوري د دغې کرښې د لاسلیک لپاره مجبور کړای شوی و.
۱ـ د اوسنۍ ډیورنډ کرښې هاخوا او دېخوا ولسونو تر منځ بې اتفاقي له امله. ځکه د انګلیس هدف دا و چې د کرښې دواړه غاړې ولسونه د (افغانستان او قبایل) په نامه وویشي. دا ددې لپاره چې انګلیس په سیمه کې له روس څخه ډاریده. انګلیس ویل کچیري روس په افغانستان کې د بریتانیا ګټې له خطر سره مخ کوي نو لومړی به یې افغانستان مقابلې ته وړاندې کړي او که چیري افغانستان یې مات کړ نو په دویم قدم کې به قبایل ورسره جګړه وکړي او په دې ترتیب به روس بیا دومره توان ونلري چې له بریتانیا سره مقابله وکړای شي.
۲ـ امیر عبدالرحمن هغه مهال له بشپړې روغتیا څخه هم برخمن نه و. هغه مهال دی د نقرس په سخته ناروغۍ اخته و چې حتا له امسا پرته ګرځیدلی هم نه شو. نو له روغتیایي پلوه هم د ډیرو جنجالو د زغملو او یوې موضوع د بنه تحلیل وړتیا یې نلره.
۳ـ دده د واکمنۍ پر مهال د غلجایي مشرانو تقریبا اته سوه کورنۍ په هند کې مېشتې وې نو له دغو غلجایي مشرانو څخه هم ډاریده چې د بې تفاقۍ د زیاتیدو په صورت کې دده پر ضد لاس یو نکړي او پاڅون ونه کړي.
کله چې امیر عبدالرحمن خان ځان ناچاره ولید نو د دغو ستونزو د هوارۍ لپاره یې د انګلیس له لوري وړاندې شوې طرحه ومنله او د کرښې لاسلیک ته یې غاړه کېښوده. امیر دغه کرښه داسې نه منله چې ګویا

دا دې د افغانستان د تجزیې سبب شي بلکې هغه یوازې غوښتل چې د بریتانوي هند او افغانستان تر منځ د سیاسي نفوذ وېش دې وشي څو ولسونه لا زیات بې تفاقه نشي. ډیورنډ د تړون متن ولیکه او بریتانوي هیات نقشه وکښله. کله چې یې امیر ته نقشه وړاندې کړه نو امیر متوجه شو چې نقشه د متن خلاف ده او د بلوڅ او قومونو وېشلو خبره په کې مطرح ده نو په قلم یې ځینې اصلاحات په کې راوستل خو په نقشه کې یې لاس ونه واهه. امیر عبدالرحمن خان تر اخره دغه کرښه د ځمکنۍ تجزیې په نوم نه یادوله او د برتانوي هند او افغانستان تر منځ د سیاسي نفوذ د ساحو وېش یې باله. همدا ډول امیر په انګلیسي نه پوهېده نو له مارټیمر ډیورنډ سره یې هم انګلیسي متن نه دی لاسلیک کړی بلکې فارسي متن یې لاسلیک کړی و. همداراز تر ننه داسې کوم سند په لاس نه دی راغلی چې ګویا امیر دې انګلیسي متن لاسلیک کړی وي.

د تاریخ لیکوونکو په باور د دغې کرښې له لاسلیکه تر ننه پاکستان د افغانستان بربادۍ ته ملا وتړله. د وخت په هر دور کې له افغانستان سره د پاکستان اړیکې داسې نه وې چې په ستراتېژیکو اصولو برابر د دوه ګاونډیو هېوادونو په څېر له یو وبل سره راکړه ورکړه ولري. د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه او بیا وروسته د سردارد محمد داوود خان د واکمنۍ پر مهال دا اړیکې کړکېچنې وې. د ۱۳۵۷ کال د ثور د اوومې نېټې ترکرغېړنې کودتا وروسته هم د کابل- اسلام آباد اړیکې د پام وړ ښه والی نه درلود. کله چې د شوروي د یرغل پر مهال مو ځینې هېوادوال پاکستان ته کډه شول؛ په هغه وخت کې هم د دولتونو په کچه د افغانستان او پاکستان اړیکې ښې نه وې، چې د هماغه وخت پاکستاني چارواکو هم د افغانانو له مهاجرته ګټه واخیسته. دلته په هیواد کې یې دمجاهدینو تر منځ خپل منځي جګړو ته لمن وهله او پر روسانو او کمونیستانو د بریدونو په پلمه یې د مجاهدینو په لاس په عامه تاسیساتو او بنسټیزو پروژو بریدونه کول.

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر له یوولسمې پېښې راوروسته کله چې امریکا په افغانستان د القاعده شبکې د ځپلو په پلمه پوځي یرغل وکړ نو په هغه وخت کې د پاکستان دیکتاتور ولسمشر پرویز مشرف، د طالبانو د نظام پر خلاف د امریکا ملګرتیا وکړه او امرکایانو ته یې پوځي اډې ورکړې چې له هغه ځایه به یې پر افغانستان د ړندو توغندیو بریدونه کول. آن د پخواني ولسمشر حامد کرزي وخت کې هم د کابل او اسلام اباد  اړیکې د پام وړ ښې نه وې خو، د کرزي د دویمې دورې په وروستیو کې د دواړو هېوادونو اړیکې د ترینګلتیا وروستۍ پولې ته ورسیدلې.

همدا اوس هم په بېلابېلو تاکتیکونو پاکستان غواړي چې افغانستان دې د دوی د پنځم ایالت واوسي. کله په یو نوم او کله په بل نوم په افغان دولت د ډیورنډ په رسمیت پېژندلو په خاطر فشارونه واردوي.

لکه څرنګه چې دا تړون له ۱۸۸۳ نه تر ۱۹۹۳ پوري د ۱۰۰ کالو لپاره ټاکل شوی و؛ نو باید افغان دولت یې په ۱۹۹۳ کال کې غم خوړلی وای او د یادو سیمو د بېرته نیولو غوښتنه یې کړای وای. خو د کورنیو جګړو له امله یې دې مهم ټکي ته پام ونه کړ .

تر هغو چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د ډیورنډ په نامه دا کرښه شتون ولري؛ پاکستان به د افغانستان له بربادۍ لاس په سر نه شي. نو څومره ژر چې کیږي افغان دولت دې ددغې کرښې غم وخوري او افغان ولس دې نور له بدبختۍ خلاص کړي.    وږی یا سنبله/ 1396

# ټوپک سالاري یا ښایسته سالاري

د کار او دندی پیدا کولو معیار  په افغانستان کی تر اوسه پوری ( ټوپک، جهالت، زور، واسطه، اړیکې، بډې ورکول، میلمستیا ورکول، مذهبي ، قومي، ژبني او سمتي اړیکي پالل، شراب او کباب ورکول، په فساد ککړه مخینه لرل، قانون ماتوونه ، ګوندي مسایل، جهاد او مقاومت، خلقي او پرچمي  یا چپ لاسی او ښې لاسی، ښکاره چمچه ګیري، غوړه مالي ، ختیځ او لویدیځ ځپلي، د یو بهرني هیواد ملاتړ، د تش په نامه د فلاني رهبر ملاتړ، د بهرني هیواد پاسپورټ درلودل او په لسګونه نور غیر اسلامي، غیر افغاني او غیر قانوني لارې چارې دي؛ چې د ځوانانو زړونه یې له درس او سبق نه تور کړي دي. ډیری ځوانان وایي چې دلته شایسته سالاري نده دلته ټوپک سالاري او زور سالاري ده.

که چیري لیرې لاړ نشو د ښاغلي کرزي حکومت نه را پدېخوا او همدارانګه اوسني ګډ حکومت کې هم په لوړه کچه باندې پر بېلابېلو لوړو دندو او پوستونو داسې کسان ګومارل شوي وو او دي چې تاسو باور په خدای وکړئ چې په خپل مورنۍ ژبه نه سم خبرې کولای شي او نه لیکلی شي. تخصص، لوړې زده کړې، کاري تجربه او وړتیا خو پرځای پرېږده؛  د ګډ حکومت مشرانو ښاغلي غني او عبدالله د ولس سره ژمنه کړې وه چې دوی به پوه او متخصص کسان په دندو ګماري. او نو دا دی چیرې دي هغه پوه او متخصصین زه خو یی نه وینم.

د ګډ حکومت د مشرانو د سلاکارانو نه نیولی تر ټیټې کچې کارکوونکو پورې ایا داسې کوم متخصص او با تجربه کس تر اوسه ټاکل شوی دی او که نه؟ او که چیري داسې وای نو به لږتر لږه د افغانستان په یو برخه کې به ( سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز مثبت بدلون) خو به په تیر یو کال راغلی و. خو دا دی تاسې یې وینئ چې حالت له بدو؛ بدتر شوی دی. همدا اوس هم زمونږ په سیاسي نمایندګیو کې د افغانستان څخه دباندې داسې کسان په دندو ګمارل شوي او یا بوخت دي چې د دیپلوماسۍ په الف او ب خبر ندي، د هیواد  په تاریخ یې سر نه خلاصیږي، د هیواد په رسمي ژبو نه لیکلی شي او نه هم خبرې کولای شي. د علمي اثر یا کتاب په نوم خو قطعاً څه نلري، فعاله دیپلوماسي نلري، همدا اوس تاسو وګورئ زمونږ کابینې ته لس میاشتې کیږي چې دوی غیر له غونډو، کنفرانسونو، عکس اخیستنو او خبرو څخه نورو

ولس ته څه ورکړي دي؟ ایا که چیرې دوی واقعاً په کار پوه وای، متخصص وای، ستراتیژي او کاري پلان یې درلودلی، آیا وضعیت به همداسې وای لکه اوس چی دی؟

همداسې زمونږ لسانسه، ماسټران او ډاکټران په کور ناست دي او یا کچالو یا پیاز خرڅوي؛ اما برعکس داسې کسان په دندو ګمارل کیږي او یا شوي دي چې دوی کافي سواد نلري، کافي د کار کولو وړتیا نلري، خو یو څه لري چې واسطه، زور، ټوپک، بهرنی پاسپورټ، غوړه مالي (بلې صاحب او نخیر صاحب ) او یا هم دوه کلمې انګلیسي یې زده ده هغه هم د Hi او Bye څخه نور زیات نه پوهیږي ، تراوسه پورې په افغانستان کې ټوپک، واسطه او پیسې لومړیتوب لري؛ نه سواد، نه کاري تجربه، نه تخصص، نه تعهد او نه هم زړسوی ظاهراً ویل کیږي چې آزاد رقابت؛ اما ولس تر اوسه پورې د کوم آزاد رقابت شاهد نه و او نه هم دی. هغه په ځینو اداراتو کې فرمایشي او نمایشي ازمویني اخستیل کیږي. هغه هم د ولس د دوکه کولو په خاطر. اصلا نفر لا له وړاندې په دنده ټاکل شوی وي. دا واقعاً د افسوس خبره ده چې زمونږ هره خبره او ژمنه یوازې د ولس غولول او دوکه کول دي او بس .

نو تر څو چې قلم او کتاب د ټوپک او مرمۍ ځای ونه نیسي، تر څو چې لوړې زدکړې او کاري تجربه د واسطې او پیسو ځای ونه نیسي، تر څو چې وړتیا او پلان د میلمستیا او غوړه مالۍ ځای ونه نیسي، تر څو چې انسانیت او اسلامیت د قومیت او ژبې ځای ونه نیسي، تر څو چې آزاد رقابت د اړیکو او معامعلو ځای ونه نیسي او بالاخره تر څو چې قانون او اصول په اداراتو کې پر ټولو باندې یو شان پلي نشي نو همدا دیګ او همدا ټیپر به وي او بس.

**وږی یا سنبله/ 1396**

# جاسوسان شته خو څوک دي؟

په داسې حال کې چې ناامني او په افغانستان کې د وسله والو له خوا هدفي وژنې، ځانمرګي بريدونه، موټربم چاودنې، انسان تښتونې، په نسبتاً امن سيمو کې او په ځانګړې ډول پلازمېنه کابل کې د انسانانو ترور او بېلابېلې ترهګريزې کړنې ورځ تر بلې زياتېدونکې دي؛ د نظام په دننه کې د پردېو جاسوسانو د شتون او تر زنې ددوی د رارسيدو خبرې کيږي. دا څرګندونې نوې خبره نه ده؛ له دې وړاندې هم په بېلابېلو وختونو کې بېلابېلو چارواکو او رهبرانو د نظام په داخل کې له پرديو جاسوسانو يادونې کړې دي.

په دې وروستيو کې جهادي مشر استاد سياف د پخواني ولسمشر برهان الدين رباني په څلورم تلين کې وويل چې په افغانستان کې د ډيری ترهګريزو بريدونو مشري له کابله کيږي. همداراز د ولسي جرګې غړي هم په نظام کې دننه د جاسوسانو يادونه کوي. د يادې جرګې غړی عبدالرحيم وايې: د بادغيس په قادس ولسوالۍ کې د امنيتي سکتور د يوه وزير د ملکري په کور کې د وسله والو ګروپ ساتل کيږي، څو نور ګروپونه هم چمتو کوي چې دا ټول ګروپونه ولسوالۍ سقوط کړي، کله چې نيول کيږي درې سوه وسلې ورسره وې، په فوق العاده توګه پنځم ستون په دولت کې فعاله ده، کله لاس يې لنډ نه شي هېواد به د بحران خواته يوسي. له دې وړاندې هم څو ځله بېلابېلو چارواکو د افغان حکومت په دننه کې د وسله والو دنفوذ په اړه څرګندونې کړې وې.

اجراييه رييس عبدالله عبدالله هم د وزيرانو شورا په غونډه کې په حکومت کې د دغو کسانو له شتون څخه انديښنه څرګنده کړې وه، پخواني جهادي مشر استاد سياف او د ولسمشر لومړي مرستيال عبدالرشيد دوستم هم په حکومت کې دننه د ګاونډيو هېوادونو د لاسپوڅو له شتون څخه خبرې کړې وې او له دغه شتون څخه يې نيوکه کړې وه. د پخواني حکومت د کورنيو چارو وزير عمر داودزي هم د خپل کار په وروستۍ ورځ ورته څرګندونې کړې وې، اوس مهال چارواکي، سياسيون، مدني فعالين او جهادي مشران هم په نظام کې دننه د پرديو جاسوسانو د شتون خبرې کوي. خو تر دا مهال هيڅا هم په زغرده ونه ويل چې فلانی جاسوس دی، هيڅا هم د پرديو دغه جاسوسانو د نومونو د اخيستو هوډ ونکړ، هيڅا د ثبوتونو سره د دغو جاسوسانو افشاکيږي ونه کړه.

زه حیران دي ته یم چې ولې مو دولت، نور چارواکي، سیاسیون او جهادي رهبران د دغو پردي پالو نومونه له ولس سره نه شریکوي؟ آیا داسې خو به نه وي چې پخپله دوی ورسره کومه شریکه معامله ولري او د خپل منځي اختلاف له امله کله کله د جاسوسانو سندرې زمزمه کوي؟

که داسې نه وي نو ولې دا جاسوسان نه افشا کیږي؟ ولې یې څوک په زغرده نوم نه شي ا خیستلای؟ اصلا دغه جاسوسان څوک دي، له کوم ځای څخه راځي او د څه لپاره راځي؟

که څه هم په اوسني وضعیت کې د دغو جاسوسانو څخه د حکومتي ادارو پاکول ستونزمن کار دی خو د اوسني بحراني وضعیت څخه د ولس د خلاصون په خاطر دې د ګډ حکومت مشران د نظام له دننه څخه د جاسوسانو د پاکولو لپاره باید لاس په کار شي. که حکومت، چارواکي، جهادي رهبران او سیاسیون په ریښتیا هم د جاسوسانو پر وړاندې د مبارزې هوډ لري، نو دوی یې باید نومونه په ډاګه کړي. که د حکومت او چارواکو پرې زور نه رسیده نو د ولس زور خو بیا د خدای زور دی. ولس ته دې دغه مزدورې او لاسپوڅې څېرې وښودل شي چې ولس یې په خپله له شره ځان خلاص کړي. تر څو به حکومت په دغو پردیو مزدورانو سترګې پټوي او تر څو به ملت ددوی دلاسه په وینو کې لمبیږي؟ حکومت دې له هیڅا ډار نه کوي او ملت ته دې په ډاګه د دغو مزدورانو نومونه واخلي، تر څو به ولس نوره دوی ته حوصله کوي؟

د افغانستان دولت باید لومړی ځان د افغانستان له دښمنانو څخه پاک کړي. ځکه دوی ډېر خطرناک دي. دغه لاسپوڅي ټول رازونه، محرمیتونه او هغه لارې چې دښمن کولای شي له هغې څخه په ګټې اخیستو سره د افغانستان دولت او خلکو ته زیان ورسوي، همدغه جاسوسان یې هغوی ته ورښيي. په حقیقت کې دوی د افغانستان د دښمنانو د لاس آلې دي چې هغوی یې په هر راز ترهګریزو بریدونو کې کاروي.

اوس اړینه دا ده چې د ګډ حکومت مشران دې په نظام کې د پردیپالو جاسوسانو پلټنه پیل کړې، د ولس د وینې تویدنې او د خونړیو بریدونو مخنیوی دې وکړي. امنیتي وضعیت دې کابو کړي. خو پوښتنه دا ده چې حکومت به د کومې طرحې له مخې خدمتګار او جنایتکار چارواکي سره بیل او ولس ته رسوا کړي .

که حکومت په نظام کې دننه د جاسوسانو په اړه ولس ته وضاحت ورنه کړي، ولس ته به د تروریزم په وړاندې د افغان حکومت مبارزه تر پوښتنې لاندې راشي.

وږی یا سنبله/ 1396

# ځوانان مو مسافرۍ او هېواد مشران مو سیالۍ وخوړل

ښوونکي له زده کوونکي وپوښتل: زه ژاړم، ته ژاړې او هغه ژاړي، ووایه چې دا کومه زمانه ده ؟
زده کوونکي ځواب ورکړ: دا د اشرف غني او عبدالله د واکمنۍ زمانه ده
پخوا به مو هېوادوال په ځانګړې توګه ځوانان له دوه زره اوڅوارلسم کال څخه د ډار له وجې له هېواده تېښتې
ته اړ کېدل خو اوس چې دوه زره او پنځلسم کال دی ځوانانو مو ولې له هېواده پښې سپکوي؟
ولې مو تنکي ځوانان په دریابونو کې د ماهیانو او ځنګلونو کې د ځناورو خوراک شول؟ دلیل یې څه دی؟
ایا حکومت او مشران مو دغه ځوانانو ته د کاري ځواک په سترګه نه ګوري او که دوی ته د کار برابرولو توان
نلري؟ څه لاملونه لري او د حل لارې یې څه دي؟
په هره ټولنه کې ځوان نسل یوه لویه قوه ده چې هر ډول ګټه ترې اخیستل کیږي، حتی داسې وسله ده چې
هم د هېواد د پرمختګ او هم د بربادۍ د سترې آلې په توګه کارول کیږي. په هغه هېوادونو کې چې دغه ستر
بشري ځواک ته په درنه سترګه وکتل شي او د کار مناسبه زمینه ورته برابره شي نو بیا د پرمختګ کاروان یې
د سیالو هېوادونو په سر کې ځای نیسي خو په هغه هېوادونو کې چې دغه ځواک شاته وغورځول شي او
سترګې پرې رندې شي نو بیا یې زوال شروع شي. دلته زمونږ په هېواد کې بشري ځواک ته نه پاملرنه او یا
ورڅخه په سمه توګه ګټه نه اخیستنه؛ له هېواده د ځوانانو د تېښتې ستر لامل دی.
د وروستیو راپورونو له مخې په افغانستان کې پر امنیت او د هېواد پر راتلونکې بې باورۍ، ولس ته د ګډ
حکومت د مشرانو بې تفاوتي، د ټاکنیزو غوړو ژمنو په عملي کولو کې د غني او عبدالله پاتې راتللو، سیاسي
بې ثباتي، په هره وړه او لویه خبره د غني او عبدالله کړکیچ، اروپا ته د رسیدلو یو شمېرافغانانو لافې شاپې او
د انساني قاچاقچیانو هڅونې ددې سبب شوې چې تېرې هر وخت ډېر افغانان په ځانګړې توګه ځوانان او
ورې کورنۍ د ژوند او مرګ ترمنځ خطرناکې لارې خپلې کړي او هره ورځ سلګونه افغانان د یو ناڅرګند
برخلیک په لور له خپل هېواده ووځي.
ولسمشر غني او اجرایوي مشر عبدالله عبدالله چې د ټاکنیزو کمپاینونو پر محال یې خلکو ته د ژوند ښه
کولو،امنیت راوستلو، د ولس په دسترخوان کې د تغیر راوستلو، فساد له منځه وړلو او یو میلون ځوانانو ته
د کار زمینې د برابرولو ژمنې ورکولې اوس په خپلو کې سره نه جوړیږي او د پیشو او موږک غوندې د ابدي
اختلاف نظر له امله یې هرڅه له یاده وتلي او ولس یې هیر کړی دی. د نوي حکومت په تېره یو کلنه دوره
کې نه یوازې دا چې یو میلون کسانو ته د کار زمینه برابره نه شوه بلکه یو نیم میلون په کار وخت ځوانان مو
بېکاره او د خلکو له دسترخوانه هغه نیمه وچه ډوډۍ هم ورکه شوه. همدا لامل دی چې افغانان د یوه احتمالي
ژوند ښه کېدو په هیله له هېواد څخه تښتي ، د کډوالۍ ټولې ناخوالې پر ځان مني او ورځ تر بلې یې په
شمېر کې زیاتوالی راځي.

**د مرکزي احصایې د ریاست د ارقامو او د هغو معلوماتو له مخې چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت یې وړاندې کوي؛ د هېواد د ټول نفوس ۲۵ سلنه د کار په شرایطو برابر کسان مو بیکار او کم کاره دي چې ۱۷ سلنه یې کم کار او ۸ سلنه یې مطلق بیکاره دي. ددې تر څنگ ۹ میلونه هېوادوال مو چې د ټول نفوس ۳۶ سلنه جوړوي؛ د فقر ژوند لري او ۶ میلونه نور مو فقیرۍ ته نږدې ژوند لري چې په ټوله کې د هېواد ۱۵ میلونه نفوس مو فقیر خلک دي.**

په ټوله کې ویلی شو چې د هېواد د وروستۍ سیاسي، اقتصادي او امنیتي بې ثباتۍ ستر لامل؛ له ولس سره په ژمنو کې د ګډ حکومت د دواړو مشرانو پاتې راتلل دي. که چیري افغان حکومت د هېواد د بشري ځواک (ځوانانو) او بهر ته تلونکو هېوادوالو اړوند همداسې ګنډلې خوله او کاڼه غوږونه پاتې شي، نو لیرې نه ده چې د دوی یو لوی شمېر به د افغان حکومت له وسلوالو مخالفینو سره یو ځای کېږي او د دولت په ضد به په جګړه کې برخه اخلي

## حللارې

- د هېواد له جیواکنامیک او جیوپولیټیک موقعیت او د ګاونډیو هېوادونو له اړتیاوو څخه چې افغانستان ته یې لري؛ په سمه توګه ګټه اخیستنه
- د نورو هېوادونو سره د ښې راکړه ورکړې درلودو لپاره د هېواد د اقتصادي لارو او بندرونو لکه د وریښمو او لاجوردو لارو بیا فعالول
- د یو جیواکنامیک او جیوپولیټیک موقعیت لرلو ته په کتو په منځنۍ اسیا او په ټوله نړۍ کې د ستر اقتصادي هېواد په توګه د خپل موقعیت ثابتول
- د هېواد طبیعي منابعو او کانونو په سمه توګه کیندنه او په کې هېوادوالو ته د کار زمینه برابرول
- له هېواده نورو هېوادونو ته د سلونو مترمکعب اوبو د تک مخنیوی او په سیندونو د اوبو بندونو، فابریکو، نهرونو او برښناکوټونو جوړول چې په دې سره هم په زرګونو هېوادوالو ته د کار کولو زمینه برابرېږي
- په هېواد کې د شته نیمه فعالو او په ټپه دریدلو فابریکو بیارغاونه او فعالول
- په هېواد کې کرهنیز سکتور ته وده ورکول، په هېواد دننه کرهنیزو توکو ته د پروسس او بسته بندۍ لازمې اسانتیاوې برابرول او په بهر کې افغاني کرهنیزو توکو ته بازار موندنه
- **وږی یا سنبله/ 1396**

# د اصلاحاتو د کمېسیون نا اصلاح طرحه

په داسې حال کې چې یوه اونۍ وړاندې د ټاکنیزو اصلاحاتو کمېسیون دوو غړو له دې کمېسیون سره د پرېکون اعلان وکړ؛ د کډ حکومت مشر غني د یاد غیر قانوني کمېسیون ۷ سپارښتنې تصویب او ستایلې دي. کاوون کاکړ او شامحمود میاخیل د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمېسیون پر نورو غړو تور ولګاوه چې اکثره یې د سیاسي کوندونو او کړیو لپاره کار کوي، پرېکړې یې پر ملي روحیې سمبال نه دي نو ځکه یې له دې کمېسیون سره پرېکون وکړ. د ټاکنو خپلواک کمېسیون خو لا دمخه د ټاکنیزو اصلاحاتو کمېسیون وړاندیزونه د افغانستان د ټاکنو د قانون خلاف بللي دي. اوس دا دی ولسمشر محکې له دې چې د خلکو اندېښنو ته ځواب ووایې او یاده طرحه وارزوي چې په موجوده وخت کې څومره د عملي کېدو وړ ده؛ تصویب او ستایلې ده.

د دغه کمېسیون طرحه له وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د پخواني په فساد ککړ رییس ملا معنوي او د اجرایه ریاست او ارګ ته وفادارو کوندونو لخوا جوړه شوې ده. لومړی خو ددغه کمېسیون جوړول په خپله د قانون پښتی ماتول دي ځکه د هېواد د اساسي قانون په خلاف د کډ حکومت د شریکانو د سیاسي هوکړې په اساس جوړ شوی دی. بل په دغه کمېسیون کې ټول کسان د سیاسي موخو د ترسره کولو لپاره کومارل شوي دي او هیڅ کوم کس په کې مسلکې نه دی. خو که چیرې بیا هم ولسمشر او اجرایه رییس ته خپل سیاسي توافق نامه د قران ټکی او د کاني کرښه وي او پر اساس یې د اوسني ټاکنیز نظام اصلاح کول غواړي نو بیا ددوي لخوا د وړاندیز شوي ټش په نوم اصلاحي کمېسیون ترکیب غیرقانوني دی. په دې معنا چې د اصلاحي کمېسیون غړي بې پرې نه دي او د غني او عبدالله تر څنګ په کې د سیاسي کوندونود کټو پلوي خلک هم شته. د کمېسیون رییس شاسلطان عاکفي د ولسمشر؛ او مرستیال یې صدیق الله توحیدي د اجرایوي رییس وفادار کس دی او په همدې ترتیب نور غړي هم په دواړو ډلو کې شریک دي. ددوي کړنې او طرحې د ولس د خوښې نه بلکه د سیاسي کوندونو او ارګ و اجرایه ریاست د خوښې طرحې دي. حقیقت دا دی چې د دغو کسانوپه حضور سره به د راتلونکو ټاکنو شفافیت ترپوښتنې لاندې راشي.

په دې کمېسیون کې د کورنیو نا خپلواکو اشخاصو تر څنګ بهرني مغرض او د افغانستان د کډوډۍ پلوي خلک هم شتون لري چې له شک پرته به په بېلابېلو بڼو بیا هم د راتلونکو ټاکنو د بدنامولو او د یو کمزوري او لویدیځ ته وفاداره پارلمان جوړولو هڅې وکړي. په دې کمېسیون کې د بهرنیو مغرضو اشخاصو د شتون ناکامه تجربه به بیا هم تکرار شي او راتلونکی پارلمان به مو له شته دوه سري حکومته بدتر ناهمغږی او وېشلی پارلمان وي. ځکه د بهرنیانو پخوانی پلان دی چې هیڅ وخت باید افغانستان کې د یو واحد نظر لرونکې اداره او دولت رامنځته نشي. دوی په ۲۰۰۹ کال کې هم د دوه سري حکومت جوړولو هڅه کړې وه خو د وخت واکمن ولسمشر کرزی یې په وړاندې ودرید او د دوه سري حکومت جوړولو پلان یې ورته شنډ کړ.

په دې وروستیو کې د ددغه تش په نوم اصلاحي کمېسیون لخوا ولسمشر ته وړاندې شوې طرحه؛ داسې طرحه ده چې په لوی لاس په ټاکنو کې د یو ځانګړي قوم د ګډون مخنیوی کوي. دا سمه ده چې ټاکنیز نظام اصلاح ته اړتیا لري خو اصلاح باید داسې وي چې د مرکز په ګډون په ولایتونو کې هم د ولس مشوره واخیستل شي ترڅو دا سی یوه جامعه طرحه حکومت ته وړاندی شي چې د هېواد موجوده واقعیتونه په نظر کې ونیسې او د افغانستان په شرایطو کې د تطبیق کېدو وړ اوسي ،عملي جنبه ولري، د افغانستان اکثریت ولس ته د منلو وړ وي او د هیڅ یوه قوم، سمت او یا ډلې په خلاف او زیان نه وي. خو دا دی په ډاګه شوه چې وروستۍ وړاندې شوې طرحه د ولس د خوښې نه بلکه د ملا معنوي او د څو ګوندونو د خوښې هغه ده.

د بېلګې په توګه په یاده طرحه کې یوازې درېو لویو ستونزو ته اشاره کوو چې هم د حکومت او هم د ولس په زیان دي.

۱ـ رایې کارتونه باطول او پر ځای یې تذکرې کارول : د رایې د کارتونو پر ځای د برېښنایي تذکرو له لارې رایه ورکول عملي بڼه نه لري ځکه د برېښنایې تذکرو د وېش جنجالي پروسه تر اوسه هم له تخنیکي پلوه نیمګړې ده او وېش یې ناشونی برېښي. موجوده ستونزو ته په کتو د تذکرو وېش ناممکن ښکاري خو که د تذکرو د وېش لړۍ نن هم پیل شي نو ناشونې ده چې د ټاکنو تر نیټې ټول خلک تذکرې تر لاسه کړي او یا ښایي بیا هم د تذکرو په وېش کې درغلی وشي او ټولو ته و نه وېشل شي چې له امله به یې زیات خلک د رایې له ورکړې محروم شي.

۲ـ له انځورونو سره د رایه ورکوونکو لیستونه جوړول : یاده طرحه وړاندیز کوي چې د رایه ورکوونکو لیستونه به د هغوی د انځورونو سره وي او په انټرنېټ د خپرېدو تر څنګ به دغه لیستونه د مدني ټولنو په واک کې هم ورکول کیږي. باوري یم چې د هېواد ډېری اوسېدونکي دا نه غواړي چې ددوی د مېرمنو انځورونه دې په انټرنېټ خپور شي او د مدني ټولنو په واک کې دې ورکړل شي. نو په دې اساس به یوه لویه کتله ګوري خلک له رایه ورکولو ډډه وکړي.

۳ـ سیاسي ګوندونو ته څوکۍ ورکول : یاده طرحه وړاندیز کوي چې د موجوده ۲۵۰ وکیلانو نه باید سل څوکۍ ګوندونو ته چې په سلو کې ۴۰ سلنه کیږي؛ ورکړي. اصلا دا څوکۍ به هغه ګوندونه ترلاسه کړي چې زیات امکانات، مسلح ګروپونه او ډلې لري. ددې طرحې له مخې به هغه ګوندونه چې پرمختلي، ملي او دیموکراتیک دي خو پیسې او نور سیاسي امکانات نلري؛ د بریا چانس ډېر کم ولري ځکه دومره پیسی او امکانات نه لري چې د ټول هېواد په کچه ځان لپاره کمپاین وکړي.

نو په ډاګه ویلی شو چې د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون رامنځته کېدل غیرقانوني دي، او د کاوون کاکړ په وینا په دغه کمېسیون کې تر ډېره بریده د سیاسي ګوندونو او ګروپو له پاره کار کیږي. د یاد کمېسیون له خوا وړاندې شوې طرحې کې د خلکو په نوم اخیستل شوي نظرونه د ولس نه بلکه د دغه کمېسیون او سیاسي ګوندونو نظرونه دي. د یادې طرحې پلي کول؛ په لوی لاس یو ځانګړی قوم له ټاکنو محروموول دي. وږی یا سنبله/ 1396

# د حکومت مشرانو اختلاف؛ د پاکستان زړورتیا

د نړۍ په نقشه کې د پاکستان په نوم هېواد له شاملېدو وروسته په افغانستان کې د کاونډیانو په تیره د پاکستان له لوري په سرحدي سیمو په سلګونو ځله تېری شوی او له صفري نقطې څخه دېخوا یې د افغانستان په داخل کې په سلګونو کیلومتره ځمکه لاندې کړې. سره له دې چې افغان دولت د امریکا په شمول له ناټو ترون او د نړۍ له نورو لسګونو هېوادونو سره ستراتیژیک، امنیتي او دفاعي تړونونه لري خو بیاهم نه د امریکا، نه د ناټو ځواکونو او نه هم د نورو دفاعي تړونونو لاسلیکوونکو هېوادونو لخوا د پاکستان د دغو ښکاره تیریو په مقابل کې د افغانستان ننګه کړې او نه یې په ملګرو ملتونو کې په اړه کوم قانوني اقدام شوي دی.

پاکستان تل په افغانستان کې له هر فرصته ګټه پورته کړې او وخت ناوخت یې د افغانستان د خاورې د لاندې کولو هڅه کړې ده. دغه هېواد په تېرو څو کلونو کې د افغانستان په خاوره په کیلومترو راننوتی دی، چې تراوسه افغان دولت او ناټو پرې ځان ناګاره کړی. آن ځیني کارپوهان  ادعا کوي چې پاکستاني پوځونه د بن له تړون وروسته په سلګونه کیلومتره د افغانستان خاورې ته راننوتي دي.

مونږ یې د بیلګې په توګه د څو ځایونو یادونه کوو چې په بیلابیلو وختونو کې د لاندې کولو هڅه کړې. ځینې وختونه د افغان امنیتي ځواکونو لخوا په شا تمبول شوي او په ځینو ځایونو کې خو لا اوس هم کار روان دی.

۱ـ د ننګرهار په ګوشتې ولسواکۍ کې ۴۵ کیلو میتره د افغانستان خاورې ته راننوتل او دروازه جوړول

۲ـ د کنړ ولایت د اسمار او دانګام ولسوالیو *ته لسګونه کیلومتره راننوتل* او هلته دتالاشۍ پوستې جوړول

۳ـ د پکتیکا ولایت برمل ولسوالۍ کې شل کیلو متره ننوتل او په انګور اډه کې دروازه درول

۴ـ د کندهار ولایت د معروف ولسوالۍ په صفري نقطه کې یو کیلومتر د افغانستان خاورې ته ننوتل او د پوستو جوړول

۵ـ د خوست ولایت د غلام خان بندر سیمې ته راننوتل

۶ـ همداراز د ډیورنډ پر کرښه د ازغن سیم تیرول، د کرښې شاوخوا خندق کیندل او همداشان د پوستو جوړول

د پورته یادوو شوو سیمو څخه په دفاع کې مو کڼ شمیر د امنیتي ځواکونو سرتیري شهیدان او په لسکونو ټپیان شوي دي خو له بده مرغه چې حکومت مشران مو پرې کانه غوږونه ناست دي. د یادو شویو سیمو دلاندې کولو څخه پرته؛ پاکستان له څو کلونو راهیسې د افغانستان په یو شمیر سرحدي ولایتونو راکټي بریدونه کوي چې د انساني او مالي زیان او مرګ ژوبلې تر څنګ په کې د هېواد طبیعي ځنګلونه او ځنګلي حیوانات هم زیانمن شوي دي. د کونړ، ننګرهار، نورستان، خوست، کندهار او پکتیکا ولایتونو په ځینو ولسوالیو کې د پاکستاني پوځ په رندو راکټي بریدونو کې مو کڼ شمېر هېوادوال مړه او ټپیان شوي دي. همداشان د حکومت په داخلي چارو کې په خلاص مټ لاس وهنې کوي خو پوښتنه دا ده چې افغان حکومت یې په مقابل کې چوپتیا ولې غوره کړې ده؟

ځواب څرګند دی؛ اصلا د کډ حکومت د مشران د خپلمنځي اختلافاتو او کوچنیو موضوعاتو له امله پر خپلو پلو واک نه لري او دفاع یې هم کولای نشي. دوی فکر کوي چې ټول افغانستان یوازې کابل دی په داسې حال کې افغانستان خپلې پولې او جغرافیه لري خو مشران مو ورته پام نه کوي چې د خپلې خاورې او ولس دفاع وکړي.

د وروستیو راپورونو له مخې د پکتیکا خلک وایې چې د برمل ولسوالۍ په انکور اډه کې د پاکستاني پوځ له لوري پیل شوې دورازه بشپړه شوې او دولت یې پر وړاندې د پام وړ غبرګون نه دی ښودلی. له نېکه مرغه؛ سیمه ییزو خلکو د پاکستاني حکومت د دې اقدام په وړاندې غبرګون ښودلی او د لاریون په تر سره کولو یې د هغه مخالفت کړی خو په سیمه کې میشت سرحدي ځواکونه ، د پکتیکا والي او په کابل کې مسؤل چارواکي یې په اړه پټه خوله دي.

مونږ وایو که کډ حکومت په ریښتیا د خپلې خاورې د سرحدونو مدافع وي او په ریښتیا هم له هغوی څخه د دفاع ورتیا لري؛ نو باید د پاکستان د دغه بربند تیري په مقابل کې بې تفاوته پاتې نشي.

وږی یا سنبله/ 1396

# د ژوندیو هدیره

په داسې حال کې چې لا هم په هېواد کې دننه د ځوانانو، ماشومانو او ښځو په منځ کې اعتیاد مخ پر ډېرېدو دی او حکومت د هغې د مخنیوي له پاره کومه ځانګړې حل لاره نه لري؛ د امریکا ولسمشر بارک اوباما د افغانستان، برما او مکسیکو په شمول د نړۍ ۲۲ هېوادونه د مخدرو موادو د تولید او ترانزیت ستر مرکزونه وبلل. اوباما وویل چې افغانستان له تېرو ۱۶ یا ۱۵ کلونو راهیسې د نړۍ د کوکنارو تر ټولو ستر تولیدوونکی هېواد دی. دا په داسې حال کې ده چې یوازې ځوانان د نشو قربانیان نه دي، بلکې په وروستیو کلونو کې د مېندو او ماشومانو په منځ کې هم دغه شمېره لوړه شوې ده. په یو شمېر ولایتونو کې هغه مېرمنې چې په کرکیله کې په کار بوختې وي خپلوماشومانو ته تریاک ورکوي او دغه څه د عمر په زیاتېدو سره د ماشومانو په نشو د روږدي کېدو سبب کرځي.

په ښکاره د نشه يي توکو خرڅلاو، د ځوانانو بیکاري، خراب امنیتي وضعیت، بهرنیو هېوادونو ته کډوالي، کورنۍ تاوتریخوالی، له روږدو کسانو سره ناسته پاسته او مخدره موادو ته اسانه لاسرسی؛ هغه اساسي عوامل دي چې په نشه يي توکو د خلکو روږدیدا کې مرسته کوي. د نشه يې توکو پرضد د مبارزې وزارت د معلوماتو له مخې په ۲۰۱۵ کال کې د معتادینو او هغو کسانو شمېر چې په بدن کې یې د مخدره توکو استعمال مثبت ارزول شوی درې نیم میلیونو ته رسیږي. ددغه روږدو کسانو ډېره برخه يي له ایران او نورو بهرنیو هېوادونو را ستانه شوي افغان کډوال، په کور کې ناستې میرمنې، کلیوال ځوانان او بې سرپرسته ماشومان دي.

همدا اوس د کابل په پل سوخته، کوټه سنګي، کارته مامورین، کارته سې، ده بوري او د دریمې، پنځمې او شپږمې ناحیې ډېری سیمې د ژوندیو انسانانو په هدیره بدلې شوي دي، دلته داسې خلک تر سترګو کیږی چې ویښته یې ببر دي، بدن یې مردار دی او یوازې هډوکي ور پاتې دی. دوی ټول د پوډرو په اعتیاد اخته دي. د اعتیاد شومې پدیدې نه یوازې ځوان قشر تر خپل اغیز لاندې راوستی دی بلکې یو شمېر میرمنې او ماشومان هم پر دغه شومه پدیده اخته شوي دي . خو پوښتنه دا ده چې په افغانستان کې اوسني او تېرو حکومتونو او نړیوالې ټولنې په دې برخه کې څه کړي دي؟ په خپله د افغانستان حکومت د نشه يې توکو پر ضد د مبارزې وزارت کومې لاسته راوړنې لري؟ او له ۲۰۰۱ کال افغانستان ته د امریکا او نړیوالې ټولنې له راتګ وروسته نشه يې توکو څومره پراختیا کړې ده؟

په افغانستان کې د طالبانو د حکومت له ړنګېدو او د امریکا له راتګ وروسته دلته د نشه يې توکو پر ضد مبارزه کې کوم ځانګړی پرمختګ نه دی شوی. دلته د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې په نامه چې څه ترسره کېږي؛ بنسټيز نه دي ځکه دا مبارزه پرله پسې مبارزه نه ده، د افغانستان د نشته يې توکو پر ضد د مبارزې وزارت؛ فقط د نشه يې توکو پر ضد د مبارزې نړيواله ورځ لمانځي او همداشان نړيواله تولنه هم فقط خپلې کلنۍ سروې او ريپوټونه وړاندې کوي او بس. هغه شان چې په ۲۰۰۸ کال د نړیوال سازمان په غونډه کې پرې پرېکړه وشوه او په ۲۰۰۹ کال کې هم تاييد شوه؛ هیڅ کار نه دی شوی.

## حللار

لکه څرنګه چې دا موضوع يوازې افغانستان پورې اړه نه لري او يوه نړيواله ستونزه ده . د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې نړيوال سازمان ډېر مسووليتونه لري. په دې معنا چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې بايد د يو منظم پلان له مخې کار وشي. هغه شان چې په ۲۰۰۸ کال د نړیوال سازمان په غونډه کې پرې پرېکړه وشوه او په ۲۰۰۹ کال کې هم تاييد شوه . اساسي موضوع د نشه يي توکو د توليد د مرکزونو له منځه وړل دي، د کرلو بديل رامنځته کول دي، او بزګرانو ته د بديل کښت د کرنې پراختيا لپاره زمينه برابرول دي. بيکاري له منځه وړل دي، د هېواد امنيتي وضعيت ته جدي پاملرنه اړينه ده، په بازانو کې په خلاص مټ د خرڅلاو مخنيوی اړين دی، د عامې روغتيا وزارت له لوري په مرکز او نورو ولاياتو کې د روږدو کسانو د درملنې د مرکزونو زياتول اړين دي، په پارکونو او نورو ځايونو څخه چې پوډريان په کې پوډر څکوي؛ جمع کول او په جدي توګه ددوی درملنه په کار ده.

وږی یا سنبله/ 1396

# د ګډ حکومت ناکامه بهرنۍ پالیسي

افغانستان د اسیا په زړه کې د خپل جیوپولیټیک او جیواکنامیک موقعیت له مخې او موجوده وضعې ته په کتو د سیاسي، ټولنیز، کلتوري او اقتصادي حالت د پرمختګ لپاره په سیمه او نړۍ کې افغان شموله سیاست او پالیسۍ ته اړتیا لري. داسې پالیسي چې د وخت په هر ډول شرایطو کې خپلې ملي ګټې او موخې ثابتې او خوندي وساتي. خپل ستراتیژیک دوستان له ځان سره وساتي او تر منځ یې انډول مراعات کړي. د افغانستان ګاونډیانو په تېرو ۱۰۰ کلونو کې له افغانستان سره له فعال سیاست نه کار اخیسته خو له بده مرغه افغانستان یې په مقابل کې د پام وړ سیاست نه لاره او سیاسونو او چارواکو مو یوازې د خپل نوم، موقف او څوکۍ لپاره پرې خوله پټه کړېده او په دې نه دي توانېدلي چې په سمه توګه له ملي ګټو نه د فاع وکړي.

له نېکه مرغه په افغانستان کې د کورنیو جګړو وروسته په دې وروستیو کلونو کې د افغانستان اړیکې د سیمې او نړۍ له ډېرو هېوادونو سره ټینګې شوي دي خو له بده مرغه چې د سیالو او رقیبو هېوادونو تر منځ مو هیڅ انډول نه دی ساتلی. په همدې سبب مو سیالو هېوادونو ته زمونږ په هېواد کې د نیابتي جګړې کولو فرصت په لاس ورکړی دی چې همدا مسایل سبب شوي چې افغانستان ونه توانېږي څو د ګاونډیو، سیمې او د نړۍ د هېوادونو تر منځ انډول وساتي او د خپلو ملي ګټو لپاره کار وکړي. افغانستان په تېر حکومت کې هم روښانه بهرنۍ پالیسي نه درلوده، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره په اړیکو کې مو انډول نه و ساتلی. په تېر حکومت کې مو روسیه، ترکیه، چین او نور هېوادونه د بهرنۍ پالیسۍ محور نه و ګرځولي، ټوله اتکا مو په امریکا او ایران وه، پخواني ولسمشر حامد کرزي هغه محال له روسیې سره اړیکې ونیولې چې کله د امریکا په شوم نیت پوه شو او ترې ناهیلی شو، همدا ډول چین او ترکیه هم.

د غني او عبدالله د واکمنۍ پر محال د بېلګې په توګه د افغانستان په بهرني سیاست کې د پاکستان او هندوستان سره په اړیکو کې ناانډولي یادوو.

په تېر حکومت کې د افغانستان او هند اړیکې خورا ښې وې، هند له ۲۰۰۱ څخه تر ننه له افغانستان سره د پام وړ مالي مرسته کړې. ځینې خلک بیا وایې چې هند په افغانستان کې نیابتي جګړه روانه ساتلې، خو د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان او هندوستان اړیکو ته په کتو؛ هندوستان له افغانستان سره هیڅ داسې کار ندی کړی چې زمونږ ولس دې هندوستان ته د نیوکې ګوته ونیسي. خو تاریخ ګواهي ورکوي چې په افغانستان کې د ټولې جګړې جرړې د ډیورنډ کرښې ها خوا دي. په افغانستان کې د ګډ حکومت په منځته

راتګ سره د سیالو هېوادونو په ځانګړي توګه د پاکستان او هندوستان تر منځ د انډول نه ساتلو قانون لا پسې پیاوړی شو او ولسمشر غني هم پاکستان ته د یو طرفه امتیاز ناکامه تجربه تکرار کړه. د حکومت په لومړیو ورځو کې یې کابل ته د پاکستانیو چارواکو د راتګ ور پرانیست او په خپله هم څو وارې د اسلام اباد میلمه شو. خو د معمول سره سم د پاکستان دوه مخي توب او دروغجنو وعدو پرته یې هیڅ هم تر لاسه نه کړل. پاکستان ته یو طرفه امیتاز ورکولو سره افغانستان د وخت د ضایع تر څنګ نور ډېر زیانونه هم وکړل چې دا دی تر ټولو تازه بېلګه یې په کابل کې همدا اوسنۍ د (ریکا) شپږمه اقتصادي غونډه کې چې د نړۍ د دیرشو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو تر څنګ په کې د نړۍ د څلوېښتو سازمانونو استازو ګډون درلود خو د هندوستان د بهرنیو چارو وزیرې په کې د ګډون بلنه رد کړه او ګډون یې ونکړ. په بهرنۍ پالیسۍ کې د انډول نه ساتلو له امله مو هېواد د سیمې د هېوادونو تر منځ د سیالۍ ډګر ګرځېدلی، نه پکې خپله د سیمې هېوادونه د اصلاحاتو او سولې لپاره جدي اقدام کوي، او نه هم د امریکا په مشرۍ سیمه کې نړیوال ځواکونه د سیمې د ثبات لپاره پخه اراده لري. نو دلته ده چې افغانستان د دوست او دښمن توپیر نه شي کولای، ځکه خو یې په خپل بهرني سیاست کې د اړیکو د انډول اصل مات کړی دی.

هغه هېوادونه او نړیوال سازمانونه چې باید د افغانستان په بهرنۍ پالیسۍ کې ورته ځای ورکړل شي او تر منځ یې انډول مراعات شي:

- د سیمې هېوادونه
- اسیایي هېوادونه
- عرب هېوادونه
- لویدیځ او امریکا
- ملګرو ملتونه او نورې نړیوالې ټولنې

د هېواد ستراتیژیک موقعیت ته په کتو، بهرنی سیاست باید د پوره پنځو کته کوریو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سره په سمه توګه عیار کړای شي. خو تر ټولو لومړی باید د بهرنیو چارو وزارت کې یوه پراخه څنډنه وشي او د کار اهل کسان باید په کار وګمارل شي.

وږی یا سنبله/ 1396

# د مشاوریت ساري ناروغي

پخواني ولسمشر کرزي په ارک کې له کابینې څخه یې مشاورین زیات ساتلي و. په هره برخه یې ځانته یو مشاور ټاکلی و. اصلاً په افغانستان کې د مشاورت په نامه ساري ناروغي رامنځته شوې ده او دا د تېرو حکومتونو په ځانګړي ډول له ۱۳۷۰ کلونو راوروسته حکومتونو میراث دی آن دا چې په ۱۳۷۰ کال کې د افغانانو سرسخته دښمنان او د بهرني هیوادونو اتباع هم د مشاورینو په توګه ټاکل شوي و. دا هغه میراث دی چې شونې ده تر ډېره وخته په دې هیواد کې شتون ولري، په تېرو حکومتونو کې هم کار به یې معلوم نه و خو د ولسمشر په څنګ کې به ترسلو ډېر مشاورین ناست و، اوس دا دی د ګډ حکومت د مشرانو د مشاورینو شمېر له کرزي هم اوړي. ولسمشر او اجرایوي رییس په هره برخه کې ځانته یو یو مشاور لري. هله دا د اقتصادي چارو مشاور دی، هله دا په کار او ټولنیزو چارو کې مشاور دی، هله دا په سیاسي چارو کې مشاور دی، هله دا په کورنیو چارو کې مشاور دی، هله دا په نړیوالو چارو کې مشاور دی، هله دا د ښځو په چارو کې مشاوره ده، هله دا د ځوانانو په چارو کې مشاور دی. هله دا په جهادي او د مجاهدینو په چارو کې مشاور دی او هله دا په کونستي چارو کې مشاور دی، همداشان دیته ورته په لسکونو نور بې کټې مشاورین.

د خدای لپاره دا څه حال دی؟ ولس په څه کې دی او حکومت مشران په څه کې دي؟ ولس له لوږې مري؛ سهار چې یوه مړۍ د خوراک لپاره په سوال پیدا کړي بیا د بیګا لپاره حیران وي چې خدایه اولاد به مې بیا په نهاره ویده کېږي، خو د ګډ حکومت مشران مو لکه د غنیمت مال په بېلابېلو نومونو د څوکیو په وېش نه جوړېږي، ولس مو د پوښاک لپاره په تن کولو جامې نلري او حکومت مشران مو په فرمایش له بهره د زرهاوو ډالرو په ارزښت دریشي ګانې غواړي، ولس مو د سرپناه ځای نلري خو چارواکي مو په بهرنیو هېوادونو کې بلډنګونه او مارکېټونه رانیسي. خلک له لوږې او بیکارۍ خپل اولادونه پلوري یا هم بهر ته د ټګ لپاره یې په دریابونو کې ماهیانو او په ځنګلونو کې د حیواناتو د خوراک ښکار کوي خو دوی د ملت په سرمایه په لسکونو مشاورین د ځان لپاره ټاکي.

زه حیران یم چې دلته زما په هېواد کې څه ریشخندي روانه ده، د مشاورینو په شمېر کې ورځ تر بلې ډېروالی راځي خو د کار یې درک نه لګیږي. زه ډاریږم چې د مشاورینو د ګمارنې دا لړۍ تر دې حده ونه رسیږي

چې سبا به وایې دا مې په ورځنیو چارو کې مشاور دی، دا مې د فامیل په چارو کې مشاور دی، دا مې په لباس اغوستو کې مشاور دی، دا مې د ږیرې او ویښتانو په اصلاح کې مشاور دی او دا مې .......

اصلاً دا مشاورین څه داسې مسلکي خلک نه دي چې ګویا د ملت له غمه به مړه وي او د هرې ستونزې د لازم حل لپاره به د کډ حکومت مشرانو ته مشورې ورکوي، دوی ولس د مشاورینو په توګه نه دي ټاکلي بلکه دا هغه څوک دي چې د اجرایوي مشر او ولسمشر لخوا ورسره د ټاکنیز کمپاین پر مهال د څوکۍ وعدې شوې وې، دوی هغه څوک دي چې یا د ولسمشر او یا د اجرایوي رییس لخوا د یو وزارت او یا بل پوست لپاره ولسي جرګې ته د باور رایې اخیستو په موخه ورانديې شوي و خو د رد رایه یې اخیستې. نو اوس چې د څوکۍ ورتیا نلري او د باور رایه یې ترلاسه نه شوه کړای نو د مشاور په نوم یې خوله وربنده کړه.

زه له حکومتي مشرانو پوښتنه کوم چې آیا د ولس په نوم څوک پېژنۍ؟ آیا د حق په نوم مو څه اوریدلي یا یې پېژنۍ؟ او آیا د قیامت د ورځې په نوم مو څه تر غوږو در رسیدلي دي او که نه؟ تاسې ولې د ملت په پانګه او د بیت المال په شتمنیو ملنډې وهۍ؟

زه بیا هم د کډ حکومت په مشرانو غږ کوم دغه کسان چې تاسې خپل مشاورین ټاکلي دي او ستاسې تر شاوخوا راټول دي، دغه کسان چې تاسې ته مشورې درکوي او جناب صیب، جلالت ماب صیب، فلان صیب او نور لقبونه درته استعمالوي؛ دوی ستاسې او د ملت دوستان نه دي بلکې هغه د څوکۍ او پیسو دوستان دي، هغوی د واک او قدرت دوستان دي، که باور نه کوۍ په امتحاني ډول یې یوه میاشت تنخواوې مه ورکوۍ بیا به وګورۍ چې څوک ستاسې ریښتونی مشارو دی او څوک د ملت له غمه مړ او خاص د الله رضا او د ولس د ارامۍ لپاره مشورې درکوي؟

وږی یا سنبله/ 1396

# د هېواد ویده مشران او د بېکارۍ بحران

په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د یوه عادي دولتي مامور معاش د ۶۵۰۰ او ۳۰۰۰۰ افغانیو تر منځ دی او پر دې سربېره د دولتي اجیرانو معاش د ۳۰۰۰ او ۵۰۰۰ ترمنځ دی خو یو شمېر چارواکي شته چې د ۶۰۰۰ امریکایي ډالرو نیولی تر ۲۰۰۰۰ امریکایي ډالرو پورې میاشتنۍ تنخواوې لري. له دې ورهاخوا فوق العاده امیتاز، سیاسي پاسپورت او دسترخوان هم ورکول کېږي. تر څنګ یې درېیمه ډله خلک هم شته چې د خوراک لپاره یوه مړۍ ډوډۍ نلري، د پوښاک لپاره له خیراتي کالیو پرته خپل کالي نلري او د ورځني ژوند د ا ړتیاوو د پوره کولو لپاره هیڅ کار نلري.

د کډ حکومت مشرانو د خپلو کمپاینو پر مهال ولس ته غوړې غوړې ژمنې ورکولې، غر به یې ورته غوښنه او سیند به یې ښوروا کړ، ویل به یې چې د بېکاریو کچه به راکښته او د اوږدمهاله کار زمینه به برابروي. د ولس په دسترخوان کې به بدلون راولي؛ همداراز غني به د ټاکنو پر مهال هېڅ افغان تر بل افغان کم نه ګڼلو، د ارګ او مسجد تر منځ د واټن د لمنځه وړلو خبره یې کوله، د امنیت ټینګښت او سولې راوستو اړوند یې سینه ډبوله ، یو میلیون بې کاره خلکو ته یې د کار زمینې برابرولو ژمنه کوله، کار یې اهل کار ته سپارلو، حکومت یې د روابطو نه بلکې د ضوابطو پر بنسټ جوړولو او تر ټولو مهمه د اقتصاد او دولت جوړول وو، څکه دی د ورانو شویو دولتونو د بیا جوړولو اړوند کتاب څښتن دی.

خو اوس دا دی تاسې په خپله قضاوت وکړئ او د کډ حکومت د مشرانو د تېرو ژمنو سره اوسنی کار یې پرتله کړئ. آیا بېکاري له منځه ولاړه او که لاپسې یو میلون په کار بوخت ځوانان مو بېکاره شول؟ آیا د ولس په دسترخوان کې مثبت بدلون راغی او که له دسترخوان څخه هغه شته نیمه ډوډۍ هم ورکه شوه؟ آیا د ارګ او مسجد واټن کم شو او که په لوی لاس ولس له دولته واټن پیدا کړ؟ آیا امنیت ښه شو، په هېواد کې د سولې څرک هم وینې او که په خپل کور کې هم له ا نفجار او ا نتحار خوندي نه یو؟ آیا کار اهل کار ته سپارل شوی او که په لوی لاس د کوندي او سمتي ملحوظاتو په اساس اوس هم کمارل او کوښه کول روان دی؟

آیا په ادارتو کې د روابطو ځای ضوابطو نیولی دی؟

او تر ټولو مهمه دا چې د هېواد اقتصادي حالت مو څومره ښه والی کړی دی ؟ او څومره پانګه او پانګوال مو هېواد ته بیرته راستانه کړي دي؟

ځواب روښانه دی، هر څه یې د ورکړل شویو ژمنو خلاف کړي دي. یوازې د بشري ځواک اړوند اشاره کوو چې ځوانانو مو نه یوازې نوې دندې پیدا نه کړې بلکه له شتو دندو هم کوښه شول او ډیری ځوانان بیکاره دي. بیکاره ځوانان له هېواده ت ښتې ته اړ شوي دي. هره ورځ سلګونو ځوانان ګاونډیو، عربي هېوادونو او اروپايي هېوادونو ته ځي. د انسان د قاچاق کونکو بازار هم ښه ګرم دی. ډیری ځوانان مو په سیندونو کې د ماهیانو او په ځنګلونو کې د حیواناتو د خوراک شول.

تاسې پخپله فکر وکړئ؛ هر کال په زرګونو ځوانان له پوهنتونو فارغېږي دوی هم په بېکارانو ور ډېرطېږي، دا شمېر کرار کرار میلیونونو ته رسیدونکی دی. په یو هېواد کې چې په یو کور کې په شلو تنو کې یو یې کار کوي او هغه هم بېکاره شي د ۲۱ تنو لوږه ستر ټولنیز او انساني ناورین نه دی؟ دا ناورین باید اساسي حل شوی وی خو حل نه شو بلکې لا پسې ډېر شو.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د معلوماتو له مخې اوس په افغانستان کې د کار پر شرایطو برابر ۱۲ میلیونه وګړي شته چې ۴ میلیونه یې بېکاره دي. د دغه وزارت شمېرې ښيي چې په ټول هېواد کې ۲۵ سلنه د کار پر شرایطو برابر وګړي بېکاره دي. په هېواد کې د کاري اسانتیاوو نه شتون د دې سبب شوی دی، چې تر یو نیم میلیون ډېر ځوانان په نشتو اخته شي. په کڼ شمېر ولایتونو کې په ځانګړي ډول د کابل پر سیند او ځینو نورو ځایونو کې تر پلونو لاندې او د ختځلو په ځایونو کې میلیونونه نشه یان په داسې حال کې ژوند کوي چې د ځان ساتنې له پاره یې هیڅ ډول پام نه وي.
دا یوازنۍ ستونزه نه ده چې باید یاده شي په دغه هېواد کې نږدې دوه میلیونه ماشومان درانه کارونه کوي چې د قانون له مخې یې باید مخنوی وشي. ددغه ټولو حقیقتونو په درک کولو سره دې پایلې ته رسیږو چې په هېواد کې د اوسنۍ ټولې بیکارۍ او ناورین اصلي عاملین د ګډ حکومت مشران دي چې باید ولس ته ځواب ورکړي.

وږی یا سنبله/ 1396

# له ریګا مو څه ترلاسه کړل؟

په کابل کې د ریګا شپږم په نوم د افغانستان لپاره د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانس له دوو ورځو بحثونو څخه وروسته د جمعې په ورځ پای ته ورسید. دغه کنفرانس چې ورته د اویااوو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو لوړ پوړي چارواکي او استازي ورېلل شوي وو، په کې د افغانستان او سیمې لپاره د مهمو اقتصادي پروژو پر عملي لارو چارو بحث وشو. دغه کنفرانس ته عبدالله عبدالله وویل چې ، په سیمه کې د ټرانسپورټ، انرژۍ او سوداګرۍ په سکتورونو کې د پروژو د پراخولو مهم نوښتونه په مخ کې دي، چې په پلي کېدو سره به یې د سیمې میلونونو وګړو ته د روزګار زمینه برابره شي. له شک پرته چې د افغانستان کانونه، اوبه، هوا او ستراتېژیک موقعیت د کټورو مالي سرچینو په توګه یادولی شو چې ارزښت یې له یو څخه نیولې تر درې تریلیون ډالرو رسیږي. خو ددغو ټولو سرچینو څخه د سالمې ګټې اخیستنې لپاره پیاوړې او واحدې ارادې ته اړتیا ده. سالمې او افغانستان شموله ستراتېژۍ ته اړتیا ده، سالم مدیریت ته اړتیا ده اما له بده مرغه د کډ حکومت تېر یو کلن تاریخ او خپل منځي اختلاف ته په کتو ترې د خیر هیله نشي کیدای. د عبدالله خبره په خپل ځای سمه ده خو په کابل کې د ریګا تېر کنفرانس او د اوسني کډ حکومت ستراتېژۍ او د کار کولو ارادې ته په کتو هیڅ داسې خوشبیني نشته او وراندوینه هم نشې کیدای چې ګویا د افغان ولس په درد دې دغه کنفرانس هم دوا شي.

په دغه کنفرانس کې د کډ حکومت مشر غني هم له ګډون کوونکو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو څخه وغوښتل، چې د افغانستان له لارې د برېښنا او غازو په لېږدولو، د اوسپنې پټلۍ په جوړولو چې افغانستان د سیمې له هېوادنو سره ونښلوي او له افغانستان سره همکاري وکړي. له شک پرته چې یادې پروژې د افغان اقتصاد په پیاوړتیا کې اساسي رول لري خو په اوسنیو شرایطو کې د افغان ولس لومړنۍ اړتیا امنیت دی او د داسې سترو پروژو عملي کول هم له امنیت پرته ناشوني دي. دلته چې په مرکز کې په خپلو کورونو کې مو ولس خوندي نه دی او نړدې هره ورځ قرباني ورکوي نو په لیرې پرتو سیمو کې چې کاونډیانو سره هم پوله لري؛ ددغو ډول پروژو عملي کول به څومره امکان ولري؟

حکومت چې د ننګرهار په یو شمېر ولسوالیو کې د داعش نفوذ په قابو کولو کې ناغېړي کوي نو له ترکمنستان څخه افغانستان ته د برېښنا د صادرولو او د افغانستان له لارې پاکستان ته د برښنا دلېږد پروژې ساتنه به څنګه وکړي؟

دوی چې د کندز، هلمند، بدخشان، نورستان او ننګرهار د ځینو سیمو خلکو امنیت نشي ډاډمنولی نو له ترکمنستان څخه هرات او نورو ولایاتو ته د تېرېدونکي غازو نللیکې امنیت څنګه خوندي کولای شي؟
حکومت چې د هیواد په بېلابېلو سیمو کې د زورواکانو له لوري د ناقانونه کان کېندنې مخنیوی نشي کولای نو څنګه به په دغه هیواد کې د کان کیندنې په برخه کې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو امنیت خوندي کړي؟
د هیواد په روان سیاسي، امنیتي او اقتصادي بحراني حالت کې به کله حکومت څنګه وکولای شي چې د اورګادو پټلۍ، چاه بهار بندر، د لاجوردو لار، د کاسا زر او تاپي په شان سترو پروژو د عملي کولو لپاره اړین امکانات برابر کړي؟
ریکا کنفرانس چې له هرو دوو کلونو وروسته جوړېږي له نن څخه پوره لس کاله وړاندې هم په کابل کې دایر شوی و خو پوښتنه دا ده چې څه مو ترې ترلاسه کړي ول او له اوسني هغه مو څه مو ترلاسه کړل؟
د مشهور پښتو متل په مصداق چې وایې «ابۍ توله بۍ ده « نه یوازې په اوسني کله حکومت بلکې د حامدکرزي حکومت کې هم په تېرو کلونو کې د هېواد د اقتصادي ودې د پیاوړتیا او د زیربنایي پروژو لپاره د پام وړ کار ندی شوی. په کابل کې پخواني ریکا کنفرانس وروسته او په توله کې له تېرو ۱۴ کلنو راهیسې زیربنایي پروژو ته ډېره کمه پاملرنه شوې ده. نه داچې نوې نه دي جوړې شوي، بلکې پخواني زیربنایي پروژې هم له خطر سره مخ دي.
په ۲۰۰۵ کال کې د ریکا لومړنۍ غونډه هم په کابل کې شوې وه، خو د تېرو غونډو ډېری ژمنې تر اوسه هم ندي عملي شوې.
هغه مهمې اقتصادي پروژې چې په تېرو کنفرانسونو کې پرې بحث شوی و او د سیمې لپاره لومړیتوب لري هیڅ کومه یوه یې تر اوسه نده تمویل شوې. چابهار، کوادر او کاسا زر پروژې یې د بېلګې په توګه یادولی شو، چې د سیمې لپاره مهمې بلل کېږي خو تر اوسه ورته جدي پاملرنه نده شوې. اساسي دلیل یې له دغه ډول سترو پروژو سره د سیمې هیوادونو سیاسي برخورد دی چې له ژمنو سره سره یې کارونه نیمګړي پاتې دي.
وږی یا سنبله/ 1396

# له ملګرو ملتو نه مو هم هیلې پرې شوې

څو ورځې وړاندې د سپټمبر په ۲۵ مه نېټه یو ځل بیا د تېر په شان د ملګرو ملتو کلنۍ غونډه په نیویارک کې جوړه شوه. په دې غونډه کې د ګډ حکومت د اجرایوي رییس عبدالله عبدالله په مشرۍ افغان پلاوي هم ګډون کړی دی. تمه کېده چې افغان پلاوی به د ملګرو ملتونو له نړیوال ټریبیون څخه د کره شواهدو په مټ د افغانستان په وړاندې د پاکستان د لسیزو جګړې پټ لاس او د دوست په څېره کې د ازلي دښمن ناولې څېره بربنډه کړي خو پلاوی لکه په تېرو کې د نورو غونډو په څېر خالي لاس راستنیږي. ولس هیله لرله چې افغان پلاوی په ځانګړي ډول عبدالله به نړیوال په دې قانع کړي چې پاکستان د نړیوال تروریزم د روزنې، سمبالولو او تولید مرکز دی. خو د افغان ولس پر مخ له دغې پرانیستې دروازې څخه هم ګټه وانخیستل شوه. د ګډ حکومت اجرایوي مشر عبدالله عبدالله فقط د نړیوالو د نیمګله مرستو صفتونه کړي او د امریکا په لاس جوړ شوي ددوی د دوه سري حکومت یو کلنه دوره یې ستایلې ده.

اجرائیه رئیس د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې ویلي، چې افغانستان د نړیوالي ټولنې په مرسته په بیلا بیلو برخو کې پرمختګ کړی او د نړۍ د پرمختګ له کاروان سره یو ځای شوی دی.

خو ولس حساب غواړي، کومه دی پرمختګ او په کومه برخه کې دې پرمختګ کړی دی؟ بیکاري دې ختمه کړې، امنیت دې تامین کړی، سوله دې راوستې، له نړیوالو سره دې اړیکې پیاوړې کړي، په بهرنۍ پالیسۍ کې دې د ګاونډیانو تر منځ تعادل مراعات کړی، د نشه یې توکو سره دې مبارزه کړې، د فساد اړوند دې کوم د پام وړ ګام اوچت کړی دی؟ څه دي کړي دي؟ آیا تاسې په دې یو کلنه دوره کې مو په دې توانیدلي یاست چې د هیواد مهم پوسټ ددفاع وزارت لپاره داسې شخص وټاکی چې هم تا ته او هم ولسمشر غني ته د منلو وړ وي؟ نه هیڅکله هم نه.

تاسې فقط د افغانستان په ټاکنیز نظام کې د اساسي تغیراتو راتګ، له فساد سره د کلکې مبارزې، د نشه یې توکو پر ضد د هڅو زیاتوالي او د افغانستان د ګاونډیو او سیمه ییزو لوبغاړو اړینې همکارۍ اړوند تشې هوایې ژمنې کړي او ولس مو دوکه کړی دی او بس.

د ملګرو ملتونو په کلنۍ غونډه کې اجرائیه رئیس عبدالله د افغانستان د نړیوالو متحدینو په مقابل کې د افغان حکومت د قوي پالیسۍ ایجاد د ګډ حکومت لاسته راوړنه وبلله او وویل، چې هېواد یې نړیوالو ته د یوه نوي او با اعتماد همکار په توګه معرفي شوی دی. دلته بیا هم پوښتنه پیدا کیږي چې کومه قوي بهرنۍ پالیسي یادوی؟ دغه بهرنۍ پالیسي چې د سیالو هیوادونو تر منځ مو تعادل نه دی مراعات کړی، پاکستان مو په غیږ کې نیولی

او هندوستان مو شاته غورځولی دی، دغه بهرنۍ پالیسي چې هره ورځ مو په سلګونو ځوانان اروپایې هېوادونو ته کډوال کیږي او په نور هېوادونو کې مو دافغان کډوالو په ستونزو غوړونه کاڼه کړي دي، دغه بهرنۍ پالیسی چې د ګاونډیو هېوادونو په دې قانع کولو ونه توانیدی چې په افغانستان کې د جګړې اور بل ساتل په خپله ددوی په کور کې اور بلول دي؟ کومه او څنګه پیاوړې پالیسي یادوی تاسې ښاغلی؟

د ملګرو ملتونو دغې کلنۍ غونډې ته خو د لومړي وزیر نواز شریف په مشرۍ د پاکسان پلاوی هم تللی و. ویل کیږي پاکستاني پلاوي له ځان سره، په هغه هېواد کې د افغانستان د لاسوهنې او خیالي جګړې په اړه جعلي شواهد؛ د دغه سازمان د دهلیزو په غونډو او کتنو کې د نړیوالوغوړو ته وړاندې کړي دي. په قوي پالیسۍ سره خو پاکستانی پلاوی تللی دی چې نړیوالو ته یې ځان سپینه کوتره کړ او د خپل بام تولې واورې یې په افغانستان وروا‌چولې. د تروریزم په ملاتړ او په افغانستان کې د نااعلان شوي جګړې په اړه، د ملګرو ملتو په غونډه کې د افغان پلاوي د کره شواهدو د ښودلو د ارزښت د کموالي لپاره پاکستانی پلاوي دغې غونډې ته په پوره چمتووالي سره تللی و.

ډاکټر عبدالله عبدالله په نیویارک کې د بهرنیو اړیکو شورا ته فقط دومره وویل، چې حکومت یې د کار له پیله تر اوسه د سولې راتګ ته کار کړی، خو دلته هم د اړوندو هېوادونو د رښتیني همکارۍ نه شتون او د مړه شوي شخص تر نامه لاندې د سولې مذاکراتو دایرېدو، دا لړۍ له خنډ او ځنډ سره مخ کړه. دا یې په زغرده ونه ویل چې د سولې هڅې په لوی لاس پاکستان په شا وتمبولې. همدا پاکستان و چې په افغانستان کې د احتمالي سولې د پرمختګ د مخنیوي لپاره یې د طالب مشر ملا عمر مړینه دوه کاله پټه ساتلې وه. دغه هېواد نه یوازې له افغان دولت بلکه له نړیوالې ټولنې او په خپله له وسله والو طالبانو هم پټه ساتلې وه. عبدالله ولې په افغانستان کې د پاکستان لخوا وروستی ترهګریزو بریدونو کې د پاکستان لاس لرلو اسناد وړاندې نه کړل. ولې یې ددغه هېواد کرغېړنه څېره نړیوالو ته افشا نه کړه؟

ښاغلي عبدالله لکه د افغان ولس په څېر نړیوالو ته هم هوایې ژمنې ورکړې.هغه وویل، چې د ملي یووالي حکومت د هر اړخیزو اصلاحاتو راتګ ته ژمن دی او کار کوي، چې د اصلاحاتو سلسله تر ټولو اړینو ساحو پورې ورسوي.

وږی یا سنبله/ 1396

# هويت وژنه او بې ديني

افغان ولس يو بدن دی او بې له شکه چه اسلاميت او افغانيت يې روح دی چه بې له روح څخه د ژوندی بدن پاينښت ناشونی دی.

دا فغان کلمه چې اوس د ځينو منحوسو څېرو لخوا شاربل کيږي؛ دافغانستان دټولو خلکو ملي نوم دی او داسيا په زړه کې تر ټولو تاريخي ، اقتصادي او ټولنيزو شرايطو لاندې يې يو نه بيليدونکی واحد جوړ کړی او يوغښتلی لرغونی او ملي اصالت لري.

د"افغان"کلمه د اسلام د خپريدو نه د مخه په ډېرو زړو متونو او لرغونو اثارو کښې د ځينو تاريخ ليکونکو په قول د " اووه گانه" ، "ابګان" ، " اپه گان" ، "اوګان "، "اوغان " او "اغوان" په بېلا بېلو نومونو کې راغلې ده او د سپېڅلي دين له خپرېدو سره هم محال دځينو تاريخ ليکونکو او پوهانو له خوا د "افغان"کلمه د "اوغان" دکلمې نه معربه شوه . ځنې پوهان په دې باور دي چې که چېرې دغه کلمه اوستائي وبولو نو معنا به يې مرسته کوونکی ، لاس نيونکی ، مرستندوی ، زړه سوانده او مهربان وي او هر څوک چې به په د غو خويونو او خصلتونو برابر و نو هغه ته به يې "ابګان" او يا دده معاصر بل شکل ويل . اوس هم افغان په معاصر مفهوم هغه چاته ويل کيږي چې ننګيالی ، مېړنی ، تورزن ، ميلمه پال او نور دا ډول ښېګنې ولري.

لکه څنګه چې له تاريخي شواهدو څرګنديږي چې «افغان» ننګيالي، ميړني، تورزن او ميلمه پال ته ويل کيږي نو اوس چې يې هر څوک مخالفت کوي، هغه نه ننګيالی، نه ميړنی، نه تورزن او نه هم ميلمه پال دی. افغان ولس د تاريخ په هر پړاو کې هر دښمن ته په همدې «افغان» په نوم راپورته شوی او دښمن يې په ګونډو کړی دی. ددغه ولس د برياوو راز په دوو اساسی ټکو کې دی چې يو يې اسلاميت او بل يې افغانيت دی . دا دوه ويارونه دافغاني ټولنې په ملي وحدت، ځمکنۍ بشپړتيا، ملي خپلواکۍ، ملي هويت او د يوه غيور ملت په وجود راتلو او ژوندي پاتې کېدو کې سرنوشت سازه رول لوبولی دی او په راتلونکې کې هم دا رول لوبوي.

اوس چې په برښنايې تذکرو کې د افغان کلمې د ځای کولو موضوع يو ځل بيا راپورته شوې ده؛ تر شا يې د ځينو جاسوسانو لاس دی چې غواړي له دغې يوه سياسي معزله جوړه او خپلو اهدافو ته چې د افغانستان تجزيه او د قومونو وېشل دي؛ ځانونه ورسوي. خو ډاډه يم لکه څنګه چې افغان غيور ولس د تاريخ په هر پړاو کې خپل دښمن ته غاښن ماتوونکی ځواب ورکړی نو دا ځل به بيا هم د نورو هيوادونو جاسوسانو مخونه تور کړي او پرې به نږدي چې دا ملت د پښتون، تاجک، هزاره، ازبيک، پشه يې او..... په نوم وويشي بلکې تل به د يو افغان په نوم يو موټی پاتې وي.

له برښنایې تذکرو څخه د افغانیت او اسلامیت د نومونو ایستل او لیرې کول کومه اشتباهي او ناڅاپي پېښنه نه ده . ځکه د افغان له نوم سره له هغې ورځې راهیسې اختلاف روان دی؛ په کومه چې د تاجکستان ، ازبېکستان ، ترکمنستان ، ایران او ځینو نورو هېوادونو څخه پردي او غیر افغاني څېرې د یوه دستور له مخې را دننه کړی شول. په داسې حال کې چې په ټوله نړۍ کې تذکره او پاسپورټ دواړه د یوه انسان د پېژند کلوۍ رسمي هویت په کوته کوي نو د افغانستان غوندې په اسلامي هیواد کې څنګه دغه ویاړونه تر پښنو لاندې کیږي ؟

## په پای کې د ګډ حکومت مشرانو ته وایم چې :

زه یو مسلمان یم، یو افغان یم او پر خپل اسلامیت او افغانیت ویاړم. بې هویته برښنایي تذکره نه په خپله اخلم او نه به مې خپلې کورنۍ ته د اخیستو اجازه ورکړم. ولسمشره په ډیر درنښت درڅخه هیله کوو چې په برښنایي تذکرو کې د افغان کلمه ځای پرځای کړه، په لوی لاس د افغان ملت د پاشلو هڅه مه کوه. د افغان ولس غصه مه راپاروه، او د خپل تاریخ په لمن تور داغ مه پرېږده، نه به تل ستا واکمني وي او نه به هم تل خلک ویده پاتې وي، یوه ورځ به ولس راپاڅېږي او د وینې او سر په بیه به له اسلامیت او افغانیت دفاع کوي او د پردیو جاسوسانو مخه به نیسي. تل د افغان ولس د حوصیلې ازموینه مه اخله، دا مسلمان او افغان ولس به په خپل ټول توان له اسلامیت او افغانیت څخه دفاع وکړي او که په دغه وخت په ولس هر څه کیږي نو تاریخ به یې تا او ستا شریکوالو ته د پرې کوته نیسي نو په همدې اساس له دغه شرم نه ځان وساته او د خپل قانوني صلاحیت له مخې دې د یو تقنیني فرمان په اساس په تذکرو کې د افغان او اسلام کلمه ورزیاته کړه.

**وږی یا سنبله/ 1396**

# یار له کوڅې تېر کړه؛ رنګ یې هېر کړه

سیاست څه ته وایې؟ فعال سیاست مدار څوک دی او د کوم ډول سیاست کولو په پایله کې داسې واک ته ورسیږو چې؛ هم خپل هدف او هم د ولس زړه ترلاسه کړو؟

سیاست هغه مهارت ته ویل کیږي چې د هغه پواسطه یو انسان خپل قدرت یا هدف ته رسیږي. یا هم سیاست د قدرت او واک نیولو هنری او فریبي لوبه ده.

په دیموکراتیکو هیوادونو کې یو سیاست مدار د خلکو په خوښه او رایه او په ولس د سالم سیاست کولو په پایله کې واک ته ورسیږي. فعال سیاست مدار د ولس زړه خپل کړی وي او ولس هم ورسره په اړونده برخه کې ملاتړی وي. څرنګه چې هر سیاست پوه ځانګړي اهداف لري، نو همدا شان هڅه کوي چې خپلو اهدافو ته په بیلابیلو لارو او وسیلو(روا او ناروا) یا مهارتونو سره ورسیږي ترڅو د خپل ژوند بقا ولري. خو پوه او خدمتګار سیاست مدار هغه دی چې په ولس د سالم سیاست کولو په وسیله ځان واک ته ورسوي.

کله چې سالم سیاست مدار واک او څوکۍ ته رسېدل غواړي نو په ولس ګرځي، له خلکو سره مشورې کوي، د خلکو ستونزې وینې او د حل په خاطر یې د ولس وړاندیزونه اوري، ولس سره د خپل وس او توان برابر ژمنې کوي او بیا کله چې واک ته ورسیږي نو له ګردو مسایلو ورته له ولس سره خپلې کړې ژمنې لومړیتوب لري.

اوس راځئ د پورته یاد شویو معلوماتو په رڼا کې؛ له ولسمشر، اجراییوي رییس او وزیر څخه نیولې تر ریس او مدیر پورې خپل سیاسیون او اوسني چارواکي وارزوو

۱ـ د ولسمشر ژمنې: ولسمشر غني د ټاکنیز کمپاین پر مهال ولس ته ۵۰ سترې ژمنې ورکړې وې، چې د خپلې بریا په صورت کې به یې عملي کوي. دده ډېرې ژمنې د اقتصادي مسایلو او د خلکو او دولت د عایداتو د ښه کېدو او لوړېدو پر محور را څرخېدې. دلته یې فقط څو هغو ته اشاره کوو.

- زما د حکومت په پنځو کلونو کې به هېڅوک هم بې استوګنځې نه وي.
- د پانکوالو د ساتنې لپاره د مهمو کارونو ترسره کول او د هغوی د پانګونې خوندیتوب. قانون لومړی پر خپل ځان بیا پر جنرال دوستم او سرور دانش پلې کوم.
- ختیځ ولایتونه به د برېښنا پر تولیدوونکو ولایتونو بدلول. د ننګرهار کانال جوړول او اوبه یې مهارول.
- د ارګ او جومات ترمنځ واټن له منځه وړل، د خلکو تر منځ پیوستون رامنځته کول، د عالمانو مادي او معنوي حقونو ته درناوی کول.
- د قانون بشپړ تنفیذ، ملي یووالی، د ولسي حکومت جوړول، د محاکمو اصلاح، ځوانانو ته د کاري زمینو برابرول.
- دولت پر سهامي شرکت نه بدلول او په هرو شپږو میاشتو کې خلکو ته د حکومتوالۍ راپور ورکول.
- امنیتي ځواکونو او شهیدانو د وارثانو له حقونو دفاع کول او د جهاد مهال له معلولینو څخه ملاتړ کول او خپلسري وسله وال له منځه وړل

- په هېواد کې د ديني عالمانو په مرسته د سولې راوستل.

۲ـ اجرايوي رييس: اجرايوي رييس ډاکټر عبدالله هم ځان له ولسمشر غني کم نه باله او په هر ولايت کې يې د کمپاينيزو غونډو پر مهال ولس ته غر غوښنه او سيند شوروا کړی و. ده هم ولس ته لويې لويې وعدې ورکړې وې، دلته يې فقط د څو يادونه کوو.

- مونږ به د خپل شعار په رڼا کې اصلاحات راولو او همپالنه به کوو
- اداري فساد به له منځه ورم، مساوات او متوازن انکشاف ته به لاره اواروم
- په هيواد کې تلپاتې سوله راولم
- په دولتي ادارو کې اصلاحات راولم
- د کامې او کونړ پر سيندونو د برېښنا لوی بندونه جوړول
- د سپين غر په لمن کې د برق کوچني بندونه جوړول.
- ننګرهار کې يو لوی روغتون جوړول، حلقوي سړک جوړول، د تورخم جلال اباد دويم لين، خوګيانو سړک جوړول
- د بهسودو پُل له سره رغول، په لغمان کې لوی پوهنتون جوړول

دا پورته يادې شوې ژمنې خو د ولسمشر او اجرايوي رييس لخوا د ټاکنيز کمپاين پر مهال له ولس سره شوې وې خو دا چې ددوی لخوا معرفي شويو وزيرانو د دولسي جرګې په تالار کې او په خپل سل ورځنيو کاري پلانونو کې کومې ژمنې کړي او څومره به يې عملي کړی؛ دا تاسې له همدغو مشرانو څخه پرتله کړئ او بيا مو قضاوت وکړئ. مونږ د هغه دري متل په مصداق چې وايې (مشت نمونه خروار) د ولسمشر او اجرايوي رييس د ژمنو په ارزولو بسنه کوو.

ولسمشر او اجرايوي رييس خو په ولس سياست وکړ او د کمپاين پر مهال يې خلکو ته لويې او وړې ژمنې ورکړې او ولس هم په پوره امانت دارۍ او په قربانۍ ورکولو سره رايه ورکړه او دوی يې ټاکل شوي ځای ته ورسول. ولس خپل رسالت سر ته ورسوو خو اوس دا دی تاسې په خپله قضاوت وکړئ چې ددوی د حکمرانۍ په دغه يو کلنه دوره کې کومې ژمنې يې عملي کړي او څومره خپل ولس ته وفاداره پاتې شوي. همداراز يې له دغې يو کلنې دورې څخه پرتله کړئ او وړاندوينه وکړئ چې په پاتې څلورو کلنو کې به څومره کلان اوبه کړي او کومو ژمنو ته به لاسرسی وکړي؟

اوس له ولس سره هم اساسي پوښتنه دا ده چې ددوی له کړو وعدو او ژمنو څخه هدف او مقصد څه و؟ ايا يواځينی هدف يې خپل ځان واک ته رسول او خپلې سياسي چړچې کول و او که اوس هم ورسره د ولس غم شته؟ څومره به پرې ولس نور باور ولري؟

دا معمول دی چې باور په هغه چا کيږي چې ژبه او عمل يې يو وي، هغه څه چې په خوله وايي په عمل کې يې هم ثابتوي، مګر د افغانستان په سياسي ډګر کې دا خبره عملي بنه لري. وږی يا سنبله/ 1396

# آیا استیضاح د حل لار ده؟

استیضاح څه ته وایې او په کوم وخت کې وکیلان د یو وزیر یا چارواکي د استیضاح حق لري؟ استیضاح د ولسي جرګې د استازو قانوني حق دی. کله چې په یوه موضوع کې د ځینو مواردو په اړه وکیلان د وزیر یا بل چارواکي خالیګاوې وویني او یا هم نیمګړتیاوې شتون ولري؛ نو یاد چارواکی راغواړي او د موضوع د سپیناوي په اړه ترې پوښتنې کوي. که چېرې یاد وزیر یا چارواکي په خپله دنده کې ناغېړي کړې وي او یا هم بې کفایته ثابتې شوی وي او داسې څرګندونې وکړي چې وکیلانو ته شکي ښکاره شي؛ نو بیا په دې صورت کې د ولسي جرګې استازي حق لري چې هغه استیضاح کړي او صندوق ورته کېږدي، البته له دې مواردو پرته ځینې محال داسې هم کېږي، چې پنځوس تنه وکیلان را پورته شي او د یوې قانونې تشې د له منځه وړلو لپاره یاد چارواکی د استیضاح لپاره را بولي. د استیضاح پایله بیا دا شي چې استازي یاد وزیر د بې کفایتۍ له امله له خپلې دندې لرې کوي او پر کور یې کېنوي، په دې شرط، چې تشه قانوني او د اساسي قانون او کورنیو دندو له اصولو سره سمه وي.

په داسې حال کې چې د هېواد ډېری سیمې ډېرې نا امنه شوي او خلک د تیر حکومت په پرتله ډېر د ناامنۍ احساس کوي؛ او په تېرو میاشتو کې د وسلوالو مخالفانو په بریدونو او ناامنو کې ډېر زیاتوالی راغلی دی؛ ولسي جرګې پرېکړه کړې چې د کورنیو چارو وزیر نورالحق علومي استیضاح کړي. دا لومړی ځل نه دی چې ولسي جرګه امنیتي چارواکي استیضا کوي؛ له دې وړاندې هم په ګډ حکومت کې او هم په تیر حکومت کې امنیتي چارواکي استجواب او استیضاح شوي دي.

خو ایا کېدای شي چې د امنیتي چارواکو په استیضاح سره امنیتي حالت کې ښه والی راشي؟

په داسې حال کې چې د هیواد سیاسي امنیتي او اقتصادي وضعیت مو ورځ تر بلې خرابیږي، بې کاري زیاتیږي، جګړه زور اخلي، خلک وژل کیږي، کډوالي زیاتیږي او د بهرنیو استخباراتو کله د داعش او کله د طالب په لاس وژني نو آیا دا به څومره منطقي وي چې امنیتي چارواکي دې یوازې استیضاح شي او نور دې د جنګ جګړې اصلي عامل نه له منځه وړل کیږي؟ د روان ترینګلي امنیتي وضعیت اصلي عامل؛ د

امنیتي ارګانونو ترمنځ ناهمغږي، د پولیسو لپاره د جنګي وسایلو نشتوالی او کمښت او سلیقوي مقررۍ او برطرفۍ دي چې د ولسي جرګې غړي او ګډ حکومت یې په هکله لاس په کار شي.

د روان ترینګلي امنیتي وضعیت د کنټرول لپاره باید پخپله د ولسي جرګې استازي له امنیتي ارګانانونو سره اوږه په اوږه لاس په کار شي. په خپله د ولسي جرګې د کورني امنیت کمیسیون دې د حالاتو د کنټرول لپاره په غوره ستراتیژیو کار وکړي. اصلا اوسنیو شرایطو ته په کتو استیضاح د حل لار نه بلکه د دښمن مورال قوي کول دي. ځکه دښمن ته د حکومت کمزوري او خپله بریا په ډاګه کیږي. د ولسي جرګې استازي په ځانګړي ډول د کورني امنیت کمیسیون باید حالات وڅیړي او یوه مناسبه د حل لار پیدا کړي، د ګډ حکومت په دننه چوکاټ کې نور بهرني لاسونه شتون لري او د هغوی په شتون کې به د امنیتي چارواکو استیضاح کول پرته له وخت ضایع کولو بل هیڅ ونلري. د رواني بدمرغۍ حل په دې کې دی چې لومړی د پردیو لاسپوڅو لاسونه لنډ شي او بیا د ا صلاح لپاره د امنیتي چارواکو استیضاح وشي.

استیضاح هم باید داسې نه وي چې د شخصي، ګوندي، قومي، ژبني او سمتي تعصبونو رنګ ورکړل شي. استیضاح باید په پوره معنا خپلواکه او د ستونزو د هوارې لپاره وي. له بده مرغه زمونږ ډیری وکیلان بیا دا اصل په نظر کې نه نیسي. کله چې دوی بې خرڅه شي او یا هم د دوی غوښتنې ونه منل شي؛ نو بیا په یو او بل نوم د چارواکو د استیضاح سندرې زمزمه کوي.

**تله یا میزان/ 1396**

# بحراني امنيتي حالت او د امريکايې ځواکونو د پاتې کېدو اړتيا

د افغانستان اوسني بحراني امنيتي وضعيت د امريکا مشران اړ ايستل چې په افغانستان کې د دې هېواد ماموريت د ۲۰۱۷م کال تر پايه تمديد کړي. دلته په هيواد کې د امريکايي ځواکونو ماموريت به تغيرنه کوي او د افغان امنيتي ځواکونو ملاتړ او روزنې ته به ادامه ورکړي. ولسمشر بارک اوبام اعلان وکړ چې په افغانستان کې يې خپل نظامي ماموريت تر۲۰۱۷مه وغځاوه. ددغې پلان له مخې به امريکا نهه زره او اته سوه امريکايي پوځيان د ۲۰۱۶م کال تر پايه او له هغې وروسته به د ۲۰۱۷م کال تر پايه ۵۵۰۰ سرتېري په افغانستان کې د افغان ځواکونو د روزنې او تجهيز لپاره پرېږدي.

د ولسمشر اوباما دغه اعلان د شنونکو له يو شمېر غبرګونونو سره مخ دی، ځينې شنونکي د ولسمشر اوباما دغه پرېکړه د افغانستان راتلونکې لپاره په ګټه بولي خو ځينې بيا په افغانستان کې له ۲۰۱۶ کال وروسته د امريکايې ځواکونو شتون دلته د جنګ د دوام په معنا بولي. له بل لوري افغان حکومت هم په افغانستان کې د امريکا د ماموريت د تمديد په تړاو د دغه هېوا د ولسمشربارک اوباما له پرېکړې هرکلی وکړ. اجراييه رياست وايي دغه پرېکړه مرسته کوي چې افغان حکومت د تېرې يوې لسيزې لاسته راوړنې خوندي وساتي. خو بل پلو وسلوالو طالبانو په افغانستان کې د امريکايي پوځيانو د پاتې کېدو په اړه د اوباما پرېکړه غيرمعقوله بللې او ويلي يې دي، چې دغه پرېکړه نه يوازې د افغانستان، بلکې د امريکا په ګټه هم نه ده.

لومړۍ ډله کوري د افغان ځواکونو د روزنې اوتجهيز لپاره د امريکايې ځواکونو پاتې کېدل اړين بولي او د وسله والو څخه د کندوز ولايت بيرته نيول دليل راوړي چې افغان امنيتي ځواکونه د امنيتي پېښو د مهارولو وړتيا لري خو د ښه تجهيز او روزنې لپاره يې د امريکايې ځواکونو پاتې کېدل اړين دي. دويمه ډله کوري بيا نيوکه کوي چې؛ په افغانستان کې چې ۱۵۰۰۰۰امريکايې ځواکونه په دې ونه توانيدل چې سوله او امنيت راولي نو دا دومره کمه شميره به څه وتوانيږي چې سوله او امنيت راولي. په هر صورت ددواړو ډله کوريو نظرونه پر ځای دي خو قضاوت بايد د افغانستان اوسني امنيتي او سياسي بحراني حالت ته په کتو وشي.

۱ـ د افغانستان اوسني کړکېچن امنيتي وضعيت او د سولې نېمګړې پروسې ته په کتو وخت دا ايجابوي چې د افغان ځواکونو د روزنې، مالي تمويل او تجهيز لپاره بايد امريکايې ځواکونه دلته پاتې شي. اوسنی وضعيت ته که وکتل شي نو له هر طرفه د ولايتونو د سقوط اوازې خپرېږي، زمونږ امنيتي ځواکونه بايد تمويل او تجهيز شي

څو د راتلونکو احتمالي ستونزو لپاره بنه تیاری ونیسي. که چیري بنه تجهیز او تمویل شي نو وبه کولای شي چې کورنیو او بهرنیو کواښونو ته بنه ځواب ووايي.

۲ـ افغان دولت د سیمې په کچه مصرفي ځواک لري.هغه رینجر موټرونه چې پولیس او سربازان یې کاروي، د تیلو مصرف یې ډیر لوړ دی، او له هر ځل عملیاتو وروسته افغان ځواکونه د تېلو له بحران سره مخ وي. دلته دی چې افغان حکومت د امریکا مالي مرستو ته اړتیا لري.

۳ـ افغان دولت اوسمهال تقریبا ۳۵۰۰۰۰ امنیتي پرسونل لري، دوی هر یو ته د امریکا له مالي مرستو تنخوا ورکول کیږي. ددې دومره امنیتي ځواکونو میاشتینۍ تنخواوې، په خپلو امکاناتو د دوی تجهیز، تمویل او ساتل به د امریکا له مرستې پرته هیڅکله افغان دولت ونه شي کولی.

۴ـ له بل پلوه؛ اوس چې القاعده ډله، داعش او طالبان د سیمې او نړۍ لپاره یو سترګواښ دی نو دې حقیقت ته په کتو اړتیا ده چې امریکا د خپلې دغې پرېکړې ترڅنګ د افغان ځواکونو د تجهیز او پیاوړي کولو په برخه کې هم جدي پاملرنه وکړي.

**تله یا میزان/ 1396**

# پاکستان د کابل ـ ډهلي د اړیکو ستر خنډ

په بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو کې هر هېواد دا لټه کوي تر څو خپلې ملي ګټې خوندي وساتي او خپل ملي قدرت او پیاوړتیا په نړیوال نظام کې وښيي. همداراز د خپل بهرني سیاست او بهرنیو اړیکو څخه له نورو هېوادونو او دولتونو سره خپلو ملي موخو ته ورسیږي. په همدې خاطر هر هېواد کوښښ کوي څو له خپل ځان سره یو ستراتیژیک، پیاوړی اقتصادي او نظامي پارټنر له ځان سره ولري تر څو خپلو ملي ګټو او موخو ته ورسیږي. د دوه هېوادونو تر منځ اړیکي باید پر ډیپلوماټیکو اصولو، نړیوالو حقوقو، نړیوالو قوانینو او په حسن نیت باندې ولاړې وي. اوس به راشو په تېر کې د افغانستان بهرنۍ پالیسي او له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو اړوند د تعادل ساتلو اصل ته.
افغانستان باید له ټولو هېوادونو په ځانګړي ډول له ګاونډیو هېوادونو سره ښه بهرنۍ پالیسي پر مخ یوسي. د ګاونډیو سره د اړیکو په پراخوالي کې هم باید د یاد هېواد سره د اړیکو مخینې ته پام وشي او د پخوانیو اړیکو سره د عبرت په توګه باید استفاده وشي. افغانستان باید له ګاونډیو هېوادونو سره نږدې اړیکې ولری، دا اړیکې باید داسې وي، چې بل هېواد زیانمن نه کړي او نه هم له بل هېواد سره زموږ اړیکې خرابې کړي. پاکستان په افغانستان کې د هندوستان د نفوذ مخه نیسي او افغانستان باید دا حقیقت له پامه ونه غورځوي. اړینه ده چې افغان حکومت باید یوه داسې جامع بهرنۍ سیاسي تګلاره ، سیاست او پالیسي جوړه کړي، چې هم یې له بهرنیو په ځانګړي ډول له ګاونډیو هېوادونو سره اړیکي ساتلې وي او هم یې په کور دننه د ګډوډیو او ناکراریو مخه نیولې وي. خو له بده مرغه افغانستان تر ډېره په خپله بهرنۍ پالیسۍ کې له ګانونډیانو سره په اړیکوکې انډول نه دی ساتلی، په ځانګړي ډول د سیالو هېوادونو تر منځ په اړیکو کې لکه د پاکستان او هندوستان تر منځ په اړیکو کې نا انډولي. پاکستان او افغانستان او په مقابل کې د افغانستان او هندوستان تر منځ د اړیکو مخینې ته په کتو د کابل-اسلام‌اباد تر اړیکو د کابل- ډهلي اړیکې ډېرې ارزښتمني دي.
افغانستان له هند سره تاریخي اړیکې لري او هند په تېرو لسو کلونو کې هم له موږ سره ډېرې مرستې کړې دي، خو پاکستان چې د هند سخت دښمن دی، تل یې د افغانستان خلکو ته خپله بې‌اعتباري ښودلې ده. پاکستان څو ځله په افغانستان کې له ترهګري سره د مبارزې ټټر وهلی، خو د پردې ترشا یې بل څه کړي. د دوی ژمنو د افغانستان په وضعیت هېڅډول مثبت اغېز نه دی کړی. هند د پاکستان پر خلاف عمل کوي او غواړي سیمه ییزه ترهګري له منځه یوسي. هند د افغانستان له دولت او ولس سره په بیلابیلو اړخونو کې مرستې کړي دي. دا حقیقت دی چې هېڅ هېواد له بل هېواد سره د خپلو ګټو خوندي نه ساتلو په صورت کې مرسته نه کوي او نه هم له هغه هېواد سره په دې موخه مرسته کوي، چې دوی ته په کې ګټه نه وي. خو د تاریخ په هیڅ پړاو کې د هندوستان مرستو ته؛ افغان ولس د شک په سترګه نه دي کتلي دي؛ او دا ځکه

چې د هندوستان سیاست تل د افغانستان په اړه روښانه و خو له بده مرغه چې په افغانستان کې د ځینو دولتونو لخوا دې اړیکې ته د شک په سترګه کتل کېدل.
دلته اړینه ده چې د افغانستان او هندوستان تر منځ د اړیکو شالید ته ستانه شو.
له ډېر پخوا راهیسې د افغانستان اوهند ترمنځ سیاسی، کلتوری او اقتصادی اړیکې وې، کله چې د هند خاوره د اوسنی پاکستان په ګډون د انګرېزانو ترلاس او استعمارلاندې وه، هغه وخت هم افغانستان ورسره د نورو په پرتله زیاتې نږدې اړیکې لرلې. له دې وروسته بیا کله چې هند له انګریزی ښکېلاک څخه د ۱۹۴۷م کال په اګست میاشت کې خپلواکی واخیسته، افغانستان د هغو لومړنیو هېوادونو له ډلې و، چې د هند خپلواک دولت یې په رسمیت وپېژاند.
تر دې وروسته، هند د افغانسستان سره پخه او رښتینې دوستي پیل کړه. د پخوا په پرتله د دواړو دولتونو ترمنځ اړیکې لا سره نږدې او پراخې شوې. کله چې په ۱۹۷۸م کال کې شوروی پلوی رژیم په افغانستان کې واک ته ورسېد په دې دوره کې د دواړو دولتونو ترمنځ اړیکې تر هر بل وخت زیاتې او پراخې شوې او دې اړیکو، تر ۱۹۹۲م کال پورې دوام وکړ. له دې وروسته کله چې په ۱۹۹۲م کال کې د مجاهدینو تر مشرۍ لاندې اسلامی دولت په افغانستان کې واک ته ورسېد، هند په افغانستان کې د مجاهدینو دولت په رسمیت وپېژانده، خو په هماغه وخت کې هم د پاکستان دلاسوهنو له امله د هند سفارت څو ځله په کابل کې وتړل شو.
د افغانستان او هندوستان تر منځ اړیکې په افغانستان کې د طالبانو د رژیم د رامنځته کېدلو وروسته په ټپه ودریدې او حتا وشلیدې. د هند سفارت د طالبانو په ټوله دوره کې په کابل کې تړلی و او د دواړو دولتونو ترمنځ د کوم ډول سیاسی او اقتصادی اړیکو څرک نه تر سترګو کېده. بیا کله چې په ۲۰۰۱ م کال کې د حامد کرزی تر مشرۍ لاندې لنډمهاله اداره په افغانستان کې جوړه شوه، نو هند له افغان دولت څخه خپل سیاسی او اقتصادی ملاتړ اعلان کړ، چې ترننه پورې دا لړۍ دوام لری. د حامد کرزي په دوران کې هند له افغانستان سره تقریباً دوه ملیارده ډالره مرسته وکړه. چې ددې مرستو زیاته اندازه د ټرانسپورټ، برښنا، تحصیلی بورسونو، د سړکونو پخولو، د پارلمان د ودانۍ جوړولو، د خوراکی موادو، ژمنیو مرستو او په ځینو نورو برخو کې په مصرف ولګیده.
په ځانګړي ډول باید یادونه وشي چې هند په افغانستان کې خپلې مرستې په هغه ځایونو لګولي چیرته چې اړتیا ورته موجوده وه. هندوستان خپلې ټولې مرستې د افغانستان په زیربنایي پروژو لګولي دي چې له جملې یې یوه هم د افغانستان د پارلمان ودانۍ جوړول دی، ددې پروژې ارزښت تر ۷۵ میلونو ډالرو پورې رسېږی. همداراز د بشردوستی په برخه کې یې هم له افغانانو سره بیلابیلې مرستې کړي دي چې وروستی هغه یې د سرې میاشتې له ټولنې سره پنځه میلیونه ډالر مرسته ده چې غواړي د هغو ماشومانو درملنه پرې وکړی چې زړونه یې سوري دي. هندوستان ددې مرستو له لارې، که له یوې خوا له افغان دولت سره تر یوې

اندازې پورې مرسته کړې ؛ له بل لوري يې د ټولو افغانانو زړونه لاسته راوړي دي. خو په مقابل کې يې پاکستان بيا له افغانانو سره څه کړي دي؟
افغانستان کې د جګړې اور بل ساتل، دلته ترهګر رالېږل، سخت دريځی ته پراختيا، د جنګسالارانو ملاتړ، کورنيو چارو کې لاسوهنه، د بهرني سياست د کنټرولو هڅه، د کورنيو لاسپوڅو په وسيله د افغانستان دملي شتمنيو لکه کانونو لوټل، د افغانستان تاريخي اثارو غلا کول او ديته ورته په لسکونو نور جنايات هغه څه دي چې پاکستان ؛ افغانستان ته د ډالۍ په توګه ورکړي دي.
افغان دولت له پاکستان او هندوستان سره په اړيکو ساتلو کې تل د پاڼ او پړانګ تر منځ پاتې شوی دی. د بېلګې په ډول، اوسمهال چين او پاکستان نږدې دوستان دي او دواړه هېوادونه له هند سره يو څه شخړه لري، په داسې حال کې چې د ولسمشر غني په بهرنۍ پاليسۍ کې پاکستان او چين ته د هندوستان په پرتله ډېره پاملرنه شويده او اړيکې ورسره تودې ساتلې شوې دي او دا کار ددې سبب شوی چې، هند يو څه خوابدی شي. همدا راز پخواني ولسمشر حامدکرزي هند ته يو ليست ورکړی وو، تر څو له دې هېواده وسلې ترلاسه کړي، خو ولسمشر غني د حکومت په لومړيو کې هغه غوښتنه لغوه اعلان کړه. د کابل – اسلاماباد وروستې نږدېوالي او د ولسمشر غني له خوا له هند څخه د وسلو د ترلاسه کولو د غوښتنليک لغو کول هغه څه وو، چې ، د هند او افغانستان تر منځ يې يو څه بې باوري پيدا کړه.
د افغانستان او پاکستان اړيکې، چې د محمد اشرف غني له واک ته رسېدو وروسته له لنډې مودې لپاره ښې شوې، اوس يو وار بيا مخ په خرابېدو دي. آن دا چې د يوبل ديپلوماټانو ته د وېزو پر صادرېدو يې هم اغېز کړی دی. په تازه کې د پاکستان اکسپريس ټريبون ورځپاڼې راپور خپور کړی چې افغانستان؛ پاکستاني ديپلوماټانو ته د وېزې له ورکولو ډډه کړې ده. ورځپاڼې د يوې رسمي سرچينې په حواله ويلي چې پاکستان کمال حسين په کابل کې د خپل سفارت د سوداګري اتشې مرستيال ټاکلی خو تراوسه وېزه نه ده ورکړای شوې. سرچينه وايي چې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت په دې باب د پاکستان رسمي پوښتنې ته ځواب نه دی ويلی خو په افغانستان کې هم سرچينې وايي چې پاکستان له افغان لوري سره ورته چلند کوي او ښايي دا يې عکس العمل وي.
افغان دولت بايد په يوه وخت کې له دوست او دښمن دواړو سره ښې اړيکې ولري او تر منځ يې بايد انډول وساتلی شي، او که انډول نه وي نو دا ډول سياست به د هېواد وضعيت نور هم خراب کړي. که چېرې ولسمشر غني د پاکستان، هندوستان، چين، امريکا، روسيې او نورو هغو هېوادونو، چې خپل منځي سيالۍ لري، په پام سره راشه درشه و نه کړي، پرته له شکه، چې دا ډول چارې به د دې پر ځای، چې افغانستان ته سوله او ثبات راوړي، افغانستان به د نيابتي جګړې ډګر وګرځوي، چې په تېر کې مونږ د دې ډېرې بېلګې ليدلې دي.

تله يا ميزان/ 1396

# پاکستانه..! مونږ ستا څوکیداري نه غواړو خو ترهګر غله دې وتړه

د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو خرپړتیا اوږده سابقه لري. د پاکستان له پیدایښته تر ننه له افغانستان سره یې د دوست په څېره کې خپله دښمني پاللې ده. په تېرو حکومتونو کې هم دغه اړیکې کله کله د تریګلتیا اوج ته رسیدلې خو البته تر اوسه لکه هندوستان او پاکستان تر منځ چې د کشمیر په سر په ښکاره دښمني شتون لري؛ له پاکستان سره افغانستان خپله ښکاره دښمني نه ده اعلان کړې. په افغانستان کې د پاکستان له لاسوهنو څخه هم افغان ولس او هم افغان دولت تر پزې راغلي دي. پخواني ولسمشر حامد کرزي هم دلته په هېواد کې د پاکستان د لاسوهنو د مخنیوي او د افغانستان په چارو کې ددغه هېواد د لاس لنډولو په خاطر دغه هېواد ته په لسګونو سفرونه کړي، بېلابېلې ډیپلوماتیکې هڅې یې کړې وې چې دغه هېواد د افراطیت او ترهګرۍ له ملاتړه لاس واخلي، د پاکستان بېلابېلو چارواکو سره هم پاکستان کې او هم دلته د ارګ دننه مشورتي ناستې یې ترسره کړې خو هغه څه چې ولسمشر کرزي او افغان ولس ترې هیله درلوده؛ هیڅ ونه شول. همدا ډول د ګډ حکومت په راتګ سره هم ولس هیله درلوده چې د پاکستان سره د اړیکو په رغیدا کې به دوباره له صفره خبرې نه پیلیږي بلکې نوی حکومت به په یوه ځانګړې ډیپلوماسۍ او پیاوړې بهرنۍ سیاست او پالیسۍ سره له دغه هېواد سره د اړیکو محور ټاکي؛ خو له بده مرغه چې ګډ حکومت خبره له صفره پیل کړه او ولسمشر غني د واک په لومړیو ورځو کې پاکستان ته سفر وکړ، د پاکستاني چارواکو پر مخ یې د ارګ دروازې پرانیستلې، دغه هېواد ته یې د پوځي روزنې په موخه افغان افسران واستول، له دغه هېواد سره یې د استخباراتي معلوماتو پټ تفاهم لیک لاسلیک کړ، په خلص ډول دا چې ګډ حکومت پاکستان ته یو طرفه امتیاز ورکړ خو پایله یې بیا هم د پاکستان له تکراري ژمنو پرته بل څه نه شوه. په افغانستان کې د وروستیو خونړیو چاودونو او ځانمرګو بریدونو وروسته چې تر ډېره پړه یې پر پاکستان واچول شوه؛ د پاکستان په خلاف د افغان ولس د صبر کاسه ډکه شوه او بلاخره په ورستي اقدام کې یې د پاکستاني تولیداتو په تحریم لاس پورې کړ. له افغان دولته ولس هیله درلوده چې د ملګرو ملتونو په کلنۍ غونډه چې څو ورځې وړاندې تېره شوه او د افغانستان په استازیتوب په کې اجرایوي مشر عبدالله عبدالله ګډون کړی و؛ ولس هیله درلوده چې ښاغلی عبدالله به د پاکستان په خلاف د افغانانو شکایات په مستندو او کره سندونو سره په مکتوبي ډول؛ نړیوالو ته او په ځانګړي ډول د ملګرو ملتونو مرکزي دفتر ته ورسوي، خو له بده مرغه چې ښاغلي عبدالله پرته له دې چې د امریکا د نیمګړو مرسته ستاینه وکړي او د ګډ حکومت د یو کلنې دورې صفت وکړي؛ د پاکستان څخه د افغانانو د شکایت اړوند هیڅ ونکړل، عبدالله عبدالله فقط دومره وکړل چې

د غونډې په وروستی ورځ یې په شفاهي ډول د ملګرو ملتونو د غونډې په تالار کې په غیر مستقیم ډلو له پاکستان څخه شکایت وکړ، عبدالله عبدالله د ملګرو ملتونو عمومي غونډې ته په وینا کې وویل؛ پاکستان باید پر خپله خاوره د اورپکو پر ضد د کامونو پورته کولو ژمنې پوره کړي.

ده وویل، ځینې بریدونه له پولې اخوا سمبالیږي او "موږ له پاکستان غواړو، مشرانو چې یې څو میاشتې مخکې کومې ژمنې له موږ سره وکړې، هغه دې پوره کړي."

ښاغلي عبدالله له پاکستان شکایت وکړ خو هغه رنګه چې افغانانو ترې هیله درلوده او بایده یې کړي وای؛ وې نکړل. ده باید هغه اسناد او شواهد چې د افغانستان په بېلابېلو ترهګریزو بریدونو کې د پاکستان لاس لرل ثابتوي؛ د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې په رسمي ډول وړاندې کړې وای، اجراییوي ریس باید د نړیوالو ته د پاکستان اصلي څېره بربنډه کړې وای، خو له بده مرغه چې داسې ونه شول او یوازې په شفاهي وینا بسنه وشوه.

اوس مهال تازه راپورونه وایي، په داسې حال کې چې پاکستان د هند سره خپله د اوږدې مودې لانجې په درشل کې؛ له هنده خپل رسمي شکایات تر ملګرو ملتونو پورې ورسول، او د دغه سازمان عمومي منشي بان کي مون دفتر ته درې دوسیې وړاندې کړې چې په کې د پاکستان په نا آرامیو کې د هند د لاس درلودلو تورونه بیان شوي دي؛ پاکستان له افغانستانه وغوښتل چې د اسلام اباد د مداخلو په اړه نړیوالو ته شکایت ونه کړي. د پاکستان د کورنیو چارو وزیر ویلي؛ «موږ د افغانستان څوکیداران نه یوو او نه د اشرف غني په ګډون بل چا ته ځواب ورکوونکي یوو. په افغانستان کې که څوک وېرنجېږي هم نو تور یې پر پاکستان لګوي، افغانستان دې خپلې اندېښنې زموږ سره شریکې کړي، موږ تیار یوو چې د دوی خبرې واورو»

دلته اوس افغان دولت او ولس ته پوښتنه پیدا کیږي چې پاکستان کوم ډول مستقیمې خبرې غواړي چې مونږ ورسره د خپل شکایت اړوند مستقیمې خبرې وکړو؟ مونږ پوښتنه کوو چې پاکستاني چارواکي په کومه ژبه پوهیږي چې مونږ ورسره خپل شکایات مطرح کړو؟ پاکستان کوم ډول ډیپلوماتیکي اړیکې غواړي چې مونږ یې ورسره ولرو او اصلا د مستقیمو خبرو کولو څخه یې هدف څه دی؟

زما په نظر له پاکستان سره د ستونزې حل به دا وي چې په افغانستان کې د پاکستان دلاسوهنو او په وروستیو بریدونو کې د دغه هېواد د ښکاره لاس لرلو اړوند یو ځل بیا افغان دولت د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د دفتر له لارې دغې نړۍ والي مؤسسې ته په کره او مستندو لاسوندو مکتوبي شکل شکایت وکړي او هغه ناآرامونکي او ترهګریز اعمال چې پاکستان یې زمونږ د هېواد په خلاف تر سره کوي افشا کړو.

تله یا میزان/ 1396

# خیالي حکومت؛ حقیقي درغلۍ

په داسې حال کې چې افغانستان له هر اړخه له بېلابېلو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی لکه ترینګلي امینتي حالات، په اداراتو کې د فساد شتون، مخ په ځوړ اقتصادي حالت، له هیواده د کاري ځواک (ځوانانو) تیښته، د حکومت دننه د مافیایي باندونو شتون، له وسله والو مخالفینو سره د سولې نیمګړې پروسه، په حکومت د خلکو بې باوري او په ټوله کې سیاسي، امنیتي او اقتصادي بحراني حالت روان دی؛ اوسمهال په نظامي او ملکي برخه کې د خیالي افرادو د شتون خبرې مطرح کیږي. خیالي امنیتي ځواکونه، خیالي امنیت، خیالي ښوونځي، خیالي ښوونکي، خیالي معلولین، خیالي شهیدان، خیالي روغتیایي کلینکونه او خیالي ډاکټران هغه څه دي چې د حکومت دننه او بهر ځینې خلکو ته عایداتي سرچینې جوړې شوي دي. د مرسته کوونکي هیواد څخه مرسته وشي، دافغانستان حکومت ته وسپارل شی، خبرونه یې په رسنیو کې خپاره شي خو حق په حقدار ونه سپارل شي او هر څه تالا ترغۍ شي. ولس نارې سورې وهي چې د خدای لپاره دا مرسته مونږ سره نه شوې، زمونږ معلولینو خپل حق نه اخیستی، د شهیدانو وارثانو او یتیمانو ته یې د حکومت له لوري ټاکل شوی حق نه دی ترلاسه کړی خو حکومت او مرسته کوونکي هېوادونه کنفرانسونه نیسي او اعلامیې خپروي چې په فلاني ځای کې په سلګونو معلولینو او د شهیدانو کورنیو سره نغدي او نوره مرسته وشوه.

څه موده وړاندې د افغانستان د بیارغونې به چارو کې د امریکا د ځانګړي مفتش دفتر یا سیګار، د افغانستان د روغتیایي ترونونو د مشارکت پلان په اړه خپلې څېړنې خپرې کړي. سیګار ویلي، چې په تیرو کلونو کې په سلګونه روغتیایي مرکزونه او روغتونونه هېڅ فزیکي شتون نه لري، بلکې خیالي شتون لرلی دی. د دوی څېړنې څرګندوي، چې د معلوماتو له مخې ۹۰ کلینکونه او روغتونونه اصلا وجود نه لري، خو د تمویل په اړه یې بودجه لګولې شوی، همدارنګه ۱۳ نور مرکزونه تکراري دی، او همدارنګه د افغانستان په دننه د همغږي ۱۳ مرکزونو په اړه معلومات نشته، د همغږي نور ۳۰ مرکزونه د ولایت له راپور سره سمون نه خوري او ۱۲ مرکزونه د ولسوالۍ له معلومات سره مطابقت نه لري. دا هم په افغانستان کې د فساد او اختلاس یوه بله څرګنده بېلګه ده، تر دې مخکې سیګار په افغانستان کې د یو زیات شمېر خیالي ښوونځیو په اړه راپور خپور کړ. په دغه راپور کې ویل شوی و، چې د پوهنې وزارت په راپوررونو کې داسې موارد تر سترګو کېږي، چې د لسګونو ښوونځیو لپاره بودیجه منظور شوی او اخیستل شوی، خو ښوونځي اصلا وجود نه لري.

همداشان د افغانستان د امنيتي ځواکونو په تشکيلاتو کې هم د خيالي پرسونل بيلابيل راپورونه هم خپاره شوي دي. د کډ حکومت مشر اشرف غني هم د روان کال په لومړيو کې د افغان امنيتي ځواکونو په موجودو ارقامو شک څرګند کړی و او ويلي و چې بنايي افغان ځواکونه په هغه شمېر نه وي چې مسوولانو يې ويلي دي. به همدې اړوند د کورنيو چارو وزارت وياند صديق صديقي ويلي و چې زموږ د سيمه‌ييزو پوليسو ځواکونه، د زندانونو د پوليسو ځواکونه او د عامه ساتنې ځواکونه له دغې ستونزې سره مخ دي؛ خو د افغانستان ملي پوليس مو وغوښتل بايد په يوه سيستم کې تل وڅارل شي او تر څارنې لاندې وي چې نړيواله ټولنه په دغه درشل کې ډېره له موږ سره همکاره وه چې دغه ډول سيستم جوړ کړو".

په همدې ا ړه د ولسي جرګې غړو هم خپله اندېښنه څرګنده کړېده. د پکتيا د خلکو استازي جمعه دين ګيانوال؛ وايي د دې ولايت زرغون ښار ولسوالۍ په تشکيل کې ۲۰۰ پوليس لري؛ خو په دې ولسوالۍ کې د حقيقي پوليسو شمېر ۳۰ تنو ته رسېږي. همداراز د پکتيا په اورګون ولسوالۍ کې د پوليسو تشکيل ۲۵۰ کسان دي؛ خو د کوټو په شمېرکسان شتون لري او د دې ولايت په برمل ولسوالۍ کې د پوليسو تشکيل ۲۰۰ تنه دی؛ خو په عملي بڼه لس کسان هم په کې نه ترسترګو کېږي.

خيالي پوليس، ښوونکي؛ روغتونونه او ښوونځي مو اورېدلي وو، خو اوس په تازه کې د معلولينو او شهيدانو په ليست کې د خيالي معلولينو خبرونه ورکول کيږي. د وروستيو راپورونو له مخې د معلولينو او شهيدانو سلګونه کورنۍ مرستې ته اړتيا لري؛ خو هره مياشت څه باندې اتيا زره د معلولينو او شهيدانو خيالي کورنۍ امتيازونه تر لاسه کوي. د کار او ټولنيزو چارو وزارت د معلوماتو له مخې د افغانستان ۲,۷ سلنه وګړي معلول دي.

که دغه موضوع د حکومت له خوا په جدي ډول ونه څېړل شي د امنيتي ځواکونو ځانګړې بودجې يوه برخه به خوشې تللې وي او نا امنۍ به هم پراخې شي.

تله يا ميزان/ 1396

# د چوهدري نثار اوتې بوتې

له پخوا راهیسې د پاکستان لوړپوړي پوځي او استخباراتي چارواکي د افغانستان اړوند عجیبې او غریبې څرګندونې کوي. کله کله خو داسې وي چې د خپل بام تولې واورې د افغانانو په بامونو کذارې کړي. په افغانستان کې چې څومره ترهګریزې کړنې، چاودنې ، ځانمرګي بریدونه او ډله ایز بریدونه شوي؛ په ډېرو کې یې د پاکستان مستقیم لاس وي او یا د پاکستان په لاربښودنه ترسره شوی وي. ټول افغانان شاهدان دي چې د افغانستان په ختیځ ولایت کونړ باندې له کلونو راهیستې دپاکستان له لوري ړانده توغندي وریدل او اوس هم خال خال ورېکي. په دې اړوند د افغانستان نظامي او استخباراتي ادارې کره لاسوندونه او شواهد هم لري خو پاکستان نه یوازې دا چې په دغو ټولو ترهګریزو کړنو کې لاس لرل ردوي بلکې په افغانستان تور پورې کوي چې له دغه هېواده پاکستان ته ترهګر اوړي او هلته په ټولو ترهګریزو پېښو کې لاس لري. نه پوهېږم چې دېته د پاکستان سپین سترګي ووایم او که پیاوړې بهرنۍ پالیسي؟

اوس په دې وروستیو کې د پاکستان د کورنیو چارو وزیر چوهدري نثار علي یو ځل بیا آپلتې ویلي دي. چوهدري ویلي چې د افغانستان او پاکستان اړیکې درېیم هېواد خرابوي. نوموړی وایې د افغانستان پوځ، امنیتي ادارې او هلته میشت بهرني ځواکونه چې د ترهګرۍ د پېښو مخه نه شي نیولی نو پر پاکستان ولې تورونه لګوي. دا لومړی ځل نه دی چې دغه ښاغلی د افغانستان چارواکو ته داسې ترخې خبرې کوي او پیغور ورکوي بلکې له دې څو ورځې وړاندې هم چوهدري نثار علي ویلي و چې «موږ د افغانستان څوکیداران نه یوو او نه د اشرف غني په ګډون بل چا ته ځواب ورکوونکي یوو. په افغانستان کې که څوک وېرنجېږي هم نو تور یې پر پاکستان لګوي، افغانستان دې خپلې اندېښنې زموږ سره شریکې کړي، موږ تیار یوو چې د دوی خبرې واورو«

که دې خبرې ته یې په پوره دقت وکتل شي او څېړل شي نو په ډاګه کوي چې افغانستان، افغان حکومت، افغان ولس او دلته په افغانستان کې میشت بهرني ځواکونو ته یې ښکاره پیغور او طعنه ورکړې ده. په ښکاره یې د دوی سپکاوی کړی دی، دا ددې معنا ورکوي چې ګویا د افغانستان حکومت، امنیتي او استخباراتي ادارې او دلته میشت بهرني ځواکونه دا وړتیا نلري چې د افغانستان ساتنه وکړي او بېځایه په پاکستان تورونه لګوي. د افغانستان حکومت او امنیتي ادارې باید د چوهدري نثار دغه حقیرانه خبرې بې ځوابه پرېنږدي او د ډیپلوماټیکو اصولو په رڼا کې باید ورته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي.

یوه بله خبره چې د چوهدري نثار په وروستیو څرګندونو کې د مکس وړ ده؛ هغه دا چې د افغانستان او پاکستان د اړیکو د ترینګلتیا لامل یې دریېم هېواد ښودلی دی. که څه هم چوهدري په ښکاره د کوم هېواد نوم یاد نکړ خو که له ا فغان حکومت څخه د پاکستان تېرو غوښتنو ته وګورو نو په ډاګه کېږي چې اشاره یې هندوستان ته ده. پخواني ولسمشر حامد کرزي په بار بار ویلي چې له افغانستانه د پاکستان غوښتنه؛ دافغانستان د کورني سیاست کنټرول او په خپل واک کې نیول او د هندوستان سره د اړیکو محدودول دي. نو د پاکستان دغو غوښتنو ته په کتو دا باور کېدای شي چې د چوهدري نثار په وروستیو څرګندونو د دریم هېواد څخه هدف هندوستان وي.

هندوستان هغه هېواد دی چې له افغانستان سره د تاریخ په هر پړاو کې هر راز مرستې کړي، افغانستان ته یې هیڅ راز زیان نه دی رسیدلی، هیڅکله یې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه ده کړې، تل په رښتیني معنا د افغانستان دوست هېواد پاتې شوی، له افغانستان سره یې مرستې په بشپړه روڼتیا په مصرف رسولي، خلاصه دا چې په پوره معنا یې له افغانستان سره خپله پاکه دوستي پاللې ده. اوس نو په کوم ثبوت سره چوهدري نثار ادعا کوي چې هندوستان دې د افغانستان او پاکستان د اړیکو په خرابوالي کې لاس ولري؟

اصلي خبره دا ده چې پاکستان په ورته څرګندونو غواړي چې د پاکستان په خلاف د افغانانو ذهنونه بدل کړي، غواړي د افغانستان په دوست هېواد هندوستان د افغانانو باور خراب کړي، غواړي چې له دې لارې د افغان حکومت او هندوستان تر منځ په اړیکو کې شک او تردد پیدا کړي. خو افغان دولت او افغانان دې خبر وي او د پاکستان په دغه نوي چال کې دې له ننښتلو ځان وساتي.

تله یا میزان/ 1396

# د ښوونکي یا که د مېلې ورځ..؟

د اکتوبر ۵ مه نېټه د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د ښوونکي نړیواله ورځ پېژندل شویده. دغه ورځ د یونسکو سازمان لخوا د ۱۹۹۴ کال د اکتوبر له پنځمې نېټې راهیسې د ښوونکي د ورځې په نوم نومول شویده. د ښوونکي د نړیوالې ورځې د یادونې څخه هدف دا دی چې د ښوونې او روزنې کیفیت لوړ او اوچت شي. د ښوونکو د کار او ژوندانه کچه غوره شي او په خپله ټولنه کې خپل مناسب ځای او مقام لاسته راوړي. له بل پلوه دغه راز د ښوونکي نړیواله ورځ د خبرو اترو، منطق او په علم او پوهې سمبالو وګړو سره د یووالي او نړیوال پیوستون څرګندونه ده. دا ورځ موږ ته دا اصل را زده کوي چې غوره ښوونکي د ښې زده کړې ورکوونکي دي. د ښوونکي نړیواله ورځ د نړۍ له سلو په ډېرو هېوادونو کې لمانځل کیږي. په دې ورځ زیات شمېر زده کوونکي مقالې لولي، ښوونکي ستایي او معلمان یې فخر کوي او خوشحالیږي. دلته په افغانستان کې دغه ورځ په داسي حال کي لمانځل کیږي؛ چې د دغه هېواد ډېری ښوونکي له اقتصادي ستونزو سر ټکوي. ښوونکي شکایت کوي، چې د دوی تنخاګانې د دوی کورنۍ اړتیاوې نشي پوره کولای.

دلته زموږ په هېواد کې ناامني، اقتصادي ستونزې او کلتوري ننګونې د ښوونکو د ژوند د تامین پر وړاندې درې ستر خنډونه دي. د دې تر څنګ ډېر ښوونکي د سړینا یا کورونو له نشتوالي سره هم مخامخ دي. ډېر داسې ښوونکي شته چې له خپلو تنخاګانو د کورونو کرایې هم ورکوي، چې له دې امله د دوی ستونزې څو برابره زیاتیږي. دا خو هغه ستونزې دي چې ښوونکي ترې سر ټکوي، خو دلته ځینې نورې داسې ستونزې هم شته چې د ښوونځیو زده کوونکي او د زده کوونکو کورنۍ بیا له استادانو سر ټکوي.

یوه ستونزه خو دا ده چې دلته په هېواد کې د کډ حکومت له جوړیدو سره سم رخصتۍ دومره زیاتې شوي چې په حقیقت کې زموږ د ملت لپاره زهر کنل کېدلای شي، ځکه ملت له دومره کړاو او ستونزو سره لاس او ګریوان دی چې که د افغانستان هر وګړی ماشین هم شي نو باید یوه شېبه هم ونه دریږي،. له بده مرغه چې اوس زموږ رخصتۍ د قانون له سرو کرښو هم واوښتلې. افغانستان په تېرو کلونو کې تر سخت ناورین وروسته اوس اړتیا لري څو شپه او ورځ ورته کار وشي، خو د هېواد وګړي په وروستیو کلونو کې په یو کال کې ۱۱۵ ورځې رخصتۍ کوي، دې رخصتیو له دې سره سره چې یو لوري ته یې کاري کفیت ټیټ کړی دی بل لوري ته یې په کاري برخه کې هم ډېرې ستونزې را ولاړې کړې دي.

له بل لوري زمونږ ډېری ښوونکي هم له وېش نه په تالا خوښ دي. که د حکومت له لوري یوه ورځ رسمي رخصتي اعلانېږي؛ ښوونکي مو زده کوونکو ته دوه ورځې له ځانه رخصتي ورکوي، په دې معنا چې له رسمي رخصتی یوه ورځ وړاندې او یوه ورځ وروسته په خپل سر رخصتي کوي. همدا شان د اختر څلور ورځې رخصتی مو آن پنځلسو او شلو ورځو ته رسیږي. او د ښوونیز کال په لومړیو کې کله چې ښوونځي پیلېږي نو تر پنځلسو ورځو مو زده کوونکي ښوونځي ته سر نه ورښکاره کوي او بیا کله چې لږ شمېر زده کوونکي راشي نو ښوونکي؛ د زده کوونکو د کمښت له امله ښوونځیو ته نه ورځي.

دلته زمونږ یو شمېر ښوونکي داسې هم شته چې یوازې درس حفظ کوي او بیا یې د زده کوونکو په مخ کې له یاده وایي، ټول کمال یې همدا وي. نه شاګرد فکر کولو ته هڅوي، نه په درسي موادو، شکلونو، رسمونو، موډلونو، نقشو، او عملي کارونو درس ورته اسانه کوي.

له ورهاخو ډېری نورې ستونزې هم شته چې ډېری ښوونکي یې لري او د زده کوونکو په سرنوشت لوبې کوي. ښوونکي په بیلابیلو نومونو له زده کوونکو پیسې ټولوي او بیا پرې لکه د بېکاره ځوانانو مېلې کوي. دلته د ښوونکي د ورځې په نامه له زده کوونکو آن درې درې سوه افغانۍ ټولیږي او بیا پرې استادان میلې کوي. دا سمه ده چې د ښوونکي ورځ باید ولمانځل شي او د ښوونکي درناوی باید وشي خو داسې هم نه ده په کار چې یو زده کوونکی چې پلار بېچاره یې د ورځې دوه سوه افغانۍ دیاړي کوي؛ ښوونکی دې ترې ددغې ورځې د لمانځلو په خاطر درې سوه افغانۍ وغواړي.

د ښوونکي ورځ دې مبارک او نېکمرغه وي خو یوازې هغو ښوونکو ته چې په رښتینې معنا یې لکه شمعه ځان سوزلی او نورو ته یې روښنایې ورکړې ده، هغه ښوونکو ته دې مبارک وي چې د خپل سپېڅلې مقام په لمنه یې د ناغېړۍ تور داغ نه دی پرېښی.

تله یا میزان/ 1396

# د کډ حکومت ګډوډ واليان

په افغانستان کې د ملي يو والی تر نامه لاندې ګډ حکومت چې افغانان يې دوه سری حکومت بولي؛ د ۱۳۹۳ د تلې د مياشتې په اوومه نېټه د ولسمشريزو ټاکنو د پايلو په نتيجه کې نه، بلکې د جان کيري د پريکړې او مصلحت په اساس جوړ شو. بنايي دا ډول حکومت د خپل نوعيت له مخې د نړۍ پرمخ لومړنی حکومت وي چې هم يې ګټونکی او بايلونکی دواړه نا معلوم دي او هم دواړه په واک کې نيم په نيمه شريک دي. له لومړي سره د حکومت د دواړو مشرانو تر منځ نانندرۍ روانې وې خو کله چې د کابينې په جوړولو پيل وکړ نو هر يو ښاغلي به غوښتل چې کليدي وزارتونو ته خپل خپل وزيران معرفي کړي چې ځينې وختونه به د ولسمشر له لوري معرفي شوی نوماند د عبدالله له لوري رد کيده او ځينې وختونه به د عبدالله له لوري نوماند وزير د اشرف غني لخوا رد کيده.

همدغه کشمکش حکومت په دوه لارو روان کړ او په ملي مسايلو کې د واحد نظر پر ځای دوه نظرونه پيدا شول. په همدغه کشمکش او د واک پر سر شخړې لانجمن حالت کې د ملي وحدت حکومت ولسمشر اشرف غني اعلان وکړ چې په ۴۵ څلويښت ورځو کې به کابينه ولسي جرګې ته معرفي کوي خوبلاخره دا جوته شوه چې د ملي وحدت حکومت مشرانو ترمنځ د چوکيو په وېش لانجه اوږده شوه او ونه توانيدل چې په دې موده کې کابينه ولسي جرګې ته وپيژني.

هغه قانون چې ولسي جرګې پاس کړی او د سرپرست وزيرانو لپاره يې ۲ مياشتې وخت ټاکلی وو هغه نقض او په دوو مياشتو په تېريدو دملي يوالي حکومت سرپرست وزيران ګوښه او پرځای يې د وزارتو مرستيال وزيران سرپرست وزيران وټاکل. د ګډ حکومت د مشرانو تر منځ لانجه يوازې د وزيرانو په ټاکلو نه بلکې په معينانو، رييسانو او حتا د ولايتونو په واليانو هم يو وبل ته په مورچه کې ناست و. هر يو ښاغلي به غوښتل چې د واليانو په ټاکنه کې خپله ونډه بارزه او زياته کړي. بلاخره د جنجالونو سره سره بيا هم ګډ حکومت د يو شمېر ولايتونو لپاره نوي واليان وګمارل. په دغه واليانو کې دغسې افراد هم شامل و او دي چې ځينې يې د تير حکومت پاتې شوني دي. له دې ورهاخوا ځينې يې داسې دي چې د زده کړې کچه يې تر دولسم ټولګي پورې ده، ځينې يې داسې کسان دي چې آن د ولايت مقام په معنې، مسوليتونو او صلاحيتونو نه پوهيږي او نظامي پوهه نه لري، ځينې يې داسې دي چې په خلکو کې نفوذ نلري او د اړوند ولايت خلکو ته د منلو وړ نه دي چې پر ضد يې په لسګونو لاريونو هم د ولس لخوا شوي دي، ځينې يې بيا داسې هم دي چې په نورو هيوادونو پلورل شوي او د پرديو لاسپوڅي دي.

تاسې د ننګرهار والي وګورئ له کومې ورځې چې د ننګرهار د والي په توګه ګمار شوی دی نو د ننګرهار د ولسونو ورځ بده شوې ده، داعش هره ورځ د عام ولس وینې زبېښي، ښوونځي د ناامنیو له امله تړل کېږي، انجونې او مېرمنې په بیلابیلو نومونو زورول کیږي، نوي زېږېدلي کوچنیان په منځ دوه ټوټه ډیري کېږي، سپین ږیري په ډونو الوزول کېږي او له ځوانانو یې سره غوڅېږي. تاسې ووایاست چې د ننګرهار والي د ننګرهاریانو کومه ستونزه هواره کړېده؟

همدا ډول د کندز والي وګورئ چې د کندز د والي په توګه له ټاکل کېدو نیولی تر ننه کندوزیانو ښه او ډاډمنه ورځ ونه لیدله، هره ورځ د ولسوالیو سقوط دی، ځوانان په بیلابیلو نومونو وژل کېږي، هدفي وژنې کېږي،او لویه بېلګه یې همدا د تېرې ورځې له شرمه ډکه پېښه ده چې د ولایت بشپړ مرکز سقوط وکړ او د طالبانو لاس ته ورغی.

ددې تر څنګ د غزني والي وګوره چې په راتګ سره یې د غزني حالت له پخوا ورځ تر بلې بدترېږي، په رڼا ورځ خلک له موټره ښکته کول کېږي او وژل کېږي، په بیلابیلو نومونو د بیلابیلو قومونو مشران او ځوانان اختطاف کېږي، او خلک په ډاډه زړه خپل کارو بار نشي کولی.

خلاصه دا چې د کډ حکومت د یو کلنې دورې څخه خلک شل سلنه هم رضایت نه لري، ولس چې د اوسني حکومت په دوام او بقاء باور نه لري نو ځکه خو هره ورځ مو په سلګونو هېوادوال له هیواده تیښتې ته زړه ښه کوي او اروپایي هېوادونو ته پناه وړي.

راځو دېته چې یو غوره او پیاوړی والي باید کومې ځانګړنې ولري؟

- یو غوره والي باید که نظامي کس نه وي لږ تر لږه په نظامي برخه کې معلومات ولري
- غوره والي باید د خلکو په منځ کې ټولنیز نفوذ ولري
- غوره والی باید تجربه لرونکی وي او لا له وړاندې خلکو ته د منلو وړ وي
- غوره والي باید نیک او ښه شهرت ولري
- غوره والي باید د اړوند ولایت ټول ستراتیژیک موقعیتونه وپیژني او د خلکو د ساتنې لپاره باید په ستراتیژیکو ځایونو کې امنیتي ګمربندونه ولري
- غوره والي باید د احتمالي پېښو په اړه معلومات ولري او په ړوند یې لازم چمتو والی ولري.

**تله یا میزان/ 1396**

# د ګډ حکومت کلیزه

((د لوی خدای(ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دین پیروي او ساتنه وکړم، د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایت او د تطبیق څارنه وکړم. د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه او افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم او د لوی خدای(ج) له دربار څخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو پرمختک او هوسایۍ په لاره کې خپلې هڅې جاري وساتم.)) دا د ولسمشر غني هغه قسم دی چې له نن پوره ۳۶۵ ورځې وړاندې یې د ملي شورا، سترې محکمې غړو، کورنیو او بهرنیو میلمنو او د ولس په مخ کې د قرآن پاک پر سر لاسونه کېښودل. د ولسمشر په توکه تر سوګند یادولو وروسته تر نن موده کې اشرف غني او عبدالله څه کړي دي؟ دلته د ګډ حکومت په بیلابیلو اړخونو نظر اچوو.

۱ـ اقتصاد:

ولسمشر غني د افغانستان خلکو ته ۵۰ سترې ژمنې ورکړې وې، چې د خپلې بریا په صورت کې به یې عملي کوي. موږ یې فقط د لویو ژمنو یادونه کوو. غني د هر ولایت اوسیدونکو سره بېلابېلې ژمنې کړې وې چې تر ډېره پر اقتصادي مسایلو څرخي.

- کابل: زما د حکومت په پنځو کلونو کې به هېڅوک هم بې استوګنځي نه وي
- کابل: په هېواد کې خپله د افغانانو له خوا د پانګونې زمینه مساعدوو، زموږ سترګې او غوږونه باید د بهرنیو مرستو په تمه نه وي.
- کندز: کندز ولایت به د نړیوال ترانزیټ پر مرکز بدل کړو او په شېرخان بندر کې په پانګونې سره به رېل پټلۍ له دغه مسیر څخه وغځوو.
- کندوز: د امو سیند د سواحلو ټینګول، د کرنې میکانیزه کول، د کرنیز پوهنتون جوړول، د هوایي ډګر او کندوز ښار پراختیا، د دوو ولسوالیو زیاتول، د خصوصي او د ښځو د لاسي صنایعو وده ټول زموږ په کاري لومړیتوبونو کې دي.
- ننګرهار: ختیځ ولایتونه به د برېښنا پر تولیدوونکو ولایتونو بدل کړو. په جلال اباد کې به په نړیواله کچه یو اسلامي پوهنتون جوړ کړو، دغه ښار به پر یوه صنعتي ښار بدل کړو، چې حتی تولیدي توکي یې له هېواده بهر صادر شي، د ننګرهار کانال به جوړ او اوبه به یې مهار کړو.

- بدخشان: په لومړي قدم کې د وریښمو سوداګریزه لاره، چې له بدخشان څخه تېرېږي، له چین سره نښلوو او هغه د نړۍ په ترانزیټي مرکز نوموو.

په نړۍ کې داسې لږ ولسمشران پیدا شي چې خپلې ټولې کړې ژمنې سل په سلو کې عملي کړي، خو داسې ولسمشران به هم ډېر کم پیدا شي چې په ټولو ژمنو کې پاتې راشي .د ولسمشر غني د اقتصادي برخې دغه ژمنې نه یوازې دا چې عملي نه شوې، بلکې تر ډېره حده د هغو خلاف عمل هم وشو. د خلکو په دسترخوان کې تغیر یې راوستو خو منفي، د خلکو په دسترخوان هغه یوه شته ډوډۍ هم نیمایې او یا هم بیخې ورکه شوله، ځوانانو ته د کار پیدا کولو په برخه کې چې ویل یې لږ تر لږه (یو میلیون شغلونه) به رامنځته کړي، نه یوازې دا چې نوي شغلونه رامنځته نه شول، بلکې تر سلو زرو زیات په کار بوخت ځوانان بیکاره شول. د نشه یې توکو په کښت کې مو بیا هم لومړی مقام وګټو او اداري فساد هماغسې په خپل اوج کې دی.

۲ـ حکومتولي:

- د قانون بشپړ تنفیذ، ملي یووالی، د ولسي حکومت جوړول، د محاکمو اصلاح، ځوانانو ته د کاري زمینو برابرول.
- دولت به پر یوه سهامي شرکت بدل نه کړي او په هرو شپږو میاشتو کې به خلکو ته د حکومتوالی راپور ورکړي.
- له فساد سره به کلکه مبارزه وکړي او هغه کسان چې له تېرو کلونو راهیسې یې په دولت کې د والیانو په توګه کار کاوه، له دندو به یې لرې کړي.
- مجرمان به مجازات کړو او د مکافاتو او مجازاتو سیستم په رامنځته کولو سره به د عدلي او قضایي ارګانونو او پولیسو تر منځ اړینه همغږي رامنځته کړو.

دلته تاسې خپله قضاوت وکړۍ چې آیا د غني او عبدالله ګډ حکومت چې واک یې له وزارتونو نیولی آن په دفاترو کې د خلکو د کمارنې پورې پنځوس پنځوس تقسیم نه دی؟ آیا دا یو سهامي شرکت نه دی چې په پوره یو کال کې ددفاع وزیر په ټاکلو سره سلاح نه شول او دا دی اوس هم مو دغه وزارت د سرپرست له لوري اداره کیږي؟ تاسې په خپله ووایاست چې د ګډ حکومت یو کلنه دوره کې څومره په خلکو قانون تطبیق شو، په محاکمو کې څومره اصلاحات منځته راغلل؟

۳ـ امنیت او پوځي چارې:

- له لومړۍ ورځې به د افغانستان د وسله والو ځواکونو علی سرقوماندانی رامنځته کړو، چې په هېواد کې امنیت خوندي شي.
- خپلسري وسله وال به قانوني کړو. د قانوني صلاحیتونو په رڼا کې به د دبشري حقونو له سرغړوونکو او جنګي جنایت کارانو سره قانوني چلند وکړو.
- ختیځ ولایتونه د سولې او امنیت پر مرکز بدلول.
- د هېواد په کچه د ملي اردو پیاوړتیا، سمبالښت او روزنه

لمر په دوه ګوتو نه پټیږي؛ په امنیتي مسایلو کې د ولسمشر غني له لوري ورکړل شوې ژمنې او اوسنی وضعیت پرتله کړئ، د هېواد د اعلی سرقوماندان په توګه ولسمشر غني څه کړي دي؟ د هېواد د دویم شخص او د اجرایوي ریس په توګه عبدالله څه کړي دي؟ آیا په رښتیا هم په هېواد کې مو خپل سري وسله وال نشته؟ آیا په ختیځو ولایاتو کې داعش د عام ولس وینې نه زبیښي؟ ځواب روښانه دی، نه یوازې دا چې امنیت ډاډمن نه شو بلکې تر دې بریده خراب شو، چې طالبان او یا په ټوله کې مخالفین له چریکي جګړو څخه منظمو جبهه یي جګړو ته راووتل او آن ځینې ولسوالی یې ونیولې او تېره ورځ یې کندز په خپل کنټرول کې راوست.

۴ـ له طالبانو سره سوله:

- په هېواد کې د سراسري سولې د خوندي کولو او د دولت له وسله والو مخالفینو سره د دریځ نیولو لپاره ملي اجماع راغواړو، د ملي اجماع شرایط برابروو، څو تلپاتې سوله راشي.
- په هېواد کې د دیني عالمانو په مرسته د سولې راوستل.
- ملي حاکمیت زموږ له کاري لومړیتونو څخه دی، څو له سیاسي لارې یوې واحدې اجماع ته ورسېږو.له ټولو وسله والو مخالفینو په ځانګړي ډول له وسله والو طالبانو غواړو، چې د یوه غښتلي نظام د جوړښت او ملي مشارکت لپاره خپل نظریات او وړاندیزونه وړاندې کړي او ځان په یوه سیاسي نظام کې داخل کړي.

په دې کې هیڅ شک نشته چې ولس سولې ته لکه د اوبو د تږي روژه دار په څیر تږی دی خو دا تنده یې تر اوسه نه ده ماته شوې. ولسمشر غني او عبدالله دواړو د خپل ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال په هېواد کې

تل پاتې سوله راوستل خپله اساسي موخه کنله. د نوي حکومت له بیله د مخالفو وسله والو سره د سولې خبرې کرمې شوې او دا دی تر ننه تش د شعار په بڼه زمزمه کیږي. سوله لا هم د مرغۍ پې ده.

۵ـ د بیان ازادي:

- په خپل حکومت کې به د بیان ازادي په هېواد کې قانونمنده کړو.
- د رسنیو مدیریت ته به په بنسټیز ډول بدلون ورکړو، څو یو ازاد ملي فرهنګ رامنځته شي.
- د تولو وژل شوو خبریالانو دوسیې له سره خلاصوو، حق الله او حق العبد یو له بل څخه تفکیک کوو، څو د بیان له ازادۍ ساتنه وشي.

د بیان ازادي چې تېر حکومت یې خپله لویه لاسته راوړنه بولي دا دی په کډ حکومت کې د بیان آزادۍ دومره پرمختګ وکړ چې له سرې کرښې یې هم پښنه واړوله. ډېر لیرې نه ځو همدا د تېرې ورځې پیښې (د کندز سقوط) ته کتنه کوو. تېره ورځ طالبانو د کندز پر خوا فقط منده وکړه او دلته په کابل کې ترهګرو رسنیو چیغه کړه چې نیم کندوز سقوط شو، طالبانو د کندز فقط ځینې سیمې ونیولې خو دلته ترهګرو رسنیو د بشپړ کندز د سقوط خبرونه خپاره کړل. څومره خطر چې د ترهګرو له لوري دغې نظام ته ورپیښ دی له هغې څو چنده زیات دغه ترهګرې رسنۍ خطرناکې دي. په اصل کې که نظام ته خطر وي نو د بیان په ازادۍ دې اور پورې شي.

په خلص ډول دا چې کډ حکومت په یوه کال کې له حده ډېرې نیمګړتیاوې لري. که وضعیت همداسې دوام وکړي، فکر نه کوم چې دا شرۍ وړۍ شي.

تله یا میزان/ 1396

# ګډ حکومت او د قانون نقض

که څه هم اشرف غني د ولسمشر په توګه د لوړې د مراسمو تر ترسره کولو لس دقیقې وروسته د افغانستان اساسي قانون مات کړ او د عبدالله عبدالله لپاره يې د اجرايوي رياست پوسټ رامنځته کړ؛ خو په دې ليکنه کې د نوي حکومت په يو کلنه دوره کې چې څومره قانون تر پښو لاندې شوی دی؛ بحث کيږي. په خپله د ګډ حکومت د مشرانو او چارواکو لخوا چې په بيلابيلو وختونو او حالاتو کې څومره قانون نقض شوی؛ دلته پرې په ترتيب له څلورمې مادې څخه تر وروستۍ هغې پورې بحث کوو.

۱ـ څلورمه ماده حکم کوي: د افغان کلمه د افغان ملت پر هر فرد اطلاق کيږي. خو ولسمشر په بريښنايې تذکرو کې د افغانيت کلمه نه ذکر کوي او په دې اړوند د ملي اجماع د جوړيدو خبره کوي.

۲ـ نولسمه ماده حکم کوي: د افغانستان بيرغ له دريو، تور، سور او زرغون رنګ لرونکو ټوټو څخه جوړ دی، خو دلته په ملي او مذهبي ورځو کې د ګوندونو او ډلو ټپلو بيرغونه رپول کيږي.

۳ـ شپږ دېرشمه ماده حکم کوي: د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو روا او سوله ييزو غوښتنود تأمين لپاره، له قانون سره سم، بې له وسلې غونډې او مظاهرې وکړي. خو دلته تاسې په خپلو سترګو وليدل چې لاريونو کې د غير قانوني وسلې تر څنګ آن د دولت رنجر موټر هم د خلکو په شخصي خدمت کې وي

۴ـ اته څلويښتمه ماده حکم کوي: کار د هر افغان حق دی. خو دلته د چارواکو زامن، ورونه، خوريينه، د کاکا زامن او د چارواکي خپلوان د کار کولو حق لري آن د يو چارواکي خپلوان په دريو پوستونو هم کار کوي او د غريب بيچاره زوی که ماستري هم ولري؛ بې دندې ګرځي. بڼه بيلګه يې د اجرايوي رييس له لوري د مصطفی مستور ؛ چې برحاله د ماليې وزارت مرستيال دی اوس د پخوانۍ دندې په شتون کې د اجرايه رياست د ځانګړي سلاکار په توګه ټاکل شو دی.

۵ـ دريڅلوسمه ماده حکم کوي: دولت د شهيدانواو مفقودينو د پاتې کسانو، له معلولينو او معيوبينو سره دمالي مرستواو روغتيايي خدمتونو د تنظيم لپاره د قانون له حکمونو سره سم لازم تدبيرونه نيسي. خو دلته اصلي معلولين بې کوره او بې معاشه د ژوند شپې سبا کوي اما چارواکي مو خيالي معلولين لري او د اصلي معلولينو په حق خيټه اچوي. د راپورونو له مخې په وروستيو څو کلونو کې يو شميرکسانو د جعلي کارتونو له طريقه د معلول تر نوم لاندې معاشونه تر لاسه کړي دي. ښه بيلګه يې په دې وروستيو کې د کار او ټولنيزو چارو وزيرې نسرين اورياخېل ځرګندونې چې ويلي يې دي، په دغه ورازت کې يې ۵۰ زره خيالي معلولين په نښه کړي، چې يوازې نومونه يې ثبت شوي خو خپله شخص وجود نه لري.

۶ـ يوشپيتمه ماده حکم کوي: جمهور رئيس د راې ورکوونکو د آزادو، عمومي، پټو، او مستقيمو رايو ورکولو له لارې په سلو کې ترپنځوسو د زياتو رايو په ترلاسه کولو انتخابيږي. د همدې مادې بله فقره وايي : د انتخاباتو په دويم پړاو کې

هغه څوك چې د رایو اکثریت ترلاسه کړي، جمهور رئیس ګڼل کېږي. خو دلته تاسې ولیدل چې ددویم پړاو ټاکنو د پایلو تر څرګندیدو وروسته بیا هم حکومت د دوه سیالو ټیمونو تر منځ پنځوس پنځوس فیصده وویشل شو.

۷ـ څلور شپیتمه ماده د ولسمشر ۲۲ دندې او واکونه بیانوي چې له جملې یې ځینو ته اشاره کوو: ۱ـ د اساسي قانون د اجرا څارل، خو دلته نه یوازې دا چې ګډ حکومت له قانونه سالمه څارنه ونکړه بلکه پخپله ولسمشر هماغه د لوړې مراسمو د پرځای کولو پر ورځ اساسي قانون مات کړ او یو غیر قانوني پوسټ (اجرایوي پوسټ) یې رامنځته کړ. ۲ـ د ولسی جرګې په تایید د وزیرانو او لوی څارنوال ټاکل او د هغوی عزلول او داستعفی منل، خو دلته دا دی د نوي حکومت له جوړیدو څه د پاسه یو کال اوړي خو تر اوسه لا د دفاع وزیر سرپرست دی، لوی څارنوال سرپرست دی او ګڼ شمیر ولایتونه هم د سرپرستانو له لوري اداره کیږي.

۸ـ نهه اویایمه ماده حکم کوي: حکومت کولای شي د ولسی جرګې د تعطیل په حالت کې له بودجې او مالي چارو پرته ، د بېړنۍ اړتیا پر اساس تقنیني فرمانونه ترتیب کړي. خو دلته د هویت په پېژندپاڼو کې د اسلامیت او افغانیت کلمو د ذکر کولو په سر راپورته شوي جنجال چې اړتیا وه ولسمشر د تقنیني فرمان پر اساس دغه راپورته شوی جنجال ختم کړی وای؛ هیڅ راز تقنیني فرمان صادر نه شو.

۹ـ دري اتیایمه مادې دویمه فقره حکم کوي: د ولسي جرګې د کار دوره د پنځم کال د چنګاښ په لومړي نېټه پای ته رسېږي او نوې شورا په کار پیل کوي، خو دلته دا دی په غیر قانوني ډول د ولسي جرګې کاري موده وغځیده. د همدې مادې بله فقره کې راغلي: د ولسی جرګې د غړیو انتخابات له دیرشو ورځو څخه تر شپیتو ورځو پورې د ولسی جرګې د دورې ترپای ته رسېدو څخه د مخه ترسره کېږي، خو دلته دا دی د ولسمشر او اجرایوي ریس تر منځ د ټاکنیزو کمیسیونونو په اصلاح د اختلاف له امله دا نېټه وځنډیده.

۱۰ـ یوسلو دوه پنځوسمه ماده حکم کوي: جمهور رئیس، د جمهور رئیس مرستیال، وزیران، د ملي شوری او د سترې محکمې، رئیسان او غړي او قاضیان نشي کولای د وظیفې د تصدۍ په موده کې په نورو مشاغلو لاس پورې کړي، خو دلته د حکومت هر چارواکی د رسمي دندې تر څنګ د هیواد دننه او بهر کې شرکتونه او کارونه لري.

۱۱ـ د ټاکنو د قوانینو نقض کول

نهمه ماده لمړۍ فقره: حقوقي یا حکمي اشخاص نه شي کولی په مستقیم یا نامستقیم ډول د ټاکنو په چارو کې لاسوهنه وکړي. خو دلته ولسشمر او اجرایوي ریس د ګډ حکومت د سیاسي هوکړې له مخې د ټاکنیزو کمیسیونو د اصلاح په نوم په دغو خپلواکو کمیسیونونو کې لاسوهنه کوي او هر یو یې په یادو کمیسیونونو کې د خپل افرادو د ځای پر ځای کېدو هڅه کوي.

د پورته تحلیل له مخې د ګډ حکومت مشرانو او بیلابیلو چارواکو د حکومت په یو کلنه دوره کې د اساسي قانون لس مادې نقض کړي او که سم تحقیق وشي نو له امکانه لیرې نه ده چې د اساسي قانون تر څنګ د هیواد ډیری نور قوانین لکه د ټاکنو قانون، رسنیو قانون، د جزا قانون او ..... نور یې هم نقض کړي وي.

تله یا میزان/ 1396

# کډ حکومت نه ښه رهبر لري او نه ښه مدير

يو شمېر هغه کارونه او پېښې چې د کډ حکومت په جريان کې ترسره او واقع شوي دي :

1. د دولتي ادارو تر منځ د همغږۍ نه شتون؛ د قوانينو بې ارزښته کول او په دولتي ادارتو کې خپلسري
2. دکورنيو لاسپوڅو په وسيله قومي، ژبني، سمتي او مذهبي تعصب ته په بې ساري توګه لمن وهل کيدل
3. د نظام په دننه کې د جاسوسو او پرديپالو اشخاصو ځای پر ځای کيدل
4. په بيلابيلو نومونو د ځينو رهبرانو له لوري د خپلو شخصو اهدافو د ترلاسه کولو او د ناامنۍ لپاره په ښارونو او اطرافو کې د غيرقانوني وسله والو پيدا کول او وسله ورکول
5. په هېواد کې د چپ لاسي او ښې لاسي اصطلاح رامنځته کيدل چې پايله يې په دولت سياسي فشار اچول دي
6. د لومړي ځل لپاره په نظام کې دننه د پنځم ستون معما رامنځته کېدل
7. د هېواد اقتصادي نظام له رکود سره مخامخ کيدل؛ د نورو بهرنيو اسعارو پر وړاندې د هېواد پولي واحد ارزښت کمېدل
8. د بې کارۍ کچه لوړيدل او له هېواده د کاري ځواک تيښته
9. د سياسونو او مدني فعالانو تر نامه لاندې د يو شمېر مغرضو کړيو فعاليدل
10. د نامسوله وسله والو له لوري د هېواد په لويو لارو په رڼا ورځ له موټرو د عامو خلکو ښکته کول او بيا بنديانول يا وژل
11. په تېرو څوارلسو کلونو کې د لومړي ځل لپاره د مخالفينو له لوري د بيلابيلو ولسواليو تر څنګ په ډراماتيکه توګه د يو سراتيژيک ولايت مرکز سقوط کېدل
12. په هېواد کې د اکثريت پر ضد د لږکيو راپارول او له هغوی څخه مالي، سياسي، او پوځي ملاتړ
13. د هېواد دننه د هغه چاپي ، غږيزو او انځوريزو رسنيو؛ نه کنټرولول چې د دولت ضد خپروني کوي، کوچنۍ پيښې لويې ښيي او په لوی لاس د خلکو او دولت تر منځ واټن رامنځته کوي چې خلک په دولت بې باوره کړي

پورته ديارلس موارد هغه څه دي چې اوسني کډ حکومت ولس ته په خپله يو کلنه دوره کې وړاندې کړل او لا هم شتون لري. په دې کې شک نشته چې له پورته مواردو څخه به يو اندازه په تېر حکومت کې هم شتون درلود خو پوښتنه دا ده چې ولې د تير دولت شته ستونزو ته د حل لار پيدا نه شوه او ولې لاپسې نظام کړکېچن شو ؟

ځواب دا دی چې کډ حکومت لکه څرنګه چې له جوړېدو وړاندې يې شنونکو وړاندوينه کوله؛ يو بې تفاوته، په خپل منځ کې اخته او د ملت له غمه ناخبره حکومت دی. د کډ حکومت مشرانو چې د کمپاين پر محال کومې وعدې کولې نه يوازې دا چې عملي نه شوې بلکې د هغوی خلاف کارونه هم ترسره شول. د سهامي

شرکت د نه جوړولو وعدې کېدې چې اوس حکومت اووه ټوټې دی، د فساد د ختمیدو خبرې کیدې چې دا دی اوس هم په ادارتو کې اوج ته رسیدلی، د موازي ادارو د لمنځه وړل کېدو ویل کیدل چې دا دی اوس هم یو والي پاسیږي او د ولسمشر لخوا په ټاکل کیدونکي وزیر باندې نیوکه کوي او د قتل تور پرې لګوي، د یو میلون شغلونو د ایجاد ډنډورې غږیدې چې دا دی دوه نیم میلیون وګړي مو بېکاره شول، د اقتصاي پرمختګ ژمنې کیدلې چې دا دی خلک مو ماښام ته د خوراک لپاره څه نلري، د امنیت د ښه کیدو وعدې ورکول کیدې چې دا دی په پلازمینه کابل کې او آن په کورونو کې هم اوس ولس خوندي نه دی او دېته ورته په لسګونو نورې وعدې چې نه یوازې عملي نه شوې بلکه خلاف یې عمل وشو.

اصلا په دغو ټولو وعدو کې د پاتې راتګ لوی لامل د حکومت په راس کې د ښه رهبریت او مدیریت نه شتون یادولی شو. راځو دلته د یو مدیر او رهبر اړوند څو اړینو ټکو ته اشاره کوو، قضاوت تاسې وکړئ چې آیا د حکومت په راس کې مو مشران، وزیران، والیان او ریېسان ښه مدیران او رهبران دي او که یا؟

۱ـ رهبر باید په خپله تصمیم نیونه کې چټکتیا ولري
۲ـ رهبر باید زړور او مېړنی وي
۳ـ رهبر باید د کمال پالنې استعداد او روحیه ولري
۴ـ رهبر باید د بدلون لپاره لیوالتیا ولري
۵ـ رهبر باید په خپل رهبرۍ کې رښتنولي ولري
۶ـ رهبر باید ملاتړي ولري
۷ـ رهبر باید بدلون رامنځته کړي
۸ـ رهبر باید ښې نظریې د عمل په ډګر کې پلي کړي
۹ـ رهبر باید مسولیت پېژوندونکی واوسي
۱۰ـ رهبر باید له خلکو سره یو ځای واک ته وده ورکړي
۱۱ـ رهبر باید اوږدمهاله لیدلوری ولري
۱۲ـ رهبر باید د وخت او خپل فکر نه په مناسبه توګه ګټه پورته کړي
۱۳ـ مدیر باید هر اړخیز پلان جوړ کړي
۱۴ـ مدیر باید د وړتیاوو پر اساس ګمارنه وکړي
۱۵ـ مدیر باید په خپل تیم بشپړ کنټرول ولري
۱۶ـ مدیر باید خپل کاري تیم ښه رهبري کړلی شي
۱۷ـ مدیر باید خپلې کړنې او پلانونه په اړینه توګه تنظیم کړلی شي

تله یا میزان/ 1396

# مذهبي ایډیالوژي د پاکستان ستره آله

په افغانستان د شوروي له یرغله وړاندې پاکستان په افغانستان کې د مذهبي ډلو ټپلو په جوړولو پیل کړی و. له هماغه وخته یې پلان درلود چې په افغانستان کې د خپلو موخو د ترلاسه کولو او دلته د جګړې د اور د بل ساتلو په پار؛ له مذهبه د سپر او آلې په توګه کار اخلي. په هماغه وخت کې یې څرګنده وه چې د روس له راتګ وړاندې یې د افغان رهبرانو ذهنونه د شوروي په خلاف روزلي و. پایله یې دا وه چې د جهاد په نامه یې له روس سره د مقابلې لپاره د جنګي ډلو ملاتړ کاوه او رهبران یې د هغه لویې اشتباه مرتکبین کړل چې روس یې له افغانستانه وشاړه خو د پاکستان او نورو هېوادونو لپاره یې دلته د لاسوهنو لار پرانیستله. اوسمهال هم پاکستان دلته په افغانستان کې له مذهبي لیوالتیا او اسلام او مذهب ته د افغانانو له درناوي؛ د سترې آلې په توګه ګټه اخلي.

په همدې اړوند د پاکستان پخوانی سفیر حسین حقاني په خپل کتاب (Magnificent Delusions) کې وایي چې «دا ستراتیژي نوې نه ده بلکې په ۱۹۷۰ یمه لسیزه کې مخکې تر دې چې شوروي پوځ پر افغانستان یرغل وکړي، اسلام اباد په افغانستان کې د مذهبي ډلو په جوړولو پیل کړی و. پاکستان دا حقیقت درک کړی چې په افغانستان کې د مذهبي لېوالتیا د ترویج له لارې لاسبری کېدای شي او دلته د لاسوهنو له لارې خپل اهداف ترلاسه کولای شي«. پاکستان اوس پوه شوی چې د افغانستان ټول ولس، سیاسیون، لیکوالان، روشنفکران او ملتپالان دوی ته د شک په سترګه ګوري نو یوازې مذهبي ایډیالوژي د ځان لپاره غوره آله ویني او اوس په ډاګه شوې هم ده چې مذهبي ایډیالوژي پاکستان ته په افغانستان کې د نفوذ لار پرانیزي.

په افغانستان کې د نړۍ بېلابېل هېوادونه خپل اهداف لري او د دغه هدف د ترلاسه کولو لپاره هر ډول اسلامي، بشري او نړیوالو اصول تر شا پرېږدي. ډېری هېوادونه له قومي بې تفاقۍ ګټه پورته کوي، ځیني هېوادونه له کلتوري او عنعنوي دودونو استفاده کوي، او ځیني هېوادونه بیا له اسلام او مذهب نه د آلې په توګه کار اخلي چې له مذهبه د آلې په توګه د ګټې اخیستونکو هېوادونو په ډله کې پاکستان، ایران او عرب هېوادونه شامل دي.

د پاکستان پوځ د افغانستان په سرسخته دښمنانو کې راځي، همدغه پوځ او استخبارات دي چې له کلونو کلونو راهیسې یې دلته په افغانستان کې د جګړې اور بل ساتلی دی، د امریکایې لیکوال او ژورنالیست فرید

ذکريا په وينا چې پاکستان د نړۍ بې رحمو تروريستانو سره نژدې اړيکې پالي. د ځينو اټکلونو له مخې د دغه هېواد پوځ د هېواد د ټول عايد په سلو کې ۲۶ ماليه په ځان مصرفوي، حال دا چې د دغه هېواد پنځه نيم مليونه ماشومان ښوونځي نه لري. نو ترڅو چې د دغه پوځ او د هغه طرز فکر بدل شوی او اصلاح شوی نه وي، د امريکا متحد ايالتونه به، چې له سيمې ځواکونه باسي، له ستراتيژيکې ماتې سره مخامخ شي. پاکستانی پوځ او استخبارات کله له يوې لارې په افغانستان د فشار لپاره د آلې په توګه استفاده کوي او کله له بلې لارې. اوسمهال په دې وروستيو کې يې د افغان سولې پروسه د امتياز ترلاسه کولو په خاطر د آلې په توګه کارولې ده.

په لومړيو کې کله چې په افغانستان کې داشرف غني او عبدالله تر منځ ګډ حکومت جوړ شو نو افغان حکومت پاکستان ته ځان ډير نږدې کړ حتا تر دې چې په دغه پروسه کې دمرستې په خاطر يې ورته يو طرفه امتيازات هم ورکړل. خو په مقابل کې پاکستان؛ له تکراري پوچو ژمنو او دوه مخيتوب نه پرته بل هيڅ ورنکړل. کله چې د لومړي ځل لپاره وسله وال مخالفين له افغان دولت سره د مذاکرې ميز ته کېناستل او د سولې پروسې يو اندازه پرمختګ وکړ نو پاکستان ددغې پروسې د ډپ کولو لپاره د طالب مشر ملا عمر مړينه رابرسېره کړه او وسله وال يې په خپل منځ کې سره بې تفاقه کړل. په هغه مهال ګډ حکومت د کمزورې پاليسۍ له امله په دې ونه توانيد چې د وسله والو له دغه مخالفته ګټه واخلي او بلاخره د سولې خبره ورسره يو طرف ته کړي.

اوسمهال د افغان دولت او ولس تر څنګ نړۍ هم په دې پوهه ده چې پاکستان د ترهګرو روزونکی او ملاتړ کوونکو هېواد دی. په دغه هېواد کې د ترهګرو خوندي پناه ځايونه دي، د پاکستان د پوځ او استخباراتو له خوا ورته د ژوند ټولې اسانتياوې او امکانات برابرېږي خو تر څو چې د ترهګرو ځالې په پاکستان کې له منځه نه وي تللي نو طالب وسله وال به هيڅکله هم ونه ځپل شي څکه هيڅ بلوا ضد جګړه تر هغو نه شي بريالۍ کېدای چې ياغيان خوندي پناهځايونه ولري. لکه څنګه چې له وړاندې ويل کيږي چې د پاکستان پوځ په افغانستان کې بې شرمانه مداخله کوي نو بايد چې افغاني مشرانو او چارواکو يې لا له وړاندې مخه نيولای وای. اوس چه حالات د پخوا په پرتله ډير کړکيچن شوي نو افغان حکومت ته په کار ده چه د خپلو متحدينو او ستراتيژيکو دوستانو څخه وغواړي چې د پاکستان د پوځ پر وړاندې په کلکه ودريږي.

تله يا ميزان/ 1396

# مونږ پخپله کرم یو

د نظام دننه بهرني استخباراتو شتون لري، بهرنیان ددوی له لوري پېل شوې جګړې ته قومي او مذهبي رنګ ورکوي، هېواد مو په فساد کې لومړی مقام ترلاسه کړ، افغانستان د مخدره توکو د کښت او قاچاق کوونکو هېوادونو په سر کې ځای لري، امنیتي حالات ورځ تر بلې ترینګلي کیږي، نړیوال راسره مرسته نه کوي، پاکستان د افغان سولې ستر دښمن دی، د ایران تر کلتوري یرغل لاندې یو او ...

دا ټولې هغه ستونزې او خبرې دي چې له کلونو کلونو راهیسې د هر افغان چارواکي، سیاسیون، حزبونه، مدني ټولنې، لیکوالان، ژورنالیستان، قومي مشران او د هر جهادي رهبر په خوله په تکرار تکرار زمزمه کیږي. هر څوک او هر بنسټ د خپل ځان او یا حزب د مطرح کولو او یاهم د مقام او څوکۍ د ترلاسه کولو په خاطر یې زمزمه کوي. هیڅ هم حقیقت ونه وایه او د ستونزې اساسي حل یې راونه ویست. ټول هوایي خبرې کوي. که د مسالې ژورو ته ښکته شو او په حقیقت سترګې پټې نه کړو نو هغه ترخه واقعیتونه به رابرسیره شي چې هیڅ یې د ویلو هڅه نه ده کړې.

دلته د بهرنیانو جاسوسان څوک دي؟ د بهرنیانو له لوري پېل شوې جګړې ته څوک قومي او مذهبي رنګ ورکوي؟ هېواد مو د چا دلاسه په فساد کې لومړی مقام وګاټه؟ ولې مو هېواد کې ورځ تر بلې د مخدره توکو کښت او قاچاق پراختیا پیدا کوي؟ د امنیتي حالاتو د ترینګلتیا تر شا د چا لاسونه دي؟ ولې له نړیوالو څخه سمه ګټه نشو اخیستلای، پاکستان ته د افغان سولې په پروسه کې دلاسوهنې او ایران ته د کلتوري یرغل کولو فرصت چا برابر کړی دی؟ او ...

پوښتنې ډیرې خو ځواب یې یو دی، همدا مونږ یو چې ددومره لویو بدبختیو عاملین یو، همدا مونږ یو چې پردیو ته د موخو د ترلاسه کولو لپاره آلې ګرځېدلي یو، همدا مونږ یو چې د یو څو روپو او یا هم د مقام او منزلت لپاره د نورو جاسوسي کوو، همدا زمونږ چارواکي دي چې له بهرنیو مافیایې کړیو سره لار لري او د نظام د فاسدیدو سبب شوي دي او همدا زمونږ د مشرانو اختلاف دی چې پاکستان، ایران او نورو هېوادونو ته مو د خپل حکومت په چارو کې د لاسوهنې فرصت ورکړی دی. د ملي مسایلو اړوند همدا زمونږه بې

تفاوتي ده چې د نظام غل او مل نه پیژنو، که چیري ولسمشر یا کوم بل اړوند چارواکی د کورنیو غلو او جاسوسانو د نیولو یا افشا کولو پریکړه وکړي نو پخپله غله او جاسوس چارواکي او ملکري یې هم ناري کړي چې د نظام په دننه کې غله او د نورو استخباراتو جاسوسان شتون لري، دلته ده چې زموږ ستونزه په بنستیزه توګه نه حلیږي؛ علت یې همدا دی چې غل هم وایې خدای یو دی او مل هم وایې خدای یو دی. په دې اړوند د پخوانیو مشرانو یو حکایت ته ورځو.

په پخوانیو وختونو کې په یوه کلي کې ډیر غله اوسېدل، هره ورځ به د یو کلیوال کور غلا کېده، بلآخره یوه ورځ کلیوال راټول شول او پرېکړه یې وکړه چې د کلي غله معلوم کړي؛ سزا ورکړي او له کلي یې وشړي، څکه د دوی د کلي انځور او حیثیت یې په نورو کلیو کې له خاورو سره خاورې کړی و. غله له دې پرېکړې خبر شول چې سبا زموږ پر ضد کلیوال عملیات پیلوي او غواړي له موږ څخه کلی وزګار کړي.

که څه هم دوی په خپلو منځونو کې رقابتونه لرل خو په بیړه یې غونډه وکړه او تصمیم یې ونیولو چې سبا سهار به مخکې له دې چې کلیوال له کورونو راوځي موږ به په کلي نارې وهو چې راځئ غله شړو. سبا سهار کله چې کلیوال له خوبونو را وېښېدل دوی سوټي په لاس د کلي منځ کې ولاړ ول او نارې یې وهلې چې کلیوالو نن به چېرې نه ځئ؛ څکه نن غله له کلي شړو، دوی زموږ د کلي حیثیت در په در کړی دی.

کلیوال حیران شول او نه پوهېدل چې اوس به څه کوي؟

همدغه شان زموږ لویه ستونزه هم همدا ده چې د خپل د کور غله مو ونه پیژندل، د جاسوسانو په پیژندلو کې پاتې راغلو، له نړیوالو مو لازمې مرستې ترلاسه نه کړای شوې، د فساد مخنیوی مو ونشو کړای او په لوی لاس مو د دښمن په ژرنده اوبه پرېښې دي.

اوس پوښتنه دا ده چې موږ ته څه کول پکار دي چې د دې ډول کسانو لاره ونیسو؟

پرته له شکه چې لومړی کار خپل منځي اختلافات له منځه وړل او په یو بل باندې باور کول دي ، دویم قدم کې د ناپوهۍ او جهالت پر ضد اقدام کول دي، په دریم قدم کې له خپل حکومت سره د مرستې لاس ورکول دي. او له دې وروسته باید د دښمن کریوان ونیسو.

تله یا میزان/ 1396

# ناروغه ډیپلوماسي او ګوډ مات ډیپلوماتان

هغه تېره ورځ مې امریکا ګېر اشنا تلویزیون کتلو چې د افغانستان تکړه، خوږ ژبې، پوهه، مسلکي او تجربه لرونکې ویاندې مېرمن لینا روزبه حیدري خبرونه ویل او د باراک اوباما د وروستي پرېکړې اړوند چې امریکا غواړي له ۲۰۱۶ کال وروسته هم په افغانستان کې ۵۵۰۰ امریکایې سرتېري پرېږدي؛ پر همدغه موضوع یې په امریکا کې د افغانستان سفیر ښاغلی حمدالله محب مېلمه کړی و. ما اصلا دا ځوان له پخوا، نه پېژانده او د زړه او کارونو اړوند مې کافي معلومات نه درلودل خو په ذهن کې مې دا و چې حتما کله چې د نړۍ دویم متفکر څوک په دنده ګماري او هغه هم د سفارت په کچه نو دا به د ورتیاوو، پوهې، تجربې، جرات، شهرت او محبوبیت، علمي اثارو او تخصص یو نمونه شخص وي؛ خو کله چې ژورنالیستې مېرمن روزبه خپلې پوښتنې مطرح کړې؛ نو دغه په داسې رڼم ځواب ویلو پیل وکړ چې زما توجه یې نوره هم ځانته راجلب کړه، ځوان د ژورنالیستې پوښتنو ته داسې ځوابونه ویل:

لمړۍ پوښتنه: شما در حالی وظیفه ای خود را در سفارت افغانستان در امریکا آغاز می کنید که افغانستان و امریکا در یکی از اساس ترین سالیان تصمیم گیری در قبال تعهد این کشور به سمت افغان ها قراردارند شما این تصمیم امریکا را چگونه ارزیابی می کنید ؟

د سفیر ځواب: اول خو تشکر از ایکه ماره دعوت کردین سلام به بیننده گای تلویزیون شما و به همکاران تان دوم ای به پاسخ جواب شما سوال شما بلی افغانستان شما طوریکه در جریان هستین تصمیم ره استقبال کرده ای تصمیی نبود که تنا امریکا اعلان کرد تصمیی بود که باد از ارزیابی دقیق که طرفی هر دو طرف هر دو جانب انجام دادند باد از او یک تصمیم گرفته شده نو به او اساس تصمیم را استقبلال می کنیم وفکر می کنیم که تا تا آخر تا سال 2016 یک کمک جدی بری افغانستان میشه و یک همکاری بسیار خوب هسته.

دویمه پوښتنه : ایا ما میتوانیم که تشدید اوضاع امنیتی در افغانستان و حملات طالبان را مرتبط به تعین این ضرب العجل بدانیم ؟

د سفیر ځواب : خوب شما میدانین که یک مملکتی دموکراتیک است امریکا ام یک مملکت دموکراتیک است ای حکومت شان وقتی زمانی رییس جمهور به ختم می ایه می رسه و یک رییس جمهور نو میایه ای تصمیم که گرفته شده به اساسی گفتم که نیازمندای فعلی را در نظر گرفته و ما امید داریم که تا او وخت نیروهای امنیتی همو خلا های که فعلآ داریم او رم پوره کده باشیم و یک ضرورت از ای نباشه که باز ما به وجو ای چیزی شانه تمدید کنیم.

درېیمه پوښتنه : شما آینده پروسه صلح افغانستان و نقش که امریکا میتواند در او ایفا کند چگونه می بینید ؟
د سفیر ځواب : خوب پروسه صلح یک هم خواهش مردم افغانستان است و یک نیازی بر افغانستان است و دولت افغانستان همیشه دروازی خود را به پروسه صلح باز نگاه کده و یک بسیار یک کوشش جدی هم انجام دادند همی سال اول خود شما شایدی از ای کوشش دولت افغانستان هستین پروسه صلح و بری فعلآ جنگ سری افغانستان تحمیل شده و ای جنگ ضرورت از ای ره جواب جنگ به جنگ داده میشه معنطا باز هم ما امید وار هستیم که پروسه صلح پیش بره .
د سفیر ددغو لمړنیو ځوابونو په اوریدو نور مې نو حوصله تنگه شوه او ژړا راغله، نږدې و چې زړه مې وچوي نو د فکر بدلو په موخه مې چینل بدل کړ. له ځانه سره مې ویل چې په لسکونو ډاکټرانو د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو متخصصین چې هر یو یې په لسکونه علمي آثار لري، په سلګونو ماسټرانو کې چې هر یو یې په لسګونو کاله تجربه لري او په زرګونو لسانسه کسانو کې چې هر یو یې په نړیوالو حقوقو او قوینینو بلد کسان دي؛ نو آیا بناغلي متفکر صیب په ټول افغانستان کې همدا یو کس پیدا کړ؟ متأسف یم؛ زه د نړیوالو اړیکو د ماسټرۍ کچې محصل یم او خپل ځان ته دا حق ورکوم چې ووایم؛ ما ستاسو په دغه سفیر کې هیڅ داسې معیار، ځانګړنه او هنر پیدا نکړ، چې باید یو فعال سفیر او ډیپلومات یې ولري.
ما په خپل مسلک کې په لسګونو علمي او څېړنیزې مقالې لیکلي (نړیوالې اړیکې) او په خپل مسلک کې مې په سلګونو کتابونه مطالعه کړي، همداراز د ډیپلوماسۍ په الفبأ ښه پوهیږم او په نړیوالو حقوقو او قوانینو مې هم سر خلاص دی؛ دا خبره په دې خاطر کوم چې هر څوک که په چا نقد او نیوکه کوي؛ نو پخپله هم باید په یو څه پوه واوسي او یا یې مسلک او تخصص وي.
ډیر په خواشینۍ سره باید ووایم ستاسې دغه سفیر په دغه مرکه کې اصلاً د ډیپلومات په څېر یې د خبرو کولو ورتیا نه درلوده، اصلاً د ا فغانستان په رسمي ژبې (دري) بلد نه و حال دا چې په لوړو سیاسي پوستونو کې یو افغان د افغانستان په دواړو رسمي ژبو (پښتو او دري) باید لیکل او لوستل وکولای شي، اصلاً کافي تاریخي ستراتیژیک معلومات یې پر ټاکلې موضوع نه درلودل؛ نور اړین علمي ډیپلوماتیک اصول او قوانین خو پر ځای پریږده.
د ډیپلوماسي د بهرني سیاست د اداره کولو یو فن دی، ډیپلوماسي د نړیوالو اړیکو تنظیمول دي، ډیپلوماسي په سالمه بڼه د نړیوالو اختلافاتو حل و فصل کول دي، ډیپلوماسي په بهرني سیاست کې د ملي ګټو ترلاسه کولو او خوندي ساتلو مهم اصل دی؛ چې دا کار یو تکړه، پیاوړی، متخصص، جرأت لرونکی او تجربه لرونکی

ډیپلومات د یوې روښانه، فعالې او پیاوړې په وسیله کولی شي؛ نو زمونږ داسې سفیران او داسې ماته ګوډه ډیپلوماسي.
په بهرني سیاست کې د ملي ګټو خوندي کول او د ملي موخو د ترلاسه کولو لپاره باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:
۱ـ سلسله مراتبو سمه پېژندنه؛ چې زمونږ ملي موخې او ګټې څه دي
۲ـ د خپل او نورو ملي قدرت او امکاناتو نه خبرداری
۳ـ د شرایطو او نړیوالو اړتیاوو سمه پېژندنه
۴ـ په نړیوال نظام کې د نورو لوبغاړو د چلند درسته او سمه څېړنه
۵ـ په نورو د خپلو غوښتنو د منلو لپاره د واک، ځانګړې وړتیا او کافي مهارت درلودل
۶ـ د نړیوال نظام پېژندنه
۷ـ په خبرو اترو کې واکمن چلند او دریځ
۸ـ له ورځینو پېښو او روانو بدلونو سمه او پر ځای تحلیل او څېړنه
۹ـ د ډیپلوماسی په بیلابیلو کچو کې د همغږۍ درلودل
۱۰ـ د بهرني سیاست په پلي کولو کې د مناسبو تاکتیکونو نه ګټه اخیستنه
چې دا پورته یاد شوي موارد او کارونه بیا هم یو پیاوړی، تکړه، متخصص، جرأت لرونکی، تجربه لرونکی ډیپلومات او پیاوړې، روښانه او فعاله ډیپلوماسي کولی شي؛ نه ستاسې داسې سفیر او دا ډیپلوماسي.
اړین او ارزښت لرونکی عامل د ملي قدرت یا واک په بهرني سیاست کې د ډیپلوماسی کیفیت دی، د یو دولت د ډیپلوماسی کیفیت نور هغه ټول بیلابیل عوامل لکه ملي روحیه، جغرافیه، صنعتي وړتیا، تکنالوژي، رهبري او خام مواد د یوې مجموعې په توګه ترکیب یا ګډوي او هغې ته وزن ورکوي.
په ټوله کې ډیپلوماسي څلور اړینې دندې لري:
لومړی: ډیپلوماسي باید خپل ملي قدرت او واک ته په کتو خپلې موخې وټاکي
دویم: ډیپلوماسي باید د نورو دولتونو موخې هم په نظر کې ونیسي
دریم: ډیپلوماسي باید وټاکي چې دا بیلابیلې موخې تر کوم ځایه او اندازې له یو بل سره جوړښت لري
څلورم: ډیپلوماسي باید مناسبې لارې چارې ولټوي څو خپلې موخې ترلاسه کړي.

اوس به په علمي او ا صولي بنه د يو ډيپلومات ځانګړنو ته:

- يو ډيپلومات بايد د خپل هيواد د کتو، موخو، او ملي واک په اړه ژور او سم درک ولري
- يو مسلکي ډيپلومات بايد په نړيوال نظام کې د نورو لوبغاړو له کتو، موخو، وړتياوو څخه بشپړه پژندګلوي
- يو مسلکي ډيپلومات بايد له ارتباطي او استدلالي عقل نه برخمن وي
- يو مسلکي ډيپلومات بايد ستراتيژيک تفکر ولري
- يو مسلکي ډيپلومات بايد په بهرني سياست کې ليکل شوې منظمه طرحه او برنامه ولري
- يو مسلکي ډيپلومات بايد د بحران د مديرت وړتيا ولري
- يو مسلکي ډيپلومات بايد په ملي او نړيواله کچه باور وړ وي
- يو مسلکي ډيپلومات بايد متخصص وي او سياسي پوهه او درک ولري
- يو مسلکي ډيپلومات بايد پراخ سياسي ليدلوری ولري
- يو مسلکي ډيپلومات بايد د خپل هيواد له تاريخ په ځانګړي توګه په سياسي اړيکو کې معلومات ولري
- يو مسلکي ډيپلومات بايد له نړيوالو حقونو او قوانينو خبر وي
- يو مسلکي ډيپلومات بايد د بهرنيو ژبو تر څنګ د خپل هيواد په رسمي ژبو پوره برلاسي ولري
- يو مسلکي ډيپلومات بايد يو پياوړی ويناوال او وياند واوسي

بيا هم دا پورته ځانګړنې يو فعال، پياوړی، متخصص، جرأت لرونکی او تجربه لرونکی ډيپلومات لري نه ستاسې داسې سفيران

يا ربه په مونږ افغانانو ورحمېږه او د قحط الرجالی نه مو وساته

تله يا ميزان/ 1396

# ولسمشر څه وايي؟

کډ حکومت هم عجیبه جوړښت لري، کارونه او څرګندونې يې هم عجيبه دي، تېره ورځ د کډ حکومت مشر غني سيمه ييزو چارواکو ته امر کړی، هغه څوک چې په دندو کې غفلت کوي او يا هم صادقانه کار نه کوي، ډېر ژر دې يې ګوښه کړي. غني د ارګ د توحيد له ملي مرکزه د ويډيو کنفرانس له لارې د کندهار، زابل، اروزګان او دايکنډي ولايتونو له واليانو، امنيه قوماندانانو، د امنيت له ريیسانو او د ۲۰۵ اتل قول اردو له قوماندان سره د حکومتولۍ او امنيتي وضعيت په هکله خبرې وکړې.

دلته خلکو ته پوښتنې پيدا کيږي چې آيا ولسمشر په خپل واک او خپله خوښه تر اوسه کوم غافل چارواکی له دندې ګوښه کړی دی؟ آيا په کډ حکومت کې غافل چارواکي نشته او که ولسمشر دا غافل چارواکي نه ويني؟

که ولسمشر غني په دندو کې د غفلت او د خلکو ستونزو ته د نه رسيدنې په صورت کې د بې کفايته چارواکو له دندې ګوښه کول غواړي نو لمړی خو بايد له خپل ځانه او د حکومت له شريکانو نه شروع وکړي. د کډ حکومت مشران بايد لمړی په خپله خپل ولس ته ځواب ووايي. ولسمشر سره د خپل ټيم او اجرايوي رييس سره د خپل ټيم بايد د هېواد روان وضعيت او د خپلو کړو ژمنو اړوند د ولس پوښتنو او اندېښنو ته ځواب ورکړي. بيا دې خپل له ختيځ او لويديځ هغو راغلو وزيرانو نه پوښتنه وکړي چې د هېواد له اساسي قانونه نه دي خبر، د هېواد په ملي ژبو ليک، لوست او خبرې نشي کولای، د خپل هېواد جغرافيا ورته نه ده معلومه حتا که لټون وشي؛ داسې وزيران به هم وموندل شي چې د هېواد په څلور خواوو نه پوهيږي.

د وزارت په سطحه داسې وزيران هم لرو چې په پښتو او دري ژبه نه پوهيږي او کله چې مکتوب ورته راوړل کيږي نو ژباړونکی يې لمړی ورته په انګليسي ژباړي. د کډ حکومت مشران په ځانګړي ډول غني دې لمړي دغه وزيران اصلاح کړي. له دې هاخوا دې خپلو بې شميره تش په نامه مشاورينو ته هم سر ورښکاره کړي، لې دې ددوی کارونه هم وڅاري او ودې ګوري چې په کومو چارو بوخت دي؟

بيا دې د ولايتونو په سطحه چارواکو کې د اصلاح لپاره چاڼ وکړي. همدا اوس هم په ولايتونو کې د بې کفايته واليانو، ريسانو، امنيه قوماندانانو او نورو چارواکو شتون د دې لامل شوی دی چې له يوې خوا په سيمه ييزو ادارو کې کار پڅ شي او له بلخوا جرمونه او حتا ناامنۍ په ولايتونو کې زياتې شي. خلک خپلې ستونزې د ولسوالانو او واليانو له لارې لوړپوړو چارواکو ته رسوي، وزيران خو څوک په دوربين هم نشي

لیدلای، نو کله چې والیان بې کفایته وي، دخلکو غږ نه اوري او دغه سیستم فلج وي؛ خلک له ستونزو سره مخامخ کېږي او نو همدا ده چې پر حکومت د خلکو باور کمېږي او حکومت خلکو ته رسېدنه نه شي کولای.

د کډ حکومت چارواکي په څلورو کټه کوریو وېشل شویدي:

۱ـهغه چارواکي، چې خوله یې هم پخه وي او کارونه یې هم پخ دي

۲ـ هغه چارواکي، چې خوله یې تېزه وي او کارونه یې پخ وي

۳ـ هغه چارواکي، چې کار یې تېز وي، خو خوله یې پخه وي

۴ـ هغه چارواکي، چې هم یې کار تېز وي او هم یې خوله تېزه وي

په خپله ولسمشر او اجرایوي ریس په دویمه کټه کورۍ کې راځي. دا یو تریخ حقیقت دی چې په کډ حکومت کې د وروستیو دوو هغو شتون ډېر کم تر سترګو کیږي، زمونږ چارواکي ډیری یې په هغه دوه لومړنیو کټه کوریو کې راځي یا یې خوله او کارونه دواړه پخ دي او په نشت حساب دي او یا هم خوله یې تیزه وي خو د عمل په ډګر کې یې د کار درک نه لګیږي. د ولسمشر او اجرایوي مشر په کډون د کډ حکومت ډېری چارواکي له اساسي کارونو لرې ګرځي او ځانونه یې په لباسي، نمایشي او بېځې ورو کارونو کې بوخت ساتلي دي، کوم څه چې اړین دی؛ هغه یې له هیره ویستلي دي.

د کډ حکومت چارواکي باید دې ته پاملرنه وکړي چې په تېره نږدې یوه نیمه لسیزه کې په افغانستان کې د فساد شتون د هغه کرغېړن پیغور بنه درلوده چې ټول افغانان په ګرده نړۍ کې پرې شرمېدل، د مخدره توکو کښت، تولید او قاچاق مو د هېواد په لمن بل تور داغ و، همداشان په کور دننه اوس هم ډیرې ستونزې لرو چې باید ورته رسیدنه وشي. اوس که بیا هم د حکومت مشرانو، وزیرانو، والیانو، امنیه قوماندانو او ریسانو په سطحه بې کفایته او لټ چارواکي لرو نو دا به د ولس او هېواد په وړاندې نه بښل کېدونکی جرم وي چې په یقین سره حکومت مشران به یې د ځواب ورکولو توان ونلري. د ولسمشر وروستی اقدام ولس په نیک فال نیسي خو کاش چې عملي شي.

تله یا میزان/ 1396

# افغان امنيتي ځواکونه څوک سياسي کوي؟

افغان حکومت او ولس په داسې حال کې چې له پاکستان سره په يو نااعلان شوې جګړه کې ښکيل دی؛ او تر څنګ يې ځينو ايران پلوه او پاکستان پلوه ښېرو مو آن د نظام په رګ رګ کې ځای نيولی دی، ولسمشر غني له ټولو کړيو څخه له امنيتي ځواکونو د ملاتړ کولو د غوښتنې ترڅنګ ويل، چې زموږ امنيتي او دفاعي ځواکونه بايد افغان شموله، غير سياسي او غير حزبي وي. ولسمشر د معمول سره سم لکه د ټاکنيز کمپاين د غونډې؛ تش شعارونه وويل خو د هيڅ داسې بنسټ او يا شخص نوم يې ياد نکړ چې امنيتي ځواکونه سياسي کوي. د ولس په زړونو کې بيلابيلې پوښتنې پيدا شوې چې دا امنيتي ځواکونه به څوک سياسي کوي، دا به څوک د خپلو ګټو په خاطر په سمتي، قومي او ګوندي اړخونو ويشي او بلاخره ددغه احتمالي ستر بحران عاملان څوک دي؟

خو ولس د شلو وزيرانو عقل او پوهه لري، ولس په هر څه ډېر ښه پوهيږي چې څوک څه وايي، د څه لپاره يې وايي او ولې يې وايي؟ ولس د خپلو امنيتي ځواکونو د سياسي کېدو عاملان ډېر ښه پېژني.

تاسې وګورئ دا هره ورځ راپورونه خپريږي چې دومره سوه سرتيري شهيدان او تسليم شول. فلانی ولسوالي د مخالفينو لاس ته ولوېده، هغه ولايت له سقوط سره مخ دی، دومره شمېر امنيتي ځواکونه له وسله والو سره يو ځای شول، او په فلاني ولسوالی کې په فلانی پوسته کې امنيتي ځواکونه هيڅ وسله او خوراکي توکي نلري. که ريښتيا ووايو او په حقيقت سترګې پټې نه کړو دغه راز څرګندونې د دې پر ځای چې هيواد وژغوري؛ په لوی لاس د امنيي ځواکونو مورال کمزوری او دښمن برلاسی کوي.

همدا اوس هم له هلمند، هرات، فارياب او نور ولايتونو څخه د ولسواليو د سقوط خبرونه اوريدل کيږي. د خدای لپاره که په خپله نه پوهيږئ له نړيوالو يې زده کړئ، د نړۍ هر دولت د درې ګونو قواوو تر څنګ څلورمه قوه رسنۍ هم لري، دا څلور ګونې قوواوې هيڅلکه خپلو ملي ګټو ته په زيان نه وي، ټول په يوه خوله او د يو چتر لاندې د يوې موخې (د هيواد ابادۍ او پرمختګ) لپاره کار کوي، د هيواد د ټولو ملي شتمنيو او ځمکنۍ بشپړتيا لپاره دا څلور سره قوواوې د ولس په ګډون په يوه خوله او ژبه وي. خو افسوس زمونږ په دولتي او حکومتي نظام، افسوس زمونږ په حکومت مشرانو، افسوس زمونږ په وزيرانو، معينانو، رييسانو، واليانو او پارلمانيانو.

افسوس دی ددوی په حال؛ ډېره د افسوس خبره ده چې هر یو یې د خپلو شخصي، ګوندي، سمتي او قومي ګټو لپاره نارې سورې وهي، ولس او خپلې ملي ګټې یې هیرې کړي دي، ملي شتمنی او ځمکنی بشپړتیا ورته هیڅ ښکاري او په لوی لاس یې ځانونه د دښمن د تېرکې لاستي جوړ کړي دي. دغه ویده وکیلان هره ورځ په تالار کې چې د رسنیو له لوري یې ژوندی ښېږ خپرېږي؛ وایي چې هله فلاني ولایت سقوط وکړ، هله فلانی ولسوالی د افغان ځواکونو له کنټروله ووته، هله په فلاني ولسوالی کې د فلانی پوستې دومره شمېر سرتېري وږي تږي بې له کومې درنې وسلې یوازې د دومره مرمیو سره پراته دي، هله دا دي او هله هغه دي.

نو دا خو په لوی لاس د وسله والو استازیتوب کول شول، په لوی لاس د دښمن مورال قول کوي او د امنیتي ځواکونو مورال له منځه وړل دي. ځینې ترهګرې رسنۍ هم بیا د فرصت په انتظار ناستې وي او چې وکیل له پارلمانه ووځي سمدستي د یوې رسنۍ په پرده ښکاره شي او بیا هم د وسله والو مخالیفینو ویندویي شروع کړي. زمونږ امنیتي ځواکونه چې په نشت تجهیز او اندکو امکاناتو د خپل هیواد او ولس ساتنه کوي؛ د همدغو بې کفایته چارواکو، وزیرانو، پارلمانیانو او تش په نامه سیاسیونو او مدني فعالانو لخوا د سیاسي کیدو کندې ته روان دي.

زمونږ امنیتي او دفاعي ځواکونه د هېواد د ثبات او استقرار اساسي بنستونه دي، د هغو پښو پر وړاندې چې هره ورځ هېواد ورسره مخامخ دی، د ولس لپاره د تکیې او د سپر حیثیت لري. که ددغه پارلمانیانو، سیاسیونو او تش په نوم د مدني فعالانو مخنیوی ونشي، که امنیتي ځواکونه چاڼ نشي او د سیاسي کیدو، قومي کیدو او سمتي کیدو مخنیوی یې ونشي؛ نو خدای مکړه په هېواد کې بیا هماغسې د ۱۳۷۰ کلونو ورځې راشي، هیواد به کنډواله شي، ملي شتمنی به لوټ شي، د نفاق اور به مو ډېری هیوادوال د غم او بدبینۍ په په تغر کینوي، دفترونه او وسلې به مو کباړ شي او خلک به مو در په در شي.

لړم یا عقرب/ 1396

# افغان دولت هند ته څومره اړتیا لري؟

# د کابل ـ ډهلي او کابل ـ اسلام اباد اړیکې

په داسې حال کې چې افغان حکومت د پاکستان له دوه کوني سیاست نا هیلی شوی؛ اوس له تروریزم سره په سیمه ییزه مبارزه کې د پاکستان سیال هیواد (هند) طرف مخه کوي. تېره ورځ د افغانستان د ملي امنیت شورا مشر حنیف اتمر په هېواد کې له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې د هندي چارواکو سره د خبرو په موخه دغه هیواد ته ولاړ. ویل کیږي چې د افغان هوایي ځواکونو لپاره د مرستې جلبول به د افغان او هندي چارواکو په خبرو کې شامل وي. پخواني ولسمشر حامد کرزي له هند سره یو امنیتي تړون لاسلیک کړی و چې له مخې یې باید هند؛ افغان پوځیان تجهیز کړي وای؛ خو د کډ حکومت مشرانو وروسته له هغه چې له اسلام اباد سره یې د بې کټو او تکراري اړیکو د یارانې تار وغځاوه ؛ د دغه تړون عملي کېدل یې هېر شول. د کډ حکومت مشر اشرف غني واک ته له رسېدو وروسته خپل لومړی سفر پاکستان ته وکړ او د هند په پرتله یې پاکستان سره اړیکې ډېرې خوږې کړې، چې دا کار یې د هند د ناخوښۍ لامل شو. له بده مرغه کډ حکومت د پاکستان او هند تر منځ د اړیکو په ساتلو کې توازن نه دی ساتلی او له همدې امله هند د اشرف غني له کړنو ناخوښه ښکاري.

راځئ دلته په څو ټکو کې د کابل ـ ډهلي او کابل ـ اسلام اباد اړیکې پرتله کړو

۱ـ هند که څه هم د تېرو حکومتونو په پالیسیو کې له پاکستانه وروسته ځای درلودلی دی خو هر وخت د افغانستان دوست پاتې شوی لاکن په مقابل کې یې پاکستان د افغان دولت د سیاست په سر کې ځای درلودلی او ورته بیلابیل یو طرفه امیازات ورکړ شوي دي خو پاکستان د دوست او کاونډي په څېره کې هغه دښمن ثابت شوی چې تر ننه یې افغان دولت او ولس له شره په امان کې نه دی.

۲ـ هند د افغانستان په اقتصادي پیاوړتیا کې خپلې او د افغان ولس ګټې پاللې دي خو پاکستان بیا د افغانستان په ورانی، بربادۍ، جنګ، ورور وژنې، بې تفاقۍ، بې تعلیمۍ او دلته د جګړې د اور په تود ساتلو کې خپل ګټې ترلاسه کړې دي.

۳ـ هند په تېر کې له افغان دولت سره د پوهنې، ټرانسپورټ، برېښنا، تحصیلي بورسونو، د سړکونو پخولو، د پارلمان د ودانۍ جوړولو، د خوراکي موادو، ژمنیو مرستو او په ځینو نورو برخو کې مرستې کړیدي خو

پاکستان مو بیا سړکونه، پلچکونه، ښوونځي، کلینیکونه، دولتي تاسیسات او زیربنایي پروژې د خپلو داخلي لاسپوڅو په لاس تخریب کړي دي.

اوس د هیواد وروستیو حالاتو او د کابل او اسلام اباد وروستیو اړیکو ته په کتو؛ که څه هم هند ته د افغانستان د ملي امنیت شورا مشر حنیف اتمر سفر؛ په سیمه کې د تروریزم د ځپلو په موخه ؛ په پاکستان د سیاسي فشار لپاره دی؛ خو په ټوله کې ویلای شو چې دا کار به په سیمه کې د تروریستانو د پټنځایونو په له منځه وړلو کې اغیزمن واقع شي.

پوښتنه دا ده چې په اوس وخت کې؛ د کابل ــ ډهلي او کابل ــ اسلام اباد اړیکو کې افغانستان کوم یو ته ډیره اړتیا لري؟

لمړی : که ټېرو څوارلسو کلونو ته وکتل شي؛ په ډاګه کیږي چې افغان دولت تر ډیره پاکستان ته یو طرفه امتیازات ورکړي دي خو پاکستان یې په مقابل کې خپلې تکراري ژمنې او له دوه مخې پرته بل څه نه دي ورکړي.

دویم : اوس محال پاکستان په خپله په سیاسي انزوا کې د راګیر کیدو په حال کې دی او بل لور ته نړی هم د څو قطبي کیدو په لور روانه ده نو پاکستان ډار لري چې نور به د تروریزم سره د مبارزې په نامه له امریکا هیڅ مرسته ترلاسه نه کړي.

دریم : دلته په هیواد کې هم دننه د پاکستان لاسپوڅي او کوډاګیان هم په څو ډلو ویشل شویدي چې ځینې یې د هند، ځینې د چین او ځینې یې روسیې په غیږه کې ځانونه اچولي دي او ددوې کوډاګیتوب یې شروع کړی دی.

څلورم : هند خپلې کتې د افغانستان په اقتصادي پیاوړتیا کې وینې اما پاکستان یې په جګړه او نظامي برخه کې.

پنځم : هند د پاکستان په څېر د نورو لویو قدرتونو کوډاګی نه دی بلکه په سیمه کې د یو قدرت په حیث راڅرګندیدونکی دی او کولی شي چې افغانستان ته کټور تمام شي.

نو د پورته پرتلې څخه دا پایله لاسته راځي چې افغان دولت باید د سیالو هیوادونو په ځانګړي ډول د هند او پاکستان تر منځ په اړیکو کې انډول په نظر کې ونیسي او تر ټولو غوره به دا وي چې د پاکستان په پرتله په هند تمر کز زیات کړي.

لړم یا عقرب/ 1396

# پاکستان ترهګر له منځه نه وړي بلکې امتياز پرې اخلي

افغان حکومت تل د سولې په تړاو خپلې دروازې پرانيستي دي؛ او د افغانستان په کورنيو چارو کې يې په لاسوهنو تورن هيواد پاکستان څخه تل غوښتنه کړې چې په خپله خاروه کې د حقاني شبکې او طالبانو په کډون ټولې هغه ډلې وځپي چې دلته جګړه جاري ساتې او له هغه ځايه د افغانستان پر ضد د جهاد فتواوې صادروي. خو دغه د ترهګرو ځالې (پاکستان) تل نه يوازې دا چې د افغان لوري غوښتنو ته پاملرنه نه ده کړې بلکې په دغه هيواد کې د روانو ناامنيو پړه يې هم په افغانستان اچولې ده. اوس اوس په دې ورستيو کې د پاکستان صدراعظم نوازشريف، چې امريکا ته په درې ورځني سفر تللی، وايي؛ افغان ولسمشر غني ته يې ويلي چې پاکستان د افغانانو ترمنځ د سولې د خبرو تنظيمولو ته تيار دی خو داسې نه شي کولی چې هم طالبان خبرو ته حاضر کړي او هم ورڅخه د هغو د وژلو غوښتنه وشي. د ده دغه اشاره د امريکا او افغانستان د حکومتونو دې غوښتنې ته ده چې په خپله خاوره کې طالبان وځپي او پناهځايونه يې له منځه يوسي.

دا لمړی ځل ندی چې پاکستان د افغان دولت تر څنګ له نړيوالو سره هم سپين سترګي کوي او په رڼا ورځ يې سترګو ته شکې شيندي؛ بلکې وړاندې يې هم بيلابيلو چارواکو ورته څرګندونې کړې دي. پاکستان په ښکاره هم افغان دولت او هم نړيوالو ته هر څه ارام او نورمال ښکاره کوي؛ په خبرو او ژمنو کې کمی نه لېدل کېږي، خو د دې غولونکې ارامتيا شا ته ، دغه مکار هيواد د افغانستان په وړاندې له توطيو ډېولی، د ترهګرو د بيلابيلو ډلو او دلته د افغان لاسپوڅو او دوی ته وفاداره څېرو په مرسته، نااعلان شوې او ثباتي جګړه مخته وړې ده. دغه دوه مخې او د ترهګرو روزونکی هيواد له ترهګرو سره د مبارزې په نوم له نړيوالو ډېرې مرسته او پيسې تر لاسه کړي دي، خو په مقابل کې يې په همدغو پيسو ترهګر روزلي او دلته يې د جګړې د کرملو لپاره استولي دي.

پاکستان تل په سيمه کې جګړه ګرمه ساتلې او نه يوازې دا چې پړه يې منلې نه ده بلکې تورونه يې په افغانستان او خپل سيال هيواد هندوستان اچولې ده، همدا تيره ورځ د پاکستان پوځ په يوې بيانيې کښې وويل چې له هندوستان سره په سرحدي سيمه کې د اووربند خلاف ؛ هندوستان د ترهګرۍ پرضد عملياتو کې د پاکستان لپاره يو شمير خنډونه رامنځته کړي دي چې د سيمې په ثبات منفي اغيز لري. هندوستان او

پاکستان په ۱۹۴۷ میلادي کال کښې له خپلواکۍ ترلاسه کولو وروسته درې ځله خپل منځونو کې نښتې کړي دي چې دوه هغه  یې د کشمیر پر سر وې.

اوس که د افغانستان اړوند د پاکستان لمړي وزیر نوازشریف څرګندونو ته پاملرنه وشي؛ دا حقیقت په ډاګه کوي چې پاکستان هیڅکله د ترهګرو له منځه وړونکی نه دی بلکې له همدغو ترهګرو څخه له نړۍ؛ د امتیاز ترلاسه کولو او په افغانستان کې د جګړې ډګر د ګرم ساتلو وسیلې په توګه کار اخلي.

اوس په نړیواله کچه د تروریزم د ځپلو لپاره نړیوال سیاست تغیر خوړلی دی. کله چې نړۍ ته ترهګر ستر ګواښ پیښ شو او نړۍ یې د مبارزې په فکر کې شوه نو ټولو هیوادونو په یو غږ له پاکستان غوښتنه کوله چې د ترهګرو له روزلو لاس واخلي او پر ضد یې اقدام وکړي، اما اوس چې د تروزیزم خلاف مبارزه کې د نړیوالو په سیاست کې تغیر راغلی؛ ډیری هیوادونه د سیمې په ځینو هیوادونو؛ په ځانګړي ډول د افغانستان په جګړه کې خپله ګټه ویني نو د سندرې سر یې افغانستان ګرځولی دی. دغه مغرض هیوادونه د ترهګرو څخه د خلاصون په خاطر چې خطر یې دوی ته ونه رسیږي نو له افغانستانه د وسیلې په توګه کار اخلي. هدف یې خپل ځان د ترهګرو له خطره د خلاصون وي خو پلمه کوي افغانستان او ظاهراً پاکستان ته وایې چې په وسله والو طالبانو فشار راوړي چې افغان دولت سره سولې ته کیني.

پاکستان اوس پوه شوی چې د نړۍ سیاست تغیر موندلی دی؛ ځکه خو ښه په ارام او ډاډه زړه له نړۍ په همدغو ترهګرو جاج او امتیاز اخلي. پاکستان حاضر دی چې له نړۍ څخه د امتیاز ترلاسه کولو په خاطر طالبان د افغان دولت سره د مذاکرې مېز ته کېنوي خو په هیڅ صورت به د طالبانو د ځپلو اقدام ونکړي ځکه لویې موخې د جګړې له لارې ترلاسه کوي.

پاکستان په سیمه کې سیاسي لوبه روانه کړې ده او د دغه سیاسي لوبې څخه دافغانستان خلاصون په دې کې دی چې نور افغان دولت له پاکستانه د خیر په تمه نشي، افغان دولت باید د پاکستان له لوري د وسله والو طالبانو سره د مذاکرو خبرو ته هیله مند ونه اوسي بلکې په خپله دې لاس په کار شي او وسله والو سره دې مخامخ خبرې وکړي.

لړم یا عقرب/ 1396

# حکومت او خصوصي سکتور ولس هېر کړی

د نړۍ د هیوادونو ولس او خلک ورځ تر بلې هوسا ژوند ترلاسه کوي، ورځ تر بلې پرمختګ کوي، ورځ تر بلې ورته د حکومت له لوري اسانتیاوې برابرېږي او ورځ تر بلې له بیلابیلو امتیازاتو برخمن کیږي؛ خو دلته په افغانستان کې بیا زموږ د ولس حالات وګورئ، دلته ورځ تر بلې خلک بدبخته کیږي، ورځ تر بلې شاتګ کوي، دلته نه یوازې دا چې حکومت او دولت ولس ته د ژوند لازمې اسانتیاوې نشي برابرولی بلکې ورځ تر بلې د ولس د ژوند پر وړاندې خنډونه جوړوي؛ ښه بیلګې یې د ولس په اوسنۍ بیکارۍ او مخ په ځوړ اقتصادي حالت کې د حکومت له لوري د ټلیفون پر کرډیټ کارتونو د مالیې وضع کول او د برېښنا شرکت لخوا د برېښنا په مصرف کې د هر کیلو واټ پر سر د پنځه پوله اضافي قیمت اخیستل دي. دلته له یوې خوا مو په اقتصادي لحاظ د هیواد اقتصاد په بهرنیو مرستو متکي دی؛ او له بلې خوا تېرو حکومتونو هم په داسې زیربنایي پروژو پانګونه ونه کړه چې د ولس د بیکارۍ کچه یې راټیټه او اقتصادي حالت یې له رکود ژغورلی وای؛ نو اوس مو هیواد د عوایدو د ترلاسه کولو لپاره دوه لارې لري یو یې بهرنۍ مرستې (خېراتونه) او بل د ګمرکونو مالیات دي چې دواړه په هوایې شکل راځي او په هوایې شکل هضمیږي، ولس مو یوازې د میډیاوو له لارې ددې تش خبرونه اوري او بس.

دا سمه ده چې د هیواد په ابادۍ او پرمختګ کې هر وګړی مسول دی خو دا پرمختګ باید داسې وي چې که ولس قرباني ورکوي باید حکومت یې هڅې په اوبو لاهو نه کړي او کوم قیمت چې دوی د هیواد پرمختګ لپاره پرې کوي نو باید بیرته د ولس په درد دوا شي، ولس ته باید پرې کاري زمینه برابره شي، ولس ته باید په ډاګه شي چې د دوی قرباني بیځایه نه ځي او بیرته ددوی په درد لګیږي. نه دا چې «تورې دې لالا وهي او مړی دې عبدالله وهي» د متل په مصداق د ولس د قربانۍ ثمره څو تنه د ولس ټیکه داران او حکومتي فاسد چارواکي ووهي. په حکومت کې د فاسدو افرادو شتون اوس خلک ذهناً په حکومت بې باوره کړي دي؛ ولس د حکومت پر شفافیت شک لري، دوی نه په پوهیږي چې د مالیې له لارې ټولې شوې پیسې به شخصي جیبونو ته ځي او که د د دولت خزانې ته. ولس غواړي د ټلیفون کریډیټ کارتونو د مالیې کټې عملاً په خپلو سترګو ووینې. دلته باید حکومت تر مالیه وضع کولو وړاندې خلکو ته ذهنیت ورکړای وای؛ دلته باید داسې فضا رامنځته شوې وای چې خلکو ځان د حکومت او حکومت د ځان ګڼلای.

بله موضوع د برېښنا د مصرف په قيمت کې د برېښنا شرکت لخوا د پنځه پوله بيې لوړل دي. په اوس وخت کې افغانستان تر ډېره برېښنا له مرکزي اسيا هيوادونو او ايران واردوي. په داسې حال کې چې ولس مو تر ډېره بيکاره دی، اقتصادي وضعيت مو له رکود سره مخامخ دی او په کابل او ولايتونو کې د برېښنا پر کيفيت او د لينونو د غځولو پر غيرمعياري توب تل نيوکې کېږي ؛ د برېښنا شرکت مسولينو د برېښنا په قيمت کې پنځه پوله لوړوالی راوستی دی. د ياد شرکت مسولين وايې د وارداتي برېښنا قرارداد؛ درې کاله وړاندې چې د يو ډالر قيمت پنځوس افغانۍ و؛ لاسليک شوی دی او اوس د ډالر په مقابل کې د افغانۍ د ارزښت په لوېدو سره دوی پرېکړه کړې چې د برېښنا قيمت لوړ کړي. دوی وايې زمونږ د برېښنا اخيستل په ډالرو دي په تېر کې د ډالرو ارزښت ۴۷ يا ۴۸ افغانۍ او يا نهايت ۵۰ افغانۍ و خو اوس د افغانۍ په مقابل کې د ډالر قيمت تر ۶۴ رسيدلی دی چې د برېښنا شرکت د دې قيمت د پوره کولو توان نلري، بالاخره پرېکړه وشوه چې په هر کيلو واټ برېښنا پنځه پوله قيمت لوړ شي، يعنې اوس چې يو کيلو واټ په دوه افغانۍ دی او په راتلونکې کې به دوه افغانۍ او پنځه پوله شي.

د برېښنا شرکت په ياد اقدام سره د هر زر کيلو واټه برېښنا په قيمت کې ۵۰ افغانۍ لوړوالی راغی په دې معنا چې پخوا د يو کيلو واټ برېښنا قيمت دوه زره افغانۍ و او اوس به دوه زره او شل افغانۍ شي. دلته حکومت او خصوصي سکتور فقط د خپلو شخصي ګټو او د عوايدو په راتولو کې دی او بس؛ خو د ولس غم څوک نه خوري، د ولس د بيکارۍ غم څوک نه خوري، د ولس د امنيت غم څوک نه خوري، د ولس د سر د ساتنې په کيسه کې څوک نه دی، دلته حکومت او خصوصي سکتور د خدماتو د کيفيت د ښه کولو او د ولس د اقتصادي حالت د ښه کولو په غم کې نه دي بلکې فقط د خپلو شخصي جيبونو د ډکولو غم کوي او بس.

که چيرې تېر حکومت د وارداتي برېښنا پر ځای په خپله افغانستان کې دبرېښنا په بندونو پانګونه کړې وای نو اوس به مو نه د سوال په وارداتي برېښنا دومره لوړ قيمت ورکولو او نه به مو اقتصادي حالت داسې له رکود سره مخامخ کېده ځکه د يو هيواد په اقتصادي پرمختک کې برېښنا بشپړ رول لري.

لړم يا عقرب/ 1396

# د افغانستان سیاسي جغرافیه څوک وېشي؟

«د دښمن طرحه دا وه چې خدای مه کړه د افغانستان سیاسي جغرافیه په دوو برخو ووېشي، موږ پوهېږو چې په ټولو ځایونو کې د امنیت په راوستلو کې پاتې راغلي یو خو لوی هدف مو چې د ملي وحدت خوندیتوب او د افغانستان ملي حاکمیت دی په هغې کې بریالي شوي یو، او هېڅ کله به هم چاته اجازه ورنه کړو چې د افغانستان سیاسي جغرافیه په دوو برخو ووېشي«

دا د کډ حکومت مشر اشرف غني هغه وینا ده چې تېره ورځ یې په کابل کې د کلي د شوراګانو پنځم ملي مشورتي کنفرانس کې ولس ته وکړه. اشرف غني په داسې حال کې د دښمنانو له خوا د افغانستان د وېشلو خبره کوي چې په وروستیو څو لسیزو کې د سیمې او نړۍ ځینو هیوادونو هڅه کړې ده څو دغه هېواد په دوو برخو ووېشي. که څه هم د غني اشاره د هغو هیوادونو په لور وه چې د تاریخ په اوږدو کې یې په افغانستان او افغانانو بنه ورځ نه ده پېرزو شوې او اوس هم عملاً د جګړې د یوې خوا ملاتړ کوي خو دلته ځینې نیمګړتیاوې شته چې په خپله همدغه کډ حکومت په دې برخه کې پر ثابتوي.

د اوسني کډ حکومت تېره یو کلنه دوره داسې ده چې په خپله یې دښمن ته د لاسوهنو او د افغانستان د سیاسي جغرافیه د ټوټه کېدو زمینه برابره کړېده. په خپله په دې حکومت او دولت کې داسې افراد ځای لري چې هغه د پخواني متل په مصداق «قُد قُد دلته کوي خو هګۍ کاونډي کره اچوي».

دا افراد تغذیه له افغان حکومته اخلي خو کار د پردیو د ګټو لپاره کوي. په دې حقیقت سترګې نشي پټېدای چې دلته ځیني هیوادونه قومي، مذهبي، سمتي، ژبني او توکمیز تعصب ته لمن وهي او غواړي د افغانانو تر منځ د بدبینۍ او بې باورۍ فضا رامنځته کړي. دغه هیوادونه د نظام دننه زمونږ له چارواکو څخه دخپلو موخو په ترلاسه کولو کې ګټه اخلي. دلته په حکومت، دولت او سیاست کې هر هیواد خپل لاسپوڅي او مزدوران لري چې د فرصت په ترلاسه کولو سره د افغانانو په رېښو د تبر ګوزار کوي. تاسې ولیدل چې د کډ حکومت چارواکي حتا له خپل هویته منکر شول، له افغانستانه منکر شول، د افغانیت، اسلامیت او د افغانستان له نومه تېر شول. چارواکي مو په سیاسي، مالي او اخلاقي فساد کې ډوب دي، د کډ حکومت د مشرانو نظرونه سره وېشلي دي. له کوچنیو خپل منځي مسایلو نیولی آن د هیواد په ملي مسایلو کې هم سره په یوه خوله نه

دي. ولسمشر یو څه وایې؛ اجرایوي رییس بل څه وايي هاخوا په بنې حکومتولۍ کې د ولسمشر ځانګړی استازی په بل نظر دی. یو د سولې طرفدار دی خو بل بیا په جنګ کې خپلې ګټې ویني. یو له امریکا سره اړیکې خو بل بیا له روسیې سره یارانه لري. یو پاکستان ته یو طرفه امتیاز ورکوي خو بل ورته د دښمن په سترګه ګوري. همداسې په لسګونو نورې بېلګې.

نو په داسې یو هیواد کې چې په ملي مسایلو کې یې مشران واحد نظر ونلري، چارواکي یې د بل ګټو ته وفاداره وي، فساد په کې اوج ته رسیدلی وي، مخدره توکي په عام بازار کې خلاص مټ پلورل کیږي، چارواکي د رسمي دندې او مسولیت پر ځای په کې شخصي کاروبار ته ډېر وخت ورکوي، وزیر یې قراردادي وي، رتبه او بست په پیسو خرڅیږي، بې روزګاره خلک یې سیاسي شنونکي وي، بډې او رشوت بهترین کاروبار وي، قانون یوازې په غریب پلی کیږي، رسنۍ او میډیا په خپل سر وي او دولت یې وړی وي نو څنګه به نور هیوادونه ددې خاوري د سیاسي جغرافیې د وېشلو پلانونه نه عملي کوي؟

د دښمن د تبر لپاره لاستي په خپله د حکومت په بدنه کې شتون لري او څو چې ددوی مخنیوی ونه شي؛ د افغانانو برخلیک به د بهترۍ په ځای د بدترۍ په لور روان وي. اوس مهال د افغانستان د وېشلو طرحه د سیمې او نړۍ د پیاوړ هېوادونو د هڅو په سر کې ځای لري، او افغان چارواکي باید دې موضوع ته ځیر وي. که د نورو مسایلو په شان دغه مسله هم له پامه وغورځول شي نو د هیواد بهرني دښمنان به ډېر په اسانۍ خپلو موخو ته ورسیږي.

لړم یا عقرب/ 1396

# د پولیسو ډبول؛ د چارواکو او زورواکو فرهنګ

له بده مرغه اوسمهال افغانستان داسې یو هیواد دی چې چارواکو او زورواکو یې د ملي بنسټونو او امکاناتو د قبضه کولو تر څنګ ولس، پولیس او عامه خدمت کوونکي هم په انحصار کې نیولي دي. دلته د چارواکو او زورواکو لخوا د قانون ماتونه په یو فرهنګ او قانون بدله شویده. په ډېری ځایونو کې خو دوی په خلاص مټ خپل مافیایي کارونه ترسره کوي او هیڅوک دا جرأت نلري چې مخ ته یې ودرېږي؛ خو کله که د هیواد یو رښتونی بچی د دوی د مافیایي کاروبار پر وړاندې خنډ شي او مخنیوی یې وکړي نو بیا د داسې حالت ته ډبوي چې له مرګه یې حالت بدتروي.

داسې بیلګې ډېری دلته شتون لري. همدا څو ورځې وړاندې په ولسي جرګه کې د پنجشېر د خلکو د استازي ظهیر سعادت ساتونکو د کابل ښار په تایمني کې د څلورمې امنیتي حوزې ۳ تنه امنیتي سرتیري وډبول. ظهیر سعادت چې څو ورځې وړاندې یې په پارلمان کې د افغانستان ستر قوم ته د انتحاري او انفجاري خطاب کړی و؛ ځوی یې وروسته له هغه چې یوه کراچۍ والا یې وواهه د پولیسو له لوري یې مخه نیول شوې وه چې وروسته د ظهیر ساتونکو پولیس ډېر په بې رحمانه توګه وهلي دي. پولیس وایي چې د ظهیر سعادت ځوی په ښار کې له یوه کراچۍ والا سره لانجه وکړه او هغه یې وواهه نو امنیتي سرتیرو د ظهیر ځوی ونیوه او پوستې ته یې راوست، خو کله چې ظهیر سعادت پوستې ته راغی له ساتونکو په مرسته یې سرتیري سخت ووهل.

دا لومړی ځل نه دی چې په افغانستان کې د لوړ پوړو چارواکو له لوري پولیس ډبول کېږي بلکې له دې وړاندې هم څو ځله دولتي لوړ پوړو چارواکو او زورواکو امنیتي سرتیري وهلي دي. دلته ډېری وختونه پولیس د خپل مسوولیت د ادا کولو په خاطر د چارواکو او زورواکو له لوري ډبول کېږي چې ځینې وختونه بیا ډبول شوی پولیس په نمایشي توګه د حکومت له لوري تقدیر کېږي. په تېرو کلونو کې په ځلونو د زورواکانو او جګپوړو چارواکو ساتونکو هغه پولیس ډبولي چې د دوی د غیرقانوني اقداماتو او ترافیکي سرغړونو د مخنیوي هڅه یې کړې ده.

څو ورځې وړاندې د کډ حکومت د مشر دویم مرستیال سرور دانش ساتونکو هم د احمد ایمل قادري په نوم پولیس په کابل ښار کې په دې خاطر ووهلو چې ده یې په ناسمه لار د تګ مخه ونیوله. بیا ولسمشر په دې خاطر چې د خلکو له تند غبرګون سره مخ نشي په نمایشي ډول یې وهل شوی سرباز وستایه. د ډېرو په نظر د ولسمشر لخوا د وهل شوي سرباز ستایل او د سرور دانش د ساتونکي له دندې ګوښه کول پر ځای اقدام دی، خو د ډېری نور ولس باور ولسمشر په دې وړو او نمایشي کارونو ځان مصروفوي او اصلي د ولس غټې غوښتنې یې په نظر نه راځي. ولس وایې دا فکر کوي چې په دې مایکرو مینجمنټ به اصلاحت راولي، خو داسې نه ده؛ ولسمشر باید په اساسي او تغیر راوستونکو شیانو کې دا تکلاره خپله کړي. ولس د غني د دولت مثال د یوې سورې بیړۍ سره تشبیه کوي چې واړه واړه سوري پکې وي او د یو لوی طوفان پر لوري روانه وي، خو د کډ حکومت مشران د دې په ځای چې بیړۍ له طوفانه راواړوي په وړو سورو بندولو مصروف دي.

په تېرو کلونو کې په ځلونو د زورواکانو او جګپوړو چارواکو ساتونکو هغه پولیس ډبولي چې د دوی د غیرقانوني اقداماتو او ترافیکي سرغړونو د مخنیوي هڅه یې کړې ده. دلته د زورواکانو لخوا د پولیسو او عامه خدمت کوونکو ډبول یوه عادي خبره ده، څه موده وړاندې د احمدشاه مسعود په نمانځغونډه کې ځینو لنډغرو اوباشانو د ابن سینا روغتون یو ډاکټر مرګ ته وهلی ډبولی و، له هغه وړاندې په تېر حکومت کې د وردګو د والي ساتونکو  د حج اوقافور رییس په شمول څو ریسان وهلې ټکولي و. همداشان ډېری پیښې.

د دې ټولو ناقانونیو او زور چلولو اصلي سرچینه کمزوری حکومتي سیستم او ناکاره مدیریت دی. که چیري کډ حکومت په ربښتیا د ولس غم خوړونکی وای او قانون یې خپل معیار ګڼلی نو هیڅکله به کوم چارواکي یا زورواکي د قانون له سرو کرښو پښه نه وای اړولې. دلته قانون یوازې په غریب، مسکین او بېچاره باندې تطبیقیږي، چارواکي ځانونه له قانونه لوړ او قانون ځانته تابع ګڼي، دلته له ولسمشره نیولی، مرستیالان یې، اجرایوي رییس سره د مرستیالانو یې، وزیران یې، والیان، ریسان یې، د ولسي او مشرانو جرګې غړي او آن تر یو عادي دولتي کارکوونکي؛ ټول ځانونه من ګڼي، هیڅوک قانون ته د قانون په سترګه نه ګوري او هر څه یې د ځان لپاره روا کړي آن د مظلوم ولس وهل، ډبول او ګواښل. تر هغې چا قانون په له پاسه تطبیق نشي؛ ورځ تر بلې بدتري شته او بهتري به نه وي.

لړم یا عقرب/ 1396

# د ټاکنو په کمیسیون کې د بهرنیانو د لاسوهنو اندیښنې

د ولسي جرګې کاري او قانوني موده پای ته رسېدلې خو د ټاکنیزو کمېسیونو پر سر د نانندریو له امله د بیا ټاکنو نېټه یې نه ده اعلان شوې .دغه ټاکنې نږدې شپېته میلیونه ډالرو ته اړتیا لري او د معمول په څېر نړیوال ورسره مرسته کوي خو دا ځل هغوی خپلې مرستې مشروطې کړي. د نړیوالې ټولنې شرط په ټاکنیزو کمېسیونونو کې اصلاحات دي. خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشر احمد یوسف نورستانی بیا اصلاحات پلمه بولي او وايي چې نړیوال یوځل بیا غواړي چې د کمېسیون په چارو کې لاس وهنې پیل کړي.

دا لومړی ځل نه دی چې بهرنیان د افغانستان په دغه مهم ارکان کې لاسوهنه کوي بلکې د دوه زره او څوارلسم کال ولسمشریزې ټاکنې چې محصول یې اوسنی دوه سره حکومت دی؛ هم د بهرنیانو د لاسوهنو نتیجه ده. له دې وړاندې د دوه زره څلورم او دوه زره نهم کال په ټاکنو کې هم تر ډېره بهرنیان دخیل وو، خو د پخواني ولسمشر حامد کرزي له نیوکو او مخالفت وروسته د دوه زره څورالسم کال ټاکنې افغانانو رهبري کړې او بهرنیانو په کې یوازې د نظارت رول درلود.

په ټېر کې د ټاکنو په پروسه کې د بهرنیانو د لاسوهنو اړوند ډېرې بېلګې شته چې ښه هغه یې ټېرې ولسمشریزې ټاکنې چې پایله یې اوسنی دوه حکومت دی؛ او همداشان د پخواني ولسمشر حامد کرزي څرګندونې دي چې ویلي دي بهرنیانو د دوه زره او نهم کال ټاکنې له کړکیچ سره مخامخ کړې. د ولسمشرۍ په دې وروستیو ټاکنو کې چې د نړۍ په تاریخ کې اوږدې او جنجالي ټاکنې وې، د بهرنیانو د لاسوهنې داسې شواهد شته چې په ډاګه کوي ټاکنې د بهرنیانو په واک او اختیار کې وې، هغه څه یې کول چې زړه یې غوښتل. په ټېرو ټاکنو کې بهرنیو هېوادونو په ټېره سفارتونو ښکاره لاسوهنه کوله او غوښتل یې چې حکومت په څو کسانو ووېشي چې همداسې هم وشول.

افغان ولس که څه هم په ټېر کې د بهرنیانو او ځینو کورنیو کړیو لخوا د ټاکنو په پروسې بې باوره شوی خو بیا به هم لکه د ټېر په څېر قرباني ورکړي او د ملي شورا لپاره به خپل استازي وټاکي خو دوی اوس د ځان لپاره ټاکنې غواړي، ولس غواړي د دوی په رایه لکه د اوسنی کډ حکومت په څېر معامله ونه شي، دوی غواړي ددوی استازي ددوی په رایه وټاکل شي؛ نه د بهرنیانو او کورنیو مغرضو کړیو په خوښه، ولس ازادې، رڼې، او افغان شموله ټاکنې غواړي، چې نه د افغانستان حکومت په کې لاسوهنه وکړي او نه هم بهرنیانو ته په کې د لاسوهنې چانس په لاس ورشي. د رڼو او شفافو ټاکنو ترسره کول د افغان حکومت او د ټاکنو خپلواک کمیسیون مسوولیت دی چې دوی باید افغانانو ته د رڼو او شفافو ټاکنو ډاډ ورکړي، نه دا چې بهرنیان پلمه کړي او یو ځل بیا د ټېر په شان دغه ټاکنې هم د درغلیو او لاسوهنو ښکار شي او افغانان نهیلي پاتې شي.

اصلا د ټاکنو کمیسیونونه د ټاکنیزو مسایلو اړوندې اداري دي او ټاکنیزې ستونزې باید د دغو کمسیونونو له لوري حل شي. بهرنیان د افغانستان د ټاکنو ستونزه نه شي حل کولای او که بیا هم په دغه کمیسیون کې بهرنیانو ته ځای ورکړل شي نو پایله به یې په لوی لاس په یوه افغاني پروسه او د افغانستان په چارو کې د بهرنیانو لاسوهنې ته زمینه برابرول وي. د قانون له مخې د ټاکنیزو مسایلو د حل مسوولیت ټاکنیزو کمسیونونو ته سپارل شوي دی او له حقوقي اړخه هېڅ بهرنی او کورنی وکړی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په کارونو کې مداخله نه شي کولای، که څوک د ټاکنو د پایلو او نورو مسایلو اړوند کومه ستونزه یا شکایت لري، نو بیا د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون شته، هغوی ته دې مراجعه وشي. په ټاکنیز سیستم کې د بهرنیانو مداخله د افغانستان د ملي حاکمیت خلاف کار دی.

دا چې ربښتیا هم بهرنیان یوځل بیا د افغانستان په ټاکنو کې د خپل رول دېرولو هڅې کوي که یوازې اصلاحات هغه پوښتنه ده چې د وخت تېرېدل به یې ځواب کړي. خو په افغانستان کې تېر ځل ټاکنو ترسره کېدو ته په کتو څرګندیږي؛ بهرنیان هېڅکله هم نه غواړي چې دلته دې د دوی دخوښې شخص په واک کې نه وي او یا دې د دوی ضد شخص ملي شورا ته راشي؛ نوکله چې داسې ده اوزموږ د حکومت او چارواکو د تصمیم نیونې تولې پرېکړې دهغوی په لاس کې وي نو دا به ساده توب او یا ځان تېرویستل وي چې ووایو په افغانستان کې به ټاکنې رنې او خپلواکې وي.

همدا راز یوه بله ستونزه چې ولس یې اندیښمن کړی دی هغه د پارلماني ټاکنو د مهال ویش نه څرګندول دي.

د اساسي قانون په ۸۳مه ماده کې راغلي دي: "د ولسي جرګې غړي د خلکو د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو له لارې انتخابیږي. د ولسي جرګې د کار دوره د پنځم کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي او نوې شورا په کار پیل کوي. د ولسی جرګې د غړیو انتخابات له دېرشو ورځو څخه تر شپېتو ورځو پورې د ولسي جرګې د دورې تر پای ته رسېدو د مخه ترسره کېږي".

د دې مادې له مخې، د ولسي جرګې ټاکنې باید د روان کال د غویي او غبرګولي میاشتو کې ترسره شوې وای؛ خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، چې دا کار د مالي امکاناتو د نه شتون له امله ځنډېدلی دی. همداراز ولسمشر د غبرګولي په ۲۷مه د ولسي جرګې کاري موده د ټاکنو تر سره کولو پورې وغځوله، د دې ترڅنګ حکومت په ټاکنیز نظام کې د اصلاحاتو راوستلو لپاره یو کمېسیون رامنځ ته کړ چې کار یې تر اوسه نهایي شوی نه دی. د ګډ حکومت د مشرانو له لوري د خپلو ژمنو نه عملي کولو ولس پر دوی بې باوره کړی دی او اوس د ولسي جرګې ټاکنو د مهالویش د اعلان غوښتونکی دی. دوی د ګډ حکومت له مشرانو غواړي چې له ژمنې سره سم دې د ولسي جرګې ټاکنو نېټه معلومه کړي، ځکه د ولسي جرګې د کار دوام د ټاکنو نېټې له معلومولو څخه پرته غیرقانوني ده.

لړم یا عقرب/ 1396

# د سولې کیلې ولې ورکه ده؟

په تېرو څوارلسو کلونو کې کڼ شمېر افغانان په هیواد کې د روانې جګړې قرباني شول او ګټه یې هم پردیو ته ورسیده. هره ورځ په ځانمرګې برید، ماین چاودنه، غلچکي برید، او دېله یزو جګړو کې ژوند افغانان دلاسه ورکوي خو ثمره یې بل څوک څکي، د جګړې مالي او ځاني قیمت افغانان پرې کوي خو ګټه یې پردي اخلي.

پوښتنه دا ده چې دا هر څه ولې، د چا لخوا او د څه لپاره ترسره کیږي؟ دا سوله څنګه د مرغۍ پې شوه چې ددنیا په سر یوازې مسلمانانو په ځانګړي توګه افغانانو ته نه رسیږي؟ ښکېل اړخونه څه غواړي او ولې سره یوې کډې هوکړې ته نه رسیږي؟ وسله وال جنګیالي؛ څوک، ولې او د څه لپاره تمویل، تجهیز او رهبري کوي؟ او بلآخره ددغې پردۍ جګړې تر شا د چا لاسونه دي چې تر اوسه لنډ نه شول؟

ددې ټولو پوښتنو ځواب ډېر تفصیل او وخت ته اړتیا لري خو دلته به یې په مهمو فکتورونو رڼا واچوو.

په وروستیو کې چې د سولې خبرې ګرمې روانې وې نو په هیواد د ننه او بهر کې افغانانو ته هم یو اندازه هیله مندي پیدا شوې وه خو اوس مهال په افغانستان کې وروستیو حالاتو د ولس هیلې هم مراوې کړې دي. د سولې په اړه بیا، بیا ضدو نقیضې، غیرواقعي او تخیلي خبرې معلوموي چې افغان دولت، سیاستوال او ډېرسیاسي شنونکي یا د دې کلیمې په مانا نه پوهیږي او یا د یوې ابزاري وسیلې په توګه ناسمه ګټه ترې اخلي .تراوسه په دې نوم په هېواد دننه جوړشوي کمېسیونونه، شوراګانې او نور خوځښتونه یوازې تر شعاره پاتې شوي او خپلې شخصي موخې یې ترلاسه کړي دي. د افغان دولت متزلزل او کمزورې پالیسۍ او د اصلي لوري په ځای په فرعي او مصنوعي ځایونو بوختیا؛ د افغان سولې کم امکانه هڅې او هیلې نورې هم پېچلې کړې دي. د دې ټولو اصلي لامل یوازې دا دی چې تراوسه د افغانستان د جګړې ښکیوال، سمه پېژ او کورني اړخونه ټول او په ځانګړي ډول د افغان دولت لخوا د سولې څرګند تعریف، اجنډا او رښتونې اراده نه لري. د سولې په نوم په هره برخه کې په ځانګړي ډول د سولې په عالي شورا کې هغه خلک ځای پر ځای دي چې اصلاً د سولې لپاره رښتونې اراده نه لري او یا هم د اصلي مقابل لوري په پېژندلو کې وړتیا نه لري.

دا سمه ده چې افغان سوله کورنی او بهرنی اړخ لري خو اصلي د ستونزې حل په دې کې دی چې لمړی ځان اصلاح کړو بیا د نورو نیمګړتیاوو ته ګوته ونیسو. لمړی باید د کورني اړخ سره خبرې وشي او بیا د بهرني اړخ

د سمون لپاره اقدام وشي. په کورني اړخ کې لمړی باید د سولې په عالي شورا، ددې شورا په جوړښت، ستراتيژۍ او رهبريت کې اصلاح راشي او بيا د هغو کورنيو اړخونو په لټون پيل وشي چې د سولې د بهرني اړخ ابزار دي، د سولې بهرنی اړخ داسې دی چې مستقيم او نيغ په نيغه له کورني اړخ سره اړيکه لري، د بهرني اړخ سره چې د کورني اړخ لاسنيوی او مرسته نه وي نو په هيڅ صورت د سولې په وړاندې خنډ جوړيدای نشي. همدا کورني اړخونه دي چې د بهرني اړخ د تېر لپاره په لاستي بدل شوي دي او د سولې ريښې پرې؛ غوڅوي. فلهذا اړينه ده چې لمړی افغان دولت د سولې اړوند په خپلې ستراتيژۍ او ارادې له سره کتنه وکړي او په کې اړين اصلاحات رامنځته کړي. او بيا د بهرني اړخ په لټه کې شي. لمړی باید د افغانستان په سياسيونو او دولت کې د جګړې او سولې د ستراتيژۍ پر سر د همغږۍ او باور فضا را منځ ته شي او بيا د بهرني دښمن سره مقابله وکړي، په دولت کې دننه د سولې دښمنان دې چاڼ شي او بيا دې د دښمن سره د مقابلې اراده وکړي. سوله خو څه هوايي مرغه نه دی چې پاکستان، ايران، امريکا يا بل هيواد يې ونيسي او مونږ ته يې په لاس راکړي. پاکستان، ايران، امريکا او يا نور د سيمې هيوادونه مونږ ته سوله نه راکوي او نه يې راکولی شي، مونږ باید ترې سوله واخلو او هغه داسې چې لمړی ځان اصلاح کړو، خپله ستراتيژي او خپل موقف پياوړی کړو، دننه دلته په حکومت کې هغه لاسونه چې کتمې يې په جګړه کې نغښتې دي باید لنډ کړو او بيا د صحرا دښمن پسې روان شو.

لړم يا عقرب/ 1396

# د غني بله کارنامه

په داسي حال کي چي په افغانستان کي د ملکي خلکو تلفات ، د امنیت ترینګلتیا، بېکاري، په راتلونکي د خلکو بې باوري او کړکېچن حالات د یو ریکارډ تر کچې رسېدلي؛ ناامنۍ او د افغانستان د اقتصادي ودې لویدو؛ ډېر شمېر افغانان دې ته اړ کړي دي چې خپل هیواد پرېږدي او په اروپا کې د یوه ښه ژوند په لټه شي. د افغانستان د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، سږ کال له هېواد څخه ۷۰ زره کسان اروپا ته په قاچاقي توګه تللي ، چې ډېری برخه یې ځوانان تشکیلوي.

دغه شمېر افغانان په اسانۍ اروپا ته نه دي تللي بلکې هر یو یې خپل ژوند په خطر کې اوچولی، ډیری یې په سیندونو کې د ماهیانو او په غرونو او ځنګلونو کې د ځناورو خوراک شوي دي، رنګارنګ مشقتونه او سختۍ یې ګاللي دي، ولږه، تنده، سړه هوا او ترینګلي اقلیمي حالات یې په ځان تېر کړي او ډېرو ته خو د اروپا سفر آن د ژوند په قیمت تمام شوی دی. دوی د بې عدالتۍ، بې وزلۍ او بیکارۍ له امله افغانستان پرېښی او اروپايي هیوادونو ته تللي دي. سره د دې چې دغو کډوالو په ډېرو سختیو اروپایې هیوادونو ته ځانونه رسولي خو اسو د المان حکومت پرېکړه کړې چې افغان کډوال له بیرته خپل هیواد ته راوشړي.

د یوې آلماني ورځپاڼې د رپوټ پر بنسټ د آلمان حکومت غواړي په راتلونکې کې ډېر شمېر افغان کډوال بیرته خپل هیواد ته واستوي. د المان حکومت ددغې خبر په غبرګون بیا د افغانستان د کډوالو او راستنیدونکو وزیر سید حسین عالمي بلخي، وايي چې افغانستان له آلمان سره یو دوه اړخیزه هوکړه لیک لري چې د کډوالو اجباري اخراج یې خلاف دي. له دې هاخوا دردونکې خبره لا دا چې افغان کډ حکومت هم له المان سره د افغان کډوالو راشړل منلي دي.

اوس په داسې حال کې چې افغان کډ حکومت په اروپایې هیوادونو کې د افغان کډوالو غم نه خوري؛ په تازه کې د کډ حکومت مشر اشرف غني ویلي چې حکومت یې له اروپايي هیوادونو څخه د بیرت ستنیدونکو افغان کډوالو راتګ مني. د آلمان خبري سرچینو د راپورونو پر اساس د دغه هیواد د بهرنیو چارو وزیر فرانک والتر شتاین مایر، د تېرې جمعې په ورځ له افغان ولسمشر محمد اشرف غني، سره ټلیفوني خبري کړي دي. په دغو خبرو کې دواړو چارواکو د افغانستان د کډوالو او راستنیدونکو چارو د وزیر سید حسین عالمي بلخي، د وروستیو څرګندونو په اړه بحث کړی دی. د راپورونو پر اساس افغان ولسمشر شتاین مایر ته ډاډ ورکړی دی چې د بلخي وروستۍ څرګندونې د هغه شخصي نظر دی او د ده د حکومت موقف نه ښيي. سرچینو

ویلي دي چې ولسمشر غني په خپلو خبرو کې روښانه کړې ده چې افغانستان په دې برخه پر خپلو نړیوالو مسئولیتونو خبر دی.

اوس خلک پوښتنه کوي چې ای د کډ حکومت مشره غني..!

ته د کومو نړیوالو اصولو خبرې کوې؟

تاسې د یو ولسمشر په توګه او شریکوال دې (عبدالله) د کورنیو اصولو پر اساس په کور دننه له اروپا راستنیدونکو کډوالو لپاره څه کړي دي؟

تاسې، ستا شریکوال او ستاسې کډ حکومت ددغو کډوالو لپاره چې دلته یې خپل مال او حال خرڅ کړي؛ څه لازم چمتو والی نیولی دی؟

تاسې او ستاسې کډ حکومت به دوی اوس چیرته استوګن کړي، دوی به اوس په کوم کار بوخت کړئ؟

دغه له اروپا راستنیدونکي کډوال خو پر ځای پریږده دلته د موجوده کاري ځواک (ځوانان) لپاره دې څه وکړل؟

دا سمه ده چې د نړیوالو اصولو پر اساس هر هیواد مکلف دی چې خپل اتباع ومني خو افغانستان داسې یو امن هیواد نه دی چې وکړي یې بیرته واستول شي. دلته حالات سم نه دي او د ناامنیو ګراف لوړ دی څکه نو تاسې باید له الماني حکومت سره د افغان کډوالو د اخراج اړوند په خپله پالیسی له سره کتنه وکړئ. تاسې باید له الماني حکومته وپوښتئ چې ولې د سوریې کډوال قبلوئ او افغان کډوال راشړئ؟

که په سوریې کې د ناامنیو او د داعش د موجودیت له کبله د دې هیواد کډوال په آلمان او نورو اروپایي هیوادونو کې له ډیرو ستونزو پرته منل کیږي. له دې سترې امنیتي ننګونې او بیکارۍ خو په افغانستان کې اوج ته رسیدلي دي، د داعش ډله د افغانستان په ختیځو برخو کې هم حضور لري. داعش دلته هره ورځ ناامنیو ته لمن وهي، انسانان وژني او اعداموي یې.

زمونږ دغو کډوالو افغانانو په ډېرو ستونزو ځانونه اروپا ته ورسول، ژوند یې په خطر کې واچاوه، که واپستل شي له افغانانو سره به هم ستاسې او هم د الماني حکومت له لوري ستره جفا وي.

لړم یا عقرب/ 1396

# د ګډ حکومت بل شرم

د ګډ حکومت له جوړېدو راهیسې د حکومت د شریکانو کارنامې اوریدل کیږي او لیدل کیږي په ځانګړي ډول د ګډ حکومت د مشر د نړۍ د دویم متفکر غني کارنامې. تېره ورځ یې بیا هم یوه داسې کارنامه وکړه چې په تېرو هغو یې ولس شکر اوباسي. د غني په لارښوونه تېره ورځ د کابل بانک لوی لوټمار او پخواني شریک خلیل الله فیروزي د ښار جوړونې له وزارت سره د سمارټ سیټي په نوم د خصوصي ښارکوټي د جوړولو تړون لاسلیک کړ. د ولسمشر حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي د تړون د لاسیکولو پر محال وویل، ولسمشر غني داسې حکم صادر کړی، چې د کابل بانک د فساد د قضیې ښکېل او زنداني شریکان خوشې شي، ترڅو پانګونې وکړي او له خپلو پانګونو نه د بانک پوروونه ادا کړي.

په پښتو کې متل **دی** چې **د** حکومت **د** مال خو**راک درد** لري مرګ نه لري خو دلته په افغانستان کې خبره بل ډول ده. دلته د حکومت مال او د ملت مال خوړل ویاړ دی. دلته د ملت مال خوړل سرلوړي ده، په دې هیواد کې هر غل، وحشي، قاتل او اختطاف چي ازاد ګرځي، دلته چې څومره دا ولسونه لوټې، څومره دا ولس وژنې او څومره چې دا ولس بې عزته کوې هغومره به لوی شخص یې او هغومره به دی خلک احترام کوي. دلته د ولس مال خوړل سیاست دی او دلته د خلکو په مال خیټه اچول د چارواکو او زورواکو اصول دي.

همدا خلیل الله فیروزي چې د هیواد استیناف محکمې په پنځلس کلن بند او د تولو غلا شویو پیسو او هغو د ګټې په بېرته ورکړه محکوم کړی و؛ نن څنګه او د کوم عذر له مخې؛ نه یوازې دا چې له زندانه خوشې کیږي بلکې ورسره د هیواد یوې مهمې پروژې قرارداد هم لاسلیک کیږي؟

خلیل الله فیروزي محکمې په پنځلس کاله بند او ۵۰۰ میلون ډالره جریمې محکوم کړی خو تیره ورځ فیروزي پخپله د مطبوعاتو مخې ته راڅرګند شو او دKabul Smart City ښارکوټي قرارداد یې د ښار جوړونې وزارت سره لاسلیک کړ، په داسې حال کې چې نوموړی د محکمې د حکم له مخې لا هم بندی دی او باید پنځلس کاله بند تیر کړي.

د زنداني يو تعريف دا دی چې هيڅ زنداني د بند په موده کې د هيڅ راز پانګونې او تجارت صلاحيت نه لري. اصلاً زندان ته د يو زنداني د ورتګ معنا داسې ده چې زنداني د يو شمير هغو حقوقو څخه چې يو آزاد شخص يې لري؛ محروميږي. ګډ حکومت وايې چې فيروزي خلاص شوی نه دی بلکې اجازه ورته ورکړل شوې چې د کابل سمارټ سيټي په ښارکوټي کې د قراردادي په حيث برخه ولري، د ارګ دغه خبره هم له شرمه ډکه مسخره ده، که د دوي په باور يو زنداني د پانګونې او تجارت حق ولري نو بيا خو ورته زنداني نه ويل کيږي بلکې آزاد شخص دی، داسې ويل کيږي چې فيروزي شپيته جريبه ځمکه هم لري نو پوښتنه دا پيدا کيږي چې که نوموړی په ۵۰۰ ميلون ډالرو جريمه محکوم دی نو ولې يې دا جريمه نه ده ادا کړې؛ په داسې حال کې چې شپيته جريبه ځمکه ملکيت هم لري؟

ولې يې دا ملکيت نه دی ضبط شوی؟

ولس پوښتنه کوي چې داسې کوم مرجع شتون لري چې د فيروزي اړوند د محکمې حکم يې لغوه کړی دی؟ کله چې محکمې نوموړی په بند محکوم کړ نو بل داسې څوک شته چې د فيروزي له زندانه د خوشي کولو حق ولري؟

ګډ حکومت چې د کابل بانک لوي لوټمار په خوشي کولو او له دې سره د اساسي قانون او نورو قوانينو خلاف لوی مجرم ته برأت ورکړ؛ آيا د ګډ حکومت دغه کار به په هيواد او ولس کې له قانونه د تيښتې او له سزا څخه د معافيت روحيه پياوړې نه کړي؟

او د ګډ حکومت دغه کار به له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې څومره بهرنۍ اداري په ځان بې باوره کړي؟

د ګډ حکومت له لوري د کابل بانک د ديوالي کېدو لوی لامل او لوټمار خليل الله فيروزي له زندانه خوشي کول هيڅ قانوني او حقوقي توجيه نه لري، او بايد ولسمشر، اجرايه مشر، په ښې حکومتولۍ کې د ولسمشر ځانګړی استازی ضيا مسعود، د ولسمشر حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي، د ښارجوړونې وزير او په ټوله کې ګډ حکومت بايد ولس ته وضاحت ورکړي. که داسې نه وي نو اوس دې د ملي وحدت حکومت تر نامه لاندې ګډ حکومت يو بل کار هم وکړي؛ ټول غله، جنايتکاران، قاتلين، جنګسالاران، تروريستان او اختطاف چيان دې ازاد کړي او دا باقي ملت دې په زندانونو کې واچوي ترڅو د شره خلاص شي.

لړم يا عقرب/ 1396

# د ګډ حکومت تش شعارونه

ناامني، فقر او غربي، بیکاري او د دا شان ځینې نورو لاملونو له کبله افغان ځوانان خپل هیواد پرېږدي او کډوالۍ ته مخ کوي. تر سختو لارو وروسته هغوی اروپا او یا د نړۍ نورو هیوادو ته رسیږي او هلته له نوو ستونزو سره مخامخیږي. په روان کال کې په زرونو ځوانانو اروپايي هیوادونو ته د رسیدو په موخه خپل هیواد پرېښی دی. اوس څپه پر څپه افغان کډوال مخ پر اروپا شویدي ډیری یې په لارو کې د سختیو او کړاوونو قرباني کیږي.

دلته د ګډ حکومت چارواکي په هیواد کې د میشتو هیواد والو د ستونزو په حل کولو کې پاتې راغلی نو له هیواده په تېښته د زرګونو افغان کډوالو سره چې په خورا سختۍ اروپا ته رسیدلي؛ د مرستې کولو او د هغوی د ستونزو د حل لپاره هیڅ پروګرام نه لري. دوی چې د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال یې ولس ته د ژوند ښه کولو او امنیت راوستلو ژمنې ورکولې اوس په خپل منځي اختلافاتو کې د بوختیا له امله یې هرڅه له یاده وتلي. هیواد مو د اقتصاد د کمزورتیا په لور روان دی او کاري ځواک او بشري قوه مو هم د تېښتې په حال کې ده. که ژور فکر وکړو دا ټولې ستونزې د ملي یوالي حکومت تر نامه لاندې د ګډ حکومت زیږنده دي چې په هره کوچنۍ او لویې مسالې سره اووه واړه شریکان جنجالونه لري. ددوی جنجالونه ددې سبب شول چې د هیواد امنیت حتی د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واکمنې په پرتله برابر کړي او خلکو ته څه ناڅه اقتصادي ضمانت ورکړي.

د ګډ حکومت مشران اوس هم د ولس په سترګو کې خاورې شیندي، دوی اوس هم ولس ته د ټاکنیزو کمپاینونو غوندې تش شعار او پوچې وعدې ورکوي، څه موده وړاندې کله چې له هیواده د اروپا په لور د افغان کډوالو څپې مخ په لوړیدو راغلې؛ د ګډ حکومت اجرایه مشر په شعاري بڼه په ځوانانو غږ وکړ چې له هیواده مه تښتئ؛ دلته پاتې شئ او د هیواد په بیا رغاونه کې برخه واخلئ ؛ دا وکړئ او ها ... ددې تر څنګ د ګډ حکومت مشر هم څو ورځې وړاندې یو بله کارنامه وکړه او ویې ویل چې له اروپا څخه د بیرته راستنیدونکو کډوالو لپاره دلته چمتووالی لرو او هغه کډوال چې اوس په اروپا کې د پاڼ او پړانګ تر منځ دي یعنې نه یې د المان دولت قبلوي او نه هم دلته په هیواد کې یې د سر او مال د خوندي کولو لپاره څه شته؛ موږ یې قبلوو چې دلته بیرته راشي. د غني یادې څرګندونې هم په پراخه کچه له غبرګونو سره مخ شوې.

دلته اصلي موضوع دا ده چې ولې اوس هم د ګډ حکومت مشران او چارواکي د فیل په غوږ کې ویده دي؟ دوی ولې اوس هم تش شعارونه ورکوي او ولې اوس هم په ولس د خوبولو خیال کوي؟

اصلاً خبره دا ده چې ددوی ټولو خپلې کورنۍ او اولادونه په بهرنیو هیوادونو کې خوندي دي نو زموږ د اولادونو څه پروا کوي؟
د دوی اولادونه د نړۍ په بهترینو پوهنتونو نو کې زده کړې کوي نو زموږ د اولاد له حاله څه خبر دي چې په کومو شرایطو کې څنګه او څه وخت زده کړې کوې؟
راځئ وګورو چې د ملي یووالي تر نامه لاندې د ګډ حکومت شریکان او چارواکي چیرته اوسې او کورنۍ او اولادونه یې په کوم هیواد کې د ژوند له نعمتونو خوند اخلي:
۱ـ د ګډ حکومت د مشر اشرف غني کورنۍ په امریکا کې
۲ـ د اشرف غني د لومړي مرستیال جنرال دوستم کورنۍ په ترکیه کې
۳ـ د اشرف غني د دویم مرستیال سرور دانش کورنۍ په ایران کې
۴ـ په بنسټ حکومتولۍ کې د غني د ځانګړي استازي ضیا مسعود کورنۍ په دوبۍ کې
۵ـ د ګډ حکومت د اجرایه رییس عبدالله کورنۍ په هندوستان کې
۶ـ د اجرایه رییس د دویم مرستیال محمد محقق کورنۍ په ایران او ترکیه کې
۷ـ د سولې د عالي شورا د نوي مشر یونس قانوني کورنۍ په لندن کې
۸ـ د مالیې وزیر اکلیل حکیمي کورنۍ په امریکا کې
۹ـ د کورنیو چارو وزیر نورالحق علومي کورنۍ په هالند کې
۱۰ـ د دفاع وزارت سرپرست معصوم ستانکزي کورنۍ په ترکیه کې
۱۱ـ د معادنونو او پطرولیم وزیر داود شاه صبا کورنۍ په امریکا کې
۱۲ـ د ملي امنیت شورا مشر حنیف اتمر کورنۍ په تاجکستان او لندن کې
۱۳ـ د ښار جوړولو وزیر سید سعادت منصورنادري کورنۍ په لندن او دوبۍ کې
۱۴ـ د سوداګرۍ او صنایع وزارت وزیر همایون رسا کورنۍ په امریکا کې
۱۵ـ د اطلاعات او کلتور وزارت وزیر عبدالباري جهاني کورنۍ په امریکا کې
دا زموږ د هغه چارواکو د کورنیو اړوند لیست دی چې دلته مو ځوانانو ته نصیحت خو په اصل کې خپله کورنۍ او اولادونه یې په بهر کې د ژوند له نعمتونو خوندونه اخلي. اوس په دې وروستیو کې چې له خپل هیواد څخه تېښته ډیره شوې ده، حکومت باید د دې کار د مخنیوې له پاره کوټلي ګامونه پورته کړي. هغه افغانان چې دلته په افغانستان کې د اروپایې هیوادونو ته د ځان رسولو مالي امکانات لري، فقط د موقې په انتظار دي. که افغان دولت دلته د ځوانانو لپاره د کار زمینه برابره نه کړي او د هیواد امنیت ښه نه شي نو لیرې نه ده افغان دولت به د کاري ځواک او بشري قوې له کمښت سره مخ شي.

لړم یا عقرب/ 1396

# د کابل ـ ډيلي پر اړيکو د پاکستان ژوره اندېښنه

# پر کابل؛ د اسلام اباد د بې بنسټه تورونو او نيوکو لړۍ بيا پيل

په وروستيو کې د کابل ډيلي اړيکو نږديوالي پاکستان ژور اندېښمن کړی دی او يو ځل بيا يې په کابل د نيوکو او بې ځايه تورونو لړۍ پيل کړه. افغان دولت چې په وروستيو کې چې له پاکستانه سخت بېزاره شوی دی؛ په خپله بهرنۍ پاليسۍ کې د پاکستان سيال هيواد هندوستان ته زياته پاملرنه کړې ده. د راپورونو له مخې په نږدې تېرو ورځو کې افغان دولت په پاکستان د سياسي فشار لپاره هندوستان ته مخه کړېده.

څو ورځې وړاندې د افغانستان د ملي امنيت د شورا سلاکار محمد حنيف اتمر هندوستان ته سفر وکړ او د هند د ملي امنيت له سلاکارسره له ليدنې علاوه له نورو هندي نظامي چارواکو سره يې وليدل او د افغانستان د نظامي ځواکونو د تجهيز او اکمال په برخه کې يې ددغه هېواد توجه وغوښته. په دغه سفر کې اتمر له هند سره د دريو هليکوپټرو د قرارداد پرسر خبرې وروستۍ کړې. همداشان بل لور ته د افغانستان د بهرنيو چارو مرستيال وزير حکمت خليل کرزي او د ده هندي ساري ايس جېشينکر په نوي ډيلي کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاريو د زياتولو او په سيمه کې د امنيت د ټينګېدو پر بېلابېلو اړخونو هم خبرې وکړې. د راپورونو له مخې د افغانستان او هند د بهرنيو چارو مرستيال وزيرانو په افغانستان کې د امنيتي وضعيت او د افغانستان د دفاعي وړتياوو له زياتولو سره د هند د مرستې د ژمنو په اړه هم بحث کړی.

هاخوا د ورکړل شويو راپورونو له مخې د هند صدراعظم نرندا مودي پرېکړه کړې چې په نږدې راتلونکې کې افغانستان ته سفر وکړي. تر اوسه د دغه سفر وخت په دقيقه توګه ندی ټاکل شوی خو مودي به په دې سفر کې د افغان لوړپوړو چارواکو سره په امنيتي مسايلو او د افغانستان او هندوستان په اړيکو لا ښه کېدا وغږېږي.
د پورتني درې واړو مواردو او په ورستيو کې د افغانستان او هندوستان د اړيکو نږديوالی د پاکستان د سختې اندېښنې سبب شوی چې په همدې لړ کې يې يو ځل بيا په کابل د بې ځايه تورونو او نيوکو لړۍ پيل کړه.

په داسې حال کې چې د اسلام اباد او کابل ترمنځ اړیکي خړې پړې شوي دي؛ پاکستان بیا هم له افغان خاورې څخه د راکټي بریدونو په اړه اندېښنه ښودلې. پاکستان وايي، پر پاک افغان کډه پوله یې له افغان خاورې څخه د زیاتېدونکیو راکټي حملو په اړه افغان دولت ته اندېښنه ښودلې او دا یې د دواړو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ کډو هدفونو او سوله ییزې اوسېدنې ته نېغ ګواښ بللی دی. د پاکستان پوځي مقاماتو هم څو ورځې وړاندې وو، چې افغان پولي ته څېرمه د جنوبي وزیرستان په انګور اډه سیمه کې له افغان خاورې څخه د پاکستان د امنیتي ځواکونو پر پوستې لږ تر لږه پنځه راکټونه وېشتل شوي. هاخوا بیا افغان دولت هم د پکتیکا ولایت پر انګورو اډه سیمه کې د پاکستان د وروستیو بریدونو په اړه؛ کابل کې د پاکستان سفیر احضار کړی دی. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې په پکتیکا ولایت انګورو اډه سیمه کې د پاکستاني پوځ له لوري په ویشتل شویو توغندیو د افغان سرحدي پولیسو یو سرتېری وژل شوی او درې نور ټپیان شوي دي.

کابل او اسلام اباد په داسې حال کې په یو او بل تورونه لګوي چې د بشري حقوقو د څار نړیوال سازمان پر پاکستاني پولیسو تور پورې کړی چې له افغانانو سره ناوړه چلند کوي، څو هغوی اړ کړي خپل هېواد ته ستانه شي. د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان ویلي وروسته له هغه چې تېر کال پاکستاني طالبانو د دغه هېواد په پېښور ښار کې پر یوه ښوونځي برید وکړ، د ځایي پولیسو له خوا د افغانانو د ځورونو لړۍ تېزه شوې ده.

په کابل د اسلام اباد د تورونو لړۍ کومه نوې خبره نه ده بلکې له دې وړاندې یې کله چې په پاکستان افغان دولت د تروریزم سره د مبارزې لپاره فشار راوړی نو پاکستان په یو نه یو ډول له دغې مسولیته تېښته کړې ده. له پخوا راهیسې اسلام اباد او کابل پر یو بل تورونه لګوي، چې له خاورو څخه یې بریدونه کېږي، خو د ستونزو د اساسي حل لپاره تر اوسه جدي ندی شوی. اصلاً په افغانستان او پاکستان کې د تروریزم د ستونزې حل په یو او بل د تورونو په وسیله نه حلیږي بلکې دواړه هېوادونه دې پر پوله د بریدونو په کډون ټولې ستونزې د خبرو اترو له لارې اواري کړي. خو لوی شرط به یې دا وي چې له پاکستانه دې؛ له تروریزم سره د رښتونې او صادقانه مبارزې ضمانت واخیستل شي.

لړم یا عقرب/ 1396

# د ملېشه سازۍ د ترخې تجربې تکرار

وروسته له دې چې تېره میاشت کندوز ولایت د دریو ورځو لپاره د وسله والو طالبانو په لاس سقوط وکړ او یو شمېر پخوانیو قوماندانانو له امنیتي ځواکونو سره یو ځای د کندوز په جګړه کې برخه واخیسته؛ اوس په یو شمېر شمالي ولایتونو کې د دولت له لوري په شخصي ملیشو د وسلو د وېش راپورونه ورکول کیږي. د راپورونو له مخې په په غزني کې یو پخوانی جهادي قوماندان وایي چې په دغه ولایت کې د امنیت د ټینګښت په موخه حکومت جهادي قوماندانو ته وسلې ورکړې دي. دغه قوماندان وایي حکومت دوی او ځینو نورو جهادي قوماندانانو او ځینو خلکو ته وسلې ورکړې تر څو امنیت ټینګ کړي. د هغه د معلوماتو له مخې، په نږدې راتلونکې کې به د مجاهدینو یوه شورا هم جوړه شي چې د امنیت په ټینګښت به مهم رول ولري. هاخوا بیا د غزني والي محمد هیم نه مني چې ګویا حکومت دې په غزني کې کوم جهادي قوماندان ته وسله ورکړې وي.

خو اساسي پوښتنه اوس دا ده چې دغه ملېشې د امنیت ټینګښت ته ګټورې دي که زیان اړونکې؟ راځئ ددې پوښتنې ځواب په هیواد کې د سیمه ایزو پولیسو له موجودیته چې د قانون په چوکاټ کې فعالیت لري؛ پیدا کړو.

د ارقامو له مخې افغانستان دمکړۍ شاوخوا درې نیم سوه زره امنیتي ځواکونه لري چې له دې ډلې یې یو سلو پنځوس زره ملي پولیس او نږدې دیرش زره نور سیمه ییز پولیس تشکیلوي. په خلکو د سیمه ایزو پولیسو د زور زیاتي اړوند راپورونه ډیر ورکړل شوي دي. همدا اوس هم د غزني د اندړو ولسوالۍ اوسېدونکي وایي چې یو شمېر سیمه ییز پولیس له دې ولسوالۍ په زور ښځې بیایي او بیا یې د پیسو په بدل کې راخوشې کوي. د سیمې خلک شکایت کوي چې د دې خلکو زور څوک نه لري، کور ته ننوځي، مېړوښه یا ځوانه ښځه له ځانه سره بیایي چې ورپسې ورشې بیا وایي چې درې لکه کلدارې راوړه بیا یې پرېږدم او تر څو چې پیسې ورنه کړې، نه یې پرېږدي. دوی داسې ظلمونه کوي چې حتا په کفري نړۍ کې هم سارۍ نه لري. د غزني د اندړو ولسوالۍ د خلکو په وینا دغه سیمه ایز پولیس له خلکو ښځې برمته کوي، پلار ولاړ وي، لور یې ترینه یوسي، ایا دا وحشت نه دی؟ ظلم نه دی؟ دوی ورته انسانان نه ښکاري؟ له دې وړاندې تېره ورځ هم

د اندړو ولسوالۍ اوسېدونکو د غزني د ولايت مخې ته لاريون کړی و او ويل يې چې د شاه ولي په نوم د دې ولسوالۍ يو اوسېدونکی سيمه ييزو پوليسو په بې رحمۍ سره وژلی دی.

دا لومړی ځل نه دی چې له سيمه ايزو پوليسو څخه خلک شکايت کوي، تردې وړاندې هم په بېلابېلو ولايتونو کې د دغه پوليسو له وحشت څخه خلکو شکايتونه کړي. د راپورونو پر اساس دغزني په شلګر کې هم سيمه ايزو پوليسو ۱۷۰ تنه ملکي وکړي له ځانه سره برمته کړي و، همداشان ميدان وردګو کې هم سيمه ايزو پوليسو معلم او محصل تر مرګه وهلي و، د هلمند په ناوه ولسوالي کې يې هم خلک تر مرګه ډبولي و او همداشان په لسګونو نور راپورونه هم شته.

نو د افغانستان د ملي دفاع وزارت په چوکاټ کې دسيمه ايزو پوليسو د شتون له مخې چې ولس اوحکومت ته دومره سرخوږي رامنځته کېدای شي؛ نو څوک ددې ضمانت کوي چې شخصي ملېشې به کويا د خلکو امنيت ټينګ کړي؟

حقيقت دا دی چې د حکومت له لوري پر قوماندانانو د وسلو وېشل امنيتي ستونزې نه کموي، بلکې نورې يې هم ډېروي. ځکه دا کار له امنيت سره د مرستې پر ځای امنيت کوابنې، او بيا سبا همدغه کسان د دولت د سقوط وسيله ګرځي. په داسې حال کې چې موږ امنيتي سکټور لرو ؛ ملي اردو لرو؛ ملي پوليس لرو او ملي امنيت هم لرو نو بيا د افغان ځواکونو له چوکاټ بهر د خلکو وسله وال کول او ملېشې جوړول څه معنا؟ که څوک د امنيت د ټينګښت په نامه شخصي ملېشې جوړوي؛ دا ولس ته د منلو وړ نه دي او افغان حکومت بايد هيڅکله د دغه ترخې تجربې تکرار ته اجازه ورنکړي. اصلاً د حکومت له چوکاټه بهر د مخالفينو پر ضد د مبارزې په نوم هر ډول وسله وال فعاليت د بهرنيو کتې خوندي کوي چې افغانستان به يو ځل بيا د مليشه جوړونې د ترخې تجربې شاهد وي. کاونډي هېوادونه غواړي چې دلته د وسله والو د ځپلو په نامه ملېشې جوړې کړي چې بيا وروسته همدا ملېشې حکومت ته سرخوږی جوړېږي. که درې لسيزو وړاندې حالاتو ته وګورو نو دغه شخصي ملېشې موږ ته بښې ندې تمامې شوې، که دغه شخصي ملېشې د دفاع وزارت په چوکاټ کې يا د کورنيو چارو وزارت په چوکاټ کې، د ملي اردو، ملي پوليسو او ملي امنيت سره په مرسته کولو بدلې شي نو پايله به يې ډېره ښه وي.

لړم يا عقرب/ 1396

# د یوې غوا دوه بچیان؛ دواړه منصوران د یوې سوړې ماران د وسله والو طالبانو تر منځ اختلاف ولې او چا رامنځته کړ؟

د ملا اختر محمد منصور او ملا منصور داد الله تر منځ وروستی اخ و ډب او تر شاه یې پراته لاسونه

د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر د مړینې له اعلان وروسته د یادې ډلې په مشرۍ اختلافات راپورته شول. د څو ورځو چنو وهلو وروسته بلاخره ملا اختر محمد منصور د یادې ډلې رهبري په غاړه واخیسته چې سمدستي ملا منصور د یو شمیر نورو کوچنیو ډلو له غبرګون سره مخامخ شو. د ملا منصور په مخالفانو کې یو هم ملا عبدالمنان نیازی او ددوی ډله وه چې په ورستیو کې یې د ملا رسول په مشرۍ خپل رسمي رهبریت څرګند کړ. د ورستیو راپورونو له مخې د یادو ډلو تر منځ اختلافات او اخ و ډب دومره جدي شوی چې یوازې د زابل په خاک افغان ولسوالۍ کې یې له تیرې اونۍ راهیسې د ملا منصور دادالله او ملا اختر محمد منصور د ډلو تر منځ په جګړو کې تر ۱۲۰ طالب وسله والو ته مرګ ژوبله اوختې ده. په خاک افغان ولسوالۍ کې د ملا اختر محمد منصور لخوا د خپلې سیالې ډلې د ځپلو لپاره تقریبا ۸۰۰ جنګیالي رااستول شوي دي.

تول په دې پوهیږي چې غوا توره ده او شیدې یې سپینې دي، اوس په دې وروستیو کې چې د وسله والو طالبانو د نوي مشر ملا اختر محمد منصور او له دوی د بیلې شوې ډلې ملا منان نیازي ډلې تر منځ د جنګ جګړو او مرګ ژوبلې خبرونه ورکول کیږي نو په ډیکو روانه د افغان د سولې پروسه یې هم ټکنې کړیده. د دغو دواړو ډلو تر منځ د جنګ جګړو راپورونو خلک هم اندېښمن کړیدي او د دوی په دوه ډلو وېشل کېدو؛ د ولس او د شنونکو نظرونه هم سره په دوه برخو وېشلي دي. یوه ډله شنونکي د وسله والو طالبانو اختلاف د افغان سولې په ګټه بولي او وایې چې په دې سره طالبان نه یوازې دا چې په سیاسي لحاظ سره وېشلي او کمزوري شویدي بلکې په نظامي لحاظ هم بې توانه شوي دي او نور به له افغان دولت سره د مخامخ جګړې توان ونه لري.

بله ډله بیا د وسله والو طالبانو په لیکو کې اختلاف او په وروستیو کې د ملا منصور او ملا منان نیازي ډلو تر منځ اخ و ډب د افغان دولت او افغان سولې سره په ګټه نه بولي.

خو حقیقت بل څه دی، د وسله والو طالبانو په دوه ډلو وېشل او تر منځ یې وروستي اختلافات او اخ و ډب؛ طبیعي نه دي بلکې دا د آی ایس آی او د پاکستان د پوځ پخوانی پلان دی چې غواړي پر مټ یې په افغانستان کې د جګړې ډګر کرم وساتي او بیلابیل وختونه د سولې پروسې ته پرې خنډونه جوړ کړي. پاکستان له پخوا پلان لري چې په افغانستان کې به د جګړې ډګر کرم ساتي او د وخت د غوښتنو سره سم به د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره په بیلابیلو نومونو بیلابیلې ډلې رامنځته کوي. د همدې پلان په جریان کې یې په وروستیو کې د افغانستان لپاره د داعش پروژه پر مخ واچوله. خو لکه څرنګه چې داعش ډله د افغان حکومت له کلک مقاومت سره مخ شوه او دا پروژه یې چندان ښه ونه برېښېده نو پاکستان هم د بدیل په لټه کې شو هماغه و چې وسله وال طالبان یې په دوه ډلو وویشل.

که څه هم د وروستیو راپورونو له مخې چې ویل کیږي د زابل په خاک افغان ولسوالۍ کې د ملا اختر محمد منصور او ملا منصور دادالله تر منځ جګړه ؛ د ملا اختر محمد منصور د سیالې (ملا منان نیازي) ډلې د ځپلو او د هغه چا پر ضد ښکاري چې د وسله والو طالبانو تر منځ د اختلاف رامنځته کوي؛ خو په حقیقت کې دواړه منصوران (ملا اختر محمد منصور او ملا منصور دادالله) د یوې سوړې ماران دي. دواړه د پاکستان ګوډاګیان دي او دواړه د پاکستان د ګټو لپاره جنګیږي. دواړه ډلې د پاکستان لخوا جنګ ته هڅول کیږي او په دې ترتیب غواړي د افغان سولې لپاره یو بل خنډ رامنځته کړي.

پاکستان اوس غواړي ددوی دواړو له منځه یوه ډله له افغان دولت سره د سولې د مذاکراتو میز ته کینوي او په دې ترتیب افغان دولت خوشحاله، له نړیوالو نور امتیازات تر لاسه او له خپله ځانه د تروریزم د روزونکي او پالونکي نوم لیرې کړي. د پاکستان د پلان له مخې به بله ډله بیا هم د جګړې ډګر کرم ساتي او تر هغې به جنګیږي څو پورې چې په افغان جګړه کې خپلې ګټې خوندي وینې.

لړم یا عقرب/ 1396

# له څند وروسته د کابل ـ ډیلي اړیکو نوی رنګ

په دې وروستیو کې، کابل او ډهلی د اړیکو له نسبي څند وروسته یو نوي او متفاوت پړاو ته داخل شوي او په دې ترڅ کې د هند صدراعظم نرندا مودي پړیکړه کړې چې په نږدې راتلونکې کې افغانستان ته سفر وکړي. کابل ته د هند د صدراعظم سفر له لسیزو وروسته نوی ګام دی، چې فکر کېږي، دهندوستان حاکم ګوند غواړي د من موهن سنګ د تګلارې خلاف په جرأت سره له افغانستان سره د اړیکو پاللو لاره خپله کړي. تر اوسه د دغه سفر وخت په دقیقه توګه ندی ټاکل شوی. نریدرا مودي په داسې حال کې کابل ته راځي چې د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حنیف اتمر ډیلي ته دوه ورځنی سفر درلود او د هند د ملي امنیت له سلاکارسره له لیدنې علاوه له نورو هندي نظامي چارواکو سره یې ولیدل او د افغانستان د نظامي ځواکونو د تجهیز او اکمال په برخه کې یې ددغه هېواد توجه وغوښته. په دغه سفر کې اتمر له هند سره د درېو هلیکوپټرو د قرارداد پرسر خبرې وروستۍ کړې او له افغان ځواکونو سره یې دهند مرسته ځکه ضروري وګڼله چې وسله وال یاغیان پرافغانستان سرېیره دسیمې نورو هېوادونو ته په چټکۍ د پراخیدو په لټه کې دي.

نوي ډیلي ته د افغانستان د ملي امینت د شورا سلاکار حنیف اتمر سفر ډېر ګټور و، یوه ښکاره ګټه خو یې دا شوه چې په سیمه کې د افغانستان لپاره د سیالو هیوادونو تر منځ یې سیالي رامنتځته کړه لکه په وروستیو کې افغانستان له روسیې؛ چین او هند سره اړیکې ټینګې کړې او په کې یادو هیوادونو له افغانستان سره د یو شمیر نظامي مرستو ژمنه هم وکړه لکه د روسیې څخه د سپکو او درنو وسلو د ژمنې اخیستل او له هند څخه د جنګي څرخکو د اخیستلو ژمنه. له افغانستان سره دغه د سیمې د لویو قدرتونو ژمنې ددې سبب شوې چې په افغانستان کې ښکیل سیال هیوادونه دلته د خپل سیاسي نفوذ پراختیا په فکر کې شي. په دې لړ کې دا دی اوس امریکا هم له افغانستان سره د جنګي الوتکو د ورکړې ژمنه کړې ده.

بل پلو لکه څرنګه چې کلونه کېږي چې د افغانستان او پاکستان اړیکې په یو حالت سالمې نه دي پاتې. کله یې اړیکې تر منځ خوږې او کله ترخې شي، د پاکستان د دوه مخې سیاست له امله ډېرى وختونه دغه هیواد ته د دښمن په سترګه کتل شوي دي. ځکه پاکستان تر هغه وروسته چې د طالبانو د رژیم یو پیاوړی ملاتړی و، پر افغانستان د امریکا او ملګرو تر برید وروسته یې په افغانستان کې خپلو ستراتیژیکو موخو د تر لاسه کولو لپاره له طالبانو د نیابتیانو کار اخیستی او لا هم دا چاره په مخ بیایي. د پاکستان په اړه په وار وار داسې

شواهد وړاندي شوي چې کني په افغانستان کې د ټولې جګړې جرړې د ډیورنډ کرښې ها خوا دي. هند ته د افغانستان د ملي امنیت د شورا سلاکار حنیف اتمر د سفر بله ګټه دا شوه چې په پاکستان هم افغان دولت یو ډول سیاسي فشار راوړ چې نور له خپل دوه مخي سیاسته لاس واخلي کنې افغانستان به د پاکستان د غوښتنې خلاف؛ هندوستان ته ځان نږدې کړي. په پاکستان دغه فشار کولی شي چې دغه هیواد د افغانستان لپاره په خپل سیاست کې یو اندازه تغیر راولي.

له ډیلي سره د کابل د اړیکو بیا غښتلتیا له هغه وروسته ترسره کیږي، چې په افغانستان کې ګډ حکومت یو کال له پاکستان سره د طالبانو پرسر د سولې لپاره هر راز هڅې جاري وساتلې، خو په وروستیو کې د ګډ حکومت شریکان په دې پوه شول چې پاکستان د طالبانو د مهار کولو او د سولې مېز ته کینولو ته لیواله ندی.

افغانستان تل د پاکستان د شومو موخو او ناوړې ارادې ښکار شوی دی. په تېرو څو لسیزو کې دغه هیواد په افغانستان په کې مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه یو خطرناک سیاست مخ ته وړی دی. د دې سیاست ګټه که نورو استخباراتي کړیو یا پاکستان پورته کړې، خو زیان یې افغانستان لیدلی دی. بل پلو د ګډ حکومت په لمړیو کې پاکستان ته د افغانستان نږدیوالی ددې سبب شو چې هند له دې وضعیته اندېښمن شي. د هند دا اندېښنې هغه مهال په ډاګه شوې، چې هندي چارواکیو په افغانستان کې په اوږدمهاله او بنسټیزو پروژو کې له پانګونې ډډه وکړه. نو په ډاګه ویلی شو چې د هند د دې اندېښنو د لرې کولو او کمولو لپاره دغه هیواد ته د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حنیف اتمر سفر او په مقابل کې یې کابل ته د هند د صدراعظم نریندار مودي ډیر کتور دی.

همدا راز په عین وخت کې یو بل حقیقت دا هم دی چې له هندوستان سره د افغانستان د اړیکو نږدې والی به پاکستان په ژوره توګه اندیښمن کړي او د افغانستان سیاست او افغان دولت به یو ځل بیا د پاکستان تر سختو نیوکو لاندې راشي.

لړم یا عقرب/ 1396

# متفکر ولې تېروتنې کوې

د ولسمشر د خبرو متن باید له بیلابیلو مراحلو د ارزونې په خاطر تېر شي. د کارپوهانو په باور د ولسمشر خبرې باید پر حقایقو ولاړې، توري او کلمات یې عام فهمه وي، او د خبرو متن یې باید کره ارزول شوی وي. ولسمشر باید په څو ځلې د خپلې وینا لیکلی متن له ځان سره ولولي او خلکو ته له ویلو وړاندې یې باید ځان په کره والي ډاډمن کړي تر څو د خلکو پر وړاندې ترې کومه لفظي یا بله اشتباه ونشي. په عمومي توکه د ولسمشر د وینا متن په دوه ډوله وي:

لمړی: د وینا د متن هغه ډول چې سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي او نظامي مسایل په بر کې نیسي. دا د وینا هغه متن دی چې ولسمشر خلکو ته د حکومت د کارونو او پروګرامونو اړوند معلومات ورکوي.

دویم: د وینا د متن هغه ډول چې د کورنیو او بهرنیو عامو موضوعاتو اړوند وي. په دغه ډول د وینا متن کې ولسمشر خلکو ته د اخترونو، نوي کال، د خپلواکۍ ورځې او یا هم نورو ملي او مذهبي ورځو اړوند خبرې کوي.

په ارګ مانۍ کې باید د بیانیه لیکونکي په توګه یو کارپوه شتون ولري څو د ولسمشر د وینا متن په دقیق ډول وارزوي. کله چې د ولسمشر د وینا متن د ارزونې له بیلابیلو مراحلو تېر شي بیا باید د ټولنپوه لخوا هم د ټولنیزو اصولو او شرایطو په نظر کې نیولو سره و ارزول شي، ټولنپوه مکلف دی چې د متن د کلماتو، جملو او د هغوی د وزن اړوند تحلیل وکړي او په ټولنه د متن د کلماتو د منفي او مثبت اغیز په اړه د متن له لیکوال او ارزونکو سره شریک کړي. وروسته باید ولسمشر یاد متن له ځان سره څو ځلې تکرار کړي، که چیرې ولسمشر ته د متن دکماتو او جملو اړوند کومه پوښتنه وي باید مخکې تر مخکې یې له لیکوال او ارزونې ټیم سره شریکه کړه، کله چې له کره والي یې پوره ډاډه شو نو بیا دې ولس ته وړاندې کړي.

ولسمشر غني څو ورځې وړاندې د کابل په لوېدیځ کې د نبي اکرم (ص) حسینیه او جامع جومات کې د عاشورا په مراسمو کې د کېدون پر مهال، د رسول (صلی الله علیه وسلم) لمسی، امام حسین (رض) د «خدای لمسی» وباله. اشرف غني چې له لیکلې پاڼې څخه یې خپله وینا لوسته، وویل: «'نواسه خدا' حضرت امام حسین رضی الله تعالی عنه و یاران فداکارش در این روز درس ایثار، فداکاری، شجاعت و پایمردی را به جان آموخت...».

د ولسمشر له دې تېروتنې وروسته په خواله رسنیو کې پر اشرف غني پراخې نیوکې وشوې. محمد اشرف غني د بښنې په توګه وویل: «د افغانستان ټولو خلکو ته څرګندوم چې د عاشورا د نمانځنې په اړه وینا کې لفظي

ټېروتنه وشوه. سره له دې چې له شرعي لحاظه دغه ډول ټېروتنې بښنل کېږي، د الله تعالی له درګاه څخه بښنه او له حسيني ويرژنو معذرت غواړم».د شهادت ويب پاڼې د راپور پر اساس ولسمشر پخوا هم ورته ټېروتنې کړې دي. اشرف غني تاجکستان کې يوې غونډې ته د وينا پر مهال ويلي و: «هغه کتاب چې له نبوي احاديثو څخه وروسته ډېر اهميت لري، بخاري شريف دی». بخاري د رسول صلی الله عليه و سلم د احاديثو تر ټولو معتبر کتاب ګڼل کېږي.

لکه څنګه پورته يادونه وشوه چې د ولسمشر متن په خپل سر کوم عادي کس نه شي ليکلی او د ارزولو لپاره له بيلابيلو مراحلو تېرېږي نو بيا ولې ولسمشر خلکو ته په ويناوو کې سهوې، اشتباهات، غلطيانې او ټېروتنې کوي؟

آيا د ولسمشر روغتيايې حالت نورمال نه دی چې سمې خبرې ناسمې وايې او که له مذهب، کلتور او تاريخه ناخبر دی؟

ولسمشر غني په داسې حال کې لفظي ټېروتنې کوي چې د نړۍ د دويم متفکر افتخار له ځانه سره لري. د ولسمشر د يادو شويو ټېروتنو وروسته اوس پوښتنه پيدا کيږي چې د نړۍ له دويم متفکر څخه ولې ټېروتنه وشي، او هغه هم داسې ټېروتنه چې په اسلامي او مذهب پورې اړوند وي؟ ولس غواړي پوه شي چې ولسمشر ته د وينا متن د ليکلو او ارزولو مسول څوک دی چې ولسشر په لوی لاس د غبرګون سره مخامخ کوي؟

ولسمشر په ارګ کې بې شميره سلاکاران لري، ډېر ليکوالان، اديبان او د قلم خاوندان لري چې هر يو يې په سلهاو زره افغانۍ مياشتينۍ تنخواګانې لري نو بيا ولې د نړۍ له دويم متفکره چې په لسکونو سلاکاران لري؛ داسې لفظي اشتباه تکرار شي؟ دا سمه ده چې انسان له ټېروتنو خالي نه دی خو د يو ولسمشر په سطحه بايد داسې ټېروتنه ونشي چې خلک يې مذهبي او عقيدوي حيثيت تر پوښتنې لاندې راولي او بيا داسې ولسمشر چې د نړۍ د دويم متفکر افتخار هم له ځانه سره لري. نبايد د افغانستان غونډي اسلامي هيواد ولسمشر تل په مذهبي ويناوو کې له دا ډول نه جبرانيدونکو لفظي ټېروتنو سره مخ وي، ځکه د ولسمشر هر ډول کتبي او شفاهي ويناوې د هيواد د لومړي مقام په حيث خپل ځانګړی اهميت لري چې په هر توري او جمله يې خاص حساب کيدای شي.

لړم يا عقرب/ 1396

# مفت خواره سلاکاران

د پخواني ولسمشر حامد کرزی پر اداره تر ټولو مهمه نیوکه دا وه، چې د سلاکارانو دولت او اداري په جوړولو سره یې، تشکیلاتی تورم رامنځته کړی و. مصلحتی کسان به یې راوستل او په بڼه ډالري معاش او دولتی امکاناتو سره به یې سلاکار ټاکه. خلکو د نوي حکومت په جوړیدو سره هیله درلوده چې دټېر حکومت نیمګړتیاوې په ختمې شي او ژوند به یې بڼه شي خو کله چې د ولس په رایه معامله وشوه او د ملي وحدت تر نامه لاندې د غني او عبدالله ګډ حکومت جوړ شو نو نه یوازې دا چې د تېر حکومت نیمګړتیاوې یې ختمې نه کړې بلکې په خپله د ډیری ستونزو د زیږیدو سبب شو. د ګډ حکومت مشران او شریکان هم د تېر حکومت په ناروغۍ اخته شول او له هغې یې ناروغي زیاته شوه. دلته د ګډ حکومت د یو کلنې دورې په ټولو نیمګړتیاوو نه غږیږو خو د نمونې په شکل یې یوازې د مفت خورو، بې سواده او کم تجربې سلاکارانو نیمګړتیاو ته اشاره کوو.

د ارګ او اجرایوي ریاست سلاکاران چې شمیر یې له اټیاوو اوړي؛ په میاشتني ډول تر دوه سوه زره افغانیو لوړ معاشونه اخلي. د مالیې وزارت چارواکي وایي چې دغو سلاکارانو ته میاشتنی حقوق د هغوی وړتیا ته په کتو ورکول کیږي. دا سمه ده چې هر ولسمشر قانوني حق لري چې د چارو د لا سمون لپاره سلاکاران وټاکي اما قانون بیا ورته معیار هم ښودلی دی. استعداد لرونکی، وړ او مسلکي انسان هغه که ولسمشر وي ، که وزیر وي ، او که معین او رییس ، ډیرو کمو سلاکارانوته اړتیا لري ؛ له بده مرغه چې د ګډ حکومت په سلاکارانو کې دا اصل تر شا غورځول شوی او یوازې د کمپاین معیار په پام کې نیول شوی.

هغه کسان چې په ټاکنیز کمپاین کې یې ونډه اخیستې له هر ډول مسلکي معیارونو پرته د ګډ حکومت د شریکانو د سلاکارانو په توګه ټاکل شوي دي. دغه سلاکاران داسې دي چې نه یې کار معلوم دی نه یې تشکیل او نه هم حاضری یواځې د معاش په ورځ یې سر او صورت را پیدا کیږي او نور یې درک نه وي. په ګډ حکومت کې اجراییه ریاست هم خپل د بندار اندیوالان ؛ خپل سلاکاران ټاکلي دي. د نوموړي مرستیالانو هر یو محمد محقق او محمد خان هم د بندار اندیوالان ځانونو ته سلاکاران ټاکلي دي چې معاشانونه یې د دولت د مالي بدنې څخه اجرا کیږی چې د ملت پر وړاندې ستره جفا یې ګڼلی شو.

ارګ او اجرایه ریاست په بیلابیلو نومونو خپل د کمپیان غړي او نور ملګري د خپلو سلاکارانو په نامه په لوړو امکاناتو او امتیازاتو ګمارلي دي لکه له نشه یي توکو سره د مبارزې په چارو کې سلاکار، د اقوامو او قبایلو په چارو کې سلاکار ، په مطبوعاتي چارو کې سلاکار ، د ښځو د اواری چارو کې سلاکار ، دقومونو په چارو

کې سلاکار، د سیمه ییزې حکومتولۍ په چارو کې سلاکار ، په ټولنیزو چارو کې سلاکار ، د سرحدونو په چارو کې سلاکار، په خصوصي برخه کې سلاکار ، په دیني چارو کې سلاکار ، د ځوانانو په چارو کې سلاکار ، په علمي چارو کې سلاکار ، د کوچیانو په چارو کې سلاکار ، د مخابراتو او مواصلاتو په چارو کې سلاکار، د جهادي امورو سلاکار او داسې په لسګونو نور سلاکاران. دغه سلاکاران یوازې د خپل معاش او امتیاز په غم کې دي او بس؛ نور په عملي ډګر کې هیڅ نه دي. د دغو سلاکارانو کټورتوب له لاندې تحلیل ښه څرګندېږي.

## د اقتصادي برخې سلاکاران

غني به د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال ژمنه کوله چې د افغان ولس په دسترخوان کې به مثبت بدلون راولي، خو دا خبره هم برعکس شوه او ګڼو افغانانو د خپل دسترخوان پر سر وچه ډوډۍ هم له لاسه ورکړه چې همدا اوس له هیواده د کاري ځواک تېښته او د یو میلیون کسانو وزګارېدل یې ښه بېلګه ده. دلته د ولسمشر اقتصادي مشاورینو څه وکړل د ولس دغم خوړلو لپاره یې کومه مشوره ورکړه؟ ولسمشر ژمنه کړې وه چې اداري پېرسوب او فساد به له منځه وړي خو دا دی په دې برخه کې لسګونو مشاورینو یې کوم داسې مشوره ورکړه چې ګویا د فساد مخنیوی وکړي؟

### د حقوقي برخې سلاکاران

تېره ورځ د غني په لارښوونه؛ د ښار جوړونې وزارت د محکمې د پرېکړې پر خلاف د کابل بانک په دوسیه کې د لومړی درجې تورن خلیل الله فیروزي سره یو هوکړه لیک لاسلیک کړی وو، چې پر اساس به یې د نومړي پر ځمکه د سمارټ سیټي په نامه یو ښارګوټی جوړېږي. دا هوکړه لیک چې د ښارجوړونې وزارت لخوا د اشرف غنی د فوق العاده استازی احمد ضیاء مسعود ، د مشرانو جرګې د مرستیال، د ولسمشر د حقوقي سلاکار او نورو لوړ پوړو دولتي چارواکو په شتون کې لاسلیک شوې وه ؛ هغه وخت لغوه اعلان شو کله چې د ګډ حکومت شریکان د ولس او نړیوالو له کلک غبرګون سره مخ شول. نو دلته بیا د ولسمشر حقوقي سلاکاران هم تر پوښتنې لاندې راځي چې ولې یې د یو مجرم سره چې لاهم په بند محکوم دی؛ قرارداد لاسلیک کړ؟ که د ارګ سلاکاران په خپل مسولیت پوهیدلی نو هیڅکله به یې غني ته دا ډول شرمناکه مشوره نه ورکوله چې وروسته بیا پرې پښیمانه شي.

## د امنيتي برخې سلاکاران

سره له دې د ملي وحدت حکومت د خپل کار له پیل څخه د موازي ادارو د لمنځه وړلو، د امنیت د ټینګښت او په هیواد کې د سرتاسري سولې سینه ډبوله؛ په وروستیو کې د کندز ولایت او د یو شمېر ولایتونو د ولسوالیو د سقوط پېښې ددې ګواهي ورکوي چې کډ حکومت په خپلو ژمنو کې نه یوازې چې پاتې راغلی بلکې د ژمنو خلاف یې ترسره کړي دي. که چیرې د امنیتي برخې سلاکاران یې مسلکي، پوه او تجربه کاره سلاکاران وای نو نن ورځ به په ولس دغه بدمرغي نه راتله.

## د پالیسی او سیاسي برخې سلاکاران

په سیاسي برخه کې هم د ارک او اجرایه ریاست سلاکارانو خپل مسولیت نه دی ترسره کړی، تاسې وګورئ تر اوسه مو په هیواد کې د کومو سیالو هیوادونو تر منځ په اړیکو کې انډول په نظر کې نیولی دی. اصلاً دغه سلاکاران د ډیپلوماسی او سیاست په معنې نه پوهیږي.

## د فرهنګي او ټولنیزې برخې سلاکاران

همدا څه موده وړاندې ولسمشر غني د عاشورا په مراسمو کې د ګډون پر مهال، لفظي اشتباه وکړه او د رسول (صلی الله علیه وسلم) لمسی، امام حسین (رض) د «خدای لمسی» وباله. له دې تېروتنې وروسته په خواله رسنیو کې پر اشرف غني پراخې نیوکې وشوې چې بیا له امله یې غني خدایه او ولس بخښنه وغوښته. دلته هم د ولسمشر د فرهنګي او ټولنیزې برخې سلاکاران تر پوښتنې لاندې راځي چې ولې یې د وینا په متن کې دا اشتباه کړې وه چې بلاخره ولسمشر هم په هماغه ډول ولوستله او بیا د ولس له غبرګون سره مخ شو.

لړم یا عقرب/ 1396

# پر اساسي قانون د تطبیق د څار کمېسیون؛ څه کړي او څه به وکړي؟

د هېواد اساسي قانون د ۱۵۷مې مادې له مخې، د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسیون د قانون د احکامو له مخې جوړېږي او د دغه کمېسیون غړي د ولسمشر له خوا د ولسي جرګې په تایید ټاکل کېږي. په همدې لړ کې تېره ورځ د ګډ حکومت د مشر اشرف غني له لوري د یو فرمان په صادرلو سره؛ سرور دانش شپږ کسان د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسیون او یو کس د سترې محکمې د عالي شورا د نوماند غړي په توګه ولسي جرګې ته ور وپېژندل. دانش ولسي جرګې ته د یادو کسانو د معرفۍ پر مهال زیاته کړه موږ هغه وخت کولی شو چې د قانون حاکمیت په ریښتینې معنا بنسټیز کړو چې د اساسي قانون پر څار د پلي کېدو کمېسیون له ولسمشر، د هغه د مرستیالانو او وزیرانو په ګډون ټول لوړ پوړي چارواکي تر څارنې لاندې ونیسي او په ټاکلو وختونو کې یو ځل د قانون د پلي کېدو وضعیت او د سرغړونې موارد د افغانستان له خلکو سره په ټولو جزئیاتو شریک کړي. خو که په افغانستان کې وګڼل شي اساسي قانون تر ډېره د همدغو دولتي چارواکو په ځانګړي ډول د هغو لخوا چې د حکومت په راس کې قرار لري؛ تر پښنو لاندې کېږي.

په حقیقت کې اساسي قانون(Constitution Law) د یو هېواد تر ټولو عالي حقوقي سند ګڼل کیږي چې د قوانینو د مور حیثیت لري. یعنې د یو هېواد نور ټول قوانین د اساسي قانون په چوکاټ کې تدوین کیږي نو هیڅ موضوعي قانون د اساسي قانون سره په ټکر کې نشي واقع کیدای. د هېواد ټول اتباع یاد قانون ته ژمن وي او ټول قانون ته ځان تابع ګڼي؛ نه دا چې قانون ځانته تابع کړي. له بده مرغه چې دلته په افغانستان کې بیا خبره سرچپه ده، دلته قانون په عام ولس تطبیق کیږي اما چارواکي ترې مستثنی دي، دلته په غریبو بېچاره و قانون پلی کیږي او قانون ته تابعدار وي خو چارواکي او زورواکي بیا دلته قانون ځانته تابع ګڼي. دلته قانون د عام ولس لپاره بېل او د چارواکو او زورواکو لپاره ځانګړی بېل تعریف لري. اصلاً دوی قانون ته وفاداره نه دي، بنه بېلګه یې د ولسمشر او اجرایوي رییس له لوري آن د نوي حکومت د پیل په لومړي ورځ ( د ولسمشر د لوړې پر ځای کولو) په ورځ د قانون ماتول؛ چې د اساسي قانون خلاف؛ د حکومت د دواړو شریکانو تر منځ د سیاسي هوکړې له مخې یې؛ د اجرایه ریاست پوست رامنځته کول دي. له دې ورهاخوا د ګډ حکومت په یوه کلنه دوره کې په خپله د همدغو چارواکو لخوا د اساسي قانون پښنتې ماتې شوي دي. د اجرایه پوست رامنځته کول، د ولسي جرګې کاري موده په غیر قانوني بڼه غځول، د سلاکار له لوري چې اجرایوي صلاحیت نه لري؛ د اجراتو کول لکه د کابلبانک له پورورې سره قرارداد کول چې د عبدالعلي محمدي په امر شوي و، د اساسي قانو اته څلوېښتمې مادې څخه ښکاره سرغړونه چې یاده ماده حکم کوي: کار د هر

افغان حق دی. خو دلته د چارواکو زامن، ورونه، خورییڼه، د کاکا زامن او د چارواکي خپلوان د کار کولو حق لري آن د یو چارواکي خپلوان په درېیو پوستونو هم کار کوي او د غریب بیچاره زوی که ماسټري هم ولري؛ بېې دندې کرځي. بڼه بیلګه یې د اجرایوي ریس له لوري د مصطفی مستور ؛ چې برحاله د مالیې وزارت مرستیال دی اوس د پخوانی دندې په شتون کې د اجرایه ریاست د ځانګړي سلاکار په توګه ټاکل شوی دی.
د اساسي قانو د یوشپېتمې مادې تر پښو لاندې کول چې یاده ماده حکم کوي: جمهور رئیس د رایې ورکوونکو د آزادو، عمومي، پټو، او مستقیمو رایو ورکولو له لارې په سلو کې ترپنځوسو د زیاتو رایو په ترلاسه کولو انتخابېږي. د همدې مادې بله فقره وایې : د انتخاباتو په دویم پړاو کې هغه څوك چې د رایو اکثریت ترلاسه کړي، جمهور رئیس ګڼل کېږي. خو دلته تاسې ولیدل چې ددویم پړاو ټاکنو د پایلو تر څرګندیدو وروسته بیا هم حکومت د دوه سیالو ټیمونو تر منځ پنځوس پنځوس فیصده وویشل شو. او داسې نور په لسګونو موارد شته چې پخپله د چارواکو له لوري د قانون د ماتونې نمایندګي کوي.
پوښتنه دلته ده چې که پر اساسي قانون د څار کمېسیون په آزاد او خپلواکه توګه او په رښتینې معنا له اساسي قانونه څار کولی نو بیا ولې یې ددې دومره لویو قانون ماتونو مخنیوی ونه کړ؟ ولې یې په زغرده غږ ونه کړ چې ولسمشره، اجرایه ریيسه، وزیره یا هم هر بل چارواکیه تا له اساسي قانونه سرغړونه کړې؟ او که په رښتیا دوی له اساسي قانونه څار کولی شوای نو بیا ولې یې په هیواد کې د هېواد اساسي قانون د تصویب له نېټې تر اوسه چې تل د حکومتي کسانو په ځانګړي توګه د دولت د درې کونو قواوو له خوا قانون نقض شوی؛ مخنیوی ونکړ. همداراز د دغې کمېسیون له نویو غړو هم ډیره تمه نشي کېدلای چې کویا له اساسي قانونه به په بېې پرې توګه څارنه وکړي، احتمال لري چې دوی به لکه د تیر کمېسیون؛ له اساسي قانون سره سیاسي چلند کوي او د حکومتي مشرانو له تاثیر لاندې به راځي.
بیا هم مونږ هیله مندي لرو چې لکه څنګه چې د قانون حاکمیت او پلي کېدل د هېوادونو لپاره د ښې حکومتوالي اساسي پایه او کلي ده نو پر اساسي قانون د څار کمېسیون ټول غړي مکلف دي چې لمړی خپل ځان قانون ته تابع کړي او په ځان یې عملي کړي او بیا په هغه چارواکو چې د حکومت له پیله یې په قانون ماتونه پیل کړی او د نوي حکومت ینسټ یې په قانون ماتونه ایښي؛ د قانون د تطبیق څار وکړي. له دې ورهاخوا د چارواکو په شمول ټول ولس باید هڅه وکړو چې د اساسي قانون او نورو قوانینو ساتنه وکړو ځکه چې د اساسی قانون او نورو موضوعی قوانینو مصونیت د قانون حاکمیت(Rule of Law) په معنا ده.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# په بورسونو کې فساد؛ د چارواکو غواګانې بیا لنګې شوې

هند له افغانستان سره د ښو اړیکو د لا پیاوړتیا په موخه د راتلونکي (۲۰۱۶) کال لپاره افغان محصلینو ته د ۱۰۰۰ بورسونه ورکوي. په دې بورسونو کې پر لېسانس او ماسترۍ سربېره د ډوکټورا دوره هم شامله ده. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت وايي، چې شل تنه به په هند کې د ټولنپوهنې، تاریخ، مالیې، اقتصاد، کرنې او نورو برخو کې د ډوکټورا لپاره معرفي شي.

دا په داسې حال کې ده چې د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز وايي چې په هیواد کې فساد دومره ریښې ځغلولې چې آن په دولتي ادارو کې یې سیستم له منځه وړی او له یادې پدیدې سره یې مبارزه له ستونزو ډکه کړې ده. د یاد بنسټ په باور په افغانستان کې اداري فساد بیلابیل عوامل لري، درغلي او د قانوني اسنادو سوځول، د حقیقت پټول، له خلکو سره غیر انساني چلند او له دندې په دولتي بستونو کې د کمارلو پر محال بې مورده او غیر قانوني توګه ګټه اخیستل.

هر کال یو شمېر هیوادونه د افغانستان له لوړو زده کړو وزارت سره د سلګونو تحصیلي بورسونو مرسته کوي او په دې توګه کړې افغان  زده کوونکي د لیسانس، ماسترۍ او دوکتورا لپاره بهر ته ځي خو د افغانستان د فاسد نظام له امله تر ډېره دغه بورسونه حقدار ته نه سپارل کیږي او په دې لړۍ کې پراخ فساد شتون لري. ویل کیږي چې د لوړو زده کړو وزارت یو شمېر چارواکي په دې تحصیلي بوروسونه کې درغلي کوي او د زرګونو ډالرو په اخیستلو سره یې په تور بازار کې پلوري. دغه تحصیلي بورسونه په لوړو ډالري قیمتونو پلورل کیږي او په دې توګه هغه چاته بورس نه رسیږي چې په په رښتینې توګه د بورس مستحق وي.

دلته تحصیلي بورسونه هم په تجارتي شکل په تور بازار کې په لوړ قیمت پلورل کیږي او دا کار له کلونو کلونو روان دی. په دې برخه کې وزیران، د وزیرانو سلاکاران، د دولتي ارګانونو رییسان، مدیران، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې وکیلان، والیان، ولسوالان او آن د وزارتونو ویندویان هم خپله خپله ونډه لري. دوی هر یو په بورسونو کې خپلې ټاکلې ونډې لري، ځینې یې خپل اولادونه، وریرونه، خپلوان بهر ته د بورسونو له لارې استوي او ځینې یې بیا خپله ونډه بورسونه په تور بازار کې له لوړو ډالري قیمتونو پلوري. آن داسې راپورونه هم شته چې د لوړو زده کړو وزارت هر بورس په دوه سوه زره افغانیو پلورلی دی.

که څه هم افغانستان په تېر کې په اداراتو کې د فساد د شتون له امله لومړی او دویم مقامونه خپل کړي دي خو اوس دا دی د پوهنې او لوړو زده کړو په برخه کې هم دغې پدیدې ریښې کړي دي. د ځینو راپورونو پر اساس په ښوونځیو او پوهنتونو کې د بډو ورکړه، په رسمي ځایونو کې د خپلوانو مقرری، په بورسونو کې ورتیا په پام کې نه نیول او په کانکور کې فساد هغه موارد دي چې د پوهنې او زده کړې بهیر یې په فساد ککړ کړی دی. د وروستیو راپورونو له مخې ویل کیږي چې د لوړو زده کړو وزارت داسې کسانو ته بورسونه ورکړي چې فیصدي یې تر شپېتو ټیټه ده. حتا داسې کنکوسې هم شته چې داسې کسانو ته بورسونه ورکول شوي، چې د دولسم د فراغت سند هم نه لري.

که څه هم ډیری وخت په لوړو زده کړو وزارت کې د فساد راپورونه ورکول شوي دي؛ خو نه یوازې دا چې د لوړو زده کړو وزارت د تحصیلي بورسونو په وېشنه کې فساد کړی دی؛ بلکې یو شمیر بهرني سفارتونه هم تحصیلي بورسونه د سیاسي اړیکو له لارې او د قومي وېش پر بنسټ ورکوي.

په افغانستان کې له بده مرغه ډېر شمېر تحصیلي بورسونه د دې پر ځای چې د شرایطو واجدینو ته ورسیږي، داسې کسانو ته ورکول کیږي چې یا خو له چارواکو سره خپلوي لري او یا هم زورواکان وي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم په دغه وزارت باندې د فساد تورونه پورې شوې وو او د تحصیلي بورسونو په برخه کې د پراخ فساد راپورونه ورکړل شوي وو.

حکومت باید په تحصیلي بورسونو وېش کې د اداري فساد او ستونزو مخنیوی وکړي؛ څو د هېواد راتلونکی نسل له وخت سره سم په عصري علم سمبال او خپل هېواد ته د خدمت جوګه وګرځي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# حکومت د کډوالو په زخمونو مالګې اچوي

د کډ حکومت مشر؛ غني اروپا ته د خپل وروستي سفر په ترځ کې یوې بهرنۍ رسنۍ سره؛ اروپا ته د افغان کډوالو د تلونکې څپې اړوند مرکه کړې ده. په یاده مرکه کې غني یو ځل بیا په اروپا کې د افغان کډوالو په زخمونو د مرهم پټۍ پر ځای مالګې دوړولي دي. غني په دې مرکه کې ویلي : دا چې افغانان په خپل «هیواد کې وسائل شي، دریو شیانو ته اړتیا ده: لومړی دا چې هغوی کار ته اړتیا لري. دوهم دا چې هغوی مسلکي زده کړو ته اړتیا لري، څو دندې ولري او دریم هغوی استوګنځایونو ته اړتیا لري.» د ولسمشر غني په خبره آلمان په دغو ټولو برخو کې مرسته کولای شي او زیاتوي چې «د آلمان مرستې ۳۰ میلیونه خلکو ته متوجې دي، نه ۳۰ زرو ته.»

په دغه مرکه کې د اشرف غني له خبرو داسې ښکاري چې غني په المان کې د افغان کډوالو سره د ځایي چارواکو د سمې رویې د غوښتلو او هلته د هغوی د ځای پر ځای کولو پر ځای له الماني حکومته غواړي چې له افغان حکومت سره مرسته وکړي څو دلته ځوانان په کار شي او له هېواده ونه وځي. که څه هم له الماني حکومته د غني د مرستې غوښتنه او دلته په هېواد کې د ځوانانو د اشتغال خبره سمه ده خو داسې هم باید ونه شي چې اروپا ته د تللو کډوالو په سرنوشت لوبې وشي. په کار نه ده د هغه کډوالو چې دلته یې خپل مال، حال، جایداد او کورونه پلورلي او دلته په خپل راتلونکې بې باوره شوي؛ بېرته له اروپا څخه راوشړل شي.

ویل کېږي په دغه مرکه کې ولسمشر غني د ژورنالیست د یوې پوښتنې په ځواب کې وایي چې دلته (اروپا کې) افغانان څه کوي چې پاتې کېږي او د خلکو ظرفونه وینځي. خو ژورنالیست بیا ورته غبرګه کوي چې تاسې خو هم ډېر وخت په اروپا کې پاتې شوي یاست، د کابینې ډېری وزیران دې هم دلته اوسي او آن کورنۍ یې هم همدلته دي. دلته بیا غني په ژورنالیست غصه کېږي او د ژورنالیست له لاسونو هغه سپین کاغذ هم اخلي چې ژورنالیست پرې سوالونه لیکلي و.

له دې مرکې وړاندې هم اشرف غني د اروپایي هېوادونو له حکومتونو سره ویلي و چې افغان دولت دلته په خپل هېواد کې له اروپا راشړل کېدونکي کډوال قبلوي.

اروپا ته تللي او تلونکي افغان کډوال ډېری یې هغه خلک دي چې دلته په هېواد کې په خپل راتلونکي بې باوره شوي دي، افغان حکومت یې د سر د خوندیتوب او سولې لپاره اړین کار نه دی کړی، دوی چې دلته یې خپل ژوند په خطر کې ولید نو اړ شول چې له هېواده پښې سپکې کړي چې لوی علت یې هم دلته د غني او عبدالله د کډ حکومت ناکاره او ضعیفه حکومتولي ده چې په تېره یوه کلنه دوره کې نه یوازې دا چې ددوی د سر د خوندیتوب فضا یې رامنځته نه کړه بلکې امنیتي وضعیت ورځ تر بلې د ترینګلتیا طرف ته درومي.

اصلاً په اروپا کې د افغان کډوالو اړوند د ولسمشر وروستۍ څرګندونې غیر منطقي او هلته د ټولو افغان کډوالو په حق کې جفا ده. ولسمشر څنګه دلته د افغان کډوالو د بېرته راتګ لپاره د زمینه سازۍ خبره کوی؟ ولسمشر د هېواد امنیتي، اقتصادي او سیاسي حالات نه ویني چې له خلکو سرونه پرې کیږي، خلک په بمونو الوزول کیږي، کوچنیان مو په منځ دوه پرکې څیري کیږي، په اداراتو کې اداري فساد اوج ته رسیدلی، د حکومت شریکان لګیا دي ټول خپل او خپلوان په پوستونو ګماري آن تر دې چې د حکومت اجرایه رییس خپل اوښی په یوه وخت کې درې ځایه په دندو ګمارلی، د ګډ حکومت په تېره یو کلنه دوره کې د حکومت په داخل کې د حکومت د پنځمې ستنې شتون ښکاره شو، د هېواد ځیني ولایتونه او یا یې ځینې برخې د امنیتي ګواښ تر سرې کرښې لاندې دي آن د کندز د ښار په شمول د نورو ولایتونو ځینو ولسوالیو هم سقوط وکړ، په وروستیو کې د جنګ سالارانو، ټوپکمارانو، قاتلینو، مافیاوو او پخوانیو جهادي قوماندانانو ته وسله ورکړل شوه، د ګډ حکومت په یوه کلنه دوره کې هېواد له بودیجوي کسر سره مخامخ شو او له هېواده پانګونې فرار وکړ، د ځانمرګو بریدونو، بمي چاودونو، اختطاف او د صحرایي محکمو په ګراف کې لوړوالی راغی، په خصوصي پوهنتونو کې اداري فساد اوج ته ورسیدو چې د لیسانس او ماسټرۍ جعلي سندونه پلورل یې ښکاره بیلګه ده، د نورو کلونو په پرتله د افغان امنیتي ځواکونو په مرګژوبله کې ډیروالی راغی، د بیکارۍ له وجې د وسله والو له لیکو سره ځیني ځوانانو یوځای شول او که شمار وشي په لسګونو نورې؛ بیلګې داسې هم شته چې د ا فغان حکومت په ناکاره او ضعیفې حکومتولۍ دلالت کوي.

دغه افغان کډوال چې د ګډ حکومت له ناکاره حکومتدارۍ څخه په تنګ راغلي او په خپلې راتلونکې بې باوره شوي دي؛ له افغان حکومته د دوی په حق کې انصاف او عدالت غواړي. دغه کډوال چې دلته یې د خپل سر، مال او عزت د خوندي ساتنې لپاره د اروپا خطرناکه سفر ته غاړه ورکړې او دلته یې د اروپا د سفر د خرڅ په خاطر خپل مال، حال، ځمکې، جایدادونه ا و کورنه پلورلي؛ له افغان حکومته غواړي چې د مهربانۍ له مخې دې د هېواد امنیتي او ا قتصادي حالت له سترګو تېر کړي او بیا دې د دوی اړوند له نورو اروپایي هېوادونو سره معاملې کوي. دوی دلته امنیت، سوله، ټیکاو، کار، زده کړې او د هېواد پرمختګ غواړي؛ نه دا چې د هېواد حالت دې ورځ تر بلې د بحران خوا ته روان وي او دوی دې هم بېرته خپل هېواد ته راوکرځي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# خرڅ شوي مدني کوډاکیان او د بشر حقونو بنسټونه

هر کله چې ما غېږ پورته کړی دی دوی قوم پرسته او نژاد پرستانو راباندې کلکه نیوکه کړې او ویلي یې دي چې پام داسې څرګندونې مه کوه چې دغه مو د پښتون، هزاره، تاجک، ازبیک او نورو قومونو ترمنځ نفرت پیدا کوي خو دلته فکر نه کوي چې له ما سره همدا چلند شوی دی، زه هم تروریزم ځپلی یم، له ما نه هم سرونه پرې شوي دي، زما ماشوم هم په منځ دوه پرکه ځیرې شوی دی، زما ولس هم ژوندی په بمونو الوزول شوی دی، زما ولس هم دغه تېر کلونه په لسګونو کړاوونه او دردونه لیدلي دي، دغه تېر کلونه یوازې زما له ولسه تروریزم قرباني اخیستلې ده خو دا ګناه زمونږ وه چې وړ او مناسب غبرګون مو ونه ښود، ملامت مونږ و چې د نورو خلکو د مظاهرو غوندې مو په ارګ برید ونه کړ، ګناهکار مونږ و چې خپل په بمونو الوزول شوي خلک مو ارګ ته رانه وړل، مونږ پړ یو چې په خپل غږ مو ارګ ونه لړزولو.

ښاغلیه پوه شه، دا زه چې نن خپل غږ پورته کوم؛ دا د تبعیض، کرکې، غچ او نفرت په مانا نه دی، نفرت هله پیدا کیږي چې ما ته په کم نظر ګورې، ته مې درد او غم نشې لیدلی خو مور یې زغموو! که په دې کار باندې نفرت توکیږي نو همدا اوس دې راوتوکیږي، له مور به نور څه واخلې ؟

دا نن چې د وردګو په سیداباد کې پر ما کوم آفت راغلی او پر وراندې یې غبرګون ښایم؛ دا زما حق دی له دولته یې غواړم. که چیرې مو د اشرف غني خبره په یاد وي: هغه ویلي دي چې: هیڅ افغان له بل افغان څخه کم نه دی. نو باید ثابته شي چې په رېښتیا هم کم نه دی.

دلته د افغانانو تر منځ توپیري چلند کیږي، که چیرې زه راپاڅم او خپل غږ پورته کوم نو بیا ځینې راپیدا شي وایي چې داسې خبرې مه کوه چې له دې نه بیا د پښتون او نورو قومونو تر منځ نفاق پیدا کیږي خو دوی بیا دومره فکر نه کوي چې آیا دا زه مسلمان نه یم؟ ایا افغان نه یم؟ ایا ددې خاورې نه یم؟ ایا په دې حکومت حق نه لرم؟ ایا دې حکومت ته مې رایه نه ده ورکړې؟ تاسې ښاغلي لومړی دغو پوښتنو ته ځواب پیدا کړئ او بیا د قومونو تر منځ د کرکې د لمنځه وړول خبرې وکړئ.

هغوی چې د مظاهرې او حق غوښتنې په نوم په ارګ ورختل او نظام یې نسکوراوه هغه هیڅ دي او د خپل حق غوښتل دي او مونږ چې خپل حق غواړو؛ دا د قومونو تر منځ د نفرت پیدا کول دي..!

دلته له افغانانو سره توپیري چلند کیږي، دلته افغان حکومت، د بشر دحقونو خپلواک کمیسیون، ځینې سیاسیون، مدني فعالان، د بشر د حقونو بنسټونه او رسنۍ له افغانانو سره توپیري چلند کوي، دوی ټول د افغانانو وینې، غمونه او دردونه سره جلا بولي. که یې نه منۍ نو اوس چیرته دي:

اوس چېرته دي ارګ میشتي؟ اوس چېرته دی افغان حکومت؟ اوس چېرې ورک دی د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون؟ اوس چېرته ویده دي سیاسي مبارزین؟ اوس ولې ورک دي مدني فعالان؟ اوس ولې ړانده دي د بشر د حقونو بنستونه؟ او اوس چېرته ورکې دي رسنۍ؟

تاسې ته وایم اې د بشر د حقونو ټیکه دارانو؛ په کوم کوړ او هدیره کې پټ یاست؟ ړانده یاست یا کاڼه؟ ای هغه خلکو چې ځانونه احساس لرونکي څوانان، هیوادپال او مدني فعالان یادوی؛ اوس چیري یاست؟

هغه وخت مو چې اووه نور هېوادوال شهیدان شوي و؛ نیږدې و چې په ارګ وخیږی او نظام په بل مخ واړوی، خو اوس چې د وردګو په سیداباد کې مو کوچنیان په شهادت ورسیدل؛ چیرې مو ځانونه پټ کړي دي؟

د دوی جنازې کابل ته نه لیږدوی؟ مظاهرې او لاریونونه نه کوی؟ په کوم ځانګړي قوم یې پړه نه اچوی؟

هغه مزدورې او پردیپالې رسنۍ چې تل یې د ګروګان یا تښتول شویو افغانانو په حق کې نارې وهلې او بشپړ خبري ساعتونه یې ورته د بحث لپاره ځانګړي کول؛ اوس د دغو کوچنیانو د شهادت خبر ولې نه نشروي؟ آیا د ننګرهاري، د میدان وردګو او هلمندي ماشوم وینه د جاغوري له ماشوم سره فرق لري؟

اوس پوه شولو چې تاسې پوچ مغزه او د نفاق په ناروغۍ ککړ انسانان یاست چې د مدني فعال، د بشر حقونو کمیسیون، او سیاسي مبارزینو په نوم له خپل موجودیته کټه پورته کوۍ.

ټول افغانان د اسلامي، انساني، اخلاقي او افغاني اصولو او د اساسي قانون له مخې یو ډول حقونه لري او ټول د یو و بل ورونه او خویندې دي. په پښتون، تاجک، هزاره، ازبیک او نور کیدلو کې خیر او قوت نشته، تر هغو چې افغانان نشو، دښمن به راکې لاسوهنې کوي او ا فغانستان به آباد نه شي.

دا زموږ ټولو افغانانو حق دی چې د خپلو شهیدانو پوښتنه وکړو، راځئ چې ټول دا حق وغواړو، موږ ټول افغانان یو، موږ باید ذهنیت سازي وکړو، موږ غریب افغانان یووالي ته اړتیا لرو؛ نه نفاق او بد بینۍ ته.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# د آسیا زړه کنفرانس کې کېدون؛ پاکستان ته امتیاز ورکول

د آسیا زړه هېوادونو کنفرانس، چې پاکستان یې کوربتوب کوي؛ د افغانستان پر امنیتي او پرمختیایي مسایلو بحث د دې کنفرانس د اجنډا یوه برخه ده. وړاندې په دې غونډه کې د ولسمشر د کېدون په اړه شک ښودل شوی و ، خو وروسته له هغې چې ولسمشر د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا له ځانګړي استازي سره وکتل، د اسیا زړونو په کنفرانس کې یې کېدون ته زړه ښه کړ.

داسې راپورونه هم ورکړل شوي چې پاکستاني چارواکو په یوه وروستۍ غونډه کې له افغانستان سره د اړیکو د ښه کولو پریکړه کړې. بل پلو راپورونه وايي، ولسمشر به دا ځل په زغرده پاکستاني چارواکو ته ووايي چې پخلاینې ته له لېوالو طالبانو سره دې جلا چلند وکړي، خو د سولې مخالفو طالبانو پر ضد باید قاطع عملیات وشي.

خو که له پاکستان سره تېرو اړیکو، د دغه هېواد ژمنو او تېرو کېدو کنفرانسونو ته وګورو نو له دې کنفرانسه هم د خیر تمه نشي کېدلای. په وروستیو کې چې پاکستان د افغان دولت او چین له فشارونو لاندې دی او په خپله هم په سیاسي انزوا کې د راګیر کېدو په درشل کې دی؛ پاکستان ته د ولسمشر غني سفر کټور نه بلکې پاکستان ته یو ډول امتیاز او نړیوال باور ورکول دي. پاکستان چې د ترهګرۍ ضد مبارزه کې د پاتې راتلو له امله د نړۍ د ډېرو هېوادونو له سخت فشار لاندې دی، دلته یوځل بیا غواړي چې نړیوال تېر باسي او څرګنده کړي، چې په دې مبارزه کې له افغانستان سره کېدې هڅې کوي. دا هغه دوه مخی سیاست دی، چې دغه هېواد یې له کلونو راهیسې پر مخ بیايي او له دې سره یې نه یوازې افغان دولتونه بلکې نړۍ هم تېر اېستلې ده.

اصلاً په دغه کنفرانس کې د ولسمشر په توګه د غني کېدون؛ په سیاسي لحاظ د افغانستان او په خپله د ولسمشر لپاره مناسب نه و ځکه په یاد کنفرانس کې د نورو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران او د ځینو سازمانونو غړي کېدون کوي چې په دې کې د ولسمشر په توګه د اشرف غني کېدون مناسب نه دی او باید چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او یا هم بل داسې کس کېدون کړی وای چې په سیاسي لحاظ د نورو هېوادونو له استازو سره په موقف کې برابر وای لکه حکمت خلیل کرزی.

اصلاً له پاکستانه لپاره د خير تمه کول د ځان تېر ايستل او د وخت ضايع کول دي. دغه هېواد سره خبرې کول؛ اوبش ته رباب وهل دي. تاسې فکر وکړئ له پاکستان سره تر اوسه، په دې اړوند څومره خبرې شوي، څومره لکښتونه وشول، څومره وختونه ضايع شول او څومره کنفرانسونه او د دواړو لورو سفرونه وشول؟ پايله يې څه شوه؟ دا هر څه پاکستان په اوبو لاهو کړيدي، پايله يې يوازې د پاکستان دوه مخيتوب او تکراري ژمني وې. دغه هېواد هيڅکله افغانستان ته ښه نيت نه لري، له کومې ورځې چې دافغانستان اوپاکستان تر منځ د ډيورند کرغيړنه کرښه رامنځته شوې؛ پاکستان تل هڅه کړې چې افغانسان له پښو وغورځوي او خپلو شومو اهدافو ته ځان ورسوي.

د آسيا زړه هيوادونو له کنفرانسه هيڅ تمه بايد ونه لرو ځکه دا ډول غونډې په تېر کې هم ډېرې شوي او دا ډول ژمنې پخوا هم ډېرې شوي خو يوه ژمنه يې هم نه ده عملي شوې. تل پاکستان د خپل هدف د ترلاسه کولو لپاره په هيڅ ډول غير اسلامي، غير انساني او غير اصولي کړنې سرفه نه ده کړې. د بيلګې په توګه: له مجاهدينو يې ګټه واخيسته، زمونږ ۲۵۰ کلنه اردو يې له منځ يوړه، د کورنۍ جګړې لپاره يې طالب راته جوړ کړ، د افغانستان ټول تاريخي اثار يې نيم په بو والوزول او نوريې چور کړل او اوس يې هم زړه نه دی سوړ شوی، اوس مو عالمان دالقاعده په نوم ورکوي، قومي مشران مو د جاسوس په نوم ورکوي او په هېواد کې يې قومي نفاق اچولو ته هم زور ورکړی دی. نو له دغه ټولو واقعيتونو څخه د خبراوي  باوجود که اوس مونږ بيا هم له پاکستانه د خير تمه لرو نو دا بيا زمونږ په پوره ناپوهۍ دلالت کوي.

له دغه کنفرانسه په هغه صورت کې د خير تمه کېدلای شي چې ولسمشر د ياد کنفرانس ټولو ګډونوالو ته په واضح ډول او جدي توګه ووايي زمونږ دښمن په پاکستان کې روزل کيږي، تجهيز کيږي، چمتو کيږي او خوندي پناه ځايونه لري؛ تر هغو چې پاکستان زمونږ له خپله کوره ونه باسي او روزنه او ملاتړ يې بس نه کړي؛ له دغې هېواد سره به هيڅ ډول اړيکې ونه ساتو. ولسمشر بايد د ياد کنفرانس له لارې په افغانستان کې د روان جنګ ادرس څرګند او نړيوالو ته په ګوته کړي. غني بايد د اسيا زړه په کنفرانس کې پاکې او سپينې خبرې وکړي او په هېواد کې روانې ناامنۍ ته د حل لارې چارې ولټوي.

ليندۍ يا قوس/ 1396

# د څوکیو میراث خواره

په نوره نړۍ کې که یو لوړ پوړی چارواکی له دندې استعفا کوي یا هم له دندې ګوښه کیږي او که یا د کار موده یې پوره کیږي نو پر ځای یې هغه کس ګمارل کیږي چې د خپل هېواد اړوند کافي پوهه او هر اړخیز معلومات ولري. هغه کس یې پر ځای ټاکل کیږي چې که په بشپړه توګه نه وي نو په اړین ډول د خپل هېواد له جغرافیې خبر وي، د خپل هېواد له ولس خبر وي، د ولس له اساسي غوښتنو او مجبوریتونو خبر وي، د خپل هېواد له وګړو، قومونو، مذهبونو، سیاسیونو او مشاهیرو خبر وي، داسې کس یې پر ځای ټاکل کیږي چې د خپل هېواد له سیاسي، اقتصادي، امنیتي، نظامي او طبیعي ځواکمنیا خبر وي، د خپل هېواد له تاریخ، مالي سرچینو، طبیعي منابعو، تیرو لاسته راوړنو او نیمګړتیاوو او اوسنیو امکاناتو او لاسته راړونو سربېره؛ ددې هېواد ته د ګاونډیو، سیمه ایزو او نړیوالو هېوادونو له اړتیاوو او ارزښتونو خبر وي. خو دلته په جنګ ځپلي او د سیاسیونو ناکاره سیاست ځپلي هېواد افغانستان کې بیا خبره بل ډول ده. دلته هر څه سرچپه دي.

دلته په افغانستان کې څوکۍ یا میراثي ده او یا هم د هغه چا ده چې د مالي او زور له اړخه بډایه وي. دلته هغه څوک واک ته رسیږي چې یا یې پلار، ورور، کاکا، ماما او یا هم د کورنۍ بل غړی د منصب خاوند وي، دلته د څوکۍ او منصب معیار وړتیا، پوهه او تجربه نه بلکې معیار واسطه، رشوت، اړیکې او ارتباطات دي، دلته په افغانستان کې څوکۍ میراثي ده، که یو څوک له یوې دندې ګوښه کیږي، کاري موده یې پوره کیږي او یا هم استعفا کوي نو پر څوکۍ یې بیا جنګونه شروع شي. دلته په افغانستان کې که یو څوک استعفا کوي نو د مستعفي کس یا هم د بل چارواکي، زورواکي او یا هم د جهادي رهبر ځوي، ورور، کاکا، ماما او نور غړي یې په یاده څوکۍ سرونه ماتوي. دلته د مستعفي کس مرستیالان او د یادې ادارې نور کارکوونکي بیا یاده څوکۍ خپل حق ګڼي.

دوی دېته نه ګوري چې دا بست کلیدي بست دی او دوی یې وړتیا نه لري، دوي دیته پام نه کوي چې دا بست د دوې له وړتیا پورته دی، دوی له ځان سره دومره فکر هم نه کوي چې د دوی پوهه دومره نه ده چې د یادې څوکۍ واکونه او مسولیتونه په درسته توګه ترسره کړي؛ خو بس یوازې د څوکۍ د خپلولو په هڅه کې وي.

همدا تېره ورځ چې دلته یو کلیدي پوست خالي شو نو د ځایناستي لپاره یې بېلا بېلو کړیو ځانګړي نوماندان وړاندې کړي دي، د راپورونو له مخې اوس د یادې څوکۍ لپاره په وړ کس د ټاکل کېدو پر سر ناندرۍ پیل شوې او ګڼ شمېر نوماندان مخې ته راغلي دي. د یادې څوکۍ لومړی مرستیال چې د زده کړو او عمر له اړخه د یادې څوکۍ وړ کس نه دی؛ ځان ددغې څوکۍ اصلي حقدار ګڼي او غوښتنه لري چې باید د ملي وحدت حکومت دې دی پر یادې څوکۍ کېنوي. د ملي وحدت د حکومت یوه باوري سرچینه وایي چې دغه مرور کس په راتلونکې کې ځان د یادې څوکۍ اصلي حقدار ګڼي او غوښتنه یې داده چې باید ولسي جرګې ته د یادې څوکۍ د نوماند په توګه ور وپېژندل شي.

پوښتنه دا ده چې دغه کسان چې په څوکۍ سرونه ورکوي او د څوکۍ د ترلاسه کولو لپاره په هیڅ رنګه غیر قانوني کړنو سرفه نه کوي؛ آیا دوی د هېواد او ولس له غمه مړه دي او که د خپلو شخصي، سیاسي، سمتي، قومي او ګوندي غوښتنو له امله په څوکۍ سر ورکوي؟

که د ولس د خیر او نیکمرغۍ غوښتونکي وي نو باید په خپله برخه قناعت وکړي او پرې دې ږدي چې یو بل وړ او تجربه کار شخص په یاده څوکۍ وګمارل شي. خو نه داسې نه ده، دوی اصلاً د هېواد او ولس له غمه مړه نه بلکې د واک او ځواک تږي دي او د خپلو شخصي، سیاسي، سمتي او ګوندي ګټو او غوښتنو پر سر اخیستي دي. زموږ د هېواد او ولس د اوسنۍ بدبختۍ یو لامل هم همدا میراث خواره د څوکۍ ټیکه داران دي، نن ورځ چې زموږ هېواد او ولس له کوم سیاسي، اقتصادي او امنیتي بحران سره لاس او ګرېوان دی؛ اصلي او لوی لامل یې همدا د واک او ځواک تږي رهبران دي. همدغه فکتور اصلي لامل دی چې نن ورځ موږ د سیمې په کچه ناکاره حکومتولي لرو. تر هغو چې دلته کار اهل کار ته ونه سپارل شي او د روابطو ځای ضوابط او وړتیا ونه نیسي، او تر هغو چې له لوړې کچې نیولې آن تر ټیټې ماموره پورې؛ د څوکۍ پر سر مو جنګونه روان وي نو دا خوار ولس به همداسې د همدغو ناکاره رهبرانو په انحصار کې ایسار وي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# د فساد شعاري مبارز؛ د فساد په لومو کې

فساد په لغت کې ویجاړولو، ګنده کې او تباهۍ په معنی دی. په انګلیسی کی ورته Corruption وایې او د لاتینی کلیمی Crupper څخه اخیستل شوی چی د ماتولو په معنی دی. فساد هغه پدیده چی د هغې پواسطه یوشی ماتیږی، کیدای شي چې دا ماتیدونکی شی اخلاقي ارزښتونه وي، یاهم ټولنیز اساسات او یاهم اداري اصول. فساد په یوه ټولنه کې منابع ضایع کوي او له منځه یې وړي، ښه حکومتداري له چلنجونو سره مخامخ کوي، اقتصادي پرمختیا کوابښي او بلاخره د ټولنې نظم او امنیت تهدیدوي.
په نړۍ کې هغه هېوادونه چې تر ټولو ډکې زیات اداري فساد موجود دی؛ د جنوبي آسیا یو شمیر هېوادونه دي او افغانستان په نړۍ کې لومړی او دویمه درجه هیواد یاد شوی دی چی ډکی اداری فساد زیات دی. اداري فساد، رشوت او له قانون څخه سرغړونې په زیات شمېر هېوادونو کې په یوه او بل ډول جارې دي، خو د افغانستان په څېر په جنګ ځپلو هېوادونو یې اغیز ډېر ناوړه او څرګند وي. په څوارلسو کلونو کې نړیوالو، افغانستان ته د میلیاردونو ډالرو مرستې ورکړې، مګر اغیز یې د ولس له هیلو سره سم نه تر سترګو کیږي.
که څه هم د پخواني ولسمشر حامد کرزي په دوره کې افغانستان د نړۍ د مفسدو هیوادو په قطار کې لومړی مقام خپل کړی و؛ خو د کډ حکومت یو کلنې دورې وښودله چې د ملي وحدت په نامه جوړه شوې اداره تر پخوانۍ هغې دوه برابره مفسده ده .په تیر حکومت کې هم په دولتي اداراتو کې فساد اوج ته رسیدلی و او خلک ټول نوي حکومت ته سترګې په لار و خو د نوي حکومت په رامنځته کېدو سره نه یوازې د ولس هغه هیلې چې له فساده په امان افغانستان یې غوښتو؛ پوره نه شوې بلکه اداري فساد نورې ریښې هم وکړې، چې د حاجیانو د لېږد په بهیر کې ستر فساد او د لوټ شوي کابل بانک د رئیس خلیل الله فیروزي له خوا چې په لس کاله بند محکوم و، د سلهاوو ملیونو ډالرو د تعمیري پروژې تړون یې څرګندې بیلګې دي.
راځې دلته له فساد سره د کډ حکومت د مشرانو په ځانګړي ډول د ولسمشر غني شعارونه او عملي مبارزه پرتله کړو.
د کډ حکومت دواړو شریکانو د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال د فساد سره د مبارزې لپاره خپلې سینې ډبولې. ولسمشر او اجرائیه رئیس له اداري فساد سره پر مبارزې باندې ټینګار کاوه. ولسمشر غني یوه ورځ پارلمان ته د وزیرانو د معرفي کولو پر مهال هم وویل چې هر وزیر چې په اداره کې یې فساد موجود وي تر تعقیب لاندې نیول کیږي. افغان ولسمشر محمد اشرف غنی او اجرا یوی رییس عبدالله عبدالله د خپلو ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال له اداری فساد سره پر مبارزې باندې ټینګار کاوه.آن دا چې ولسمشر غنی د منتخب ولسمشر په توګه د لوړې په مراسمو کې هم ټینګار وکړ، چې د ده تر مشرۍ لاندې اداره کې به اداری فساد په هیڅ کچه ورته د منلو او زغملو نه وي. خو وروستي راپورونه ښیي چې د فساد سره د مبارزې دغه شعاري مبارز

نه یوازې دا چې د فساد سره په مبارزه کې پاتې راغلی بلکې په خپله د خپلو سلاکارانو او شاوخوا کسانو له امله د فساد په لومو کې راګیر شوی دی.
تېره ورځ د ولسي جرګې غړي نقیب الله فایق ادعا وکړه چې د ولسمشر سلاکار داود سلطانزوی سږ کال د حاجیانو د لېږد په بهیر کې درې میلیونه ډالره فساد کړی او باید تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې ونیول شي. نوموړی وایي داسې اسناد ورسره دي چې ښيي د سږ کال د حاجیانو د لږد په بهیر کې ستر فساد شوی دی. د فایق په خبره کورني هوايي شرکتونه حاضر وو چې حاجیان په ټیټه بیه سعودي عربستان ته ولېږدي؛ خو نوموړي په لوړ لګښت له یوه بهرني شرکت سره تړون کړی دی.
همدا راز څو ورځې وړاندې د ولسمشر د حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي په لارښوونه د افغانستان د ښار جوړونې وزارت د کابل بانک د یو لوی قرضداري خلیل الله فیروزي سره؛ چې لاهم په لس کاله بند محکوم دی؛ د سمارټ سیټي په نوم د ښارګوټي د جوړولو تړون لاسلیک کړی و چې په پراخه کچه د خلکو او سیاسیونو له غبرګون سره مخامخ شو. کله چې د فیروزي سره د یاد تړون د لاسلیکولو له امله کړ حکومت له پراخو نیوکو سره مخ شو نو بیا ارګ د یو فرمان له مخې یاد تړون لغوه کړ. د تړون په اړه د ولسمشر سلاکار ویلی و، چې یو بندي د رخصتۍ حق لري او کولی شي، د هغه ښارګوټي په پرانېست غونډه کې ګډون وکړي، چې د ده پر ملیکت جوړیږي.
هاخوا د ولسي جرګې غړی اکبر ستانکزی او د لوګر امنیه قوماندان یو پر بل د قانون ماتولو تورنه لګوي. د لوګر امنیه قوماندان مل پاسوال داوود احمدي وایي اکبر ستانکزی د ځمکو په غصب، د کانونو په خپلسره سپړنو او جنایي جرمونو کې لاس لري، خو ستانکزی بیا تور پورې کوي، چې کواکې امنیه قوماندان د اصلي دندې پر ځای شخصي کارونه کوي. دا لومړی ځل نه دې چې د ولسي جرګې غړي او ولایتي چارواکي یو پر بل د فساد ،غصب او قاچاق تورونه پورې کوي. وړاندې هم په ملي شورا کې د یوشمیر استازو او ولایتي چارواکو لخوا یو پر بل ورته تور پورې شوي دي.
خو اساسي پوښتنه دا ده چې له فساد سره د مبارزې ګټوره لاره څه ده؟
د اداري فساد د له مینځه وړلو اساسي چاره داده چې لوړ پوړي چارواکي چې د ټبرو کلونو څخه په قدرت کې دي په دې نه دي توانیدلي چې په خپلو اړوندو وزارتو، ادارو او موسساتو کې اداري فساد له مینځه یوسي؛ باید کوښنه او د ولسي محکمې منګولو ته وسپارل شي. اصلاً اداري فساد له پورته څخه را روان دی. که وزیر په اداري فساد اخته نه وي معین او رییس یې فساد نه شي کولای خو که وزیر یا د هري اداري مسول په فساد اخته وي؛ تر لاس لاندي چارواکي یې هم په فساد ضرور اخته کیږي. په حقیقت کې اوبه له پورته خوانه خړي دي نو هیڅکله نشي کیدلای چې دا اوبه له لاندي خوانه رڼې کړو.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# د ګډ حکومت بې بندوباره خپلسري

د ملي يووالي په نوم ګډ حکومت له پيل راهيسې په خپلمنځي ناندريو بوخت دی او د پنځوس پنځوس سلنه د واک ويش پر اساس يې هر څه نيمايي دي. د دغه دوه سره معجون حکومت مشرانو آن د وفادارۍ سوګند له ورځې تر دې دمه ډېر قانون مات کړی او له سرو کړښنو يې پښنې اړولې دي. د ګډ حکومت د شريکانو نورو قاون ماتونو پسې يې نه ګرځو خو دلته يې يوازې د سلاکارانو او وزيرانو د خپل سرې او بې بندوباره ګمارنې اړوند غږېږو.

د نوي حکومت له راتګ سره سم ډېر کسان له دندو پرته له دې چې کاري مصونيت يې په پام کې ونيول شي له دندو لرې شوي دي او نوي کسان يې پر ځای ټاکل شوي دي. په ورستيو کې ويل کيږي چې د ګډ حکومت په وزارتونو کې خپل سري روانه ده او هر وزير، سلاکار او بل چارواکی؛ خپل پلوي کسان راولي او پر لويو پوستونو او لوړو ډالري معاشونو يې ګماري.

۱ـ تقريبا يوه مياشت وړاندې رسنيو د ماليي په وزارت کې د فساد او خپلسرې ګمارنې راپوروونه ورکړل. افغان ځواک خبرې پاڼې د ماليي وزارت د پخواني ويالد عبدالقادر جيلاني په حواله راپور ورکړی و چې اکليل حکيمي د ولسمشر له حکم پرته خپل خپلوان په لوړو پوستونو ګمارلي دي. جيلاني ويلي و؛ کره اسناد ورسره دي چې د ماليي په وزارت کې د شته وزير اکليل حکيمي نيږدې خپلوان مقرر شوي دي. جيلاني داسې اسناد هم له رسنيو سره شريک کړي ول چې د حکيمي له لوري نوي ګمارل شوي کسانو منځنی معاش يې دوه سوه زره افغانۍ ښوده او ان داسې کسان هم پکې و چې درې سوه زره افغانۍ معاش اخلي.

۲ـ د کليد ګروپ د راپور پر اساس د عامې روغيا وزارت نوې رهبرۍ د ملکي خدماتو د قانون په نظر کې نه نيولو سره په سلګونو کسان په غيرقانوني توګه د موقتي کاروکوونکو په نوم په ياد وزارت کې په کار ګمارلي دي او په لسګونو نور يې پرته له قانوني دليله له دندو ګوښه کړي دي. راپور وايي د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کميسيون په 1394/02/09 نيټه د عامې روغتيا وزارت کې د نويو ګمارنو د ځېړلو اړوند يو پلاوی وټاکه. ياد پلاوي د څېړنو په پايله کې ومونده چې ډېر شمير کارکوونکي د رقابتي سيالۍ پرته په ريفورم شويو بستونو کې د قانون خلاف ګمارل شوي دي. بل پلو د کليد ګروپ راپور زياتوي چې د عامې روغتيا وزير فيروزالدين فيروز په لسګونو تنه ددغه وزارت لوړپوړي کارکوونکي له هيڅ قانع کوونکي دليل پرته له دندو ګوښه کړي دي.

۳ـ د روهي ويب پاڼې د راپور پر اساس څو مياشتې وړاندې د اجرائيه رييس عبدالله عبدالله د دفتر رييس په يوه خپلسري اقدام کې له طبيعي پېښو سره د مبارزې د عالي ادارې مشر محمد دايم کاکړ له دندې ګوښه کړی و. په همغه وخت په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازي انور خان اورياخېل هم د يادې د جرګې په عمومي غونډه کې په دې اړه د جرګې اداري پلاوي ته شکايت کړی و. انور خان اورياخېل د ولسي جرګې مشر ته هغه مکتوب هم ښودلی و چې د عبدالله د دفتر د رييس (مجيب الرحمن رحيمي) له خوا د دايم کاکړ د منفکۍ په اړه صادر شوی و.

۴ـ په داسې حال کې چې د قانون په بنسټ د ولسمشر حقوقي سلاکار نه شي کولای عدلي او قضايي په څانګړې توګه لويې څارنوالۍ ته حکم ورکړي؛ د طلوع نيوز د راپور پر اساس د ګډ حکومت د مشر حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي لويې څارنوالۍ ته لارښونه کړې ده چې د ښار جوړولو وزارت د تورنو دوسيې وڅېړي او د دغو دوسيو د څېړلو لپاره يې پلاوی ټاکلی دی. اصلاً سلاکار له مشورې پرته د اجراتو حق نه لري. د ولسمشر سلاکار د قانون له مخې صلاحيت نه لري چې لويې څارنوالۍ ته د کابلبانک د قضيې د څېړلو لپاره پلاوی وټاکي. له دې مخکې عبدالعلي محمدي د ښارجوړولو او ماليې وزارتونو ته هم مکتوبونه لېږلي د دغو مکتوبونو په ډاګه کېدل د دې لامل شول چې ولسمشر د هغه دنده وځنډوي.

د ګډ حکومت پورته بې بندوبارۍ او خپلسرۍ ته په کتو دا په ډاګه کيږي چې د لوړ پوړو دولتي کسانو په کړارلو کې مصلحت او واسطه روانه ده او دا کار د دې لامل شوی چې فساد نورهم په ادارو کې ريښې وغځوي.

که څه هم افغان حکومت له څوکلونو راهيسې د فساد د مخنيوي هڅې پيل کړي او په دې برخه کې بېلابېلې اداري کار کوي، خو تر اوسه هم افغانستان د مفسدو هېوادونو په ډله کې دی. ګډ حکومت تر ډېره د مصلحتونو او پيژندګلوۍ له مخې د لوړ پوړو چارواکو مقررۍ کوي . ګډ حکومت داسې دی چې وزيران او نور چارواکي يې ټول د قومي، تنظيمي او نژادي مناسباتو په وسيله ګمارنې کوي. اصلاً تر هغو چې د حکومت په رهبرۍ کې د فساد د مخنيوي په خاطر پياوړې اراده موجوده نه وي، تش د فساد سره د مبارزې شعارونه کوم ځای نه نيسي. که چيرې د حکومت په سيستم کې دا حالت ادامه ولري، نه يوازې دا چې فساد به خلاص نه شي بلکه لا به هم اوج ته ورسيږي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# د کابلبانک قضیه د سیاسي کېدو پر لور

محمدي د بینا او ضیا مسعود او منصور نادري د قانون له رڼدې سترګې لاندې

د وروستیو راپورونو له مخې د ګډ حکومت مشر ؛ اشرف غني خپل حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي د قانون د نقض په تور له دندې ګوښه کړی دی. پر عبدالعلي محمدي وروسته له هغه نیوکې زیاتې شوې چې تېره اوونۍ یې د اوو میلیونو ډالرو په بدل کې د کابل بانک د میلیوني پوروړي خلیل فیروزي د خوشي کولو او له هغه سره د قرارداد کولو امر کړی وو.

څو ورځې وړاندې د ولسي جرګې په عمومي ناسته کې پر محمدي تور ولګول شو چې د خلیل فیروزي په دوسیه کې یې اووه میلیونه ډالره بډې اخیستي دي.

خلیل فیروزي د کابل بانک د ۹۰۰ میلیونه ډالرو د غلا مجرم او د دغه بانک ۴۵۰ میلیونه ډالره پوروړی دی. نوموړی د حامد کرزي د حکومت په وخت کې په لس کاله بند محکوم شوی وو خو څو ورځې وړاندې په ناڅاپي ډول خوشې او ورسره د سمارټ سیټي ښارګوټي قرارداد هم لاسلیک شو. د نوموړي له زندانه وتل د خلکو تونده غوسه را وپاروله او پر ګډ حکومت یې سختې نیوکې وکړې.

کله چې د ګډ حکومت شریکان د خلکو او نړیوالو له کلک غبرګون سره مخامخ شول نو په لمړي اقدام کې یې ولسمشر خپل حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي له دندې ګوښه کړ. خو د محمدي په دندې ګوښه کېدو سره لا جنجال پایته نه دی رسیدلی بلکه نوموړي د قضیې بل اړخ راوسپړلو. اوس د ولسمشر حقوقي سلاکار له دندې څخه د ګوښه کېدو په غبرګون کې ویلي چې د نوموړي په خلاف دسیسه جوړه شویده. هغه وایي، د کابل بانک د قضیې تر شا ګڼ شمېر لاسونه دي چې ډېر ژر به یې افشا کړي. محمدي وایي، د هوشمند ښارګوټي د تړون مکتوب یې د نبي زاده وردک شرکت لپاره صادر کړی وو، خو د ښار جوړونې وزیر د ناڅرګندو دلایلو له مخې تړون له فیروزي سره  لاسلیک کړ. دی له نوموړي سره د ګډ ښارګوټي د هوکړې پړه هم د ښارجوړونې پر وزارت اچوي.

بل لور ته په یاده مساله کې یوازې د ولسمشر حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي کرم نه بلل کیږي؛ بلکه د مرکزي په نوم د یوه خبري اژانس د راپور له مخې؛ په ښې حکومتولۍ کې د ولسمشر فوق العاده استازي ضیا

مسعود او د ولسمشر حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي د دې معاملې په بدل کې ۴،۳ میلیونه ډالره رشوت اخیستې دی. اژانس په ولسي جرګه کې د موټڅو سرچینو له قوله ویلي د دغه ترون په بدل کې احمد ضیا مسعود ته ۲،۵ میلیونه ډالره او عبدالعلي محمدي ته ۱،۸ میلیونه ډالره بډې ورکړل شوې دي.

همدا شان د کابلبانک د غلا له لومړي درجه مجرم خلیل الله فیروزي سره د هوشمند په نوم د ترون د لاسلیکولو پر مهال هم ؛ د نورو خلکو تر څنګ د افغانستان د ښارجوړونې وزیر سید سعادت منصورنادري او په ښې حکومتولۍ کې د ولسمشر ځانګړی استازی ضیا مسعود هم شتون درلود او د ترون د لاسلیک پر مهال یې فیروزي ته داسې چکې وهلې چې ګویا د یو اتل هرکلی کوي. خو د راپورونو له مخې د کډ حکومت مشرانو یوازې عبدالعلي محمدي له دندې ګوښه کړی او د قضیې نور اړخونه یې له پامه غورځولي دي. داسې ښکاري چې یوازې محمدي د قانون د بېنا سترګې لاندې راغلی او نور اړخونه یې د قانون له ړندې سترګې لاندې ازاد کړځي.

دا سمه ده چې له فیروزي سره په یاده معامله کې به عبدالعلي محمدي مرکزي رول لوبولی وي ځکه خو ارګ په لمړي قدم کې نوموړی له دندې ګوښه کړ؛ خو داسې هم باید ونشي چې د یادې معاملې پړه یوازې په یو تن واچول شي او قضیه پرته له هر اړخیزو څېړنو د محمدي په مجرم پېژندلو پایته ورسیږي. د کابلبانک له قضیې سره نه باید د نورو قضیو عادي چلن وشي. لمړی باید په یاده قضیه کې په فساد تورن چارواکي لکه ضیا مسعود او نور هغه چارواکي چې د ترون د لاسلیک پر مهال هلته ولاړ و او چکې یې وهلې لکه منصور نادري؛ وپوښتل شي او بیا دې همدا محمدي له جدي تحقیق لاندې ونیول شي څو په یاده معامله کې ښکیل نور اړخونه هم څرګند او په خپل سزا ورسیږي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# د ملا منصور تر وژل کېدو وروسته.!

طالبانو ته نږدې سرچینې وايي چې ملا اختر منصور د پاکستان د بلوچستان ایالت د مرکز کوېټې ښار اړونده د د کچلاک په سیمه د طالبانو خپلمنځي شخړې پر مهال په ډزو سره ټپي او وروسته یې ساه ورکړه، ویل کیږي چې ملا اختر منصور د طالبانو دیوه بل مشر ملا عبدالله لیدنې ته ورغلی و، چې د لیدنې پر مهال ددوی ترمنځ شخړه رامنځته شوې وه. سرچینه وايي، ملا اختر منصور تر ټپي کېدو وروسته روغتون ته په لاره یې ساه ورکړې او دا چې د هغه مړینه د طالبانو روحیه کمزورې نه کړي، نو طالبانو دا خبره پټه ساتلې ده.

ملا اختر محمد منصور څلور میاشتې مخکې تر هغه وروسته چې د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر، د مړینې خبر تایید شو، د دغې ډلې د نوي مشر په توګه وټاکل شو. خو د هغه تر ټاکنې وروسته د طالبانو تر منځ اختلافات هم رامنځ ته شول او دغه ډله سره وویشل شوه.

که څه هم طالبانو تر ډېره هڅه کړې چې د ملا منصور د مړینې خبر پټ وساتي څو ددوي په لیکو کې کډوډي رامنځته نه شي چې په همدې موخه يي په سمدستي توګه ملا هیبت الله د دغې ډلې سرپرست ټاکلی خو بیا به هم د ملا منصور مړینه د یادې ډلې لپاره لوی ګوزار وي چې په دې سره به يي هم جنګي وړتیا او هم سیاسي شتون ته ضربه ورسیږي.

پر ښکیلو لوریو يي اغېز

- د ملا منصور په مړینه به د افغان ملي امنیتي ځواکونو جنګي مورال لا هم لوړ او د وسله والو طالبانو هغه ښکته شي
- لکه څرنګه چې وسله وال مخالفین په ژمي کې د تجهیز او د راتلونکي کال لپاره جګړه ایز چمتووالی نیسي نو د ملا منصور وژنه به د طالبانو په جګړه ایز چمتو والي هم منفي اغیز ولري او وبه نشي کولی چې د راتلونکي کال لپاره جګړه ایز چمتووالی ونیسي.
- دا چې ملا منصور د ملا عبدالله سره د لیدنې په غونډه کې ټپي او بیا وژل شوی نو مړینه به يي د وسله والو طالبانو پر لیکو کې بې تفاقي او پر خپلو مشرانو بې باوري رامنځته کړي.

- دا چې ملا منصور د پاکستان د بلوچستان ایالت د مرکز کوېټې ښار اړونده د د کچکلاک په سیمه کې تر برید لاندې راغی نو نړیوالو او افغان دولت ته یې بل ثبوت هم په لاس ورکړ چې د وسله والو طالبانو رهبري په پاکستان کې ده او له هماغه ځایه دلته د افغان جګړې د ډګر کرم ساتلو لپاره رهنمایي کوي.
- له دې ورهاخوا چې د ملا منصور مړینه به د وسله والو طالبانو په لیکو کې بې تفاقي او په خپل مشرانو بې باوري رامنځته کړي؛ په عام ولس کې به هم وسله وال طالبان خپل باور له لاسه ورکړي، ولس به پوه شي چې طالب هم د بل په لاربښوونه او د بل د ګټو لپاره جنګیږي او آن دا چې خپل رهبران هم د خپلو ګټو لپاره وژني.

د افغان جګړې نوې پروژه

که څېړي د طالبانو په لیکو کې بې تفاقي زور واخلي او لیکې یې وپاشل شي نو طبیعي ده چې د افغان جګړې د لویو استخباراتو هغه پروژه چې طالب پر مخ وړله؛ ختمه به شي او بدیل به یې پیدا شي.

دلته یوه مهمه خبره دا ده چې په افغانستان کې به روانه استخباراتي جګړه پایته ونه رسیږي بلکه نوی رنګ به واخلي او نوې پروژه به پر مخ ولاړه شي. دا پروژه به د داعش تر نوم او تر تور بیرغ لاندې دوام وکړي. هغه طالب چارواکي چې د جنګ غوښتونکي دي؛ له داعش سره به یو ځای شي. ځینې هغه به په کور کېني او ځینې هغه چې سولې ته زړه ښه کوي د لویو استخباراتي کړیو له لوري ترور او ووژل شي. اصلاً ملا اختر محمد منصور هم د پاکستان د ای اېس ای او د پوځ له لوري د وسله والو طالبانو رهبر ټاکل شوی و ځکه د وسله والو په لیکو کې پاکستان ته تر ټولو هغو زیات وفاداره همدا شخص و. اوس چې پاکستان د افغان دولت، چین او نړیوالو له فشار لاندې او د سیاسي انزوا په درشل کې دی نو غواړي د روانې جګړې اوسنی پروژه بدله او په ځای یې داعش پیاوړی کړي. په دې ترتیب به د طالبانو لوی مشران ترور، یو شمیر یې له افغان دولت سره د مذاکرو میز ته تیار او بله برخه به یې له داعش سره یو ځای کړي. پاکستان به په دې ترتیب افغان دولت خوشحاله او له نړیوالو هم امتیاز ترلاسه کړي او بل لور ته به د جګړې میدان د داعش پر مټ کرم وساتي او په جګړه کې به هم خپلې ګټې خوندي کړي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# سوله په هیله نه ؛ په جدیت او قاطعیت کیږي

په وروستیو کې د کابل ـ اسلام اباد اړیکو د خړپړتیا وروسته یو ځل بیا پاکستان هڅه کوي څو د کابل باور تر لاسه کړي. د پاکستان حکومت پرله پسې دافغانستان حکومت ته ورانديزونه کوي چې که تیار وي اسلام اباد حاضر دی طالبان د افغان سولې اړوند د مذاکرو میز ته ورسره کینوي. خو افغان حکومت چې د پاکستان له دوه مخې تر پوزې راغلی؛ د پاکستان غوښتنو د شک په سترګه ګوري او ورته کوم مثبت غبرګون نه ښيي. ځکه پاکستان له افغانستان سره تل ژمنې کړي او افغانستان یې په ظاهره خپل دوست ګڼلی دی، خو د پردې شاته یې تل خپل منحوسه څېره پټه ساتلې او همیشه یې د افغانانو لپاره کندې کیندلې دي. پاکستان تل ژمنه کوي، تل د همکارۍ خبرې کوي، خو تل نه یوازې هغه عملي کوي نه، بلکې پر خلاف یې ګامونه اخلي.

د وروستیو راپورونو له مخې د افغانستان د سولې عالي شورا په پاریس کې د جوړېدونکې غونډې نتایجو ته هیله منه ده او وايي حالات، منطق او اسلامي غوښتنې د دې تقاضا کوي چې ټولې خواوې د سولې د مذاکراتو لپاره سره یوه خوله شي. د افغانستان د سولې عالي شورا سرپرست عبدالحکیم مجاهد ویلي چې هیله مند دی چې پاکستان به دغه ځل د سولې په خبرو کې رښتینولي وښيي. ولسمشر محمد اشرف غني اروپايي هېوادونو ته په شپږ ورځني رسمي سفر تللی دی، چې تېر ماښام د فرانسې مرکز پاریس ته ورسید. ویل کیږي ولسمشر به په پاریس کې په درې اړخیزه او دوه اړخیزه غونډه کې د پاکستان له لومړي وزیر سره هم لیده کاته وکړي.

له وروستیو راپورونو داسې ښکاري چې افغان دولت یو ځل بیا د پاکستان په مکر تیروتی دی او په پاریس کې به له پاکستانیو چارواکو سره وکوري. اوس چې د سولې عالي شورا پاکستان ته یو ځل بیا شین څراغ ښکاره کوي او ترې د خیر هیله کوي، دلته پوښتنه پیدا کیږي چې له پاکستانه په کوم ښه نیت لیدلو سره د سولې عالي شورا بیا هم له دغه هیواده د خیر تمه کوي؟ د سولې عالي شورا ولې په پاکستان بیا هم باور کوي؟

که په پاکستان باور کیدلای شوای نو افغان حکومت خو له لومړۍ ورځې د تیرو وختونو په هیرولو سره پاکستان ته د دوستۍ لاس اوږد کړ، چې پاکستان هم په پیل کې په ټاوده هرکلي کولو سره نوې ژمنې ورکړې. پاکستان ژمنه کړې وه چې طالبان به د کابل له حکومت سره د سولې د مذاکرو میز ته کینوي چې لومړۍ پړاو یې په مري کې ترسره شو خو کله چې بیا د سولې خبرې یو اندازه د پرمختګ په حال کې وې

نو بیا پاکستان د دغو خبرو د څنډولو لپاره د طالب وسله والو مشر ملا عمر د مړینې خبر رسنیز کړ. د سولې عالي شورا باید دا په یاد ولري چې پاکستان هیڅکله له افغان دولت سره ریښتونی نه دی پاتې شوی او تل یې په تکراري ژمنو افغان دولت دوکه کړی دی. پاکستان دلته په افغانستان کې په سوله کې نه؛ بلکه په جنګ و جګړه کې خپلې ګټې ویني.

پاکستان له جګړې ګټه اخلي. دغه هیواد دلته په افغانستان کې د جګړې له ګرمې ساتلو نه هم ګټه اخلي او د سولې په نامه له نمایشي کارونو او تکراري ژمنو هم پوره ګټه اخلي. پاکستان د جګړې د ډګر د ګرم ساتلو سره له هغه چا امتیاز اخلي چې دلته په افغانستان کې اوږدمهال ستراتیژیک اهداف لري. د نړۍ بل لوی قدرت دلته استخباراتي جګړه روانه کړې ده او پاکستان یې زمینه سازي کوي. همداشان پاکستان د افغان سولې پروګرام سره د نمایشي کړنو او تکراري ژمنو پر سر هم له نړۍ امتیاز اخلي. دغه هیواد له وروستیو پنځو کلونو راهیسې؛ د تروریزم سره د مبارزې په نوم هر کال له امریکا یو میلیارد ډالره ترلاسه کوي.

افغان سوله له پاکستانه په هیله مندۍ نشي راتلای بلکه د سولې لپاره باید له پاکستان سره په قاطعیت او جدیت خبرې وشي. افغان دولت دې یوازې د پاکستان ژمنو ته انتظار نه کوي، بلکه خپل ځان دې هغه حالت ته برابر کړي چې پاکستان ته ځواب وویلی شي. دلته سوله په هغه صورت کې راتلای شي چې د افغانستان ګاونډي هیوادونه په دې قانع کړلی شي چې نور دلته د جګړې په اور تېل ونه پاشي او د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه ونه کړي. دلته سوله هغه وخت ممکنه ده چې د روانې جګړې اصلي طراحان او لوبغاړي وپېژندلی شي او په مقابل کې یې مناسب غبرګون وښودلی شي. په افغانستان کې به سوله هغه وخت راشي چې دلته د پردۍ استخباراتي جګړې اصلي لوبغاړي له پښو وغورځولی شي. له پاکستانه هم هغه وخت د خیر تمه په کار ده چې د افغان جګړې لوی لاسونه چې د پاکستان پر مټ دلته یې جګړې ډګر ګرم ساتلی؛ لاندې شي او نور پاکستان ته د جګړې د تودې ساتلو لاربښوونه ونه کړي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# سیمه ایز هېوادونه به څنګه له ترهګرۍ سره مبارزه وکړي؟

ترهګریز کړاښونه په ځلونو د افغانستان د دولتي چارواکو له خوا سیمه ایز او له سیمې څخه وتلي بلل شوي دي. ترهګري د سیمې لپاره کړ کړاښ بلل شوی؛ د کړ کړاښ د له منځه وړو لپاره کړنې همکارۍ ته اړتیا ده، روسیه، چین، هند او امریکا له هغو اړینو هېوادونو څخه دي چې تمه کېږي له ترهګرۍ سره په مبارزه کې له افغانستان سره یولاسي شي.

په وروستیو کې د افغان حکومت بېلابېلو چارواکو په بېلابېلو وختونو کې له ترهګرۍ سره د سیمې او نړۍ د هیوادونو پر کړنې مبارزې ټینګار کړی دی. تېره ورځ د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار محمد حنیف اتمر هم له د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا له ځانګړي استازي سره په کتنه کې له ترهګرۍ سره پر کړنې مبازې ټینګار وکړ. له دې وړاندې هم د افغان ولسمشر په کړون د کورنیو او بهرنیو چارو وزیرانو هم له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره د سیمې د هېوادونو د کړنې همکارۍ غوښتنه کړې وه.

دلته اساسي پوښتنه دا ده چې آیا د سیمې او نړۍ هیوادونه به په ریښتیا هم د ترهګرۍ د لمنځه وړلو لپاره له افغانستان سره په کړه مبارزه کې همکاري وکړي او که نه؟

د دغې پوښتنې د ځواب لپاره لومړی د ترهګرۍ سره د نړیوالو د مبارزې څو بېلګو ته اشاره کوو:

که څه هم افغان دولت په ځلونو له ترهګرۍ سره د سیمې د هیوادونو د کړنې همکارۍ غوښتنه کړې ده خو پوښتنه دا ده چې د سیمې هیوادونه به څنګه همکاري وکړي په داسې حال کې چې ترهګري په خپله د همدغه سیمه ایزو او نړیوالو هیوادونو زېږنده ده؟ ترهګري پخپله د سیمې د ځینو هیوادونو د ګټو د خوندي کولو وسیله ده په ځانګړي توګه د هغو هېوادونو چې د نورو هیوادونو په جنګ کې خپل پایښت او ګټې ویني لکه پاکستان، ایران او ځینې لویدیځ هیوادونه. دوی به څنګه د ترهګرۍ د لمنځه وړلو لپاره عملي اقدام وکړي؟ ترهګري خو د دوی ګټې خوندي کوي.

پاکستان، ایران او سعودي عربستان په افغانستان کې د ترهګرۍ او جنګ پر مټ خپلې ګټې ترلاسه کوي، ایران په افغانستان، پاکستان، سعودي عربستان، امریکا او سوریه کې د ترهګرۍ په وسیله خپل اهداف ترلاسه کوي، روسیه هم د همدې موخې لپاره په وروستیو کې کله چې ترکیې د روسیې الوتکه ووېشتله؛ په ترکیه د داعش د ملاتړ تورونه پورې کوي، یعنې روسیې پخوا هیڅکله هم په ترکیه د تروریزم د ملاتړ تور نه و

پورې کړی خو اوس چې یې له ترکیې سره خپلمنځي اختلاف پیدا شوی نو په ترکیه یې د تورونو لړۍ پیل کړه، امریکا په سوریه کې د بشارالاسد د رژیم مقابلې لپاره د داعش ملاتړ کوي، بل پلو فرانسې هم تر اوسه چې نوره نړۍ په ځانګړي توګه اسیایي هیوادونه؛ له هغه وخته چې ترهګري ترې قرباني اخلي؛ فرانسې د ترهګرۍ د ځپلو لپاره هیڅ ډول اقدام نه کولو خو کله چې په ورستیو کې داعش په پاریس کې خونړي بریدونه ترسره کړي؛ فرانسې هم شور او ځوږ جوړ کړی دی. یعنې که په لنډه توګه ووایو نو دې پایلې ته رسیږو چې ترهګري نړیواله ریښه لري چې د لمنځه وړلو لپاره یې هم نړیوالې مبارزې ته اړتیا شته خو لکه څرنګه چې د سیمې او نړۍ هیوادونه د نورو هیوادونو په جنګونو کې خپلې ګټې ویني نو په داسې شرایطو کې بیا له ترهګرۍ سره د نړیوالې مبارزې څخه هم ډېره تمه نشي کېدلای. ځکه د شلمې پېړۍ له نیمایي او آن تر ننه ( تر یوویشتمې پېړۍ) پورې؛ د سیمې او نړۍ ځینې هیوادونو له ترهګرۍ د خپلو سیاسي ګټو د تر لاسه کولول لپاره د وسیلې په توګه ګټه اخیستې ده.

د ترهګرو وروستیو پرمختګونو وښوده چې دا یوه نړیواله پدیده ده او دغه اور د هر هیواد لمنې ته رسیدلای شي. په اوس وخت کې لوی ترهګریز ګواښ د اسلامي دولت ډلې یا داعش شتون چې هیڅ پوله او برید نه پېژني، ټولو مسایلو ته د تورو او سپینو عینکو له شا ګوري. داعش غواړي چې ټولې نړۍ ته د خپلې خوښې وړ اسلام صادر کړي.

دا حقیقت باید درک کړو چې اصلاً په افغانستان کې روانه جګړه سیمه ییز اړخونه لري او نړیواله ټولنه باید د دې سیمه ییزې ستونزې په حل کې له افغانستان سره مرسته وکړي. اړینه ده چې  د سیمې او نړۍ هېوادونه باید له افغانستان سره همکاري وکړي څو د تروریزم ریښه له منځه ولاړه شي. تروریزم نه مذهب او نه هم پوله پېژني او هیڅ هېواد دا ادعا نشي کولای چې ورڅخه به خوندي وي. له همدې امله له دغې ستونزې او د هغې له عواملو سره مبارزه یو نړیوال مسوولیت دی چې باید یوځای او اوږه په اوږه وشي. تر هغو چې د پاکستان په شمول ټول سیمه ایز هیوادونه له تروریزم څخه خپلو اهدافو ته د رسیدو لپاره د یوې وسیلې په توګه ګټه اخلي؛ نو جګړه به دوام وکړي او دا وضعیت به په خپله همدغه هیوادونه هم له ګنو ستونزو سره مخامخ کړي.

**لیندۍ یا قوس/ 1396**

# ګډ حکومت او د ځوانانو د اشتغال د میکانېزم نه شتون

افغانستان د هغه ځوانو هېوادونو له جملې څخه دی چې د مرکزي سرشمېرنې له مخې یې ۴۵٪ نفوس ځوانان تشکیلوي؛ خو که د دغه هیواد د ځوانانو حالت له نورو هېوادونو سره پرتله کړو دا په ډاګه کیږي چې؛ افغان ځوان نسل یو هیر شوی او شاته غورځول شوی نسل دی چې له سلګونو ټولنیزو ستونزو سره لاس او ګریوان دی. د دغه ځوان قشر لویه برخه له جدي بېکارۍ سره لاس او ګریوان دي چې ښه بېلګه یې د ښاریاتو په چوکونو کې لیدل کیږي چې له سهاره تر ماښامه د ورځ مزدورۍ لپاره ناست وي خو ماښام ځینو ته کار پیدا او ځینې نااومیده کورنو ته روان شي. دغه ټولګه ځوانان بیا ډیرى یې د بېکارۍ له وجې د دښمن لیکو ته ورځي او یا هم د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو له امله له هیواده تیښتې ته اړ کیږي. ددې تر څنګ د زده کړو ځوانانو ستونزې مو هم کمې نه دي. هر کال مو په زرګونو ځوانان د کانکور په بې پایلو زده کوونکو ورګډیږي او آن له پوهنتونه فارغ ځوانان هم په خپل راتلونکې بې باوره شوي دي.

همدغه ځوانان و چې د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال پنځوس سلنه یې د ګډ حکومت له یو مشر او پنځوس سلنه یې د بل مشر سره ولاړ و او هر راز منډې یې وهلې. همدغه ځوانان و چې دواړو ښاغلو ته یې کمپاینونه کول او د دوی دواړو ښاغلو لپاره یې خلک د رایه ورکولو ته هڅول. همدغه ځوانان و چې د اشرف غني د پروګرامونو د تشریح کولو مجلسونه یې په تودو ولولو تاوده ساتل. او همدا ځوانان و چې د عبدالله لپاره یې د لویې جرګې په تالار او د هیواد په بیلابیلو ښارونو کې میلیوني لاریونونه وکړل. «چې سر درد ونه لري نو داغ پرې نه ږدي»؛ ځوانانو له مستۍ دوی ښاغلو ته ځانونه نه و وقف کړي بلکه دوی هم یو څه هیلې درلودلې، دوی هم له حکومته څه طمعه درلوده. ځوانانو د خپل روښانه راتلونکې او د ولسواکۍ د پلي کیدا لپاره منډې وهلې. ځوانانو د هیواد د پرمختک او سالم امنیت راوستلو لپاره ریږونه کالل. او ځوانانو د بیکارۍ د غمیزې د ختمولو لپاره د دواړو ښاغلو کمپاینونه کول خو په مقابل کې یې د ګډ حکومت مشرانو له دوی سره بیلابیلې لوېې لوېي ژمنې کولې. دوی به ژمنې کولې چې غواړي ځوانان یې په واکدارۍ کې مدیریتي رول ولري. دواړو ښاغلو به ویل چې ددوی په حکومتدارۍ کې به په وزارتونو کې ټاکنې او مقررۍ د اصولو پر بنسټ وي او هغه څوك چې د واسطې او اړیکو له مخې ټاکل شوي وي، دویم ځلي ازموینه به ترې اخلي او یا به هم وزارته وزي.

د ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې دواړو مشرانو د بدلون او سمون په نوم شعارونه ورکول خو اوس دا دی وکورئ د خلکو په ژوند کې هیڅ ډول مثبت بدلون نه دی راغلی. هغه ژمنې چې د ټاکنیزو منډو ترړو په وخت کې شوې وې واک ته تر رسیدو وروسته هیرې شوې او په بدل کې یې بې کارۍ، ناامني او فقر ډېر شوی دی آن تر دې چې د تېرو کلونو لاسته راوړنې هم له کواښ سره مخ دي. هغه ژمنې چې دواړو کړې وې د امنیت، زیربنا، اقتصادی ودې او د خلکو د حقوقو په برخه کې؛ تر اوسه لس سلنه هم نه دی پلې شوې.

اوس ډیری دغه ځوانان چې د غنی او عبدالله پر ژمنو یې باور او رایې یې ورکړې وې او کمپاینونه یې ورته کړي ول؛ اوس له حکومته بېزاره دي او ټول پرې یوازې نیوکې کوي. اوس هماغه ځوانان چې پنځوس سلنه د غني او پنځوس سلنه د عبدالله په ملاتړ ولاړ و؛ نن دغه ټول ځوانان سل سلنه د دواړو په خلاف ولاړ دي. نن دغه ټول ځوانان حکومت نه یوازې په ورکړو ژمنو کې پاتې بولي بلکه د ژمنو په خلاف کړنو یې تورنوي. خو اساسي پوښتنه دا ده چې: ولې هغه ځوانان چې پرون یې په پوره مینه او لیوالتیا د غني او عبدالله کمپاینونه کول؛ نن یې په خلاف ولاړ دي او ددوی له کډ حکومته بېزاره دي؟

ځکه چې د کډ حکومت مشرانو د درېمګړي په خوښه او غوښتنه د دغو ځوانانو او ټولو هیوادوالو په رایه معامله وکړه او د دوه سره حکومت بنسټ یې کیښنود. ځکه چې د درېمګړي په وسیله دغه حکومت رامنځته شو؛ نه د دوی د رایو په وسیله.

درېمګړی راغی او دواړه ښاغلي یې کوټې ته کړل او په غوږ کې ورته د دوه سره معجون نسخه واوروله او د ځوانانو په هیلو، راتلونکې ،دهېوادوالو په سرنوشت او ولسواکۍ په نوم یې خاورې واړولې او هغه څه یې وکړل؛ کوم چې خپله غوښتنه وه. څه د پاسه یو کال کیږي چې پر افغانانو د دوه سره معجون حکومت تحمیل شوی دی خو په دغه موده کې یې د ځوانانو پنځه سلنه غوښتنې هم نه دي پوره کړي. په دغه موده کې د کډ حکومت د مشرانو د ژمنو په خلاف څه د پاسه یو میلون ځوانان بیکاره او شول او زیاته برخه یې اروپایي هېوادونو ته په مخه شول او لا هم دغه لړۍ روانه ده. نو له دې معلومیږي چې کډ حکومت د ځوانانو د اشتغال لپاره هیڅ میکانېزم او پالیسي نه لري.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# ګروه خاکستري؛ د نظام د سقوط په هڅه کې

د کندوز ښار د تلې یا میزان په اوومه نېټه وسله والو طالبانو د لنډې مودې لپاره ونیوه. د کندز له سقوطه وروسته افغان دولت بیا په دې وتوانیده چې له دریو ورځو جګړې وروسته یاد ښار تر خپلې ولکې لاندې راولي. د یاد ښار د سقوط پر اساس افغان دولت په کور دننه او بهر له یو شمېر غبرګونونو سره مخ شو چې بیا د یادې مسالې د څېړلو لپاره یې د امرالله صالح او فاروق وردګ په مشرۍ د حقیقت موندنې کمېسیون وټاکه څو معلوم کړي؛ په یاده پېښه کې څوک پړ او ملامت دی. اوس یاد کمېسیون له څند وروسته تېره ورځ خپل دوه سوه مخیز راپور ولسمشر ته وړاندې او ځینې معلومات له رسنیو سره شریک کړل.

د کندوز د حقیقت موندنې کمېسیون وایي، د کندوز په سقوط کې نامسولو وسله والو، مافیا، غاصبینو او وکیلانو لاس درلود. د دغه کمېسیون چارواکو خپلې موندنې له رسنیو سره شریکې کړې او زیاته یې کړه، په کندوز کې امنیتي ځواکونه په ښه ډول مجهز وو او د پوځي وسایلو او تجهیزاتو هیڅ ډول کموالی نه احساسیده . د کمېسیون مشر امرالله صالح وویل، په کندوز کې مدیریت کمزوری وو چې له همدې امله کندوز له سقوط سره مخ شو. صالح په کندز کې د خاکستري ډلې یادوونه وکړه چې په خبره یې نه توره ده او نه سپینه .دغه ډله د دولت د کمزوري کولو لپاره کار کوي او د وسله والو طالبانو مخالفه ده، خو کټې یې ټولې شخصي دي او ډېره مضره ده .د کندوز ډېر اوسېدونکي هم وایي د خپلسرو ملېشو، چې د ځینو پخوانیو قوماندانانو لکه میر علم له لوري رامنځته شوي، ظلمونه او بې بندوبارۍ سبب شوې چې طالبان په کندوز کې پیاوړي شي.

خو دلته ډېرې پوښتنې دي چې باید ځوب شي. دا ګروه خاکستري ډله څوک ده؟ څوک یې ملاتړ کوي؟ چا وسلې ورکړې؟ څوک یې مالي ملاتړ کوي او ولې دومره پیاوړې دي چې د ټول ښار د سقوط لامل شوه؟

دلته د حقیقت موندونکي کمېسیون په حقیقت موندنې خبرې نه کوو. په دې نه غږېږو چې حقیقت موندونکي پلاوي یاده مساله یو اړخیزه او که هر اړخیزه څېړلې ده، په دې څه نه وایو چې د یاد پلاوي لخوا؛ په قضیه کې ښکېل کوم لوری ډېر تکول شوی او کوم لوری بیخي له پامه غورځول شوی دی او په دې هم بحث نه کوو چې آیا د کندوز د سقوط لاملونه یوازې همدا دي چې یاد کمېسیون یې بیانوي. دلته په یو بل مهم اړخ چې د کندز د سقوط تر ټولو ستر لامل بلل کیږي (ګروه خاکستري) باندې تم کیږو.

د کندز د سقوط د پیښې د حقیقت موندونکي پلاوي یو رییس امرالله صالح په داسې حال کې تېره ورځ د یاد کمیسیون د څېړونو په اړه رسنیو ته معلومات ورکړل چې پخپله د کمیسیون بل رییس فاروق ورک شتون نه درلود. امرالله صالح وویل، په کندوز کې مدیریت کمزوری وو چې له همدې امله کندوز له سقوط سره مخ شو. صالح په کندز کې د خاکستري ډلې یادوونه وکړه چې په خبره یې نه توره ده او نه سپینه. دغه ډله څوک ده؟

دغه کروه خاکستري که څه هم امرالله صالح یې په اړه بشپړ معلومات ورنکړل خو دوی په اصل کې له شوروي لښکرو سره د جنګېدونکو پاتې شوني، له هغه وروسته د کورنیو خپلمنځي جګړو عاملین او د هغوی پاتې شوني، او بیا وروسته د طالبانو سره د جنګېدونکو ډلو ټپلو پاتې شوني دي چې په جنګ، جګړې، وژنو، غلاوو او اختطافونو روږدي شوي دي. اوس دغه پاتې شوني د خپل طبیعي فطرت او عادت له مخې د نظام پر ضد جنګیږي. دغه ډله داسې هم نه ده چې یوازې په کندز کې دې مرکزي رهبریت ولري بلکې د دوی لوی مشران له مرکز کابله دوی رهبري کوي او د خپلو شخصي، کوندي، ژبني او سمتي موخو د ترلاسه کولو لپاره یې کاروي. د دوی لوی مشران په بېلابېلو نومونو په کابل کې اوسیږي او د حکومت له بدنې تغذیه کوي چې دوباره بیا د حکومت پر ضد جنګیږي. دوی که څه هم په ښکاره ځانونه د خلکو او دولت ملاتړي حسابوي خو په حقیقت کې دوی د ولس او د حکومت پر ضد دي. دوی یوازې خپلې شخصي کټې وینې او د ترلاسه کولو لپاره یې په هیڅ رنګه جنایت اړ نه دي. که کور وسوځید نو دیوالونه خو یې پاخه شول. هوښیاران په تاوان کې هم خپل ګټه پیدا کوي. افغان دولت باید د حقیقت مندونکي پلاوي راپور په هر اړخیزه توګه وارزوي او بیا یې اړند جدي اقدامات وکړي. تر هر څه د مخه د دغه کروه خاکستري غم خوړل اړین دي ځکه که یې مخنیوی ونشي نو په راتلونکي کې به بیا نه یوازې د کندز ولایت امنیت وکوابښي بلکه د نورو همجوارو ولایتونو تر څنګ آن د نظام د سقوط کېدو لامل به هم وګرځي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# متفکر يو ځل بیا تېر ووت..!

غني د مشهور متل په خلاف چې وايي : ازمویل شوي ازمویل لویه خطا ده؛ ازمویل شوی پاکستان ازموي...!
د يو جنګ ځپلي هېواد سوله دوه اړخونه لري، يو يې کورنی اړخ وي او بل يې بهرنی اړخ. په کورني اړخ کې له تېر يا موجوده حکومت څخه بېزاره، بده خاطره لرونکي، واټن اخيستی او ګيله من خلک راځي چې په بيلابيلو پلمو د وخت حکومت؛ يا په خپله او يا هم د خپل بهرني ستراتېژيک دوست په لاس کړولي او ځورولي وي. ددوي حقونه د موجوده يا تېر حکومت د چارواکو او زورواکو تر پښو لاندې کړی وي او په همدې دليل د حکومت او ددوي تر منځ واټن رامنځته شوی وي چې ځينې يې بيا د حکومت له مخالفانو سره لاس يو کوي.
د سولې بل اړخ بهرنی اړخ وي، په بهرني اړخ کې د نومړي هيواد ګاونډيان او د سيمې ځينې هېوادونه شامل دي. ګاونډي او د سيمې ځينې هېوادونه يې په جنګ او جګړه کې خپلې ګټې خوندي ويني او هڅه يې دا وي چې د جګړې ډګر ګرم وساتي. تر هغه چې په جنګ اخته هيواد په خپلو کورنيو چارو او بهرنو چارو او پاليسيو کې د يادو هيوادونو لاسونه رالنډ نه کړي؛ په هيڅ صورت يې وکړي د يوې ريښتېنې او سراسري سولې له نعمته برخمن کيدلای نشي. په جنګ اخته هيواد بايد په هيواد کې دننه لومړی د کورني اړخ د پخلاينې لپاره ګامونه واخلي او بيا په خپل هيواد کې د ګاونډيانو د تالي څټو لاسونه لنډ کړي، د کورني اړخ له پخلاينې او رضايت حاصلولو وروسته بايد ګاونډيان په دې قانع کړي چې د سيمې په يو هېواد کې د جګړې اور بل ساتل نورو هېوادونو او پخله دوي ته هم سرايت کوي، په جنګ اخته هېواد بايد لومړی کورنی اړخ سولې ته راضي کړي او کورنی او بهرنی پياوړې پاليسی رامنځته کړي تر څو د سوله په لار اچولې پروسه يې له خنډ سره مخامخ نه شي.
راځو دلته د افغانستان د سولې په سست روان بهير رڼا اچوو.
په افغانستان کې پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د افغان سولې اړوند ډيرې هڅې وکړې خو پايله يې د خلکو او د پخواني ولسمشر د توقع خلاف وه. دلته د اشرف غني په مشرۍ د نوي حکومت په منځته راتګ د سولې په تړه درېدلې هڅې يو ځل بيا پيل شوې چې په ترڅ کې يې افغان ولسمشر اشرف غني خپل ټول پاکستان ته واړاوه. غني فکر کاوه چې د پخواني ولسمشر کرزي خبره سوله د پاکستان او امريکا په لاس کې ده نو هماغه و چې دغې دواړو هېوادونو سره يې اړيکې ژورې کړې. نوي حکومت پاکستان ته ډېر فرصتونه ورکړل څو له افغان دولت سره ريښتينی شي او له ترهګرۍ سره ريښتونې مبارزه وکړي خو لکه د پخواني ولسمشر؛ نوی افغان ولسمشر اشرف غني هم له پاکستانه زړه ماتی شو او هيلې يې پرې شوې. په وروستيو کې کله چې په پاکستان د اسيا زړه هېوادونو پنځم کنفرانس دايرېدو نو د افغان حکومت له لوري په دغه

کنفرانس کې د ګډون لېوالتیا کړه وه خو په ورته وخت کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړی استازي له ولسمشر غني سره وکتل او په پاکستان کې په دغه کنفرانس کې د ګډون او د افغان سولې پروسې د بیا پیل لپاره یې وهڅولو.

ولسمشر هم په پوره هیله مندۍ او له پاکستانه د خیر د تمې سره پاکسستان ته ولاړ او هلته یې په اسیا زړه کنفرانس کې ګډون وکړ. پاکستان چې له افغان دولت سره د اړیکو د وروستی ترینګلتیا کړیده نو هلته په رسیدو یې د افغان ولسمشر تود هرکلی وکړ او آن د غني د خوښۍ لپاره یې د توپ یوویشت ډزونه هم وکړل. ولسمشر د یو شمېر هېوادونو له استازو سره په څنګ کې د پاکستان لومړي وزیر او ځینو نورو چارواکو سره هم وکتل. ویل کیږي چې د پاکستان له لوري هم ورسره یو ځل بیا له افغان سولې پروسې سره د همکارۍ ژمنې وشوې. ولسمشر غني یو ځل بیا په پاکستان باور وکړ.

که د نوي افغان حکومت تېرې یوې کلنې دورې ته وکتل شي نو د ولس د غوښتنو خلاف امنیتي حالات ورځ تر بلې ترینګلي کیږي، هېواد د بې ساري اقتصادي رکود او بحران سره مخ شو، د خوراکي توکو او اجناسو قیمتونه لوړ شول، د بهرنیو اسعارو په مقابل کې افغانۍ د ټرټولو ټیټې کچې ته راولویده او..... ، په لویو او بنسټیزو پروژو پانګونه نه کیږي او برعکس پانګونه لا هم له هېواده په فرار کې ده، فساد په ادارتو کې اوج ته رسیدلی، په دغه یو کال کې تقریبا ۱۵۰۰۰۰ هېواده له هېواده بهر وکوچېدل، د حکومت کورنۍ او بهرنۍ ډیپلوماسي او پالیسي مو دومره کمزورې شوې چې تر اوسه نه یو توانیدلي د پاکستان دوه مخیتوب وپېژنو او پر وړاندې یې ورته دریځ ونیسو، متزلزل دریځ او د سالمې او پیاوړې ستراتیژۍ نشت والی چې په سیاسي او نظامي برخو کې یې لوی سرخوړی پیدا کړی دی.

دغه ټول موارد ددې باعث شول چې اشرف غني او په ټوله کې د ګډ حکومت شریکان؛ په ولس کې خپل باور له لاسه ورکړي. اوس چې د حکومت شریکانو په ولس کې خپل باور له لاسه ورکړی نو څنګه کولی شي چې د افغانستان او افغانانو په ازلي دښمن (پاکستان) د ولس باور یو ځل بیا تر لاسه کړي؟

د ګډ حکومت شریکان چې په کور دننه د خپلو سیاسي مخالفانو چې، ورځ تر بلې یې په شمېر کې زیاتوالی راځي؛ مخه نه شي نیولی نو د افغانستان په چارو کې د پاکستان دلاسوهنو د مخنیوي او د افغانانو لپاره یو ځل بیا د پاکستان د ښه نیت رجزونه څنګه تکراروي؟

پر پاکستان د یو ځل بیا باور کولو او هلته د نواز شریف له لوري ستا د هرکلي په موخه د یوویشت توپونو پایله دا شوه چې دا دی کابل ته ستاسې په بیرته راستنیدو سره یې درته په ځانګړي برید هرکلی وکړ، د آسیا په کنفرانس کې ستاسې ګډون او دلته په کندهار ولایت کې زمونږ د ملکي افغانانو د وینو بهېدل څه معنا لري؟

تاسې ښاغلی متفکر ولې یو ځل بیا د نواز شریف په مکر او فریب دوکه شولی؟ تاسې ولې د نواز شریف په هغه تکراري خبرو بیا هم باور وکړ چې وایي د افغانستان دښمن د پاکستان دښمن دی؟

تاسې ښاغلی ولې دا نه درک کوئ چې د افغانستان دښمن هیڅکله د پاکستان دښمن کېدلی نه شي ځکه د افغانستان دښمن پاکستان دی او پاکستان هیڅکله د ځان دښمن کېدلای نه شي؟

ښاغلی متفکر...! تاسې داسې څنګه د نړۍ دویم متفکر یاست چې د افغانستان ازلي دښمن (پاکستان) په مکارۍ مو فکر ونه رسید او یو ځل بیا مو ورته امتیاز ورکړ؟

افغان حکومت پر پاکستان پر داسې محال یو ځل بیا باور کوي چې د ولسمشر غني په مشرۍ افغان حکومت شاوخوا یوولس میاشتې د دغه باور ساتلو لپاره پاکستان ته امتیازات ورکړل خو دغه هېواد تر اوسه هم د ترهګرو ډلو ملاتړ کوي او د افغانستان پر بهرني سیاست د واک خپلولو په هڅو کې دی. اصلا په دغه هېواد باور او تکیه کول د افغانانو د بربادۍ په معني ده، پاکستان افغانان جنګ ته هڅوي او تر خپلي ګټي وروسته یې وژني، کله چې د سولې لومړی پړاو خبرې تر یوې ا ندازې د بریا پر لور روانې وې نو پاکستان یې پر وړاندې د خنډ رامنځته کولو په خاطر د طالب مشر ملا عمر مړینه رسنیزه کړه، له هغې ورسته کله چې ملا اختر محمد منصور د طالبانو مشري په غاړه واخیسته او کله چې افغان دولت په ورروستیو کې یو ځل بیا د سولې لپاره هڅې پیل کړې نو پاکستان یو ځل بیا د افغان سولې پروسې پر وړاندې د خنډ د پیدا کولو په موخه ملا منصور وواژه. هر څوک چې  پر پاکستان باور کوي د ملا محمد عمر او ملا اختر محمد منصور په څیر به په مرموز ډول وژل کیږي.

اوسنی افغان حکومت ته په کار وه، چې د پخواني حکومت له کمزوریو زده کړه کړې وای او پر پاکستان د تکراري بارو پر ځای یې باید خپل وخت نه وای ضایع کړی. اشرف غني باید د هیواد پوځي رهبري او مدیریت له سیاسي، تنظیمي، سمتي او مذهبي ډلو له نفوذ څخه خلاص، استخباراتي اداره د سمتي ډلو له سیاسي نفوذ څخه پاکه او تصفیه کړی وای. ځکه پوځي ځواکمنتیا مو سرحدونه ټینګوي او استخباراتي ځواکمنتیا مو پر پاکستان د مقابل فشار واردولو او نړیوال باور ترلاسه کولو جوګه کوي.

تر هغو چې پاکستان عملي اقدامات ونکړي پرې باور کول په تېروتنې پسې تېروتنه ده. افغان حکومت پاکستان ته تر اوسه یو طرفه امتیازات ورکړي، خو دا ځل باید له فرصته مناسبه استفاده وکړي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# ننګرهار وژغورئ

له څه مودې راهیسې د ډیورند کرښې ته څېرمه د ننګرهار ولایت په ځینو ولسوالیو کې د «اسلامي دولت» یا داعش ډلې وسله وال په جګړه بوخت دي. دغې افراطي ډلې په دې وروستیو کې د ننګرهار په ځینو ولسوالیو کې سخت ظلم پیل کړی. هغوی د یو شمېر عامو خلکو کورونو ته اور اچولی او د افغاني او اسلامي کلتور خلاف کړني کوي. په دې وروستیو کې داسې ویډیوګانې خپرې شوې دي چې داعش د ننګرهار په پچیراګام ولسوالۍ کې د عامو خلکو کورونو ته اور اچوي او خلک په پټه له غرنیو لارو ځان باسي. دغه وحشي ډله آن په ځینو سیمو کې له کورونو څخه نجونې باسي او د وینځو په توګه یې له ځان سره کرځوي. په ننګرهار کې د داعش تر نفوذ لاندې سیمو خلک خپلې خوشالۍ هم نه شي لمانځلای او که کوم چا د زوی د پیدایښت او واده په خوشالیو کې ډزې وکړې د داعش کسان ورځي او خلکو ته د ظلم نهایي مجازات ورکوي.

دلته د داعش کړنې د ظلم او بربریت تر ورستي حده رسیدلې او داسې ظلمونه کوي چې تر اوسه یې په نړۍ کې ساری نه لیدل کیږي. شا او خوا میاشت وړاندې دلته داعشیانو د سیمې یو شمېر اوسیدونکي په ماینونو والوزول. یوه ورځ یې تازه زیږیدلی ماشوم په منځ دوه پرکه کړ او د مور او پلار د سترګو په مخامخ یې ځیرې کړ. بیا یې پلار ورته د نورې کورنۍ په مخ کې د پیکا په ډزو شهید کړ. تاسې خپله قضاوت وکړئ چې دلته امنیت په نوم څه شته او که نه؟ ددې سیمې خلک خوندي دي او خیر خیریت دی او که د داعش وحشت د اوج تر کچې رسیدلی؟

د افغانستان ملي امنیت، کورنیو او دفاع وزارتونو؛ که څه هم د داعش پر وړاندې یو ځانګړی ځواک جوړ کړی چې په ځینو برخو کې یې لاسته راوړنې هم درلودلې خو په ټوله کې تر اوسه نه دي توانېدلي چې په ننګرهار کې د داعش ریښې وباسي.

میاشتې کیږي چې ددغې سیمې خلک د داعش کړي ډلې وحشت او بربریت په ځان تېروي خو څوک نشته چې څوک یې د فریاد چیغې واوري. خو اوس چې په وروستیو کې په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازي او د یادې جرګې لومړي مرستیال حاجي عبدالظاهر قدیر د یادې افراطي ډلې اړوند غبر اوچت کړی او د ځینو لپاره یې متې رانغاړلې دي؛ د نوموړي په وینا د حکومت لخوا ورته خندونه جوړیږي. ولې؟

دا سیمه د افغانستان پورې اړونده ده او که نه؟ ددې سیمو خلکو د کډ حکومت مشرانو ته رایه ورکړې ده او که نه؟ دا خلک په حکومت حق لري او که نه؟

تېره ورځ ظاهر قدیر حکومت په ننګرهار کې د داعش د امنیت په ساتلو تورن کړ او زیاته یې کړه چې د ننګرهار  د ولسونو ناموس خوندي نه دی، خو امنیت شورا نه پخپله اقدام کوي او نه هم دوی عملیاتو پرېږدي. د ولسي جرګې لومړی مرستیال ظاهر قدیر چې له اوږدې مودې وروسته د دوشنبې پر  ورځ په جرګې کې راڅرګند شو، ادعا وکړه چې د ولس ناموس یې نه دی خوندي. نوموړي په ښکاره حکومت د داعش پر ملاتړ تورن کړ او زیاته یې کړه، داعش ځینې کورنۍ کډه کولو ته اړې شوې وې خو حکومت د ملاتړ ډاډ ورکړی او د هغوی د تګ مخه یې نیولې.

په ورته مهال بیا دولتي چارواکو په یوه خوله د قدیر څرګندونې غیر مسؤلانه و بللې او پر نوموړي یې د ملېشه جوړونې تور پورې کړ. دوی ټینګار کړی چې هیچا ته به په هیواد کې د شخصي ملېشه جوړونې اجازه ورنکړي. دا سمه ده چې ملېشې د امنیت د ټینګښت پر ځای امنیت ګواښي خو د ملېشه جوړونې سره باید مخالفت په ټول هیواد کې یو شان وي؛ داسې نه چې د هیواد په شمال کې د سیمه ایزو پولیسو او یا هم پاڅون کوونکو په نوم شخصي ملېشې جوړوي خو دلته دې په دې موخه د داعش افراطي ډلې سره د مبارزه کوونکي مخنیوی کیږي چې ګویا شخصي ملېشې جوړوي. که حکومت په رښتیا هم د ملېشه جوړونې سره مخالف وي نو باید په ټول افغانستان کې یې پالیسي او ستراتیژي یو ډول وي. اصلاً د حکومت مسولیت دا چې د خلکو د سر، مال او ناموس ساتنه وکړي، که چیرې د خلکو سر، مال او ناموس له خطر سره مخ وي نو بیا لیرې نه ده چې نه یوازې د ننګرهار ولسونه بلکې ټول هېوادوال به د خپلې دفاع او ناموس د ساتنې په خاطر په خپله اقدام وکړي او یو ځل بیا به ټوپک په لاس واخلي.

لیندۍ یا قوس/ 1396

# افغان دولت په ۲۰۱۵ کال کې ولس ته څه ورکړل؟

افغان ولس د تېر ۲۰۱۴ کال اقتصادي، سیاسي او په ځانګړي توګه له امنیتي ننګونو تر پزې راغلی و او ټول ولس په ډېر شوق او هیله مندۍ د ولسمشرۍ په ټاکنو کې برخه واخیسته. ولس د ځپلې ښې، روښانه، با امنه او په ځان بسیا کېدونکې راتلونکې په خاطر د رایې صندوقونو تر شا ودرېد او هر رنګه تحدید ته یې غاړه کېښوده. ولس د ځپلې ښې راتلونې په موخه په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې سترې قربانۍ ورکړې. ګوتې یې پرې شوې، وګواښل شول، وډبول شول او....

ولس د ګډ حکومت د دواړو مشرانو په ګرو کې نه و چې حتما یې باید په ټاکنو کې ګډون کړی وای خو دوی یوازې د یوې ښې راتلونې په موخه په ځانونو هر راز رېړونه ومنل او اشرف غني او عبدالله ته یې رایې ورکړې. خو له بده مرغه چې دغو دواړو ښاغلو د ولس هیڅ قرباني او سربښندنه په نظر کې ونه نیوله او د درېمګړي په لاربښوونه یې دوه سره حکومت جوړ کړ. دولس هیلې یې له هماغه لومړۍ ورځې په اوبو لاهو کړې او د دوی په رایه یې معامله وکړه. ولس؛ د دوی په رایه د دواړو ښاغلو له لوري کړې معامله هم وزغمله او یو ځل بیا یې قرباني ورکړه او دوه سره حکومت یې ومنو. هغه هم په دې خاطر چې ګویا د ملي وحدت حکومت به د دوی هیلې تر یو اندازې په رښتیا بدلې کړې خو له بده مرغه چې نه یوازې د ولس هیلې ترلاسه نه شوې بلکه د دوی د هیلو خلاف کړنې ترسره شوې.

د ملي وحدت د حکومت په واکمنۍ کې افغانانو ۲۰۱۵ م ز کال په سختۍ سره تېر کړ. دغه کال په امنیتي، اقتصادي او ټولنیز لحاظ ستونزو نه ډک و او ګڼې پېښې په کې وشوې. په مرکز کابل او نورو ولایتونو کې د کار د پیداګولو په موخه د خلکو اعتراضونه او په سلګونو زره هیوادوالو له هېواده تېښته، د هیواد اقتصاد له رکود سره مخ کېدل، د ولس او دولت تر منځ د واټن پیدا کېدل، په وروستیو کې د داعش د پدیدې حضور او بې رحمانه ظلمونه، د لویو لارو څخه د مسافرو برمته کېدل او د سرونو پرې کول، د ځینو ولایتونو د ځینو ولسوالیو د سقوط تر څنګ د کندز ښار سقوط، په ځپلې راتلونکې د خلکو بې باوره کېدل، پراخ اداري فساد ، د فقر د کچې نه راټیټیدل او سیاسي بې ثباتي؛ هغه څه دي، چې د ملي یووالي حکومت ولس ته د ۲۰۱۵ کال د میراث په توګه ورکړل.

افغان چارواکي؛ د سیمه ییزو همکاریو غونده یا ریکا او د تاپي د کازو نل لیکې د پروژې نهایي کېدل، د نړیوال بانک له لوري افغان دولت ته د ټاکل شوې کلني عاید څخه زیات عاید راتولول؛ د خپلو اقتصادي لاسته راوړنو څخه یادوي. حال دا چې د تاپي پروژې کار خو آن د طالبانو له واکمنۍ راهیسې روان و چې دا هم د تېرو دولتونو په لاسته راوړنو کې حسابیږي. همداشان د نړیوال بانک لخوا تر ټاکلې اندازې لوړ عاید راټولول هم د دولت په لاسته راوړنو کې نه حسابیږي. ځکه دغه عاید د دولت له لوري د یوې جوړې شوې فابریکې، کارخانې او یا هم د معدن د رایستلو په نتیجه کې نه دی ترلاسه شوی بلکې دا هغه پیسې دي چې د ولس له جیبه شکول شوې دي. دا د تلیفون په کریډیټ کارتونو د لس سلنې مالیې راټولې شوې پیسې دي چې له بده مرغه د وروستیو راپورنو له مخې دغه پروسه هم رڼه نه ده او اختلاس په کې شوی دی.

بل پلو ولسمشر څو ځلې ویلي چې هېواد یې له تجزیې ژغورلی، خو دا یې نه دي ویلي چې چا، کله او څه ډول افغانستان تجزیه کاوه او ده یې څنګه مخه ونیوله. دچارو یو شمېر شنونکي وايي، ولسمشر باید دخپلو هغو څرګندونو په اړه وضاحت ورکړي چې په بیا بیا یې ویلي، سږ کال یې دافغانستان دتجزیې مخه ونیوه. ځکه طالبان وايي، دوی هېڅکله دافغانستان تجزیه نه ده غوښتې، بلکې دافغانستان دنظام له منځه دهېواد دتجزیې خبرې راپورته کېږي.

افغان دولت ته په کار ده چې د فقر او نورو بدبختیو څخه د ولس په امان کې ساتلو لپاره په ۲۰۱۶م ز کال کې زراعتي سکټور ته وده ورکړي. همداشان د امنیت د ټینګښت په موخه د هوايي قوې پیاوړي کولو لپاره باید کار وشي. ځکه د ولس لومړنۍ غوښتنه په راتلونکي کې امنیت او کارموندنه ده.

مرغومی یا جدي/ 1396

# پاکستان د نوک په ځای کې سوک ځايوي

پاکستان هغه هېواد دی چې، افغانستان ورسره کلتوري، مذهبي، اقتصادي او دې ورته نورې ګډې اړيکې لري. دغه هيواد له جوړېدو بيا تر اوسه يو د افغانستان په جګړه کې ستره ونډه درلودلې ده. په دغه موده کې پاکستان له هر لوري هڅه کړې چې په يو نه يو ډول افغانستان ته سرخوږی جوړ کړي. کله يې په کورنيو چارو کې ښکاره لاسوهنه کړې، کله يې د مذهبي ايډيالوزۍ له لارې د جګړې ډګر کرم ساتلی، کله يې له سرحدي سرو کرښو تجاوز کړی او کله يې د افغان دولت سره پټه دوه مخې ډيپلوماسي پر مخ وړې ده. له کلونو راهيسې د پاکستان د شف شف موخه د ډيورنډ کرښې ته رسميت ورکول دي چې په يو نه يو ډول دغې کرښې ته رسميت ورکړي او افغان دولت ته په نړيواله کچه د دغې کرښې د رسميت اسناد پيدا کړي.

په ډيورنډ کرښه له اغزن سيم له غزولو نيولی بيا په سرحدي سيمو (د ننګرهار په ګوشته کې دروازه، د پکتيکا په انګور اډه کې دروازه، د کندهار په سپين بولدک کې د افغانستان خاورې ته راننوتل) په دغو سيمو کې د افغانستان په خاوره کې تاسيسات جوړول، پر ډيورنډ کرښه خندق کيندل او په ورستيو کې له افغان کډ حکومت سره د استخباراتي معلوماتو پټ تفاهم ليک لاسليکول؛ د پاکستان دغه ټولې هڅې يوازې او يوازې د ډيورنډ کرغېړنې کرښې ته درسميت ورکولو په خاطر کوي. پاکستان اوس په دې هڅه کې دی چې د نړيوالو لپاره د ډيورنډ کرښې د رسميت لپاره له افغان دولت څخه سند تر ګوتو کړي.

اوس په وروستيو رپوټونو وايي پاکستاني ځواکونه يو ځل بيا پر ډېورنډ کرښه د امنيتي پوستو پر ډېرولو بوخت دي. پاکستاني رسنۍ د دې هېواد د لوړ پوړو پوځي چارواکو له خولې ليکي چې د امنيتي تدابيرو د لا ټينګښت په خاطر غواړي پر ډېورنډ کرښه امنيتي پوسته ډېرې کړې. د سرچينې له قوله پاکستاني پوځيان پر ډېورنډ کرښه په باجوړ سيمه کې د امنيتي پوستو د ډېرولوو هوډ لري، چې د ايکسپرېس په وينا پوځي چارواکي يې د مخالفينو اوښتو را اوښتو لاره بولي. پاکستان وروسته له هغه دا اقدام کوي چې د ګډ حکومت مشر محمد اشرف غني اسلام اباد ته پخپل وروستي سفر کې ومنله، چې د پاکستاني طالبانو په خلاف به په افغانستان کې عمليات کوي. محمد اشرف غني د اسلام اباد په سفر کې له پاکستاني چارواکو سره ژمنه وکړه، چې د ملا فضل الله په لټه کې به پوره هڅې کوي. پاکستان اوس د ډيورند کرښې په شاوخوا کې د ترهګرو د تګ او راتګ د مخنيوي په نوم پوځي تاسيسات جوړوي او لويه هڅه يې دا ده چې په افغان دولت کې د نوک په

ځای کې سوک ځای کړي او نړیوالو ته د ډیورنډ کرښې د رسمیت لپاره مدارک او شواهد په لاس راوړي.

پاکستان په وروستیو کې په پرله پسې توکه هڅه کړې له اوسني افغان دولته د ډیورنډ د رسمیت اړوند اسناد ترلاسه کړي خو په مقابل کې یې افغان دولت کونکه روژه نیولې او پر وړاندې یې چوپتیا غوره کړې ده. د اوسني کډ حکومت له یوې کلنې دورې څخه پاکستان دومره کټه ترلاسه کړې چې په تیرو دیارلسو کلونو کې یې له پخواني حکومته نه وه ترلاسه کړې. د کډ حکومت له پیله اشرف غني پاکستان ته یو طرفه امتیاز ورکړی او اړیکې یې ورسره د پخواني ولسمشر او ولس د هیلو خلاف؛ له صفره شروع کړې. له پاکستان ته سره د افغان دولت د استخباراتي معلوماتو د شریکولو د تفاهم لیک او همداشان د (ایس، او، پي) سند لاسلیکول؛ د کډ حکومت له لوري پاکستان ته د امتیاز ورکولو ښکاره بیلګې دي او لیرې نه ده چې د همدغو سندونو د لاسلیک په پایله کې د ډیورنډ د رسمیت لپاره هم سند ترلاسه کړي.
که ریښتیا ووایو نو افغانستان د پاکستان دپاره هیڅ ډول پالیسي نه لري د افغانستان دولت په کار دي چې خپله پالیسي د پاکستان اړوند یو څه بدله کړي او همدا راز د پاکستان حکومت سره د اعتماد فضا منځته راوړل شي ـ د دې ترڅنګ د عامه خلکو په کچه چې په هغې کې رسنی ، زدکړیالان ، مدني ټولنې او داسې نور هم د اعتماد جوړولو په بهیر کې راکډ کړې شي. که افغان دولت دغه دریځ خپل کړي نو د ارامی یو څه تمه شته که نه نو همدا اوسنی حال به وي.

مرغومی یا جدې/ 1396

# په پرله پسې ډول د اتو فرمانونو ردېدل څه معنا لري؟

د افغانستان د اساسي قانون په ۷۹ مه ماده وايي: ((حکومت کولای شي د ولسي جرګې د تعطيل په حالت کې له بوديجې او مالي چارو پرته د بېړنۍ اړتيا پر اساس تقنيني فرمانونه ترتيب کړي. تقنيني فرمانونه د جمهور رييس تر توشېح وروسته د قانون حکم پيدا کوي. تقنيني فرمانونه بايد د ملي شورا د لومړۍ غونډې تر جوړېدو وروسته د دېرشو ورځو په اوږدو کې هغې ته وړاندې شي اوکه د ملي شورا له خوا رد شي، خپل باور له لاسه ورکوي.))

په تېرو څلورو مياشتو کې ولسي جرګې د کډ حکومت د مشر اته تقنيني فرمانونه رد کړي دي. دا فرمانونه ټول داسې دي چې يا د اساسي قانون سره په ټکر کې دي، يا اړين نه دي، يا د افغانستان اوسنيو شرايطو سره اړخ نه لګوي او يا هم بېځايه د موازي ادارو جوړول او د بوديجې مصرفول دي. دا سمه خبره ده چې ولسمشر د تقنيني فرمانونو د ورکولو حق لري، خو دا فرمانونه قانون محدود کړي دي. ولسمشر نشي کولی د بودجې او مالي چارو کې تقنيني فرمان ورکړي. ددې ترڅنګ تقنيني فرمان بايد له اساسي قانون سره په ټکر کې هم نه وي. خو اساسي پوښتنه دا ده چې په پرله پسې توګه د ولسمشر د فرمانونو ردېدل څه معنا لري او په تيره بيا د هغه ولسمشر فرمانونه چې د نړۍ دويم ستر متفکر وي؟

د کډ حکومت مشر اشرف غني چې د نړۍ دويم ستر متفکر هم نومول شوی دی او د (ناکام دولتونه څنګه جوړول کېږي) په نوم د دولت جوړونې کتاب ليکوال هم دی؛ نو طبيعي خبره ده چې دم او قدم دواړه يې په فکر او قانون سره برابر واوسي. د نړۍ متفکر بايد د نورو عادي انسانانو په پرتله کمې اشتباوې وکړي. خو دا چې د لفظي لويو اشتباهاتو تر څنګ په قانون کې هم اشتباه کوي نو دا بيا د نوموړي ستر متفکرتوب د پوښتنې لاندې راولي. د ولسمشر او د نړۍ د متفکر په توګه د نوموړي علميت او شخصيت تر پوښتنې لاندې راځي چې آيا له قانونه ناخبره دی او که په لوی لاس په قصدي توګه قانون تر پښو لاندې کوي؟

د کډ حکومت د مشر او د نړۍ د دويم ستر متفکر هغه فرمانونه چې په تېرو څلورو مياشتو کې رد شوي دي په لاندې ډول دي:

۱ـ د ولسمشر اتم رد شوی تقنيني فرمان : همدا تېره ورځ د مرغومې په پنځمه نېټه ولسي جرګې د ټاکنو قانون په اړه د ولسمشر اتم تقنيني فرمان د رايو په اکثريت سره رد کړ. د ولسي جرګې غړو په دې استدلال ياد فرمان رد کړ چې د دغې موضوع په اړه په اساسي قانون کې خپله ماده شته او ولسمشر حق نه لري چې په اساسي قانون کې بدلون راولي.

۲ـ د ولسمشر اووم رد شوی تقنيني فرمان : د روان کال د ليندۍ په ۳۰ مه نېټه ولسي جرګې د انتخاباتي کمېسيونونو په اړه د ولسمشر فرمان رد کړ. ولسي د دغه فرمان د ردېدو دلايل داسې په ګوته کړل : د انتخاباتو کمېسيونونو کارونه د غوراوي کميټې ته ورسپارل شوي؛ دا کمېټه چې جوړه شوي او يا چې دوی وړانديزونه کوي؛ دا غير قانوني اعمال دي، ځکه د انتخاباتو کمېسيون د ولسي جرګې څخه د باور رايه اخيستې ده؛ په دغو امورو کې د جمهور رييس فرمان د قانون سره په ټکر کې و او ستونزه دا وه چې هېواد نور د بحرانوو سره مخ کېده.

۳ـ د ولسمشر شپږم رد شوی تقنيني فرمان : څه موده وړاندې د ليندۍ په ۳۰ مه نېټه ولسي جرګې د ټاکنيزو اصلاحاتو کمېسيون د وړانديز شوې کڅوړې د اوو مادو په اړه د ولسمشر فرمان د رايو په اکثريت سره رد کړ. ټاکل شوې وه چې د ياد فرمان پر بنسټ د ټاکنو په قانون او د ټاکنو خپلواک کمېسيون او ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د تشکيل او واکونو په برخو کې تعديلات رامنځته شي خو ولسي جرګې په دې خاطر دغه فرمان رد کړ، ځکه د ټاکنو او د ټاکنيزو کمېسيونونو د تشکيل او واکونو قانون شتون لري او د ټاکنيزو کمېسيونونو د تشکيل او واکونو قانون د ۱۴ مادې پر بنسټ، که چېرې د قانون تعديل ته اړتيا وي، بايد د ټاکنو خپلواک کمېسيون له لوري وړانديز شي.

۴ـ د ولسمشر پنځم رد شوی تقنيني فرمان: د روان کال د لړم په ۹ مه نېټه د ولسي جرګې غړو په عمومي غونډه کې د ولسمشر محمد اشرف غني فرمان، چې د جمهوري رياست د "اقتصادي مشاوريت د ځانګړي بوديجوي واحد" په هلکه خپور شوی وو په اکثريتو رايو رد کړ. د ولسمشر په دغه فرمان کې راغلي و، چې د جمهوري رياست اقتصادي مشاوريت دې يو ځانګړی بوديجوي واحد وي.

۵ـ د ولسمشر څلورم رد شوی تقنيني فرمان : د روان کال د لړم په ۲۳ مه نېټه ولسي جرګې د ولسمشر پنځم تقنيني فرمان چې له مخې يې امنيتي ارګانونه د سرپرستۍ له قانونه مستثنی بلل شوي وو، د رايو په اکثريت رد کړ. په داسې حال کې چې ولسي جرګې د روان کال د غبرګولي مياشتې په لومړيو کې د سرپرستۍ د

تنظیم قانون د تعدیل طرحه  تصویب کړه چې له مخې یې هېڅوک هم په دولتي ادارو کې له دوو میاشتو زیات د سرپرست په توګه نه شي پاتې کېدلی. خو ولسمشر د ملي شورا د اوړي په رخصتیو کې د یوه تقنیني فرمان د صادرولو له لارې امنیتي ارګانونه له دغه قانون نه مستثنی وبلل خو ولسي جرګې یاد فرمان د رایو په اکثریت رد کړ.

۶ـ د ولسمشر دریم او دویم رد شوي تقنیقي فرمانونه : د روان کال د تلې په ۲۹ نېټه ولسي جرګې پر عایداتو د مالیاتو او ګمرکاتو قانون د ځینو مواردو د تعدیل په اړه د ولسمشر دوه تقنیني فرمانونه د رایو په اکثریت رد کړل. د دغه فرمان له مخې، پر عایداتو مالیات له دوه سلنې څلور سلنې ته لوړ شوي و. ولسي جرګه وویل دغه فرمان د اساسي قانون د ۷۹مې مادې خلاف دی؛ ځکه چې د دې مادې له مخې ولسمشر نه شي کولی چې د بودیجې او مالي برخه کې تقنیني فرمانونه صادر کړي.

۷ـ د ولسمشر لومړی رد شوی تقنیني فرمان : د روان کال د تلې په ۲۲ مه نېټه ولسي جرګې پر مخابراتي خدمتونو د لس سلنې محصول د وضع کولو په اړه د ولسمشر فرمان د رایو په اکثریت سره رد کړ. د وزیرانو شورا د پرېکړې او ولسمشر د فرمان له مخې، د مخابراتي خدمتونو  پر ټولو کټه اخیستونکو د مخابراتي خدمتونو لس سلنه محصول وضع شوی او روان کال  د تلې میاشتې له لومړۍ نېټې عملي شو.

مرغومی یا جدې/ 1396

# جنرال شریف څه ته راغلی و؟

د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال راحیل شریف، چې په پاکستان کې د قدرت اصلي خاوند بلل کېږي، تېره ورځ په کابل کې د افغانستان له ولسمشر او اجرایي رییس سره د سولې پر بهیر خبرې وکړې. راپورونه وايي چې جنرال شریف افغان چارواکو ته د سولې په بهیر کې د بشپړې همکارۍ ژمنه ورکړې ده.

که له افغانستان سره د پاکستان نیت، تېرو اړیکو، نوموړي هېواد ته د پخوانیو او اوسنیو افغان چارواکو سفرونو پایلو، دلته کابل ته د راحیل شریف تېرو درېو او نورو پاکستاني چارواکو تېرو سفرونو پایلو ته وګورو نو له دغه سفره هم ډېره تمه نه شي کېدلای. دراحیل شریف سفراوس هم دافغانانولپاره ریښتونی نه دی او د شک په سترګه ورته کتل کېږي. دا تېر څوارلس کاله پاکستان ته په بیلابیلو بنو امتیازات او حتا ډېرې وختونه؛ له دغه هېواده د ریښتونې همکارۍ په هیله یو طرفه امتیازات ورکړل شوي دي؛ خو پایله یې تل د ولس او افغان دولت د هیلو خلاف او د پاکستان په ګټه راوتلې ده. له دغه ناولي هېواده د ریښتونې همکارۍ تمه په هغه ځال کېدلای شي چې دا هېواد لومړی په خپله خاوره کې د ترهګرو ځالې او روزنځایونه له منځه یوسي. که پاکستان په ریښتیا غواړي په افغان سوله کې همکاري وکړي باید هغه ډلې وځپي چې د افغانستان پر ضد وسله واله مبارزه کوي.

اصلاً د پاکستانیو چارواکو تېرو سفرونو ته په کتو د جنرال شریف اوسنی سفر هم بې ګټې دی، پاکستان تل د خپلو ګټو لپاره افغان حکوت په تشو ژمنو غولولی دی. که افغان حکومت د سولې خبرو ته منظم پلان جوړ نه کړي؛ نو ورته سفرونه د سولې په برخه کومه مثبته پایله نه لري. ځینې شنونکي بیا وايي، پاکستان غواړي د هند د لومړي وزیر سفر، چې افغانستان ته ډېر ګټور و، تر پوښتنې لاندې راولي او هڅه کوي، چې دلته د خپلو پلویانو په مرسته، چې په حکومت کې یې لري دا سفر یو ډول د پاکستان خلاف یاد کړي؛ خو په حقیقت کې داسې نه ده. پاکستان هیڅکله د افغانانو له زړونو د هندوستان لپاره محبت نه شي کمولی او هیڅکله د هندوستان اړوند منفي ذهنیت سازي نه شي کولی. راحیل شریف دلته یوازې د سولې خبرو د بیا پیل لپاره نه و راغلی بلکه دلته افغان دولت او پاکستان یو ډول پټه ډیپلوماسي شروع کړې ده. د پاکستاني رسنیو د راپورونو پر اساس راحیل شریف دلته د ډیورند کرښې دواړو لورو ته د امنیت د کنټرول د میکانیزم پیداکولو لپاره راغلی و. دلته خبره یوازې هغه نه ده کومه چې چارواکي زمزمه کوي بلکې د شریف په دغه سفر کې د پاکستاني طالبانو پر ضد پر ګډې مبارزې هم خبرې وشوې. افغان چارواکي د پخواني متل په مصداق؛ خپل مړي په تخته پرېږدي خو د بل جنازې ته درومي.

په افغانستان کې د اشرف غني او د عبدالله تر منځ د ملي یووالي تر نامه لاندې حکومت له پیل راهیسې دا د راحیل شریف دریم سفر دی چې کابل ته یې کوي او د ملي یووالي حکومت هم د ولس د غوښتنو او هیلو خلاف عمل کوي. افغان دولت او د پاکستان تر منځ پټه ډیپلوماسي روانه ده. حکومت رسنیو او ولس ته یو څه وایي خو د پردې تر شا بله معامله روانه ده. د ملي یووالي د حکومت مشرانو د شریف په هر سفر کې پاکستان ته یو ډول یو طرفه امتیاز ورکړی دی. ولس سوله غواړي خو داسې سوله نه چې دوی ته د ملي ارزښتونو او ګټو په قیمت تمامه شي.

له تېرو څو لسیزو راهیسې پاکستان له افغانستان سره په یوې نا اعلان شوي جګړې بوخت دی. په هیواد کې د روان جنګ په اړه د خلکو او حکومت نظرونه هم ویشلي دي. حکومت وایي، روانه جګړه استخباراتي او دښمن غواړي پر افغان ځواکونو، دولتي تاسیساتو او ولسي وګړو د بریدونو له لارې زور ښودنه وکړي خو ولس د روانې جګړې په اړه د دولت ناکاره او کمزورې پالیسیو نیوکه کوي. ولس نیوکه لري چې ولې له تېرو څو لسیزو راپدېخوا په هېواد کې د پاکستان د لاسوهنو د مخنیوي او له دغه هېواد سره د متقابلو اړیکو پالیسي جوړه نه شوه.

دا سمه ده چې افغانستان د بهرنیو دسیسو په پایله کې اوس د جګړې نوی پړاو ته داخلېږي. دلته د جګړې د ډګر د ګرم ساتلو لپاره د طالب پر ځای اوس بل بدیل پیدا شوی دی. داعش د طالب هغه بدیل دی چې جنایات یې له طالبه په مراتبو لوړ او زړه بوږنونکي دي. خو ولس نور له دغه اوره ځان او د هېواد ساتل غواړي. ولس نور نه غواړي چې هم یې پاکستان او هم یې افغان دولت په تکراري ژمنو او شعارونو وغولوي.

**مرغومی یا جدي/ 1396**

# ځینې کړۍ چې د ډیورنډ فرضي کرښې ته د رسمیت ورکولو هڅې کوي

د وروستیو ناتایید شویو راپورونو له مخې پاکستان افغانستان سره د سولې لپاره تازه درانده شرطونه وړاندې کړي دي. پاکستان د طالبانو سره د سولې په خبرو کې نه یوازې دا غوښتنه کړې وه، چې طالبانو ته دې مخکې له مخکې شرطونه نه وړاندې کیږي، بلکې د افغانستان لپاره پاکستان خپل شرطونه هم وړاندې کړي دي.

- د ډیورنډ فرضي او تپل شوې کرښې په رسمیت پېژندل
- د کونړ د سیند په اوبو کې د پاکستان شریکول
- په جلال آباد او کندهار کې د هند کونسلګریو تړل
- او په افغانستان کې د پاکستان ضد تبلیغاتو بندول

دا هغه شرطونه دي چې د وروستیو راپورونو پر بنسټ د پاکستان له لوري افغان دولت ته د سولې راوستلو په مقابل کې ایښودل شوي دي. دلته درې خبرې مهمې دي چې د دغه راپور ناکره والی ترې څرګندیږي. لومړی دا چې دا خبر تر اوسه نه افغان دولت او نه هم پاکستاني دولت په رسمي توګه تایید یا رد کړی دی. ممکن د افغان سولې پروسې د سبوتاژ کولو لپاره د نورو استخباراتي کړیو یوه هڅه وي چې غواړي افغان دولت په نورو مسایلو بوخت وساتي.

دویم دا چې؛ دا هغه د منلو شرطونه دي چې په افغانستان کې حتی دولتونه د دې د شرطونو د منلو واک نلري.

دریم دا چې د انګلیس لخوا د افغان ولس په زړه د ډیورنډ کرښې له راکښلو تر ننه پاکستاني دولت هیڅکله په زغرده او واضیحه توګه؛ له افغان دولته د ډیورنډ فرضي کرښې د رسمیت غوښتنې جرأت نه دی کړی. ځکه د یادې کرښې اړوند پریکړه کول د دولتونو نه بلکې دواړو غاړو ته د میشت ولسونو کار دی. نو څنګه باور کېدلای شي کویا پاکستان دې دا ځل د افغان سولې په مقابل کې؛ په داسې حال کې چې چین او امریکا یې منځګړیتوب کوي؛ دا ډول نا مشروع غوښتنې وکړي؟

دا سمه ده چې پاکستان د افغان سولې پروسې سره همکاري نه کوي. دا هم د هیرولو نه ده چې پاکستان نه غواړي په افغانستان کې سوله راشي ځکه دغه هیواد په افغان وژنه او افغان جنګ کې د خپل پوځ ژوند او پایښت ویني. پاکستان د افغان جګړې په پیسو خپل پوځ تمویلوي. که چیري دلته جنګ سوړ شي او سوله راشي نو د پاکستان اقتصادي حالت ته په کتو د نوموړي هیواد پوځ به مالي امکانات له لاسه ورکړي. نو پر همدې اساس په هیڅ صورت د افغان سولې پروسې سره همکاري نه کوي. خو پورتني دریو دلایلو ته په کتو

داسې انګېرل کېږي چې دا د ځینو کورنیو مغرضو او بهرنیو استخباراتي کړیو پلان دی چې غواړي د افغان سولې پروسې د بیا پیل کېدونکو خبرو پر وړاندې یو ځل بیا خنډ پیدا کړي.

د ډیورنډ کرښه، چې د هیواد د میشتو قومونو له جملې؛ د اکثریت نفوس لرونکي قوم پر زړه د انګلیسانو لخوا کښل شوې؛ دومره دردونکې ده، چې په ځینو سیمو کې یې د یوه کلي خلک په دوه برخو ویشلي، یوازې ولسونه؛ په ځانګړي توګه همدا قوم یې د پرېکړې حق لري. دلته اوس ځینې کورنۍ کړۍ شته چې د ډیورنډ فرضي کرښې په رسمیت پېژندلو ته چمتو دي. همدوي دي چې د ځینو د تعصب په ناروغۍ ککړو رسنیو له لارې یې همدا موضوع توده نیولې ده. هر وخت یې په اړه بحثونه نیسي او داسې ذهنیت جوړونه کوي چې ګویا د ډیورنډ په رسمیت پېژندلو سره به افغانستان ګل و ګلزار شي او هره خوا به سوله او ارامي شي. دوی که څه هم ظاهراً د افغانستان د ارامۍ او سولې خبرې کوي خو تر شاه یې موخه دا ده چې د هیواد اکثریت نفوس لرونکی قوم په دوه ټوټو وویشي او یو بل قوم اکثریت ثابت کړي.

کارپوهان هم زیاتوي، چې یو شمیر فاشستي ډلې، چې غړي یې ځانونه افغانستاني بولي، ځینو افغان دښمنه رسنیو په مرسته، د ډیورنډ کرښې موضوع ډېره راپورته کوي او داسې ډنډورې غږوي، چې د دې کرښې د رسمیت پېژندو سره به په هېواد کې سوله او ارامي راشي. په داسې حال کې چې دا د یو لوی قوم د ځپلو هڅه ده. دلته ځینې کړۍ دي چې په لوی لاس یې د لوی قوم د ځپلو پروژه پرانیستې ده او د ډیورنډ فرضي کرښې په رسمیت پېژندلو ته یې تبلیغات پیل کړي دي. افغان غیرتي او یو موټی ولس او افغان دولت دې خبرداره وي چې د دښمن په نوي دام کې ونه نښلي.

مرغومی یا جدې/ 1396

# خبردار..! پاکستان بیا هم دام ایښی

مونږ په هیواد کې د تلپاتې او سرتاسري سولې غوښتونکي یو؛ او تل مو د سولې غوښتنه کړې ده؛ جنګ دې ورک شي سوله ده چې په وچو شونډو موسکا او په رژېدلو زړونو کې هیله مندي پیدا کوي. ټول افغان ولس په هیواد کې له لسیزو روانو جنګونو تر پوزې راغلی او د سولې څراغ ته لارې څاري. ټول ولس همېشه د سولې ناره اوچته کړېده او جنګ یې مردود بللی دی. کلونه کېږي چې افغان حکومتونو په هیواد کې د سرتاسري سولې هڅه کړې ده او د سولې پر وړاندې یې خپلې دروازې پرانیستې دي. تېر حکومت هم ډېر کوښښونه وکړل چې ولس د سولې له نعمته برخمن کړي خو ونه توانید. اوس د اشرف غني او عبدالله تر منځ ګډ د ملي یووالي حکومت هم ډېرې هڅې وکړې او لا هم دوام لري. دا چې ولې دا هڅې پایله نه ورکوي؟ آیا د سولې اراده موجوده نه ده او که د سولې راوستلو میکانیزم او ستراتیژي غلطه ده؛ په دې نه غږیږو خو سوله له چا سره؟ څنګه سوله او په کوم قیمت؟

تېره ورځ په اسلام اباد کې د افغانستان د سولې د درېدلیو خبرو د بیا پیلولو د لارو چارو د پیدا کولو په څلور اړخیزه غونډه کې؛ د پاکستان د بهرنیو چارو سلاکار سرتاج عزیز داسې خبرې کړي؛ ته به وا چې د وسله والو طالبانو رسمي استازی وي. نوموړي ویلي چې د افغانستان د حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ د سولې خبرو ته باید مخکې تر مخکي شرط کېښنبودل شي.عزیز وایي : دا مهمه ده چې د پخلاینې له پروسې سره هیڅ راز وار مخکې شرط ونه تړل شي ځکه چې د مخکې تر مخکې شرط ټاکل به د سولې خبرو ته د طالبانو په راوستلو کې ستونزې جوړې کړي. سرتاج عزیز افغان دولت ته وړاندیز کوي چې وسله والو طالبانو ته باید امتیاز ورکړل شي. نوموړی زیاتوي : «په کار ده چې طالبانو ته هڅوونکي امتنیازونه وړاندې شي چې له جګړې لاس واخلي او له سیاسي لارې د هدفونو د ترلاسه کولو هلې ځلې وکړي.»

د سرتاج عزیز له دغو څرګندونو په ډاګه څرګندیږي چې نوموړی له یوې خوا د طالبانو رسمي استازیتوب کوي او له بلې خوا د پوځ او پنجاب له منافقته ډک سیاست مخې ته وړي. اصلاً طالب ته امتیاز ورکولو ته څه اړتیا لیدل کېږي؟ که په امتیاز ورکولو خبره حل کېدلای نو افغان دولت خو تل د سولې لپاره د طالبانو پر مخ دروازې پرانیستې دي؛ نو ولې طالب ټوپک په ځمکه کېښنبود؟ افغان دولت خو هیڅکله هم هغه طالب چې ټوپک په ځمکه ږدي او د مذاکرې مېز ته کېني؛ د دښمن په توګه نه دی پېژندلی. افغان حکومت خو وسله والو

مخالفانو ته که د سیاسي مخالف او کله د مرور ورو خطاب کړی دی او تل یې له دوی سره د خبرو اترو هرکلی کړی دی. طالبانو ته له دېنه بل لوی امتیازبه څه وي؟

اصلاً خبره دا ده چې پاکستان اوس لوړ په لوټه تیره کوي او د سولې د راوستلو لپاره هیڅ راز اراده نلري. دغه هیواد یوازې غواړي چې د خپل امتیاز تر څنګ؛ وسله وال طالبان هم د افغان دولت له لوري په امتیاز ونازوي. په اسلام اباد کې د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا تر منځ څلور اړخیزې ناستې څخه هم هیله مندي نه ده په کار. مونږ یو ځل بیا وایو چې سوله په زارۍ او له پاکستانه په خیرات غوښتلو نه کیږي. سوله قوي میکانیزم، پیاوړې اراده او رښتونې اقدامات غواړي او یوازې په شعارونو او تکراري ژمنو نه کیږي.

له افغانستان سره د پاکستان تیر سیاست او د کابل ــ اسلام اباد تیرو اړیکو ته په کتو؛ په پاکستان باید هیڅ ډول باور نه وای شوی او نه باید وشي. اصلاً له پاکستانه د طالبانو سره دسولې په خبرو کې مرسته غوښتل دوخت ضایع کول دي ځکه دا نسخه په تیر کې په وار وار تجربه شوې ده چې پایله یې د پاکستان یوازې تکراري ژمنې او ده مخی سیاست دی. له کله نه چې د برتانوي هند څخه د پاکستان په نوم هیواد جلا شوی دی؛ پاکستان په سیمه کې د سترو قدرتونو د استخباراتي لوبو په مسیر تګ کوي. اصلا دغه هیواد هم د همدې شیطانت او رضالت، دوه په جنګ اچولو او په سیمه کې د لویدیځ د موخو ترلاسه کولو په هدف د انګریز استعمار له لوري رامنځته شوی دي. له هغه ځایه، چې پاکستان د نړیوالو لویو قدرتونو د ګټو د خوندیتوب له پاره رامنځته شوی، نو په سیاسي ډګر کې پرې باور یوه تېروتنه ده؛ ځکه طبیعي ده، چې دغه هېواد د هغوی د ګټو او موخو په مسیر حرکت کوي.

اوسنی کډ حکومت که بیا هم پر پاکستان باندې په سیاسي مسایلو کې باور کوي، په حقیقت کې خپل ځان دوکه کوي چې بیه به یې بیا هم ولس پرې کوي. ځکه په دغه هیواد باور کول هغه تېروتنه ده، چې له شلمې پېړۍ راوروسته تر ننه تکرارېږي.

مرغومی یا جدې/ 1396

# د ښوونځي سوځول، نه بخښونکی جنایت

د پل نړول، د ښوونځي سوځول اود ښوونکي وژل څه نوی خبره نه ده ، له تیرو څو لسیزو راهیسې دا غیر انساني، غیر مسلماني او غیر افغاني اعمال ترسره کیږي. دا چې په افغانستان کې د څو لسیزو را په دې خوا جنګ، جګړې او ناخوالي رواني دي، کله د یو هیواد د استخباراتي لوبو قرباني کیږو او کله د بل ، کله بیا یوه ټولنه او ګروپ مو پخپلو کې سره جنګوي او که بل، ښوونځی مو سوځول کیږي، مسجدونه مو په بمونو الوځول کیږي، ملا مو په ښوونکي پسې اخیستې، ښوونکی مو بیا د مدرسې زده کړې نه مني، استخباراتي کړیو خو راته مدرسې د افراطیت په روزنځایونه بدلې کړې.له هیواد سره مو مینه کمه او حتا ورکه شوه.

که څه هم له یو لوري؛ نړ او ښځه ټول د افغانستان د پرمختګ او ابادۍ نارې وهو او غواړو چې په هیواد کې مو ارامي راشي.په اسلام ویاړو د هیواد پالنې نارې وهو او د مسلماني دعوه ګیران هم یو خو له بده مرغه په همدغه ټولنه کې بیا داسې کسان هم لرو چې ښوونځي مو سوځوي، ښوونکي مو وژني او اولادونه او د هیواد راتلونکی مو د جهل په تیارو کې ساتي. موږ هم اسلامیت، انسانیت او افغانیت نارې وهو او دغه کسان هم چې دا کارونه کوي، موږ هم د اسلام په تېر تمدن او عظمت ویاړو او دوی هم، مګر دوی جاهله بیا له ځانه پوښتنه نه کوي چې د مسلمانانو تېر ویاړ خو په وژلو او ورانولو کې نه و، بلکې په ابادولو او نیکي کولو کې و؛ نو ولې، په کوم اساس، په کوم دلیل او په کومه بهانه موږ د خپل مسلمان ورور وینه ځانته روا بولو؟ د قرآن په کوم آیت شریف او سرور کاینات ص په کوم مبارک حدیث کې دا راغلي دي چې یو مسلمان دې د نورو مسلمانانو د زده کړې ځایونه (ښوونځي) وسوځوي؟

همدا تېره ورځ د کابل ولایت په احمدشاه بابا مینه کې یو ښوونځی سوځول شوی او د ښوونځي ملازم وژل شوی دی. که زموږ دیني علما او مذهبي سیاستوال افراطیت ونه غندي؛ نو لیرې نه ده چې سبا به دوی ته هم اور ور اچوي او بیا د ځان لپاره د دلیل پیدا کولو لپاره به پرې د کفر ټاپه وهي او وایي به چې د دوی ایمانونه کمزوري و.

ایا د افغانانو ماشومان د ځمکې پر سر د ژوند کولو حق نلري؟ که یې لري نو ولېبیا په یو نوم او په بل نوم وژل کیږی؟

ایا دا زموږ کوچنیان ددرس ویلو او زده کړې حق نلري؟ که یې لري نو بیا ولې یې ښوونځی سوځول کیږی، استاد یې وژل کیږی؟

ولې مو د ښوونځي د کتابونو سیځیل روا کڼل کیږي؟

آیا څکه روا دي چې د افغان زده کوونکیو د زده کړې لامل کیږي ؟

آیا د افغان ښوونکي وژل څکه روا دي چې افغان زده کوونکیو ته زده کړه ورکوي؟

آیا د افغان د ښوونځي د ساتونکي سیځل او وژل څکه روا دي چې افغان ښوونځی؛ د افغان بچیو د زده کړې لپاره ساتي؟

دا ټول زموږ د مطلقې بېسوادی او جهالت نماینده کي کوي چېد ښوونځي سوځول او ورانول ستر برى بولو، د سړکونو، فابریکو،داوبو دبندونو، دبریښنا دمزیو غوڅول او نورو عام المنفعه ځایونو ویجاړول خپلویاړ بولو. همدا دلیل دی چې په هیواد کې مو د قانون پر ځای ټوپکواک چلوي. همدا دلیل دی چې د اسلام د دعوه کیرانو په نوم مو اسلامی ارزښتونه نقض کیږی. همدا دلیل دی چې بهرنیان مو د خپلو موخو د پلي کیدو لپا ره کاروي، همدا دلیل دی چې ټولنیز ارزښتونه مو په نظر کې نه نیول کیږي. او که په روښانه توګه ووایم نو همدا د بېسوادی او جهالت اغیز دی چې هیواد مو د لسیزو جګړو میدان دی او هره ورځ مو د بیګنا افغانانو وینه توییږي.

دلته د پړې بله ګوته بیا افغان دولت ته هم نیول کیږي چې په سالمه او اړینه توګه د خلکو او ولس د سر، مال، ملي کتو او عام المنفعه ځایونو ساتنه نه کوي. که چېرې یې په سمه توګه ساتنه کولی نو د هېواد په پلازمینې کابل په زړه کې د احمدشاه بابا په مینه کې ښوونځی سوځول کیږي؟

مرغومی یا جدې/ 1396

# د غوراوي کمېټه به څه وکړي؟

یاده کمېټه څومره قانوني مشروعیت لري؟ آیا دا کمېټه خپلواکه او بې پرې ده او که د ارګ او اجرایه ریاست تر سیوري لاندې؟
او آیا په ټاکنیزو کمیسیونونو کې د افرادو بدلون به په ټاکنیز نظام کې د اصلاح سبب شي ؟
تیره ورځ د ټاکنیزو کمیسیونونو لپاره د کمیشنرانو د غوراوي کمېټې په کار پیل وکړ. ټاکل شوې یاده اووه کسیزه کمېټه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د غړیتوب لپاره د اشخاصو یو نوملړ افغان ولسمشر ته وړاندې کړي. د غوراوي کمېټه د خپل کار له پیل وروسته په کمېسیون کې د غړیتوب لپاره د افرادو غوښتنې څېړي او د څېړنو له پای ته رسېدو وروسته به ۲۱ کسه د ټاکنو خپلواک کمېسیون او ۱۵ نور د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون لپاره ولسمشر ته ور وپېژني. ولسمشر د دوی له منځه اووه کسه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د کمشنر او پنځه نور په ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کې د کمېشنرانو په توګه ټاکي.
لومړی خو په افغانستان کې د ملي یووالي تر نامه لاندې د اشرف غني او عبدالله ګډ حکومت کومه قانوني جنبه نه لري او بیا د ټاکنیزو اصلاحاتو ۱۴کسیزکمېسیون چې په دې وروستیو کې د ولسمشر او اجرایه ریس لخوا دشوي تفاهم لیک پر بنسټ رامنځته شو، غیرقانونیوالی یې په خپل ذات کې دهماغه غیرقانوني تفاهم لیک څخه جوتیږي چې دهېواد په هیڅ قانون او یاتقنیني سند کې وړاندوینه نه ده شوې. اوس چې تیره ورځ د ټاکنیزو کمیسیونونو لپاره د کمیشنرانو د غوراوي کمېټې په کار پیل وکړ؛ له یادې کمیټې سره هم پراخ غبرګونونه پیدا شول. ولسي جرګې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون یې لا له وړاندې مخالفت څرګند کړی دی.
ولسي جرګه د ټاکنیزو کمیسیونونو له پاره د نویو کمېشنرانو د غوراوي کمېټې د کار پیل ناقانونه ګڼي او وايي چې تر اوسه ولسي جرګې د ټاکنیزو کمیسیونونو د تشکیلاتو او واکونو قانون طرحه تصویب کړې نه ده او څو پورې یې چې برخلیک نه وي معلوم شوی، د غوراوي کمېټه باید کار پیل نه کړي. دوی وايي که چېرې په ملي شورا کې د ولسمشر فرمان برخلیک معلوم نه شي، نو د غوراوي کمېټې کار د قانون خلاف دی.
بلو پلو د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کمېسیون هم وايي چې د ټاکنیزو کمېشنرانو د غوراوي کمېټه ورته د منلو وړ نه ده. د دغه کمېسیون مرستیال عبدالرحمن هوتکي ویلي، چې ټاکنیز کمېشنران د قانون له مخې د شپږو کلونو لپاره انتخاب شوي او که اوس لرې کېږي دا یوه قانوني سرغړونه ده. همداراز د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون هم په بیا بیا د خپلو غړو ګوښه کېدنه غیر قانوني بللې ده.

په حقیقت کې د یادې کمېټې جوړښت هم تر ډېره د ارګ او اجرائیه ریاست تر سیورې لاندې دی ځکه د دوی په جوړښت کې داسې اشخاص شتون لري چې د ولسمشرۍ ټاکنو پر مهال یا د غني او یا هم د عبدالله په ټیم کې شامل و. اوس چې په هر کمیسیون او اداره کې څوک ټاکل کیږي؛ باید د دوه سري حکومت په شرط پورې تړلي وي او هر یو باید د خپل ښاغلي تېندې ته وګوري نه د ملت تېندې ته. په داسې حال کې چې دوی نیم د ګډ حکومت یو طرف ته او نیم یې بل طرف ته وفاداره وي نو دوی به څنګه د اشرف غني او عبدالله د غوښتنو پر ځای د ملت او ولس غوښتنې په نظر کې ونیسي؟
د یادې کمېټې د کار په مقابل کې هم ځینې ننګونې شته چې په کړنو به یې سیوری وغوړوي. لومړی دا چې ویل کیږي د غوراوي کمېټه به ۲۱ کسه د ټاکنو خپلواک کمېسیون او ۱۵ نور د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون لپاره ولسمشر ته ور وپېژني او نوموړی به د دوی له منځه اووه کسه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د کمشنر او پنځه نور په ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کې د کمیشنرانو په توګه ټاکي. دلته که تېرو تجرو ته وګورو؛ د غوراوي کمېټې له لخوا ولسمشر ته د پېژندل شویو کسانو غوره کول هم ستونزمن ښکاري. ځکه د کمیشنرانو په غوراوي کې به بیا هم د ولسمشر او اجرایه رییس تر منځ نانډرۍ واوسي.
دویم دا چې د غوراوي کمېټې په وینا ، تر راتلونکي یوې نیمې میاشتې پورې به د دواړو کمېسیونونو نوي کمېشنران حکومت ته پیشنهاد کړي. دلته بیا هم اندېښنه پیدا کیږي چې دغه کمېټه به څنګه په دې یوه نیمه میاشت کې د اوسنیو ستونزو او شرایطو په نظر کې نیولو سره داسې کسان ولسمشر ته وړاندیز کړي چې د ولس په خوښه وي؟
او درېیمه خبره دا چې ولسمشر غني اعلام کړی چې پارلماني او د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې به د راتلونکي کال د دوبي او منې تر منځ تر سره شي. نو دلته هم اندېښنه دا ده چې په دومره کمه موده کې به نوي کمېشنران څنګه اوسني شرایط او د راتلونکې ټاکنو پر وړاندې پرتې ستونزې تحلیل او د حل لارې تر څنګ د ټاکنو مهالویش او د رایه ورکوونکو محلونه وټاکي؟

مرغومی یا جدي/ 1396

# د کابل، اسلام اباد او ډهلي د اړیکو مثلث

# کابل د نېږدې دوښمن او لېرې دوست تر منځ

# کابل ته د مودي وروستی سفر او ورپسې د راحیل شریف راتګ

د افغانستان لیرې دوست (هندوستان) د تاریخ په اوږدو کې ثابت، متوازن او دوستانه چلند کړی دی. له لسیزو په دېخوا یې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو لکه ملکي، نظامي، اقتصادي او سپورتي برخو کې مرستې کړې دي چې وروستی هغه یې د سلما بند او د ملي شورا د ودانۍ رغول دي. په همدې لړ کې افغانستان تل په هندوستان او هندوستان تل په افغانستان باور کړی او تل یې متقابلې دوستانه اړیکې ساتلې دي. د دغو دواړو هیوادونو د تاریخي دوستانه اړیکو او متقابل باور ساتلو سبب هم دا دی چې هندوستان هیڅکله افغانتسان ته ترهګري نه ده استولې، هیڅکله یې د ترهګرو روزنه او ملاتړ نه دی کړی، په خپله خاوره کې د افغانستان لپاره د ترهګرو ځالې نه لري.

بل پلو په داسې حال کې چې پاکستان د افغانستان نېږدې ګاونډی دی او همدارز له افغانستان سره د مذهبي او کلتوري تړاو تر څنګ؛ ډیری وختونه د افغان دولت له لوري په یو طرفه امتیاز هم نازول شوی؛ خو د کابل ـ اسلام اباد اړیکې هیڅکله متقابلې دوستانه، ریښتونې او د یو ګاونډي هیواد د اړیکو په توګه نه دي پاتې شوې. پاکستان غواړي چې له په افغانستان کې له هندوستان سره د سیالۍ ډګر وګټي او د کابل ـ ډهلي اړیکو له وروستي نیږدې والي هم اندېښمن دی. تېره ورځ چې د افغانستان د ملي شورا ودانۍ د پرانیست په غونډه کې چې د هند لومړي وزیر نریندرا مودي کومه تاریخي او هر اړخیزه وینا وکړه او د افغان چارواکو له لوري چې مودي ته کوم هرکلی وشو نو د پاکستان په زړه کې یو ځل بیا د کینې او شیطانت اور ولګید. په همدې لړ کې د پاکستان د پوځ مشر راحیل شریف کابل ته راغی.

له کابل سره د اسلام اباد بې ثباته او بې باوره سیاست د سیمې اقتصاد ته هم سرخوږی جوړ کړی دی. افغانستان تل له پاکستان سره د سیاسي او اقتصادي اړیکو د ټینګښت هڅه کړې، خو اسلام اباد د دغو اړیکو باور له منځه وړی دی. اوس افغان حکومت هم وایي،د پاکستان دوه مخي سیاست د افغانستان پر

سولې او ثبات سربېره د ټولې سیمې اقتصاد او سوداګرۍ ته هم سخت زیان اړولی دی .ولسمشر غني په لومړیو کې پاکستان ته د نوي حکومت د ښه نیت او دوستۍ لاس اوږد کړ، خو اسلام اباد د تل په څېر د کابل سیاسي باور او د نږدې اړیکو هڅې ونهکولې. د افغانستان او پاکستان عام خلک او په خاصه توګه د دواړو هیوادونو سوداګر په خپلو کې نسبتاً ښې او نږدې اړیکې لري، خو له بده مرغه د دواړو هیوادونو ترمنځ ترینګلې سیاسي اړیکې دا اجازه نه ورکوي چې دغه اړیکې لاپسې ښې شي او دا هم یو حقیقت دی چې افغانستان تل د اړیکو د ښه کېدو لپاره له خپل اړخه جدي کوښښ کړی خو پایله یې منفي ده.

په وروستیو کې اوس له پاکستان سره بیا اړیکې کرمېږي، پاکستاني چارواکي دلته سفرونه کوي او افغان ولسمشر غني په پاکستان کې د اسیا زړه په کنفرانس کې هم ګډون وکړ خو ولس د اړیکو له دغې نیږدېوالي ناخوښ دی، افغانان وېره او اندیښنه لري چې پاکستان به یو ځل بیا خپل دوه مخې سیاست پر مخ بوځي او یو ځل بیا به افغان دولت په تشو ژمنو وغولوي. پاکستان همداسې کرمې ژمنې پخوا هم کړې دي. ولسمشر غني چې کله په لومړي سفر پاکستان ته ولاړ، همداسې هیلې وې، د افغانستان له خوا پرله پسې د پاکستان پر ژمنو باور وشو، پاکستان ته امتیازات ورکړل شول، آن دا چې خبره تر امنیتي هوکړه لیک پورې ورسیده، خو پایله یې بیا هم د ولس او افغان دولت د هیلو خلاف وه.

افغانان نوره پر پاکستان باور نه لري چې تر دې وروسته دې له افغان حکومت سره د سولې ملاتړ او د تروریزم خلاف مبارزه کې مرسته وکړي. د افغانانو د وینو قاتلین او د افغانستان دښمنان په پاکستان کې په ازاد چاپریال کې دافغانستان د خلکو پر ضد پرېکړې کوي او له هماغه ځایه یې ملاتړ کېږي. افغان دولت تل پر پاکستان د افغان سولې د ټینګښت په برخه کې باور کړی خو پاکستان افغان چارواکي تل د جګړې د اوږدیدو لپاره تېر باسي. دغه ګګړ هیواد تل هڅه کړې او لا یې هم کوي چې په افغانستان کې د هوا په سرېدو سره د سولې په پلمه طالب جنګیالي په امن کې وساتي.

مرغومی یا جدي/ 1396

# د کورنيو جبهو له لوري د سولې پروسې د سبوتاژ هڅې

د څو لسيزو راهيسې په افغانستان کې د آی ايس آی، د پاکستان د پوځ، د ايران او ځينې نورو کړيو له لوري د جنګ ډګر ګرم ساتل شوی دی. که څه هم دلته د وخت هر واکمن ولسمشر په يو نه يو ډول په افغانستان کې د سولې هڅې کړې دي خو پايله يې منفي وه. علت يې دا دی چې آی ايس آی، د پاکستان پوځ، ايران او نورې استخباراتي کړۍ خپلو افغاني او بهرني لاسپوڅو ډلو ته د جګړې د روانې ساتلو لپاره په وجود کې انرژي تقويه کوي. دوی ته د وخت سره سم او په عصري ټکنالوجۍ سمبال د جنګ ابزار ورکول کيږي. د دوی مالي او معنوي ملاتړ کيږي. خو کله چې ځينې جګړه مارې ډلې له جګړې لاس اخلي، نو له هغوی څخه هغوی چې ټوپک په ځمکه ږدي او سوله ايز ژوند غواړي نو بيا د همدغو جنګ غوښتونکو هيوادونو لخوا، ځينې وژل کيږي، زنداني کيږي او ترور کيږي چې ښې بيلګې يې په پاکستان کې د طالب مشرانو وژل کيدل، بندي کيدل او ترور کيدل دي. خو ځيني نور يې بيا لکه کباړ شوې وسپنه او پلاستيک ويلې کېږي، او په يو بل شکل ترې ګټه اخيستل کيږي.

اوس يو ځل بيا د افغان حکومت له لوري د سولې په ټپه دريدلې خبرې ګرمې شوې دي. نه يوازې افغان لوری بلکه دا ځل په دې معامله کې د پاکستان تر څنګ امريکا او چين هم ښکېل دي. افغان حکومت پاکستان ته تر دې وړاندې هم، درې لسيزې باج ورکړی، او په يو نه يو ډول په يو طرفه امتيازاتو هم نازول شوی دی خو پاکستان يې په مقابل کې افغان حکومت په تشو ژمنو غولولی او له نړيوالو يې هم امتياز ترلاسه کړی دی.

دلته د حامد کرزي له حکومت وروسته د اشرف غني او عبدالله تر منځ د ګډ حکومت په رامنځته کيدو سره د غني د ډيرو هڅو او منډو ترړو په نتيجه کې پاکستان دې ته حاضر شو چې د افغان طالبانو په مشرۍ څو کسان د افغان حکومت د استازو سره د ميز پر سر د سولې د خبرو لپاره کينوي.لومړی پړاو ترسره شو خو دويم پړاو د ملا عمر د مرګ له اعلان وروسته تر ننه په ټپه دريدلی دی. دلته اساسي ستونزه يوازې دا نه ده چې ځينې بهرنۍ کړۍ د سولې د دويم پړاو پر وړاندې خنډونه جوړوي بلکه ځيني کورنۍ کړۍ هم شته چې په جنګ کې خپلې موخې، ګټې او خپل سياسي ژوندويني او نه غواړي چې له طالب سره سوله وشي.

دلته ځينې جبهې دي چې نه غواړي د طالبانو سره سوله وشي ځکه د دوی ګټو او اهدافو ته طالبان ډير لوی خطر دی او دوی هيڅکله دې خطر منلو ته تيارې ندي. دغه کړۍ په دې فکر کې دي که سوله وشي نو طالبان به هم د افغانستان د حکومت په چوکاټ کې راداخل شي. او طالبان هغه څوک دي چې د هرڅه نه مخکې غواړي د ځينو جبهو سره حساب وکړي. طالبان ځکه له دغو جبهو سره عقده لري چې ددوی نظام يې د بهرنيانو په مرسته له پښو وغورځاوه.

دا څرګنده خبره ده چې د افغانستان په شان د یو جنګ ځپلي هیواد سوله دوه کورني او بهرني اړخونه لري. د افغانستان په څېر هیواد کې سوله باید لومړی له کورني اړخ سره وشي ځکه همدا کورنی اړخ دی چې د بهرني اړخ لپاره د ملا د تیر حیثیت لري. که چیري کورنی اړخ له پامه وغورځول شي او له بهرني اړخ سره خبرې کیږي نو دا به بیا یوه موقتي او نمایشي سوله وي چې ډیر ژر به خپل ماهیت له لاسه ورکړي.

که افغان دولت غواړي چې افغان ولس د یوې ربښتونې، سرتاسري او دایمي سولې څښتن شي نو باید لومړی د سولې پر وړاندې کورني خنډونه له منځه یوسي او بیا په بهرني اړخ کار وکړي. د دې تر څنګ افغان دولت باید د سولې عالي شورا په اوسني جوړښت ، میکانیزم او ستراتیژۍ کې هم تغیرات راولي. ځکه اوسنی د سولې په نوم هسې د معاشاتو یا ځینو ته څوکۍ ورکړې په خاطر جوړه شوې شورا هیڅ ډول موثریت نه درلود او نه به یې ولري ځکه د دې شورا مکانیزم له پیله سم نه وو. همداراز سوله د نورو په سوال او هیله لرلو نه شي راتلی. سوله هغه وخت شونې ده چې ریښتونی افغاني رنګ ولري او له افغاني ادرسونو یې په اړه خبرې وشي.

مرغومی یا جدي/ 1396

# د ملا صبور ډالري فتوا

د تاریخ پاڼې ګواه دي چې افغان ولس په پوره مېړانه او اسلامي جذبې سره د چنګېز، انګرېز، روس او نورو پر وراندې په جهاد او مبارزه کې خپله میړانه ښودلې ده. افغان ولس د تاریخ په هر پړاو کې هر کهرې لښکر ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی دی. د هغه لښکر په مقابل کې چې لمر یې په امپراطورۍ کې نه ډوبیده؛ همدغه افغان مسلمان او مجاهد ولس د نورو رهبرانو تر څنګ د غازي امان الله خان په مشرۍ راپورته شو او په الله اکبر ناره یې ورته تاړاک مات کړ او آزادي یې ترلاسه کړه. خو زمونږ د افغان ملت یوه تاریخي تېروتنه دا ده چې تر ډېره د تعقل پر ځای د احساساتو قرباني کېږو. که څوک راته وواېي چې غوږ مو سپي یووړ نو پرته له دې چې خپل غوږ وګورو؛ د سپي پسې منډې وهو. له څو لسیزو په تېره بیا له نږدې څلورو لسیزو راهیسې د افغانستان ملي ارزښتونه او ملي هویت تر پرله پسې ګواښونو لاندې دی. د پردیو ګوډاګیانو، پردیپالو او نورو کم درکو اشخاصو او ډلو په دې لړۍ کې خپله منفي ونډه لرلې ده.

اوس په وروستیو کې افراطي ملا صبور په غازي امان الله خان د بې دینۍ فتوا ورکړې ده. دغه له دینه ناخبره ملا د ملسمانۍ معیار ډېره ګڼلې ده او بې ډېرې هغه یې په یو ډول د ملسمانۍ له مداره ویستلي دي.

ملا صبور ویلي دي:

۱ـ امان الله خان بې دینه ځکه و چې ډېره یې خریبلې وه؟ دلته پوښته پیدا کېږي چې ای ملا صبوره..! تا ته چا دا حق او مسولیت درکړی دی چې یو مسلمان د دین څخه وباسې؟ د کومې قانوني محاکمې او عدل حکم او فیصله شوې وه؟ ای ملا صبوره ستا له دغه ډول مغرضانه فتوا د ډالري فتوا بوي راځي. داسې څرګندېږي چې د بندېل ډالرو په مقابل کې دې د افغان تاریخ په ویاړلي شخصیت د بې دینۍ تور پورې کړی دی.

۲ـ ګوډ ملا؛ ولي الله دی ځکه چې هر ځای کې چې به ناست و هغه ځای به شین شو؟ دلته بیا هم پوښته پیدا کېږي چې ای بناغلیه ملا..! ته د کوم آیت ، حدیث او یا هم قانون په اساس ثابتولی شې چې د ګوډ ملا د ناستې ځای شین کېدو؟ هغه اسناد، شواهد، مدارک او شنه شوي ځایونه چېرې دي؟ د مسلمانۍ لپاره د جاهلو ملایانو معیار ډېره او لونګۍ ده، دوی فکر کوي چې که غل وي، که خاین وي او که خاوره پلورونکی وي خو چې ډېره ولري نو خادم دین او اصلي مسلمان دی. دغه له دینه ناخبره ملایانو ته بیا (اقرار باالسان و تصدیق بالقلب) کوم ارزښت نه لري.

دلته درې خبرې مخ ته راځي. لومړی دا چې ملا صبور له دیني، اسلامي او افغاني اصولو او ارزښتونو ناخبره دی او هسې تش د ملا په نوم یې په خلکو ځان منلی دی. ځکه ده په غازي امان الله خان د کفر فتوا ورکړې ده او غازي امان الله خان هغه څوک و چې په خپله به یې د جمعې لمونځ ورکولو.

دویمه دا چې که په رښتیا د دین، اسلام او افغاني اصولو او ارزښتونو څخه خبرداره وي نو بیا یې ذهني توازن له لاسه ورکړی ځکه خو د تاریخ په اتل او د افغان مجاهدینو په سرلاري د کفر فتوا ورکړې ده.

او دریم دا چې ذهني توازن یې پر ځای دی خو د ډالرو په مقابل کې یې ایمان بایللی دی او پرته له کوم اسلامي معقول ثبوته یې د پردیو هیوادونو په لمسه د پیسو په مقابل کې ډالري فتوا صادره کړې ده.

غازي امان الله خان د ټولو افغانانو او اسلامي نړۍ ویاړ دی، دغه ستر شخصیت د افغان مجاهدینو په ملتیا؛ له افغانستان او سیمې د هغه استعمار تغر ټول کړ چې لمر یې په امپراطورۍ کې نه ډوبیده. دین، هېواد او پرمختګ ټولو ته یې نه هرېدونکي خدمتونه وکړل. په هغه وخت هم همدغو استعمارګرو هیوادونو د غازي دا برياوې ونه شوې زغملای، نو ځکه یې غله او ډاکوان او په پیسو مین ملایان په هغه پسې راپاڅول او په دې ډول یې زموږ د خلکو له سپېڅلو اسلامي احساساتو څخه یې ناوړه ګټه پورته کړه. له هغه مهاله بیا تردې دمه دا لړۍ په یو نه یو ډول روانه ده، کله له یوې معلومې او کله هم له یوې مجهولې خولې د هېواد د ملي شخصیتونو پر ضد ځینې سپک الفاظ حواله کېږي. که چیري ناپوهه، کوډاکیانو او د دین سوداګرو غازي امان الله خان خپل د افغانستان د پرمختګ اړوند خپل پلان عملي کیدو ته پرېښی وای نو نن به افغانستان هم د سیمې له سیالو هیوادونو لکه ایران او ترکیه سره به په قطار کې ولاړ و.

د ملا صبور دا خبره چې ملا لنګ یې (ولي الله) بللی او وايي په کوم ځای کې به چې کېناست، هغه ځمکه به شنه شوه؛ دا خبره له شرعي اصولو سره خلاف ده ځکه، دا کار له کراماتو لوړه او معجزه بلل کېدای شي او معجزه یوازې د انبیاوو او پیغمبرانو پورې محدوده او منحصره وه.

په افغانستان کې له ډېر پخوا راهیسې همدا ستونزه شتون لري. پخوا به هم چا چې په دولتي ښوونځي کې زده کړې وکړې نو همدغو افراطي ملایانو به ورته د انګریز او پنجاب غلام ویلو. اوس هم همدغه ځینې افراطي ډلې دولتي مامور ته کافر وايي. زموږ د ولس ډېره برخه نالوستې ده. د دغه ډول ستونزو تر منځ سمه پرېکړه نه شي کولی نو همدا سبب دی هیواد مو تر نن ورځې د بل مرستې ته مجبور پاتې دی.

مرغومی یا جدي/ 1396

# زړې څېرې؛ نوې سیاست

## د یوې میاشتې په موده کې درې اپوزیسیونونه

دا جبهې، شوراګانې او اپوزیسیونونه به د دولت د څار په برخه کې څومره دقیق واوسي؟

تېره ورځ د افغان ملت ګوند د پخواني مشر او دافغانستان دسوداګرۍ دپخواني وزیرډاکټر انورالحق احدي په مشرۍ د « نوې ملي جبهه » په نوم سیاسي اپوزیسون رسما خپل شتون اعلان کړ د دې جبهې مشر ډاکټرانورالحق احدي د جبهې په پرانیست غونډه کې ګډه حکومت یو ناکام حکومت وباله او ټینګار یې وکړ، چې د چارو د سمون لپاره باید ژر تر ژره لویه جرګه راوغوښتل شي. نوموړي ټینګار وکړ چې دا جبهه به د دولت کارونه څاري او په ویناٰ یې دیو لوی سیاسي اپوزیسیون په بڼه به کار کوي.

دا لومړنۍ جبهه نده چې د اشرف غني او عبدالله د ګډ حکومت پرضد خپل شتون اعلانوي بلکې تر دې وړاندې هم دافغانستان د ملي او جهادي ګوندونو دمهړۍ عالي شورا او د افغانستان د حراست او ثبات شورا په نوم د پخوانیو جهادي مشرانو له لوري دوه جبهې جوړې شوې دي. دا چې دا جبهې، شوراګانې او اپوزیسیونونه به د دولت د څار په برخه کې څومره دقیق واوسي؟ وخت به یې ثابت کړي.

دا سمه ده چې اپوزیسیون د یو ډیموکراتیک نظام لپاره مهم اصل دی چې د دولت کړنې څاري او نقد پرې کوي. اپوزیسیون نه دا چې له دولت سره عقده وپالي؛ بلکه د ملي مسایلو، ملي یووالي، ځمکنۍ بشپړتیا، هیوادنۍ خپلواکۍ، ډیموکراسي او اساسي قانون په نظر کې نیولو سره د دولت د منفي کړنو مخالفت کوي. په هغه هیوادونو کې چې د دیکتاتورۍ په طریقه یا په یو حزبي سیستم او یا هم په بل کوم غیر اصولي سیستم باندې اداره کیږي؛ اپوزیسیون شتون نه لري خو مخالفې ډلې په غیر قانوني توګه چې مخفي مبارزه یې بولي؛ فعالیت کوي. دوی چې د حاکم دولت سیاسي مخالفت کوي؛ بېلابېل وختونه د حاکم نظام خلاف د لاریونو، بیانیونو، کنفرانسونو، مرکو په تنظیمولو او د ورځپاڼو او بېلابېلو خپرونو له لارې او یا هم ځینې وختونه د وسله والې مبارزې په طریقه خپل سیاسي فعالیت ته دوام ورکوي. خو پوښتنه دا ده چې د افغانستان اوسنې شرایط اپوزیسیون ایجابوي؟ که یې ایجابوي نو کوم ډول اپوزیسیون ته اړتیا ده؟ ایا د ګډ حکومت پر وړاندې اوسني

جوړ شوي اپوزیسیونونه ملي مفکوره لري او که د ا متیاز د ترلاسه کولو او یا هم له قانونه د تیښتې په معنا دي؟

د بیان ازادۍ او ډیموکراسي ته په کتو، اپوزیسیونه جوړول او د دولت خلاف غېږ اوچتول د دغو شوراګانو، جبهو او اپوزیسیونو حق دی، خو که د دوی سیاسي جوړښت ته وګورو نو په ډېره څرګنده توګه ترې د دوی موخه په ډاګه کېږي. دلته زموږ د سیاسیونو یوه بده ځانګړنه دا ده؛ هغوي چې د دولت د امتیاز پر مسند ناست وي ، هر څه ښه دي ، اما که له امتیازه بې برخې شي، سیاست ته له منفي لوري زور ورکړي.

د دغو شوراګانو او جبهو غړي ډېری یې هغه څوک دي چې په یو ډول اوسني دولت له امتیازه بې برخې کړي دي. ځینې یې د تیر حکومت په فساد ککړ افراد دي چې اوس یې هم په قضایي او عدلي ارګانونو کې د فساد اړوند قضیې موجودې دي. ځینې یې د ځمکو په غصب تورن دي. ځینې یې د تیر حکومت ناکاره او تجربه شوې پرزې دي. او ځینې یې د ټاکنیز د اشرف غني او عبدالله کمپاینران دي چې په اوسني دولت کې ورته څوکۍ نه ده رسیدلې. د دوی د دوی له جوړښت نه ډېر ښه څرګندیږي چې دوی هم شخصي او تنظیمي غوښتنې لري، دوی د ملي ګټو څخه د دفاع او هیواد له اوسني سیاسي، اقتصادي او نظامي بحرانه د راوتلو لپاره کومه ځانګړې اجنډا نه لري. که دوي غواړي ستونزې حل شي په اوسنی اداره کې د سمونونو د راوستلو له لاري باید هڅه او هاند وکړي، نه د حکومت د ړنګولو له لاري.

دا سمه ده چې اوسنی کډ حکومت رامنځته کېدل له پیله غیرقانوني دي، تر ډېره د دې حکومت چارواکو قانون تر پښو لاندې کړی دی، کمزوری بهرنی او کورنی سیاست لري، په خپلو کړنو او ژمنو کې اتیا سلنه ناکام شوی دی، د سولې خبرې یې ډیرې سستې او بطي دي، فساد نه یوازې چې کم نه شو بلکه لا یې ریښې وکړې، امنیتي حالات ترینګلي شول او دیته نورې په لسګونو ستونزې لري؛ خو بدیل یې دا نشي کیدلای چې ړنګ شي. باید د دې دولت د اصلاح لپاره کار وشي. د اوسني کاواکه کډ حکومت پر وړاندې اندکه ضد اقدام د انارشۍ سبب هم کیدلای شي.

مرغومی یا جدي/ 1396

# سوله که د وخت ضایع کول ؟.!

افغان دولت هر وخت د وسله والو مخالفینو پر مخ د سولې دروازې پرانیستې دي، تل یې د هر چا منګړیتوب ته زړه ښه کړی دی او تل یې په دغه لار کې ښکېلو غاړو ته په ځانګړي توګه پاکستان ته امتیاز ورکړی دی. خو له د پاکستان لخوا تل دوه مخې پالیسي پر مخ وړل شوېده. له وسله والو مخالفانو سره د افغان دولت مخامخ خبرې لومړی پړاو یې د پاکستان په مري کې ترسره شو چې دویم پړاو یې بیا د طالب مشر ملا محمد عمر د مړینې تر اعلان وروسته تر ننه وځنډید. اوس یو ځل بیا افغان دولت له لومړي پړاو وروسته په ټپه دریدلې د سولې خبرې؛ د پاکستان، امریکا او چین په منځګړیتوب پیل کړي دي. د دویم پړاو د خبرو د پیل څو مرحلې لري چې لومړی څلور اړخیزه غونډه یې په اسلام اباد کې او دویمه هغه یې په کابل کې ترسره شوه.

له پاکستان سره د افغان دولت د تیرو اړیکو تاریخ ته په کتو؛ شنونکي له دغو څلور اړخیزو غونډو هم ډېره هیله نه لري. ځکه پاکستان تل افغان دولت په خپلو تکراري ژمنو غولولی دی او دا ځل هم پرې باور نشي کیدای. بل پلو وسله وال مخالفین هم د ایډیالوژۍ له مخې په دریو ډلو ویشل شویدي. یوه هغه ډله ده چې د خپل مذهبي ایډیالوژۍ له مخې له بهرنیانو سره جهاد کوي او په هیواد کې د دوی په خوښه د اسلامي نظام غوښتونکي دي. دویمه هغه ډله وسله وال دي چې د لویو استخباراتي کړیو او د ګاونډیو هیوادونو له لوري جوړ شوي دي څو د دوی ګټې خوندي کړي. او دریمه هغه ډله ده چې د دولت او د دولت له ستراتیژیکو دوستانو څخه په یو نه یو ډول متضرر شوي دي او په مقابل کې یې وسله را اخیستې ده. اوس پوښتنه دلته ده چې افغان دولت له کومې ډلې سره سوله کوي؟

که له لومړۍ ډلې سره سوله کوي نو ناشونې ده؛ ځکه دغه ډله وسله وال؛ د خپلې مذهبې ایډیالوژۍ له مخې؛ په هیواد کې د میشتو بهرني اتباعو په خلاف جګړه کوي. یوازینۍ غوښتنه یې هم همدا ده چې له هیواده باید ټول بهرني پوځیان ووځي نو بیا به سولې ته غاړه کیږدي. او دا هم حقیقت دی چې بهرنیان له افغانستانه نه وځي ځکه دلته خپلې اوږدمهالې ګټې لري.

که له دویمې ډلې سره سوله کوي نو دا هم ستونزمنه ده ځکه د افغانستان جګړه د افغانانو نه؛ بلکه استخباراتي جګړه ده او هغوی په جګړه کې خپلې اوږدمهالې ګټې او هدفونه لري. تر هغو چې یې هدف نه وي ترلاسه کړی نو په یو نه یوه پلمه به جګړه دوام کوي او د سولې روانې هڅې به نمایشي او د وخت ضایع کول وي.

**یوازې له دریمې ډلې وسله والو سره سوله کېدلای شي. هغه هم په هغه صورت چې په حکومت کې دننه هغه کړۍ چې د دغې ډلې او دولت تر منځ د واټن د پیدا کېدو سبب شوي دي؛ یا د قانون منګولو ته وسپارل شي او یا هم د حکومت له چوکاټه بهر شي.**

بیا هم تکراروم چې د پاکستان پالیسی او نیت ته په کتو د سولې روانې خبرې څه پایله نه لري، که چېرته پایله ور هم کړي، نو یو ځل بیا به د ډاکټر نجیب الله د حکومت د مهال سوله تکرار شي. ځکه له وسله والو سره د پاکستان او لویو استخباراتي کړیو ملاتړ دی او پاکستان په افغانستان کې سوله او ارامي نه غواړي. که سوله او ارامي په افغانستان کې راشي د پاکستان ټول اقتصادي پروګرامونه به له منځه لاړ شي ، نو د سولې په اړه خبرې؛ تېروتنه ده او ولس نور نه غواړي چې وغولېږي. بل پلو وسله وال مخالفین هم په یوه خوله نه دي.وسله وال له تېرو څو کلونو راهیسې وایي چې د سولې په اړه ربښتیني دي، خو په حقیقت کې په خپل کار او وینا کې ربښتیني نه دي، له یو لوري سوله کوي له بل پلوه د ځانمرګو بریدونو او چاودنو پرمټ خلک په خاورو او وینو کې لړي، نور د افغان ولس حوصله ختمه ده او دولت باید په جدي توګه چلند وکړي او خپل امنیتي ځواکونه پیاوړي کړي. که چیري بیا هم د سولې هڅې کیږي نو دولت باید د سولې په خبرو کې له پیاوړي دریځه خبرې وکړي، همدارنګه باید وسله وال مخالفین دومره وځپي چې سولې ته اړه شي. له دې پرته له پاکستانه د سولې تمه لرل؛ هسې د هوا کزول دي او د وخت له ضایع کېدو بله پایله نه لري.

**مرغومی یا جدي/ 1396**

# قانون نمانځل نه؛ بلکې پلي کول غواړي

له نن څخه ۱۲ کاله وړاندې د ۱۳۸۲ لمریز کال د لیندۍ له ۲۲ مې د مرغومې تر ۱۴ نېټې؛ د هېواد اساسي قانون جوړ، د لويې جرګې له خوا تصويب او د وخت د ولسمشر د ۱۰۳ ګڼه فرمان له مخې توشېح او نافذ شو. د افغانستان اساسي قانون د نړۍ د غوره قوانينو په منځ کې هغه قانون دی چې د اسلام د مبارک دين د ارشاداتو په رڼا او افغاني دود او کلتور ته په کتو جوړ شوی دی. که په رېښتينې معنا پلی او عملي شي نو اوسنيو ټولو ناخوالو او ننګونو ته به د پای ټکی کېښودل شي.

د اساسي قانون پلي کول، منل، ساتل پر حکومت او دولت سربېره، د افغانستان د ټولو خلکو حق او مسوليت دی. خو له بده مرغه دلته په افغانستان کې د دغې قانون له جوړېدو تر ننه په ځانګړې توګه د ملي وحدت حکومت په يو کلنه دوره کې ډېر تر پښو لاندې شوی دی. د ملي يووالي حکومت د جوړيدو له لومړۍ ورځې تر ننه؛ پخپله د چارواکو له لوري د اساسي قانون پښتی ماتې شوي دي.

پخپله ولسمشر غني د کډ حکومت په لومړۍ ورځ اساسي قانون د خپل ټاکنيز سيال عبدالله سره د سياسي هوکړې له مخې؛ د يو بهرني دريمګړي په خوښه؛ د سياسي هوکړې او معاملې قرباني کړ. په لومړۍ ورځ يې د اجرايه رياست غير قانوني پوست رامنځته او عبدالله عبدالله يې اجرايه رييس اعلان کړ. بيا وروسته د ولسمشر واکونو او صلاحيتونو تر څنګ د حکومتي نظام څوکۍ هم پنځوس پنځوس ووېشل شوې. او بيا د ټاکنيز نظام د اصلاح په موخه د غني او عبدالله تر منځ د سياسي هوکړې له مخې د ټاکنيزو کميسيونونو د اصلاح بل غير قانوني کميسيون جوړ شو او همداشان د ملي شورا کاري موده په غير قانوني توګه وغځول شوه چې له هغې وروسته تر ننه دا د اساسي قانون د نقض لړۍ روانه ده.

د اساسي قانون د حکومونو له مخې؛ درې مراجع د اساسي قانون د پلي کېدو لپاره شتون لري. لومړی : پخپله د اساسي قانون ۶۴ مه ماده؛ د اساسي قانون څخه ساتنه او پلي کول؛ د ولسمشر پورې تړي. دويم : د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده بيا د اساسي قانو څېړنه او ارزونه د سترې محکمې صلاحيت بولي. په ياده ماده کې راځي: لـه اساسي قـانون سـره د قوانينو، تقنيني فرمـانونو، بين الدول معاهـدو او بين المللي ميثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت يا محاکمو پـه غوښتنه او د هغـو تفسير د قانون له حکمونو سره سم د سـترې محکمې صلاحيت دی.

دریېم : د اساسي قانون ۱۵۷ مه ماده بیا د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمیسیون ته د قانون د پلي کېدو صلاحیت ورکړی دی. یاده ماده حکم کوي: د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواك کمېسیون د قانون له حکم سره سم تشکیلیږي. ددې کمېسیون غړي د جمهور رئیس له خوا د ولسي جرگې په تائید ټاکل کیږي.

اوس که تېر ته په ځانګړي ډول د کډ حکومت څه د پاسه یو کلنې دورې ته وګورو د اساسي قانون څخه سرغړوونکي په خپله دولتي چارواکي دي چې د خپلو شخصي ګټو لپاره یې قانون تر پښنو لاندې کړی دی او لا هم دا لړۍ دوام لري. اصلاً په هېواد کې د روان اداري فساد، ناامنۍ ، په راتلونکې بې باورۍ، له هیواده د کاري ځواک تیښتې، او د هیواد د کمزوري کورني او بهرني سیاست سرېیره د ګڼو نورو ناخوالو لوی او اصلي لامل د قانون نه پلي کېدل دي.

په داسې حال کې چې د اساسي قانون د شپږمې مادې له مخې: " دولت د انساني کرامت په ساتلو، بشري حقونو د ملاتړ، د دموکراسۍ د تحقق، ملي وحدت د تامین، د ټولو قومونو او قبایلو ترمنځ د برابرۍ او د هېواد په ټولو سیمو کې د متوازنې پراختیا او ټولنیز عدالت پر بنسټ د یوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی؛ خو له بده مرغه چې تر ډیره دغه د قانون تر پښنو لاندې کول پخپله د دولتي چارواکو له لوري ترسره شوي دي. خو پوښتنه دا ده چې څه باید وشي څو هیواد له روان ناڅرګند برخلیک څخه وژغورل شي؟

که څه هم د افغانستان اوسنی حکومتي نظام له ګڼو نیمګړتیاوو سره لاس و ګریوان دی خو که د افغان دولت له لوري چې په راس کې یې ولسمشر او اجرایوي رییس قرار لري؛ اساسي قانون ته درناوی وشي او د هر رنګه سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ډیپلوماتیک فشار په مقابل کې اساسي قانون ته مراجعه وشي نو ستونزې به ډیرې کمې شي. که پخپله د هیواد ټول چارواکي اساسي قاونون ته ځانونه ژمن وبولي او قانون ځانته تابع نه کړي نو لیرې نه ده چې له اوسنیو بدبختیو به خلاصون ومومو. که د اساسي قانون د پلي کولو او څار درې واړه مراجع؛ (ولسمشر، ستره محکمه او د اساسي قانون پر پلي کیدو د څار کمیسیون) په رښتونې معنا ځان قانون ته ژمن وبولي نو په ډاډ سره ویلی شم چې په نږدې راتلونکي کې به ولس د راحت او ارامۍ ساه واخلي. قانون باید د ټولنې پر هر فرد، کوند او ټولنې یو شان پلی شي څو هېواد له روان ناڅرګند برخلیکه وژغورل شي.

**مرغومی یا جدې/ 1396**

# هر څه خيالي

خيالي ښوونځي، خيالي ښوونکي، خيالي معلولين، خيالي شهيدان، خيالي روغتيايي کلينکونه، خيالي ډاکټران او خيالي امنيتي ځواکونه هغه څه دي چې د حکومت دننه او بهر ځيني خلکو ته عايداتي سرچينې جوړې شوي دي. اوس په تازه کې د ازادي راډيو د يوه تحقيقي رپوټ تازه موندنې ښيي، چې اوس مهال يوازې په فارياب ولايت کې ۲۲ زره او پنځه سوه غير مسوول وسله وال له خپلو وسلو سره لاس په ماشه دي. د ياد راپور د موندنو له مخې د فارياب ولايت له امنيه قوماندانۍ سره له ۶ زرو ثبت شويو ملي پوليسو څخه څه باندې ۳ زره يې خيالي پوليس دي او د مرکزي دولت له لوري غير حضوري پوليسو ته د اعاشې او مياشتني معاش د ورکولو ترڅنګ ۶ زره ميله وسله هم وېشل شوې ده. سرچينه زياتوي، چې د فارياب ولايت امنيه قوماندانۍ ورته د ۳۶۲۹ تنو ملي پوليسو موجوديت تاييد کړی، خو له کابلبانکه ترلاسه شوي معلومات څرګندوي، چې هره مياشت څه باندې ۶ زره پوليسو ته معاش لېږل کېږي.

اوس پوښتنه دلته پيدا کيږي چې دا اعاشه چې د دوی په نامه حواله کيږي؛ چېرته ځي؟ هغه تنخواګانې چې د دوی په نامه راايستل کيږ؛ د چا جيبونو ته ځي؟ دغه وسلې او موټرې چې د حکومت له لوري ورته ورکول شوي دي؛ د چا لاس ته ورځي او بالاخره د سيمې په امنيت يې اغيز څه دی؟

داسې راپورونه هم شته چې دغو خيالي پوليسو ته د دولت له لوري د مياشينۍ تنخوا سربېره؛ له ځايي خلکو څخه د کور پر سر ۲۰۰۰ افغانۍ مياشينۍ کله پولي هم توليږي. ځايي اوسيدونکي د دوی له وحشتونو تر پوزې راغلي خو ګډ حکومت يې نه يوازې غم نه دی خوړلی؛ بلکه وسله، اعاشه او تنخواوې ورته ورکوي او تر تولو دردونکې يې لا دا چې په ميډالونو يې هم نازوي. د ملي يووالي تر نامه لاندې ګډ حکومت تر اوسه د شخصي ملېشو او ولسي پاڅون تر منځ تفاوت نه شي کولی. کله شخصي ملېشو ته ولسي پاڅونونه وايي او په ميډالونو يې نازوي او کله بيا ولسي پاڅون ته چې ولس د دښمن له وحشته تر پوزې راغلی وي او پر ضد يې پاڅون وکړي نو بيا دوی ته چارواکي شخصي ملېشې وايي او پر وړاندې يې دريږي. اصلاً شخصي ملېشې هغه دي چې له دولت څخه معاشونه، وسلې او امتيازات اخلي خو بيرته د دولت پر ضد جنګيږي. هغوی چې د داعش او هر بل وسله وال له وحشته او د حکومت له بې کفايتۍ په تنګ شوي او په مقابل کې يې پخپله دريدلي؛ شخصي ملېشې نه بلکه ولسي پاڅون کوونکي دي.

مونږ د امنيتي څواکونو په شتون کې د شخصي ملېشو شتون غندو او په کلکه يې مخالفت کوو خو دلته بايد حکومت او امنيتي چارواکي له خپل مسوليته سترګې پټې نه کړي. پنځوس پنځوس د حکومت ويش، د امنيتي ادارو تر منځ نه همغږي، د ځينو چارواکو له لخوا له خپل موقفه غلطه استفاده، په تقرر او منفکۍ کې د نامسوله چارواکو خپلسرې مداخله؛ دا ټول هغه عوامل دي چې خلک مجبور شي او وسلې ته لاس واچوي. افغانان هيڅکله د شخصي ملېشو غوښتونکي نه دي ځکه دوی د ملېشو ترخه تجربه ليدلې ده او اوس نه غواړي چې بېرته اوپايمې لسيزې ته ورشي او د خپلمنځي شخړو په اور کې وسوځي.

همدغه ملېشې دي چې په هېواد کې د ملوک الطوايفي د جوړيدو، همدغه ملوک الطوايفي د ناامنۍ د جوړيد او همدغه ناامني ده چې په پايله کې د سيمې او ولايت د سقوط سبب شي. که په حقيقت سترګې پټې نه کړو او په هېواد کې له ناامنۍ ډېل شوی روان امنيتي حالت وارزوو نو پوره يې ټوله په همدې دوه سره حکومت پريوځي. ځکه دوی په خپل منځ کې د ورو موضوعګانو تر څنګ د هېواد په لويو مسايلو کې هم پر يوه خوله نه دي. که نن ولسمشر يو څوک په يو دولتي پوست وګماري؛ نو د اجرايه رياست له لوري رديږي. که اجرايه رياست يو څوک چيرته وګماري نو ولسمشر يې مخالفت کوي او حتی داسې هم شوي دي چې په يو شخص پخپله د يو ګروپ مثلاً د اجرايه رياست ګروپ پرې په خپل منځ کې نه جوړيږي. د بيلګې په توګه که ښاغلی عبدالله يو څوک په يو پوست ګماري نو يا يې لومړی مرستيال محمد خان او يا يې دويم مرستيال محمد محقق مخالفت وکړي. څوک يو څوک او څوک بيا بل څوک غواړي.

اصلي د ستونزو حل او د هېواد د روان حالت مثبت بدلون په دې کې دی چې هر سړی خپل صلاحيت او خپل مسوليت وپيژني. هر مسول چارواکی؛ د هېواد ملي مسايل، اساسي قانون او اسلامي او افغاني نواميس خپلې سرې کرښې وګرځوي او ورته درناوی وکړي. هيڅوک بايد د بل د پرمختګ خنډ ونه ګرځي او هيڅوک بايد د بل په کار او مسوليت کې مداخله ونکړي. که په همدې يادو معيارونو حکومتي مشران ولاړ شي نو نه به بيا شخصي ملېشو ته اړتيا پيښه شي او نه هم ولسي پاڅون ته.

مرغومی يا جدي/ 1396

# هغه څه چې سیاسیونو را نکړل؛ ورزشکارانو په کم وخت کې را کړل

په داسې حال کې چې لوبې او ورزش؛ سیاسې پولې نه پېژني خو هېوادونو ته د سولې په راوستلو کې اغېزمن رول لوبولی شي. د خلکو په یو موټي ساتلو کې پراخه ونډه لري. د انسانانو د عمومي روزنې یوه برخه جوړوي او همدا لوبې دې چې د ټولنې د وګړو ترمنځ اقتصادي، فرهنګي؛ ټولنیزې او نورې اړیکې پیاوړې کوي. نوره نړۍ به پرېږدو؛ که د خپل جنګ ځپلي هیواد افغانستان د نیږدې تېرو لسیزو تاریخ ته وګورو؛ په ملیاردونو ډالر د ذهنیت جوړونې، د خلکو تر منځ د یووالي د ایجاد، تر یو نوم او یو بېرغ لاندې د ټول ولس راټولېدو او یو شریک هدف لرلو لپاره بېلابېلو دولتي او شخصي ارګانونو، ټولنو، شوراګانو، دیني عالمانو، قومي مشرانو، بهرنیو اسلامي خواخوږو هېوادونو او نورو ډېرو کړیو له لوري ډېر کارونه وشول چې په دې هېواد کې یووالی رامنځته کړي خو ونه توانېدل، په داسې یو میکانېزم جوړولو بریالي نه شول چې له مخې یې ولس ته په ریښتینې معنا د یووالي او یو ملت کېدلو روحیه وراندې کړي. خو له نېکه شامته؛ د سپورت د ډګر اتلانو دا هر څه په ډېر کم وخت او پرته له کوم سیاسي، ګوندي، قومي او سمتي امتیازه؛ دا هر څه په بریا تر سره کړل او ټول افغان ملت یې په ریښتینې معنا او مفهوم تر یو چتر لاندې د یو افغان په نوم راټول او یو موټی کړ.

همدغه د سپورت د برخې (کرکټ، فوټبال، والیبال، تکواندو او نور .... ) اتلان دي چې په خپلې اتلولۍ سره یې افغانانو او افغانستان ته ویاړ وبښه. همدغه ورزشکاران دي چې د سولې پیغام رسوونکي او ملي یووالي سمبولونه دي. ډېر لیرې نه ځو؛ همدا تېره ورځ د کرکټ اتلانو، څو ورځې وړاندې د فوټبال اتلانو او همداشان څه موده مخکې د تکواندو اتلانو؛ افغانستان او افغانانو ته ویاړونه راوړل او د افغانستان درې رنګه بیرغ یې د نړۍ په کوټ کوټ کې په عزت او ویاړ رپانده وساته. همدا کرکټ او فوټبال دی چې ټول افغانان یې په یوه خوله کړل ، پښتون ، تاجیک ، هزاره ... حزب پلوی ،جمیعت پلوی ، دولت پلوی ، طالب پلوی ، ، ....
ټول یوه خوله شول او ټولو خپل ملی احساسات څرګند کړل. خو له بده مرغه چې په سیاسي برخه کې بیا دا وړتیا نه لرو.

ای کاش چې په ملي او سیاسي مسایلو کې مو لکه سپورت همداسې له ملي جذبې نه کار اخیستلای، کاش مو سیاسي مشران لکه د سپورت د اتلانو په شان؛ د حزب پالنې، قوم پالنې، سمت پالنې او ژبپالنې پر ځای په ملي پالنه سمبال وای.

اوس د دښمن لاسوهنې دومره زورورې شوې چې آن دغه د سپورټ برخه مو هم ترې په امان کې پاتې نه ده. اوس ځینې پردیپالې او نورو ته وفادارې کړۍ هڅه کوي چې دغه ورزش د ملي یووالي سمبول مو هم د نفاق په اور ککړ کړي. اوس دغه کم درکه، بې وجدانه او د پردیو مزدورې کړۍ په دې لګیا دي چې ملي لوبډلې مو هم د پښتون او فارسیوان تر منځ ووېشي. دغه له خدایه نه ډارېدونکې کړۍ اوس لګیا دي چې د فوټبال ملي لوبډله د هیواد یو قوم، یوې ژبې او یو سمت پورې؛ او کرکټ د بل قوم، ژبې او سمت پورې وتړي حال دا چې دواړه لوبډلې د هیڅ قوم، سمت او ژبې لپاره نه بلکې د یو افغان ولس او یو افغانستان لپاره ویاړونه ګټي. اوس دغه پردیپالې کړۍ په دې کار کوي چې په یو نه یو ډول د افغانانو د ملي یووالي د ساتلو دغه یواځینی بنسټ (ورزش) هم د تعصب او نفاق په ناروغۍ اخته کړي. دوی اوس د فوټبال ملي لوبډله د افغانستان د زمریانو پر ځای په بل نوم یادوي.

دغه بې وجدانه خلکو ته مې دا وړاندیز دی چې راځۍ له تعصب او بدبینۍ نه لاس واخلۍ، د خپلو خلکو احساساتو ته درناوی وکړئ او د یو و بل سپیڅلو احساساتو قدر وکړئ. یو و بل ومنئ ، د دوی وړتیاوو او استعدادونو باندې قانع شئ. خیر دی که ستاسې د قوم، ژبې، مذهب او سمت څخه نه دی او ستاسې په ژبه خبرې نه کوي. که غواړو چې یو موټی ملت و اوسو او د یو واحد هویت خاوندان و اوسو؛ نو لازمه ده چې نورو قومي هویتونو ته درناوی ولرو او وېې منو. د یو او بل ارزښتونو ته درناوی ولرو او دا وړتیا پیدا کړو چې که یو څوک هندو، مسلمان یا مسیحي وي او یا هم هرې بلې ډلې او قوم څخه وي خو چې په کومه برخه کې وړتیا لري نو د وړتیا خاوند دی او باید د منلو تر څنګ یې درناوی وکړو.

کینه انسان د مرګ کندې ته غورځوي، د نورو تخریبول د ځان د تخریب په معنا دی، د بل قوم سپکاوی د خپل قوم سپکاوی دی. نو لازمه ده چې له یو و بل سره د انسان او افغان په توګه مینه ولرئ، د یو و بل د بریالیتوبونو لپاره هڅه وکړئ، ټولنیز او ډله ییز فکر وکړئ. په دې نړۍ کې تر ټولو لوړ مقام انسان اوسېدل او انسانیت دی. د یو و بل ښه والی او پرمختګ باید و زغمو. او هیڅلکه باید د چا دروازه په سوک ونه وهو ددې لپاره چې سبا مو خپله دروازه په لغته ونه وهل شي.

ورزش ملي دی؛ نه قومي او نه سیاسي. هر ورزشکار مو د ملي بیرغ پورته کولو ویاړ ګټلی او هر ورزشکار مو د ملي سرود په زمزمه کولو سره ډګر ته داخلیږي. دا ځوانان د ملي وحدت او د سولې نمونې دي. مړه دې وي هغه کسان چې په سپورټ کې هم نفاق کېږوي.

مرغومی یا جدي/ 1396

# پر شوروي له بري وروسته؛ بریا که بربادي؟

د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د افغانستان مسلمان، مجاهد او خپلواکي غوښتونکي ملت په خپل اسلامي، افغاني، انساني او فکري ځواک سره د شرق او غرب هر ښکېلاکګر ځپلی، مات کړی او نیم ژواندی یې له هېواد څخه ویستلی. پدغه لاره کې د افغانستان ټولو خلکو په یوه غېږ او یوه بېرغ لاندې مادي، معنوي او فزیکي سرښندنې ورکړې دي، او هېواد یې لدې نیواکګرو څخه خلاص کړی دی. خو یو تریخ واقعیت دا هم دی چې لدې سپېڅلي جهاد څخه یو شمېر خلکو بده ګټه واخیسته، د اسلام په نوم یې داسې کارونه وکړل چې زموږ د ولس سپېڅلې مبارزې او مجاهدې ته یې هم زیان ورسوو چې هیڅ وخت به یې نه الله ج وبښي او نه دا اتل ولس. په دوی کې داسې د افغانستان د تباهی څېرې د جهاد ټیکه داران ، د واک ، څوکۍ ، او اقتدار وږي او وطن پلورونکي و؛ او اوس هم شتون لري چې دجهاد په نوم او جامه په هېواد کې کور په کور ننوتل، وژنې ، ورانونې په ناموسونو تیری او د هېواد د ملي شمتنیو چور او پر پاکستان پلورلو ته یې ملا وتړله.

اصلاً که د جهاد ریښتونې معنا او تعریف ته وکتل شي نو جهاد هغه سپېڅلې کلمه ده ، چې یواځې د الله جل جلاله د رضا په خاطر ، د هغه د دین د دفاع لپاره ؛ له کفري دښمن څخه د خپل هیواد او ولس د ساتنې په خاطر جنګیدلو او په هر ډول شرایطو کې د حق وینا کولو ته وایې. خو له بده مرغه دلته په جهاد او شهادت سیاسي سوداګري کیږي، له جهاد او شهادت څخه د سیاسي اهدافو ترلاسه کولو لپاره د ابزار او وسیلې په توګه کار اخیستل کیږي. دلته جهاد په خلکو خرڅیږي او د مجاهد په نامه له سهامي دولته خپله ونډه غوښتل کیږي. دوی که د هر شخصي، ګوندي، سمتي او قومي امتیاز لپاره جنګیدلي؛ ورته مجاهد نشو ویلای. که یو څوک د شخصي ګټو، قومیت پاللو، ژب پاللو، سمت پاللو، خپل شهرت، سیاسي امتیاز، او یا بل کوم هدف لپاره جنګیږي ، د هغه جنګ او هلو ځلو ته جهاد نشو ویلای.

دا سمه ده چې افغانستان ته د شوري اتحاد د سرو لښکرو راتګ د افغانانو په لرغوني تاریخ کې یو تور او له کړاوونو ډک باب دی. د افغان مجاهدینو په لاس د شوروي د سرو لښکرو ماته یو ستر بری دی خو هغه زیان چې له دغې بري وروسته افغانستان د مجاهدینو د خپلمنځي، ګوندي او سمتي جنګونو له امله ولید؛ هم باید پرې سترګې پټې نه شي. د مجاهدینو له بري سره، نا امنیو بل رنګ غوره کړ، په هېواد کې کورني جنګونه پیل، اقتصادي پرمختګونه په ټپه ودرېدل او خلک له سختو اقتصادي ستونزوسره مخ شول. د شوروي پر سور لښکر له بري وروسته؛ مجاهدینو په کابل کې د واک پر سر خونړۍ خپلمنځي جګړې پیل کړې. که څه هم له افغانستانه د پخواني شوروي د ځواکونو له وتلو پوره ۲۷ کاله تیریږي، خو لا هم د خلکو په ذهنونو کې دهغه

وخت او راوروسته د کورنیو جګړو خاطرې پاتې دي. د روسانو له ماتولو وروسته کابل د څو ډلو ترمنځ د جګړې پرمیدان بدل شوو هغه وژنې، چې په دغو جګړو کې وشوې د افغانستان په تاریخ کې بې سارې بلل کېږي.

د روسانو تر وتلو وروسته د مجاهدینو ترمنځ خپلمنځي اختلافات ددې لامل شول چې افغانان له کنډو ستونزو سره مخ شول، کورونه یې وران شول او زرګونه کسان له هېواده وتو ته اړ شول. یوازې په کابل کې په زرهاوو هېوادوال مو شهیدان شول، په سلهاوو معلولان، یتیمان، کونډې، بورې او بې سرپرسته شول. له همدې ورځې راهیسې تر ننه په هېواد کې امنیت نه یوازې دا چې ټینګ نه شو، بلکې له یوې ورځې نه بلې ته مخ په خرابېدو دی او د مجاهدینو د واکمنۍ په پنځه کلنه دوره کې د واک د ترلاسه کولو په سر، تنظیمي جنګونو هم په لسګونو زره خلک ووژل.

هغوی چې کوټې یې د ټوپک د ماشې په کش کولو رووړدې وې اوس هم د دوی د فطرتي غوښتنو پر اساس د خلکو په وژنه او زورونه لګیا دي. ځینې یې د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال په حکومت کې په لویو پوستونو وګمارل شول. دوی پخوا هم خلکو ته تجربه ورکړې وه او د حامد کرزي په واکمنۍ کې هم په ښه توګه ولس ته معلوم شول. اوس چې د اشرف غني او عبدالله تر منځ په ګډ حکومت کې دوی تر یوه حده څنګ ته شوي دي نو اوس وخت ناوخت په ملي ورځو او یا هم ځانګړو وختونو کې سر راپورته کوي او په اوسني حکومت کې پر خپلې کمزنکې ونډې نیوکې کوي. دوی چې د څوکۍ پر خوند روږدي شوي دي نو د جهاد له سپیڅلې نامې څخه په ګټې اخیستې د څوکۍ او امتیاز د ترلاسه کولو خوبونه ویني. خو ډاډه ویلای شو چې دوی ولس ته امتحان ورکړی دی او نور به ولس ورته د بیا تجربې وخت ورنکړي.

سلواغه یا دلو/ 1396

# پلازمېنه او امنيت يې

د هېواد په پلازمېنه کابل ښار کې ۱۷ امنيتي حوزي او نور امنيتي قطعات د ښار د امنيت د ټيکښت په موخه ځای پر ځای شوي دي او په څوارلسکونو ولسواليو کې هره ولسوالۍ د جلا امنيه قوماندانۍ درلودنکې ده چې په ټوليزه توګه دغه د کابل د امنيه قوماندانۍ تر اغېز لاندې دي چې د امنيت د ټينګښت او د قانون د تنفذ د پاره په محلاتو کې په دنده بوخت دی. هره امنيتي حوزه مسوليت لري تر څو  په خپله ساحه کې امنيت ټينګ کړي او د وژنې ، غلا او د نورو جنايي جرمونو د پيښېدو مخنيوی وکړي او يا هم د جرمونو د پيښېدو په صورت د قضيې عاملين ونيسي.

د هېواد پلازمېنه چې د لرې پرتو سيمو افغانان د ښه او امن ژوند په هيله دغه ښار ته را کډه کيږي؛ د هرې ورځې په تېرېدلو سره يې وګړي ډېرېږي. خو له بده مرغه اوس مهال د کابل په ښار کې د جرمونو کچه تر پخوا لوړه شوې ده او هره ورځ په لسکونو جرايم د کوڅه ډبو او بې بندو بارو کسانو لخوا ترسره کيږي چې تر شا يې زور واکان لاس لري. د وسله والو غلاوو زياتيدل، چاودنې، ځانمرګي بريدونه، د موټرو تښتول، د کورونو لوټل، لار شکونې، د مبايل ټليفونونو غلا کول، د وسله والو مخالفانو هدفي وژنې او په ښار کې د زورورو او نامعلومو کسانو تګ راتګ هغه موارد دي چې په دې وروستيو کې په پلازمېنه کې زيات شوي. هاخوا بيا کابل ښاريان پوليس د امنيت په ټينګولو کې په بې غورۍ تورنوي او وايي، چې د شپې د ګزمې يا د موټرو د تلاشۍ او د ښار امنيتي وضعيت د څارلو په ځای په شخصي معاملو بوخت وي.

په دې وروستيو کې د موټرو غلا په کابل ښار کې زور اخيستې دی. په ډيری ځايونو کې پوليس خپلې دندې په سمه توګه سر ته نه رسوي او کله خو له غلو سره مرسته هم کوي. د راپورونو له مخې په دې وروستيو کې په کابل ښار د موټرو غلا زياته شوې ده، چې په تېرو يوولسو مياشتو کې تر ۴۰۰ ډېر نقليه وسايط غلا شوي، خو د کاپل ښار امنيتي چارواکي بيا وايي چې ډېری نقليه وسايط له تښتوونکو سره بېرته نيول شوي دي  او د غلو پر ضد يې کوټلي ګامونه اخيستي دي. د کابل ښاريان بيا شکايت کوي چې امنيتي مسوولين د غلو د نيولو لپاره ګامونه نه پورته کوي، که غله ونيول شي نو، د پوليسو له لوري بېرته خوشې کېږي، پوليس ورسره لاس لري، ځکه نو غلاوې ورځ له بلې زور اخلي. دلته اوس پوښتنه دا پيدا کيږي؛ په داسې حال کې چې د کابل په ښار کې ۱۷ امنيتي حوزي او نور امنيتي قطعات د ښار د امنيت د ټيکښت په موخه

ځای پر ځای شوي دي، ځای پر ځای ا منیتي کمربندونه شتون لري نو د کابل په زړه کې ولې غلاوې او نور جنایي جرمونه ترسره شي؟

ځواب یې په غالب ګمان دا دی چې امنیتي مسوولین له غلو سره مرسته کوي او غله پرته له کومې وېرې خپل کار پر مخ وړي. د دې تر څنګ د امنیتي چارواکو په تشکیل او کمارنه کې هم ځینې نیمګړتیاوې شته. د کابل ښار په ټولو امنیتي څوکیو د نامسلکي او واسطه لرونکو کسانو ګومارل، د کابل په مختلفو سیمو کې د ګزمې او د موټرو د تلاشي لپاره د ځلرویشت ساعته پروګرام نشتوالی، نورې هغه ستونزې دي چې د ښار د امنیت په خرابوالي کې یې مرسته کړې ده. نارسمي شمېرنې ښیي، چې هره اونۍ په کابل ښار کې په لسګونو موټر غلا کېږي، په لسګونو کورونه، موبایل او خلک لوټل کېږي، چې ان د کابل پولیس دا ډول ډېرو پېښو غور هم نه کوي.

اوس افغان دولت ته په کار دي چې ژر تر ژره د دې ستونزې غم وخوري، که نه نو نا امني به نوره هم پراخه شي. هره امنیتي حوزه باید په اونۍ کې او یا په میاشت کې یو ځل د خپلې ساحې د امنیت د ټینګښت او د ستونزو دحل په خاطر د سیمې د لویانو او مشرانوسره غونډې جوړې کړي. که یو غل، ډاکو او یا بل مجرم نیول کېږي باید د نورو تحقیقاتو لپاره سمدستي څارنوالۍ ته معرفي شي. په ټولو امنیتي څوکیو باید وړ مسلکي کسان وګمارل شي او د ښار د امنیت د لا ټینګښت په موخه باید د موټرو د تلاشۍ لپاره څلریشت ساعته پروګرامونه جوړ شي.

سلواغه یا دلو/ 1396

# چارواکي که پخواني زورواکي..؟!

## د چارواکو په څېرو کې د پخوانیو زورواکو افشا کېدل

د هېواد وروستیو حالاتو ته په کتو جوتېږي چې د هېواد امنیت ورځ تر بلې مخ په خرابېدو دی، په ادارتو کې کارونه په ځنډ او ځنډ سره پر مخ ځي، ډېری ادارې له سقوط سره مخ دي او تر ټولو جالبه لا دا ده چې چارواکي مو د خپل اصلي مسولیت پر ځای؛ نور هغه کارونه ترسره کوي چې مسول يې بل څوک وي او د کولو صلاحیت يې هم بل چا سره وي. زمونږ ډېری چارواکي هغه د پخواني متل چې وايي چرګه دانه دلته خوري خو هګۍ کاونډې کره اچوي؛ په مصداق تغذیه له دولته اخلي خو کارونه شخصي، کوندي او سمتي کوي. د حکومت په سطحه مو لوړپوړي څوکۍ د کوندو، تنظیمونو او بانفوذه ټولنیزو او سیاسي اشخاصو تر اغېز لاندې دي چې هېواد، هېوادوالو د ټول افغانستان یا د خپل لومړي مقام په پرتله، خپلو اشخاصو ته ډېر وفادار وي.

همدغه کسان او کړی دي چې خپل سیاسي ژوند په جنګ او نا ارامۍ کې ويني. دوی چې کله ځانونه د انزوا په حالت کې ويني او کله چې يې شخصي، کوندي او سمتي ګټې له خطر سره مخامخ کېدونکې ويني نو بیا د حکومت له منځه د يو جنګي مخالف په څېر څرګندونې کوي. دوی بیا کوښښ کوي چې هېواد يو ځل بیا تنظیمي حالت ته بوځي.

مونږ په افغانستان کې د اشرف غني او عبدالله تر منځ د کډ حکومت په يو نیم کلنه دوره کې؛ د حکومت له منځ پر حکومت د نیوکه کوونکو چارواکو ډېری تجربې لرو چې وروستۍ هغه يې په بنې حکومتولۍ او اصلاحاتو کې د ولسمشر ځانګړی استازی احمدضیاء مسعود وروستۍ څرګندونې دي. له دې وړاندې هم د شمال بیلابیلو پخوانیو قوماندانو چې اوس په حکومت کې شریک هم دي؛ د حکومت له منځه په حکومت نیوکې کړي دي. د کندوز د سقوط په سبا د کابل مقتدر جنګسالاران شمالي ولایتونو ته لاړل چې د خپل نفوذ په حوزو کې د وجود تمثیل وکړي. په دغه منځ کې د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني هم شتون درلود چې غوارې له يوې خوا د جمیعت په هسته کې د ځان او خپلې کورنۍ مرکزي نقش ثابت وساتي، او هم له حکومتي امتیازه برخمن شي. له هغې وړاندې د چنګابښ په ۱۶ نېټه اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله هم په حکومت نیوکې کړې وې او ويلي يې و چې د ملي يووالي حکومت په هغې ژمنه کې، چې د خلکو د ژوند په بنه والي کې به بدلون راولي، پاتې راغلی دی. له دې وړاندې د تېر کال لیندۍ ۵مه د ولسي جرګې ریس عبدالرؤوف ابراهیمي هم په حکومت نیوکه کړې وه او ويلي و، چې »د اشرف غني او عبدالله په مشرۍ ملي وحدت حکومت سر تر پایه ناقانونه دی.«

همداشان د د اجرایوي ریاست دویم مرستیال محمد محقق هم چې د میدان وردګو په جلریز ولسوالۍ کې د وژل شویو سرتېرو په اړه راټول شویو خلکو ته خبرې کولې؛ د روان کال د سلواغې په ۲۵مه په حکومت نیوکې کړې وې او ویلي یې و چې »په خواشینۍ سره د ملي وحدت حکومت تر اوسه د ملي وحدت درلودونکی نه دی.«

اوس په تازه کې په بنې حکومتولۍ کې د ولسمشر ځانګړی استازی ضیاء مسعود؛ تخار ولایت ته د سفر په ترځ کې د خپلې ډلې له یو شمیر غړو او جهادي مشرانو سره تر مشورې وروسته؛ په دې پلمه چې وسله والو مخالفینو په شمال کې او شمال ختیځو ولایتونو کې لوی مرکزونه جوړ کړي دي او حکومت د دوی د له منځه وړلو لپاره هیڅ نه دي کړي؛ د مجاهدینو شورا جوړه کړه. د ولسمشر ځانګړي استازی وایي یوازې مجاهدین کولای شي د وسله والو مخالفینو مه ونیسي او حکومت د خلکو د امنیت ساتلو لپاره کومه پالیسي نه لري. د نوموړي په باور افغان امنیتي ځواکونه کمزوري دي او نه شي کولای چې په هېواد کې امنیت ټینګ کړي.

دا لومړی ځل نه دی چې ښاغلی مسعود دا ډول غیر مسوولانه څرګندونې کوي بلکه دوه میاشتې وړاندې کله چې افغان دولت د سولې اړوند تازه هڅې پیل کړې وې؛ نوموړي د خبریالانو د ستاینې یوې غونډې ته په وینا کې ویلي و چې » سوله ملنډې دي او حکومت باید په دې پروسه کې وخت تیر نه کړي«

احمدضیاء مسعود هغه شخص دی چې حکومت په ځانګړې توګه ولسمشر پرې باور وکړ او د نوموړي لپاره یې یوه خاصه څوکۍ ځانګړې کړه، بیا یې ورته امتیازات او صلاحیتونه د ولسمشر د مرستیال سره برابر کړ نو اوس چې پوه شو چې د چا زور پرې نه رسیږي نو د حکومت له منځه یې په حکومت نیوکې شروع کړې.

په حقیقت کې دا ډول غیر مسوولانه څرګندونې د حکومت او ولس لپاره له وسله والو مخالفینو څو برابره خطرناکې تمامې دی شي ځکه دوی د حکومت یوه برخه ده او په خپله حکومتي برخه چې د حکومت د کمزورۍ خبرې کوي نو دا بیا په راتلونکې د ولس بې باورۍ لا ډیره زمینه برابروي. د داسې کسانو په مقابل کې د حکومت اقدام باید جدي او له ټولو مصلحتونو څخه لېرې وي، چا ته باید د عامه ذهنیت د کډوډلو اجازه ورنه کړل شي، ځکه داسې څرګندونې نه یوازې د حکومت پر حیثیت او داخلي جوړښت باور کموي ؛ بلکې د ملي ځواکونو پر ویاړلې او لوړې روحیې هم بد تاثیر کوي.

سلواغه یا دلو/ 1396

# د سولې شورا سره باید حساب وشي

په تازه کې راپورونه وايي د سولې عالي شورا د رهبرۍ د نشتوالي له امله نړیوالو مرسته کوونکو له دغې شورا سره خپلې مالي مرستې ځنډولې دي. په دغه بنسټ کې د مشرتوب د نه شتون له امله امریکا او برېتانیا چې د سولې د عالي شورا ستر مالي ملاتړي دي، خپلې مالي مرستې له دغه بنسټ سره ځنډولي دي.د سولې عالي شورا یو چارواکی اسماعیل قاسمیار وايي، د مرستو پرې کېدو د دوی کارونه له ځنډ سره مخ کړي دي. همداشان د ولسمشر مرستیال ویاند ظفر هاشمي وايي چې حکومت غواړي لومړی د سولې په شورا کې اصلاحات رامنځته کړي او وروسته ورته مشر وټاکي.

له نږدې شپږ کاله وړاندې په (۱۳۸۹) کال پخواني ولسمشر حامد کرزي له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو د پرمخ بیولو لپاره د سولې عالي شورا جوړه کړه، خو که هغه امتیازاتو او سهولتونو ته وګورو چې دوی ته ورکول کېږي او بیا له پیله تر ننه یې د شوې کار او فعالیت سره پرتله کړو نو په ډاګه کېږي چې دوی هېڅ لاسته راوړنه نه لري او یوازې یې د خپلو امتیازاتو لپاره هڅې کړې دي. دوی له پیله تر ننه فقط معاشونه او امتیازات اخستي او د خلکو له پاره ښه زیری نه لري. دوی ټولو یوازې پیسې او وخت مصرف کړی. دغه شورا یوه نمایشي او تشریفاتي جرګه ده چې له لګښتونو پرته یې بله ثمره نه ده لرلې. اصلاً که په حقیقت سترګې پټې نه شي تېر ولسمشر حامد کرزي د یو شمېر مخورو او بانفوذه افرادو د خوشحالولو لپاره دغه شورا جوړه کړې ده.

همداشان په داسې حال کې چې د سولې عالي شورا د دندو په داخلي لایحه کې ذکر شوي ؛ د دې شورا غړیتوب معنوي امتیاز دی او د معاش په نوم کوم څه نه لري. خو د دې شورا غړي پر نورو ډېرو امتیازاتو سربېره د دسترخوان او ټرانسپورټ په نوم له ۵۰۰ تر ۳۰۰۰ امریکایي ډالرو پورې اخلي. پر معاشونو سربېره د سولې د عالي شورا اداري پلاوی له هغو موټرو ګټه پورته کوي چې د همدې شورا په مالي لګښت د لکونو امریکایي ډالرو په بیه رانیول شوي او اوس د دوی په خدمت کې دي. د ساتونکو لګښت یې هم د شورا له جیبه دی او هر ساتونکي ته لوړې تنخواګانې ورکول کېږي.

د موندنو پر اساس د سولې عالي شورا په غړو کې ځینې داسې کسان هم شته چې د لکونو ډالرو په ارزښت موټر یې په خدمت کې دي او پر بېلابېلو امتیازاتو سربېره میاشتنۍ تنخوا یې هم له درې زره امریکایي ډالرو اوړي.

د سولې عالي شورا په تېر شپږ کلن دوران کې هیڅ کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه ده درلودلې. دوی په شپږو کلونو کې په دې نه دي توانیدلي چې له وسله والو مخالفینو سره؛ پرته له دریمګړي کینې او دوه پر دوه ورسره خپلې غوښتنې مطرح کړي او د هغوی نظر واخلي چې وروره تاسې څه غواړئ؟
تاسې ولې له افغان ملي ځواکونو سره له کلونو راهیسې جنګیږئ چې تر منځ مو په سلګونو بیګناه افغانان شهیدان کیږي؟
تاسې ولې د خپل مسلمان ورور چې د افغان ملي اردو، ملي پولیسو او ملي امنیت په لیکو کې د هیواد او ولس د ساتنې په موخه شپې او ورځې سبا کوي؛ قتل روا بولئ؟

ستاسې مشکل څه دی؟ راځئ چې سره کینو او مخامخ خبرې وکړو او یو وبل ته قناعت ورکړو. وینه په وینه نه مینځل کیږي. د خدای لپاره راځئ نوره د ټوپک پر ځای قلم راپورته کړئ او د خپلو نورو مسلمانانو افغانانو ورونو سره چې د دولت په چوکاټ کې د هیوادوالو خدمت کوي؛ اوږه پر اوږه د خپل ولس خادمان شو.

د تش په نوم د سولې عالي شورا د تیرې شپږ کلنې دورې ته په کتو، د دوی امتیازاتو ته په کتو او بیا د عمل په ډګر کې د دوی شپږ کلنو کړنو ته په کتو؛ نه یوازې دا چې نوموړې شورا باید منحل شي؛ بلکه د یادې شورا له غړو او تشکیل سره حساب کتاب هم وشي. ځکه هغه امتیازات، په میلیونونو ډالر او تیر شپږ کاله وخت چې دوی ضایع کړی؛ که چیرې په همدغو پیسو د هیواد وسله وال ځواک پیاوړی شوی وای نو نن به په هیواد کې روان سیاسي بحران شتون نه درلود، نن به مو هیواد کې روانو کړکیچنو امنیتي حالاتو شتون نه درلود او نن به مو په هیواد کې سوله؛ د پاکستان ته په زاریو او له وسله والو مخالفینو ته د عذر په ځای؛ د امنیتي ځواک پر مټ او پیاوړتیا رامنځته کړې وه.

سلواغه یا دلو/ 1396

# د ګډ حکومت د یو نیم کال کارنامه؛ په اداري فساد کې یو قدم وړاندې تګ

له څو لسیزو راهیسې په افغانستان کې د نورو لویو ننګونو ترڅنګ، یوه بله غټه ستونزه چې دولت ورسره مخ دی؛ اداري فساد دی. دغه پدیده باعث شوې چې د دولت او ولس ترمنځ واټن پیدا شي، په نړۍ کې یې د افغانانو بد انځور نړیوالو ته وړاندې کړی، افغانستان خپل نړیوال مرستندوی هیوادونه له لاسه ورکړل او یا هم پرې بې باوره شول، که ژور فکر وکړو په ټولیزه توګه ویلی شو چې اداري فساد د افغان حکومتونو پر لمن هغه ستر ، تور داغ دی، چې نړۍ ته یې د افغانانو ډېر بد انځور وړاندې کړی دی. ټول افغان ولس شاهد دی چې تېرو حکومتونو او اوسني ګډ حکومت په ښکاره د ا داري فساد پر وړاندې مبارزه پیل کړی او پدې برخه کې بیلابیلې اداري جوړې شوي ، خو تراوسه یې هیڅ کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه ده لرلې.

اوس په تازه کې د روڼتیا نړیوال سازمان «ټرانسپرنسي انټرنېشنل» وايي چې په ۲۰۱۵ زېږدیز کال کې افغانستان د نړۍ دوهم هغه هېواد دی چې په نظام کې یې زیات فساد شتون درلود. د نړیوالې روڼتیا دغه سازمان چې مرکز یې په المان کې دی، په یوه تازه راپور کې یې ویل شوي دي چې شمالي کوریا، افغانستان او سومالیا د نړۍ د ۱۶۷ هېوادونو په کتار کې تر ټولو فاسد دولتونه دي. په راپور کې راغلي دي چې، په افغانستان کې دمیلیاردونو ډالرو د لګښت سره سره بیا هم د افغانستان په دولتي ادارو کې پراخ فساد شتون لري. دا لومړی ځل نه دی چې افغانستان په دغه سیالۍ کې په اعلی درجه کې راځي بلکه افغانستان له څو کلونو راهیسې ددغه سازمان د راپور پر بنسټ د فاسدو دولتونو په سر کې ځای لري. تر دې وړاندې هم په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې افغانستان د نړۍ د ۱۷۵ هېوادونو په کتار کې درییم فاسد دولت ګڼل شوی و، همدغه راز په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې افغانستان د نړۍ د ۱۷۷ هېوادونو په نوملړ کې د دوهم فاسد دولت مقام خپل کړی و.

اوس پوښتنه دا ده چې ، څوک په فساد کې ښکېل دي ، او څوک یې باید مخه ونیسي ؟ ایا دا په ریښتنیا دومره ستونزمن کار دی چې په تېرو څوارلسو کلونو کې د نړیوالې ټولنې له پرله پسې مرستې سره سره هم افغان حکومت د دغې بلا مخه نشی نیولی؟

د اوسني ګډ حکومت دواړو شریکانو (غني او عبدالله) د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال؛ د فساد سره مبارزه خپل لومړیتوب یادولو او پر وړاندې یې د جدي مبارزې یادونه کوله خو له بده مرغه کله چې واک همدوی دواړو ته په لاس ورغی نو حالات بلکل بدل شول او نه یوازې دا چې د دواړو ښاغلو د فساد ضد شعارونه؛ تش

شعارونه پاتې شول بلکې اداري فساد نورې هم ريښې وکړې او دا دی د نوي حکومت په يو نيم کال موده کې افغانستان دومره پرمختک وکړ چې له څلورم مقامه؛ دويم مقام ته راورسيد.

دا سمه ده چې په تېر حکومت هم د فساد اړوند تورونه موجود و خو هغه مهال يې تر ډېره د پرې کوته بهرنيانو ته نيول کېده، د نوي حکومت په رامنځته کېدو د بهرنيانو شتون هم د پخوا په پرتله څو برابره کم شوی دی نو بايد فساد هم کم شوی وای. خو داسې ونشو بلکه څو قدمه هم په اداري فساد کې وړاندې ولاړو. د کډ حکومت په منځته راتګ په افغانستان کې فساد دود شوی او ډېری کسان په دې باور دي چې د رشوت په ورکولو سره په دولتي ادارو کې د دوي کارونه ترسره کېداي شي.د شنونکو په باور د معافيت د کلتور پراختيا په هيواد کې د اداري فساد د زياتوالي اصلي لامل بلل کيږي او د ولسمشر او اجرايه رياست تر منځ ناسالم رقابتونو؛ له جزا څخه د معافيت کلتور ته پراختيا ورکړې ده.

اداری فساد د ټولو ستونزو مور ده اوتر ټولو اړينه ده چې تغر يې له هيواده ټول شي. د دغې پديدې د تغر د ټولو لپاره په کار ده چې په لوړه کچه په حکومتولۍ کې بدلونونه رامنځته شي په دې معنا چې ولسمشر او اجرايه رييس دې دغه خپل اوسني مفسد ټيمونه له ځانه لرې کړي ، ځانونه دې په ملت پورې وتړي ، مجازات او مکافات دې وټاکي، اصلاحات دې له ارګه پيل کړي او د حکومت تر روستي او لرې پرتې اداري په پورې دې وغځوي. ولسمشر دې د نورو د عبرت او پند لپاره څو تنو مسفدو لوړ پوړو چارواکو ته دهيواد د نافذه قوانينو سره سمه سزا ورکړي، اداري بايد له مفسدو کسانو پاکې کړي، پوه، وړ او پاک کسان دې په دندو وګماري نو په خپله به د اداري فساد لمن ټوله شي.

سلواغه يا دلو/ 1396

# د اساسي قانون لويه جرګه نه ، بايد دوديزه لويه جرګه جوړه شي

له کله نه چې د ولسمشريزو ټاکنو د دوو مخکښو نوماندانو ترمنځ واک ووېشل شو او دوه سره حکومت په ولس تحميل شو؛ د هېواد سياسي، اقتصادي او امنيتي وضعيت د پخوا په پرتله لا ډېر خراب شو. پر همغه مهال شنونکو وړاندوينه کوله چې دا دوه سره معجون حکومت به د ولس د غوښتنو پر ځای خپلو او د خپلو ټيمونو غوښتنو ته لومړيتوب ورکوي او لکه د ماشومانو به په هره وړه او لويه خبره به په خپل منځونو کې سره نښتي وي؛ خو اوس دا دی په يو نيم کال موده کې پخپله د کډ حکومت دواړو مشرانو په اثبات ورسوله چې دوی ولس هېر کړی او په خپلو شخصي غوښتنو نښتي دي.

که څه هم د ملي يووالي حکومت رامنځ ته کېدو د تړون له مخې، لويه جرګه بايد د حکومت په لومړيو دوو کلونو کې ترسره شي. خو دا دی د کډ حکومت له رامنځه کېدو څه د پاسه يو نيم کال کېږي؛ اما نه دا جرګه راغوښتل شوې، نه په اساسي قانون کې تعديل راوړل شوی او نه هم په دې موخه د لويې جرګې د رابللو لپاره کومه نېټه ټاکل شوې ده. که حکومت د اساسي قانون د لويي جرګې د جوړولو پر مخ کې د ولسواليو شوراګانو د ټاکنو لپاره ناسم شرايط او غير قانوني ولسي جرګه يادوي نو سمه ده؛ ځکه د اساسي قانون د لويې جرګې دايرول اوسمهال ناشوني دي. په اساسي قانون کې ياده شوې لويه جرګه به، د ملي شورا له غړيو او د ولايتونو او ولسواليو شوراګانو له رئيسانو جوړېږي، چې تراوسه د ولسواليو د شوراګانو لپاره ټاکنې هم لا نه دي شوې. د دې ترڅنګ د ولسي جرګې ټاکنې هم اړينې دي؛ ځکه د اوسنۍ جرګې رسمي کاري موده او مشروعيت پای ته رسېدلی او د ټاکنو لپاره يې تراوسه نېټه هم نه ده ټاکل شوې. نو هيواد له روان حالت څخه د راکرځيدو لپاره بايد دوديزه لويه جرګه دايره شي.

که د کډ حکومت يو نيم کلنې دورې کړنو او د ولس او دولت تر منځ ورځ تر بلې د واټن پيدا کيدو ته وکتل شي؛ نو د ولس د غوښتنو پر اساس بايد دوديزه لويه جرګه جوړه شي؛ ځکه حکومت نور د مديريت وړتيا نه لري. د دوديزې لويې جرګې بله ګټه دا هم ده چې په حکومت کې به اصلاحات رامنځته او داخلي او بهرنۍ سياست به يې روښانه شي. همداشان په دې وروستيو کې د جهادي قوماندانانو شورا او سياسي ګوندونو هم د اساسي قانون تعديل لپاره د لويې جرګې جوړېدو غوښتنه کړې ده. په ورته وخت کې بيا ولسمشری مانۍ هم وايي چې حکومت به له شرايطو او ژمنو سره سم په دې اړه ګام واخلي.

د افغانستان روان سياسي وضعيت دا ايجابوي چې بايد ژر تر ژره دوديزه لويه جرګه دايره شي څو روان بحراني حالت ته د پای ټکی کيښودل شي. سږ کال په ژمي کې هم د نورو کلونو په نسبت امنيتي حالات ترينګلي

دي او داسې انکېرل کېږي چې راروان پسرلی به جګړه نوره هم زور واخلي. د هیواد اقتصادي حالت هم مخ په ځوړ دی. همدا راز د بېکارۍ او وزګارتیا کچه هم اوج ته رسېدلې، افغانۍ د بل هر وخت په پرتله د نورو بهرنیو اسعارو پر وړاندې خپل ارزښت بایللی دی. د تیر یو کال په تیریدو مو په لکونو هیوادوال له هیواده اروپایي هیوادونو ته کډه شول او اوس د ژمي پر مهال هم دا لړۍ روانه ده، د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د راپور له مخې، د ۲۰۱۵ کال له جنوري میاشتې څخه د اګست تر میاشتې پورې تقریباً ۱۲۰۰۰۰ افغانانو په اروپایي هېوادونو کې پناه غوښتې ده . دغو ټولو ستونزو ته په کتو له دغه حالت څخه د وتلو یوازېنۍ لاره د دودیزې لویې جرګې رابلل دي.

مونږ یو ځل بیا د کډ حکومت مشرانو په ځانګړي توګه د نړۍ دویم ستر متفکر ته وړاندیز کوو چې د اساسي قانون د ۶۵مې مادې پر اساس چې له مخې یې ولسمشر کولای شي په مهمو ملي، سیاسي، ټولنیزو او یا اقتصادي چارو کې د افغانستان د خلکو نظر پوښتنې ته مراجعه وکړي؛ ژر تر ژر د دودیزې لویې جرګې د دایرولو لپاره فرمان صادر کړي او هم ولس او هم هیواد له روان سیاسي بن بست څخه راوباسي.

سلواغه یا دلو/ 1396

# ژمنې باید په عمل کې ثابتې شي..!

له افغان حکومت سره د سولې د رسمي خبرو تر پیلیدو مخکې؛ د پګواش په نوم یوې مرستندویه نړیوالې موسسې په نوبت د تېرې شنبې او یکشنبې په ورځو د قطرپه پلازمینه دوحه کې؛ د طالبانو، مدني ټولنې او یو شمېر خپلواکو افغانانو تر منځ غونډه ترسره شوه. په تېرو څوارلسو کلونو کې د افغان سولې پروسې اړوند په بېلابېلو ځایونو او وختونو کې بیلابیلې غونډې او څو اړخیزې ناستې ترسره شویدي. په ډیری دغو غونډو کې پخپله د جګړې ښکېل لوري، افغان دولت او وسله وال طالبان او  تر څنګ یې درېمګړي هم شتون درلودلی دی. ډیری وخت دغو غونډو ته د هیله مندۍ په نسبت ناهیلی به زیاتې وې. ځکه یا به د افغان لوري ټاکل شوي پلاوي جوړښت مناسب نه و، یا به د وسله والو طالبانو د پلاوي په کړه والي شک شتون درلود، او یا به هم د بېلابېلو هغو کړیو له لوري چې په جنګ کې ګټې وینې؛ د غونډې اړوند منفي تبلیغات شروع و او خلک به په لوی لاس نهیلي کیدل. خو دا ځل دغې غونډې؛ له جنګه ستړیو او کړیدلو افغانانو په زړونو کې د سولې هیلې ټوکولې دي. تر ډیره داسې څرګندېږي چې وسله والو طالبانو سولې ته شین څراغ روښانه کړی دی.

په داسې حال کې چې په عمومي ډول د وسله  والو طالبانو له لوري په ځانمرګو بریدونو،د سړک د غاړې په چاودنو او نورو بریدونو کې ملکیانو ته زیاتې مرګ ژوبلې اوړي او د افغانستان د امنیتي ځواکونو له لوري پر کلیو او هستوګنو سیمو د بې هدفو بریدونو په پایله کې ملکیان زیات وژل کېږي؛ وسله والو طالبانو دا ځل په یو بې ساري اقدام کې د قطر په غونډه کې د ملکیانو د مرګ ژوبلو د مخنیوي لپاره ژمنې وکړې. دوی نه یوازې دا چې د ملکیانو د سر خوندیتوب ته ځانونه ژمن وښودل بلکې ژمنه یې وکړه چې نور به پر ټولګټو پروژو هم بریدونه نه کوي. د راپورونو له مخې طالبانو حتي ژمنه وکړه چې د ټاپې، عینک، کمال خان، سلما او دهلې بندونو په شان له ملي پرمختیایي پروژو سره کار نه لري. دا لومړی ځل دی چې طالبان رسماً په یوه نړیواله غونډه کې د افغانستان د عام المنفعه پروژو پر ضد نه یوازې د اقدام نه کولو ژمنه کوي بلکې د هغو ملاتړ کوي. همدا راز بل د ستاینې وړ اقدام یې دا دی چې د «اسلامي اصولو، ملي ګټو او ارزښتونو په رڼا کې» مدني فعالیتونو، د بیان ازادۍ او د ښځو حقونو ته ځان ژمن بولي.

که څه هم افغان ولس د وسله واو طالبانو د دغې نوي دريځ هرکلی کوي خو د وسله والو تېر تاريخ او جنایاتو ته په کتو؛ په اوسني نيت او ژمنې يې هم شک لري. ځکه تر دې پخوا د افغانستان د دولت د وسله والو مخالفانو له لوري د سلما، کجکي، کمال خان او بخش اباد دپروژو د مخنيوي بنکاره هڅې شوي دي، په ځانمرګو بريدونو کې تر ډيره ملکيانو ته د سر او مال زيانونه اوختي دي، د جاسوس په نوم يې بنوونکي، ملا امامان او مخور وژلي دي او همداشان په ډيرى ځايونو کې ميرمنې د صحرايي محاکو قرباني شوي دي. نو د وسله والو مخالفانو تېر تاريخ ته په کتو اوس هم د دوی په دغې نوي دريځ سل په سلو باور نه شي کېدلای.

دا سمه ده چې په اوسنيو شرايطو کې د پکواش نړيوالې موسسې په نوبنت د افغان دولت له وسله والو مخالفانو سره وروستی ناسته د دواړو لورو لپاره د باور فضا د رامنځته کولو په موخه يوه لاسته راوړنه ده او دا هم بايد ومنو چې د افغان دولت له لوري د وسله والو طالبانو د دريځ روبنانه کول يو پرمختک دی خو د پوبنتنې وړ خبره دا ده چې وسله طالبان به څومره په خپل دغې وروستي دريځ ولاړ اوسي؟

افغان ولس نور له جنګه او وينې تويدنې ستړی شوی دی او سوله يې ستر ملي ارمان دی خو دا ارمان يې بايد په ټوله معنا او رښتينې توګه پوره شي. يو ځل بيا هم وايو چې افغان ولس د وسله والو طالبانو وروستی دريځ چې ځانونه د ملکيانو د سر خونديتوب ته، د ټولګټو پروژو د امنيت ساتنې ته او د «اسلامي اصولو، ملي کتو او ارزښتونو په رڼا کې» مدني فعاليتونو، د بيان ازادۍ او د ښځو حقونو ته؛ ژمن بولي؛ هرکلی کوي خو له وسله والو طالبانو څخه د هېواد د بچيانو په توګه غوښتنه کوي چې په خپلو ژمنو ودريږي او نور په هېواد کې د هيڅ افغان وينه تويه نشي او هيڅ عام المنفعه ځای ته زيان ونه رسيږي.

سلواغه يا دلو/ 1396

# مور د وږي له حاله څه خبر دی؟

په داسې حال کې چې هېواد مو په زرګونو معلولین، کونډې د شهیدانو کورنۍ، او یتیمان لري، د بیکارۍ کچه اوج ته رسیدلې، ډیری هېوادوال مو د فقر د کرښې لاندې ژوند کوي، د غریبۍ له وجې مو ډیری هېوادوال د یو و بل په مریو غوړېږي؛ درې میلیونه په کار برابر کسان مو د بیکارۍ رنځ؛ رنځوي او د یو کال په تیریدو مو تقریبا یو نیم لک هېوادوال اروپایي هېوادونو ته د سر په بدل واوښتل؛ افغان دولت مو د ولس څرمنې ته سوباړې بند کړی دی. د نوي حکومت په منځته راتګ سره مو افغان دولت د ولس له خولې د ډوډۍ مړۍ واخیستله، وینې یې وزبیښلې او اوس یې د هډونو په ژوولو پیل کړی دی.
د وروستیو راپورونو پر اساس ویل کیږي له دې وروسته به په دولتي روغتونونو کې له ناروغ پیسې اخېستل کیږي. د عامې روغتیا وزیر فیروزالدین فیروز وایي؛ تاکل شوې په دولتي روغتونو کې روغتیایي خدمات د پیسو په مقابل کې ترسره شي څو په هېواد کې د روغتیایي بنسټونو لګښت؛ له دې لارې پوره کړي. فیروز وایي؛ ددې لپاره چې هېوادوال مو د درملنې په خاطر نورو هېوادونو ته خپل ناروغان و نه لیږي؛ دوی هڅه کوي څو په ښه توګه په هېواد کې دننه د درملنې زمینه برابره کړي. پوښتنه دا ده هغه هېوادوال چې د یو پرستامول تابلیت د اخېستلو توان نه لري په دولتي روغتون کې د پیسو په مقابل کې د درملنې توان به له کومه کړي؟
همداشان د افغان دولت د فیوډالي مفکورې بل خبر دا دی چې له دې وروسته به د بانکي خدماتو فیس؛ د دولتي کارکوونکو له تنخواګانو کرڅول کیږي. د ملي یووالي حکومت کابینې تصویب کړې چې د بودیجوي ستونزو له امله؛ تاکل شوې له دې وروسته به د بانکي خدماتو فیسونه د دولتي کارکوونکو له میاشتینۍ تنخواګانو کرڅول کیږي. دا په داسې حال کې ده چې پخوا تر دې؛ د بانکې خدماتو فیسونه د مالیې وزارت له لوري د هېواد له ملي بودیجې ورکول کېدل. تیره ورځ د مالیې وزیر د کابینې په غونډه کې یوه طرحه وړاندې کړه چې پر اساس یې د بودیجوي ستونزو او له ملي بودیجې څخه د فشار کمولو په خاطر؛ تاکل شوې له دې وروسته د بانکي خدماتو  فیسونه؛ د دولتي کارکوونکو د میاشتینۍ تنخواګانو څخه وکرڅول شي. یاده طرحه د ملي یووالي د حکومت د کابینې له لوري هم ومنل شوه.
د ویلو ده، چې له دې وړاندې ولسمشر اشرف غني د مبایل کریډت کارتونو په واسطه تقنیني فرمان صادر کړی وو. په دغه فرمان کې راغلي وو، چې په سلو کې به ۱۰ سلنه مالیه د دغو کریډت کارتونو څخه اخیستل

کیږي. که څه هم د پارلمان له لوري په اکثریتو رایو رد شو، خو اوس هم په اتومات ډول په سلو کې ۱۰ سلنه مالیه د کریډت کارتونو څخه کرځول کیږي.

دلته افغان ولس کې شمیر پوښتنې لرې چې آیا افغان دولت د ولس اوسنی حال نه ویني او که په لوی لاس پرې ځان رندوي چې په داسې حال کې چې د دولت له لوري د ځوانانو د اشتغال کوم څرک نه لیدل کیږي خو رنګارنګ مالیات پرې وضعه کیږي او یا دولتي سهولتونه کموي؟

که افغان دولت د هېواد د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره دا هر څه کوي نو آیا دا به منطقي وي چې ولس مو دې یوې مړې ډوډۍ ته حیران وي او دولت مو دې پرې مالیات وضعه کوي او یا دولتي سهولتونه کموي؟

آیا دا منطقي ده چې د هېواد اقتصادي پیاوړتیا په خاطر دې دولت د ولس په وینو ځان موړ کړي؟ دولت ولې په نورو زیربنایي پروژو، د کانونو په کیندنو او د فابریکو په جوړولو کار نه کوي چې پرې کاري زمینه برابریږي او هم پرې د هېواد اقتصاد پیاوړی کیږي؟

دولت د دغو پیسو د مصرف او خوندیتوب لپاره د شفافیت په خاطر څه کړي دي؟

آیا دغه د مالیاتو پیسې د ولس په درد دوا کیږي او که د شخصي جیبونو او سیاسي پارټیو د عیش و عیشرت لپاره لګول کیږي؟

آیا دولت د مالیاتو وضعه کولو وړاندې د خدماتو د کیفیت ارزونه کړېده، آیا خدمات د ولس د اړتیا مطابق ترسره کیږي؟

سمه ده ولس به دا ومني چې د مالیاتو پیسې شخصي جیبونو ته نه ځي بلکې د دوی په درد دوا کیږي؛ او همداشان په دولتي روغتونونو کې به معاینات هم د پیسو په مقابل کې ترسره کړي؛ خو په مقابل کې یې له دولته غوښتنه کوي چې په کور دننه په دولتي روغتونونو کې ورته د سل سلنې روغتیایي خدماتو د ترسره کولو زمینه برابره کړي. اوسمهال خو په ډیری دولتي روغتونو کې یوازی عادي معاینات ترسره کیږي. ولس غواړي چې نور اړتیا ونلري چې د درملنې په خاطر خپل ناروغان نورو هېوادونو ته ونه لیږي. ولس قرباني ورکوي او د دولت له لوري هر رنګه مالیاتو ورکولو ته تیار دی خو له دولته د خپلو ورکړل شویو مالیاتو په شفاف ډول د دوی په درد د دوا کیدو غوښتنه کوي. ولس غواړي چې د خپلو قربانیو بدله په خپله سترګو ووینې نه دا چې توري دې لالا وهي او مری دې عبدالله. ولس نه غواړي چې د دوی په پیسو دې چارواکي عېش و عېشرت وکړي.

# پر ځای اعتراف؛ خو د څه لپاره؟

په داسې حال کې چې په پام کې ده د روانې میلادي میاشتې (مارچ) په نیمایي کې د افغانستان، پاکستان، امریکا متحده ایالاتو او چین د استازو په ګډون څلوراړخیزه غونډه کې له وسله والو طالبانو سره مخامخ خبرې وشي؛ پاکستان په رسمي ډول په هغه څه اعتراف کړی چې له پخوا وختونو څخه پرې د افغان حکومت، شنونکو او خلکو تور پورې کاوه.

د پاکستان لومړي وزیر د بهرنیو او امنیتي چارو سلاکار سرتاج عزیز ویلي د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې به افغانستان کې د سولې او ارامۍ تینګښت سره مرسته وکړي. ده چې واشنګټن کې یې د بهرنیو اړیکو د شورا یوې څېړنیزې غونډې ته وینا کوله، اعتراف وکړ، چې طالب مشرتابه له خپلو کورنیو سره پاکستان کې اوسیږي، او له طبي اسانتیاوو یې ګټه اخلي، نو له همدې مخې یې هېواد پر طالبانو فشار راوړی شي.

که څه هم له دې وړاندې د پاکستان کودتایي ولسمشر پرویز مشرف؛ په نوموړي هېواد کې د طالب اوړیکو په روزلو او ملاتړ کولو اعتراف کړی و؛ خو دا لومړی ځل دی چې په رسمي توګه د پاکستان لوړ پوړی چارواکی په نوموړي هېواد کې د تروریستانو په پناه ځایونو او د دغه هېواد له طبي اسانتیاوو څخه په ګټې اخیستنې اعتراف کوي.

دلته پوښتنه دا پیدا کیږي چې د سرتاج عزیز د لوري دا اعتراف ولې پخوا نه کیدلو؟ د افغان سولې لپاره خو پوره څلور؛ څلور اړخیزې ناستې د پاکستان په ګډون ترسره شوې. ولې یې په دغو څلور اړخیزو غونډو کې؛ په پاکستان کې د وسله والو طالبانو په پناه ځایونو او د دغه هېواد له طبي اسانتیاوو څخه د دوی په استفادې اعتراف نه کولو؟

همداشان په تیر کې په پاکستان کې د افغان سولې اړوند کنفرانسونو کې په ځانګړي توګه په اسلام اباد کې د اسیا زړه په کنفرانس کې سرتاج عزیز ولې اعتراف نه کولو چې د طالبانو پناه ځایونه په دغه هېواد کې دي؟

خو اوس چې وينې د افغان سولې اړوند هڅې زياتې شوي نو د ځان لپاره يې له نړيوالې ټولنې د امتياز زياتونې لپاره په داسې يو حساس وخت کې په هغه څه اعتراف وکړ؛ په کومو چې کلونه کيږي د افغان دولت له لوري تورن کيږي خو دوی پرې غوږونه کاڼه دي. په داسې حال کې چې د پاکستان لومړي وزير د بهرنيو او امنيتي چارو سلاکار سرتاج عزيز په يو حساس وخت کې په نوموړي هېواد کې د ترورېستانو په پناه ځايونو او د دغه هېواد له طبي اسانتياوو څخه په ګټې اخيستنې اعتراف کوي؛ او هغه هم د امريکا په پلازمېنه واشنګټن کې؛ نو معنا يې يوازې همدا کېدلای شي چې په افغان سوله پروسه کې له نړيوالې ټولنې په ځانګړي توګه له امريکا د امتياز راشکولو په هڅه کې دی.

ددې تر څنګ په افغان سوله کې د پاکستان له لوري د زيات امتياز اخيستلو لپاره دا خبر هم دليل کېدلای شي چې پر اساس يې ويل کيږي؛ پاکستان ژمنه کړې چې د روانې جګړې پر ضد د فتوا د صادرولو لپاره به د افغانستان او پاکستان د لويو ديني عالمانو د ګډې غونډې جوړولو ته لاره هواره کړي. پخوا يو شمېر پاکستاني او افغان ديني عالمانو په خپلو هيوادونو کې جګړه حرامه بللې وه. خو دا به لومړی ځل وي چې د دوو هيوادونو عالمان په ګډه جګړه ناروا اعلانوي.

که داسې په رښتيا هم وشي او په پاکستان کې د افغان جنګ پلوي ملايان لکه مولانا فضل الرحمن او نور د حکومت په پيسو چليدونکي ملايان؛ په رښتنې توګه او د زړه له اخلاصه په افغانستان کې جنګ ناروا وبولي خو له شک پرته چې دا به په افغانستان کې وسله والو طالبانو اغيز وښندي خو په تير کې د پاکستان د ملايانو، پوځ او استخباراتو نيت ته په کتو داسې هيڅ هيله مندي نشته چې ګويا پاکستاني ملايان دې په رښتونې توګه په افغانستان کې د جګړې د حراموالي لپاره فتوا صادره کړي. له دې ډول نمايشي او غولونکو څرګندونو هم څرګندېږي چې پاکستان په وروستيو کې د افغانستان سولې په پروسه کې له نړيوالې ټولنې په ځانګړي توګه له امريکا څخه د زيات امتياز اخيستو په لټه کې دی.

کب يا حوت/ 1396

# تر ګوابښ لاندې کنړ او د حکومت مرګونی سکوت

## د کنړ ستراتيژيک او اقتصادي اهميت او د پاکستاني بريدونو موخې

په داسې حال کې چې پاکستاني ځواکونو په تېرو څو کلونو کې د کونړ ولايت پر سرحدي ولسواليو په زرګونو توغندي ورولي او له کبله يې په سلګونو ملکي وګړيو ته مرګ ژوبله اوښتې او همداراز په سلګونو کورنۍ د کورونو پرېښودو ته اړې شوې؛ په وروستيو کې راپورونه وايي چې پاکستاني ځرخکو څو ورځې وړاندې په کونړ ولايت کې څو سيمې بمباري کړې. د کونړ اوسېدونکي او د دانګام ولسوال وايي چې پاکستاني الوتکو دوه ځلې دا ولسوالۍ بمباري کړه. بل پلو ويل کيږي چې پاکستاني ځانګړي ځواکونو او هليکوپټرو د هرات ولايت په شينډنډ ولسوالۍ کې عمليات کړي دي. د کابل پوهنتون استاد فيض ځلاند وايي چې دا خبر د ملي امنيت شورا هم تاييد کړې او ويلي يې دي، چې د پاکستان سپيشل فورس او هليکوپټرې په شينډنډ کې تر عملياتو وروسته بيرته تللې دي.

دا لومړی ځل نه دی چې پاکستاني ځواکونه په کونړ ولايت توغنديز بريدونه کوي او يا يې الوتکې د افغانستان په خاوره کې بمباري کوي، او همداشان يوازې کنړ ولايت نه دی چې پاکستان په کې د افغانستان په خاوره تيری کوي؛ بلکه له دې وړاندې په لسګونو ځلو د ننګرهار په ګوشتې کې، د پکتيکا په انګور اډه کې، د هلمند په بهرامچه کې، د خوست په غلام خان کې او د کندهار په سپين بولدک کې د افغانستان خاورې ته په لسګونو کيلومتر وړاندې راغلی او آن دا چې په افغان خاوره يې پوځي تاسيسات هم جوړ کړي دي. خو له بده مرغه افغان حکومتونو يې پر وړاندې سکوت اختيار کړی دی. په ځانګړې توګه د اشرف غني او عبدالله تر منځ ګډ حکومت يې پر وړاندې د پټې خولې سياست غوره کړی دی.

په دې ليکنه کې يوازې په کونړ ولايت کې د پاکستان په تيري او تر شاه يې په پرتو موخو، د اوسني افغان حکومت په سکوت او د کنړ ولايت په ستراتيژيک اهميت خبرې کوو.

د کنړ ستراتيژيک او اقتصادي اهميت اهميت او د نا امنه کولو تر شاه يې د پاکستان موخه: کونړ د افغانستان يو غرنی ولايت دی، چې د هېواد په ختيځ کې موقعيت لري، او ختيځ ته يې ډېورنډ کرښه ده، چې هاخوا د مومندو او باجوړ ايجنسۍ پرتې دي او قبايلي مومند او سالارزي قومونه په کې ژوند کوي. ياد ولايت تقريباً ۱۸۰ کيلومتر له پاکستان سره ګډه پوله لري. لکه څرنګه چې د کنړ سوېل ته ننګرهار ولايت او لوېديځ ته يې لغمان ولايت موقعيت لري؛ نو په اسانۍ سره ترې ننګرهار او لغمان ولايتونه کنټرول کيدلای شي. نو د همداې

ستراتیژیک اهمیت له مخې پاکستان غواړي یاد ولایت نا امنه کړي، خلک یې پر حکومت بې باوره کړي څو اړ شي د پاکستان تذکرې واخلي. نو که د حکومت د سکوتي سیاست په پایله کې خدای مکړه د پاکستان لاس ته پرېوځي نو دا معنا یې دا ده چې ننګرهار او لغمان به په ډېرې اسانۍ د پاکستان تر نفوذ لاندې راشي. کنړ ولایت په پوځي لحاظ ډېر ستراتیژیک اهمیت لري او پاکستان غواړي چې په هر قیمت او هر لاره وي د کنړ خلک وځپي، پر حکومت یې بې باوره کړي، د حکومت تر منځ یې واټن زیات شي او خلک اړ شي چې پاکستانی تابیعت ومني. پر یادې سیمې د بریدونو اصلي موخه همدا ده، چې پاکستان دغه سیمه له خلکو څخه تشه او خپل "جاسوسان او ترهګر " پکې وروزي.

همداراز کنړ ولایت د هېواد په کچه اصلي د نښترو (چهارتراش) بې ساري ځنګلونه لري، پر دې سربېره د ښون (زیتون)، څېړۍ او نور ډول ډول د سون لرګیو ځنګلونه لري. په کونړ کې پر قدرتي ځنګلونو سربېره د پیچ درې په ولسوالۍ په مانوګي او چپه دره کې د قیمتي ډبرو (بیروچ) کانونه ډېر زیات دي، همأشان په خاص کونړ او سرکانو ولسوالیو کې د (کرومایټ) کانونه دي، چې په قاچاقي توګه کندل کیږي او پاکستان ته قاچاق کیږي. بل پلو د کونړ د سیند اوبه دا مهال پاکستان ته ځي، خو که پر دې سیند بند جوړ شي، نو ډېرې اوبه به یې په افغانستان کې ولګول شي. دلته هم پاکستان د کونړ ولایت د ناامنه کولو په موخه پر دې ولایت توغندویي بریدونه کوي، تر څو د کونړ د سیند اوبه پرې بندې نه شي او یاد هیواد ته د قاچاق کیدونکو قیمتي ډبرو مخنیوی ونشي.

پایله: له تېرو څو کلونو راهیسې په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنو په ځانګړي توګه د افغانستان په ځمکنۍ بشپړتیا د تیري په مقابل کې هیڅ افغان دولت وړ او مناسب غبرګون نه دی ښودلی چې پایله یې د پاکستان زړورتیا شوه. د پاکستان په مقابل کې د افغان حکومتونو دسکوت ښه بیلګه د اشرف غني او عبدالله تر منځ د ګډ حکومت اوسنی د سکوت دریځ دی چې تر اوسه یې د پاکستان له لوري په افغان خاوره هر رنګه تیری یوازې رد کړی او په ځینو ځایونو کې یې تش غندلی دی او بس. دوی که د خپلې سیاسي بقا په خطر سکوت اختیاروي.

حل لار: د حل لار د حکومت په لاس نه بلکې د ولس په لاس کې ده. خلک باید پاڅیږي او خپل حکومت اصلاح کړي.

**کب یا حوت/ 1396**

# تودې غونډې؛ سړې پایلې

د افغان سولې د بهیر د څلور اړخیزو غونډو؛ چې پاکستان، افغانستان، چین او امریکا پکې ګډون لري، د جوړولو پرېکړه د تېر کال په دسمبر کې په اسلام اباد کې د پاکستان په کوربه توب د افغانستان په اړه د ایشیا زړه په کنفرانس کې شوې ده. د دې لړۍ لومړۍ غونډه د جنورۍ په یوولسمه په اسلام اباد کې ترسره شوه. په دې ناسته کې د همغږۍ څلور اړخیزې غونډې د کار لپاره شرایط تصویب او په افغانستان کې د سولې او پخلاینې بهیر د مخته وړلو په موخه د منظمو غونډو پر روانو ساتلو هوکړه وشوه. دغه راز پرېکړه وشوه چې په دې اړه دویمه غونډه به د مرغومي په ۲۸مه په کابل کې جوړه شي. دویمه غونډه په کابل کې ترسره شوه او یوازې دومره وشول چې طالبانو سره د خبرو د پیلولو لپاره د لارې پر نقشې خبرې وشوې. همداشان پرېکړه وشوه چې درېیمه غونډه به د سلواغې میاشتې په ۱۷ مه نېټه په اسلام اباد کې ترسره شي. درېیمه هغه هم ترسره شوه او وروسته له ډېرو هڅو دې پایلې ته ورسیدل چې له طالبانو سره د سولې خبرو اترو پر «نقشې» موافقه وکړي. د تېرو غونډو په څېر په دې غونډه کې هم د راتلونکې څلور اړخیزې غونډې نېټه وټاکل شوه چې له مخې به یې کابل د فبروري میاشتې په د بلې څلور اړخیزې غونډې کوربه وي.

اوس په تازه کې راپورونه وايي کابل به راتلونکې اوونۍ د څلور اړخیزې ناستې کوربه وي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي دغه غونډه به د راتلونکې سې شنبې پر ورځ په کابل کې وشي. سرچینه وايي د څلور اړخیزو ناستو په راتلونکې غونډه کې به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پیلېدو پر عملي لارو چارو او دغو خبرو ته پر جوړ شوی میکانېز خبرې وشي.

دا یو حقیقت دی چې افغان ولس غواړي د سولې د خبرو اترو پایله یوه سیاسي پرېکړه وي، چې په افغانستان کې د زورزیاتي په ختمېدو او د یوې دوامداره سولې په رامنځته کېدو تمام شي. خو که د دغو څلور اړخیزو غونډو تېرو دریو هغو او په تېر کې له افغان سولې پروسې سره د پاکستان نیت ته وکتل شي؛ نو له راروانې څلورمې څلور اړخیزې غونډې هم د هیلو مزې شلیږي. د پاکستان په نیت ځکه باور نه شي کېدای چې په تېر کې یې د افغان سولې پروسې ته پراخ خنډونه رامنځته کړیدي. نه یوازې بلکه یې د سولې لومړي پړاو خبرو د ډپ کولو لپاره د طالب مشر ملا عمر د مړینې خبر خپرول دي چې دوه کاله وړاندې مړ شوی و خو

پاکستان د ځانګړي موخې په پار په حساس وخت کې خپور کړ. پخوا د سولې راوستو له پاره هیلې یو څه غوړېدلې وې، چې کواکي کېدای شي د سولې خبرې پر مخ لاړې شي او یوې پایلې ته ورسیږي، خو د ملا عمر د مړینې د خبر په خپرېدو سره دغه هیلې ختمې شوې.

همداراز د څلور اړخیزو غونډو پایلو ته په کتو داسې څرګندیږي چې دا غونډه به هم تش د کاغذ پر مخ په ژمنو وڅرخي او کومه عملي پایله به ونه لري. دا تیرې درې څلور اړخیزې غونډې چې ترسره شوي دي؛ په کې د چین او امریکا رول هم تر ډیره د پاکستان په ګټه دی او افغان لوري ته یې کوم شه زیری نه دی درلودلی دی. اصلاً په دغو غونډو کې د امریکا او چین د پاکستان د استازو په څېر معلومیږي. هر څه چې پاکستان وایي؛ دوی یې ورسره تایدوي. افغانانو چې کومه هیله له امریکا او چین څخه درلوده چې دوی دواړه هیوادونه به په پاکستان فشار راوړي څو د افغان سولې پروسه کې د ژمنو پر ځای عمل وکړي؛ هغسې ونشو. دوی دواړو هیوادونو تر اوسه داسې کوم خاص فشار په پاکستان نه دی راوړی چې پر اساس یې د پاکستان په نیت کې بدلون راغلی وي. نو فلهذا له راتلونکې غونډې هم ډیرې تمې نه شي کیدلای.

همداشان که څه هم د طالب مشر ملا عمر له مړینې وروسته د طالبانو په لیکو کې درز رامنځته شوی دی؛ په دې وروستیو کې هم د طالبانو د خپلمنځي اختلافاتو راپورونه ورکول کیږي. د طالبانو د پاشل کېدو تر شاه د پاکستان لاسونه ښکاري چې غواړي یو ځل بیا د سولې پر مخ یو بل خنډ رامنځته کړي. اوس مهمه موضوع داده، چې له څلورمې څلور اړخیزې ناستې وروسته به د مخالفانو کومې ډلې په خبرو کې ګډون کوي او که نه؟ که ګډون کوي نو د دوی غوښتنې به څه وي؟ آیا د دوی د غوښتنو پلي کول د افغانستان د حکومت په وس کې دي که نه او یا لږ تر لږه نړیواله ټولنه کولای شي د مخالفینو غوښتنې ومني که نه؟

دا هغه پوښتنې دي چې وخت به یې ځواب ووایي.

کب یا حوت/ 1396

# څوک؛ څوک دی او څوک نه دی؟

د ځمکې پر مخ هر انسان یو ځانګړی شخصیت لري. د اروا پوهنې له اړخه شخصیت بېلابېل تعریفونه لري. د هارورډ پوهنتون ښوونکی (Gordon Allport) هغه څوک دی چې په اروا پوهنه کې یې د Personality (شخصیت) اصطلاح شامله کړه. نوموړي په ۱۹۳۰ میلادي کال کې د (شخصیت) کلمه د اروا پوهنې د یوې مهمې موضوع په توګه مطرح کړه.

که څه هم ټول اروا پوهان د شخصیت د تعریف اړوند په یوه خوله نه دي خو ویلای شو چې شخصیت د فرد د ښکاره او پټو کړنو څخه عبارت دی. که موږ او تاسې خپل چاپېریال ته نظر واچوو؛ د بېلابېلو ځانګړنو لرونکي افراد مو په نظر راځي. ځینې خلک په رښتیا ویلو، پرهیزګارۍ، ژمنتیا او راز ساتلو باندې مشهور وي. ځینې کسان په دروغو، بې وفایۍ، دوه مخې توب یا نورو عیبونو باندې مشهور وي. یعنې په خپل شاو خوا کې دوه ډوله صفت لرونکي اشخاص وینو چې ځینې یې مثبت صفت لرونکي دي او ځینې یې بیا منفي شخصیت لرونکي. خو په ټوله کې هر انسان باید هڅه وکړي چې ثابت مثبت شخصیت ولري.

په لاندې ډول د ځینو شخصیتونو تعریف وړاندې کیږي.

1. هغه څوک چې له دین څخه ناوړه ګټه اخلي؛ دیندار نه دی بلکې د دیندار په څېره کې د دین دښمن دی چې هم ځان او هم خلک تباه کوي.
2. هغه څوک چې له جهاد څخه ناوړه ګټه اخلي؛ مجاهد نه دی، مجاهت دی چې د خپلو جېتونو (سمتونو) او یا کوندې ګټو ته کار کوي
3. هغه څوک چې له ډیموکراسۍ ناوړه ګټه اخلي؛ ډیموکرات نه دی، بلکې اتوکرات دی چې ټول ولس یې په انحصار کې نیولی دی او پرې خپل واک چلوي.
4. هغه څوک چې له سیاست څخه ناوړه ګټه اخلي؛ سیاستمدار نه دی، بلکې سیاسي سوداګر دی چې خپل وجدان پلوري.

5. هغه څوک چې له «مردم» ولس له کلمې نه ناوړه ګټه اخلي؛ رهبر نه دی، بلکې فرصت طلبه دی چې خلک د وسیلې په توګه کاروي.
6. هغه څوک چې له څوکۍ او مقامه ناوړه ګټه اخلي؛ چارواکی نه دی، بلکې زورواکی دی چې څوکۍ یې په زوره انحصار کړې وي.
7. هغه څوک چې له منبره ناوړه ګټه اخلي؛ عالم نه دی، بلکې جاهل دی چې خپل اخروي مکافات په دنیاوي هغو غوره بولي.
8. هغه څوک چې له مبارزې ناوړه ګټه اخلي؛ مبارز نه دی، بلکې د مبارزې خلاف دی چې باید په مقابل کې یې مبارزه وشي.
9. هغه څوک چې له ګوند (حزب) ناوړه ګټه اخلي؛ حزبي نه دی، بلکې د ګوند او حزب په لمن تور داغ دی چې حزب د امتیاز وسیله بولي.
10. هغه څوک چې له عشقه ناوړه ګټه اخلي؛ عاشق نه دی، بلکې د خواهشاتو ښکارشوی شخص دی چې د شیطان اطاعت کوي.
11. هغه څوک چې له ښکلا ناوړه ګټه اخلي؛ ښکلی نه دی، بلکې انساني شیطان دی چې نور ټول خلک له ځانه ټیټ بولي.
12. هغه څوک چې له مایکروفون څخه ناوړه ګټه اخلي؛ ژورنالیست نه دی، بلکې شهرت غوښتونکی دی چې د نفس پیروي کوي.

کب یا حوت/ 1396

# د غني ستراتېژيکه حوصله او د منصور چمتووالی

# عزيز له دويم متفکر سره ستراتېژيکه لوبه وکړه

ولسمشر اشرف غني وايي، په افغانستان کې د جګړې سیمه ییزو او نړیوالو اړخونو د سولې لړۍ پېچلې کړې او بشپړ دقت ته اړتيا لري. غني تېره ورځ د ناټو له عمومي منشي سره په ګډ خبري کانفرانس کې وویل: « سوله د خلکو غوښتنه ده، خو اساسي خبره د سولې دوام دی او سوله ستراتېژيکه حوصله غواړي ». د افغان سولې پروسې د پایلو په اړه ولسمشر غني په داسې حال له د ستراتېژيکې حوصلې غوښتنه کوي، چې ویل کېږي، پاکستان پر طالبانو له فشار راوړو سره هغوی حکومت سره خبرو کولو ته تيار نه کړای شول. وروستي راپورونه وايي، چې طالبانو په دې اړه د پاکستان غوښتنې رد کړې دي او يو ځل بيا يې د ملي يووالي حکومت سره نېغ په نېغه خبرو ته خپل شرطونه ايښي دي.

که څه هم ولسمشر له خلکو د ستراتېژيکې حوصلې غوښتنه کوي خو اوسني امنيتي وضعيت ته په کتو داسې انګېرل کېږي چې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې طالب وسله وال د پسرلنۍ جګړې لپاره چمتووالی نيسي. د طالبانو له وروستي دريځه په ډاګه کېږي چې د سولې پر ځای راتلونکو پسرلنيو عملياتو ته تياری نيسي. همدا اوس هم امنيتي ځواکونه په ولايتونو کې د جګړې په لومړۍ کرښه کې له دښمن سره په جنګ بوخت دي. هلمند، غزني، غور، کندز، کنړ، د هرات ولايت شينډنډ او د ننګرهار اڅين، بټي کوټ، شينواري او د ځينو نورو ولايتونو ځينې سيمې د امنيتي ځواکونو او مخالفو وسله والو د جګړو شاهدان دي.

د سولې د لومړي پړاو د خبرو پېل سره کله چې ورته د خلکو هيله مندي زياته شوه؛ همدغه پاکستان و چې د دوه کاله مخکې وژل شوي ملا عمر مړينه يې رسنيزه کړه او د سولې خبرې يې په ټپه ودرولې. له هغې وروسته بيا د امريکا، چين او پاکستان په منځګړيتوب د سولې لپاره بيا ځلې هڅې شروع شوې. څلور ناستې ترسره شوې او څلور اړخيزې کمېټې له خپلې وروستۍ ناستې وروسته وويل، د مارچ په لومړۍ اوونۍ کې به د ملي يووالي حکومت او وسله والو طالبانو تر منځ نېغ په نېغه خبرې پيل شي. خو دغه خبرې تر ننه پيل نه شوې او د شنونکو په اند نورې به هم وځنډېږي. غني بيا هم د پاکستان په نيت پوه نه شو او بيا يې هم پرې سل په سلو باور وکړ. د دغو څلورو څلور اړخيزو غونډو پر مهال پاکستان په څو ځلې د ګاونډيتوب له نړيوال

اصولو سرغړونه وکړه او د افغانستان په خاوره يې تيری وکړ؛ خو غني يې په مقابل کې د چوپتيا سياست غوره کړ، همداشان په دغه محال کې د افغانستان مهم چارواکی او کنړ او هرات ولايتونو پخوانی والي سيد فضل الله وحيدي؛ د پاکستان په ډيپلوماتيکه او با امنه سيمه کې وتښتول شو چې تقريباً څو ورځې لادرکه و؛ خو غني بيا هم ستراااتيژيک سکوت وکړ. په کار خو دا وه چې پر پاکستان د ستراتيژيک فشار لپاره غني د دغو څلور اړخيزو ناستو لړۍ تحريم کړې وای؛ ځکه له يوې خوا افغان دولت له مخالفينو سره د سولې خبرې پر مخ وړلې؛ بل لور ته بيا وسله والو مخالفينو چې د پاکستان په اشاره چليږي؛ په کابل او نورو ولايتونو کې جګړو ته زور ورکړی و. خو له بده مرغه چې غني د پاکستان په مقابل کې ستراتيژيکه حوصله وکړه.

له اوله مونږ د افغان سولې په پروسه کې له پاکستان سره د ډېر نيږديوالي او هغه ته په امتياز ورکولو مخالف و. له اول نه مو همدا نارې وهلې چې پاکستان هيڅلکه د يو سوله ييز افغانستان غوښتونکی نه دی. تل مو د پاکستان په نيت شک درلودلی دی خو له بده مرغه چې د نوي حکومت په منځته راتګ سره اشرف غني په بې ساري توګه پاکستان ته نيږدې شو او له خپله تېر تاريخه يې عبرت وانخيست. اوس چې غني د پاکستان په نيت پوه شو چې د سولې پروسې سره د مرستې په نوم او د وسله والو طالبانو سره د خبرو د فرصت برابرولو په نوم يې دوکه ورکړه؛ نو اوس وايي چې « سوله د خلکو غوښتنه ده، خو اساسي خبره د سولې دوام دی او سوله ستراتيژيکه حوصله غواړي ». پر پاکستان د غني بېځايه او له حده ډېر باور؛ د افغان سولې پروسې د ناکامۍ سبب شو.

له اول نه مونږ پوه و چې پاکستان؛ افغان حکومت او نړيواله ټولنه، د سولې تش په نامه خبرو په هغې او دغې تېرباسي او وسله والو مخالفينو ته فرصت په لاس ورکوي څو د راتلونکي کال د پسرلنيو جګړو لپاره چمتووالی ونيسي؛ خو د نړۍ دويم متفکر پرې سر نه خلاصيده او د پاکستانيو چارواکو په نرمو خبرو او تکراري ژمنو دوکه کيده. سرتاج عزيز که به هر څه ويل نو ولسمشر غني ته به په کې رښتيولې ښکاريده. همدا سبب و چې غني به په پټو سترګو د عزيز په خبرو باور کولو او ولس ته به يې بېځايه هيله مندي ورکوله. پايله دا شوه چې سرتاج عزيز د نړۍ له دويم متفکر سره ستراتيژيکه لوبه وکړه او بريا يې هم خپله کړه.

**کب يا حوت/ 1396**

# د نړۍ دویم متفکر؛ نه ښه سیاستمدار او نه ښه مدیر دی

هر ښه ښوونکی؛ ښه سیاستمدار نه شي جوړیدای، د نظر هر ښه خاوند او تیوریسن؛ ښه لوبغاړی نه شي جوړیدای او هر ښه کارپوه؛ ښه مدیر نه شي جوړیدای.

ښاغلي غني ثابته کړه چې یو ښه ښوونکی، د نظر خاوند او کارپوه دی، خو په بهرني سیاست او نړیوال نظام کې یو ښه سیاستمدار، مدیر او ښه لوبغاړی نه دی.

لومړی خو یو بریالی مدیر نه دی ځکه یو بریالی مدیر هغه چا ته ویل کیږي چې یو بریالی کاري ټیم ولري؛ نه دا چې ټول کارونه په خپله په یوازې توګه پر مخ یوسي، هم پلان او پالیسي جوړه کړي، هم یې په خپله عملي کړي او لږ تر لږه پنځه اساسي دندې په ښه توګه ترسره کړي. لکه پلان جوړونه، د چارو سمون، رهبري، ګمارنه او کنټرول.

دویم دا چې یو ښه سیاستمدار نه دی. ځکه د یو ښه سیاستمدار ځانګړنې نه لري. یو ښه سیاستمدار باید په بهرنیو اړیکو کې د خپل هیواد د توان ثابتولو په موخه؛ له کوچني تر ستراتیژیکو اقداماتو پورې مسایل په نظر کې ونیسي، پلان جوړونه او مدیریت یې د ټولنې له واقعیتونو او برخلیک سره اړخ ولګوي، لږ تر لږه دوې ودانیزې چارې او او دوه لوی فکري خوځښتونه؛ چې د ولس د ژوند په ګټه وي؛ ولس ته په میراث پریږدي، د ده تر لاس لاندې کسان له ذهني، عاطفي او ټولنیز هوښ څخه برخمن وي، د خاموشی یا چوپتیا له وسلې څخه نهایي ګټه واخلي، له نویو معلوماتو یو منسجم فکري نظام ولري، د خپل فکر د اصلاح او تعدیل چمتووالی ولري، د واک مسوولیت ویېژني او خلکو ته ځواب ویل جدي، حقوقي او سپېڅلي وبولي، په دایمي توګه ټول خلک راټلونکې او د چاپېریال د مسایلو تحقق ته متوجه کړي، خپل انرژي د هیواد پر فکري، تولیدي او ټکنالوژۍ برخو متمرکزه کړي او همداشان په لسګونو نورې ځانګړنې.

دریم دا چې په بهرني سیاست او نړیوال نظام کې یو ښه لوبغاړی نه دی. ځکه یو ښه لوبغاړی باید ریالیست و اوسي او د خپل هیواد د بهرني سیاست په چوکاټ کې د ملي موخو او ګټو د ساتلو په هڅه کې وي، ځکه ډیپلومات هغه څوک دی چې وکولای شي په بیلابیلو حالاتو لکه جګړه، اقتصادي راکړه ورکړه، کلتوري

موضوعاتو، سیمه یزو اختلافاتو او نورو برخو کې خپلې ملي کتمې د خبرو او مذاکراتو له لارې تامین کړي، او همداشان خپل هر حرکت او خبرې ته بشپړه پاملرنه ولري.

د بېلګې په توګه : ښاغلی غني؛ کله هندوستان ته دوست وایې او کله هم پاکستان ته، کله په چټکه او بې فکره او تعقله؛ د عربستان پر لوري ځي او کله بیا له نیکتایي او تسبیح سره ایران ته ورځي. او په هندو کې لا بیا وایې چې «ملکري ملتونه دوه توته واک هم نه لري».

د غني د سیاست نورو بیلګو ته نه ورځو او یوازې د افغان سولې اړوند وروستي سیاست ته یې اشاره کوو چې په وروستیو کې د سولې جلب یې له لاسه ووتو او واحد ادرس ترې څو ټوټې او وپاشلی شو. ښاغلي غني د سولې بهیر ښه مدیریت ونشو کولای. همدا اوس هم په کور دننه او بهر ځینې مغرضې کړی هڅه کوي چې د سولې ادرس په څو برخو وویشي. په کور دننه هغه کسان، ډلې او ټپلې د سولې واحد ادرس ویشي چې هغوی خپل سیاسي ژوند او کتمې په جنګ کې ویني او په سوله کې د انصاف او عدالت میز ته له راکشولو ډارېږي. او له هیواده بهر هم د پاکستان په شمول نور لوی قدرتونه د سولې د واحد ادرس د ویشلو هڅې کوي.

اوس تاسې په خپله قضاوت وکړئ چې یو بریالی لوبغاړی په یوویشتمه پیړۍ کې داسې فکرونه او کړنې لري...!؟

**نه ، هیڅکله**

نو د تکرار احسن په توګه دا چې هر ښه ښوونکی؛ ښه سیاستمدار نه شي جوړیدای، د نظر هر ښه خاوند او تیوریسن؛ ښه لوبغاړی نه شي جوړیدای او هر ښه کارپوه؛ ښه مدیر نه شي جوړیدای.

**کب یا حوت/ 1396**

# نوې شورا؛ خو زړې ازمویل شوې څېرې

د سولې عالي شورا د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال د (۱۳۸۹) کال په تلې مې‌اشت کې د برهان الدين رباني په مشرۍ جوړه شوه چې تقریباً د ټولو سیاسي جهادي او جنګي تنظیمونو استازي پکې راټول شول. کرزي انګېرل چې دوی به د خپل نفوذ نه په استفادې له طالبانو سره په اړیکه کې شي او افغانان به د دایمي سولې څښتنان کړي. خو که د دوی امتیازاتو، امکاناتو او تېر شپږ کلن دور کې د دوی کارونه سره پرتله شي نو هغه څه چې پخواني ولسمشر حامدکرزي او افغان ولس له دغې شورا تمه درلوده؛ لس سلنه يې هم نه دي ترسره کړي. دغې شورا پوره شپږ کاله فقط پیسې او وخت ضایع کړ او د مخالفینو سره د روغې جوړې په هکله يې ذره کار هم ونکړ. د اشرف غني او عبدالله تر منځ د کډ حکومت د رامنځته او په ځانګړي توګه په وروستیو کې د سولې په عالي شورا کې د ژورو بدلونو خبره مطرح کېدله خو په حکومت کې د اختلافاتو له مخې دا شورا اوږده موده له رییس بې برخې وه. اوس دغه شورا له اوږده ځنډ وروسته د نوې مشرتابه څښتنه کېږي.

په تازه کې راپورونه وايي چې پخوانی جهادي رهبر او د محاذ ملي مشر پیر سید احمد ګیلاني د سولې د عالي شورا د نوي رییس په توګه ټاکل شوی دی . سرچینه وايي محمد کریم خلیلي ، حبیبه سرابي او عطا الرحمان سلیم د سید احمد ګیلاني د مرستیالانو په توګه کومارل شوي دي. سرچینه وايي چې فاروق بشر د سولې شورا د دارالانشا د مسول په توګه ټاکل شوی دی. دغه شورا چې د نوي ترکیب پر اساس د اسلامي جمعیت، ملي جنبش، حزب وحدت او د ولسمشر اشرف غني د ټیم تر منځ په مساوي برخو وېشل کېږي، درې مرستیالان او یو د دارالانشا رییس لري.

که څه هم د سولې عالي شورا پر پخواني ترکیب له دې امله نیوکې وې چې په رهبرۍ کې يې د جنګي ډلو مشران شامل وو، خو نوی ترکیب يې هم د ګوندونو تر منځ د ونډې پر اساس رامنځته شوی دی. د دوی له ترکیبه معلومیږي چې دغه بنسټ هم لکه د نورو حکومتي بستونو د ولسمشر او اجرایه رییس تر منځ د سیاسي هوکړې قرباني شوی دی. تر ډیره په کې د دواړو ټیمونو شریک غړي لیدل کیږي. که په حقیقت سترګې پټې نه شي نو اوسني جهادي تنظیمونه پخپله د جنګ یو اړخ دي، دوی په تیر کې له طالبانو سره جنګېدلي خلک نو د جنګي تنظیمونو او په خپله د جګړې له اړخ نه به څنګه د سولې تمه وشي؟

بله مهمه خبره دا چې د دغې شورا په ترکیب کې ټول هغه اشخاصو ته ځای ورکړل شوی چې په تیر کې یې ولس ته ازموینه ورکړې ده او ولس ته تجربه شوي خلک دي. همداشان ځینې اشخاص یې د تیر حکومت تاریخ تیرې څېرې دي، ځینې یې په پخوانیو جنګونو کې په یو نه یو ډول ښکېلې څېرې دي او ځینې یې د ټاکنیزو کمپاینونو د محال د ولسمشر او د اجرایه رییس د ټیم پاتې شونې څېرې دي چې د ټاکنیزو کمپاینونو پر محال یې ولس ته صداقت معلوم شوی دی.

لومړی خو د دغې شورا د جوړولو او پرې په میلونونو ډالرو لګولو اړتیا نه لیدل کېدله ځکه د سولې اړوند د وروستیو څلور اړخیزو غونډو څرګندیږي چې کډ حکومت؛ د حکومت له ادرسه غواړي مخامخ پاکستان او د هغو په وساطت طالبانو سره خبرې وکړي، نه د سولې عالي شورا له لارې. د افغانستان، پاکستان، امریکا او چین تر منځ د افغان سولې اړوند وروستیو غونډو څرګنده کړه چې، د سولې کار حکومت د بهرنیو چارو د وزارت او د چارو اداري پر مخ وړي، د سولې عالي شورا تش په نامه دا اضافي تشکیل د کوم هدف لپاره جوړیږي؟ حکومت باید د یادې شورا تیرې لاسته راوړنې او مصارف ارزولی وای، بیا که یې اړتیا وه نو نوی تشکیل یې رامنځته شوی وای.
باور مو دی چې دا هسې د دې بیچاره هیواد والو په سترګو کې ایرې اچول دي او د یادې شورا نوی تشکیل به هم د پخواني هغه پر پل؛ پل ږدي. همدغه ښاغلي خو په تیر حکومت کې په ډیرو لوړو پوستونو کې و؛ ولس ته یې څه وکړل؟ تر څو چې ځوانه انرژي او نوی فکر په کار وا نه چول شي سوله نشته او د سولې عالي شورا تش په نامه ده. زمونږ په باور دا پخوانیو جهادي تنظیمي مشرانو ته یو سیاسي رشوت دی چې په دغې شورا کې یې مصروف وساتي او خولې یې وربندې کړي. که افغان دولت په رښتیا هم په هیواد کې سولې راوستو ته ژمن وای نو یې باید بېطرفه، زده کړې، او غیر جهادي او ځوانو څېرو ته په دغه شورا کې ځای ورکړی وای. همداشان بله اړینه خبره دا ده چې د جګړې له اړخ سره پرې مشوره شوې وای چې د جګړې د دوام لپاره یې پلمه نه درلودای ؟ اساسي پوښتنه دا ده چې ولې تل د طالب ضد کسان غوره کیږي ؟
آیا په دا ډول ترکیبونو باندې سوله شونې ده ؟
هغه پوښتنې دي چې وخت به یې ځواب کړي .

کب یا حوت/ 1396

# نوی کال، زوړ ناورين

## په يوه کال کې د اووه سري حکومت اووه شرمناکې کړنې

که څه هم د حکومت زعيمانو ولسمشر غني او اجرايه رييس عبدالله عبدالله د کار په لومړۍ ورځ د قسم خوړلو (سوگند يا تحليف) شخه پنځلس دقيقې وروسته؛ خپل خوړل شوی قسم مات کړ او د اجرايه رياست د څوکۍ په رامنځته کولو يې د قانون له سرو کړښو پښنه واړوله، چې د ډېری شنونکو په باور د افغانستان د اوسنيو بدبختيو سرچينه همدا د اجرايه رياست غير قانوني څوکۍ ده؛ چې د واک د پنځوس ـ پنځوس ويش له امله د حکومت په راس کې دوه آمران يې وزېږول او په دې ترتيب د نظر اختلاف ته زمينه برابره شوه. خو که د اشرف غني او عبدالله تر منځ د کډ حکومت د تير ۱۳۹۴ کال سياسي، اقتصادي او نظامي بهير ته وګورو نو په کې څو درجنه نيمګړتياوې او ناورينونه تر سترګو کيږي.

۱ـ قانون ماتونه او خپلمنځي اختلافات

لکه څرنګه چې پورته يادونه وشوه چې ولسمشر او اجرايه رييس د کار په لومړۍ ورځ اساسي قانون مات کړ نو دا لړۍ همداسې تر ننه روانه ده آن دا چې لويه بيلګه يې د کابل بانک ميليوني پوروړي خيل الله فيروزي سره د بند پر محال د سمارټ سيټي ښارګوټي لاسليکول دي.

۲ـ په څوکيو جنګ

له کله نه چې واک د اشرف غني او عبدالله تر منځ پنځوس ـ پنځوس تقسيم شو؛ له هماغې ورځې دغه دواړه ښاغلي د ملي کټو پر ځای د خپلو شخصي، ګوندي او سمتي ګټو په لټه کې شول. د هر يو هڅه دا ده چې د خپلې ډلې کس ته ډېر ا متياز ترلاسه کړي. د کابينې له جوړولو نيولی آن تر ننه هر يو د خپل ټيم د پياوړي کېدو لپاره په يو عادي پوسټ د شخص ګمارلو پر سر هم په يو واحد نظر نه دي. کله د يو ولايت لپاره د يو پر ځای دوه ښاروالان ټاکي او کله بيا د يو نيم کال په تيريدلو سره د يو ولايت لپاره په يو ښاروال سره

نه صلاح کېږي. ښه بېلګه يې د هلمند او کابل ولايتونه دي چې هلمند ته دوه او کابل ته هيڅ ښاروال نه دی ټاکل شوی.

۳ـ ناکامه بهرنۍ پاليسي

د ملي يووالي تر نوم لاندې د اشرف غني او عبدالله تر منځ د ګډ حکومت له پيله پاکستان ته په يو طرفه امتياز ورکولو قايل شو. دوی په پاکستان روند باور وکړ او تر منځ يې د دوستۍ شخصي فضا ډېره خوره شوه. حتی تر دې راورسيدل چې د افغانستان او پاکستان د استخباراتي کړيو تر منځ د معلوماتو پټ تفاهم ليک هم لاسليک شو. غني فکر کولو چې په امتياز ورکولو سره به د پاکستان نيت کې بدلون راولي خو متفکر په خپل رنګ کې کوټ وخوړو او پاکستان ورسره يو ځل بيا خپل دوه مخی چلند پر مخ يووړ. ښه بيلګه يې د افغان سولې پروسې سره د پاکستان د مرستې په نوم له افغان حکومت او نړيوالې ټولنې امتياز ترلاسه کول دي چې په وروستيو کې يې طالب مشر ملا منصور هم د آی ايس آی په اشاره له پاکستانه ويستی څو د افغان سولې پروسه ناکامه شي.

۴ـ د لويو قضيو نيمګړې پرېښودل

ګډ حکومت په يو نمايشي اقدام کې د کار په لومړيو کې د کابل بانک د دوسيې د سپړلو حکم وکړ خو د څه مودې وروسته په قضيه خاورې واړول شوې او لاينحله پاتې شوه. په ياده قضيه کې مجرم کسان نه يوازې دا چې په سزا ونه رسيدل؛ بلکې ورسره د يو آزاد شخص په توګه د ښارګوټو ودانيز قراردادونه هم لاسليک شول. همداشان د يو کال په تيريدلو د فرخندې قضيه هم لاينحله پاتې شوه او تر ننه هيڅ کوم مجرم په ټاکل شوې سزا مجازات نشو.

۵ـ د امنيت ترينګلې کېدل

په تېر حکومت کې امنيتي حالات دومره نه و وخيم شوی لکه د ګډ حکومت په يو نيم کلنه دوره کې چې خلک آن په خپلو کورونو کې هم ځان خوندي نه احساس کوي. د يو شمېر ولايتونو د ځينو ولسواليو تر څنګ د کندز ولايت سقوط هغه څه دي چې د عبدالله او اشرف غني د ګډ حکومت نظامي قوت په ډاګه کوي.

همداشان په لويو لارو د مسافرو برمته کول او بيا ترې سرونه پرې کول، په ليرې ولايتونو کې د صحرايي محکمو ډېروالی او په فارياب ولايت کې د امنيتي ځواکونو برمته کېدل هم د کډ حکومت د محال بد امني په ډاګه کوي.

۶ـ بېکاري او د کاري ځواک تېښته

د ملي يووالي حکومت مشرانو د کمپاينونو پر محال غوړې غوړې ژمنې ورکولې چې د افغانانو په دسترخوان کې به مثبت بدلون راولي او د ولس يوه ړوندې به په دوه هغو بدلوي؛ خو دا دی د دوی يو نيم کلنې دورې په ثبوت ورسوله چې نه يوازې دا چې د ولس په دسترخوان کې کوم مثبت بدلون رانغی بلکه په دسترخوان يوه ړوندې يې هم نيمايي شوه او يا بيخي بې ړوندې شو. د همدغې بېکارۍ او په خپل راتلونکې بې باورۍ ولس اړ کړ چې خپل کور، پټی او پوله وپلوري او د يوې ښې راتلونکې په موخه د اروپايي هيوادونو سخت سفر ته غاړه کيږدي. د ملي يووالي په يو نيم کلنه دوره کې تقريباً يو نيم ميليون کسان بيکاره او د يو سلو پنځوس زرو څخه زيات اروپايي هيوادونو ته کډه شول.

۷ـ له ولسه شکوونه

د نړۍ په نورو هېوادونو کې د يو هېواد حکومت د ولس ارامۍ ، هوساينې او پرمختګ لپاره کار کوي او د ولس لپاره په هره برخه کې اسانتياوې برابروي په ځانګړي توګه د ولس د اقتصاد د پياوړتيا لپاره بېلابېل پروګرامونه په لاره اچوي؛ خو دلته د ملي يووالي حکومت له ولسه د پيسو په شکوونه بوخت دی او د ولس په پيسو ځانونه مړوي. ښه بېلګه يې په اوسني کمزوري اقتصادي حالت کې په ولس د ټليفون کريډيت ماليه وضع کول، په دولتي روغتونونو کې د فيس په مقابل کې د ناروغانو معاينه کول او د برېښنا په بلونو کې د قيمت زياتوالی دی.

پورته تحليل ته په کتو د راتلونکې لپاره هم د ښې راتلونکې اوميدونه ډېر کم دي. کال به نوی شي خو حالات به نوي نه شی، کال به نوی شي خو فسادات به لرې نه شي، کال به نوی شي خو د غمونو کروندې به زمونږه په وينو لاهم اوبه کيږي او کال به نوی شي خو افغانستان به لا د پخوا په شان د نړۍ بدبخته هيواد وي.

کب يا حوت/ 1396

# پاکستان تیاره مږی؛ خو څنګه باید وخوړل شي؟

په داسې حال کې چې افغان دولت تل په افغانستان کې د ډېری وسله والو ځانمرګو بریدونو، ډله ایزو بریدونو او چاودنو تر شاه د پاکستان د استخباراتي ادارې آی ایس آی او په پاکستان کې مېشت وسله والو لاس درلودو ته اشاره کړې ده؛ په ورته مهال یې په نړیواله کچه له پاکستانه د شکایت کولو ګواښونه هم کړي دي. په وروستیو کې افغان ولسمشر غني هم د هندوستان د صدراعظم نریندار مودي په ګډون د نړۍ د مشهورو سیاسي مشرانو په همغږۍ په نړیواله کچه له پاکستانه شکایتونه وکړل چې تر ډېره ښې پایلې یې هم درلودې. خو په وروستیو کې په امریکا کې د جمهوري غوښتونکي نوماند ډونالډ ټرمپ چې د ډیپلوماسۍ پر ځای زور ته لومړیتوب ورکوي او د پاکستان ضد پالیسي لري؛ په واک ته رسیدو سره؛ دا زمینه ډېره برابره شوې ده چې نور دغه هیواد د سالمو ډیموکراتیکو هیوادونو له نوملړه وایستل شي او د ترهګرو هیوادونو په نوملړ کې شامل کړل شي.

په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنو او له ترهګرو ډلو د اسلام آباد ملاتړ په اړه څه ویلو ته خو اړتیا نشته ځکه اوس ګرده نړۍ په دې پوهه شوې ده چې پاکستان د خپلې وجودې فلسفې د ساتلو په خاطر له خپل پوځ نه په ترهګرو ډلو ډېر متکي دی. اوس ترهګر پالنه او روزنه د پاکستان په اساسي هدف بدله شوې ده، د دغه هیواد د پوځ بقا اوس په افغانستان او سیمه کې په ترهګرۍ روزنې او ترهګریزو کړنو ولاړه ده. دغه هیواد په افغانستان او سیمه کې له ترهګرۍ په مستقیم او غیر مستقیم ډول ګټه ترلاسه کوي.

د همدې ستونزو له کبله افغان دولت په وار ـ وار په نړیواله کچه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته د شکایت کولو ګواښونه کړي دي خو د ځینو کورنیو او بهرنیو مجبوریتونو او په بهرني سیاست کې له نیمګړتیاوو له امله یې شکایت نه دی شوی او یا که شوی دی نو په ډېره عادي طریقه او یا داسې چې د ملګرو ملتونو د بحث په اجنډا کې په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنو شکایت موضوع نه ده شامله شوې.

مجبوریتونه په دې معنا چې یا امریکا چې د افغانستان ستراتیژیک نیږدې دوست دی؛ له افغانستانه یې پاکستان ته ډېر اهمیت ورکولو او له همدې امله یې د افغانستان شکایت ته ارزښت نه دی ورکړی او یا افغان حکومت په خپلو کورنیو مسایلو کې ګیر پاتې شوی او له پاکستانه شکایت ورته لومړیتوب نه درلود.

خو اوس چې په امریکا کې د پاکستان ضد څېره (ډونالډ ټرمپ) د واک په ګدۍ کېنې نو تر بل هر وخت اوس ښه زمینه د دې برابره شوې ده چې د هندوستان سره په همغږۍ او د امریکا په ملاتړ د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنو او له ترهګرو ډلو د نوموړي هیواد د ملاتړ په اړه شکایت وشي. په ټوله کې د دغې غبږ لپاره باید افغان دولت ډیره لابي ګیري وکړي څو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په اجنډا کې د ا موضوع ونیول شي. په همدې اړوند افغان حکومت پتیله ده چې په کاناډا کې د هالفیکس په نوم کنفرانس کې د پاکستان ضد اسناد وړاندې کړي.

افغانستان د هالیفکس په نوم کنفرانس کې د ګډون لپاره خپل استازی لېږلی دی. دغه کنفرانس درې ورځې دوام کوي، چې په هغه کې به د لسو هېوادونو امنیتي چارواکي او کارپوهان ګډون وکړي. د افغانستان د ملي دفاع وزارت وايي، چې په دغه کنفرانس کې د ګډون لپاره د ملي دفاع وزیر عبد الله حبیبي کاناډا ته تللی او هلته به د افغانستان د امنیتي وضعیت ترڅنګ له ترهګرۍ سره د مبارزې پر څرنګوالي خبرې وشي. په یاد کنفرانس کې په پاکستان کې د ترهګرو د فعالیتونو په اړه هم خبرې کېږي. د ملي دفاع وزارت وايي، افغانستان په دغه کنفرانس کې له داسې اسنادو سره ګډون کوي، چې په پاکستان کې د وسله والو پر مرکزونو او پټنځایونو دلالت کوي.

اوس که له یوې خوا نه امریکا او نړیواله ټولنه، بل خوا نه هندوستان او له دې خوا نه افغانستان د پاکستان په خلاف غبږ اوچت کړي نو لیرې نه ده چې پاکستان د ترهګرو هیوادونو په نوملړ کې شامل شي. او هر کله که پاکستان په نړیواله توګه یو ترهګر هیواد وپیژندل شو نو بیا به په بشپړه توګه یوازې شي او بیا به د وسله والو طالبانو ملاتړ خو پر ځای پرېږده آن د خپلو پوځیانو لګښت به هم برابر نه شي کړلی.

لړم یا عقرب/ ۱۳۹۵

# په پاکستان کې سیاسي زلزله

## اسلام آباد د کابل له غمه مړ دی که د ټرمپ له ډاره؟

په داسې حال کې چې په امریکا کې جمهوري غوښتونکي ډونالډ ټرمپ واک ته رسیدلی؛ په پاکستان کې سیاسي زلزله راغلې ده. حکومتي چارواکي، آی ایس آی او شنونکي ټول د پاکستان په اړه د ډونالډ ټرمپ له سیاسي پالیسی متاثره او په ډار کې دي. هر یو یې په دې کوښښ کې دی چې څنګه وکولی شي چې ټرمپ ته ځان سپین وښیې او ورته نیږدې شي. دوی کله له هغه نوم څخه چې پاکستان په تیرو څو کلونو کې د ترهګرو د ملاتړ له کبله ترلاسه کړی دی؛ د خلاصون په خاطر په افغانستان د ترهګرو ساتلو تور لګوي او کله بیا د دې لپاره چې وښیې په افغانستان او سیمه کې امنیت لپاره ژمن دي؛ د افغانستان د سولې ډولې غاړې ته اچوي او په تش میدان یې ډنګوي. په کور دننه او بهر د پاکستان سیاسي استازي په دې هڅه کې دي چې په یو نه یو ډول د پاکستان په اړه د امریکا د نوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ نظریه بدله کړي. همدا ټېره ورځ په ملګروملتو کې د پاکستان سفیرې ملیحه لودي د افغانستان د سولې ډول ته ډنګ ورکړی دی.

ملیحه لودي چې د ملګروملتو په عمومي اسمبلی کې د افغانستان په اړه په بحث کې خبرې کولې، وویل؛ پاکستان په افغانستان کې د سولې په راوستلو کې مهم رول لوبوي. لودې زیاته کړې چې د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ به د سولې خبرې ژر پیل شي. دې په افغانستان کې د سولې د خبرو بریالیتوب په افغانانو پورې تړلی وباله ویې ویل دا له دې سره اړه لري چې افغانان څومره مسوولانه رول ته تیار دي.

بل لور ته د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت هم ویلي چې دغه هیواد، روسیه او چین به راتلونکې (دسمبر) میاشت په افغانستان کې د سولې او پخلاینې د لارو چارو په اړه مشورتي غونډه وکړي. د یاد وزارت ویندوی نفیس زکریا ویلي «موږ هغو ټولو طرحو او نوښتونو ته خورا زیات اهمیت ورکوو چې هدف یې په افغانستان او په مجموع کې په ټوله سیمه کې د سولې او ثبات راوستل وي.»

همداشان په ورته مهال پاکستان وایې چې پلاوی به یې د اسیا زړه په راتلونکې غونډه کې، چې په هند کې جوړیږي، ګډون وکړي. د پاکستان د بهرنیو چارو سلاکار سرتاج عزیز ویلي چې د اسیا زړه په غونډه کې به د پاکستان استازیتوب وکړي.

د افغانستان په اړه د پاکستان وروستی څرګندونې او همدردی پوښتنې راولاړوي، هغه هیواد چې تل یې دافغانستان د سولې پروسې ته خنډونه جوړ کړي دي؛ څنګه اوس د افغانستان خیر غواړي د سولې ډول یې غاړې ته اچولی دی؟

د کابل په اړه د اسلام آباد نمایشي همدردي دوه دلیلونه لري.

لومړی: لکه څرنګه چې د امریکا نوي منتخب ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ټاکنیز کمپاین په لړ کې پاکستان د ټولې نړۍ لپاره مشکل بللی او دغه راز یې ویلي و چې د پاکستان د اتومي بم د کنټرول او څارنې لپاره هم له افغانستانه پوځیان نه باسي. همدارنګه نوموړي پاکستان تروریستانو ته په پناه ورکولو تورن کړی او ویلي یې دی چې د تېرو حکومتونو په شان به پاکستان ته وړیا پیسې ورنه کړي. نو د دې لپاره د پاکستان په اړه د ټرمپ دریځ نرم کړي او وښایې چې پاکستان په سیمه کې د امنیت او سولې طرفداره دی نو د افغانستان د سولې ډول یې بیا غاړې ته اچولی دی.

دویم: هر کال په افغانستان کې د ژمي په رارسیدو سره جګړه ارامیږي او وسله وال د نوي کال جګړې لپاره د امادګۍ په خاطر په پاکستان ته پناه وړي. پاکستان هم له همدې فرصته په ګټې اخیستې افغان دولت د سولې په نمایشي هڅو بوخت ساتي او نمایشي ډول هر ژمی د سولې خبرې پیلوي. دا ځل هم یې چې د سولې ډول غاړې ته اچولی نو دلیل یې همدا دی چې یو ځل بیا افغان دولت په د سولې په تکراري ژمنو او هڅو وغولوي او ترهګرو ته په پاکستان کې پناه ورکړي.

لړم یا عقرب/ ۱۳۹۵

# په کور کېنول ښه کار خو د ځای ډکول ستونزه

په داسې حال کې چې د ملي يووالي حکومت په خپله دوه کلنه دوره کې ايله څو مياشتې وړاندې په دې وتوانيد چې د دفاع او کورنيو چارو وزيرانو په ټاکلو خپله کابينه بشپړه کي؛ تيره ورځ ولسي جرګې درې نور وزيران په کور کېنول. ولسي جرګې تيره ورځ په غوڅ اکثريت د افغانستان د بهرنيو چارو د وزير صلاح الدين رباني په ګډون د ملي يووالي د حکومت له دريو وزيرانو د باور رايه بيرته واخيستله. د افغانستان د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني، د کار ټولنيزو چارو، شهيدانو معلولينو وزيره ميرمن نسرين اورياخيله او د فوايد عامې وزير محمود بليغ د ولسي جرګې لخوا سلب صلاحيت شول. نږدې درې مياشتې وړاندې د ولسي جرګې غړو پريکړه کړې وه، چې ۱۸ هغه وزيران به خپلې استيضاحيه غونډې ته راوبلي، چې له ۷۰ سلنه څخه يې د خپلو وزارتونو انکشافي بوديجه کمه مصرف کړې وي. ټاکل شوې ۱۵ نور وزيران هم ولسي جرګې ته د انکشافي بوديجې د کم مصرف په باب په راروانو ورځو کې توضيحات ورکړي.

بل لور ته ارګ مانۍ د ولسي جرګې لخوا د وزيرانو څخه د باور رايې د اخيستلو په تړاو غبرګون ښودلی دی. له ارګه په خپره شوې خبر پاڼه کې راغلي؛ ولسي جرګه د بوديجې د مصرفولو په اړه د وزيرانو له کړنو پوره خبره نه ده. خبرپاڼه کاږي چې ولسي جرګه بايد د وزيرانو د استيضاح پروسه تر هغو وځنډوي چې پوره معلومات يې نه وي ترلاسه کړي. د خبر پاڼې له مخې غني زياته کړه که چيري د فساد او يا هم د سوء استفادې خبره وي نو درسته ده چې وزيران استيحضاح او برطرفه شي، خو د وزارتونو د جوړښت او د قراردادونو د ځيړلو پخاطر، چې يوه مغلقه پروسه ده، بايد چې وزيران سلب اعتماد نه شي.

که څه هم د ولسي جرګې ياده پريکړه پرځای ده ځکه چې دغه وزيران دومره کم کاره او بېکاره و چې حتی د دوه کلونو په تيريدو يې بيا هم تر اويا سلنې کمه پراختيايي بوديجه مصرف کړې ده، ولس کار غواړي، نوې پروژې غواړي، پرمختک غواړي او حکومت هم د همدې پروژو لپاره وزيرانو ته د عادي بوديجې تر څنګ پراختيايي بوديجه هم ځانګړې کړې ده خو دا چې دوی يې نه شي مصرف کولی نو په کار همدا ده چې څوکۍ پرېږدي او ځای يې بل څوک ډک کړي خو په توله کې اوسنيو حالاتو کې د کابينې نيمګړې کول ښه نه شي تماميدلی. د ولسي جرګې له لوري په داسې محال چې د هيواد سياسي او امنيتي حالات په نورمال حالت کې نه دي؛ د وزيرانو په کور کينول او د کابينې نيمګړې کول حالات له بده بدتر کولی شي.

د کم کارۍ او لټۍ له وجې د وزیرانو استیضاح کول او بیا ترې صلاحیت اخیستل بنه کار دی خو پوښتنه دا ده چې د دوی ځای به اوس څوک ډکوي او آیا راتلونکی وزیر به له دوی غوره وي که بدتر؟

لکه څنګه چې د حکومت بنسټ په ۵۰ ـ ۵۰ ویش ولاړ دی نو آیا د ولسمشر او اجرایه رییس تر منځ به د نویو وزیرانوپه ټاکلو کې جنجال نه رامنځته کیږي؟

آیا د دغو وزیرانو تشې څوکۍ به ژر ډکیږي او که بیا به یې هم پر سر د غني او عبدالله تر منځ نانډرۍ روانې وي؟

د بېکاره وزیرانو په کور کېنول، د هغه وزیرانو چې د قومي، سمتي او ګوندي تړاو له مخې د وزارت تر څوکۍ رسیدلي وي له واکه لیرې کول، او د هغه وزیرانو چې له خپل واک او صلاحیته د ګوندي پرمختګ، قومي تعصب او د ولس تر منځ توپیري چلند لپاره ګټه اخلي؛ ل دندو ګوښه کول ښه زیری دی خو د ملي یووالي حکومت د جوړیدو اساس ته په کتو دا احتمال شته چې حکومت به یو ځل بیا د سرپرستۍ ترخه تجربه تکراروي، داسې معلومیږي چې ادارې به یو ځل بیا فلج کیږي او داسې څرګندیږي چې ولس به یو ځل بیا د سرپرستۍ سریال ګوري.

ډیرې احتمال شته چې حکومت د خپل هغه پلان د عملي کولو لپاره چې د بروکسل له ناستې وړاندې ویل شوي و چې په حکومت کې به ژور بدلون راولي؛ له ولسي جرګې سره په مشوره د وزیرانو د ګوښه کولو لړۍ پیل کړي وي چې غواړي په حکومت کې اسلامي حزب او همداشان د حکومت نورو مخالفو ډلو ته چې وخت ناوخت د موقت حکومت نارې وهي لکه د حراثت او ثبات شورا او نوې ملي جبهې؛ غړو ته په حکومت کې د ځای کولو پر اساس د دوی له مخالفته ځان خلاص کړي خو بیا هم وایو چې د ګوښه شویو وزیرانو تش ځایونه ډکول به حکومت ته ستونزمن وي.

لړم یا عقرب/ 1395

# ټرمپ که کلنټن؟

په داسې حال کې د امریکا متحده ایالاتو د ولسمشرۍ ټاکنو ته د کوتو په شمار ورځې پاتې دي؛ د ولسمشرۍ دواړه نوماندان په خپلو ټاکنیزو کمپاینونو کې بوخت دي. د ډیموکرات ګوند نوماندې هیلري کلنټن او د جمهوري غوښتونکو ګوند نوماند ډونالډ ټرمپ خپلو ځانونو ته په رایه ټولو بوخت دي. دواړه یو د بل پر سیاستونو او تګلارو نیوکې کوي او هر یو یې په دې هڅه کې دی چې څنګه د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي. تېره ورځ هیلري کلنټن د شمالي کارولونا په ایالت کې خپلو پلویانو ته وویل چې سیال یې ډونالډ ټرمپ " په هر ځای کې لومړی د خپل ځان غم خوري او د دې پروا نلري چې څوک خفه کېږي. " همداراز مېرمن کلنټن وویل چې ټرمپ مېرمنو او اقلیتونو ته توهین کوي او دا چې هغه ډېر خطرناک دی.
په همدې حال کې د جمهوري غوښتونکو د ګوند نوماند ډونالډ ټرمپ خپلو پلویانو ته ویلي دي که چېرته هیلري کلنټن ټاکنې وګټي، د ایمیلونو او د کلنټن د بنسټ په خاطر به استیضاح شي. ټرمپ وایي چې د مېرمن کلنټن خاوند او پخوانی جمهور رئیس بل کلنټن هم په 1998 کال کې پدې خاطر استیضاح شوی و چې دروغ یې ویلي و. په ورته مهال د ډیموکراټ ګوند نوماندې هېلري کلېنټن بیا پر خپل سیال ډونالډ ټرمپ غږ کړی چې له مسکو سره د خپلو اړیکو له څرنګوالي پرده پورته کړي. د مېرمن کلېنټن پر وینا، ولسمشر ولادیمیر پوټین غواړي ټرمپ په ټاکنو کې بریالی کړي او زیاته یې کړه چې کرېملېن له ټرمپ سره د مرستې لپاره پر امریکایي اهدافو د انټرنټي حملو امر ځکه ورکړی چې علت یې د دې په وینا بنایي د ټرمپ کرېملېن پلوې پالیسۍ او یا پوټین ته له نږدې کړیو سره سترې تجارتي معاملې وي.
که څه هم دواړو نوماندانو د افغانستان په اړوند خپل سیاست نه دی روښانه کړی خو له شخصیتونو او پخوانیو سابقو یې ښکاري چې څوک د افغانستان او په ټوله کې د سیمې او نړۍ لپاره ښه سیاستمدار کېدلی شي؟
د افغانستان لپاره د امریکا سیاست او د ولسمشر په توګه د ښه شخصیت ټاکنه ځکه ضرور ده چې امریکا هغه هیواد دی چې افغانستان ورسره ستراتېژیک امنیتي تړون لاسلیک کړی دی، د امریکا لپاره افغانستان ځکه مهم دی چې امنیتي ځواکونه یې عملاً په افغانستان کې په جګړو کې ښکېل دي، او د افغانستان لپاره هم امریکا ځکه مهمه ده چې د مرستندویه هیوادونو په سر کې ځای لري. اوس چې په دې پوه شو چې د افغانستان لپاره امریکا؛ او د امریکا لپاره افغانستان مهم دي نو پوښتنه دا پیدا کېږي چې د افغانستان او سیمې لپاره به څوک د امریکا د ولسمشر په توګه غوره وي؛ ډونالډ ټرمپ او که هیلري کلنټن؟
دلته د میرمن کلنټن او ډونالډ ټرمپ پرتله کوو.

۱ـ د دیموکرات ګوند نوماند هیلري کلنټن یو متعادل او انعطاف منونکی شخصیت لري خو د جمهوري غوښتونکو ګوند نوماند ډونالډ ټرمپ یو احساساتي شخص دی.
۲ـ مېرمن کلنټن د نړۍ د مسلمانانو پر وړاندې سخت دریځ نلري خو ښاغلی ټرمپ یو سخت دریځه متعصب انسان دی
۳ـ آغلې کلنټن په امریکا کې د کډوالو اړوند نرم دریځ لري خو ښاغلی ټرمپ د کډوالو په ځانګړې توګه د مسلمانانو خلاف دی.
۴ـ د مېرمن کلنټن سیاسي تګلاره په عقلانیت ولاړه ده خو د ښاغلي ټرمپ تګلاره په احساساتو او عواطفو باندې
۵ـ کلنټن د امریکا په سیاست ښه پوهیږي خو ډونالډ ټرمپ دا تجربه نه لري
۶ـ مېرمن کلنټن په سیاست او دیموکراسۍ پوره پوهیږي خو ډونالډ ټرمپ یوازې یو سوداګر پاتې شوی دی.
۷ـ مېرمن کلنټن په امریکا او نړیوال سیاست کې ښه مخینه لري خو ټرمپ بده سابقه لري او یو عیاش شخص پاتې شوی دی.
۸ـ آغلې کلنټن یو روښانه کورنی او بهرنی سیاست لري خو ډونالډ ټرمپ په سیاست نه پوهیږي
۹ـ کلنټن د مذهبونو تر منځ توپیر نه کوي خو ټرمپ د مسلمانانو کلک مخالف دی
۱۰ـ میرمن کلنټن نرم سیاست لري او د امریکا او نړۍ لپاره په اوسنیو جګړه ایزو شرایطو کې د هیوادونو تر منځ او د هیوادونو دننه جګړې روانې دي؛ ښه ده ځکه راډیکال سیاست نه لري او تر ډېره محافظه کاره ښکاري خو ټرمپ د امریکا او نړۍ لپاره ګواښوونکی راډیکال سیاست لري.ټرمپ د احساساتو او عواطفو ښکار کېدونکی شخصیت دی چې د تاکتیزو مبارزو په خاطر یې له روسیې سره اړیکې ښې کړې دي. که ټرمپ ولسمشر شي نو په امریکا کې به داخلي مخالفتونه ډېر شي، له روسیې سره به امریکا ښکر په ښکر شي او د امریکا او روسیې تر منځ جنجال به دریم نړیوال جنګ ته لار پرانیزي.

لړم یا عقرب/ 1395

# ټرمپ؛ پاکستان ته د خطر زنګ

په داسې حال کې چې د امریکا نوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ټاکنیزو کمپاینونو په لړ کې په د پاکستان خلاف سختې او تندې څرګندونې کولې؛ اوس د ولسمشرۍ څوکۍ ته د نوموړي له رسیدو سره سم له پاکستانه هم وار و پار خطا دی. داسې معلومیږي چې واک ته د ډونالډ ټرمپ رسېدل به پاکستان ته سخت تمام شي نو یاد هېواد سر له همدا اوسه هڅې پیل کړې، چې ټرمپ ته نیږدې شي. پاکستان اوس د دې لپاره چې د امریکا نوی ولسمشر ټرمپ هم له خپل مکارتوب او مداریتوب لاندې راولي یا یې کم تر کمه له خطره ځان وژغوري؛ ورته سیاسي چرخه نیسي. اوس پاکستان ویلي، غواړي د امریکا له نوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره د شریکو ګټو پر بنسټ ولاړې ښې اړیکې ولري او په ګډه له ترهګرۍ سره مبارزې ته دوام ورکړي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند نفیس ذکریا ویلي، چې په سیمه کې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د امریکا او پاکستان اړیکې ډېرې مهمې دي. ذکریا ټینګار کړی، چې په ځینو مسایلو د دواړو هېوادونو ترمنځ اختلافات موجود دي، خو ښایي ژر حل شي.

د امریکا د نوي ولسمشر په توګه واک ته د ډونالډ ټرمپ رسېدل د پاکستان لپاره ستر سرخوږی جوړولی شي. ځکه ټرمپ هغه شخص دی چې د ډیپلوماسۍ په پرتله زور ته لومړیتوب ورکوي. که څه هم په وروستیو کې د پاکستان او امریکا اړیکې ترینګلې شوې وې خو د ټرمپ په راتګ سره به په پاکستان نور هم فشار زیات شي. مخکې له دې چې ډونالډ ټرمپ ولسمشرۍ څوکۍ ته ورسیږي؛ نوموړي د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال پاکستان د ترهګرو په ملاتړ تورن کړی دی، ټرمپ همداراز ویلي چې پر پاکستان به خپلې نظامي او مالي مرستې بندې کړي، له دې نه پرته بله خطرناکه خبره یې دا کړې وه چې له پاکستانه به اټومي وسلې له دې امله واخلي چې پاکستان کې ترهګر پټن ځایونه لري او امکان لري چې دغو وسلو ته یې لاسرسی وشي. نوموړي ویلي له همدې امله باید د پاکستان اټومي وسله خنثی کړلی شي.

د ټرمپ له ولسمشرۍ نه افغانستان هم غیر مستقیم ګټه پورته کولی شي. په دې معنا چې په امریکا کې د نویو ټاکنو په پایله کې ډونالډ ټرمپ په کانګرس او سنا مجلسونو کې ګڼې څوکۍ ګټلې دي. په دغه دواړو مجلسونو کې د ډیرو څوکیو ګټل؛ ټرمپ په دې توانولی شي چې د امریکا عمومي سیاست او ستراتیژۍ ته بدلون ورکړي. لکه څنګه چې د امریکا په سنا او کانګرس کې جمهوري غوښتونکي له وړاندې نه پاکستان سره د امریکا په

مرستو نيوکې کولې نو اوس چې يې ډيرى څوکۍ ترلاسه کړي دي نو دا کار کولى شي چې پر پاکستان د امريکا د فشار د زياتيدو لامل شي. پاکستان به له ټرمپ څخه د ويرې چې د پاکستان اټومې وسلې ته يې هم ګواښ کړى دى؛ د ترهګرو له ملاتړه لاس واخلي او طالبان به بې سرنوشته پاتې شي. پر پاکستان د امريکا فشار ممکن له روسيې او سره د پاکستان د نيږدې کېدو سبب شي خو روسيې ته له پاکستانه د امريکا دوستي ډېر ارزښت لري او د دغو اړيکو له پاللو لپاره ټرمپ له وړاندې نه ويلي چې له روسيې سره به ښې اړيکې وپالي.

په ورته مهال د ټرمپ په ولسمشر کېدو سره د امريکا په ستراتيژۍ کې احتمالي بدلون کولى شي د افغانستان په جګړې هم اغيز ولري. ټرمپ لکه څنګه چې له وړاندې ويلي چې په افغانستان کې د زرګونو امريکايانو د وينو له بهېدو او د ملياردونو ډالرو له مصرفېدو سره سره د افغانستان وضعيت ښه شوى نه دى؛ نو ډېر احتمال ددې شته چې له افغانستانه په تدريجي ډول د ناټو ځواکونه اوباسي او په افغانستان کې وسله طالبانو هم د سولې لپاره لومړنى شرط له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتل ياد کړي دي. د ټرمپ له پاليسۍ داسې معلوميږي چې امريکا نه غواړي نور په نورو هيوادونو کې پوځي حضور ولري. ځکه ټرمپ له وړاندې نه ويلي چې د امريکا ولسمشر بايد د امريکا ولسمشر وي، نه دا چې د نړۍ ولسمشر.

لړم يا عقرب/ 1395

# حکومته ..! کور وساته همسایه غل مه نیسه

پښتو متل دی چې وايي «کور وساته همسایه غل مه نیسه»، اوس په افغانستان کې همدا قصه روانه ده، حکومت، شنونکي او ولس د پاکستان، ایران، چین، روسیه او نورو هیوادونو لخوا وسله والو طالبانو ته د وسلې پر ورکړه باندې نیوکې کوي خو اوس په خپله حکومت او د حکومت نیږدې ستراتیژیک دوستان دا چاره ترسره کوي. د راپورونو پر اساس تېره ورځ د ارزګان په ګیزاب کې د ملي اردو الوتکو په تېروتنه وسله والو طالبانو ته زرګونه میله وسلې، مرمۍ او خوراکي توکي غورځولي دي. د ګیزاب د نارامې ولسوالۍ ولسوال حاجي خوشحال پر وينا، د افغانستان د ملي اردو د هوايي ځواک پیلوټانو د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمې کې ۲۵ زره مرمۍ اچولي دي. په اروزګان کې د ملي اردو چارواکو په دې اړه بې خبري ښودلې ده. خو د افغانستان په جنوب لوېدیځ کې د اتل قول اردو قوماندان جنرال غلام حضرت کاکړ دا خبره رد کړه، ویې ویل چې دا کار نه دی شوی.

که څه هم چارواکي وايي چې دا کار په سهواً ترسره شوی دی خو جرم، جرم دی که هغه قصدي وي او یا سهواً. وسله والو مخالفانو ته وسلې او مهمات غورځول نوې خبره نه ده بلکې له وړاندې همدا شکونه موجود دي چې په افغانستان کې د وسله والو شمېر د افغان او ناټو امنیتي ځواکونو د شمېر په پرتله څو چنده کم دی، خو دا چې ولې دا وسله وال په بشپړ ډول نه ځپل کیږي؛ علت یې همدا دی چې دوی کورني او بهرني ملاتړ کوونکي لري چې په راز - راز وسلو او مهماتو یې سمبالوي. څو ورځې وړاندې د ملګرو ملتونو کارپوهانو ویلي چې په افغانستان کې ۴۵۰۰۰ وسله وال یاغیان موجود دي چې ۲۰ یا ۲۵ په سلو کې یې بهرنيان دي. په داسې حال کې چې د افغان امنیتي ځواکونو شمېر له دریو نیم لکو زیات دی او همداشان بهرني ځواکونه هم په مستقیم ډول په جنګ کې ښکیل دي. نو پوښتنه دا پیدا کیږي چې ولې د بهرني امنیتي ځواک تر څنګ دري نیمه لکه افغان امنیتي ځواک دا ۴۵۰۰۰ وسله وال جنګیالي نشي ختمولی؟

ځواب روښانه دی. دلته له بوسو لاندې اوبه وړل کیږي، دلته په حکومت کې دننه او بهر داسې یوه ډله شته چې وسله وال پرسوي، دلته د حکومت کورني غله شته دي، او دلته په حکومت کې دننه د وسله والو ملاتړ کوونکي شته. دلته په حکومت کې د مافیا یوه داسې ډله فعاله ده چې په لوی لاس وسله والو ته پوستې پرته له مقاومته خوشې کوي، دلته د مافیا یوه داسې ډله شته چې په لوی لاس د ملي اردو پر ځای وسله والو

طالبانو ته وسلې غورځوي، دلته یوه داسې ډله فعاله ده چې د تکتیکي شاتګ په نوم سیمې وسله والو ته پرېږدي او په ټوله کې په حکومت کې یوه داسې ډله شتون لري چې په لوی لاس او قصدي توګه غواړي د حکومت د ټینګښت ستنې ونړوي او نسکور یې کړي. حکومت باید خپل کور وساتي او همسایه دې غل نه نیسي. حکومت ته په کار دي چې لومړی خپله دا کورنۍ د غلو ډله ونیسي او بیا په نورو هیوادونو نیوکې وکړي چې ولې وسله والو ته وسلې او مهمات ورکوي.

په ډیری پېښنو کې لیدل شوي چې له وسله والو مخالفانو سره هغې وسلې دي چې هغه له افغان او بهرني امنیتي ځواک سره شتون لري. وسله وال دا وسلې له کومه کوي؟

څوک یې ورکوي او له چا یې اخلي؟

جنګ ولې ورځ بلې اوږدیږي؟

دا څنګه وسله وال دي چې له لسیزو راهیسي یې جنګ روان کړی دی خو وسله او مهمات یې خلاص نه شول؟

آیا ملاتړي یې یوازې بهرني هیوادونه دي او که په کور دننه هم خواخوږي لري؟

دا ټولې هغه پوښتنې دي چې مستقیماً حکومت او نظام ته راجع دي، حکومت باید چوپ پاتې نه شي او د ارزګان د پېښې اړوند دقیقې پلټنې وکړي څو معلوم کړي چې په کور دننه د وسله والو خواخوږي څوک دي چې په لوی لاس ورته وسله ورکوي، سیمې پرېږدې او پوستې ورته پرته له مقاومته تسلیموي.

لړم یا عقرب/ ۱۳۹۵

# د اسلام آباد نوی جال؛ پګواش په پاکستان کې

کاناډايي موسسه (پګواش) چې تراوسه پورې يې د طالبانو په ګډون د سولې څو غونډې جوړې کړې، راتلونکې غونډه په اسلام اباد کې جوړوي. په دې غونډه کې به، چې ګومان کېږي، راتلونکې اوونۍ د پاکستان په پلازمېنه اسلام اباد کې جوړه شي، د احدي ترڅنګ د پوهنې پخوانی وزير فاروق وردک، ضيا الحق امرخېل، روح الله وکيل، خليل الله صافی او يو شمېر نور هم د افغانستان په استازيتوب؛ او په کابل کې د پاکستان پخوانی سفير رستم شاه مومند، د آی ايس آی پخوانی مشر اسد دراني او ځيني نور به د پاکستان په استازيتوب ګډون وکړي خو تر اوسه د وسله والو طالبانو د استازو په اړه څه نه دي ويل شوي خو ګمان کېږي چې د دې ډلې د قطر د سياسي دفتر غړي به د اسلام اباد غونډې ته ځان ورسوي. د پګواش سرچينې وايي چې د افغانستان او پاکستان له لوري ګډون کوونکي به د دواړو هيوادونو د حکومتونو رسمي استازيتوب نه کوي. دا په داسې حال کې ده چې وسله والو طالبانو پاکستان ته ډاډ ورکړی چې په اوس وخت کې له افغان حکومت سره د سولې د خبرو لپاره کوم پلان نه لري.

دا لومړی ځل نه دی چې د پګواش په منځګړيتوب د افغان حکومت او وسله والو طالبانو د استازو تر منځ غير رسمي او يا رسمي ليدنې کيږي بلکې له دې وړاندې په فرانسه، جاپان، قطر، متحده عربي امارت او څو نورو هيوادونو کې هم د افغانستان د سولې په اړه غونډې ترسره شوې دي. خو د پاکستان د مستقيمې او يا غير مستقيمې لاسوهنې له امله دغه خبرې بې پايلې پايته رسيدلې دي. اوس پوښتنه دا ده؛ په داسې حال کې چې پاکستان په خپلو کورنيو مسايلو کې د کير کېدو له امله وسله والو طالبانو ته شا کړې ده او طالبان هم د بقا لپاره د بديل هيواد په لټه کې دي؛ په اسلام آباد کې ترسره کيدونکې غونډه به د افغان سولې له بهير سره څومره مرسته وکړي؟

پاکستان تل هڅه کړې چې د طالبانو او افغان دولت ترمنځ نيغ په نيغه خبرې سبوتاژ کړي او دا ځل هم هيڅ څرک نه ليدل کيږي چې پاکستان دې له افغان سولې بهير سره مرسته وکړي. د پګواش راتلونکې غونډه اصلاً له سولې پروسې سره هيڅ مرسته نه کوي بلکې يو ځل بيا د افغان حکومت وخت ضايع کول دي. اصلاً دا د پاکستان يو جال دی چې افغان حکومت ته يې غوړلی او غواړي چې د سولې هغه پروسه چې افغان حکومت په کې د پاکستان د نه همکارۍ له او دوه مخي توپ له وجې په ټپه درولې؛ بيا پيل او هم د افغان

حکومت او هم له نړیوالو د امتیازونو شکول دي. که د وسله والو طالبانو دریځ ته وکتل شي نو دوی هم اصلاً حاضر نه دي چې له افغان حکومت سره خبرو ته کیني. دوه دلیلونه شتون لري چې وسله وال طالبان په اوس مهال کې له افغان حکومت سره خبرو ته نه حاضرېږي.

لومړی: پاکستان په خپلو کورنیو مسایلو کې د راګیر کېدو له امله وسله والو طالبانو ته پخوانۍ پاملرنه کمه کړې ده چې له امله یې دغې ډلې د خپل سیاسي پایښت لپاره نورو هیوادونو ته مخه کړې ده. په ورته مهال روسیې او ایران هم ورته د مرستې لاس ورکړی دی. همدا څه موده وړاندې داسې راپورونه هم خپاره شول چې ایران په خپله خاوره کې وسله والو طالبانو ته د اوسیدو کورونه ورکړي دي. نو په داسې حال کې چې وسله وال طالب ته د جنګ لپاره وسله او مهمات او د اوسیدو لپاره خوندي پناه ځای برابر شي نو په کوم صورت به له جنګه لاس واخلي.

دویم: هغه طالب مشران چې کورنۍ او کاروبارونه یې په پاکستان کې دي؛ په یو ډول له پاکستاني حکومت سره ګرو دي او دوی نشي کولی چې د آی ایس آی له اسارته راخلاص شي. بناءً پاکستان ته یې لاس ورکړی چې له افغان حکومت سره سوله نه کوي. تېره ورځ پاکستانۍ ایکسپرس ټریبون ورځپاڼې د طالب سرچینو له قوله لیکلي و چې د قطر دفتر درې کسیز پلاوي له پاکستاني چارواکو سره لیدلي او دوی ته یې ویلي چې له افغان حکومت سره اوس مهال د سولې لپاره کوم پلان نه لري. تېره اکتوبر میاشت کې ګارډین ورځپاڼې ویلي و چې افغان حکومت او طالب وسله والو په قطر کې د سولې پټې خبرې پیل کړې دي. تر دې وروسته پاکستاني چارواکو د قطر دفتر استازي پاکستان ته وربلل، څو په دې اړه وضاحت ورکړي. پاکستان طالبانو ته خبرداری ورکړی چې که د سولې په خبرو کې یې رول له پامه وغورځول شي، نو دا پروسه به بریالیتوب ته ونه رسیږي. اوس دغه پلاوي ویلي چې له افغان حکومت سره په لنډه مهال کې د سولې د خبرو کوم پلان نه لري.

لړم یا عقرب/ ۱۳۹۵

# د زهرو کچه ولې لوړېږي؟

د ملګرو ملتونو تازه سروې ښیې چې په ۲۰۱۶ کال کې په افغانستان کې د نشه يي توکو کرکيله لس سلنه زياته شوې ده او اټکل کېږي چې په روان کال کې يې د کرکيلې کچه ۴۳ سلنه لوړه شي. له مخدره توکو سره د مبارزې افغان وزارت د ملګرو ملتونو او کورنيو چارو وزارت يوه نوې ګډه سروې ښيي چې په ټول افغانستان کې پر دوه لکه او زر هکټاره ځمکې کوکنار کرل شوي دي او زرګونه ټنه ترياک هم ترې ترلاسه شوي. د سروې له مخې په افغانستان کې د تېر کال په پرتله په ۲۰۱۶ کې د مخدره توکو د توليد کچه په بېساري ډول لوړه شوې ده. د ورکړل شويو معلوماتو له مخې په افغانستان کې يواځې ۴۸۰۰ ټنه ترياک توليد شوي خو امنيتي ځواکونه يې يواځې د څه باندې دوه سوه ټنو په نيولو برياليي شوي دي، چې ددغې شمېر شاوخوا پنځه سلنه جوړوي.

په افغانستان کې د نشه يې توکو د کښت کچه په داسې محال کې لوړېږي چې د همدغې پديدې د لمنځه وړلو لپاره په کور دننه يو شمېر لوی بنسټونه او اداري کارکوي خو د کار پايله يې منفي ده. موږ دلته د نشه يې توکو پر ضد د مبارزې خپلواک وزارت لرو، د کورنيو چارو وزارت له نشه يي توکو سره د مبارزې معينيت لرو او همداشان له نشه يي توکو سره د مبارزې نړيوال او بهرني بنسټونه هم فعاليت لري. خو له بده مرغه چې فعاليت يې په نش حساب دی. په ميلونو ډالرو د نشه يې توکو سره پر مبارزې لګيدلي دي او لا هم دغه لړۍ روانه ده. له يو کال نه بل ته او له بل نه بل ته د نشه يي توکو دکښت او استعمال کچه لوړېږي خو د دغو بنسټونو کار معلوم نه دی. د همدغو ارګانونو لټي او ناغېړي د دې لامل شوې چې نه يې توکي ورځ تر بلې ډېر شي او د استعمال کچه يې پراخه شي.

که څه هم چارواکي د نشه يې توکو د کښت د زياتوالي لاملونه نا امنۍ، د مخدره توکو د مخنيوي په برخه کې د بهرنيو مرستو نه ور رسېدل او د تېر کال په پرتله د ګرمۍ موسم ژر را رسېدل په ګوته کوي خو ځينې نور لاملونه هم شته چې پر اساس يې سږ کال د نشه يې توکو د کښت او قاچاق کچه لوړه شوې ده.

د وسله والو مخالفانو له لوري د جګړې تشديد

د افغان دولت وسله والو مخالفانو د نورو کلونو په پرتله سږ کال له افغان دولت سره ډیرې جګړې وکړې، ډیر ځایونه یې ناامنه کړل او د ډیرو سیمو د نیولو پلان یې درلود خو د افغان امنیتي ځواکونو له پراخ مقاومت سره مخ شول او دواړو لورو ته درنه مرګ ژوبله واوښته. سږ کال وسله والو د افغانستان هغه ولایتونه ډیر امنه کړل چې د نشه یي توکو د کښت زمینه په کې برابره وه. وسله والو خلک عام خلک هڅولي چې کوکنار وکري. حکومت له وسله والو مخالفانو سره په جګړه کې کېوت او د نشه یې توکو پرضد په مبارزې یې سیوری وغوړولو.

له چارواکو سره د نشه یې توکو د مافیایې باندونو اړیکې

کله چې کوکنار په پټي کې ورکل شي او بیا ترې اپین راټول شي نو کروندګر یې بیا په قاچاق کې لاس نه شي درلودلی. تر ډیره دا قاچاق یې بیا چارواکي او زورواکي کوي. یو عادي کس نشي کولی چې په هلمند کې کرل شوی اپین تر کابله ورسوي او بیا د کابل له هوایې ډګره د نړۍ نورو بازارونو ته انتقال کړي. په دغه کار کې سیمه ایز او حتا په لوړه کچه چارواکي شریک دي. همدا له مافیایي باندونو د چارواکو ملاتړ سبب شوی چې د نشه یې توکو په کښت کې زیاتوالی راشي.

له نشه یې توکو سره د مبارزې د ارادې نه شتون

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه چې په افغانستان کې د نشه یې توکو سره د مبارزې په موخه یو مستقل وزارت د نشه یې توکو سره د مبارزې وزارت په نوم او همداشان د کورنیو چارو وزارت د نشه یې توکو پر وړاندې د مبارزې معینت تر څنګ یو شمیر بهرني بنسټونه هم د نشه یې توکو سره د مبارزې په خاطر ایجاد شوي دي اما کارونه یې له صفر سره ضرب دي. کلونه کیږي چې په دې برخه کې په میلونو ډالره په مصرف ولګیدل اما له نشه یي توکو سره د مبارزې د قوي ارادې نه شتون له امله هم کورني او هم بهرني بنسټونه تش بودیجه مصرفوي او د کار یې درک نه لګیږي.

لړم یا عقرب/ ۱۳۹۵

# د سولې نوې کړکۍ؛ طالبانو ته د طیب آغا پر ځای مشوره

په داسې حال کې چې ویل کېږي له اسلامي حزب سره د افغان حکومت د سولې تړون له لاسلیک وروسته وسله والو طالبانو هم له افغان حکومت سره پټې خبرې پیل کړي دي؛ اوس په تازه کې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخواني مشر طیب آغا وسله والو طالبان وته د سولې نوې نسخه وړاندې کړې ده. سید طیب اغا په یوه لیک کې ویلي چې طالبان مشران دې له پاکستانه ووځي، بهرني جنګیالي دې له خپلو لیکو وشړي، د امیرالمومنین او امارت نومونه دې لغوه شي، په مسجدونو کې دې چاودنې بندې او د قطر دفتر ته دې واک ورکړل شي چې جامع تګلاره جوړه کړي. نوموړي له ملا هبت غوښتي هغه کسان له خپلو لیکو وباسي چې د پاکستان، ایران او نورو هیوادونو له استخباراتو سره مستقیم یا غیرمستقیم اړیکې لري.

طیب اغا همداراز وړاندیز کوي« د سیاسي او خارجي امورو لپاره دې یوازې سیاسي دفتر وي. هغه نظامي او غیرنظامي مسوولین یا افراد چې د پاکستاني، ایراني او نورو خارجي استخباراتو سره مستقیم یا غیر مستقیم اړیکې ساتي د یو یا دوه خبرداریو څخه وروسته د یو څه وخت لپاره او یا د نه اصلاح په صورت کې د تول وخت لپاره د کاره ګوښه کړل سي.» ویل کېږي چې طیب اغا د پاکستان د فشار له کبله د ملا اختر محمد منصور له لوري د قطر د دفتر له مشرۍ لېرې شوی و.

له دې سره هم مهاله پاکستان هم د افغان سولې ډول ته ډنګ ورکړی دی. پاکستان چې ولیدل چې افغان حکومت وسله والو طالبانو سره له پاکستاني چینل پرته د سولې خبرې شروع کړي دي نو د دې لپاره چې نړۍ ته وښايي په دغه پروسه کې پاکستان هم مرسته کوي یا د پاکستان مداخله هم په کې شتون لري نو په بهرنیو چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر نواز شریف سلاکار سرتاج عزیز هم د افغان سولې اړند نوې څرګندونې کړي دي. نوموړي په افغان جګړه کې له ښکېلو خواوو د سولې د خبرو اترو غوښتنه کړې او په ډاګه کړې یې ده، چې افغان طالبان د سولې خبرو اترو ته لیواله دي. د هغه په وینا، د سولې خبرو لپاره د طالبانو دراضي کولو په موخه پاکستان چې څه کولی شول، هغه یې کړي او داسې اشارې شته، چې طالبان هم د سولې خبرو اترو سره لیوالتیا لري. سرتاج عزیز دا څرګندونې په اسلام اباد کې په هغه غونډه کې کړي چې د افغانستان او پاکستان وکیلانو، پخوانیو دولتي چارواکو، د سولې استازو او د مدني ټولنې غړو برخه اخیسته وه.

## پر طالبانو د طیب آغا د څرګندونو اغېز

طیب آغا په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخوانی مشر او په دغه ډله پراخ نفوذ لرونکی دی. د نوموړي وروستی څرګندونې طالبان ته د هغه ذهنیت په ورکولو کې مهم واقع کیدای شي چې افغان حکومت او ولس یې په بار بار تکراروي. د طیب آغا له لوري د طالبانو مشر ته په لیک کې وراندیز کول چې له خپلو لیکو دې بهرني جنګیالي وباسي؛ دا به هغه طالبانو ته چې د خپلو مشرانو په اصلیت نه و خبر؛ دا روحیه او باور ورکړي چې د دوی مشران د پاکستان، ایران، روسیې او نورو هیوادونو تر اغېز لاندې دي او د هغوی په امر جنګیږي. هغه طالبان چې د مذهبي ایډیالوژۍ له مخې جنګیږي؛ پوه به شي چې جنګ یې یوازې د پردیو د ګټو لپاره دی او قرباني یې دوی ورکوي. دوی به د خپلو مشرانو په اصلیت پوه شي چې آی ایس آی، سپاه پاسداران او د کې جي بي په اشاره د هغوی لپاره جنګیږي او د جهاد په نوم افغان وژنه ترسره کوي. فلهذا یا به افغان حکومت سره یو ځای شي او یا به کم تر کمه د وسله والو له لیکو جدا شي.

## پر افغان سوله د طیب آغا د څرګندونو اغېز

لکه څرنګه چې طیب آغا په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخوانی مشر دی نو په وسله والو طالبانو د پراخ نفوذ درلودو تر څنګ د طالبانو د لیکو او تشکیلاتو څخه هم خبردار دی. دی په طالبانو کې د سولې غوښتونکي او د جنګ غوښتونکي طالبان هم پېژني، همداراز د طالبانو په ډله کې هغه مشران هم پېژني چې د پاکستان، ایران او روسیې تر اغېز لاندې دي او د هغوی په اشاره جنګیږي. نو دا افغان حکومت او د سولې عالي شورا لپاره ښه ادرس دی چې له طیب آغا او د دې له معلوماتو څخه په استفادې له وسله والو طالبانو سره د سولې د مخامخ خبرو ادرس پیدا او د بشپړ بین افغاني پروسې له مخې د سولې پروسه مخته یوسي. افغان حکومت ته په کار ده چې د طیب آغا په نسخې غور وکړي او د سولې په پروسه کې ترې ګټه واخلي.

لړم یا عقرب/ 1395

# د سیکس وږي او په سادیزم روږدي افغانان

د کابو دوه کلونو په تېرېدو کې شمېر افغانان په هېواد کې د نا امنۍ او تاوتریخوالي له امله د افغانستان پرېښودلو ته اړ شوي چې په بېلابېلو لویدیځو اروپايي هېوادونو کې یې د پناه غوښتنې کړې دي. دوی د بېلابېلو دلیلونو له مخې هیواد پرېښی او هلته کډوال شوي دي. اروپا ته په لاره یې ډېرې سختۍ او ستونزې هم ګاللې دي او په ډېرو سختو حالاتو کې اروپايي هیوادونو ته رسیدلي دي. دوی ډېری د اقتصادي ستونزو له امله له هېواده کډه شوي دي خو یو شمېر نور ځوانان یې بیا د جنسي غریزې د سړولو او خپلو نفساني خواهشاتو د پوره کولو لپاره تللي دي. د راپورونو له مخې تېره ورځ یو افغان ځوان د چک جمهوریت په مرکز پراګ ښار کې په یوه روغتون کې یوې نرسې ته د لاس وراچولو له امله د پولیسو له خوا ونیول شو. دغه ځوان د شپې پر وخت په اتم پراګ کې د بولوفکه روغتون ته تللی او هلته په دې پلمه چې په انتاني ډیپارټمنټ کې یې کوم ماشوم ناروغ بستر دی ورننوتی دی. وروسته دغه ځوان د یوې نرسې په بدن لاس وهل شروع کړي دي. ویل کیږي چې د نرسې په چیغو خلکو پولیسو ته ټیلیفون کړی او هلک چې د تېښتې هڅه یې کوله پولیسو نیولی دی.

دا لومړۍ پېښه نه ده چې په اروپا کې ترسره کیږي؛ بلکې د روان کال د جنوري په ۱۲ نېټه د جرمني د بایرن ایالت د موهلډورف په ښار کې په یوه روغتون کې یوه افغان ځوان په یوه جرمنۍ ناروغه د جنسي تیري هڅه وکړه. ورسته بیا د فبروري په ۵ نېټه یو افغان مهاجر، چې عمر یې ۱۷ کاله ښودل شوی، د ایټالیا په کولوګن (Cologne Carnival) جشن کې پر یوې ۲۲ کلنې ښځې د جنسي تجاوز په تور ونیول شو. وروسته بیا د همدې میاشتې په ۲۲ نېټه په بلجیم کې یو شپاړس کلن افغان د پناه غوښتونکو په مرکز (کمپ) کې پر یوې کارکوونکې د جنسي تیري په تور ونیول شو. همداشان په لسګونو نورې پېښې هم شته چې په نړیواله کچه یې د افغانانو نوم بد کړی دی.

دغه ډول پېښې چې د لویدیځو هېوادونو په رسنیو کې چټک خبرکون مومي ډېری وختونه د یوه هېواد د ټولو وګړو له پاره سرخوږی جوړوي. دا ډول پېښې له یوې خوا په نړۍ کې د افغانانو نوم بدوي او له بلې خوا په اروپايي هېوادونو کې د افغان پناه غوښتونکو د منل کېدو شرایط سختوي. همدا تېره ورځ هم د استرالیا په

میلبورن کې د سیمې خلکو د حکومت د هغه وړاندیز پر ضد مظاهره وکړه چې غواړي کډوالو ته د اوسېدو لپاره ځایونه ورکړي.

اوس پوښتنه دا ده چې ولې یو افغان او بیا مسلمان دغه ډول له شرم نه ډک کار ته زړه ښه کوي؟

بېلابېل دلیلونه شته چې پر اساس یې افغان ځوانان په لویدیځو هیوادونو کې جنسي زورونو ته لاس اچوي. خو تر ټولو لوی او عمده دلیل یې دا دی چې په خپله ټولنه کې ورته داسي تبلیغ شوی چې ګواکې په اروپا کې په جنسي مسایلو کې بشپړه ازادي ده. دوی فکر کوي چې په لویدیځه نړۍ کې دومره جنسي ازادي ده چې په هره سیمه او هر وخت کې چې وغواړې خپله جنسي غریزه سړولی شي. دوی لکه نادیده ګان هرې انجلۍ او میرمنې ته لاس اچوي. دوی د لویدیځ له فرهنګ نه ناخبره داسې دي لکه افغاني سریال د کونډې زوی چې د کابل ښار له فرهنګه ناخبره وي. په دغه سریال کې یو کس شادګل ته د کابل کیسې کوي، ورته وایې چې په کابل کې بشپړه ازادي ده او ښځې له له جنسي زورونو بد نه وړي نو شادګل بېچاره هم د کابل خوبونه ویني. زمونږ دغه ځوانان هم په همدې هیله له هېواده تښتي چې هلته یې جنسي غریزه سړه شي.

## حل لار

لومړی خو تر ټولو اړینه دا ده چې په کور دننه افغانانو ته د کار روزګار زمینه برابره شي څو له هیواده د تېښتې مخنیوی وشي. بل افغان لیکوالان باید خپله ایماني مسولیت ترسره کړي او په رسنیو کې ځوانان پوه کړي چې په لویدیځ کې انساني کرامت ته درناوی کیږي. د دغو ناپوهو ځوانانو دهنونه باید خلاص شي چې په اروپا او لویدیځه نړۍ کې؛ که څه هم غیر مسلم هیوادونه دي؛ انساني کرامت ته درناوی کیږي او داسې نه ده چې په هره کوڅه او هره سیمه کې دې جنسي غریزه سړه شي.

لړم یا عقرب/ ۱۳۹۵

# د طالبانو هوايي خبرې د هوا کزول

ورسته له هغې چې د افغان حکومت او اسلامي حزب تر منځ بين الافغاني خبرې وشوې او په بريا پايته ورسيدې؛ ليدل کيږي چې له وسله والو طالبانو سره هم په قطر کې د افغان حکومت خبرې تر سره شوې دي. اوس يو شمېر افغان شخصيتونه وايي چې د طالبانو د قطر د دفتر له غړيو سره يې درې ځلې خبرې کړي او دا ډله نور د بهرنيو ځواکونو پر وتلو ټينګار نه کوي. د ولسي جرګې غړی سيد اسحق ګيلاني وايي، د طالبانو د قطر له دفتر او دغه راز د کوټې له شورا سره يې تماسونه نيولي دي. د نوموړي پر وينا، د طالبانو د قطر د دفتر غړيو ورته ويلي چې په تېرو ۱۵ کلونو کې دې په ټولو تصويب شويو قوانينو له سره غور وشي او هر هغه قانون چې له شريعت سره په ټکر کې نه وي، ورسره مخالفت نه لري. ګيلاني وايې طالبان دغه راز د موقت حکومت د جوړېدو غوښتنه لري او وايي چې د موقت حکومت له جوړېدو وروسته دې په دوو کلونو کې ټاکنې وشي. افغان حکومت او وسله والو طالبانو تراوسه پورې په دې اړه څه نه دي ويلي.

که څه هم وسله والو طالبانو د سيد اسحق ګيلاني د خبرو په اړه په رسمي توګه څه نه دي ويلي خو په توله کې که طالبان په رښتيا هم نور د لويو استخباراتي ادارو له مزدورۍ په تنګ شوي وي او له حکومت سره سوله کوي او د موقت حکومت او د ټاکنو غوښتونکي وي نو ځنې پوښتنې شته چې بايد وسله وال طالبان ورته ځواب ووايې.

- تر اوسه خو وسله والو طالبانو له افغانستانه د ټولو بهرنيو ځواکونو وتل د سرې کرښې په توګه يادول؛ اوس يې څنګه په نظر کې ۱۸۰ درجې بدلون راغی چې د بهرنيو ځواکونو له وتلو تېرېږي؟
- د اساسي قانون کومه ماده له اسلامي شريعت سره په ټکر کې ده؟
- شريعيت اصلاً دوی څنګه تعريفوي؟
- دوی خو انتخابات ناروا ګڼل او له رايه ورکوونکو خلکو يې ګوتې پرې کولې؛ اوس څنګه ورته انتخابات حلال شول؟

همداراز په توله کې د هيواد اوسنيو حالاتو ته د نظام د بدلون اړوند هم ځينې پوښتنې شته چې د طالبانو د نويو شرطونو د پوره کېدو پر وړاندې خنډونه جوړولی شي.

- د هیواد اوسنیو شرایطو او حالاتو ته په کتو آیا ددې زمینه برابره ده چې موقت حکومت رامنځته شي؟
- آیا د ملي یووالي د حکومت مشران (ولسمشر او اجرایه رییس) او امریکا د موقت حکومت له جوړیدو سره موافق دي؟

که د ملي یووالي حکومت په خپله دوه کلنه دوره کې د ولس رضایت هغسې چې لازمه وه؛ نه دی ترلاسه کړی خو بیا هم د هیواد اوسنیو سیاسي او امنیتي حالاتو ته په کتو د وسله والو طالبانو نوي وړاندیزونه د منلو وړ نه دي. ځکه موقت حکومت په همدې لسیزه کې افغان ولس تجربه کړی دی او یو ځل بیا یې د تجربه کولو غوښتونکي نه دي. اوسني حالات داسې برابر شوي دي ورځ تر بلې بدتري راتلونکې ده او بهتري نشته. که د ملي یووالي دا نظام بدلیږي نو پرته له شکه چې د هیواد امنیتي او سیاسي حالات به لا پسې کړکیچن شي او دښمن چې تیار په کمین کې ناست دی؛ له دې فرصته به پوره ګټه واخلي.

دویم دا چې نه د ملي یووالي حکومت مشران او نه هم امریکا د دې غوښتونکې ده چې په افغانستان کې دې موقت حکومت جوړ شوي. د ملي یووالي د حکومت دواړو مشرانو په څلونو ویلي چې د حکومت دوره پنځه کلنه ده او هغه څوک چې د نوي یا موقت حکومت د جوړیدو خبرې کوي نو دا یې یو خیال او محال دی. همداراز امریکا هم په افغانستان کې د موقت حکومت د جوړیدو طرفداره نه ده. ځکه د ملي یووالي حکومت د ولسمشرۍ د دواړو ټیمونو تر منځ د سیاسي هوکړه لیک د لاسلیک له مخې یې د دې حکومت بنسټ ایښي دی او دوی هیڅکله نه غواړي چې د دوی په نسخې جوړ شوی حکومت دې ناکام ثابت شي.

پر همدې دلیلونو چې د اساسي قانون هیڅ ماده له اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه ده، اوسنیو شرایطو ته په کتو د موقت حکومت جوړیدل ناشوني دي، او همداراز نه د ملي یووالي حومت مشران او نه امریکا د موقت حکومت د جوړیدو طرفداران دي؛ په همدغو دلایلو ویلی شو چې د طالبانو د دریځ اړوند د ښاغلي سید اسحق ګیلاني خبرې به تش د هواز ګزول وي او بس.

لړم یا عقرب/ ۱۳۹۵

# د معافیت فرهنګ، د جنایې پېښو د زیاتېدو عامل

کله چې د افغانستان نوم اخیستل کیږي نو په طبیعي ډول د انسان ذهن ته د افغانستان د اوسنیو سیاسي، امنیتي او اقتصادي ستونزو انځور راوړل کیږي. دا هغه هیواد دی چې ډیر ځله د بدبختو هیوادونو په سر کې راځي. دلته نه امنیتي، نه سیاسي او نه هم اقتصادي حالات په نورمال حالت کې دي، دلته یوه ډله خلک د خپلو پیسو، مال او جایداد په شمارلو ستړي کیږي خو بل لور ته داسې خلک هم شته چې سهار یې وخوري نو ماښام ته د یوې مړۍ ډوډۍ لپاره حیران وي، دلته یوه ډله خلک د خپلو چکرونو او عیاشیو لپاره د بهرنیو سفرونو محالویشونه جوړوي خو داسې خلک هم شته چې ښار ته د تداوۍ لپاره داکټر ته د خپل ناروغ د وړولو کرایه نه لري، دلته یوه ډله خلک په آن بازار ته د چکر لپاره هم په ذرهي موټرو کې ورځي خو بل لور ته داسې خلک هم شته چې په میاشتو ـ میاشتو د وسله وال په محاصره کې دي خو څوک یې غم نه خوري او دلته داسې خلک هم شته چې د خپلې یوې مړۍ په خاطر د بل په مړۍ چاړه ږدي. دلته ډیرې داسې ډلې فعالې دي چې خپل ژوند د بل د ژوند په اخیستلو او ربړولو کې لټوي.

داسې په لسګونو پېښې دلته شوي دي چې یوې له خدایه نه ډاریدونکې ډلې یو د خپل بچي د مړولو لپاره د بل بچی ښکار کړی وي. د همدې ډول پیښو یوه یې کابو له څلویښت ورځو وړاندې په فراه ولایت کې شوې ده چې تښتوونکو د نوید په نوم یو پنځه کلن ماشوم وتښتولو چې له نېکه مرغه تېره ورځ د افغان امنیتي ځواکونو په عملیاتو کې د تښتوونکو له منګولو روغ رمټ راخلاص شو. د دغه معصوم کوچني کیسه هغه وخت برسیره شوه چې تښتووونکو د دغې ماشوم د ځورونې ویډیو د نوموړي کورنۍ ته واستوله. ویډیو په ټولنیزه میډیا کې هم ډیره خپره شوه او لیدلو یې ډیر خلک وددول. دغه ماشوم ۴۰ ورځې د غلو سره و چې تېره ورځ د امنیتي ځواکونو په عملیاتو کې له تښتونکو آزاد او د جنایت سره په تړاو کې ۴ تنه هم نیول شوي دي. د فراه والي آصف ننګ ویلي، چې تښتوونکو په لومړي سر کې د ماشوم له کورنۍ نه ډیرې زیاتې پیسې غوښتې وې.

دغه معصوم کوچنی (نوید) د نوموړي له کور څخه په څو کیلومترۍ کې د فراه ولایت په شمال په فریدون قلعه سیمه کې په یوه ځمکتلې کې د تښتوونکو لخوا ساتل کیده. د نوید په وجود د تښتوونکو د تیري او شکنجې نښانونه معلومیږي، چې پر وینا یې تښتوونکو ډیر ځورولی او حتا کافي ډوډۍ یې هم ورته نه ورکوله. د دغې

کوچني بدن اوس دومره ضعیف شوی دی چې آن په خپلو پښو د درېدلو توان هم نه لري. له رسنیو سره په خبرو کې نوموړي په خپله ماشومانه ژبه ویلي چې تښتوونکو هغه وخت وتښتولو چې د خپل کور په خوا کې یې لوبې کولې.

دا لومړی کوچنی نه دی چې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره له خپلې کورنۍ تښتول کیږي بلکې له وړاندې هم په لسګونو پیښې ترسره شوې دي چې له نوید وړاندې بله تازه پیښه یې د شهید اباسین ځاځي ده. نوموړی کابو یو کال وړاندې په کابل ولایت کې د څو تنو سرې تښتوونکو لخوا وتښتول شو. تښتوونکو د اباسین له کورنۍ څخه پیسې غوښتې نو لمړی یې د هغه کوته پرې کړې وه او وروسته یې په بې رحمانه ډول سره وژلی وو چې وروسته یې جسد په کابل کې وموندل شو. د هغه په وړاندې دې بې رحمانه ظلم د هیواد په کچه سخت غبرګونونه پارولي و چې په بېلابېلو ولایتونو کې یې عاملینو ته د سزا ورکولو په خاطر لاریونونه هم وشول. ملي امنیت د اباسین ځاځي د قاتلانو د نیولو خبر ورکړ خو محکمه یې چا په سترګو ونه لیدله.

که چېرې د اباسین ځاځي او همداشان د نورو سرې تښتوونو پیښنو عاملان یو یا څو یې په علني توګه په عام محضر کې اعدام شوی وای نو پرته له شکه چې د انسان تښتوونو په پیښنو کې به کموالی راغلی و. خو له بده مرغه چې له سزا نه د معافیت قانون اوس هم په هیواد کې حاکم دی او قاتلان، غله او داړه ماران سرې سترګې ګرځي. حکومت باید په داسې پیښنو کې چې د نورو لپاره د عبرت وړ ګرځي؛ هیڅ ډول ناغیړي ونه کړي او د هر ډول جنایت عاملان باید علني محاکمه کړي څو د نورو لپاره پند شي. یو ځل بیا هم وایم که چیرې د اباسین ځاځي قاتلان په علني توګه محاکمه شوي او په دار ځړول شوي وای نو نن به لکه نوید (تښتول شوی ماشوم چې خوشې شو) په شان ماشومان هیڅا د پیسو د ترلاسه کولو لپاره نه تښتول.

لړم یا عقرب/ ۱۳۹۵

# دولته ..! ننګرهار دې ولې هير دی؟

که څه هم دولت په ننګرهار کې د داعش په خلاف د عملياتو خبره کوي خو راپوروونه وايې چې داعش يو ځل بيا په ننګرهار وحشت خپور کړی دی. د راپورنو له مخې تېره ورځ زيات شمېر داعشي وسله والو د پچيراګام ولسوالۍ په پاس پچير سيمه کې د ولسي پاڅون کوونکو پر پوستو بريدونه وکړل، کڼ شمېر زلميان، ښځې او ماشومان يې ووژل او ويل کېږي تر اوولسو ډير کورونه يې سوځولي دي. دا لومړی ځل نه دی چې داعش په ننګرهاريانو ناتار جوړوي بلکې دوه ځلې يې له دې وړاندې هم ننګرهاری ولس د غم په تغر کينولی دی. څو مياشتو وړاندې هم داعشي وسله والو د ننګرهار په څو ولسواليو تهاجمي بريدونه وکړل، د خلکو کورونه يې وسوځول، خلک يې له ځانونو سره برمته کړل او ډيری يې د ځټ له مخې حلال کړل. همداشان تېر کال هم ننګرهاری ولس د داعش د ناتار شاهد و. تېر کال يې هم سپين ږيري او تور ږيري په بمونو والوزول، د خلکو کورونه يې وسوځول او ماشومان يې په منځ دوه پرکه څيري کړل.

بل پلو د ننګرهار چارواکي او خلک وايي چې يو ځل بيا په دغه ولايت کې داعش وسله والو د اسلامي خلافت په نوم خپله راډيو فعاله کړې او دا ځل پر پنځو ژبو خپرونې کوي. ولايتي چارواکي که څه هم وايي چې د دې راډيو د بيا له منځه وړو هڅې يې پيل کړې؛ خو د ولايتي شورا غړي او عام خلک وايي چې په تېر کې هم دغه راډيو له منځه وړل شوې وه؛ خو د وخت په تېرېدو بيا فعاله شوې وي. د ننګرهار د ولايتي شورا غړي اصحاب ولي مسلم خبري رسنيو ته ويلي چې د داعش راډيو نشرات بيا پيل شوي او د عامو خلکو د اذهانو د خرابولو لپاره خپل تبليغات کوي. د مسلم د معلوماتو له مخې، راډيو پر پنځو ژبو نشرات کوي چې ډېرې خپرونې يې په پښتو، ازبکي او دري ژبو دي. د ځايي اوسيدونکو په وينا د داعش راډيو په خپرونو کې تر ډېره د مذهبونو اختلافي مسايل تر بحث لاندې نيول کېږي. په ټوله کې د داعش د راډيو نشرات تر ډېره د کم عمره ځوانانو د بې لارې کولو لپاره کېږي چې له داعش ډلې سره يوځای شي.

که څه هم په تېر کې څو ځلې افغان حکومت د داعش وسله والې ډلې راډيو له منځه وړې وه؛ خو د وخت په تېرېدو يې بېرته نشرات پيل کړي وي. همداشان حکومت په تېر کې د داعش د ځپلو په موخه څو ـ څو ځلي عمليات کړي دي، داعش يې ځپلی دی او له سيمو يې په شا کړي دي خو د ډير کم وخت په تيريدو حالات بيرته لومړني حالت ته راغلي دي او داعش يې د سيمې له خلکو قيمت پرې کړی دی. د داعش ضد

د دولت عملیات تر ډېره موقتي وي او له داعشه د سیمو له نیولو وروسته یادې سیمې یوازې ولس ته پرېښودل کېږي. تر څنګ یې د داعش په خلا د پاڅون کوونکو ملاتړ هم نه کېږي او د داعش مقابلې ته یې په یوازې سر پرېږدي. حکومت په تېر کې چې د داعش پر ضد عملیات کړي دي؛ نیول شوې سیمې یې نه یوازې په یوازې سر ولس ته پرېښې دي بلکې په سیمه کې یې د داعش د احتمالي خطر د فع کولو لپاره اضافي امنیتي ځواک هم نه دی ځای پر ځای کړی. همدا دلیل دی چې له اوس د دریم ځل لپاره داعش بیا هم په ننګرهار هجوم راوړی دی.

دا ځل په ننګرهار کې داعش له پخوا ډېر ناتار جوړ کړی دی. دوی په سیمه کې هر پاڅون کوونکی په پوله او پټي کې هم ګیر کړي نو د څټ له مخې یې حلالوي، ځوانې میرمنې په خطر کې دي، ځوانان په خطر کې دي، د ماشومانو راتلونکی تیاره ی او آن خلک په کورونو کې هم خوندي نه دي. داعش که د هر چا پروژه ده او د هر چا لپاره جوړه شوې ده خو اوسمهال یې ټول زیان افغان ولس ته دی. د دغې پروژې قیمت افغان ولس پرې کوي او د دولت چوپتیا او ناغیري هم د داعش پر وړاندې په ناغیرۍ دلالت کوي. همدغه مرکونې چوپتیا د دې لامل شوې ده چې ولس داسې فکر وکړي چې ګویا افغان حکومت هم په دغه پروژه کې له بهرنیانو سره شریک وي. ولس له داعشه خلاصون غواړي، ولس د سر خوندیتوب غواړي او ولس له دولت نه د دغې وحشتناکې دلې ځپل غواړي خو له بده مرغه چې دولت څو نمایشي اقدامات وکړي چې په موقت ډول د یو څه وخت لپاره د داعش خطرکم وي خو له څو وورځو وروسته حالات بیرته لومړني حالت ته راګرځي.

دا سمه ده چې اوسمهال د افغانستان په ډېری ولایتونو کې دولت له وسله والو مخالفانو سره په جګړه بوخت دی خو دولت ته په کار ده چې نور ننګرهار هېر نه کړي. دولت باید هرې سیمې ته پاملرنه وکړي او د هر ظالم، وحشتي او خطرناک دښمن مخه یې ونیسي. که خدای مه کړه په ننګرهار کې دا ځل داعش په بنسټیز ډول ونه ځپل شي او د احتمالي خطر د مخنیوي لپاره یې د امنیتي ځواکونو اضافي ځواک ننګرهار کې ځای پر ځای نه شي نو ډېر ژر دی چې ټول ختیځ د داعش تر کنټرول لاندې راشي او بیا به مرکزي دولت ته یې ځپل په لوړه بیه تمام شي.

لړم یا عقرب/ 1395

# لفظي بریدونه او خطرناک تورونه

په داسې حال کې چې د ولسمشر لومړي مرستیال جنرال دوستم تېره ورځ ولسمشر غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله په حکومت کې په قوم پالنې تورن کړل او یو شمېر نور تورونه یې هم پرې ولګول؛ ولسمشرۍ مانۍ د دوستم په څرګندونو غبرګون ښودلی دی او دا یې د هیواد له اوسنیو شرایطو او د یو لوړپوړي دولتي چارواکي په توګه د هغه له مقام سره په ټکر کې بللې دي. جنرال دوستم تېره ورځ د خپلو پلویانو په غونډه کې وویل چې ولسمشر د ده واک او صلاحیتونه اخیستي دي او دی نور د واک د تمرکز ملاتړ نه کوي. ده د ملي امنیت رییس ښاغلی ستانکزی د ځان خلاف په دسیسې، د رباني په قتل کې په لاس لرلو او له طالبانو سره په همکارۍ تورن کړی دی. نوموړي دا هم ویلي چې ولسمشر غني یوازې د ملي امنیت شورا د سلاکار حنیف اتمر، د ملي امنیت د رییس معصوم ستانکزي او د خپل دفتر د رییس خبرو ته غوږ نیسي. اوس ارګ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې دغه تورونه د عدلي او قضایي ادارو له لوري هر اړخیزې څېړنې ته اړتیا لري څو د هغه صحت او نه صحت په ډاګه او د قوانینو په رڼا کې ورسره چلند وشي.

دا لومړی ځل نه دی چې لوړپوړي چارواکي یو پر بل ستر تورونه لګوي بلکې له دې وړاندې هم د ولسمشر او اجرایه رییس په ګډون نورو لوړپوړو چارواکو هم پر یو او بل لفظي بریدونه کړي دي. څه موده وړاندې اجرایه رییس ولسمشر په بې کفایتۍ تورن کړی و او ویلي و چې په دریو میاشتو کې یې یو ځل هم له دوه سره نه دي کتلي، بیا ولسمشر یې په غبرګون کې اجرایه رییس د اصلاحاتو په مخنیوي او د فاسدانو په ملاتړ تورن کړ. همدا راز په بېلابېلو حکومتولۍ کې د ولسمشر ځانګړي استازي هم فرصت ته په کتو په ولسمشر او په ټول حکومت نیوکې کړې دي. او اوس دا دی خبره آن د ولسمشر تر لومړي مرستیال راورسیده. د ده هم لومړی ځل نه دی چې پر ولسمشر نیوکې کوي بلکې له دوراندې یې هم په ولسمشر تور پورې کړی و چې د نوموړي صلاحیتونه یې په خپل لاس کې اخیستي دي.

پوښتنه دا ده چې یو پر بل د مشرانو تورونه له کومه ځایه سرچینه اخلي، ولې لګول کېږي او پر ولس او نظام یې اغېز څه دی؟

تر ډېره دا تورونه له شخصي عقدو سرچینه اخلي، کله چې د یو چارواکي امتیاز ته زیان وشي او یا وغواړي له مقابل لور ډېر څه ترلاسه کړي او یا یې هم کوم پخوانی امتیاز په خطر کې شي نو د دغې خطر د کمولو لپاره

په مقابل لوري نيوکې کوي څو روحيه يې کمزورې او په ولس کې يې پر وړاندې غبرګون پيدا شي. دغه تورونه که څه هم چارواکو لپاره عادي ښکاري او د خپل رقيب د تضعيف نقطې په توګه يې کاروي خو په حقيقت کې دا د ولس په منځ کې د زهرو پاشل دي. دا ډول څرګندونې د ولس تر منځ نفاق تخم شيندي، د چارواکو دغه ډول غير مسولانه څرګندونې د ولس د پارچه کېدو سبب کيږي. دا ډول تورونه ولسونه په خپل نظام بې باوره کوي او له دولته فاصله اخلي.

يو پر بل د چارواکو تورونه او لفظي بريدونه په لوی لاس د دښمن تبر ته لاستی اچول دي. ټول پوهيږو چې دښمن مو تيار په کمين کې راته ناست دی او فقط د موکې په انتظار دی، دښمن که په مونږ کې د نوک ځای پيدا کوي نو سوک په کې ځايوي او هره لحظه زمونږ د بربادۍ لپاره پلانونه جوړوي. آيا دا تور لګوونکي په دې نه پوهيږي چې څرګندونې او تورونه يې يوازې دوی پورې منحصر نه دي بلکې مستقيماً له ولس سره هم اړيکه لري؟

د هيواد اوسنيو شرايطو ته په کتو د دوی له شخصي غرضه او تعصبه ډکې څرګندونې د ولس د ويشل کېدو سبب کيږي، په ولس کې قومي، ژبني، مذهبي او سمتي تعصب ته زمينه برابروي، د افغان ولس د تاريخي دښمن د شوم پلان په عملي کېدو کې مرسته کوي، او په لوی لاس هيواد د نفاق کندې ته ټيل وهي. فلهذا مونږ له ټولو چارواکو او سياسي څېرو غوښتنه کوو چې د دې خاورې د بچي په توګه، د دې ولس د يو غړي په توګه او د يو افغان په توګه دې په ولس کې د يووالي ستنې پياوړې کړي او نور دې د خپلو شخصي غرضونو په خاطر ولس په خطر کې نه اچوي، دوی دې نور د دښمن پلان نه عملي کوي او نور دې د ولس د بېلوالي پر ځای د يووالي لپاره کار وکړي. خپل شخصي ستونزې د ې د خبرو له لارې حل کړي او په دا ډول غير مسولانه څرګندونو دې ولس د بدبختی پر لور نه بيايي.

لړم يا عقرب/ 1395

# له تور لېسته د نومونو ویستل او ننویستل

# ملا هیبت په تور لیست کې شاملول؛ ګټه که تاوان؟

په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزو د کمېټې غړي؛ له تور لېست څخه د اسلامي حزب د رهبرۍ د نومونو د لیرې کولو د بحث لپاره کابل ته راغلي دي؛ ولسمشر غني وايي، چې د وسله والو طالبانو مشر ملا هبت الله باید د ملګرو ملتونو په تور لېست کې شامل شي. غني د ملګرو ملتونو د بندیزو د کمیټې له غړو سره په کابل کې د لیدنې پر مهال، د ملګرو ملتونو له امنیت شورا غوښتنه کړې، چې د وسله والو طالبانو مشر ملا هبت الله نوم دې د ملګرو ملتونو په تور لېست کې شامل کړي. دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو یاد پلاوی د افغان حکومت د یو بلې پخوانۍ مخالفې وسله والې ډلې (اسلامي حزب) رهبر ګلبدین حکمتیار د تور لېست څخه د ویستلو د بحث لپاره کابل ته راغلی دی. د انجینر ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب او افغان حکومت تر منځ د سولې هوکړه لیک د تلې په اتمه د ولسمشر محمد اشرف غني او د اسلامی حزب د مشر ګلبدین حکمتیار له لوري له اوږدو خبرو وروسته لاسلیک شوه. د دې موافقې پر اساس د افغانستان حکومت باید له ملګروملتو او امریکا وغواړي چې د حکمتیار نوم له تور لېسته وباسي.

اوس پوښتنه دا ده چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له تور لېست نه د انجینر ګلبدین حکمتیار نوم ایستل او د وسله والو طالبانو د مشر ملا هیبت نوم داخلول به په اوږد مهال کې د افغان سولې په پروسې کوم اغېز ولري؟

## د حکمتیار نوم ایستل

که په افغانستان کې د اسلامي حزب مخینې ته وګورو نو دغه حزب له افغان حکومتونو سره کابو د څلویښت کلنې جګړې او مخالف سابقه لري. په دغو څلویښتو کلونو کې اسلامي حزب له هر افغان حکومت سره مخالفت کړی دی خو بلاخره اوسنی حکومت او ولسمشر غني په دې وتوانېد چې د دغې ډلې رضایت خپل کړي او سوله ورسره وکړي. که همدغه سوله ډېر لیرې نه فقط څو کاله وړاندې له ډاکټر نجیب الله سره هم لاسلیک شوی وای نو په ډاډ سره وایم چې د افغانستان حالت به له اوسني حالت څو چنده غوره و. خو خیر اوس هم اوبه له ورخ نه تیرې نه دي او اوس هم له اسلامي حزب سره د سولې تړون لاسلیکول او د

ملګرو ملتونو له تور لیست نه د حکمتیار نوم ایستل د افغاني سولې پر لور لوی ګام دی. له تور لیست نه د حکمتیار نوم ایستل په اوس وخت کې له افغان سولې پروسې سره ډېره مرسته کولی شي. له یوې خوا به افغان حکومت د یوې مخالفې وسله والې ډلې له مخالفت نه خلاص شي او له بلې خوا به وسله وال مخالفان په بین الافغاني سولې خبرو باور زیات کړي. هغوی به په دې داډه شي حکومت او نړیواله ټولنه په افغانستان کې سولې ته ژمنه ده او باید چې دوی هم له حکومت سره له مخالفته لاس په سر شي.

## د ملا هیبت نوم شاملول

په اوسني وخت کې که د وسله والو طالبان د مشر ملا هیبت الله نوم د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په تور لېست کې شاملول؛ د افغان حکومت له لوري وسله والو طالبانو ته یوازې یو ګواښ او اخطار په توګه وي نو کټور تامیدای شي. ځکه ویل کیږي ملا هیبت هغه څوک دی چې د آی ایس آی او حقاني شبکې تر مستقیم اغیز لاندې دی او د هغوی په لارښوونه په افغانستان کې ترهګریز اعمال ترسره کوي. که افغان دولت اوس د یو ګواښ او اخطار په ډول ملا هیبت ته وایي که له افغان دولت سره د سولې مذاکرو ته حاضر نه شي او د آی ایس آی له اسارته ځان خلاص نه کړي نو نوم به یې د دایم لپاره په تور لېست کې شامل شي. دا به ملا هیبت اړ کړي د خپل اینده لپاره فکر وکړي او له آی ایس آی پټ په مرموز ډول له افغان حکومت سره خبرې پیل کړي. خو که په تور لېست کې د ملا هیبت نوم شاملول په قصدي توګه وي نو افغان سولې پروسې ته یې له ګټې زیان ډیر دی.

په تور لیست کې د ملا هیبت په نوم شاملولو سره د افغانستان جګړه نوی رنګ واخلي او وسله وال طالب به بیا ډاډه شي چې ګویا افغان دولت او نړیواله ټولنه په افغانستان کې سولې ته ژمن نه دي. فلهذا وسله وال به د سولې له پروسې ناهیلي شي او جنګ ته به لا هم مخه کړي. اوس وخت کې مونږ سولې ته اړتیا لرو او ولس د هر هغه اقدام هرکلی کوي چې د سرتاسري سولې سبب کیږي؛ نه د هغه اقدام چې په هېواد کې د جګړې د ګرمېدو سبب شي.

لړم یا عقرب/ 1395

# ولس د کوم جرم سزاويني؟

په داسې حال کې چې د افغانستان د پرمختګ دښمنان په پرله پسې توګه هڅه کوي چې افغانان د قومي، ژبني او مذهبي تعصب د اور په لمبو کې وسوځوي؛ د هېواد سياسي او امنيتي حالات هم د حکومتي مشرانو د اختلاف او د بهرنيو ځواکونو د ړندو بمباريو له امله د بحران په طرف درومي. شاوخوا دوه اونۍ وړاندې يو شمېر وسله والو کسانو د داعش په نوم د غور د مرکز غلمين کلي ۳۰ اوسېدونکي و وژل او شپږ ته نور يې ټپيان کړل. له دې نه وړاندې د روښنايې غورځنګ په لاريون کوونکو د بريد مسووليت هم داعش پر غاړه واخيست، همداشان په ننګرهار کې د تېر يو نيم کال راهيسې داعش وحشت خپور کړی دی. خلک يې په بمونو والوځول، د خلکو کورونه يې وسوځول، ماشومان يې په منځ دوه پرکه څيرې کړل او يو شمېر نور عام وګړي يې حلال کړل او څه يې له ځانونو سره برمته يوړل.

## دا هر څه چا وکړل، چا ووژل او موخه يې څه وه؟

بريد که هر چا کړی دی، که داعش کړی او که طالب او يا هم د ولس بل دښمن خو موخه يې ښکاره ده چې د افغانستان د ميشتو قومونو او د سني او شيعه مذهب تر منځ د نفاق اور بلول غواړي. له يوه طرفه دېته ورته پيښو د هيواد د ميشتو قومونو او مذهبونو تر منځ د نفاق د انقلاب د پيښېدو انديښنې زياتې کړې دي او له بل اړخه د حکومتي مشرانو خپل منځي اختلافونو ولس د دوو تيږو تر منځ ايسار کړی دی.

د ولسمشر، اجرايه رياست او په حکومت کې دننه د يو شمېر نورو چارواکو تر منځ د اختلاف خبره خو له وړاندې نه ولس ته معلومه وه خو په وروستيو کې د ولسمشر او د نوموړي د لومړي مرستيال تر منځ اختلاف؛ هره ورځ د خبرونو سرټکي جوړوي. د راپوررونو پر اساس تېره چهارشنبه ولسمشر غني له کابله يو جګپوړی پلاوی د ښار جوړولو وزير سعادت نادري په مشرۍ د ولسمشر د لومړي مرستيال د عذر لپاره جوزجان ته واستاوه چې په دې پلاوي کې څلور وزيران او درې معينان هم شامل دي. خو ويل کېږي لومړي مرستيال له پلاوي سره له ليدو ډډه کړې او آن تر دې چې تر مازيګره ياد پلاوي ته د غرمې ډوډۍ هم ورنکړل شوه. پلاوی له لومړي مرستيال سره له ليدو پرته بېرته کابل ته راستون شو.

د ولس پر سر په خپل راتلونکې د ناباورۍ عذاب یوازې د حکومت مشرانو د اختلاف له وجې نه دی راغلی بلکې بهرنی ارخ هم لري. ولس د ترهګر ځپلو په نامه د بهرنیانو د ړندو بمباریو درنه قرباني ورکوي. همدا ورمه ورځ هم په کندز کې په لسګونو کورنۍ د غم په تغر کېنول شوې. ورمه شپه د کندز ښار په بز کندهاري سیمه کې د بهرنیو ځواکونو د هوایي برید له امله ۳۰ ولسي وګړي شهیدان او شاوخوا ۲۵ نور ټپیان شول. ارګ او سپیدار مانۍ د ملکي مرګ ژوبلې پړه په وسله والو طالبانو اچولې ده. ارګ د خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي؛ د خلکو دښمنانو د بز کندهاري په سیمه کې له عامو وګړو او کورونو څخه د سپر په توګه کار اخیستی دی چې له امله یې د ماشومانو او ښځو په ګډون یو شمېر وطنوال شهیدان او ټپیان شوي دي. همداراز ډاکټر عبدالله هم ویلي چې د ملکي مرګ ژوبلې پړه د وسله والو طالبانو پر غاړه ده.

که په کندز کې د ملکي مرګ ژوبلې په اړه د ارګ او سپیدار مانۍ وروستۍ څرګندونې دقیقې وارزول شي داسې ښکاري چې په یو ډول یې د بهرنیو ځواکونو په یاد تیري سترګې پټې کړي وي. ارګ او سپیدار مانیو د کندز پیښې ته په اشارې د ملکي مرګ ژوبلې عاملین وسله وال طالبان ښودلي خو دا یې نه ده په ډاګه کړې چې ولسي وګړی د چا په بمبارۍ کې وژل شوي دي. دا سمه ده چې د افغان ولس دښمن به له ولس نه د سپر په توګه کار اخیستی وي، دا منو چې وسله والو طالبانو به د خلکو له کورونو مورچې جوړې کړي وي او دا هم منو چې د خلکو له کورونو به په حکومتي او بهرنیو ځواکونو ډزې شوې وي؛ خو د اصولو له مخې که دښمن د خلکو په کورونو کې هم سنګر نیولی وي او له ولس نه د سپر په توګه استفاده کوي نو پر ولسي کورونو برید د بشري حقونو خلاف عمل دی او هېڅوک یې حق نه لري چې پر ولس برید وکړي.

د هیواد اوسني حالات داسې شوي دي چې اوس د پاڼ او پړانګ تر منځ ولاړ دي خو که د مشرانو تر منځ اختلاف او د بهرنیو ځواکونو ړندې بمبارۍ دوام وکړي؛ پرته له شکه چې پراخ ولسي غبرګون به له ځانه سره ولري. داسې غبرګون چې بیا به یې کابو کول نه د حکومت په وس کې وي او نه د بهرنیو ځواکونو په واک کې.

لړم یا عقرب/ 1395

# افغان حکومت په دوه جالو کې ګیر دی، یا به کډوال مني یا به مرستې له لاسه ورکوي

په داسې حال کې چې اروپايې تولنې په وار ـ وار د افغان کډوالو اړوند افغان حکومت ته خبرداری ورکړی؛ اوس تازه ریپوټونه وايې چې جرمني د افغان پناه غوښتونکو د ستنولو په اړه له افغانستان سره موافقه هم لاسلیک کړه. د جرمني حکومت وايي، خپل هیواد ته د افغان پناه غوښتونکو د بېرته ستنولو په اړه یې له افغانستان سره موافقه کړې ده. ویل کیږي د یادې موافقې پر اساس به هغه افغان پناه غوښتونکي، چې په جرمني کې یې د پناه غوښتنلیکونه منل شوي نه دي، افغانستان ته بېرته استول کیږي. دا په داسې حال کې ده چې په اروپا کې تر ټولو زیاتو افغانانو جرمني ته پناه وړې ده. تېر کال جرمني ته نژدې ۸۹۰۰۰۰ تنو پناه وړې وه او له همدې کبله جرمني غواړي چې خپل هیواد ته د پناه وړونکو شمېر کم کړي.

بل لور ته د افغان حکومت چارواکي وايې چې که چیري افغانستان هغه کډوال چې په اروپايې هیوادونو کې یې د پناه اخیستې غوښتنې نه دي منل شوي؛ په افغانستان کې ونه مني؛ د نړیوالو مرستې به له لاسه ورکړې. د دوی په وینا، هغه هېوادونه چې له افغانستان سره مرستې کوي؛ که افغان حکومت خپل کډوال ونه مني نو دغه هېوادونه به په افغانستان خپلې مرستې بندې کړي او په خپلو هېوادونو کې به يې مصرف کړي. د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني وایې که چیري افغان دولت هغه کډوال چې په اروپا کې یې د پناه اخیستو غوښتنې رد کیږي؛ ونه مني؛ د خپلو مرستندویه هیوادونو مرستې به له لاسه ورکړي او اروپايي هیوادونو افغانستان ته ویلي چې نه شي کولی په یوه وخت کې هم افغانستان او هم په اروپا کې میشتو کډوالو ملاتړ وکړي.

پوښتنه دا ده؛ په داسې حال کې چې معلومیږي نړیوالې ټولنې خپلې مرستې افغانستان ته د افغان کډوالو د بیرته منلو پورې مشروطې کړي دي؛ د هغو په لکونو افغان کډوالو سرنوشت به څنګه شي چې په افغانستان کې یې خپل مال و حال هر څه پلورلي او په ډیرو سختو حالاتو کې اروپا ته تللي دي؟ آیا افغان دولت د دغو کډوالو د بیرته ستنیدو لپاره د ژوند لازمې آسانتیاوې برابرې کړي دي؟

له تېرو دوو کلونو راهیسې په افغانستان کې د ترینګلي امنیتي، اقتصادي او سیاسي وضعیت له امله په لکونو افغانان له هیواده تیښتې ته اړ شوي دي. د دوی لوړه کچه هغه افغانان دي چې دلته په هیواد کې له بیکارۍ تر پوزې راغلي و او خپلې کورنۍ ته د ژوند د اسانتیاوو برابرولو په خاطر یې اروپا ته له خطرونو ډک سفر ته ملا وتړله. دوی دلته خپل جایدادونه، موټرې او حتی د سرپناه ځایونه د اروپا د سفر د لګښتونو د برابرولو په خاطر پلورلي دي او په لاره کې له ډېرو سختو زغملو وروسته د اروپایي ټولنې په دروازه داخل شوي دي. دوی دلته په افغانستان کې اوس هیڅ هم نه لري، هر څه یې له لاسه ورکړي دي حتی ډېرو خو په لاره کې خپل د کورنۍ غړي هم له لاسه ورکړي دي. اوس چې افغان حکومت له افغانستان سره د نړیوالو د مرستو د لاسه ورکولو له ډاره له اروپایي ټولنې سره د افغان کډوالو بېرته ستنیدل مني نو دا به د همدغو افغان کډوالو په مقابل کې ډېر لوی ظلم وي. افغان دولت هم په دوه جالو کې ګیر دی، یا به افغان کډوال مني او یا به له افغانستان سره د نړیوالو مرستې له لاسه ورکوي.

## څه کول په کار دي؟

د پښتو متل په مصداق چې له پېښې تېښته نه وي په کار؛ افغان حکومت باید داسې کړنلاره غوره کي څو د بېرته راستنیدونکو کډوالو له سرنوشت سره لوبې ونه شي. حکومت باید په یو شرط له اروپایي ټولنې د خپلو کډوالو ستنیدل ومني چې اروپایي هېوادونه باید همدغو بېرته راستنیدوکو کډوالو ته خپل هغه مصارف ورکړي چې دوی په لاره مصرف کړي، اروپایې ټولنه باید افغان کډوالو د بېرته منلو په مقابل کې افغانستان ته ورکوونکې مرسته فقط و فقط په افغانستان کې د همدغو کډوالو لپاره د ژوند اسانتیاوو لکه سرپناه، کار او زده کړې په برخه کې افغان حکومت ته مشروطې کړي. داسې نه شي چې اروپایې ټولنه افغان دولت سره د کډوالو په نامه مرسته وکړي او دلته تاله ترغې شی. حکومت مسول دی چې دلته د افغان کډوالو لپاره د اوسېدو، د کار او د زده کړې زمینه برابره کړي. حکومت باید د کډوالو ستونزې جدي ونیسي او که خدای مه کړه حکومت لکه د نورو کارونو په شان له اروپا راستنېدونکو کډوالو موضوع هم شاته وغورځوي نو د حکومت وسله وال مخالفان به د حکومت له دغې نېمګړتیا پوره ګټه واخلي یو خپلو لیکو ته به یې جذب کړي. همداشان بله اندېښنه هم دا ده چې که حکومت یې د کار او سرپناه غم ونه خوري نو دوی به یو ځل بیا پاکستان او ایران ته مخه کړي او د کډوالو راستنولو په برخه کې به د حکومت هڅې په اوبو لاهو شي.

**تله یا میزان/ ۱۳۹۵**

# پاکستان اوبو اخیستي؛ څګ ته هم لاس اچوي

د وروستیو راپورونو له مخې ویل کیږي د طالب نوي مشر ملا هبت الله په مشرۍ د طالبانو پلاوی روسیې ته په سفر تللی دی. مسکو ته د دغه پلاوی د تګ انګېزه معلومه نه ده خو ویل کیږي چې ځینې هېوادونه او روسیه غواړي، له طالبانو په سیمه ییزو موضوع ګانو کې استفاده وکړي. بل لور ته ویل کیږي چې له ملا هبت الله سره د اختلاف له امله د پاکستان څارګرې ادارې ۳ طالب مشران نیولي دي. د راپورونو له مخې د پاکستان څارګرې ادارې دغه طالب چارواکي د کوټې په ختیځ لور پټلی پمپ سیمه کې نیولي دي. په نیول شول کسانو کې د طالبانو مالي مسوول ملاعبدالصمد ثاني، د دایکندي له پاره د طالبانو له خوا ټاکل شوی ولسوال سلیمان اغا او د طالبانو د سترې محکمې رییس ملا عبدالله نانی چې د طالبانو د کوټې شورا مهم غړي دي، شامل دي.

که څه هم روسیې ته د ملا هبت الله په مشرۍ د طالب پلاوي سفر موخه په رسمي توګه نه ده ښودل شوې او بل لور ته پاکستانیو چارواکو په پاکستان کې د طالب مهمو غړو د نیولو انګیزه؛ له افغان سولې سره د مخالفت له امله ښودلی خو دا چې روسیې د طالب پلاوي او بیا په پاکستان کې د مهمو طالب چارواکو د نیولو انګیزه څه کیدای شي؛ دلته پرې بحث کوو.

روسیې ته د ملا هبت الله په مشرۍ د طالب پلاوي سفر او بیا په پاکستان کې د طالب مشرانو د نیولو هدف په لویه کې یو دی خو په ابتدایې شکل نور کوچني هدفونه هم لري.

روسیې ته د ملاهیب الله د سفر موخه

روسیې ته د ملا هبت الله سفر د پاکستان د څارګرې ادارې (آی ایس آی) په امر شوی دی او غواړي پر امریکا فشار راوړي څو له پاکستان سره اړیکې ښې کړي. ځکه ؛ په وروستیو کې لکه څرنګه چې د پاکستان او امریکا تر منځ اړیکې سړې شوي دي او په ځلونو د امریکا د سنا مجلس سناتورانو له پاکستان سره د امریکا په مرستو نیوکه وکړه او پاکستان یې د ترهګرو په ځپلو کې په توپیري چلند او نه ځپلو تورن کړ؛ نو دغې حالت د اسلام آباد او واشنګټن اړیکې ترینګلې کړې. له بل لوري امریکا هم د پخوا په څېر

پاکستان ته اړتیا نه لرله څکه اوس په سیمه کې افغانستان او هندوستان هغه هېوادونه دی چې امریکا پرې خپلې کتنې ترلاسه کولی شي او پاکستان ته چې د ترهګرو د روزنې او پالنې پر اساس بدنام شوی دی؛ اړتیا نه لري. نو دغه حالت چې پاکستان ولیدو چې امریکا ورته شا کړې او نوره یې په قیصه کې نه ده نو پاکستان د دې لپاره چې په امریکا فشار راوړي له روسیې سره یې یارانه واچوله. دلته روسیې هم فرصت غنیمت وګڼلو او طالب ورته په سیمه کې د داعش د خطر د مخنیوي لپاره ښه فکتور څرګند شو. په همدې اساس ممکن نوموړي هېواد ته د طالب پلاوي د وروستي سفر موخه هم همدا وي چې له روسیې نوي تجهیزات او وسلې ترلاسه کړي.

## په پاکستان کې د طالب مشرانو د نیولو انګیزه

که څه هم پاکستان ظاهراً وایې چې یاد طالب مشران یې د افغان سولې سره د نه دلچسپۍ له امله نیولي دي خو په حقیقت کې خبره بله ده. پاکستان د دغو طالب مشرانو  له نیولو څخه څو هدفونه لري. لومړی غواړي چې له نړیوال یوازیتوب او انزوا خلاص شي او پرې د نړیوالو فشارونه راښکته شي. په دې معنا چې پاکستان اوس په طالب مشرانو د فشار اچولو په اساس غواړي په پاکستان میشت طالبان او د طالبانو مرکزونه د افغانستان سویلي ولایتونو ته انتقال کړي او له هغه خطره چې پاکستان به د ترهګرو هېوادونو په لیست کې شامل شي؛ دخلاصون لپاره لاس په کار کیږي. دویم غواړي چې له کابل سره یې په ټپه دریدلې اړیکې بیا ځلي کرمې شي او پر اساس یې له افغان حکومت او نړیوالو څخه امتیاز وشکوي. دریم غواړي چې طالب مشران تر خپل فشار لاندې ونیسي او په دې ترتیب که له وسله والو طالبانو سره د افغان حکومت خبرې بیا پیلیږي نو د خبرو کولو ابتکار به یې د پاکستان په لاس کې وي. څلورم غواړي چې یو ځل بیا د افغان سولې په نمایشي توګه پیلولو سره افغان حکومت په اوږدو او بې پایلو خبرو بوخت وساتي.

تله یا میزان/ ۱۳۹۵

# څو پوښتنې چې سیما سمر یې باید ځواب کړي

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د اسلامي حزب له مشر ګلبدین حکمتیار څخه غواړي چې په جګړو کې د ښکېلتیا له امله له افغانانو بښنه وغواړي. د دغه کمیسیون مشره سیما سمر ټینګار کوي که څه هم دوی د سولې او د ثبات د حل پلوي دي، خو هیڅکله هم نه غواړي چې د بشري حقونو سرغړونکي وبخښل شي او د خلکو حق دې تر پښو لاندې شي. سیما سمر ټینګار وکړ په افغانستان کې ځیني داسې جنایتونه ترسره شوي چې اصلاً د هېرېدو نه دي. سیما سمر په داسې حال کې له حکمتیاره غواړي له خلکو بخښنه واغواړي چې تېره اونۍ د اسلامي حزب یوه غړي قریب الرحمان سعید له خلکو بخښنه غوښتې وه. هغه ویلي وو هر زیان چې خلکو ته رسیدلی وي، زموږ خپل زیان دی، که څوک شهید شوی یا ټپي شوی وي په طبیعي توګه ورڅخه بخښنه غواړو. ده همدا راز ښاغلي سعید ویلي وو د جنګي جرمونو عاملینو ته د سزا ورکولو لپاره باید په افغانستان کې صلاحیت لرونکې محکمه دې جوړه شي او د حزب اسلامي په ګډون کې دې ټول هغه کسان چې په کورنیو جګړو کې لاس لري د افغانستان خلکو ته دې حساب ورکړي.

د افغانستان د یو تبعې په توګه د ډاکټر سیما سمر خبرې او غوښتنه پر ځای ده خو د بشر حقونو د خپلواک کمیسیون له ادرسه یوازې له حکمتیاره د بخښنې غوښتلو غوښتنه؛ بلکل یو طرفه، نیمګړې او د کورنیو جګړو په قربانیانو ملنډې وهل دي. دا بیخي سمه خبره ده چې کورنۍ جګړې اتل نه لري او عاملان یې باید د یو جنګي مجرم په توګه له ولس او د قربانیانو له کورنیو بخښنه وغواړي خو د بشر حقونو د خپلواک کمیسیون په توګه یوازې له یو شخص څخه د بخښنې غوښتلو تقاضا کول او نورې جنګي ډلې پوښل پخپله یو جرم دی. دا سمه ده چې ولس غوښتنه لري چې جنګي مجرمان باید ترې بخښنه وغواړي خو ډاکټر سیما سمر نه باید د کورنیو جګړو په نورو عاملانو سترګې پټې کړي او د بشر پرځای یوازې د ګوندي اختلاف له مخې له یوه شخص او حزبه وغواړي چې له خلکو دې بخښنه وغواړي.

دا سمه ده چې ولس د کورنیو جګړو پر مهال ډېر زیانونه لیدلي دي، شهیدان یې ورکړي دي، د کورنیو غړي یې له لاسه ورکړي دي، شتمنۍ او جایدادونه یې چور شوي دي او د سر او مال زیان ورته اوښتی دی خو پوښتنه دا ده چې په دغو جنګونو کې یوازې حکمتیار ښکېل و؟ آیا جرم یوازې همدای دی چې یو څوک د یو ځانګړي او یا بل خونړي برید په ترسره کولو سره د خلکو وینې تویې کړي؟ آیا هغوی چې له

ژوندیو انسانانو یې سرونه پرې کړل بیا یې پرې سره کړي غوړي واړول او د مړو نخا یې رامنځته کړه؛ مجرمان نه دي؟ آیا هغوی چې د ښځو سینې یې پرې کړې او ناموسونو ته یې سپک نظر وکړ مجرمان نه دي؟ آیا هغوی چې د مظلومو افغانانو په سرونو او غوږونو کې یې میخونه ټک وهل د بشر حقونو ناقضان نه دي؟ آیا هغوی چې په ډله ایزه توګه یې د بې ګناه افغانانو وینې تویې کړې د بشر حقونو څېلواک کمیسیون نه ویني؟ سیما سمر ولې له دغو خلکو څخه نه غواړي چې له ولس نه بخښنه وغواړي؟

یوه لنډه بېلګه یادوم، دا منو چې د حکمتیار او د ډلې په ډز او مرمۍ په کورنیو جګړو کې خلک شهیدان شوي دي، منو چې د حکمتیار لاسونه به د خلکو په وینو سره وي خو پوښتنه دا ده چې آیا حکمتیار په کورنیو او تنظیمي جګړو کې له ولس سره جګړه کوله او د ولس پر ضد یې توپک راپورته کړی و او که بل مقابل لور یې هم درلودو؟ طبیعي ده چې مقابل لوری یې هم درلودو. نو چې مقابل لوری درلودو نو څنګه بیا یوازې حکمتیار مجرم ګڼل کېږي او مقابل لوری یې سپینه کوتره؟ آیا په تنظیمي جګړو کې د نورو په مرمیو خلک نه دي شهیدان شوي؟

مونږ د دې غوښتونکي یو چې حکمتیار باید له ولس نه بخښنه وغواړي خو مجرمان او قاتلان چې کابل یې کنډواله کړ، د خلکو ناموسونو ته یې سپک وکتل، شتمنۍ یې چور کړې او په زرګونو خلک یې له تیغه تېر کړل؛ هم باید د جنګي مجرمانو په توګه د بشر حقونو د څېلواک کمیسیون په دغه غوښتنه کې ځای شي چې له یوازې له حکمتیار څخه یې کړې ده. مونږ غواړو چې هر وینه تویونکی او په جنګي جنایتونو تورن باید له خلکو بخښنه وغواړو، مونږ د کوم حزب او کومې ډلې طرفداري او مخالفت نه کوو خو د کورنیو جګړو په قربانیانو ملنډې وهل هم نه شو زغملی. که د بشر حقونو د مدافع مرجع په نامه د جګړې له یو اړخ غوښتنه کېږي چې له ولس نه بخښنه وغواړي؛ نو نور اړخونه هم باید سپینې کوترې ونه بلل شي او پر ضد یې باید غږ پورته شي چې د خپلو کړیو جنایاتو جبران وکړي او له ولس نه بخښنه وغواړي.

تله یا میزان/ ۱۳۹۵

# څوک مشروعیت نه لري، ارګ که اجرایه ریاست؟

په رسنیو کې له کابو څو میاشتو راهیسې د ملي یووالي حکومت د مشروعیت په تړاو بحثونه روان و خو کله چې د سنبلې میاشتې په ۲۹ نیټه د ملي یووالي حکومت مشرانو ته منځ د سیاسي هوکړه لیک نیټه پایته ورسېده؛ دغه بحثونه خورا تاوده شول. همدا تېره ورځ هم د مسعود بنیاد مشر احمدولي مسعود د حکومت دوه کلنې دورې په نوم جوړې شوې غونډې کې د حکومت مشروعیت پایته رسیدلی وباله. مسعود وویل د دوو ټاکنیزو ټیمونو د مسولانو تر منځ د شوي هوکړه لیک پر اساس یاد حکومت د دوو کلونو لپاره رامنځته شوی و چې اوس یې موده پایته رسیدلې او حکومت خپل سیاسي او حقوقي مشروعیت له لاسه ورکړی دی. دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې ډاکټر عبدالله په ارګ کې د ولسي تړون د ملي پروګرام د پرانیستلو غونډې ته په وینا کې د حکومت د مشروعیت په باب د خلکو پوښتنې او اندېښنې ته غبرګون وښود او د هغوی دا اندیښنې یې بې ځایه وبللې. اجرائیه رئیس د یو شمیر افغان سیاسیونو پر څرګندونو، چې ګواکې د اوسني حکومت د کار موده پوره شوې د نیوکه وکړه او ویې ویل، چې د ملي یووالي حکومت پر ځای د بل حکومت جوړول یو خوب دی.

په تړاو کې د حکومت د مشروعیت خبره په یوه جنجالي موضوع بدله شوې ده، د حکومت مخالفې سیاسي ډلې، اپوزیسونونه او یوه ډله شنونکي د ټول حکومت مشروعیت پایته رسیدلی بولي خو ځینې نور شنونکي او حقوق پوهان بیا د ټول حکومت نه بلکې یوازې د اجرایه ریاست حقوقي او سیاسي مشروعیت پایته رسیدلی بولي. اوس اساسي پوښتنه دا ده چې د ټول حکومت او که یوازې د اجرایه ریاست مشروعیت پایته رسیدلی دی؟

اجرایه ریاست مشروعیت نه لري ځکه دې پوست له اول نه مشروعیت او قانوني بنسټ نه درلودو او یوازې د مجبوریت پر اساس ولمسشر د یو فرمان له مخې رامنځته کړ. دا یو روښانه حقیقت دی چې د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ ټاکنې په یوه ستر ناورین بدلې شوې وې. هر یو نوماند ځان بریالی باله او د خپل سیال په مقابل کې یې خپله ماتې نه منله. په هغه وخت کې د هیواد امنیتي حالات د ترینګلتیا تر څنګ سیاسي حالات هم ګډوډ و، د اوسني اجرایه رییس ټاکنیزې ډلې په خپل زور ښاغلی عبدالله د افغانستان د منتخب ولسمشر په توګه معرفي کاوه، په مقابل کې یې د اشرف غني ټیم چې د ولس پراخ ملاتړ هم ورسره و؛ خپل ځان د ټاکنو ګټونکی باله. د عبدالله تر شاه هم سیاسي ډلې او د ولس یوه برخه ولاړه او د ښاغلي اشرف غني

تر شاه هم ولس او سیاسي ډلې ولاړې وې. حالات د افغانستان تجزیې ته برابر شوي و او دښمن مو هم په کمین کې ناست و او د فرصت انتظار یې کاوه چې افغانستان په منځ دوه ټوټې کړي. بل پلو د قومي او سمتي تعصب هم مخ په زیاتیدووې، پس همدغو حساسیتونو ته په کتو ولسمشر غني چې له ښاغلي عبدالله یې رایې زیاتې ګټلې وې؛ د هیواد د اصلي بچي په توګه یاد حساسیتونه درک کړل او د اجرایوي ریاست پوسټ یې د زهرو غړپ په شکل ومنل.

ولسمشر غني د دې لپاره چې حالات له بد څخه بدتر نه شي او ولس له پیښې شوي بحران څخه وژغوري؛ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري په منځګړیتوب په حکومت کې له ځان سره د عبدالله شریکول ومنل. د دواړو سیاسي ډلو تر منځ یو هوکړه لیک هم لاسلیک شو چې پر اساس یې د ملي یووالي حکومت رامنځته شو. په سیاسي هوکړه لیک کې د اجرایه ریاست موده د دوه کلونو لپاره وټاکل شوه او ټینګار شوی و چې د ملي یووالي د حکومت مشران به د دوو کلونو په موده کې لویه جرګه راغواړي او وروسته له دوو کلونو به د اجرایه ریاست او حکومت د سرنوشت په اړه پریکړه کوي. اوس چې د حکومت مشران د لویې جرګې په دایرولو ونه توانیدل او د لویې جرګې د دایرولو لپاره زمینه برابره نه ده نو د واک او ځواک وږي دنوي یا موقت حکومت د جوړولو ډنډورې غږوي.

اصلاً دلته د حکومت مشروعیت باید تر پوښتنې لاندې رانشي ځکه خلکو د خپل زعیم د ټاکلو لپاره خپلې رایې وکارولې او اشرف غني د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له لوري په ۵۵ سلنه رایو ګټلو منتخب ولسمشر په توګه اعلان شوی دی. دا چې اشرف غني د هیواد د هغه حالت په درک کولو او افغانستان د نفاق کندې ته د لویدلو څخه د مخنیوي لپاره د اجرایه ریاست څوکۍ په نوم د زهرو غړپ تیر کړ نو خو په دې مانا نه ده چې د اجرایه ریاست سره د ولسمشر سرنوشت هم تړلی دی او د اجرایه ریاست مشروعیت چې له منځه ځي نو د ولسمشر به خامخا له منځه ځي. اصلاً اجرایوي ریاست پوسټ د ولسمشر په فرمان یو رامنځته شوی پوسټ دی چې ولسمشر یې د ملغا کولو صلاحیت هم لري او که وغواړي موده یې غځولی هم شي. باید وویل شي چې اجرایه ریاست له اول نه یو غیر قانوني او بې مشروعیته پوست و چې ولسمشر د یو مجبوریت له مخې د سیاسي هوکړې پر اساس رامنځته کړ. اوس چې یې د سیاسي هوکړې له مخې نیټه پایته رسیدلې ده نو ورسره باید د ولسمشر مشروعیت ته ګوته ونه نیول شي.

تله یا میزان/ 139۵

# د پاکستان بې سترګېتوب؛ په اپټا یې سترګې پټې کړې

څو ورځې وړاندې افغان ولسمشر په یوه غونډه کې پاکستان وننکوه چې د چا لارې ته اړتیا نه لري او او هڅې دا دي چې د افغانستان د جغرافیې ارزښت مالوم شي. اوس پاکستان د ولسشمر غني د یادو څرګندونو په غبرګون کې له پاکستان سره د آپټا له ترانزیټي تړونه منکر شوی دی. افغانستان او پاکستان داسې یو تړون لري چې په اساس به یې د افغان ـ هند ترانزیټ د پاکستان له لارې کیږي، خو پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وایي، د اپټا په تړون کې داسې څه نشته او پاکستان د ښه نیت له مخې د افغان ـ هند ترانزیټ ته اجازه ورکړې ده.

له دې سره سوداګرۍ وزارت د پاکستان دا اعا ردوي چې کنې په اپټا کې د افغان- هند ترانزیټ ته اجازه نه ده ورکړل شوې. د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ویاند مسافر قوقندي وایي، پاکستان د اپټا تړون تر لاسلیک وروسته د دې تړون زیاتې مادې نقض کړي. له دې وړاندې هم کله چې افغان حکومت له پاکستان سره د سوداګرۍ په ترانزیټي هوکړه کې د هندوستان د شاملېدو غوښتنه وکړه او امریکا هم د افغانستان د دې غوښتنې ملاتړ وکړ؛ پاکستان د افغان ولسمشر پر څرګندونو ناهیلي څرګنده کړه.

افغانستان په سیمه کې د خپل جغرافیوي موقعیت له مخې تولې نړۍ ته د ارزښت وړ دی ځکه که هڅه وشي افغانستان د مرکزي اسیا د پیوستون د ټکي په توګه ثابتېدای شي. د افغانستان او پاکستان تر منځ د لومړي ځل لپاره د ترانزیت هوکړه په ۱۹۶۵ میلادي کال کې شوې ده چې له هغې وروسته بیا د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واکمني پر مهال کله چې انورالحق احدي د مالیې وزیر و نوې شوه. یعنې د ۲۰۱۰ میلادي کال د جولای په ۱۸مه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اوومې اقتصادي ناستې په ترڅ کې د افغانستان او پاکستان تر منځ ترانزیټي تړون (Afghan Pakistan Transit Trade Agreement(APTTA) نوی لاسلیک شو. د دغې تړون له مخې افغانستان کولی شي چې خپل مالونه په خپلو موټرو کې تر واګه بندر پورې ولېږدوي او همدا راز د افغانستان موټرې تر ګوادر بندره پورې هم تلی شي.

اوس پوښتنه دا ده چې پاکستان ولې اپټا تړون نه عملي کوي او ولې په دغه تړون کې د هندوستان له شاملیدو ډار لري؟

که څه هم د دغه ترن د لاسلیک له ورځې پاکستان یې په نقض شروع کړې او سرغړونې یې ترې کړې دي خو په ټوله کې ویلی شو چې پاکستان د دوه هدفونو لپاره پر اپټا ترون سترګې پټوي.

لومړی : له هندوستانه ډار: دا چې پاکستان او هندوستان خپلمنځي سیاسي ترینګلې اړیکې لري نو سیاسي اړیکو یې په اقتصادي اړیکو هم اغیز کړی دی. پاکستان اوس د ستراتیژیکو او امنیتي اندیښنو له کبله په اپټا ترون کې د هندوستان له  شتونه ډار لري او د همدې اندیښنو له کبله د پاکستان واګه بندر له لارې هند ته د افغانستان صادرات او واردات ستونزمن شوي دي. دوه دلیلونه شتون لري چې پاکستان یې اړ کړی څو له هندوستانه وډار شي.

الف: د پاکستان لومړۍ وېره په دې کې ده چې هندوستان به د افغانستان او منځنۍ آسیا هیوادونو بازار قبضه کړي او پاکستان چې په اقتصادي توګه د هند په پرتله کمزوری دی، له تاوانانو سره مخ شي. له همدې امله دی چې تر اوسه پورې د افغانستان او پاکستان تر منځ یې اپټا ترانزیټي ترون وخت ناوخت نقض کړی او په ځینو مواردو یې سترګې پټې کړې دي.

ب: د پاکستان بله وېره د هندوستان له سیاسي مداخلې څخه ده. پاکستان د جنرال پرویز مشرف له وخت راهیسې پر هند ادعا لري، چې په قبایلو او بلوچستان کې د هندي استخباراتو له خوا لاسوهنې کیږي. پاکستان د بلوڅو ازادي غوښتونکو او د هندوستان له همکارۍ څخه ډاریږي. اسلام آباد اندیښنه لري چې هندوستان به له فرصت نه په ګټې اخیستنې؛ له پاکستانه د بلوڅانو په ازادي اخیستلو کې مرسته وکړي. له همدې امله هر هغه عمل او ترون چې د پاکستان په چارو کې هندوستان ته د داخلېدو اجازه ورکوي؛ پاکستان یې مخنیوی کوي.

دویم : پر افغانستان فشار  ساتل: پاکستان تل د کابل ـ اسلام آباد د سیاسي اړیکو د ترینګلتیا پر مهال له اقتصادي هوکړو سیاسي ګټه اخیستې ده نو اوس چې په وروستیو کې افغان ولسمشر د پاکستان سیاسي انزوا ته ملا تړلې او د هندوستان له لومړي وزیر نریندرا مودي سره په ګډه په هر نړیوال درېځ د پاکستان خلاف غبر اوچتوي نو پاکستان هم د دې لپاره چې په افغانستان فشار راوړي؛ د اپټا ترون نقض کوي او له واګه بندره افغاني صادراتو او وارداتو ته اجازه نه ورکوي.

تله یا میزان/ ۱۳۹۵

# د پاکستان د انزوا پر لور یو بل ګام

په داسې حال کې چې ټاکل شوې د راتلونکې نومبر میاشتې په نهمه نېټه په اسلام آباد کې د د سارک یعني د سیمه ایزې همکارۍ لپاره د جنوبي اسیا د هېوادونو د ټولنې غونډه ترسره شي؛ د افغانستان په ګډون څلور نورو هم دغه غونډه تحریم کړه. تر افغانستان وروسته هندوستان، بنګله دېش او بوتان هم د نومبر په نهمه نېټه په اسلام آباد کې ترسره کېدونکې د سارک غونډه تحریم کړې او په کې یې له برخې اخیستلو ډډه کړې ده. بوتان او هند ویلي چې په اوسنیو شرایطو کې نه شي کولی په دغه غونډه کې برخه واخلي. سارک یا د سیمه ایزې همکارۍ لپاره د جنوبي اسیا د هیوادونو د ټولنې سازمان په ۱۹۸۵ م کال د دسمبر په اتمه نېټه جوړ شو. افغانستان، هندوستان، پاکستان، بنګله دېش، بوتان، سریلانکا، نیپال او مالدیو د دغه سازمان غړي هېوادونه دي. په اسلام آباد کې د سارک په دغه غونډه کې د افغانستان په شمول د یو شمېر نورو هیوادونو د نه ګډون خبره په داسې محال کېږي چې په ورستیو کې د پاکستان اړیکې له افغانستان او هندوستان سره ترخې شوې دي او هندوستان ګواښ کړی چې پاکستان به نړیوالې انزوا ته برابر کړي.

د پاکستان د انزوا لپاره هڅې له هغه محال پیل شوې کله چې افغان ولسمشر له پاکستانه سل په سلو ناهیلی شو. افغان ولسمشر غني د کار د پیل له لومړۍ ورځې په افغان سوله کې له پاکستانه د رښتینې همکارۍ غوښتلو په خاطر دغې هېواد ته په ځینو امتیازاتو قایل شو. د پاکستانیو چارواکو پر مخ یې د کابل دروازه پرانیستله همداراز افغان ولسمشر هم دغې هېواد ته سفر وکړ او آن دا چې ویل کېږي له پاکستان سره د استخباراتي معلوماتو د شریکولو پټ تفاهم لیک هم لاسلیک شو خو لکه څرنګه چې ولسمشر ترې تمه درلوده؛ پاکستان د هغې خلاف غني په تکراري ژمنو دوکه کړ او وخت یې ضایع کړ. همدا سبب شو چې ولسمشر د پاکستان په نیت پوه شو چې له دوه مخې سیاسته لاس نه اخلي. بلاخره غني له پاکستانه د غچ اخیستلو په موخه په هر کورني او بهرني ستېج د پاکستان د اصلاح په خاطر د نوموړي هېواد د انزوا خبره راپورته کړه. په دغه لاره کې یې د هندوستان لومړي وزیر نریندرا مودي هم بشپړ ملاتړ وکړ او د پاکستان د انزوا خبره یې د امکان تر حده برابره کړه. همداراز د افغانستان او په نړیوال سیاست کې څو نورو مشهورو څېرو لکه ډاکټر زلمي خلیلزاد او وحیدالله وحید هم د پاکستان د منزوي کېدو لپاره پوره ونډه اخیستې ده.

کابو درې میاشتې کېږي چې په رسنیو کې د پاکستان د انزوا خبره ښکته او پورته کېږي خو عملاً د دغه کار لپاره کوم د پام وړ کام نه و اخیستل شوی. یوازې دومره کېدل چې افغان ولسمشر غني، د هندوستان لومړي وزیر نریندار مودي او ځینو امریکایي سناتورانو به د پاکستان خلاف غبر پورته کولو او امریکا به پر پاکستان د خپلو مرستو د بندولو ګواښونه کول. خو داسې مهم کام چې عملاً د پاکستان په انزوا کې لوی او کټور واقع شي؛ نه و پورته شوی. خو اوس چې په راتلونکې نومبر میاشت کې په اسلام آباد کې د سارک یا د سیمه ایزې همکارۍ لپاره د جنوبي اسیا د هیوادونو د ټولنې په غونډه کې افغانستان، هندوستان، بنګله دېش او بوتان د نه ګډون پرېکړه کړې؛ دا د پاکستان د انزوا لپاره لوی کام بلل کېږي. دا کار به نړیوالو او د ملګرو ملتونو امنیت شورا کې د پاکستان په اصلي څېرې بربنډولو کې ډېر مهم رول ولوبوي او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړي به دېته متوجه کړي چې سیمه ایز هېوادونه د پاکستان له لاسه په اور کې ولاړ دي او باید دغه هېواد د ترهګرو هېوادونو په لست کې شامل کړي.

افغان حکومت په اسلام آباد کې راتلونکې د سارک غونده د دې لپاره د تحریم پرېکړه د دې لپاره کړې چې حکومت د ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د پاکستان له همکارۍ بېزاره شوی دی. هندوستان خو له وخته نه ګواښ کړی و چې د پاکستان د انزوا لپاره به له هر ممکنه لارې ګټه واخلي. ممکن بنګله دېش او بوتان هم له پاکستان سره د ځینو مشکلاتو درلودو او یا د نورو کورنیو ستونزو له امله د دغې غونډې د تحریم پرېکړه کړې وي خو په ټوله کې په دغه غونډه کې د څلورو هېوادونو نه ګډون به په نړیوال سیاست کې د پاکستان باور ته دروند ګوزار وي چې دغه هېواد به سیاسي انزوا ته برابر کړي.

**تله یا میزان/ ۱۳۹۵**

# د غني او مودي هڅو رنګ راوړ

وروسته له هغې چې د افغانستان په ګډون څلور هېوادونو هندوستان، بنګله دېش او بوټان د راتلونکې نومبر میاشتې په نهمه نېټه په اسلام آباد کې د د سارک یعني د سیمه ایزې همکارۍ لپاره د جنوبي اسیا د هیوادونو د ټولنې غونډه تحریم کړه؛ پاکستان د دغې غونډې د لغوه کېدو اعلان وکړ. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د سارک سرمشریزې د ځنډیدو اعلان کړی او د هندوستان له خوا د دغې غونډې د جوړېدو پر ځند خواشیني ښودلې. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د جمعې په ورځ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلې چې د هندوستان لخوا په اسلام آباد کې په غونډه کې د نه ګډون کولو پرېکړې خواشینې کړې او دا یې د نریندرا مودي د هغو څرګندونو خلاف بللې چې د سیمې د غربت د له منځه وړلو په اړه یې کوي.

پاکستان په اسلام آباد کې په نومبر میاشت کې ترسره کېدونکې د سارک یا د سیمه ایزې همکارۍ لپاره د جنوبي اسیا د هیوادونو د ټولنې غونډه په داسې مهال لغوه کوي چې د هندوستان په ګډون له افغانستان او امریکا سره یې اړیکې خرابې شوي دي. خو پوښتنه دا ده چې پاکستان ولې د دغې ارزښتناکې غونډې د لغوه کېدو اعلان وکړ؟

پاکستان د دوه هدفونو لپاره د سارک غونډې د لغوه کېدو پرېکړه کړې ده:

۱ـ له نړیوال شرم نه ځان ساتل

پاکستان په وروستیو کې د خپلې ترهګر پالې پالیسۍ له امله په سیمه او نړۍ کې یوازې پاتې شوی دی او راتلونکی یې په انزوا کې ښکاري. د دغې هیواد په خلاف د افغان ولسمشر نه سترې کیدونکې هڅې او د هندوستان لومړي وزیر نریندار مودي سخت دریځ؛ د دې سبب شوی چې نړیوالو ته د پاکستان اصلي ترهګریزه څېره بربنده شي. اوس هڅې داسې روانې دي چې پاکستان په نړۍ کې د ترهګرپال هېواد نه بلکې د ترهګر هېواد په توګه وپېژندل شي. له همدې امله دی چې لومړی هندوستان په اسلام آباد کې د نومبر په میاشت کې ترسره کیدونکې د سارک غونډه د پاکستان د ترهګریزو کړنو له امله د احتجاج په دود تحریم کړه او ورپسې افغان ولسمشر غني هم د مودي په ننګه او د پاکستان د ترهګرې څېرې د بربنډیدا په خاطر په دغې غونډه کې ګډون رد کړ. همداشان بنګله دېش او بوټان هم ممکن په همدې خاطر چې د پاکستان

اصلي څېره په نړۍ کې افشا کړي او يا د نورو ستونزو له امله د سارک غونډه تحريم کړې وي. خو په ټوله کې په لويه کچه په ياده غونډه کې د څلورو هېوادونو نه ګډون د پاکستان لپاره يو نړيوال شرم و چې اوس ځان ته د اورو پوزې د ايښودو په خاطر يې ياده غونډه لغوه کړه.

۲ـ له هندوستان او نورو مخالفو هېوادونو سره مخالفتونه يو طرفه کول

د راپورونو له مخې د ملګرو ملتونو سرمنشي بانکي مون ويلي چې د کشمير په لانجه کې به د هندو او پاکستان تر منځ منځګړيتوب وکړي. څو ورځې وړاندې په ملګرو ملتونو کې د پاکستان سفيرې مليحې لودهي هم ويلي و چې وضعيت په اټمي وسلو د دوو سمبالو هېوادونو تر منځ په بيړه د خرابېدو په لور روان دی او د ملګرو ملتونو سرمنشي دې په برخه کې مداخه وکړي. اوس بانکي مون د دواړو هېوادونو منځګړيتوب ته چمتووالی ښودلی او له دواړو هېوادونو يې غوښتي چې له صبر او زغمه کار واخلي. اوس پاکستان د دې لپاره چې له هندوستان سره د مخالفت مساله يو طرفه شي نو د ملګرو ملتونو منځګړيتوب ته انتظار باسي. کله چې د دوی تر منځ سوله وشي او تر منځ يې اړيکې عادي حالت ته راوګرځيږي نو پاکستان به بيا په دغه هېواد کې د سارک غونډې د جوړېدو وړانديز کوي.

له پاکستان سره د هندوستان اړيکو په بيرته عادي حالت ته راتګ سره به د کابل ـ اسلام او اسلام ـ واشنګټن تر منځ اړيکو کې هم ښه والی راشي. نو پاکستان اوسمهال د همداسې يوې موقعې په انتظار دی چې د سيمې له هېوادونو سره اړيکې بيرته لومړني حالت ته راوګرځي او وروسته به بيا په دغه هېواد کې د سارک يا د سيمه ايزې همکارۍ لپاره د جنوبي اسيا د هېوادونو د ټولنې د غونډې جوړېدو لپاره وړانديز وکړي.

تله يا ميزان/ 1395

# د کرزي سپکاوی؛ د نورو عبرت

تېره ورځ د لويې جرګې په خيمه کې د جمعيت اسلامي ګوند د پخواني رهبر برهان الدين رباني تلين غونډه کې د پخواني ولسمشر حامد کرزي پلان شوی سپکاوی وشو. غونډه هغه مهال ګډه وډه شوه چې پخواني جهادي مشر عبدالرب رسول سياف هڅه وکړه چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي پر ضد شعارورکوونکي غلي کړي خو بريالی نه شو. د غونډې په پيل کې هم د کرزي خلاف شعارونه واورېدل شول خو کله چې پخوانی ولسمشر ستېج ته پورته شو شعارونه او ګډودي لا زياته شوه. شعار ورکوونکو د کرزي د وينا د اخلالولو هڅه وکړه خو کرزي په پوره حوصله او سالم سياست ځواب ورکړ. کرزي هغه شخص په خپل غېږ کې د مينې په دود ونيوه چې پر نوموړي يې د مرګ شعارونه ورکول او هغه هم ترې ښښنه وغوښتله. کرزي په دغې کار سره له يوې خوا دښمن ته ستره ماتې ورکړه او د خپلې لويې او سياسي حوصلې ښکارندويې يې وکړه او له بلې خوا يې خلکو ته وښوده چې بهرني لاسونه افغانان د افغانانو پر ضد کاروي.

دا لومړی ځل نه دی چې په دغې تلين کې د مشرانو او سياسي رهبرانو سپکاوی کيږي بلکې تېر کال هم د پخواني جهادي مشر حضرت صاحب مجددي سپکاوی وشو او وينا ته پرېنښودل شو او سږ کال د پخواني ولسمشر حامد کرزي سپکاوی وشو. که څه هم کرزي د نوموړي سپکاوی د بيان ازادي او د دښمن پلان شوې دسيسه وبلله خو پوښتنه دا ده چې په داسې غونډو کې د ملي مشرانو او رهبرانو سپکاوی ولس او رهبرانو ته څه سبق ورکولی شي؟

## رهبرانو ته عبرت

په ياده غونډه کې کرزي ته سپکاوي کوونکي هماغه لنډغران او بې فرهنګه خلک و چې همدې کرزي په خپله ديارلس کلنه دوره کې د واک پر ګډۍ کېنول، نظامي رتبې يې پرې ليلام کړې، پوځي اکاډمۍ يې په نومونو ورته ونومولې، وژل شويو قومندانانو ته يې د اتلانو او شهيدانو لقبونه ورکړل او د لمانځلو ورځې يې ورته ځانګړې کړې او همداشان دوی هماغه کسان دي چې همدې کرزي يې د هر غل او ډاکو په نومو ورته څلور لارې، چوکونه او د زده کړې مرکزونه ونومول. خو نتيجه يې دا شوه لکه د لړم بچيانو په شان راپاڅېدل او بېرته يې پر همدې کرزي خوله ولګوله. دوی کرزي ته وښودله چې نيکي يې له احسان هېروونکو سره کړې ده.

د کرزي سپکاوی نورو رهبرانو او په ځانګړي توګه ولسمشر غني ته عبرت دی چې باید د کرزي په پل ، پل کېنږدي او هغو ډلو ته امتیازات ورنکړي چې سبا یې پر سر د ملنګ ډانګ جوړېږي. ولسمشر غني باید په دې پوه شي چې د زوروزو خولې په امتیاز او واک ورکولو نه بندیږي او باید سیاسي ګډه خوله په سیاسي سوک سمه شي. ولسمشر باید سر له نه له دغو لنډغرانو څخه د نظام تصفیه او چاڼ شروع کړي او پرېنږدي چې لکه په لندن کې د «سلطنتي متحدو خدماتو انستیټوت» ته د وینا پر مهال چې یې سپکاو وشو؛ خدای مکړه سبا یې په بله غونډه کې ورته پېښه رامنځته شي.

## ولس ته عبرت

بیا هم وایم چې د تیرې ورځې په غونډه کې د کرزي سپکاوی؛ مشرانو ته د سپکاوي لومړۍ بیلګه نه ده بلکې له دې وړاندې تېر کال هم په همدې تلین او په همدې خېمه کې د پخواني جهادي مشر حضرت صاحب سپکاوی وشو، له هغې وړاندې د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال په همدې خیمه کې د شپې پر مهال د همدغو لنډغرانو لخوا د ولسمشر کرزي انځور څیرې او تر پښو لاندې شو، او همداشان د روان کال په غوایې میاشت کې په لندن کې د «سلطنتي متحدو خدماتو انستیټوت» ته د ولسمشر غني وینا اخلال شوه او سپکاوی یې وشو. په دغو ټولو پېښو کې د ځینو ځانګړو کړنیو او بهرنیو کړیو لاس و چې غوښتل یې د افغانانو په لاس د افغانانو سپکاوی وکړي. ولس باید پوه شي چې دښمن په هره جامه کې هڅه کوي چې د دوی له سپیڅلو احساساتو ګټه واخلي او د افغانانو تر منځ د نفاق او ورشیندي. ولس باید پخپله د دښمانانو دسیسې شنډې کړي او پرېنږدي چې د دوی په خپلو لاسونو د دوی خپلې پښې په تبر ووهي. ولس باید هوښیار واوسیږي چې دښمن یې د خپلو ګټو په خاطر د افغانستان د تاریخي ویاړونو او ارزښتونو پر ضد ونه کاروي.

تله یا میزان/ 1395

# د کندز په بیا سقوط کې څوک مرسته کوي؟

تېره ورځ رسنیو، ځایي خلکو او د کندز د ولایتي شورا غړو یو ځل بیا د وسله والو طالبانو په لاس د دغه ښار د نیولو خبرونه خپاره کړل. پرون د ولایتي شورا غړو ویل چې د کندز ښار د مرکزي چوک په ګډون مهمې سیمې وسله والو طالبانو نیولې دي. بل لور ته وسله والو طالبانو هم د خبرپاڼې په خپرولو ویلي و چې په کندز ښار کې جګړه روانه ده او د ښار څو پوستې یې تر خپلې ولکې لاندې راوستي دي. د ځایي اوسیدونکو په وینا تېره ورځ مازیګر ۴ بجې د دولت مخالف وسله وال له دریو خواو څخه د کندوز ښار ته ننوتل، د کندوز د ښار په داخل کې له مخالفو وسله والو سره هیڅ مقاومت ونه شو. له دې وړاندې طالبانو د تېر کال د سپتمبر په ۲۸ مه نیټه هم کندوز ښار ونیوه، دوه ورځې یې په کنټرول کې و او بالاخره له ټول ښار او شاوخوا سیمو څخه یې د اکتوبر په ۱۵ مه وایستل شول.

اوس پوښتنه دا ده چې یو ځل بیا ولې او د کومو دلایلو له مخې د وسله والو طالبانو لاسته پرېوځي؟

کابو همدغه ورځې شپې وې چې تیر کال هم د کندز ښار د وسله والو طالبانو په لاس سقوط وکړ. حکومت د ښار د دغې پېښې د څېړنې لپاره کمیسیون وټاکه څو معلومه کندز ولې د طالبانو په لاس سقوط وکړ. خو لکه د نورو کمیسیونو په شان د یاد کمیسیون پایلې هم له ولس سره شریکې نه شوې او خبره په حکومت کې پټه پاتې شوه. خو د شنونکو په باور چې تیر کال کندز د امنیتي ځواکونو له ناغیرۍ، د کندز په امنیتي پرسونل کې د نامسلکي کمارنې، په کندز کې د شخصي ملېشو د شتون او د ځایي چارواکو لخوا د سیمې له خلکو سره د توپیري چلند پر اساس سقوط شوی و. سږ کال هم همدا لاملونه دي چې کندز یې یو ځل بیا د طالبانو تر منګولو ورسولو او یا د رسولو هڅه یې کوي. د دغو لاملونو سربېره یو شمېر نور لوی سیاسي لاملونه هم شته چې کندز یو ځل بیا سقوط ته برابروي.

لومړی؛ کورنی اړخ: د کندز په سقوط او یا سقوط ته په برابرولو کې لومړی اړخ کورنی اړخ دی چې په کې یو شمېر د نظام دننه چې د پردیو ګټو تامینولو لپاره کار کوي شامل دي، همداشان د زورواکانو خپلسرې ملیشې هم په لویه کچه د دې سبب شوی دی چې د کندز په سقوط کې مرسته وکړي. خلک د ځایي ملېشو له ظلمونو او وحشتونو په تنګ راغلي دي، د کندز ځایي خلک د (اوبو اخیستی ځک ته هم لاس اچوي) متل په مصداق د همدغو ملېشو له شره د خلاصون لپاره له وسله والو مخالفانو سره مرسته کوي او

همدا وجه ده چې په ډېر کم شمېر وسله والو تیر کال کندز ښار سقوط کړ. د کندز د سقوط د کورني اړخ بله بېلګه په امنیتي سکتور کې د نا اهله او د پنځوس ـ پنځوس وېش پر اساس ټاکل شوي غیر مسلکي چارواکي دي چې تیر کال د همدوی د کم تجربه توب له مخې کندز ښار سقوط وکړ. بل دلیل یې د حکومت لخوا د مکافاتو او مجازاتو نه شتون دی. تیر کال د همدغو کم تجربه او نامسلکي اشخاصو د بې غورۍ له وجې کندز سقوط وکړ خو حکومت د مجازاتو په برخه کې یوازې په والي بسنه وکړه. نور چارواکي لکه امنیه قوماندان، ولسوال او د ولسوالیو امنیه قوماندانو چې په امنیت کې مهمه برخه لري؛ په خپل حال پاتې شول. اوس چې یو ځل بیا د سقوط خبرې کیږي علت یې همدا ناکاره چارواکي دي.

دویم؛ بهرنی اړخ: تل ویل کیږي چې په افغانستان کې روانه جګړه د پردیو کټو لپاره په افغانانو تحمیل شوې ده او استخباراتي جګړه ده. رښتیا هم جګړه استخباراتي ده د پردیو د کټو لپاره ده او قیمت یې افغانان پرې کوي. استخباراتي جګړه په دې معنا چې دلته لوی قدرتونه خپلمنځي سیالۍ ترسره کوي. دا لوی قدرتونه افغانستان د تجربو د لابراتوار او د بې سرپوخه دېګ په شکل بولي. هر لوی قدرت دلته په افغانستان کې د خپل سیاسي رقیب هېواد د ځپلو لپاره یوه جنګي ډله جوړه کړې او په اوږد مهال کې یې خپلو اهدافو ته ځان رسولی دی. د کندز اوسنۍ ناامنۍ هم د روس، امریکا او پاکستان تر منځ همداسې یوه لوبه ده. د هېواد په شمال کې روس طالبانو ته وسلې ورکوي او د افغان حکومت او امریکایې قواوو په مقابل کې یې جنګوي. روسیه فکر کوي چې داعش ډله د دوی د ځپلو لپاره جوړه شوې چې د منځنۍ آسیا له لوري به روسیې ته رسول کیږي نو په همدې خاطر روسیه د طالبانو نظامي ملاتړ کوي. روسیه د طالبانو په وسیله له یو اړخه په افغانستان کې د امریکا حضور او امریکایې کټې ننګوي او له بل اړخه طالب د داعش د تضعیف نقطې په توګه کاروي. په همدې خاطر د وسله والو طالبانو پوځي ملاتړ ته یې ملا ورتړلې ده. که داسې نه وي نو یو محدود شمېر وسله وال طالبان څنګه کولی شي چې د کندز په ټول ښار له څو لارو حمله وکړي او له زرګونو افغان امنیتي ځواکونو څخه د کندز کنټرول ترلاسه کړي؟ که له طالب سره د روسیه او پاکستان مرسته نه وي نو طالب څنګه کولی شي د څو لسیزو جګړو لګښت پوره کړي او مهمات ولري؟

تله یا میزان/ ۱۳۹۵

# ډالرې راروانې دي؛ خو له غلو يې څنګه ساتلی شو؟

په داسې حال کې چې د بروکسل له غونډې ورانديې اوازې وې، چې افغانستان د بروکسل کنفرانس ته کومه لاسته راوړنه نه لري او ښايي له افغانستان سره د یوه کال له پاره د ۳ میلیاردو ډالرو مرستو ژمنې وشي، ولسمشر غني په دې توانیږي چې نړیوالو قناعت ورکړي او مرسته کوونکي هیوادونه له افغانستان سره لا ډیرو مرستو ته چمتو کړي. په دغه کنفرانس کې د نړۍ مرستندویه هېوادونو او نړیوالو سازمانونو له افغانستان سره د راتلونکو څلورو کلونو له پاره ټولټال ۱۵،۲میلیارده ډالره مرسته اعلان کړه. ولسمشر محمد اشرف غني غونډې ته په خپله وینا کې وویل، چې افغانستان فساد سره د مبارزې، اقتصادي ودې او بشري حقونو برخه کې پرمختک کړی دی، خو ټینګار یې وکړ، چې دغه هېواد اوس هم د نړیوالې ټولنې قوي ملاتړ ته اړتیا لري.

د بروکسل په کنفرانس کې نړیوالو له افغانستانه خپل پراخ ملاتړ څرګند کړ. د جاپان هېواد د پناه غوښتونکو او په کور دننه د بې ځایه شویو کسانو له پاره د ۵۰۰ میلیونه ډالرو تر څنګ افغانستان کې د پرمختیا له پاره د نورو ۴۰۰ میلیونو ډالرو مرستې ژمنه وکړه. همدارنګه ترکیې هېواد هم ۶۰۰ میلیونه ډالرو مرستو وعده وکړه. پاکستان ۵۰۰ میلیونه، سعودي عربستان ۱۰۰ میلیونه او ډنمارک به په راتلونکو څلورو کلونو کې له افغانستان سره ۲۶۰ میلیونه ډالره مرسته کوي. دغه راز ناروې هېواد ژمنه کړې، چې له افغانستان سره به د څلورو کلونو په موده کې هر کال د ۷۸ میلیونو ډالرو مرسته کوي. له دغې کنفرانس وړاندې هم نړیوالې ټولنې په پراخه کچه له پخواني افغان حکومته ملاتړ څرګند کړی و او په میلیاردونو ډالره پیسې په تېرو څوارلسو کلونو کې افغانستان سره مرسته وشوه خو له بده مرغه چې دلته پرې چور ګډ شو او تالا و ترغې شوې. اوس پوښتنه دا ده چې د نړیوالو تازه مرستې به څنګه او چېرته په مصرف ورسول شي؟

په افغانستان کې د افغانانو د پرمختک د دښمنانو له پراخو هڅو سره ـ سره بیا هم افغان ولسمشر غني په دې توانیږي چې د خپل خوار ولس د پرمختک او هوساینې لپاره د نړیوالو مرستې جلب کړي. د هیواد د پرمختک او ابادۍ دښمنانو ډیرې هڅې وکړې چې د بروکسل له کنفرانسه مخکې په افغانستان کې له هره پلوه اوضاع ترینګلې کړي او په بروکسل کې نړیوالو ته د افغانستان اهمیت کم کړي. د افغانستان تاریخي دښمن ډیره هڅه وکړه چې په امنیتي او سیاسي برخه کې افغان حکومت ته سختې ننګونې جوړې کړې څو په بروکسل کې نړیوالو ته د کوټ نیونې ځای پیدا کړي خو ولسمشر غني په ډیرې زیرکۍ د دښمن شوخې موخې شنډې کړې. ګاونډیانو په تېره ایران او پاکستان له افغانستان سره د دغو مرستو د مخنیوي لپاره ډیرې هلې ځلې

وکړې، پاکستان او روسیه وسله ولا طالب ته د پخوا په پرتله د جنګ روحیه ډېره ورکړه، نوې او عصري وسلې یې ورکړې او په افغانستان کې کډوډۍ جوړولو ته یې وهڅوو.

ایران بیا د خپلو کوډاکیانو په لاس افغان حکومت ته په سیاسي برخه کې ستونزې جوړې کړې. یو شمېر افغان دښمنه کړیو ته په میلونو ډالره ورکړل څو افغان حکومت له قومونو تر منځ په دوه کوني چلند تورن کړي. دوی یې په ډالرو وپرسول د حکومت پر ضد په کور دننه او بهر د پراخو مظاهرو پلان یې ورکړ. که څه هم دغو کړیو د ایران څخه د ورکړل شویو پیسو د هضمولو لپاره په بروکسل کې هم مظاهرې وکړې خو ولسمشر غني په ډېرې هوښیارۍ حالات قابو کړل. د ولسمشر سپېڅلې مبارزه او لاېي کرۍ رنګ راوړ او د هیواد دښمنه کړیو شوم پلانونه یې شنډ کړل. ولسمشر غني له خپلې تجربې، علمیت او پوهې څخه په ګټه اخیستنې او د خپلو ګټورو اقتصادي پلانونو په وړاندې کولو سره د نړیوالو قناعت حاصل کړ او بلاخره یو ځل بیا یې دې کړیدلې ولس ته په میلیاردونو ډالرو مرستې ترلاسه کړې.

## چېرته باید ولګول شي؟

لکه څرنګه چې هم د نړیوالې ټولنې او هم د افغان ولس غوښتنه ده؛ یادې پیسې باید په داسې توګه ولګول شي چې د افغانستان لپاره د دایمي هوساینې سبب شي، مرستې باید په زیربنایي پروژو ولګول شي، دا مرستې باید د افغانستان لپاره په اوږد مهال کې ګټور ثابتې شي او داسې نه شي چې د ټېر حکومت په شان په موقتي ډول د نمایشي پرمختګ لامل شي. مرستې باید د افغانستان د په ځان بسیاینې سبب شي، پیسې باید له فساد سره په مبارزه کې، د خلکو لپاره په ښې حکومتولۍ، دولتي اصلاحاتو، د امنیتي لیکو د پیاوړتیا، او تر ټولو اړین دا چې یادې مرستې باید د کډوالو د راستنېدونکو لپاره ژوند او کار د شرایطو برابرولو برخه کې ولګول شي.

## له غلو یې څنګه ساتلی شو؟

دا چې څنګه دغه ډالري مرستې له تاراج او چور څخه ساتلی شو؛ په دغې کار په خپله ولسمشر غني ښه پوهیږي، غني باید د دغو پیسو څار په خپله ولکه کې واخلي او حکومتي غله او داړه ماران دې ورته خوا ته هم نیږدې نه پرېږدي. غني باید د خپلې تجربې له مخې یادې پیسې د افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره په خپلو لاسونو وکاروي او نه دې پرېږدي چې د هر غل او ډاکو نظر پرې ولګېږي.

تله یا میزان/ ۱۳۹۵

# فرمان صادر شو؛ خو څوک به يې عملي کړي؟

که څه هم فغاستان اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په ۲۰۱۴ کال کې توشېح او نافذ کړ، خو لا هم په افغانستان کې د رسنيو د ملاتړ ټولنې شکايت لري چې حکومتي چارواکي په وخت سره رسنيو او خلکو ته معلومات نه ورکوي. د ياد قانون له توشيح او انفاذ کابو دوه کاله تيرېږي خو تر اوسه پورې د حکومتي بنسټونو له لوري له رسنيو سره د معلوماتو شريکولو ډېر ستونزې لري. په همدې حال کې تېره ورځ افغان ولسمشر غني نوی فرمان صادر کړ چې له مخې يې ټول چارواکي مکلف دي چې د خپلو چارو په اړه هر ورځ خپلو وياندويانو ته معلومات ورکړي چې رسنيو او خلکو ته يې ورسوي او همدغه راز حکومتي وياندويان هم بايد په منظم ډول له رسنيو سره په اړيکه کې وي. ولسمشر غني د کابينې وزيرانو او نورو چارواکو ته لارښونه کړې چې د يو معين په کېدون درې لوړ پوړي چارواکي دې وټاکي چې له خلکو او رسنيو سره په وخت سره معلومات شريک کړي او همدغه راز د دغو چارواکو ټول تماسونه دې هم بايد خپاره شي.

که څه هم د ولسمشر دغه نوی فرمان معلوماتو ته د لاسرسي قانون په عملي کيدو کې يو مهم قدم بللی شو خو په ټوله کې د عملي کيدو په اړه يې ستونزې او انديښنې شتون لري. که څه هم معلوماتو ته د لاسرسي قانون دوه کاله وړاندې توشيح او نافذ شوی دی خو عملي شوی نه دی. اوس هم په ډيری برخو کې حکومتي چارواکي له رسنيو له معلوماتو ورکولو ډډه کوي. دا چې ولې د دوو کالو په موده کې معلوماتو ته د لاسرسي قانون په سمه توګه نه دی عملي شوی او د نوي فرمان د تطبيق پر وړاندې کومې ستونزې شتون لري؛ دلته پرې رڼا اچوو. په ټوله کې ځينې لوی لاملونه شته چې د ياد قانون په عملي کيدو کې يې خنډ منځته کړی دی.

۱ـ د محرمو او نامحرمو معلوماتو نه پېژندل:

دا سمه ده چې ځينې معلومات دي چې بايد له رسنيو او خلکو محرم او پټ وساتل شي خو دلته د اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په نه تطبيق کې لويه ستونزه هم همدا ده چې چارواکي هغه معلومات  چې بايد له خلکو او رسنيو سره شريک شي؛ په محرمو اسنادو کې حسابوي. دوی يا خو د محرمو او نامحرمو اسنادو تر منځ تفکيک نه شي کولی او يا هم په لوی لاس لټې کوي او معلومات له رسنيو او خلکو پټوي. دلته داسې يوه مرجع او قانون شتون نه لري چې محرم او نامحرم معلوماتو ته يو معيار وټاکي څو رسنۍ او دولتي چارواکي وپوهيږي

چې محرم کوم دي او نامحرم کوم. همدا ستونزه ددې لامل شوې ده چې معلوماتو ته د خلکو لاسرسي قانون تطبیق نه شي.

۲ـ د قانون ماتونې فرهنګ:

د افغانستان د ټولو ستونزو لوی لامل له قانونه ځان لوړ ګڼل، قانون ځان ته تابع کول او قانون ماتونه ده. دلته که هر قانون نافذ شي یوازې د کاغذ پر مخ پاتې کېږي او یا هم په ټیټه کچه چارواکو او یا هم په عامو او کمزورو خلکو تطبیقیږي. دلته چارواکي ځانونه له قانونه لوړ ګڼي او قانون ورته معیار نه دی. له بده مرغه همدا ستونزه د دې لامل شوې ده چې لکه د نورو قوانینو په څېر ، معلوماتو ته د لاسرسي قانون هم بې ارزښته پاتې شي او عملي نه شي. همدا د قانون ماتونې فرهنګ په اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په عملي کېدو هم سیوری غوړولی دی.

۳ـ د رسنیو لخوا توپیري چلند:

له بده مرغه چې دلته په افغانستان کې رسنۍ تر ډېره ګوندي، قومي او سمتي بڼه لري. دوی تر ډېره د ولس پر ځای یو ګوند، قوم او سمت ته وفاداره وي او د همدوی اړوند خبرونه خپروي. که د هېواد په یوه برخه کې حالات ترینګلي وي او په خلکو یې وحشت خپور وي خو چې د دوی د ګوند، سمت او قوم پورې اړوند نه وي؛ په اړه یې معلومات نه خپروي. همدا لامل شوی دی چې معلوماتو ته د لاسرسي قانون چې ټول هېواد او د ټول ولس معلومات په بر کې نیسي؛ په سمه توګه عملي نه شي. همداراز نه یوازې رسنۍ په ګوندو او ډلو ټپلو ویشل شوي دي بلکې چارواکي هم په ورته ستونزه کې شریک دي. چارواکي هم په ډلو ټپلو پورې تړلي دي. دوی هغه معلومات چې د ګوند او ډلې په خلاف یې وي؛ له رسنیو سره نه شریکوي. همدا دلیل دی چې معلوماتو ته د لاسرسي قانون یوازې د کاغذ پر مخ پاتې شي. حکومت ته په کار ده چې یادو ټولو ستونزو ته په کتو د معلوماتو ته د لاسرسي قانون د عملي کېدو لپاره یوه ځانګړې کړنلاره جوړه او له رسنیو او چارواکو سره شریکه کړي.

تله یا میزان/ 139۵

# کروړ پتي غريبان

په داسې حال کې چې په اوس وخت کې افغانستان ۸۰ سلنه برېښنا له ايران او د منځنۍ اسيا د دريو ګاونډيو تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان څخه دغه هېواد ته واردوي؛ يو شمېر بنکرور په ميلونونو افغانۍ د برېښنا شرکت څخه پوروړي دي. د افغانستان د برېښنا شرکت چارواکو د دوشنبې په ورځ د خپلو ۷۳ پوروړو د نومونو يو ليست خپور کړ چې په کې د افغان حکومت برحال او د پخواني لوړپوړو چارواکو د نومونو سربېره د ملي شورا د يو شمېر غړو او زورواکو نومونه هم شامل دي. جالبه يې دا ده چې په دې ليست کې د ژونديو زورواکانو تر څنګ بنکرور مړي هم ياد شوي چې په مړينه يې هم په لکونو افغانيو برېښنا مصرف کړې او پوروړي دي.

د برېښنا شرکت له لوري په خپور شوي ليست کې مهم چارواکو  نومونه چې په ميلونونو او لکونو پوروړي دي؛ د جنرال عبدالرشيد دوستم ۳۴ ميلونه افغانۍ، کريم خليلي څه باندې ۵ ميلونه افغانۍ، عبدالرب رسول سياف نيږدې دوه نيم ميلونه افغانۍ، ملا تره خيل ۶۰۰۰۰۰ افغانۍ، لالی حميدزی څه د پاسه ۶۰۰۰۰۰ افغانۍ او عبدالرحيم ايوبي نږدې ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ پوروړي ياد شوي دي. دغه شرکت وايي چې يوازې په کابل کې د دولتي ادارو په ګډون يو شمېر کسان چې سوداګريزې ادارې او شخصي موسسې هم په کې شاملې دي له دغه شرکت څخه څه باندې درې مليارده او درې سوه پنځه لس ميليونه افغانۍ پوروړي دي.د برېښنا شرکت مسولين وايي، چې ډېر ځله چې تخنيکي کارکوونکي يې د يو شمېر پوروړو د برېښنا د مزو د پرې کېدو لپاره استولي د زورواکو له خوا وهل او ډبول شوي او بېرته شړل شوي دي.

د پوروړو په ياد شوي ليست کې ټول هغه نومونه ليدل کېږي چې په اوسط ډول يې ورځنۍ عايد له لکونو افغانيو اوړي. دوی داسې خلک دي چې نورو ته د حرامو او بيت المال په خوړولو باندې تېنګار کوي خو په خپله پرې سرفه نه کوي. ياد  شوي قرضدار ډېری هغه خلک دي چې ځانونه د دين خادمان ګڼي او په دولت کې د فساد له امله نيوکې کوي. دوی هغه څوک دي چې ځانونه د خلکو رښتيني استازي بولي او د همدغې ولس پر سر له دولته معاشونه اخلي او بلاخره دوی هغه څوک دي چې له خلکو سره د مرستې بنسټونه لري  خو نه يوازې دا چې له دولت سره مرسته نه کوي بلکې دولت يې چور کړی دی او تالان ته يې ناست دي. او په دوی کې هغه خلک هم شته چې يوي سيمې ته د برېښنا د لېږد په خاطر سترې مظاهرې

کولی شي. خو پوښتنه دا ده چې له دومره بډايې سره ـ سره بيا هم ولې دوی د برښنا بلونه نه ورکوي؟ ستونزه په برښنا شرکت کې ده او که دا خلک زورور دي چې د چا زور پرې نه رسيږي؟

ځواب روښانه دی. هر څه چې خوسا شي نو مالکې پرې شيندل کيږي خو کله چې مالګه خوسا شي نو بيا پرې کول په کار دي؟ معنا دا چې دلته خبره په ښکرورو کې ده، هغه ښکرور چې هميشه يې ځانونه له فساده پاکې کوترې بللې دي. هميشه يې په دولت کې د فساد د شتون له امه ګواښونه کړي دي او خبره د هغه چا ده چې د ولس د زعامت نغارې وهي. خبره هم د چارواکو او زورواکو ده. کله چې چارواکی، رهبر او د ولس استازی د بيت المال چور ته ناست وي نو له عام ولس نه څه ګيله په کار ده؟

همداراز د برېښنا شرکت هم پړ دی، دا شرکت دومره بې کاره او بې کفايته چې د خپلو عوايدو په راټولو کې هم ناکام پاتې دی. د برښنا شرکت مسولين په دې نه دي توانيدلي چې له دغو خلکو خپل حق وغواړي. کمې برښنا شرکت کولی شول چې په دغه خلکو چې د برښنا بلونه يې نه دي ادا کړي؛ برښنا قطع کړي اما دا کار يې يا له ډار او يا وظيفوي غفلت له امله نه دی کړی. باوري يم که يو ځل يې په يو نفر د بل د نه تحويلولو په صورت کې برښنا قطع کړی وای نو راتلونکې کې به بيا هيچا د برښنا بل په تحويل کې ځنډ نه وی کړی.

د يادې ستونزې د حل لاره همدا کيدلی شي چې د برښنا شرکت خپل پوروونه د محکمې له لارې واخلي. په رسنيو کې په همدې مورد بحثونو کې کډون وکړي، د قرضدارو نومونه افشا کړي او د خبري کنفرانسونو له لارې خپلې لاسته راوړنې له خلکو سره شريکې کړي. ولسمشر بايد په خپله د دغې قضيې د حل لپاره لاس په کار شي. په دې معنا ولسمشر چې د شپې په يوولس بجو شفاخانو ته تللی شي، امنيتي حوزې کتلی شي او بيا له برښنا شرکت نه ليدنه نه شي کولی؟ حتماً يې کولی شي، ولسمشر بايد په خپله له دغه شرکته ليدنه وکړي او هغه پوروړي چې ښکرې يې کړي دي او پوروونه نه ورکوي؛ بايد ښکرې يې په قانوني لحاظ اوباسي. ولسمشر بايد په خپله لاس په کار شي.

تله يا ميزان/ ۱۳۹۵

# لټانو ته د خطر زنګ؛ غني بیا اصلاحات شروع کړل

تېره شپه یو ځل بیا ولسمشر غني په کابل کې په ناڅاپي ډول د عامې روغتیا وزارت اړوند د دوه روغتونونو څخه لیدنه کړې، چې په په دندو کې د بې غورۍ او ناسم وضعیت له امله یې یو شمیر لوړ رتبه کسان له دندو کوښه کړي دي. غني تېره شپه ناوخته په ناڅاپي ډول د وزیر محمداکبرخان او اندراګاندي (صحت طفل) روغتونونو ته ورغی، د یادو روغتونونو د عمومي وضعیت د ارزونې تر څنګ یې د بستري ناروغانو د حالت پوښتنه وکړه او پایوازانو سره یې هم وکتل. غني لومړی د وزیر محمد اکبر خان روغتون څخه لیدنه وکړه چې په کې کاري وضعیت، نظافت او مدیریت په ښه توګه نه و ترسره شوی. نوموړي ویلي د روغتون له وضعیت څخه سم خبرونه وړاندې کېږي، په داسې حال کې چې له نېږدې څخه وضعیت د خوښۍ وړ نه دی. غني وویل، باید ټولې مقررۍ او منفکۍ د قانون په اساس تر سره شي او ټینګار یې وکړ چې په یادو روغتونونو په غیر قانوني توګه ټول مقرر شوي ټول کسان به له دندو څخه کوښه شي.

دا لومړی ځل نه دی چې ولسمشر په ناڅاپي ډول له ممو ځایونو لیدنه کوي او په کې لټ او ناغیره چارواکي له دندو کوښه کوي؛ بلکې څو ورځې وړاندې د کابل ښار له نهمې امنیتي حوزې د ناڅاپي لیدنې پر محال یې د یادې حوزې د مسوولینو دندې ځنډولې وې. د پولیسو نهمې امنیتي حوزې ته د ولسمشر د ورتلو پر محال یو شمېر مسوولین د حوزو د اصولو او لوایحو د تنظیم چارو خلاف په خپلو دندو کې موجود نه وو. غني چې یاد وضعیت ولید پرته له ځنډه یې د حوزې د لوړ رتبه مامورینو دندې وځنډولې او ټینګار یې وکړ چې پولیس باید د خلکو خدمتګار او ویښ وي چې خلک د شپې ارام ویده شي. نه داچې پولیس خوبونه ووهي. همداشان ولسمشر د ملي یووالي حکومت د کار په لومړیو ورځو کې هم ورته ناڅاپي لیدنې کولې چې تر ډېره د خلکو له کرم هرکلي سره مخامخ شوې وې.

د ولسمشر یاد اقدام د ستایلو وړ دی او په ترسره کولو سره به یې په دولتي او نادولتي ادارتو کې ډېر اصلاحات رامنځته شي. په دغه کار سره د ولس او دولت تر منځ ایجاد شوی واټن هم لمنځه ځي، په حکومت د خلکو باور زیاتیږي، اداري اصلاحات رامنځته کیږي او په دولتي او نادولتي ادارو کارکوونکو کې د مسولیت

پېژندنې حس راژوندی کېږي. خو یوه خبره چې اړینه ده هغه په دوامداره توګه له ټولو دولتي او نادولتي ادارتو څخه لیدنه او ارزیابي ده. ولسمشر باید په همدې له څو ادارو څخه په لیدنې بسنه ونه کړي. بلکې ډېری داسې لوړې ادارې شته چې جدي اصلاحاتو ته اړتیا لري. زمونږ ځیني چارواکي د زور مسلمانان دي، تر هغې چې ورپسې کوتک راوانخیستل شي؛ خپل مسولیت نه پېژني او په دندو کې غفلت کوي.

ولسمشر غني ته په کار ده چې له دې وروسته له لوړپوړې دولتي ادارې وزارت، ریاست او معینیت څخه نیولې آن تر یوې کوچنۍ ادارې پورې ناڅاپي لیدنه وکړي او په ادارتو کې موجوده لټان له دندو ګوښه کړي. خلک له ولسمشر غني نه تمه لري چې خپل دغې اصلاحي کار ته دوام ورکړي او له لویې ښارنوالۍ هم لیدنه وکړي چې د پراخ فساد د شتون ادعا پرې خلک لري، غني باید له سترې محکمې لیدنه وکړي، له بهرنیو چارو وزارت لیدنه وکړي، له کورنیو چارو وزارت لیدنه وکړي، له دفاع وزارت لیدنه وکړي، له پوهنې وزارته لیدنه وکړي، له ګمرکاتو لیدنه وکړي، له مستوفیت لیدنه وکړي، له کابل ښاروالۍ لیدنه وکړي، له خصوصي پوهنتونو لیدنه وکړي، له ثبت احوال نفوسو ادارې لیدنه وکړي او هغه لټان او په دندو کې فساد کوونکي چارواکي له دندو ګوښه کړي چې څوکۍ یې په انحصار کې نیولې خو د کار یې درک نشته.

ولس د ولسمشر غني د دا ډول اصلاحي کارونو پراخ ملاتړ کوي او ترې هیله لري چې له ټولو دولتي او نادولتي ادارو څخه خپلو کتنو ته دوام ورکړي. باوري یو چې په یادګار سره به یې په ډېری ادارو کې اصلاحات رامنځته شي، چارواکي به خپل مسولیت ته متوجه شي او د دولت او ولس تر منځ رامنځته شوی واټن به له منځه ولاړ شي.

تله یا میزان/ ۱۳۹۵

# له څنډه وروسته نوې هیلې؛ د سولې خبرې بیا پیل شوې

وروسته له هغې چې د بریتانیا "ګارډین" ورځپاڼې خبر ورکړ چې قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر سمبالوونکو د کابل اداري له ځمو مشرانو سره لیدلي او د کوټې د شورا د یوه مخکښ غړي له خولې ویل شوي دي چې د طالبانو د بنسټګر مشر ملا محمد عمر د ورور ملا عبدالمنان اخند په ګډون ځینې طالبان مشران قطر ته د سولې د خبرو په نیت ورغلي وو؛ ځینې افغان چارواکي هم وایي، له وسله والو طالبانو سره یې د سولې بې ثباته حالت کابو کړی او په وروستیو ورځو کې حکومتي پلاوي له یوشمېر لوړپوړو طالب مشرانو سره لیدنې کتنې کړې دي. د ارګ یوې سرچینې رسنیو ته د افغان حکومت او وسله والو طالبانو تر منځ خبرې تایید کړې او وایي چې د ملي امنیت سلاکار محمد حنیف اتمر او د ملي امنیت عمومي رییس محمد معصوم ستانکزي په قطر کې د طالبانو له استازو سره لیده کاته کړي دي. په همدې حال کې ولسمشرۍ مانۍ وایي چې افغان حکومت له وسله والو طالبانو سره د خبرو لپاره له هرې ممکنه لارې دریغ نه کوي.

که څه هم وسله والو طالبانو له افغان حکومت سره د سولې اړوند د ګارډین ورځپاڼې راپور رد کړی دی خو ځینې لاملونه شته چې په قطر کې د افغان حکومت او وسله والو طالبانو تر منځ د خبرو په ترسره کېدو دلالت کوي.

تر ټولو لوی او عمده دلیل دا چې د وسله والو طالبانو او افغان حکومت تر منځ دا خبرې په وروستیو دوه میاشتو کې ترسره شوي دي او په همدغو میاشتو کې په افغانستان کې هم جګړو زور اخیستی و. د طالبانو د شورا یوه غړي ګارډین ته ویلي چې د دوی لومړۍ غونډه، چې د سپټمبر د میاشتې په لومړیو کې وشوه، مثبته او په بې جنجاله فضا کې وه. په دې غونډه کې ملا عبدالمنان اخوند د افغانستان د ملي امنیت له رییس محمد معصوم ستانکزي سره مخامخ ناست و. دویمه غونډه د اکتوبر په لومړیو کې ترسره شوه. دا دواړه (سپټمبر او اکتوبر) هغه میاشتې دي چې په کې په افغانستان کې د افغان امنیتي ځواکونو او وسله والو طالبانو تر منځ تر بل هر وخت جګړو زور اخیستی و. آن دا چې د کندز ولایت د بیا ځلي او د هلمند سقوط اندېښنې زیاتې شوې.

د وسله والو طالبانو له لوري ځکه په دغو میاشتو کې له افغان حکومت سره جګړو ته شدت ورکړل شوی و چې په دغو د سولې خبرو کې زیات امتیاز تر لاسه کړي. همداشان وسله والو طالبانو غوښتل چې افغان حکومت ته خپل قوت وښایې او پر اساس یې له دوی سره د خبرو ارزښت زیات کړي. همداشان په وروستیو کې د جنګ له شدت څخه د وسله والو طالبانو بل هدف دا و چې له افغان حکومت سره د خبرو

ترلې دروازې ماتې کړي. په دې معنا چې وسله والو طالبانو غوښتل د جګړې په شدت سره افغان حکومت دېته اړ کړي څو له دوی سره په ټپه درېدلې د سولې خبرې له سره پیل کړي.

بل دلیل یې له افغان دولت سره د سولې لپاره د وسله والو والو طالبانو خپلمنځي اختلافات دي. د طالبانو په منځ کې له ډېره وخته د سولې د خبرو پر سر اختلاف موجود دی. د وسله والو طالبانو د ملاهبت الله مخالفه ډله د ملا منان نیازي ډلې له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته زړه ښه کړی دی او د ملا هبت ډله یې مخالفت کوي. خو د ملا هبت په ډله کې هم داسې کسان شتون لري چې نور له جنګه ستړي شوي او له افغان حکومت سره د سولې طرفدار دي. همدغو اختلافاتو ته په کتو داسې ښکاري چې ګویا له جنګه ستړو ډلو دې په قطر کې له افغان دولت سره پټې خبرې کړې وي.

بل دلیل د افغان دولت او اسلامي حزب تر منځ د سولې د ترسره شوې هوکړې تاثیر دی. لکه څنګه چې مخکې د وسله والو طالبانو په لیکو کې اختلاف ته اشاره وشوه نو د ملا هبت الله په ډله کې داسې کسان هم شته چې د حزب اسلامي پخواني غړي دي او د افغان حکومت او اسلامي حزب تر منځ له سولې وروسته دوی هم هڅول شوي چې توپک په ځمکه کیږدي او سولې له پروسې سره یو ځای شي. په همدې اساس داسې ګمان کیږي چې ګویا د افغان دولت او وسله والو مخالفانو تر منځ په قطر کې یو ځل بیا د سولې خبرې پیل شوې وي.

د سولې دغو خبرو ته د ولس هیله مندي ډېره ده او دولت هم هوډ لري څو د دغې هدف د ترلاسه کولو لپاره له هرې ممکنه لارې ګټه واخلي. د دغو خبرو د بریالیتوب یو دلیل دا هم کېدلی شي چې ویل کیږي په دغو خبرو کې هیڅ پاکستانی اړخ شتون نه لري. څکه پاکستان په طالبانو کې خپل نفوذ تر ډېره له لاسه ورکړی دی او اوس په خپلې کورنۍ مسلې سره بوخت دی. پاکستان اوس د نړیوالې انزوا پر لور درومي خو هڅه کوي څو له انزوا وساتل شي. په همدې خاطر یې وسله والو طالبانو ته شاه کړې ده او داسې ښکاري چې له روسیې او ایران سره یې د طالبانو پر سر سودا کړې وي. نو په دغو خبرو کې د پاکستان نه شتون په خپله دېته زمینه برابروي څو وسله وال طالبان پرته له فشاره له افغان دولت سره خبرو ته کیني او تمه ده چې خبرې په بریا پایته ورسیږي.

تله یا میزان/ ۱۳۹۵

# ولې سیمې سقوط او سرتېري تسلیمیږي؟

په داسې حال کې چې له څه مودې راهیسې په کندوز او هلمند ولایتونو کې د وسله والو طالبانو او افغان ځواکونو تر منځ نښتو کې زیاتوالی راغلی دی او ویل کېږي چې طالبانو د دغو ولایتونو په یو شمېر سیمو ولکه ټینګه کړې ده؛ څو ورځې وړاندې د سرحدي امنیتي ځواکونو په لسګونو سرتېري د بادغیس ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې وسله والو طالبانو ته تسلیم شوي دي. په بادغیس کې طالبانو ته د پولیسو تسلیمېدو په اړه ضد او نقیض څرګندونې کېږي. د نوموړي ولایت د ولایتي شورا مرستیال وایي چې شاوخوا ۶۰ تنه افغان سرحدي سرتېري وسله والو طالبانو ته تسلیم شوي دي، امنیه قوماندان عبدالروف تاج وایې چې ۴۷ سرحدي پولیس د وسله والو طالبانو سره یو ځای شوي دي خو د یاد ولایت د والي ویاند بیا له یادې پېښې بې خبري ښیي. همداراز وسله وال طالبان بیا بالامرغاب کې د دوی وسله والو ته د د ۸۰ تنو سرحدي سرتېرو تسلیمېدو خبره کوي.

دا لومړی ځل نه دی چې وسله والو طالبانو ته د امنیتي ځواکونو د تسلیمۍ خبرونه ورکول کېږي بلکې تردې وړاندې د ۱۳۹۴ کال د زمري په میاشت کې، د بدخشان د تېرګران پوځي اډې د یو سلو شل تنه امنیتي ځواکونو د تسلیمۍ راپورونه خپاره شوي و، همداشان له دې وړاندې د بدخشان ولایت په جرم ولسوالۍ کې د افغان امنیتي ځواکونو یوشمېر سرتېري د طالبانو له خوا اسیران شوي وو او بیا وروسته یې سرونو ورڅخه غوڅ کړي وو. اساسي پوښتنه اوس دا ده چې وسله والو طالبانو ته د افغان امنیتي ځواکونو د تسلیمۍ دلیل څه دی؟

افغان امنیتي ځواکونو د افغانستان له دښمن سره په جګړه کې د تل لپاره خپله وړتیا ښودلې او د سرونو په بدل یې د خپلې خاورې او ولس دفاع کړې ده. دوی تل په خپلې خوښې او ارامۍ هیرې کړي او د ولس د آرامۍ لپاره یې کلکه مبارزه کړې ده خو په ځینو حالاتو کې داسې هم شوي چې په خپله ځینې امنیتي ځواکونه د نورو ملګرو د مرګ او تېپي کېدو سبب شوي دي. حتی دا هم امکان لري چې د سیمو په سقوط کې او د سرتېرو د پوستو پر سر د امنیتي ځواکونو ځینې خاینو مشرانو له وسله والو مخالفانو سره معامله هم کړې وي. خو په تولة کې د امنیتي ځواکونو د تسلیمۍ او د سیمو د سقوط عمده لاملونه په لاندې توګه څېړو.

۱ـ په سختو شرایطو کې د حکومت ناغېرې

په افغانستان کې جګړه استخباراتي ده او د وسله والو مخالفانو ملاتړ ګاونډې هیوادونه او لوی قدرتونه کوي. دوی ته له افغان امنیتي ځواکونو څو برابره تجهیزات او جنګي امکانات برابریږي، که داسې نه وي نو څنګه

امکان لري چې څو محدود شمېر یا ډیر کم شمېر طالبان دې په یوه ولایت برید وکړي او هغه دې تر خپل کنټرول لاندې راولي؟ کله چې د امنیتي ځواکونو او وسله والو طالبانو تر منځ جګړه شدیده او د بنکیلو خواوو تجهیزات خلاص شي نو وسله والو طالبانو ته ډیر په چټکۍ مهمات او کومکي ځواکونه وررسیږي خو متاسفانه حکومت په دغه چاره کې یا په شعوري او یا لاشعوري توګه ناغېږي کوي او پر وخت کومکي ځواکونه نه رسیږي. په جګړه کې ښکلیل امنیتي ځواکونه په ورځو ـ ورځو محاصره وي د مرکزي حکومت لخوا ورته مرستندویه ځواکونه پر وخت نشي رسیدلی. همدا علت دی چې سرتیري د خپل ژوند د ساتلو په خاطر وسله والو ته تسلیم کیږي او یا سیمې ورته پریږدي.

۲ـ په لیکو کې د نامسلکي او کم کاره اشخاصو ګمارل

د امنیتي ځواکونو په راس کې د ضعیفه او بې کاره اشخاصو شتون چې دفاع او کورنیو چارو وزیران هم په کې شامل دي. همداراز حکومت په پوځي رتبو او عزازونو لیلام ګډ کړی دی، د هر زورواکي او چارواکي زوی ته د جنرالۍ او یا بلې لوړې رتبې نښان په ټټر ټومي او بیا د امنیتي ځواکونو مدیریت هم په لاس ورکوي. دوی د جنګ په میدان کې ورتیا نه لري او همدا دلیل دی چې سیمې سقوط او سرتیري تسلیمیږي.

۳ـ د ولایتي شوراګانو او د ولایت د استازو غیر مسولانه څرګندونې

له بده مرغه زمونږ چارواکي په ځانګړي توګه د ولایتي او ملي شورا ځینې استازي په غیر مستقیمه توګه د طالب استازولي کوي او د طالب په ګټه تبلیغ کوي. دوی همیشه د سیمو د هغو سیمیو د سقوط اوازې خپروي چې نسبتاً نارامه وي. د دوی پراخ منفي تبلیغات د امنیتي ځواکونو روحیه کمزوزې او د طالب وسله والو پیاوړې کوي.

۴ـ د رسنیو ګستاخي او د بیان له ازادۍ ناوړه ګټه پورته کول

په افغانستان کې ډیرې رسنۍ د ملي او اوجداني مسولیت پر ځای پر قومي، سیمه ایز او د دولت د اپوزیسون په توګه فعالیت کوي. دوی ملي ګټې نه پیژني او د بیان ازادۍ له نومه په ګټې اخیستو د نظام ضد پروګرامونه نشروي. دوی داسې نه دي چې د یو نظام رسني دې واوسي بلکې دوی د نظام ضد او د مخالف وسله وال د تبلیغ چینل په توګه کار کوي. که دښمن په افغان امنیتي ځواکونه کوچنی چریکي برید هم وکړي نو دا رسنۍ یې دومره لوی کړي چې په نوموړي ټول ولایت او حتی په ټول افغانستان یې منفي اغیز وشي. د دوی همدا منفي تبلیغات دي چې د دولت د کمزورۍ او د طالب د پیاوړتیا سبب کیږي.

تله یا میزان/ 1395

# افغان حکومت د بروکسل ناستې ته کومې لاسته راوړنې لري؟

ټاکل شوې په راتلونکو څو اونیو کې د ملي یووالي د حکومت مشران په لندن کې د بروکسل په کنفرانس کې ګډون وکړي. افغان حکومت باید په یاد کنفرانس کې نړیوالو مرستندویه هېوادونو ته د هغه څه په اړه چې د ملي یووالي حکومت مشرانو ورسره ژمنه کړې وه؛ قناعت ورکړي تر څو په راتلونکې کې د نورو مرستو جلب و جذب ته زمینه برابره شي. د ملي یووالي د حکومت مشران باید په یاد کنفرانس کې نړیوالو ته د کړیو ژمنو لکه د ټاکنیز نظام اصلاح، د هېواد د امنیت ښه والي، د هېواد د اقتصادي وضعیت ښه والي، له فساد سره د مبارزې او ښې حکومتولۍ ترسره کولو اړوند قناعت ورکړي څو نړیوال له افغانستان سره په راتلونکې کې هم همکار پاتې شي. خو پوښتنه دا ده چې حکومت څومره له افغان ولس او نړیوالو سره خپلې کړې ژمنې پوره کړې دي او په یاد کنفرانس کې به له کومو لاسته راوړنو سره ګډون وکړي؟

## ښه حکومتولي

په هغو ژمنو کې چې حکومت له نړیوالو سره کړې وې تر ټولو مهم یې د کار اهل ته د کار سپارل او د خلکو لپاره د ښه حکومتي خدماتو وړاندې کول دي. دا په داسې حال کې ده چې اوس هم په وزارتونو کې په زرګونو پوستونه خالي پراته دي او بل طرف ته په ټول هېواد کې د بیکارۍ کچه اوج ته رسیدلې ده. د ښې حکومتولۍ په برخه کې هم د حکومت کار له صفر سره ضرب دی. حکومتي مشران په خپل منځي شخړو اخته و او له ولس او نړیوالو سره کړې ژمنې یې هیرې کړې وې. د ملي یووالي حکومت د جوړیدو راهیسې هیڅ کار تر اوسه د کار اهل ته نه دی سپارل شوی بلکې حکومت ځینې داسې کارونه کړي چې د حکومتولۍ په لمن یې تور داغ ایښی دی. ښه بېلګه یې د حکومت له دوه کلنې دورې وروسته د هېواد پلازمینې لپاره د ښاروال نه ټاکل او برعکس د هلمند لپاره دوه ښاروالان ټاکل یادولی شو.

د ملي یووالي د حکومت له جوړیدو راهیسي کابو دوه کاله تېرېږي خو په دغه موده کې د ملي یووالي د حکومت شریکان په دې نه دي توانیدلي چې د هېواد پلازمېنې لپاره د ښاروال په ټاکلو سلاح شي. خو بل پلو د حکومت په راس کې د واک د دوه جزیرو د شتون او د پنځوس ـ پنځوس سلنې واک ویش له امله د هلمند لپاره په یوه وخت دوه ښاروالان ټاکل کیږي. څه د پاسه پنځه میاشتې وړاندې رسنیو داسې راپورونه خپاره کړل چې ولسمشر اشرف غني د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې په وړاندیز د انجنیر مطیع الله ببېر په نوم یو کس د هلمند د ښاروال په توګه ټاکلی و . دغه راز اجرایه رییس د یوه مکتوب له لارې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې ته سپارښتنه کړې وه چې د حسیب الله سلطاني په نوم کس د هلمند د ښاروال په توګه وګماري. دا د ملي یووالي د حکومت د ښه حکومتولۍ یوه بېلګه ده. قضاوت یې تاسې وکړئ.

## له فساد سره مبارزه

د ملي يووالي حکومت مشرانو د افغان ولس تر څنګ نړيوالو ته هم ژمنه ورکړې وه چې په افغانستان کې به د فساد جرړې باسي خو له بده مرغه چې د نورو کلونو په پرتله د ملي يووالي د حکومت په دوه کلنه موده کې د فساد کچه لوړه شوې ده. د ملي يووالي د حکومت له فساد سره د مبارزې يوه بېلګه يې د کابل له ميلوني پوروړي خليل الله فيروزي سره د سمارټ سيټي ښارګوټي د تړون لاسليکول دي. خليل الله فيروزي هغه څوک و چې د محکمې له لوري د کابل بانک په ديوالو کې ښکېل او په پنځلس کاله بند محکوم شو. خو د ملي يووالي حکومت مشرانو ورسره لکه د يو ازاد شخص په شان د سمارټ سيټي ښارګوټي د بيارغاونې تړون لاسليک کړ. کله چې د حکومت ياد کار په پراخه کچه د خلکو له غبرګون سره مخ شو نو بيا ولسمشر اړ شو چې ياد تړون لغوه اعلان کړي. دا هم د ملي يووالي حکومت د فساد سره د مبارزې يوه بېلګه وه. قضاوت تاسې وکړئ.

## ټاکنيز نظام اصلاح

د ملي يووالي د حکومت د جوړيدو په سياسي هوکړه ليک کې هم همدا خبره راغلې وه چې د ملي يووالي حکومت مشران به ټاکنيز کمېسيونونه اصلاح کوي. په همدې موخه د ولسمشر او اجرايه رياست تر منځ د ټاکنيزو کمېسيونونو د اصلاح کمېسيون د مشر او غړو په ټاکلو څو وارې ناندرۍ ترسره شوې. آن دا چې ولسمشر يو ځل شکريه بارکزۍ د دغې کمېسيون مشره وټاکله خو د اجرايه رياست د مخالفت له وجې رد شوه او اوس هم د ټاکنيز نظام د اصلاح پر سر وخت ناوخت د ملي يووالي د حکومت د دواړو مشرانو تر منځ ناندرۍ رسنيزې کيږي.

## د اقتصاد ښه کول

دواړو حکومتي مشرانو د ټاکنيزو کمپاينونو پر مهال له ولس سره ډيرې غوړې ژمنې کړې وې خو له بده مرغه چې د ملي يووالي حکومت د کاري مودې دوه کاله هم بشپړ شول خو د هېواد اقتصادي حالت د رکود پر لور روان دی. همدا اوس په ميلونونو د کار پر شرايطو برابر هېوادوال له بيکارۍ رنځيږي. د خلکو ورځنی ژوند ډير په سختۍ پر مخ ځي، د بېکارۍ له وجې په ميلونونو افغانان له هېواده بهر وتښتيدل. او اوس چې له پاکستانه په زرګونو نور افغانان هېواد ته راستانه شول داسې انګيرل کيږي چې د بيکارۍ په کچه کې به لوړ والی راشي.

نو دا پورته يادې شوې بيلګې د ملي يووالي د حکومت هغه لاسته راوړنې دي چې د ملي يووالي د حکومت مشران يې  د بروکسل ناستې له ځانه سره وړي.

وږی يا سنبله/ 1395

# پارلماني نظام؛ یعنې افغانستان په منځ دوه نیمه کول

د افغانستان د ستراتېژیکو مطالعاتو مرکز د اوسني نظام د سیاسي جوړښت په هکله یوه نوې سروې خپره کړې. په دې سروې کې چې د اوسني نظام د سیاسي جوړښت په هکله د لسو ولایتونو له خلکو پوښتنې شوې؛ ویل شوي چې په سلو کې ۲۹د پارلمانی نظام او په سلو کې ۲۲ صدارتی ریاستی نظام پلوي دی چې په مجمع کې په سلو کې ۵۱ د نظام بدلون غواړي او ۴۹ سلنه نور بیا ریاستي نظام ټینګول غواړي.

په ټوله کې جمهوري نظام په دوه ډوله دی، یو یې ریاستي نظام او بل یې پارلماني نظام

ریاستي نظام : په ریاستي نظام کې ولسمشر د خلکو له خوا ټاکل کیږي او د پارلمان په نسبت ډېر اختیارات لري. په ریاستي نظام کې اجرائیه ، مقننه او قضائیه تقریباً خپلواکې قواوې وجود لري چې په راس کې یې ولس مشر وي. یعنې ولسمشر د درې واړو قواوو په سر کې وي او ډېر صلاحیتونه لري د بېلګې په توګه د اوربند او بهر ته د قواو د استولو صلاحیت. په ریاستي نظام کې په اضطراري حالاتو کې ولسمشر کولای شي په خپل لاسلیک سپین کاغذ ته د بانک نوټ اعتبار ورکړي.

پارلماني نظام : پارلماني نظام هغه ته وایي چې هلته یوازې د پارلمان وکیلان د خلکو له خوا ټاکل کیږي او هغوي بیا ولسمشر او صدراعظم ټاکي. په دې نظام کې پارلمان د ولسمشر په پرتله ډېر واک او صلاحیت لري. په دغه ډول نظام کې د ولسمشر واک سمبولیک وي او ډیری اجرأت صدراعظم ترسره کوي څکه چې هغه دهماغه ګوند څخه وي چې په پارلمان کې اکثریت څوکۍ لري. لکه څرنګه چې په ریاستي نظام کې ولسمشر د مقننه، اجرائیه او قضائیه قواو په سر کې وي؛ خو په پارلماني نظام کې دا دنده د پارلمان په غاړه وي.

اوس اساسي پوښتنه دا ده چې د افغانستان اوسني شرایط دا ایجابوي چې نظام دې له ریاستي څخه پارلماني ته واوړي او د ولسمسر صلاحیتونه دې صدراعظم ته ورکړل شي؟

هغه هېوادونه چې په کې پارلماني نظام حاکم دی هغوی د پوره نظم، امنیت او د ډاډ وړ اقتصاد درلودونکي دي، قانون په کې په ټولو یو شان پلی کیږي او هر څوک او هر چارواکی د هېواد ملي ګټو او ارزښتونو ته ژمن وي او هیڅ ډول ډلبازۍ په مقابل کې د خپل هېواد ملي ګټې نه زیانمنوي. خو په افغانستان غوندې هېواد کې چې قانون یوازې د کاغذ پر مخ وي، چارواکي یې د ملي ګټو پر ځای ګوندي او سمتي ګټې پالي

او هر څوک ځان له قانونه پورته او قانون ځان ته تابع کني؛ د پارلماني نظام تجربه کول؛ په لوی لاس د افغانستان وېشل دي.

مونږ خو لا له وړاندې د حکومت په رأس کې د واک دوه جزیرې تجربه کړې دي، مونږ ته خو د ملي یووالي دوه سره حکومت تجربه شوې ده، په دې کې لا واک فقط پنځوس ـ پنځوس وېشل شوی دی چې د حکومت کابینه مو تر شپږو میاشتو نه بشپړیده، د څوکیو په وېش باندې جنګونه و او لا تر اوسه هم هر لوری د خپلې ونډې د زیاتیدو غوښتونکی دی؛ نو په داسې یو هېواد کې به پارلماني نظام چې ولسمشر په کې سمبولیکه بڼه لري او واک ټول د صدراعظم په لاس کې وي؛ څنګه به پارلماني نظام د خلکو په درد دوا شي؟

بله ستونزه د پارلماني نظام په مقابل کې دا ده چې دلته په افغانستان کې هره څوکۍ او هر ارکان حتا د ولسمشر څوکۍ هم په قومي لحاظ تشکیلیږي. دلته معیار اوس دا دی که ولسمشر له یو قوم وي نو لومړی مرستیال به یې حتماً د بل قوم څخه وي، دویم مرستیال به یې حتما له بل قوم څخه وي. دلته دېته نه کتل کیږي چې د دې قوم دغه شخص خو د دې څوکۍ وړتیا نه لري نو ولې پرې وټاکل شي، خو د دې لپاره چې د دې قوم کس خامخا باید په کې وي نو معیار همدا کرځول شوی چې ولسمشر دې د یو قوم، لومړی مرستیال د بل قو او دویم مرستیال د بل قوم څخه وي. همداشان په وزارتخانو کې هم همدا معیار دی او په ریاستونو کې او آن په مدریتونو کې هم. نو تاسې په خپل قضاوت وکړئ چې اوس په ریاستي نظام کې مو دا حال دی نو په پارلماني نظام کې به بیا څه حال وي؟ هر یو به وایې چې که ولسمشر پښتون وي نو صدراعظم باید تاجک یا هزاره وي او که ولمسشر تاجک وي نو صدراعظم دې حتماً پښتون او یا هزاره وي. یعنې په پارلماني نظام کې به بیه د قوم او قوم بازۍ څپې لا پراخې شي او معیار به بیا وړتیا، پوه او تجربه نه وي او حالات به د بهتر کېدو پر ځای د لا بدتر کېدو په لور ولاړ شي.

او بل دا چې دلته هیڅ داسې کوند نشته چې په ټول هېواد کې نفوذ ولري او که وي هم نو یو یا دوه به وي. دلته بیا په دلته بیا د دغه یو یا دوه کوندو د رقابت لپاره به بل کوند موجود نه وي او تل به واک د یو کوند په اختیار کې وي او تل به صدراعظم د همدې یو کوند څخه ټاکل کیږي.

**وږی یا سنبله/ ۱۳۹۵**

# حکومت دوه کلن شو، لاسته راوړنې ډېرې لري که نںګونې؟

د ولسمشر په توګه د محمد اشرف غني، د اجرایه رییس په توګه د عبدالله عبدالله او د افغان حکومت په توګه د ملي یووالي حکومت دوه کاله پوره شول. په دغه دوه کلنه دوره کې هم افغان حکومت او هم افغان ولس د پراخو بدلونو او پېښو شاهد دی. طبعي ده چې د ملي یووالي حکومت به لاسته راوړنې او ننګونې دواړه لري. خو پوښتنه دا ده چې د ملي یووالي حکومت چې په راس کې دوه ښاغلي ډاکټران ځای لري؛ لاسته راوړنې او که ننګونې ډېرې لري؟

## لاسته راوړنې:

اشرف غني د ولسمشر په توګه له لوړې کولو څو ورځې وروسته د ملي امنیت سلاکار ښاغلي حنیف اتمر په لاس له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړ. له اداري فساد سره د مبارزې له پاره هم ځینې لومړني کارونه ترسره شول. د کابل بانک دوسیه بیا پرانیستل شوه، د تدارکاتو د ملي کمېټې جوړه شوه، د ښار جوړونې وزارت شپږ رییسان چې د فساد تور پرې موجود و محکمې ته معرفي شول. همداراز د ملي دفاع وزارت له تړونونو بیا څارنه پیل شوه. له نړۍ سره د اړیکو د نوي فصل د پرانیستلو له پاره ولسمشر لومړی سعودي عربستان ته لاړ او هلته یې د حج مراسم په ځای کړل. ورپسې د سولې د پروسې د چټکولو له پاره چین ته لاړ او له دغه هېواد سره یې اقتصادي او سیاسي هوکړه لیکونه لاسلیک کړل. نوموړی همداراز امریکا، پاکستان، ترکمنستان، چین، ایراناو هندته سفرونه وکړل او د افغانستان بهرنی سیاست یې په پنځو کړه کوریو ووېشه.

د ملي یووالی دولت همداراز د لندن، مونیخ، ناتو، سارک او د افغانستان پاکستان او چین په درې ا ړخیزو غونډو کې افغان پلاویو ګډون وکړ. له وسله والو مخالفانو سره د پکواش غونډې ترسره شوې او همداراز د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا په منځګړیتوب د افغان سولې لپاره څلور ، څلور اړخیزې ناستې هم ترسره شوې. همداراز په قضایې او عدلي ارګانونو د ولس د باور فضا د رامنځته کولو لپاره هم یو لړ کامونه واخیستل د بېلګې په توګه د پغمان د جنسي تېري د عاملینو په دار ځړول، د حبیب استالف په دار ځړول او همداشان د رییس خدایداد په دار ځړول. همداراز د بیارغاونې او اقتصادي خپلواکۍ لپاره هم ولسمشر غني ځینې کامونه واخیستل چې له جملې یې د چابهار بندر سوداګریزه او ترانزیتي پروژې د هوکړه لیک لاسلیک کېدل، د سلما بند پرانیستل چې د افغانستان تر ټولوستره بنسټیزه پروژه ده، د تاپي د ګازو د نللیکې پروژې پرانیستل چې له مخې یې د ترکمنستان ګاز په یوه نل لیکه کې د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته انتقالیږي.

همداشان د هیواد بهرني سیاست کې یې هم د پام وړ کارونه ترسره کړل. د پاکستان د اصلاح کېدو او له ترهګرۍ څخه د لاسته اخیستنې لپاره یې په هر نړیوال او کورني تریبیون د پاکستان د منزوي کېدو غږ اوچت کړی دی. له دغه هیواد سره په سوداګرۍ کې د ورته عمل ترسره کول چې پاکستان په افغان سوداګرو خپل بندرونو تړلي و نو افغان حکومت هم ورته اقدام وکړ او د پاکستان تجارتي مالونو ته یې د افغانستان له بندرونو

د ټیریدو اجازه ورنکړه. له هندوستان سره په اړیکو کې پراختیا رامنځته شوه چې له امله یې هندوستان له افغان ولس سره د نغدي مرستو تر څنګ له افغان حکومت او امنیتي ځواکونو سره پوځي مرستې وکړې او د لا نورو مرسته ژمنه یې هم کړې ده.

**ننګونې :**

د ټاکنیز کمپاین او له هغه راوروسته د حکومتولۍ په جریان کې له ولس سره د کړیو ژمنو په عملي کولو کې پاتې راتلل، یعنې له فساد سره مبارزه ، په ټاکنیزو کمېسیونو کې اصلاحات ، د خلکو پر دسترخوان کې مثبت بدلون راوستل، ولس ته د اشتغال زمینې برابرول او ... هغه ژمنې دي چې د ملي یووالي حکومت یې په پوره کولو کې پاتې راغلی دی. همدارارز پر خپل وخت د پارلماني او ولسوالیو شوراګانو ټاکنو نه ترسره کېدل، د تقنیني لویې جرګې نه جوړېدل، له اداري فساد سره ناکامه مبارزه، د بیکارۍ کچې لوړیدل، له هېواد څخه د افغانانو د تېښتې په مخنیوي کې پاتې راتلل، له کورنیو تولیداتو د ملاتړ نه شتون، ورځ تر بلې د هیواد امنیتي وضعیت ترینګلي کیدل، له وسله والو مخالفانو سره د سولې د خبرو ناکامېدل، د برښنایې تذکرو نه وېشل کیدل، تر دوو کلونو وروسته هم وزارتونه، ولایتونه او ځینې اداري د سرپرستانو لخوا اداره کول، د خپلمنځي اختلافاتو له کردابه نه راوتل، پېښنو ته د حقیقت موندنې کمېسونونو ټاکل خو پایلې یې نه معلومیدل او ... نور هغه مهم فکتورونه دي چې د ملي یووالي د حکومت په لمن د بې کفایتۍ تور داغ په شکل شتون لري.

ماشیني رتبې او اعزازونه ورکول، د هر غل، غدار او ډاکو په نامه د چوکونو، مکتبونو او څلور لارو نومول، د زورواکانو او جنګسالارانو هر ډول غیر قانوني او قانون ماتوونکې غوښتنې ته تسلیمېدل، له عدلي او طبي معایناتو پرته د حبیب الله کلکاني او ملګرو په نوم یې د پخوانیو هډوکو له سره سپړل او ښخول، د زور واکو او چارواکو لخوا د ملکیتونو د غصب لړۍ په مخنیوي کې ناکامیدل، د جنګسالارانو هرې غوښتنې ته د لبیک ویلو سره قومي، ژبني، سمتي او مذهبي تعصب ته زمینه برابرول، او ... کارونه ترسره کول د ملي یووالي د حکومت هغه شرمناکې کړنې دي چې تاریخ به یې هېرې نه کړي.

همدا راز د کار له لومړۍ ورځې تر وروستیو میاشتو پاکستان ته یو طرفه امتیازات ورکول حتی تر دې چې ورسره پټ استخباراتي تفاهم لیک لاسلیکول، د لسګونو شهیدانو په ورکولو سره بیا هم په تورخم کې د پاکستان دروازې جوړولو ته اجازه ورکول، په افغان خاوره کې د پاکستانیو تاسیساتو د جوړیدو په مخنیوي کې پاتې راتلل او ... ځینې هغه عوامل دي چې د ملي یووالي د حکومت په بې کفایتۍ او کمزورۍ دلالت کوي.

دا د پورته یاد شوي موارد د ملي یووالي د حکومت لاسته راوړنې او ننګونې دي چې ولس ته یې په خپله دوه کلنه دوره کې په ډالۍ کې ورکړي دي. قضاوت تاسې وکړئ چې لاسته راوړنې او که ننګونې یې ډېرې دي.

وږی یا سنبله/ 1395

# څوک له حکمتیار سره د سولې پر وړاندې خنډونه جوړوي؟

په داسې حال کې چې افغان حکومت ټینګار کوي چې له اسلامي حزب یې د سولې موافقه نهایي شوې او ژر به د ګلبدین حکمتیار او ولسمشر محمد اشرف غني ترمنځ لاسلیک شي؛ پر وړاندې یې د دعوت اسلامي ګوند او د حراست او ثبات شورا مشر عبدالرب رسول سیاف غبرګون ښودلی دی. له اسلامي حزب سره د حکومت د سولې په غبرګون کې سیاف ویلي « څو چې ژوندی یم له اسلامي حزب سره د حکومت د سولې هوکړې سره به مخالفت کوم.» داسې ویل کیږي چې د سولې په شورا کې یوه باوري کس د اسلامي حزب یو غړي ته ویلي، کله چې استاد سیاف په هند کې په روغتون کې د درملنې لپاره بستر و، د سولې عالی شورا مشر ته یې زنګ وهلی او ورته ویلي، چې د طالبانو او حزب اسلامي سره هیڅ وخت سوله نه غواړم او تر څو ژوندی یم د اسلامي حزب سره به د سولې په تړاو مخالفت وکړم.
د دعوت اسلامي ګوند مشر سیاف ټینګار کړی چې نوموړی به په هر ډول شرایطو کې له طالبانو او اسلامي حزب سره مخالفت کوي. دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې ځینو سرچینو ویلي و چې اجرایوي رییس ډاکټر عبدالله هم له اسلامي حزب سره د حکومت د سولې د خبرو مخالفت کړی و. ویل کیږي یونس قانوني او د صبغت الله مجددي په استازولی زبیح الله مجددي هم د افغان حکومت او اسلامي حزب تر منځ د سولې د خبرو مخالفت کړی دی.
څو ورځې وړاندې د افغانستان د سولې عالي شورا اعلان وکړ چې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ له اسلامي حزب سره د حکومت د سولې خبرې نهایي شوي او ټاکلې شوې وه چې د تیرې یکشنبې ورځ (د سنبلې ۲۸) نیټه یې تر منځ هوکړه لیک لاسلیک شي. خو پر وړاندې یې په وروستیو کې په حکومت کې دننه او بهر د ځینو کړیو مخالفتونو ګنې پوښتنې راولاړې کړې دي. اوس لویه پوښتنه دا ده چې په ټوله کې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب او د افغان حکومت تر منځ د سولې خبرو کې کوم موارد او کوم اشخاص خنډونه جوړوي؟
۱ـ مخالف سیاسي ګوندونه
په افغانستان کې ځینې لوی سیاسي ګوندونه د ۱۳۷۰ کلونو د خپلمنځي جګړې مخینه لري چې اوس یې هم یو و بل ته په زړونو کې زړه دښمني او کینه شتون لري. دوی هغه مهال د کورنۍ جګړې اصلي لوبغاړي و او په خپلو منځو کې ورته خپل پټ رازونه معلوم دي. اوس که د حکمتیار له ګوند سره سوله کیږي نو نور مخالف ګوندونه یې ډار لري چې ورسره شته پټ رازونه به یې افشا شي او اصلي څېره به یې خلک وپېژني. له همدې امله یې پر وړاندې خنډونه جوړوي. بله مسله چې سیاسي ګوندونه یې اړ کړي چې له اسلامي حزب سره مخالفت وکړي هغه د حکومت له لوري ښاغلي حکمتیار ته ځینې امتیازونه دي چې د مخالفو ګوندونو مشران یې د ځان لپاره هم غوښتونکي دي. د حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب مخالفان د افغان حکومت

او اسلامي حزب تر منځ د سولې په بدل کې د ځینو امتیازاتو ورکړې ته کینه لري. دوی چې کلونه ـ کلونه یې د افغان حکومت له بدنې نه تغذیه اخیستې؛ اوس چې ښاغلی حکمتیار هم په حکومت کې د امتیازاتو ترلاسه کوونکی کیږي نو دوی (د اسلامي حزب مخالفان) یې نه شي زغملی او پر وړاندې یې تر هغې خنډونه جوړوي څو حکومت دوی ته هم په امتیاز ورکولو قایل شي.

۲ـ سپېدار ماڼۍ

په سپېدار ماڼۍ کې ښاغلی عبدالله او پلویان یې چې ډېری د جمعیت گوند پلویان دي او د حکومت غوښینه برخه تشکیلوي نو اوس د ښاغلي حکمتیار په راتگ سره خپل موقف، امتیازات او څوکۍ په خطر او د نیمایې کېدو په حال کې وینې نو ځکه یې پر وړاندې خنډونه جوړوي. دوی چې د حکومتي تشکیلاتو لویه برخه جوړوي او تر ډېره د هېواد د شمالي ولایتونو واکمني په لاس کې لري؛ ډار لري که چیرې د افغان حکومت او اسلامي حزب تر منځ د سولې خبرې بریالۍ شي نو دوی به په حکومت کې خپله غوښینه برخه له لاسه ورکړي او واک به یې کم شي. یعنې کله چې حکمتیار د افغان حکومت د سیاسي جوړښت یوه برخه کرځي نو بیا به په د هېواد په شمال کې د واک تعادل رامنځته شي او هغه واک او صلاحیت چې اوس یوه ځانګړې ډله یې په شمالي ولایتونو لري؛ دوی به یې له لاسه ورکړي نو ځکه خو په یو نه یو ډول د اسلامي حزب او افغان حکومت تر منځ د سولې د خبرو لپاره خنډونه جوړوي.

۳ـ ارګ ماڼۍ

که څه هم ارګ ماڼۍ په ښکاره له اسلامي حزب سره د سولې غوښتونکې ده خو په پټه کې کابل ته د حکمتیار له راتګه ډار لري. دوی له دې امله د حکمتیار له راتګه ډار لري چې ګویا احتمال لري چې حکمتیار به په راتلونکې کې یوه فکري شورا جوړه کړي او خلک به په ځان راټول او د حکومت لپاره به سرخوږی جوړ کړي. له حکمتیار سره د ارګ ماڼۍ د مخالفت بل دلیل دا دی چې اوس ارګ ماڼۍ په هېواد کې د ښاغلي حکمتیار په نفوذ شک لري. دوی پوښتي چې له حکمتیار سره سوله به آیا وکولای شي چې په هیواد کې د رواني نا امنۍ په کابو کولو کې مثبت رول ولري؟. یعنې حکومت په دې نه دی ډاډه چې حکمتیار به د وسله والو مخالفانو سره په سوله کې د افغانستان د سولې عالي شورا سره د پام وړ مرسته وکړي ځکه طالبان او د حکمتیار اسلامي حزب هم په خپلو منځو کې جنګي سابقه لري.

د دې پورته یاد شوو لاملونو سربېره د ولس یوه ډله هم اندېښنه لري که چیري له حکمتیار سره سوله کیږي او ځینې ګوندونه یې مخالفت کوي نو خدای مکړه چې هېواد بیا د ۱۳۷۰ کلونو په سرنوشت یعنې د تنظیمي جګړو په سرنوشت بدل نه شي.

وږی یا سنبله/ 1395

# د افغانستان اقتصادي خپلواکي او د پاکستان ناهيلي

وروسته له هغه چې افغان حکومت له پاکستان سره د سوداګرۍ په ترانزيټي هوکړه کې د هندوستان د شاملېدو غوښتنه وکړه او امريکا هم د افغانستان د دې غوښتنې ملاتړ وکړ؛ پاکستان د افغان ولسمشر پر څرګندونو ناهيلي څرګنده کړه. د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت تېره ورځ د افغانستان د ولسمشر محمد اشرف غني په وروستيو څرګندونو چې په ترانزيټي موافقه کې يې د هند د شاملېدو په اړه کړې وې؛ نهيلي وښوده، هغه يې بې ګټې وبللې او ويې ويل چې غني د پاکستان هغه هڅې يو مخ له پامه غورځولې دي چې په افغانستان کې يې د سولې او ثبات لپاره کړي دي. د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت وياندوی نفيس زکريا په يوه اعلاميه کې يو ځل بيا خپلې تکراري خبرې کړي او ويلي دي: په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات لپاره پر خپلې ژمنې ولاړ يوو، پاکستان کلک باور لري چې په افغانستان کې سوله او ثبات د ټولې سيمې د سولې او ثبات لپاره ضروري دي.

له کله نه چې په افغانستان کې ولسمشر غني واک ته رسيدلی نو پر پاکستان د اقتصادي ا تکا خلاصون، افغانستان د مرکزي اسيا د پوستون په ټکي بدلول او له څو لويو لارو سره د افغانستان تړل؛ يې مهم اقتصادي پلانونه ټاکلي دي. د همدې هدف د ترلاسه کولو لپاره يې د پام وړ هڅې کړي دي. د چابهار بندر پرانيسته، د سلما بند پروژه، له هند سره د اړيکو پراخول او له ايران او چين سره د رېل ګاډي په وسيله د سوداګرۍ پيل؛ د ولسمشر غني د يادو پلانونو د عملي کيدو نښې دي. اوس په ورستيو کې يې تازه هڅه له پاکستان سره په ترانزيټي هوکړه کې د هندوستان د شاملولو غوښتنه ده چې پاکستان يې ناهيلی کړی دی.

اوس پوښتنه دا ده چې له پاکستان سره په ترانزيټي تړون کې د هندوستان شاملېدل به د افغانستان په ګټه او که په زيان وي؟

## د هوکړه ليک شاليد

د افغانستان او پاکستان تر منځ د لومړي ځل لپاره د ترانزيت هوکړه په ۱۹۶۵ ميلادي کال کې شوې ده چې له هغې وروسته بيا د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال کله چې انورالحق احدي د ماليې وزير و نوې شوه. د ياد هوکړه ليک له مخې افغانستان د پاکستان له بندرونو نورې نړۍ ته صادرات او واردات او پاکستان د افغانستان له لارې د نړۍ نورو هېوادونو ته صادرات او واردات کولی شي. ياد هوکړه

لیک د دواړو هیوادونو لپاره خورا ګټور دی خو لکه څرنګه چې یاد هوکړه لیک د افغان سوداګرو د ستونزو د لمنځه وړلو لپاره چې په سلګونو کانتینر مالونه به یې د کراچۍ او ګوادر په بندرونو کې ولاړ پاتې و؛ لاسلیک شو؛ پاکستان له دغه هوکړه لیکه ډیری وخت سرغړونه کړې او د افغان سوداګرو پر مخ یې خپل بندرونه تړلي دي.

## افغانستان ته په هوکړه کې د هندوستان شاملولو ګټه

که څه هم په یاد هوکړه لیک کې د هندوستان شاملولو سره ممکن پاکستان حساسیت وښیې ځکه چې دواړه هیوادونه یو و بل د خپلې وجودي فلسفې دښمنان بولي. او اوس چې یې فلسفي دښمن د هوکړه لیک یو برخه کرځي نو طبیعي ده چې د پاکستان غبرګون به له ځان سره لري. پاکستان به د افغانستان د یادې غوښتنې په غبرګون کې په افغان سوداګرو بیلابیل فشارونه وارد کړي خو په ټوله کې په یاد هوکړه لیک کې د هندوستان شاملېدل د افغانستان په ګټه دي. په دې مانا چې پاکستان تل د کابل ـ اسلام آباد د اړیکو د خرپړتیا پر مهال پر افغان سوداګرو د پاکستاني بندرونو د تړلو په وسیله په افغان حکومت فشار راوستی دی او اوس چې هندوستان د یاد تړون برخه کرځي نو افغانستان به پر پاکستان د فشار بله آله هم ترلاسه کړي. په یاد هوکړه لیک کې افغانستان له هندوستان څخه د پاکستان د سیاسي رقیب په توګه هم د ځان په ګټه کار اخیستلی شي.

## څه کول په کار دي؟

لکه څرنګه چې پر پاکستان د اقتصادي ا تکا خلاصون، افغانستان د مرکزي اسیا د پوستون په ټکي بدلول او له څو لویو لارو سره د افغانستان تړل؛ د افغان ولسمشر مهم اقتصادي پلانونه دي؛ نو د دې لپاره چې یاد پلانونه یې عملي شي؛ افغان حکومت باید هڅه وکړي چې پاکستان تر خپل او نړیوال فشار لاندې ونیسي. حکومت باید هڅه وکړي چې پاکستان پر پاکستان د نړیوال فشار لپاره له هرې ممکنه وسیلې ګټه واخلي څو وکولای شي پاکستان په نړیوالو مخالفتونو بوخت وساتي او له دغې فرصته په ګټې اخیستنې افغانستان د مرکزي آسیا د نښلوونکي ټکي په توګه ثابت کړي.

وږی یا سنبله/ 1395

# د پاکستان په نس کې درد دی

ټاکل شوې په راتلونکو څو اونیو کې د افغانستان، هندوستان او امریکا تر منځ درې اړخیزه غونډه د امریکا په نیویارک ښار کې ترسره شي. د امریکا متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کیري، په نوي دهلي کې له هندوستان سره تر ستراتیژیکو خبرو اترو وروسته، یوه خبري کنفرانس ته د خبرو پر مهال وویل چې هیواد به یې په راتلونکې میاشت کې د ملګرو ملتونو د غونډې په څنډه کې د افغانستان، هندوستان او امریکا تر منځ درې اړخیزه غونډه جوړه کړي. په دې غونډه کې د درې واړو هیوادونو تر منځ د نورو همکاریو تر څنګ د ترهګرۍ په ځپلو هم بحث کیږي.

پاکستان چې په دې درې اړخیزه غونډه کې له ګډونه محروم دی؛ چارواکي یې په غصه شوي او د بهرنیو چارو وزارت یې اعلان کړی چې د افغانستان، هندوستان او امریکا تر منځ یاده درې اړخیزه غونډه د پاکستان د تضعیف په خاطر ترسره کیږي. په همدې حال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستاني چارواکو د یادو څرګندونو په غبرګون کې ویلي چې افغانستان یو خپلواک هیواد او له نورو هیوادونو سره د غونډو پریکړه په خپله کوي. موږ چا ته اجازه نه ورکوو چې زموږ په کورنیو مسایلو کې مداخله وکړي.

اوس پوښتنه دا ده چې د افغانستان، هندوستان او امریکا درې اړخیزې غونډې ولې د پاکستان په نس کې درد پیدا کړی دی؟

پاکستان هیڅکله هم د افغانستان لپاره ښه نیت نه دی درلودلی. تل یې د افغانستان په بربادۍ کې خپلې ګټې لټولي او تل د کابل ـ ډهلي له خوږو اړیکو ځوریدلی دی. پاکستانیان په دې باور دي چې هند د افغانستان سره د خپلو ګټو په نظر کې نیولو سره مرسته کوي او په هغه هیواد کې د خپل نفوذ د ساتلو هدف لري. دوی د کابل ـ ډهلي له دوستانه اړیکو ډېر کرېږي او همدا سبب دی چې په وروستیو کې له افغانستان سره د هندوستان د اړیکو د نیږدیوالي په غبرګون کې پاکستان په بېلابېلو ډولونو افغان حکومت تر فشار لاندې راولي. ښه بېلګه یې په افغانستان کې د میوو موسم په رارسیدو سره د افغان سوداګرو پر مخ د تورخم دروازې تر څنګ د چمن ـ سپین بولدک ترانزیټي لارې بندول او په پاکستان کې په میشتو افغان کډوالو

باندې په سختۍ او فشار اچول دي؛ چې په دې سره غواړي افغان حکومت تر فشار لاندې راولي څو له هندوستان سره خپلې اړیکې محدودې کړي.

پاکستان اوس درک کړې ده چې د خپلې غلطې پالیسۍ له امله په تش میدان پاتې کیږي. له یوې خوا یې له کابل سره اړیکې خرابې شوي دي او له بلې خوا خپل لوی ملاتړ کوونکي هیواد امریکا هم له ځانه شړلی دی. له همدې امله اوس په سیمه او نړۍ کې د یوازیتوب احساس کوي او هر څومره چې یې مخالف هیوادونه لکه هند، امریکا او افغانستان سره نږدې کیږي؛ د پاکستان اندیښنې زیاتېږي. پاکستان هغه وخت په سیمه کې خپل ځان د سیاسي انزوا له خطر سره مخامخ ولید؛ کله چې هندوستان او امریکا په خپلو منځو کې لوی جنګي تړون لاسلیک کړ. د یاد تړون له مخې دواړه هیوادونه (هندوستان او امریکا) یو د بل تأمینات، اضافي پرزې، خدمتونه او د سون د موادو د بیا اخیستنې اسانتیاوې کاروي. د تړون په نافذېدلو سره د متحده ایالاتو وسله وال ځواکونه کولی شي چې د هند له بېسونو او هند د امریکا له بېسونو څخه استفاده وکړي.

اوس په سیمه کې له افغانستان او هندوستان سره د امریکا نیږدې کیدل پاکستان د انزوا په لور رهي کوي. دا سمه ده چې پاکستان په تیر کې د امریکا نیږدې او دوست ملکری پاتې شوی دی خو په سیاست کې دایمي دوست او دښمن نه وي. په سیاست کې دوست او د ښمن د خپلو ګټو له مخې تعریف کیدلای شي. په اوس وخت کې د پاکستان یوازینی ملګری چین دی چې هغه هم په سیمه کې د خپلو رقیبانو (هند و امریکا) سره د رقابت په خاطر ورسره اړیکې پالي. اوس امریکا درک کړې چې چین په سیمه کې د پراخ نفوذ پیدا کولو په هڅه کې دی او له همدې اړخه امریکا هم له پاکستانه د خطر احساس کوي. همداشان یو ځواکمن هیواد هیڅکله هم بل هیواد تر ابده د خپلو ګټو د تامین لپاره نه ټاکي. د پاکستان او امریکا اړیکې خرابې شوي او اوس په سیمه کې د امریکا زیات تمرکز په افغانستان او هندوستان دی. هر څومره که دغه درې واړه هېوادونه نیږدې کیږي؛ د پاکستان په نس کې درد زیاتیږي خو په کار ده چې افغانستان له دې چانسه پوره ګټه تر لاسه کړي.

وږی یا سنبله/ 1395

# د پاکستان لپاره د خطر زنګ

له کابو ډېرې مودې راهیسې هندوستان په همدې لټه کې دی چې د نړۍ په سطحه د لوی اقتصادي او نظامي قدرت په توګه سر راپورته کړي. همدا دلیل دی چې په نیږدې موده کې یې له افغانستان سره د سلمان بند او چابهار په شان لویو پروژو کې پانګونه وکړه. اوس هندوستان هڅه کوي چې په سیمه کې خپل سیالان او رقیبان شاته پرېږدي او د خپل قدرت ښودلو لپاره زمینه سازي وکړي. په سیمه کې اوسمهال د هندوستان ستر سیال د چین هېواد دی چې په سیاسي، اقتصادي او نظامي قدرت کې تقریباً سره برابر دي. همدارنګه نیږدي ملګري او ستراتېژیک دوستان یې امریکا او افغانستان دي چې په وروستیو کې یې له دواړو سره اړیکې ډېرې نیږدې شوي دي. هندوستان د خپلې دې هیلې ته د رسیدو لپاره چې په سیمه او نړۍ کې ستر قدرت شي؛ یو قدم وړاندې اخیستونکی دی. تاکل شوې چې هند او امریکا په روانه اونۍ کې یو لوی جنګي تړون لاسلیک کړي.

راپورونه وایي د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما او د هندوستان لومړی وزیر نریندرا مودي به د اګست په ۳۰مه د دې له پاره په واشنګټن کې سره کوري چې د دواړو هېوادونو تر منځ یو لوی جنګي تړون لاسلیک کړي. د دغه تړون له مخې به یاد هېوادونه یو د بل تأمینات، اضافي پرزې، خدمتونه او د سون د موادو د بیا اخیستنې اسانتیاوې کاروي. د تړون په نافذېدلو سره د متحده ایالاتو وسله وال ځواکونه کولی شي چې د هند له بېسونو او هند د امریکا له بېسونو څخه استفاده وکړي.

د امریکا مشهوره مجله فوربس د دغې تړون په اړه لیکي؛ دغه تړون د هندوستان له پاره یو لوی ګام دی چې د سړې جګړې پر وخت له روسیې سره له ملګرتیا څخه له متحده ایالاتو (او جاپان او استرالیا) سره ملګرتیا ته وراوړي او په دې توګه د هند سمندرګی او د جنوبي اسیا سمندر په ځانګړې توګه له چین څخه خوندي کوي.

## پر پاکستان د تړون اغېز

پاکستان چې په سیمه کې د هندوستان د وجودي فلسفې دښمن بلل کېږي؛ په وروستیو کې په سیمه کې د خپل دوه مخي سیاست له وجې د افغانستان او امریکا په ګډون د سیمې له یو شمېر هېوادونو سره یې اړیکې

ترینګلې شوي دي. د پاکستان نیږدې کاونډی افغانستان او لوی ملاتړی امریکا بلل کیږي چې په وروستیو کې یې له دواړو سره اړیکې خړې شوې دي. نور نړیوال هیودونه یې هم اوس د ترهګری د ملاتړ کوونکي هېواد د بد نوم له امله ورسره ښې اړیکې نه پالي. اوسمهال پاکستان په سیمه کې یوازې پاتې شوی دی او د سیاسي انزوا پر لور روان دی. که د هندوستان او امریکا تر منځ یاد جنګي لوی تړون لاسلیک شي نو پاکستان به سیمه کې بیخي د یوازېتوب احساس وکړي او یوازې چین به یې ملګری پاتې شي.

د یاد تړون لاسلیکول به د پاکستان هغه ډار لا هم ډېر کړي چې په خپل هېواد د هندوستان له برید څخه یې لري. د دې تړون په لاسلیک سره به د پاکستان وار نور هم خطا شي او امکان لري چې له چین څخه د مرستې غوښتنه وکړي. خو چین هم له هوښیارتیا کار اخلي او پاکستان ته د لاس په ځای لستوڼی ورکوي. چین اوس د پاکستان په ستراتیژۍ په بشپړه توګه پوه شوی دی چې د ترهګرو په روزنه او ملاتړ بشپړه اتکا لري. چین اوس پوهیدلی چې په پاکستان کې د ترهګرو ملاتړ او روزنه د پاکستاني پوځ او استخباراتو لخوا کیږي نو له ای ایس ای څخه د ډار په اساس چې ترهګري بیجینګ ته ونه رسوي؛ ممکن د پاکستان سره له پوځي مرستې انکار وکړي.

## پر چین د تړون اغېز

د تاریخي معلوماتو له مخې هند له ۱۹۶۰مو کلونو راهیسې له چین سره سرحدي شخړې لري. همداراز د هند سمندرګی څخه استفاده هغه بل لامل دی چې د هند او چین د شخړو سبب کیږي. له دې ورهاخوا چین په سیمه کې هند ته د خپل اقتصادي رقیب په سترګه ګوري. بل لور ته د امریکا او چین اړیکې هم سره پوره ډاډمنې نه دي. اوس چې د چین دواړه سیالان (هند او امریکا) په خپل منځ کې لوی جنګي تړون لاسلیکوي نو پرته له شکه چې د چین په سیاسي وضعیت به منفي اغېز ولري.

وږی یا سنبله/ 1395

# د پاکستان نوې لوبه

په داسې حال کې چې هند غواړي نوي ډیلي ته د ولسمشر غني د سفر په لړ کې افغانستان ته نوره پوځي مرسته اعلان کړي؛ افغان طالبانو له هنده وغوښتل چې د افغانستان حکومت ته وسلې او جنګي څرخکې ورنه کړي. طالبانو په یوه خبرپاڼه کې ویلي «اسلامي امارت دا اقدام په کلکو ټکو غندي، دا ډول اقدامات به د دوو هیوادونو د ولسونو ترمنځ بې باوري زیاته کړي او د اړیکو د لا زیاتې خرابېدنیا سبب شي.» دا خبر پاکستانی ورځپاڼې ډیلي ټایمز خپور کړی او د طالب ویاند زبیح الله مجاهد له خولې وایي «د کابل له حکومت سره د وژونکو وسلو مرسته زموږ د هیواد له خلکو سره دوستي نه بلکې د بهرنیو تر ملاتړ لاندې جنایتکارې ډلې ملاتړ ګڼل کېدای شي او په زغرده زموږ له خلکو سره دښمني ده.»

هند په دې ورستیو کې د افغانستان پوځ ته څلور ام ۲۵ هلیکوپټرې ورکړې چې د افغان ځواکونو سره د هغوي په ځمکنیوو عملیاتو کې مرسته وکړي. دغه راز هند هرکال د افغان ملي امنیتي ځواکونو په سلګونو سرتېري په خپلو پوځي اکاډمیوو کې روزي. همداشان ټاکل شوې چې هند نوي ډیلي ته د ولسمشر غني د سفر په لړ کې افغانستان ته نوره پوځي مرسته هم اعلان کړي. ویل کیږي د افغانستان له لوري د هند حکومت ته د نویو وسلو لیست، چې اضافي څرخکې، درانه وسایط، زغرکاډې او پُرزې پکې شاملې دي، سپارل شوی دی. هند مخکې لا ویلي چې د افغانستان د حکومت له لوري د غوښتل شویو وسلو لویه برخه به دغه هیواد ته ورکړي.

اوس پوښتنه دا ده چې وسله والو طالبانو څنګه له افغان حکومت سره د هندوستان له پوځي مرستې سره غبرګون وښود؟

پر افغانستان د تاریخي دښمن له خوا تپل شوې جګړه لا نوره هم پسې اوږده شوې او افغان ولس نږدې هره ورځ د دې جګړې قرباني ورکوي، د افغانستان د پرمختګ دښمنان هڅه کوي چې دلته د جګړې ډګر تود وساتي او دوی ترې خپلې مستقیمې او غیر مستقیمې ګټې ترلاسه کړي. د غه کړیو د افغان وژنې جګړه کله د مجاهد په نامه ، کله د طالب په نامه او کله د داعش په نامه پر مخ بیولې ده. تاریخ ثابته کړې چې د دغو اورپکو تر شاه د نورو استخباراتي کړیو تر څنګ د پاکستاني پوځ او استخباراتو لوی لاس دی. پاکستان په مستقیمه توګه دغه جګړه له پاکستانه رهبري کوي او هره ورځ د لسګونو افغانانو ژوند اخلي. په تیر کې مجاهد

او اوس طالب او داعش د آی ایس آی غلامان دي. دوی ته چې د پاکستان لخوا هر امر کېږي؛ دوی یې پرته له ځنډه عملي کوي. په ټوله کې ویلای شو چې د اوسمهال د طالب په خوله کې د پاکستان ژبه ده. پاکستان چې ورته هر څه وایې دوی یې ترسره کوي.

اوس چې له افغانستان سره د پوځي مرستو ورکولو په غبرګون کې وسله والو طالبانو له هنده غوښتنه کړې چې افغان حکومت سره پوځي مرسته ونه کړي؛ د دې تر شا هم د پاکستان لاس دی. ځکه د کابل ـ ډهلي اړیکې تر بل هر وخت اوس ډېرې نږدې شوي او پاکستان له دغې حالته ډېر ځورېږي. طالب خو د افغان وژنې لپاره د پاکستان پخوانۍ پروژه ده، دوی د پاکستان د استخباراتو د سازمان سره نیږدې اړیکې لري او د هغوي څخه هدایت اخلي. اوس چې پاکستان د افغان ـ هند له نیږدې اړیکو کړیږي؛ نو غواړي له افغان حکومت سره بله لوبه وکړي او د خپل غلام طالب په مرسته له افغانستان سره د هندوستان د پوځي مرستو مخنیوی وکړي.

که طالبانو له هندوستانه له افغانستان سره د پوځي مرستو د نه ورکولو خبر د پاکستان په اشاره او لارښوونه نه وي کړی نو بیا طالبان ولې خپله اعلامیه پاکستاني رسنیو ته استوي؟ د قضیې اړخونه خو افغانستان او هندوستان دي؛ طالبانو ولې خپله اعلامیه هندي یا افغان رسنیو ته نه استوله؟ همداشان د طالبانو اړوند خبرونه تر ډېره نور لوی نړیوال خبري اژانسونه لکه رویټرز او الجزیره نشروي؛ دوی ولې دغو اژانسونو ته خپله اعلامیه نه استوله چې پاکستاني رسنیو ته یې ورکوله؟

د پاکستاني رسنیو لخوا د وسله والو طالبانو د یادې اعلامیې خپرول همدا په ډاګه کوي چې طالبانو هیڅکله په خوښه او زړه له افغانستان سره د هندوستان د پوځي مرستو په مقابل کې غبرګون نه دی ښودلی بلکې د پاکستان په اشاره یې یاد کار ترسره کړی دی.

وږی یا سنبله/ 1395

# د سولې څرک؛ حکمتیار کابل کې دی

که څه هم ټولنیزه میډیا فیسبوک او ځینو رسنیو خبر ورکړ چې د افغان حکومت او اسلامي حزب تر منځ د سولې هوکړه لیک ټیره ورځ لاسلیک شو خو بل لور ته (تاند) ویب پاڼې حزب اسلامي ته منسوب شهادت ویب سایټ په حواله لیکلي چې اسلامي حزب به د افغانستان له اسلامي دولت سره د شنبې ورځ (یوه ورځ له عرفې وړاندې) د سولې موافقه لاسلیک کړي. تاند ویب سایټ ادعا کړې چې د افغان حکومت دننه ځینو سرچینو او د اسلامي حزب له لورې یو شمېر کسانو چې نومونه یې نه غوښتل چې افشا شي، تاند ته ویلي چې ډېر امکان شته چې شنبې یا یکشنبې دغه موافقه وشي.

که څه هم د حکومت او حزب اسلامي رسمي سرچینو نه ده تایید کړې چې تر منځ یې د سولې تړون لاسلیک شوی دی؛ خو باور دا دی چې له اختر وړاندې به لاسلیک شي. ځکه څه موده وړاندې چې د حبیب الله کلکاني د مړي د بیا تدفین پر سر د کلکاني د پلویانو او مخالفانو تر منځ جنجالونه روان و؛ نو ښاغلي حکمتیار د دې لپاره چې په حکومت کې د ده خلاف کړیو (د کلکاني د بیا تدفین غوښتونکې ډلې) ؛ ملاتړ خپل کړي؛ نو د همدې لپاره یې د کلکاني په ملاتړ لیکنې هم کولې. اوس ځکه د حزب اسلامي او حکومت تر منځ د سولې تړون په لاسلیک باور کیدای شي چې ویل کیږي د حکمتیار له لوري د سقاو زوی په ملاتړ کې لیکنو هم مرسته کړې چې له حکمتیار سره د سولې له پروسې سره په حکومت کې د حکمتیار مخالفو او سقاو پلوو عناصرو خواخوږي خپله کړي.

له دې وړاندې ځینې کورنیو او بهرنیو رسنیو د افغان حکومت او حزب اسلامي تر منځ د سولې د پروسې د ګډوډېدو په اړه راپورونه خپاره کړي وو. د روان کال د جون په ۲۱ مه نېټه اسوشیټید پرېس خبري اژانس خبر ورکړی و چې، حکمتیار د افغانستان له دولت سره د سولې د موافقې لپاره نوي شرطونه زیات کړي دي. اژانس د یوې سرچینې په قول چې د حکومت او حمکتیار د سولې له خبرو خبر و؛ له امریکا سره د امنیتي تړونونو فسخه کېدل، د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالوېش او د نوي حکومت له لوري د هغه تاییدول د حکمتیار نوي شرطونه یاد شوي وو. همدا شان (لانګ وار ژورنال) یوې بلې بهرنۍ رسنۍ هم لیکلي و چې د

حکمتیار اسلامي حزب د سولې له پیل کړې پروسې ووت. سرچینې ویلي و حکمتیار ځکه د سولې خبرې ودرولې چې ادعا یې وکړه، د افغانستان د ملي یووالي حکومت د ولس له ملاتړه برخمن نه دی.

اوس پوښتنه دلته پیدا کیږي چې له ښاغلي حکمتیار سره د سولې خبرې ولې وځنډیدې؟

دوه دلیلونه شتون لري چې پر اساس یې له حکمتیار سره د حکومت د سولې په خبرو کې ځنډ څرګندیدای شي.

لومړی: د حکومت د نسبي مشروعیت د ختمولو پر مهال؛ حکومت ته د لاسته راوړنې فکتور: د حکومت د مشرانو تر منځ د ملي یووالي حکومت د سیاسي هوکړه لیک له مخې د روان کال د وړي په اته ویشتمه نیټه د حکومت نسبي مشروعیت هم له منځه ځي. د ملي یووالي حکومت مشران په تیرو دوو کلونوکې په دې ونه توانیدل چې د حکومت مشروعیت لپاره لویه جرګه راوغواړي نو د سیاسي هوکړه لیک د دویم کال په پوره کېدو سره اوسنی حکومت خپل نسبي مشروعیت هم له لاسه ورکوي. حکومتي مشران په دې پوهیدل چې لویه جرګه نشي دایرولی او د حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راځي؛ نو د دې لپاره چې د ولس له غبرګونه ځان وساتي؛ له حزب اسلامي سره د سولې هوکړه لیک لاسلیکول یې د وړي تر میاشتې چې په کې د حکومت مشروعیت له منځي، راورسولو. دوی د دې په خاطر چې د ولس غبرګون ته ځواب ولري؛ له حزب اسلامي سره سوله یې د حکومت د لاسته راوړنې په توګه تر ننه راورسوله.

دویم: د داخلي کړیو مخالفتونه: د نړیوالو رسنیو تر څنګ ځینې کورنیو کړیو چې د حکومت په داخل کې شتون لري ؛ هم له حکمتیار سره د سولې د خبرو مخالفت کاوه او خنډونه یې جوړول. په حکومت کې دننه د حزب اسلامي ګوندي مخالفینو د حکومت او اسلامي حزب تر منځ د سولې په خبرو کې خنډونه جوړول. دوی ډاریدل که له حکمتیار سره سوله وشي نو د دوی څوکۍ، واک او قدرت به یې نیمایې شي، دوی د خپل واک د نیمایي کیدلو له ډاره هم د حکومت او اسلامي حزب تر منځ په خبرو کې خنډونه جوړول او کله چې حکمیار د حبیب الله کلکاني په ملاتړ تبلیغات او لیکنې وکړې نو په مخالفه ډله کې یې هم ملاتړ ترلاسه کړ. د حکومت دننه د همدې کړیو مخالفتونو له وجې د حکومت او اسلامي حزب تر منځ خبرې تر دې مهاله وځنډیدې.

## په سوله او حکومتي سياسي جوړښت د حکمتيار اغېز

له حکمتيار سره د افغان حکومت سوله هم د وسله والو طالبانو پر ليکو او هم د حکومت په سياسي جوړښت د پام وړ اغېز ښندلی شي. د حکومت سياسي جوړښت چې په کې تر ډېره يو ګوند او د شمال يوه ډله واکمنه ده نو د حکميار په راتګ به د هيواد په شمال کې د واک تعادل رامنځته شي. هغه حکومتي څوکۍ چې اوسمهال يوې ډلې او يو ګوند په خپل انحصار کې نيولې او خپل ميراثي حق يې ګڼي؛ د اسلامي حزب سره په سولې سره به د ښاغلي حکمتيار او اوسني انحصارکر ګوند تر منځ وويشل شي. بيا به څوک په يوازې توګه خپل ځان دهيواد د پوره سمت امپراطور نه ګڼي.

همداراز د حزب اسلامي او حکومت تر منځ سوله د وسله والو طالبانو پر ليکو هم پراخ اغېز ښندي. په افغانستان کې د وسله والو مخالفانو جنګي ډلې دوه ډوله دي. يوه هغه ډله ده چې د مذهبي ايډيالوژۍ له مخې جنګېږي چې په هيواد کې په بشپړ ډول د اسلامي قانون غوښتونکي او د ډيموکراسۍ مخالف دي. اوس که د حکمتيار له ډلې سره سوله کيږي نو د طالبانو دغې ډلې لپاره به په هيواد کې د جګړې دليل پاتې نه شي او دوی به هم خپل ټوپک په ځمکه ږدي او د آي ايس آی له طالبانو به جلا او د سولې له پروسې سره به يو ځای کيږي. او بله هغه ډله ده چې په مستقيم ډول د آی ايس آی او د پاکستاني پوځ په امر او اشاره جنګيږي. دوی په هر حالت کې خپل بادار خوشالوي او هغه څه چې ورته امر کيږي هماغه پوره کوي. په دوی به د افغان حکومت او اسلامي حزب تر منځ سوله کوم اغېز ونه کړي.

وږی يا سنبله/ 1395

# د کابل ـ ډهلي اړیکو ولې د پاکستان په نس کې درد کړی دی؟

وروسته له هغه چې افغان ولسمشر هند ته سفر وکړ او هندوستان ژمنه وکړه چې د افغانستان د انکشافي پروژو لپاره به یو ملیارد ډالره مرسته کوي او همدارنګه د دواړو هېوادونو مشرانو بېلا بېلو برخو کې درې تړونونه لاسلیک کړل؛ دغه کار په یو ډول د پاکستان غصه پارولې ده. د هند او افغانستان نږدیوالي پاکستان اندېښمن کړی او وېره لري چې هند د افغانستان له لارې پاکستان په نښنه نه کړي. د پاکستان د باندنیو چارو وزارت ویاند نفیس ذکریا له امریکا غږ اشنا سره په مرکه کې ویلي چې نه غواړي هېواد یې د کابل ـ ډهلي اړیکو په نږدیوالي تبصره ولري خو خبرداری یې ورکړ، که چیري هند د افغانستان له خاورې د پاکستان ګټې په نښنه کړي؛ اسلام آباد به په کراره کېنني. ذکریا همدارنګه زیاته کړې چې د افغانستان ځمکه باید د هیڅ هېواد د ګټو په ضد ونه کارول شي. ذکریا وایي چې موږ تېرو کلونو کې هم دغه ډول څرګندونې کړې وې او راتلونکي کې به هم دا خبره پټه ونه ساتو.

بل پلو افغان حکومت د پاکستان اندېښنو ته په ځواب کې ویلي چې اجازه نه ورکوي چې له خاورې یې د بل هر هېواد پر ضد ګټه واخیستل شي. د ولسمشر غني د ویاند مرستیال شاه حسین مرتضوي ویلي «پاکستان د دې پرځای چې فکر وکړي چې کوم هېواد په افغانستان کې حضور لري یا نه لري؛ که چیري له ترهګرو سره په مبارزې باور لري نو غوره دا ده چې د حقاني شبکې، القاعده، طالبانو، کویټې شورا او د دوی ځالې له خپله هېواده اوباسي.

په تېرو څو کلونو کې د کابل ـ اسلام آباد اړیکې ډېرې وختونه په یو حال ثابتې نه دي پاتې. ځینې وختونه د دواړو هېوادونو اړیکې په ښکاره عادي ښکاري خو په ډېرې وختونو کې یې اړیکې ترینګلې وې. هر کله که افغانستان هندوستان ته نېږدې شوی دی نو پاکستان یې په یو نه یو ډول پر وړاندې خپل غبرګون ښودلی دی خو اوس پوښتنه دا پیدا کیږي چې په وروستیو کې د کابل ـ ډهلي اړیکو نږدېوالي ته په غبرګون کې د پاکستان اخطارونه به په افغان حکومت کوم اغیز ولري؟

دا خو ښکاره ده چې پاکستان، هندوستان د خپلې وجودې فلسفې دښمن بولي او پر هر ډول پرمختګ او اړیکو پراخوالي یې نشي زغملی. خو په وروستیو کې چې پاکستان په سیاسي انزوا کې د راګیر کېدو په حال کې دی؛ د کابل ـ ډهلي اړیکو ته غبرګون او هر ډول اخطار یې په افغان حکومت هیڅ اغیز نه شي لرلی.

هغه د پښتو متل په مصداق چې «اوبو اخیستی ځګ ته هم لاس اچوي» د پاکستان هر اخطار او ګواښ یوازې د خپل ځان د خلاصون لپاره دی. ځکه پاکستان د پخوا په شان ملاتړي نه لري. له یوې خوا یې له افغانستان سره په اوږو کې شکه پرته ده او له بلې خوا یې امریکا د پخوا په شان نازونه نه وړي. له عربي هېوادونو سره یې هم په مکه کې د پاکستاني طبعې لخوا د ځانګړي برید وروسته د اړیکو خونده نشته. ظاهراً اوس همداسې ښکاري چې پاکستان بیخي بې کسه شوی او له چین پرته بل ملاتړی نه لري.

امریکا یې ځکه د پخوا په شان نازونه نه وړي چې اوس ورته اړتیا نه لري. په تېر کې کله چې امریکا په افغانستان کې د طالبانو د نظام نسکورول غوښتل نو پاکستان ته یې اړتیا لرله ځکه په پاکستان کې یې پوځې اډې درلودې او له هماغه ځایه یې په افغانستان کې د طالبانو په نظام بریدونه کول. په هغه وخت کې په سیمه کې یوازینی هېواد چې د امریکا ګټې یې خوندي کولی شوې هغه پاکستان و. له همدې وجې یې پاکستان سره هر ډول نغدي، پوځي او سیاسي مرسته کوله. حتا تر دې چې کله چې پخواني ولسمشر حامد کرزي له هندوستان د پوځي مرستې غوښتنه وکړه او هندوستان ورسره ومنله خو امریکا د دې لپاره چې له افغانستان سره د هندوستان په مرستو پاکستان خفه نه شي؛ له هندوستانه یې وغوښتل چې افغانستان سره پوځي مرسته ونه کړي. خو اوس امریکا پاکستان ته هیڅ ډول اړتیا نه لري ځکه خو یې په سیمه کې چین سره د رقابت په خاطر هندوستان ته مخه کړې او اوس یوازیني هېوادونه چې د امریکا ګټې خوندي کولی شي هغه هندوستان او افغانستان دي.

افغان حکومت باید یاد حقیقت ته په کتو د پاکستان هر ډول ګواښ او اخطار څخه هیڅ ډار ونه لري او د پاکستان په مقابل کې باید خپلې اوسنۍ تګلارې ته دوام ورکړي. فقط دیته دې متوجه و اوسي چې په اړیکو کې د سیالو هېوادونو تر منځ تعادل په نظر کې ونیسي. حکومت باید داسې ونه کړي چې یو هېواد ته دومره ورنیږدې شي چې په مقابل کې یې د بل هیواد سره اړیکې وشلیږي. د نړۍ ټولو هېوادونو سره باید د هېواد د ملي ګټو د تعریف په رڼا کې اړیکې وساتل شي، نه د هېوادونو د خپلمنځي دښمنۍ او رقابت پر اساس. افغان حکومت باید د سیالو هیوادونو د خپلمنځي رقابت څخه د ځان په ګټه کار واخلي.

وږی یا سنبله/ 1395

# د کمېسیونونو حکومت

په افغانستان کې که هره لویه او زړه بوږنوونکې پېښه رامنځته شوې ده؛ حکومت یې د څېړلو او ارزولو لپاره کمېسیون ټاکلی او تر ډېره یې په همدې اساس د پېښې اړوند د ولس د غبرګون مخنیوی کړی دی. خو له بده مرغه چې له پېښې د څه مودې وخت په تېرېدو وروسته بیا پېښه هم یاده وځي، ورته ټاکل شوی کمېسیون هم او د کمېسیون پایلې هم. ولس نه د کمېسیون له کاره خبر شي او نه د یادې پېښې اړوند د کمېسیون د څېړنو پایله له ولس سره شریکېږي. تر ډېره د کمېسیونونو تشکیل هم حکومتي وي څکه خو ځینې خلک یې څېړنې او موندنې نه مني.

اوس د تازه راپورونو له مخې ویل کېږي چې د ملي یووالي حکومت مشرانو د حکومت له پیل څخه تراوسه، د لویو او زړه بوږنوونکو پېښو د څرنګوالي او څېړنې لپاره ۶۱ کمېسونونه ټاکلي دي. په دې کې د طالبانو په لاس د کندوز سقوط، د فرخندې د وژنې له پاره، په جلریز کې له ۲۰ زیاتو سرېازانو سرپرېکولو، د شاه شهید بې مخینې پېښې په اړه، د میدان وردګ له نظامي اکاډمۍ د تازه فارغیو شویو پولیسو پر کاروان برید، د ولسي جرګې د لومړي معاون حاجي ظاهر څرګندونو، دکابل بانک کړکېچ په اړه، د خیالي مکتبونو، د هوشمند پروژې، د لوړپوړو چارواکو د ساتنې د ځانګړې قطع په ریاست برید، په روښاني غورځنګ برید له هغو ټولو پېښو څخه وو چې ولسمشر یې په اړه د څېړنو له پاره ځانګړي کمېسیونونه ټاکلي وو.

همداشان وروستی کمېسیون چې وټاکلی شو هغه په ورستیو هغو کې د لوګر په ازره ولسوالۍ کې د پاکستاني پوځي چورلکې د ناستې په اړه کمېسیون و چې د ملي وحدت د حکومت له خوا ټاکل شوی و. خو له بده مرغه چې د ځینو دلایلو پر بنسټ دغه کمېسیونونه نه دي توانېدلي چې د یادو پېښو په اړه هر اړخیز معلومات ټول او پایلې یې له خلکو سره شریکې کړي. دا چې ولې دا کمېسیونونه نه دي توانېدلي چې هر اړخیزه څېړنه وکړي او پایلې یې له ولس سره شریکې کړي؛ دوه دلیلونه لري.

لومړی: حکومت لکه څرنګه چې د بهرنۍ نسخې له مخې پنځوس ـ پنځوس تقسیم دی نو دلته د واک دوه جزیرې شتون لري. یوه ارګ او بله سپېدار ماڼۍ ده. د پېښې لپاره که کوم کمېسیون ټاکل کېدو نو لومړی خو به لکه د نورو حکومتي څوکیو په شان د کمېسیون په ریاست او رهبریت د واک دواړه جزیرې نه جوړېدلې. هر یوه به هڅه کوله چې د کمېسیون مشر باید د دې له ډلې و اوسي او هغه څه چې دی ( ارګ یا سپېدار

مانۍ) یې غواړي باید هماغه ډول عمل وکړي. او بیا به کله چې له ډېرو جنجالونو وروسته کمېسیون وټاکل شو نو یا به یې رییسان دوه ټاکل کېدل او یا به رییس یو ګروپ ته وفادرا او مرستیال به یې بل ګروپ ته وفادار شخص و. دلته به هدف د ټاکنو څېړل، ارزول او پایلې ترلاسه کول نه و، بلکې هدف به د ولس له غبرګونه د حکومتي مشرانو خلاصون او په یو نه یو ډول په یوې حکومتي څوکۍ د خپل ګروپ د غړي ټاکل و. پر همدې اساس د کمېسیون پایلې به هغه ډول وې؛ کوم ډول چې د حکومت دواړو شریکانو غوښتلې. همدا دلیل و چې ډېری وختونه دا پایلې هم له ولس سره شریکې نه شي.

دویم: دا سمه ده چې هره ټاکنه څېړنې ته اړتیا لري، پرته له څېړنې نه شي کېدلی چې حکومت یې په اړه پرېکړه وکړي، اصلاً د اصولو له مخې ټاکنې ته د کمېسیون ټاکلو هدف هم همدا وي چې ټاکنه په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي، ملامت او سلامت معلوم شي، راپور یې حکومت ته وړاندې شي او د هغې په رڼا کې بیا حکومت پرېکړه وکړي. د همدې هدف د ترلاسه کولو لپاره د ټاکنې د څېړنې په کمېسیون کې باید بې طرفه، رښتونې، په کار پوه، مسلکي او ولس ته وفاداره خلک وګمارل شي. خو له بده مرغه په افغانستان کې کمېسیون ټاکل یوازې د خلکو خولې بندول او د ولس په سترګو کې شګې اچولو لپاره ترسره کېږي.

دلته که د ټاکنې د څېړنې لپاره کمېسیون ټاکل کېږي نو معیار یې مسلک، پوهه، رښتینولي او ولس ته وفاداري نه بلکې دلته معیار، قوم پالنه، ګوند پالنه او د هغه شخص پالنه ده؛ د چا لخوا چې کمېسیون ته معرفي کېږي. دلته د ټاکنې د څېړنې په کمېسیون کې افراد خپلو ډلو او ټپلو ته وفاداره وي او هغه څه چې واقعیت وي؛ پرې پرده اچول کېږي. دلته تر ډېره حقیقت موندونکي کمېسیون ته هغه افراد او اشخاص ټاکل کېږي چې په یو نه یو ډول په ټاکنه کې ککړ وي. کله چې دغسې اشخاص چې په په خپله په ټاکنه کې ککړ وي او یا یې د ګوند او ډلې کس په ټاکنه کې لاس ولري نو دوی بیا د دې پرځای چې ولس ته کار وکړي او لکه څنګه چې یې نوم حقیقت موندونکی دی، د حقیقت لپاره کار وکړي؛ بر عکس د خپل ځان او په ټاکنه کې د خپل ککړ شخص د  خلاصون لپاره کار کوي. همدا دلیل دی چې د ډېری لویو ټاکنو څېړنې بې پایلې وي او که پایله هم ورکړي نو بیا له ولس او رسنیو سره نه شریکېږي.

وری یا سنبله/ 1395

# د نظامي سکول او د امریکايي پوهنتون برید وروسته غبرګونونه

د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ پر ۲۵ د پېښور پر پوځي ښوونځي خونړی برید وشو چې په کې نږدې ۱۵۰ کسان ووژل شول او ۱۲۰ نور ژوبل شول. پاکستان هغه مهال سمدستي خپل غبرګون افغان لوري ته وښوده او لوړ پوړي مقامات یې کابل ته راورسیدل. دوی هغه وخت پر ښوونځي برید کوونکي وسله وال له افغان حکومت څخه وغوښتل او له څه مودې وروسته افغان حکومت پر یاد ښوونځي برید کوونکی وسله وال د بې پیلوټه الوتکې په برید کې وواژه. اوس تېره ورځ په کابل کې په افغان امریکايي پوهنتون خونړی برید وشو چې په کې ۱۳ تنه شهیدان او ۴۵ نور ټپیان شول. افغان ولسمشر له پېښې وروسته سمدستي د پاکستان د پوځ له مشر راحیل شریف سره اړیکې نیولې او په ټینګه یې ترې غوښتې چې د برید سمبالوونکو په وړاندې دې جدي او عملي اقدام وکړي.

د افغان لوري غبرګون تر یوه بریده پر ځای دی خو دلته شک د ترهګرو سره د مبارزې لپاره د پاکستان په ارادې دی. پوښتنه هم همدا ده چې آیا پاکستان به لکه د افغان حکومت چې د پېښور د پوځي ښوونځي برید کوونکی یې په نښه او وواژه؛ آیا پاکستان به ورته عمل په ترسره کولو پر امریکايي پوهنتون برید کوونکي به ووژني؟

له وسله وال خو ګیله نه ده په کار، یو څوک چې ښوونځی، پول او روغتون ورانولی شي، پوهنتون هم ورانولی شي، یو څوک چې د اسلامي زده کړې په مرکز (مسجد) برید کوي نو په عصري علومو زده کړې مرکز پوهنتون یې هم کولی شي، یو څوک چې د سپېڅلي کتاب قرآنکریم پروا نه ساتي او پر مسجد برید کې یې شهیدوي نو د پوهنتون کتابونه هم سوځولی شي او یو څوک چې پر ممبر ولاړ مولا وژلی شي نو په پوهنتون کې زده کړیال ځوان هم وژلی شي. د وسله وال سر او کار له وژنې او وینې تویونې سره دی خو پوښتنه دا ده چې دا وسله وال او د افغانستان د راتلونکې دښمن څوک دی چې د افغانانو بنسټ ته یې پټیلې ده او تهداب یې نړوي؟

ځواب بیخي روښانه دی. دا د هغو بریدونو لړۍ ده چې د پاکستان له خاورې د افغانستان د امن او پرمختګ پر ضد پلانیږي. په امریکایې پوهنتون برید په اصل کې په زده کړه او د افغانستان په پرمختګ برید دی. د افغانستان په امن برید دی، د افغانستان په روښانه راتلونکې برید دی او د افغانستان په سرنوشت برید دی.

دلته د افغانانو تور مخي پنجابي دښمن د افغانستان پرمختک ونشو زغملی او دا یې په افغانانو پیرزو نه و چې د اوسني عصر سره سم د عصري ټکنالوژۍ زده کړې وکړي. د افغانان پر ضد او د افغانانو د پرمختک پر ضد جګړه پاکستان رهبري کوي او لاسپوڅي یې وسله وال طالبان او دلته په حکومت کې پلورل شوي کوډاګیان دي.

له غله څخه د غلو پر ضد د اقدام کولو تمه کول جاهلي او د وخت ضایع کول دي. افغان حکومت هم له غله څخه د غله پر ضد د اقدام غوښتنه کوي. پاکستان چې د ترهګرۍ ځاله ده او خپل ژوند او بقا په ترهګر پالنه کې ویني؛ څنګه امکان لري چې د ترهګرو پر ضد دې اقدام وکړي؟ دلته له پاکستانه په بار بار د ترهګرۍ پر ضد د مبارزې د تکراري غوښتنې څخه د افغان حکومت په اراده هم شک پیدا کیږي. افغان حکومت تل همدا یوه خبره تکراروي چې پاکستان دې په خپله خاوره کې د میشتو ترهګرو او ترهګرۍ پر ضد اقدام وکړي خو پاکستان یې په مقابل کې تکراري ژمنې کوي. افغان حکومت له پاکستانه په تکراري غوښتنه هم د ولس په سترګو کې شکې اچوي او هم خپل وخت ضایع کوي.

کله چې په ډاګه شوه چې پاکستان خپله بقا په ترهګر پالنه کې ویني او بیا هم افغان حکومت عبرت نه اخلي او له غله څخه د غلو پر ضد د اقدام غوښتنه کوي؛ مانا دا چې افغان حکومت د پاکستان خلاف سالمه پالیسي نه لري، پاکستان ته ډیپلوماټیک ځواب نه شي ورکولی او سیاست یې د پاکستان په مقابل کې ثابت سیاست نه دی. له یو لوري نارې وهي چې له پاکستانه د خیر تمه نه لري او له بل لوري بیا ترې د ترهګرۍ پر ضد د اقدام په تمه دی. د افغان حکومت دا متزلزل سیاست هیڅ کومه ګټه نه رسوي او یوازې د وخت ضایع کول دي. که افغان حکومت غواړي چې پاکستان له ترهګرۍ لاس په سر شي نو له نورو بهرنیو چینلونو دې ګټه واخلي. افغان حکوت دې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته په افغانستان کې د پاکستان له لاسوهنو او د افغان وژنې اړوند اسناد وړاندې کړي. افغان حکومت دې په نړیوال سټیج خبره ستونزه مطرح کړي. له پاکستانه په تکراري غوښتونو هیڅ نه کیږي.

وږی یا سنبله/ 1395

# د نواز شریف مکارتوب

په داسې حال کې چې پاکستان د روان کال د دسمبر یو دېرشمه نېټه په پاکستان کې د مېشتو افغانانو لپاره وروستی ضرب الاجل ټاکلی و؛ تېره ورځ د دغه هیواد صدراعظم نوازشریف د افغان کډوالو د اوسېدو موده د ۲۰۱۷ م کال د مارچ تر میاشتې اوږده کړې ده. نواز شریف ویلي چې د افغانستان کډوال د ۲۰۱۷ کال د مارچ میاشتې ترپایه پاتې کېدلی شي. نوموړي، دا پرېکړه د پاکستان د کابینې په غونډه کې کړې، او د سرحدونو وزیر عبدالقادر بلوچ ته یې امر کړی، چې په دې لړ کې دې د افغان کډوالو د مشرانو ترڅنګ له ځایي سیاسي او قبایلي مشرانو سره هم سلا مشورې وکړي. د کابل او اسلام اباد ترمنځ په دې وروستیو کې پر سرحدي مسایلو تر شخړو وروسته پاکستان کې کډوال ددغه هېواد د پولیسو لخوا ځورول کیږي او بندیان کیږي. په دې لړ کې ډېر شمېر کډوال بېرته افغانستان ته ستانه شوي چې د رسمي سرچینو په وینا دا بهیر ډېر توند شوی. خو د پاکستان لومړي وزیر ویلي؛ د افغانستان خلک ددوی ورونه او مېلمانه دي او څوک به پرېنږدي چې هغوی د پاکستان په خاوره کې وځوروي. دا په داسې حال کې ده چې په پاکستان کې د افغان مهاجرو کمیشنر ډاکټر عمران زېب ویلي و، له لوی اختره وروسته به هره میاشت ۲ لکه ۴۰ زره افغانان خپل هیواد ته استول کېږي.

له دې وړاندې د پاکستان د لومړي وزیر نواز شریف ځانګړي استازي طارق فاطمي ویلي و نور افغان کډوال په خپل هېواد کې نه شي زغملی او هغوی باید په خپل خوښه افغانستان ته لاړ شي. نوموړي زیاته کړې وه، چې پاکستان له تېرو څو لسیزو راهیسې نېږدې ۳ میلیونه افغانانو ته په خپله خاوره کې ځای ورکړی و، خو نور دا کار نه شي زغملای. همداشان څه موده وړاندې پخپله نواز شریف د سما ټلویزیون سره په مرکه ویلي و چې افغان کډوال په پاکستان کې په یوه امنیتي ننګونې بدل شوي دي. نوموړي ویلي و چې ترهګر د افغان کډوالو کمپونو ته انتقال شوي دي.

اوس پوښتنه دا ده چې داسې کومه خبره پیدا شوه چې د نواز شریف په نظر کې یې ۱۸۰ درجې بدلون راوست؟ همدغې نواز شریف خو په غیر مستقیم ډول افغان کډوال تروریستان بلل؛ اوس څنګه په خپله خاوره کې د نوموړي پر وینا ترهګرو ته د اوسیدو موده غځوي؟ او همداشان اوس په پاکستاني چارواکو خو ویلي و چې نور افغان کډوال نه شي زغملی نو څنګه یې ناځاپه د افغان کډوالو د منلو زغم پیدا کړ؟

نواز شریف د دوه اهدافو لپاره په پاکستان کې د مېشتو کډوالو د اوسیدو موده وغځوله.

لومړی : په افغانستان کې د خپل بازار له لاسه ورکولو ډار: د راپوروونو له مخې افغان ولسمشر محمد اشرف غني وایي، چې له دې وروسته پاکستان هېواد ته اجازه نه ورکول کیږي، چې خپل سوداګریز مالونه د افغانستان له خاورې د منځنۍ اسیا هېوادونو ته ورسوي. په وروستیو کې چې اسلام اباد د واګې بندر له لارې د افغان سوداګرو مالونو ته اجازه ورنه کړه، چې هندوستان هېواد ته یې ورسوي، او همداشان یې د افغان سوداګرو پر مخ د چمن ـ سپین بولدک لاره د څو ورځو لپاره وتړله نو ولسمشر غني هم د پاکستان دغه عمل ته په کتو سره په ورته او ځوابي اقدام لاس پورې کړ. ولسمشر غني ویلي پاکستان ته نور له افغان خاورې د تجارتي مالونو د لېږد رالېږد اجازه نشته.

له بل لوري څو ورځې وړاندې افغانستان د لومړي ځل له پاره د چین په شان لوی اقتصادي هېواد سره وصل شو او د ۲۰ میلیونو ډالرو په ارزښت حیرتان بندر ته یې لومړني تجارتي مالونه ورسېدل. همدارنګه ایران هم ژمنه وکړه، چې ډېر ژر به د هرات ـ خواف ریل پټلۍ هم جوړې او کتې اخیستنې ته وسپاري. نو نواز شریف پوه شو چې هیواد یې د خپلو توکو لوی بازار (افغانستان) له لاسه ورکوي نو د دې لپاره چې د پاکستان پر وړاندې د افغان حکومت دریځ نرم کړي او پاکستاني مالونو ته اجازه ورکړي څو افغانستان ته او د افغانستان له لوري نورو اسیاسي هیوادونو ته صادر شي؛ په دغه مکارتوب لاس پورې کړ چې ګویا افغان کډوال ددوی ورونه او مېلمانه دي او څوک به پرېنږدي چې هغوی د پاکستان په خاوره کې وځوروي.

دویم : پر افغان حکومت د فشار د الې ساتل: دا چې له کلونو راهیسې پاکستاني حکومت په پاکستان کې مېشت کډوال په افغان حکومت د فشار د آلې په توګه کارولي دي او اوس چې په شدت سره یې هیواد ته د راستنېدو بهیر روان دی نو پاکستان په دې فکر کې شو چې پر افغان حکومت یې د فشار آله له لاسه ورکوي. د همدې لپاره چې په راتلونکې کې که د کابل او اسلام په اړیکو کې شکه پیدا کیږي نو پاکستان به یو ځل بیا د تېر په څېر له افغان کډوالو د فشار د آلې په توګه کار واخلي؛ اوس یو ځل بیا غواړي په پاکستان کې د افغان کډوالو د اوسېدو موده وغځوي. خو په پاکستان کې مېشتو افغان کډوالو ته په کار ده چې د نواز شریف په مکر او فریب ونه غولیږي او د تل لپاره خپل هیواد ته راستانه شي. همدا شان افغان حکومت ته هم په کار ده چې له پاکستانه د افغان کډوالو د راستنېدو لړۍ چټکه کړي.

وږی یا سنبله/ 1395

# د وروستیو بریدونو په ترسره کولو پاکستان څه غواړي؟

کابل ښار یو ځل بیا د افغانانو په وینو ولمبېدو، یو ځل بیا ډېرې مېندې بورې، میرمنې کونډې او کوچنیان تیمان شول. تیره ورځ د افغانستان تاریخي دښمن د دفاع وزارت په منصوبینو خونړی برید وکړ. د وروستیو راپورونو له مخې د کابل د تېرې ورځې په دوو بریدونو کې لږترلږه ۲۴ تنه وژل شوي او تر ۹۰ ډېر نور ژوبل دي. ویل کیږي چې چاودنې د ځانمرګو ترهګرو له خوا هغه وخت وشوې چې د ملي دفاع وزارت منسوبین رخصتېدل. لومړنۍ چاودنه د مرادخانۍ د یک پیسه کې پُل ته نږدې د دفاع وزارت د دروازې مخ کې وشوه او له هغې وروسته کله چې خلک د لومړنۍ چاودنې د ټپیانو مرستې ته راټول شول، یو ځانمرګي بریدګر ورسره چاودیدونکو موادو ته چاودنه ورکړه. طالبانو د برید مسؤولیت منلی دی او ادعا یې کړې چې په دغه ځانمرګي برید کې یې د افغانستان د دفاع وزارت لوړپوړي چارواکي په نښه کړي دي.

بل پلو له دغو دوو خونړیو چاودنو څو ساعتونو وروسته کابل ښار دریمې چاودنې هم ولړزاوه. تېره شپه شاوخوا یوولس بجې د کابل ښار د شهرنو په سیمه کې د پاملرنې پر خیریه بنسټ لومړی د موټربم ځانمرګی برید وشو او له هغې وروسته درې کسه وسله‌وال بریدګر د پاملرنې موسسې دفتر ته ننوتل او له افغان امنیتي ځواکونو سره یې د سهار تر لسو بجو جګړه وکړه. دا پر کابل په دوو اونیو کې دریم برید دی، تېره اوونۍ په پلازمېنه کې پر امریکايي پوهنتون برید کې ۱۳ تنه وژل شوي وو. د معمول سره سم په افغانستان کې د ډېری بریدونو او ورانکارو کړنو تر شاه د پاکستان لاسونه وي او په وروستیو دوه اونیو کې په کابل کې د ترسره شویو بریدونو تر شا هم د پاکستان لاس کیدلای شي.

پوښتنه دا ده چې په افغانستان په ځانګړي توګه په کابل کې د وروستیو بریدونو په پلان کولو او ترسره کولو سره پاکستان کوم هدف غواړي ترلاسه کړي؟

د کابل په وروستیو بریدونو او په ټوله کې کې په ټول هیواد کې د وروستۍ ناکرارۍ تر شا پاکستان دوه لوی هدفونه تعقیبوي.

لومړی : د کابل ډهلي اړیکو نیږدېوالي ته غبرګون: لکه څرنګه چې په وروستیو کې د کابل ـ ډهلي اړیکې د پخوا په پرتله ډېرې نیږدې او خوږې شوي دي او بل لور ته له پاکستان سره د امریکا د اړیکو د خرابوالي په

درشل کې؛ د هند او امریکا تر منځ د لوی جنګي تړون لاسلیک سره پاکستان په سیمه کې خپل ځان بیخي یوازې ولید. له یو لوري یې له کابل سره اړیکې ترینګلې دي، له بل لوري پرې د امریکا مرسته کمه شوې او له بل لوري پرې د هند او امریکا تر منځ جنګي تړون سخت فشار راوړی دی. د پاکستان مرکزي حکومت اوس په کور دننه د سیاسیونو له سخت فشار سره مخ دی.

پاکستاني سیاسیون وايي چې د مرکزي حکومت د غلطې پالیسۍ له وجې پاکستان له انزوا سره مخامخ کېدونکی دی. پاکستان له همدې حالته کړېږي او په افغانستان کې یاد بریدونو د ترسره کولو څخه یې هدف هم همدا دی چې افغان حکومت ته وښايي چې که له هندوستان سره اړیکې ډېرې خوږې کړي او پاکستان شاته وغورځوي نو پایله به یې همدا وي. پاکستان یاد بریدونه د کابل ـ ډهلي د نیږدې کېدونکو اړیکو په غبرګون کې کړي دي. په دې ډول بریدونو سره غواړي افغان حکومت ته پیغام ورکړي چې هندوستان ته ډېر نیږدې کېدل یې خطرناکې پایلې درلودلای شي.

دویم : د سولې څلور اړخیز ناکام بهیر بیا پیل ته لاره هوارول: وروستي راپورونه وایې پاکستان هڅه کوي چې د سولې د خبرو څلور اړخیز بهیر بیا پیل شي. د اکسپرس ټریبون ورځپاڼې د خبر له مخې پاکستان هڅه کوي چې د روانې میاشتې په اوږدو کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلې په څنډه کې د افغانستان، پاکستان، امریکا او چین غونډه جوړه شي. ویل کېږي په دې ناسته کې به د یادو څلورو هېوادونو چارواکي د شته اختلافاتو د حل هڅه وکړي څو بیا ځلې د څلور اړخیز بهیر پیل ته زمینه برابره شي. اوس په کابل او په ټول افغانستان کې د امنیتي حالاتو د ترینګلي کولو په خونړیو بریدونو ترسره کولو سره پاکستان غواړي افغان حکومت اړ کړي څو د افغان سولې د څلور اړخیزو غونډو ناکام بهیر د بیا ځلي پیل ته غاړه کېږدي.

د څلور اړخیز بهیر له بیا پیل څخه د پاکستان هدف دا دی څو په سیمه کې له افغانستان او امریکا سره یې اړیکې بېرته بنې شي او د سیاسي انزوا هغه خطر چې په سیمه کې پاکستان ته متوجه دی؛ مخنیوی یې وکړي.

وږی یا سنبله/ ۱۳۹۵

# سوله په طرحه نه بلکې د طرحې په عملي کولو راځي

په داسې حال کې چې د پکواش موسسه په افغانستان کې له ۲۰۱۱م میلادي کال راهیسې د سولې په برخه کې فعالیتونه کوي او په دې اړه یې تر اوسه څو ناستې جوړې کړې دي؛ اوس په تازه کې یو ځل بیا غواړي، چې د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ د خبرو اترو په اړه یوه ځانګړې کړنلاره جوړه کړي. دغې کاناډايي بنسټ تېره ورځ په همدې موخه په کابل کې له مدني فعالانو، د پوهنتون استادانو، قومي مشرانو، دیني عالمانو، ښځو او د پارلمان له ځینو غړو سره د " د افغانستان د سولې پروسې څخه ملاتړ، وړاندیزونه او نظریات" تر نامه لاندې غونډه وکړه. د پکواش بنسټ د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو په موخه د یوې ځانګړي کړنلارې او چوکاټ په جوړولو بوخت دی.

باید له افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ د ۴ یا ۵ کلونو له پاره اوربند اعلان شي، په دغو شاوخوا پنځوو کلونو کې پرته د سفارتونو د امنیت ساتلو څخه دې نور ټول بهرني ځواکونه له افغانستان ووځي، د ښځو او بشري حقونه باید اسلامي او عرفي وي، د ټاکنو پروسه باید شفافه وي او په اخر کې باید د افغانستان اساسي قانون ځینې برخې تغیر هغه مهم مسایل او نظریات دي، چې د څو غونډو په ترڅ کې پکواش راټول کړي دي.

اوس پوښتنه دا ده چې یاده طرحه به د افغان سولې په راوستلو کې څومره ګټوره او څومره د عملي کېدو وړ وي؟

د دې تر څنګ چې پکواش د افغان سولې اړوند څو غونډې ترسره کړي دي؛ د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا تر منځ څلور اړخیزې غونډې هم په همدې موخه ترسره شوي دي. د یادو غونډو موخه دا وه چې وسله وال طالبان دې له افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته کېني. په دغه بهیر کې پاکستان د غونډې ګډونوالو هیوادونو ته ژمنه ورکړې وه چې وسله وال طالبان به د سولې مخامخ خبرو ته کېنوي او که طالبانو له خبرو انکار وکړ نو پر ضد به یې پوځي اقدام کوي. خو دا دی څلور ـ څلور اړخیزې ناستې ترسره شوې، خو نه وسله وال طالبان د سولې خبرو ته حاضر شول او نه یې پر ضد پاکستان پوځي اقدام وکړ.

د دغې غونډو بهیر او پایلو ته افغان ولس او حکومت ډېر هیله مند و، حکومت هیله لرله چې چین او امریکا به پر پاکستان له خپل نفوذه په استفادې فشار راوړي څو وسله وال مخالفان د سولې خبرو ته حاظر کړي او یا که یې مخالفت کوي نو لږ تر لږه له ملاتړه یې لاس واخلي خو لکه د پاکستان په شان د چین او امریکا نقش هم په دې غونډو کې نمایشي و او هیڅ کومه گټه یې ونکړه. پاکستان د افغانستان په شمول امریکا او چین ته هم دوکه ورکړه او په خپلو تکراري ژمنو یې وغولول. بلاخره د څلور اړخیز بهیر د غونډو پایله هم د وخت ضایع کول او د فرصتونو له لاسه ورکول شول.

اوس چې پګواش کاناډایې بنسټ یو ځل بیا د سولې لپاره په یوې جامعې کړنلارې کار کوي چې په کې ویل شوي : باید له افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ د ۴ یا ۵ کلونو له پاره اوربند اعلان شي، په دغو شاوخوا پنځوو کلونو کې پرته د سفارتونو د امنیت ساتلو څخه دې نور ټول بهرني ځواکونه له افغانستان ووځي، د ښځو او بشري حقونه باید اسلامي او عرفي وي، د ټاکنو پروسه باید شفافه وي او په اخر کې باید د افغانستان اساسي قانون ځینې برخې تغیر راوستل شي؛ دغه طرحه یوه گټوره لاره ده خو د عملي کېدو اړوند یې د افغان حکومت او مخالف لوري (وسله والو طالبانو) په نیت شکونه شتون لري.

د « ۴ یا ۵ کلونو له پاره د اوربند په شرط کې» د وسله والو طالبانو په نیت او « په دغو شاوخوا پنځوو کلونو کې پرته د سفارتونو د امنیت ساتلو څخه له افغانستانه د نورو ټولو بهرني ځواکونو د وتلو په شرط کې» د افغان حکومت او ناټو په نیت کې شک لیدل کیږي. ځکه وسله وال طالبان په مستقیمه توګه د پاکستان د پوځ او آی ایس آی تر نفوذ لاندې دي او پاکستان په هیڅ صورت په افغانستان کې د سولې غوښتونکی نه دی. نو په همدې لحاظ د ۴ یا ۵ کلونو له پاره په اوربند سلاح نه شي. او همدا ډول د افغانستان او امریکا تر منځ د امنیتي او دفاعي تړون له مخې امریکا کولی شي چې ۲۰۲۴ کال پورې په افغانستان کې پوځي اډې ولري. نو دغې تړون ته په کتو ډېر امکان د دې شته چې بهرني ځواکونه له ۲۰۲۴ کاله وړاندې افغانستان پرېښږدي.

وږی یا سنبله/ 1395

# له حزب اسلامي سره سوله، په نورو ډلو يې اغېز او د حکمتيار مسوليت

که څه هم اسلامي حزب او افغان دولت ترمنځ د سولې مذاکرات له نژدې دوه کالونو راهيسې روان ول چې وخت ناوخته ټکني کېدل او د حکومت په داخل کې يو شمېر کړيو او د اسلامي حزب پخواني مخالفينو يې مخالفت کاوه؛ خو بلاخره تېره ورځ په کابل کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د استازو او د ګلبدين حکمتيار د اسلامي ګوند د استازو ترمنځ د سولې هوکړه لاسليک شوه. د سولې هوکړه ليک د دولت له خوا د ملي امنيت د شورا د مشر حنيف اتمر او د اسلامي ګوند د يوه استازي انجنير امين کريم ترمنځ وروسته له هغه لاسليک شو چې د اسلامي ګوند د استازو په شمول د غونډې ټول برخه وال د افغانستان مقدس ملي سرود ته د درناوي په نيت ودرېدل.

په ورته مهال د امريکا متحدو ايالتونو هم د افغانستان د حکومت او د حکمتيار د اسلامي حزب ترمنځ د سولې د موافقې هرکلی وکړ. د متحدو ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي «موږ د حکمتيار له اسلامي حزب سره د سولې د موافقې په ترلاسه کولو کې د افغانستان د حکومت د هلوځلو ستاينه کوو، او د افغانستان د شخړې د بيخي پای ته رسېدا هيله لرو.»

اوس پوښتنه دا ده چې دافغان دولت او اسلامي حزب تر منځ سوله به د افغان دولت په نورو مخالفو وسله والو ډلو او د حکومت په سياسي چوکاټ کوم اغېز ولري او له سولې وروسته د ښاغلي حکمتيار مسوليت څه دی؟

## په نورو ډلو يې اغېز

د حکومت او اسلامي حزب تر منځ د سولې خبرې په بشپړ ډول افغاني وې او د حکومت په دغه اقدام سره په بين الافغاني مذاکراتو د ولس او وسله والو مخالفانو باور زياتيدلی شي، د اسلامي حزب او افغان دولت تر منځ د سولې د هوکړې لاسليک؛ د افغانستان وسله والو مخالفانو ته د سولې واضح پيغام ورکوي چې حکومت د سولې راوستلو لپاره ژمن دی او دوی بايد په دې بهير هيڅ ډول شک او ترديد ونلري، له يادې هوکړې وروسته د ښاغلي حکمتيار له ښنلو سره نورو هغو ټولو ته لاره هوارېږي چې په ورته کړنو تورني دي. د دغې

هوکړې له لاسلیک وروسته هغو وسله والو طالبانو ته چې د مذهبي ایډیالوژۍ له مخې یې د حکومت مخالفت کاوه؛ له حکومت سره د مخالفت او جنګېدلو دلیل هم ختمیږي. همداشان په وسله والو طالبانو کې د اسلامي حزب په نفوذي وسله والو باندې هم اغېز پریباسي چې وسله کیږدي او د اسلامي حزب په شان سیاسي مبارزه وکړي.

د دې تر څنګ د اسلامي حزب او افغان حکومت تر منځ د سولې هوکړه لاسلیکول د حکومت په سیاسي چوکاټ هم اغېز لري. د دغې هوکړې په لاسلیک سره به د حکومت په چوکاټ کې د واک تعادل رامنځته کړي، په ځانګړي توګه د هېواد شمال چې تر ډېره په کې یوه ډله او یو حزب واکمن دی. دا چې د اسلامي حزب او حکومت تر منځ د سولې په هوکړه لیک د ملي یووالي په نامه له حکومت سره لاسلیک شو نو د حکومت مشروعیت ته چې پای ته رسیدلی؛ یوه پلمه په لاس ورکوي. په دې مانا چې که چیري خلک د ملي یووالي حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي نو حکومت به له اسلامي حزب سره د سولې هوکړه مخې ته کوي چې هوکړه د ملي یووالي له حکومت سره شوې ده او که د حکومت مشروعیت ختم وي نو بیا له اسلامي حزب سره سوله هم مشروعیت نه لي. او خلک چې سولې ته تږي دي نو په هیڅ صورت له اسلامي حزب سره سوله تر پوښتنې لاندې نه راولي. په همدې ترتیب به د ملي یووالي حکومت مشرانو ته هم د حکومت د مشروعیت یوه پلمه په لاس ورشي.

## د حکمتیار مسولیت

د اسلامي حزب امیر ګلبدین حکمتیار باید له افغان دولت سره د سولې وروسته خپل ټول جنګي فعالیت پایته ورسوي، خپل وسله والو راټول او د جنګي مبارزې پر ځای سیاسي مبارزې ته وهڅوي، د اسلامي حزب له نومه ګټه اخیستونکې ډلې راټولې، چاڼ او تر یو نوم لاندې راجمع کړي څو په بیلابیلو نومونو له حکومته د امتیاز اخیستو لړۍ ودریږي. بناغلی حکمتیار باید داسې لاره غوره کړي څو په هیواد کې د ویشل شوي پښتون ولس د یو ځای والي سبب شي. خپله تیره مفکوره باید بدله او داسې لاره غوره کړي چې په حکومت کې د واک د تعادل سبب شي. انجینر ګلبدین حکمتیار باید د ټولنې اوسني حالات درک کړي او د همدې حالاتو په درک سره باید خپلې موخې د ملي ګټو په رڼا کې تعقیب کړي. تر ټولو مهم دا چې په وسله والو مخالفانو کې د خپل نفوذه په استفادې باید له وسله والو مخالفانو سره د سولې زمینه برابره کړي.

وږی یا سنبله/ 1395